[۲٤] **الحديث الرابع** : عن انس رضی الله عنه قال : شُجَّ النَّبِیُّ ﷺ يَوْمَ اُحُدٍ وَكُسِرَتْ رُبَاعِيَتُهُ فَقَالَ كَيْفَ يُفْلِحُ قَوْمٌ شَجُّوا نَبِيَّهُمْ ؟ فَنَزَلَتْ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَیْءٌ. (العمران صـ ۱۲۸)(بخاری شریف)

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه زخمی شو نبی کریم ﷺ په ورځ د احد او مات شو د هغوی غاښونه مبارك نو اوفرمائیل پیغمبر پاك ﷺ چه څه رنګ به کامیاب شی هغه

قوم چه زخمی ئے کړو مخ دنبی خپل ؟ نو نازل شو دا ایت چه " لیس لك من الامر شیء " نیشته ستا دپاره د اختیار نه څه شے.

فائده : ایت او روایت نه معلومه شوه چه نبی کریم ﷺ واکدار او اختیارمند نه دے عاجز بنده دے . واك اختیار په مخلوق کښ صرف او صرف دالله تعالی دے.

کارساز یو الله تعالیٰ دے دنبی ﷺ دعوت

[۲۵] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حِیْنَ اُنْزِلَ عَلَیْهِ (وَاَنْذِرْ عَشِیْرَتَكَ الْاَقْرَبِیْنَ) فَقَالَ یَا مَعْشَرَ قُرَیْشٍ اَوْ كَلِمَةً نَحْوَهٗ. اِشْتَرُوْا اَنْفُسَكُمْ لَا اُغْنِیْ عَنْكُمْ مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا یَا عَبَّاسُ بْنَ عَبْدِالْمُطَّلِبِ لَا اُغْنِیْ عَنْكَ مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا وَیَا فَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ سَلِیْنِیْ مِنْ مَالِیْ مَا شِئْتِ لَا اُغْنِیْ عَنْكِ مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا. (رواه البخاری)

ترجمه : حضرت ابو هریره رضی الله عنه وائی چه اودریدو رسول الله ﷺ هرکله چه نازل شو دا ایت " وَأَنْذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ " نو وے وئیل اے ډلے د قریشو یا بله یوه کلمه ئے ددے پشان او فرمائیله : واخلی تاسو نفسونه خپل دالله تعالیٰ نه (یعنی الله تعالیٰ رضاکړی د دوزخ داور نه او دالله د نیولو نه ځان خلاص کړی) څه نه شم دفع کولے تاسو نه څه ځیز د عذاب دالله نه . اے عباس! څه نه شم دفع کولے تانه د عذاب دالله نه څه ځیز .اے فاطمے درسول الله ﷺ لور! مانه اوغواړه د مال زمانه څه چه ستا خوښ وی زه نه شم دفع کولے تانه دالله نه څه شے.

فائده : ددے حدیث مطلب دادے چه نبی کریم ﷺ خپل عجز او بندگی خکاره کوی او دا خکاره کوی چه طاقت واك اختیار او فیصلے تولے د الله تعالیٰ په اختیار کښ دی د بنده نجات دالله تعالیٰ په رضا کولو کښ دے.

الدرس السادس ٦

کلمه کو باندے جهنم حرام دے

[۲۶] **الحدیث الاول** : عن انس رضی الله عنه اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ وَمُعَاذٌ رَدِیْفُهٗ عَلَی الرَّحْلِ قَالَ یَامُعَاذُ قَالَ لَبَّیْكَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَسَعْدَیْكَ قَالَ یَا مُعَاذُ قَالَ لَبَّیْكَ وَسَعْدَیْكَ ثَلَاثًا قَالَ مَا مِنْ اَحَدٍ یَشْهَدُ اَنْ لَّااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَاَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلَ اللّٰهِ صِدْقًا مِنْ قَلْبِهٖ اِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَی النَّارِ قَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اَفَلَا اُخْبِرُ بِهِ النَّاسَ فَیَسْتَبْشِرُوْا قَالَ اِذًا یَتَّكِلُوْا فَاَخْبَرَ بِهَا مُعَاذًا عِنْدَ مَوْتِهٖ تَاَثُّمًا (متفق علیه)

ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه نبی ﷺ او معاذ د هغوی نه روستو په سورلی ناست وو وئیل ئے یامعاذ ! نو معاذ اوئیل " لبیك یارسول الله وسعدیك" (حاضر یم یا رسول الله) . بیا رسول الله ﷺ اوئیل یا معاذ ! نو معاذ اوئیل " لبیك یارسول الله وسعدیك " (حاضر یم یارسول الله) . درے کرته دا سوال جواب مکرر شو بیا رسول الله ﷺ اوئیل نیشته یو کس

چه گواهی اوکړی ددے خبرے چه " لااله الا الله " (نیشته لائق د عبادت سوا دالله نه) " محمد رسول الله " (محمد ﷺ د الله رسول دے) مگر الله به ده باندے اور ددوزخ حرام کړی . نو اونیل معاذ یا رسول الله په دے خلق نه خبروم چه خوشحاله شی نو پیغمبرپاك ﷺ اوفرمائیل چه نه بیا به خلق په دے اکتفاء اوکړی او نیك عمل به نه کوی . بیا معاذ رضی الله عنه د مرګ په وخت کښ خلقو ته داحدیث بیان کړو چه ځان د ګناه د حق دپټولو نه بچ کړی.

فائده : سوال : چه حضرت معاذ رسول الله ﷺ منع کړو چه جاته مه وایه نو بیا د مرګ وخت کښ ولے بیان کړو؟

جواب : ممکن ده چه پیغمبر ﷺ حضرت معاذ د عمومی بیان نه منع کړے وو او په وقت د مرګ هغوی خصوصی خلقو ته بیان اوکړو چه حدیث هم پاتے شی او خلقو ته پته هم اولګی چه دا بشارت هغه ځائے کښ نه دی اورول پکار کوم ځائے کښ چه خلقو کښ ددے دبیان نه سستی پیدا کیګی.

دکلمے طیبے مطابق عقیده

[۲۷] **الحديث الثانی** :عن عثمان رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ مَاتَ وَهُوَ يَعْلَمُ اَنَّهُ لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه مسلم.

ترجمه : حضرت عثمان رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څوك مړ شی او دے پوهیګی (یعنے عقیده ئے وی) چه نیشته لائق دعبادت سوا دالله نه نو جنت ته به داخل شی.

فائده : عالمان وائی چه په کلمه کښ پنځه فرائض دی اول اقرار کول دکلمے .دویم تلفظ صحیح کول په کلمه باندے. دریم معنی زده کول دکلمے. څلورم عقیده ساتل په معنی دکلمے. پنځم عمل کول مطابق د کلمے.

لا اله الا الله ونیل جنت واجب کیدل

[۲۸] **الحديث الثالث** :عن ابی بكرة قال قال رسول الله ﷺ : اُخْرُجْ فَنَادِ فِی النَّاسِ : مَنْ شَهِدَ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . (صحيح . صحيح الجامع الصغير ج ۱ ص ۱۰۵)

ترجمه : د حضرت ابو بکرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوونیل چه اوزه نو اعلان اوکړه خلقو کښ چه څوك ګواهی اوکړی د دے کلمے چه " لا اله الا الله " نو ده لره جنت واجب دے .

فائده د کلمے طیبے ډیر فوائد او فضائل دی چه په یو روایت کښ ورته د جنت چابیانے ونیلی دی د روایات الفاظ درج ذیل دی .

عن معاذ بن جبل قَالَ قَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَفَاتِيْحُ الْجَنَّةِ شَهَادَةُ اَنْ لَّااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ . رواه احمد .

ترجمه : حضرت معاذ بن جبلؓ وائی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه چابیانے دجنت ګواهی

ددے خبرے دہ چہ نیشنہ لائق د عبادت هیڅ څوك سوا دالله نه .

د نجات او خلاصی لاره

[۲۹] **الحديث الرابع** عن ابی بكر رضی الله عنه قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ! مَا نَجَاةُ هٰذَا الْاَمْرِ ؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَبِلَ مِنِّی الْكَلِمَةَ الَّتِیْ عَرَضْتُ عَلٰی عَمِّیْ فَرَدَّهَا فَهِیَ لَهُ نَجَاةٌ (رواه احمد والهيثمی فی مجمع الزوائد والطبرانی فی الاوسط و ابويعلی ، وله اسناد حسن انظر علل الدار قطنی جـ ۱ صـ ۱۷٤)

ترجمه: حضرت ابوبكر رضی الله عنه فرمائی ما اونيل يا رسول الله څه دے نجاة او خلاصے ددے امر ؟ نو اوفرمائيل هغوی كلمه هغه چه ما خپل تره ته وړاندے كړے وه او هغه رد كړه دغه كلمه چه چا قبوله كړه دا دهغه دپاره نجات دے.

فائده : د حديث شريف مطلب دا دے چه نجات د انسان د كلمے طيبے په وينا كښ دے د دے وجے نه دا كلمه د زړه د اخلاصه بار بار وئيل ضروری دی.

موحد به خواه مخواه جنت ته ځی

[۳۰] **الحديث الخامس** عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِیْ حَدِيْثٍ طَوِيْلٍ قَالَ اللّٰهُ وَعِزَّتِیْ وَجَلَالِیْ وَكِبْرِيَائِیْ وَعَظَمَتِیْ لَاُخْرِجَنَّ مِنْهَا مَنْ قَالَ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ (متفق عليه)

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه الله تعالی وائی زما د قسم وی ځما په عزت او جلال او په كبرياء او په عظمت چه اوباسم به ددے دوزخ نه هغه څوك چه دا كلمه وائی " لااله الاالله "

فائده: د لا اله الا الله نه پوره كلمه مراد ده يعنی "لا اله الا الله محمد رسول الله" ځكه ځنگه چه د "لا اله الا الله" منل ضروری دی نو دارنگ "محمد رسول الله" منل هم ضروری دی او د دے پوره كلمے ذكر په يو روايت د مسند بزار كښ راغليدے د دے كلمے د وينا په بركت سړه سړے د اور نه نجات مومی.

الدرس السابع ۷

د درود شريف فضيلت

[۳۱] **الحديث الاول** عن ابن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَوْلَی النَّاسِ بِیْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَكْثَرُهُمْ عَلَیَّ صَلٰوةً . (رواه الترمذی و قال هذا حديث حسن غريب، قال القاری فی المرقاة شرح المشكوة (رواه ابن حبان فی صحيحه ذكره ميرك . (مقدمت تحفة الاحوذی جـ ۱ صـ ۱۲)

ترجمه : حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه نژدے د خلقو نه ماته په ورځ د قيامت هغه څوك دے چه په ما ډير درود وائی.

فائده: ابن حبان ددے حديث په تشريح كښ وائی چه په دے حديث كښ بيان صحيح دے چه

نزدے دخلقو نه رسول الله ﷺ تـ ـه قیامت کښ محدثین (دحدیث لوستونکی) دی څکه نیشته په دے امت کښ زیات درود ویونکی ددوی نه په نبی علیه السلام باندے (تحفة الاحوذی)

د درس حدیث فضیلت

(۳۲) **الحديث الثانی** :عنْ ابی هريرة رضی اللّٰهُ عنه : انّ رسُوْلَ اللّٰه ﷺقال : مَنْ دَعَا اِلی هُدًی کَانَ لَهٗ مِنَ الْاَجْرِ مِثْلُ اُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهٗ لا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَيْئًا ، وَمَنْ دَعَا اِلَی ضَلَالَةٍ کَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْاِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهٗ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئًا. (رواه مسلم)

ترجمه: حضرت ابو هريرهؓ فرمائی چه رسول الله ﷺوئیلے دی چه څوك دعوت ورکړی طرف د هدایت ته نو وے به د ده د پاره اجر برابر د اجر د هغه چا چه تابعداری کوی ۰ د ده نه نه به کمولے شی د اجرونو د هغوی نه څه څیز او څوك چه دعوت ورکړی گمراهئ ته نو وی به په دے ده باندے گناه برابر د گناه د هغه چا چه تابعداری کړے وی ۰ د ده نه به کمولے شی د گناه د هغوی نه څه څیز .

فائده : یاد لرئ درس حدیث دعوت دے طرف د هدایت ته او د حدیثو د بیان په فضیلت کښ یو بل حدیث دے چه د هغے عبارت لاندے اوگورئ .

عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: " اَللّٰهُمَّ ارْحَمْ خُلَفَائِیْ قُلْنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ وَمَنْ خُلَفَاءُكَ؟ قَالَ الَّذِيْنَ يَرْوُوْنَ اَحَادِيْثِیْ وَيُعَلِّمُوْنَهَا النَّاسَ . رواه الطبرانی فی الاوسط.

ترجمه : حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺفرمائیل: اے الله ! څه به خلفاء (جانشینانو) باندے رحم اوکړے نو صحابی وائی موږه اونیل یا رسول الله ستاسو خلفاء څوك دی . جواب ملاو شو هغه کسان چه زما احادیث نقل کوی او خلقو ته ئے زده کوی. علامه قسطلانی د دے حدیث په تشریح کښ وائی چه په عالم باندے لازم دی چه د ده لوئے غم او فکر د خورونو د احدیثو وی امام مالکؒ وائی ماته دا خبره رسیدلے ده چه د قیامت په ورځ په د عالمانو نه تپوس کیگی چه تاسو عِلم رسولے ؤو که نه ؟ لکه څنگه چه د پیغمبرانو نه به تپوس کیگی چه تاسو پیغام الهی رسولے ؤو که نه ؟ او سفیان ثوریؒ وائی په دے سره رضا د الله تعالی حاصلیږی څکه خلق دے نه محتاج دی تر دے چه په خوراك څخاك کښ هم دے ته محتاج دی نو دا بهتر دے د نفل روژے او مونځ نه څکه دا فرض کفایی دے (مقدمه تحفة الأحوذی ج ۱ ص ۱۴)

همیشه به د یو ډلے مدد کیږی هغه کومه ډله ده؟

(۳۳) **الحديث الثالث**: عن معاوية بن قرة عن ابيه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺإِذَا فَسَدَ اَهْلُ الشَّامِ فَلَا خَيْرَ فِيْكُمْ لَا تَزَالُ طَائِفَةٌ مِّنْ اُمَّتِیْ مَنْصُوْرِيْنَ لَا يَضُرُّهُمْ مَنْ خَذَلَهُمْ حَتّٰی تَقُوْمَ السَّاعَةُ (قال الترمذی هذا حديث حسن صحيح)

ترجمه : حضرت معاویه بن قره دخپل والد صاحب (قره) نه نقل کوی چه کله اهل شام خراب

شی نو بیا خیر نیشته په تلو کښ شام ته او همیشه به یو ډله ځما د اُمت نه د الله تعالی د طرف نه مدد شده وی ضرر به نشی رسولے هغوی ته هغه څوك چه ئے پریگدی بے مدده تردے چه قائم شی قیامت.

فائده: طائفه منصوره اهل علم دی او بعضے علماء وائی طائفه منصوره په حدیثونو باندے عمل کونکے او داحادیثو خدمت کونکے دی.

دحدیث لوستونکو ته دعاء

(۳٤) **الحدیث الرابع** : عن ابن مسعود رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ نَضَّرَاللّٰهُ اِمْرَءًا سَمِعَ مِنَّا شَيْئاً فَبَلَّغَهُ كَمَا سَمِعَهُ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ اَوْعٰى لَهُ مِنْ سَامِعٍ . رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح.

ترجمه: حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی فرمائیل ئے تروتازه د کړی الله هغه سړے چه واوریده زمونږه نه یوه خبره نو وے رسوله خلقو ته هغه شان څنگه چه ئے اوریدلے وه . ډیر کرته هغه سړے چه خبره ورته اورسولے شی زیات یادونکے وی د هغے دپاره د اوریدونکی نه.

فائده : ملا علی قاری رحمه الله په مرقات کښ وائی که دحدیث خدمت کونکو ته ددے دعا نه علاوه هیڅ هم ملاؤ نه شی نو صرف دا دعاء ورله کافی ده.

دحدیثو خدمت کونکو دپاره خوشخبری

(۳۵) **الحدیث الخامس**:عن ابی هریرة قال : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بَدَا الْاِسْلَامُ غَرِيْبًا وَ سَيَعُوْدُ كَمَا بَدَا فَطُوْبٰى لِلْغُرَبَاءِ . رواه مسلم ، (مشكوة المصابيح ج ۱ ص ۲٦)

ترجمه: د ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه شروع شوے دے اسلام ناآشنا او زر ده اوبه گرځی بیا ناآشنا نو خوشحالی ده د پاره د غرباء .

فائده: د غرباء تفسیر په یو روایت کښ ذکر دے فرمائی چه صحابو تپوس اوکړو یارسول الله غرباء څوك دی ؟ نو خوږ نبی ﷺ اوفرمائیل غرباء هغه کسان دی چه اصلاح کوی د هغے چه خلقو خراب کړی دی زما د سنتو نه ځما نه روستو " طوبٰی للغرباء الذین یصلحون ما أفسد الناس من بعدی من سنتی " (ترمذی شریف).

خوږو لوستونکو د دے حدیث نه معلومه شوه چه سنت ازده کول او هغه نور خلقو ته صحیح طریقے سره خودل ډیر لوئے سعادت دے هر مسلمان د پاره په دے کښ برخه دار جوړے دل ضروری دی ، حضور ﷺ داسے کسانو ته دعا کړے ده .

الدرس الثامن ﴿٨﴾

رد بدعت

[٣٦] **الحديث الاول** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ أَحْدَثَ فِیْ أَمْرِنَا هٰذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ. (متفق عليه)

ترجمه : حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی " څوك چه پیدا کړی په کار(دین) زمونږه کښ چه (ملت اسلامی) دادے هغه چه ددینه نه وی نو هغه مردود او نامنظور دے .

فائده : څوك چه په دین کښ نوے کار پیدا کړی او ورته د ثواب کار وائی نو دغه کار بدعت دے او په دربار دالله کښ قبول نه دے بلکه موجب او سبب دلعنت دالله تعالیٰ دے. لګ تفصیل نے نور اوګورئی .

بدعت څه ته وائی ؟

بدعت په عربی ژبه کښ نوے کار ته وائی او په شریعت کښ بدعت هغه نوے کار دے چه خیر القرون (دور د صحابهؓ ، تابعینؒ ، تبع تابعینؒ) کښ نے ثبوت نه وی او یو سړے هغه د حصول د ثواب په نیت سره اوکړی دیته بدعت وئیلی شی یاد لرئی چه د بدعت شرعی هیڅ فرد نبه نیشته ټول افراد نے قبیح دی پښتانه وائی چه د بد خنزیر په څامنو کښ ښه سړے نه وی او د لرم بچی هم لرم وی. نو ګرانو په بدعت شرعیه کښ حسنه نیشته (توضیحات) البته د معنی لغوی په اعتبار سره بعض مشائخو حسنه او سیئه ته تقسیم کړی دے .

الله ته ناخوښ کسان

[٣٧] **الحديث الثانی** : عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَبْغَضُ النَّاسِ إِلَى اللّٰهِ ثَلٰثَةٌ مُلْحِدٌ فِی الْحَرَمِ وَمُبْتَغٍ فِی الْإِسْلَامِ سُنَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ وَمُطَّلِبُ دَمِ امْرِءٍ مُسْلِمٍ بِغَيْرِ حَقٍّ لِيُهْرِيْقَ دَمَهُ. رواه البخاری.

ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه زیات مبغوض د خلقو نه درے کسان دی یو الحاد (کجروی) کونکے په حرم کښ او لټونکے په اسلام کښ طریقے دجاهلیت او تالاش کونکے دوینے د مسلمان چه تونے نے کړی بغیر دڅه حق نه.

بټکلے والی سنت دنبی دی او بدعت ګمراهی ده

[٣٨] **الحديث الثالث** : عن جابر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللّٰهِ وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ ﷺ وَشَرُّ الْأُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلُّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ . رواه مسلم.

ترجمه : حضرت جابر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیل امابعد بیشك بهتر

د خبرو کتاب دالله تعالیٰ دے او بهتر سیرت سیرت د محمد ﷺ دے او ناکاره د کارونو نه په دین کښ نوے کارونه دی او په دین کښ هر نوے کار (بدعت) گمراهی ده.

فائده: په دین کښ نوے کار ځانه ایجاد کول د ثواب په نیت دا بدعت او گمراهی ده ځان ساتل ترے ضروری دی او د دین د رسولو د پاره ایجاد د ذرائعو لکه د درس تدریس د پاره لوډ سپیکر شو ټایف ایم شو د دینی کتابونو د چهاپ کولو د پاره پریس شودا منع نه دی.

دبدعت نقصان

(۳۹) **الحدیث الرابع** : عن عفیف بن الحارث الشمالی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا أَحْدَثَ قَوْمٌ بِدْعَةً إِلَّا رُفِعَ مِثْلُهَا مِنَ السُّنَّةِ فَتَمَسُّكٌ بِسُنَّةٍ خَيْرٌ مِنْ إِحْدَاثِ بِدْعَةٍ . رواه احمد، قال میرك بسند جید (مرقاة جـ ۱ صـ ۲۵۷)

ترجمه: حضرت عفیف بن الحارث الشمالی رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه نه پیدا کوی یو قوم یو بدعت مگر پورته کولے شی د هغوی نه په مثل د هغے د سنت نه نو منگُل لگول په سنت ډیر بهتر دی د پیدا کولو د بدعت نه:

فائده ۱: علامه طیبی وائی چه د دے حدیث شریف مطلب دا دے چه په سنت باندے عمل کولو کښ ډیر لوئے خیر دے او بدعت کولو کښ هیڅ خیر نشته او مرقاة شرح مشکوة کښ ملا علی قاری وائی چه د دے حدیث مراد دا دے چه کوشش کول په تابعدارے د پیغمبر ﷺ کښ د دے حیثیت نه چه دا د هغه سنت دی بهتر دی د بدعت نه د هغے نوے کارنه چه هغه معنی لغوی سره بدعت وی او د ثواب کار وی لکه لوډ سپیکر لگول درس قرآن درس حدیث ته چه خلقو ته آواز اورسی او په دین پوهه شی د دے هم ثواب شته خو چه کوم باالزات سنت دی لکه مسواك استعمالول شو د دے ثواب ډیر زیات دے د دے حدیث شریف مضمون د حسان نه چه د رسول ﷺ شاعر ؤو هم نقل دی فرمائی چه نه دے ایجاد کړے یو قوم په دین خپل کښ یو بدعت لره مگر الله تعالی اوباسی د هغوئی نه مثل د هغے د سنت طریقے د هغوی نه نو بیا به واپس نه شی هغه هغوئی ته تر قیامته (دارمی مشکوة جـ ۱ صـ ۳۱) یادلرئ دا اثر د صحابی دے خو دا خبرے په عقل نه معلومیږی د دے وجے په حکم د حدیث مرفوع کښ دے (مرده)

فائده ۲: دے حدیث نه معلومه شوه چه بدعت ډیر نقصانی څیز دے مناسب ده چه د دے څه مزید خرابے ذکر شی چه مسلمانان ترے ځان اوساتی لهذا د بدعت مزید خرابے اوگورئی.

امام مالك وائی څوك چه په دین کښ بدعت کوی د ده دا خیال دے چه نبی ﷺ په پیغمبرے کښ خیانت کړے دے (کتاب الاعتصام للشاطبی) حکیم الامت مولانا اشرف علی وائی چه بدعتی بنده ته د بدعت نه توبه نه نصیب کیږی دا دومره گنده جرم دے څکه چه بدعتی خپل بدعت ته ثواب وائی (بیان القرآن) وئیلے شی چه بدعت د شرك تسمه او شاخ دے (توضیحات شرح مشکوة) بدعت شرك پسے دویم نمبر گناه ده (بدائع الفوائد لابن القیم) بدعت د مسجد د روانولو نه

زیاته گناه ده (مقاصد الحسنه) بدعت دصحابه کرامو په نظر کښ ډیر بدترین ؤو(ترمذی شریف)

دبدعتی تعظیم گناه ده

[٤٠] **الحديث الخامس**: عن ابراهيم بن ميسرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ وَقَّرَ صَاحِبَ بِدْعَةٍ فَقَدْ أَعَانَ عَلٰى هَدْمِ الْإِسْلَامِ. رواه البيهقي "المشكوة باب الاعتصام".

ترجمه : حضرت ابراهیم بن میسرة وائی رسول الله ﷺ وئیلی دی څوك چه دبدعتی عزت اوکړی ده امداد اوکړو په نړولو داسلام کښ.

فائده ۱: چه کله انسان ته پته اولگی چه دا سړے بدعتی دے نو دهغه اکرام او احترام نه دے پکار .ددے حدیث نه هم داخبره معلومه شوه او علماء دامت هم دغه خبره کوی.. شیخ الحدیث مولانا زکریاؒ به وئیل چه په دین کښ دبدعتی اکرام نیشته . ملا علی قاریؒ فرمانی څکه چه د ده په عزت کښ د اسلام یا د کمال د اسلام یا د اهل اسلام یا د سنت نړے دل دی د حدیث نه دا هم معلومه شوه چه د متبع السنة تابعداری د اسلام آبادیؒ ده (مرقاة)

او امام قشیریؒ فرمائی چه څوك سستی کوی د بدعتی سره یعنی د طاقت باوجود د هغه اصلاح نه کوی نو لړے به کړی الله تعالی د ده نه خوږ والے د سنت طریقے د عمل د ده نه او څوك چه اوخاندی بدعتی ته نو اوبه باسی الله تعالی رنړا د ایمان د زړه د ده نه علامه آلوسیؒ په تفسیر روح المعانی کښ فرمائی چه څوك دا خبره نه منی نو تجربه دے اوکړی .

فائده ۲: د بدعت معنی تعریف او څه قدرے معلومات هغه په تنبه شو اوس مناسب ده چه د بدعت څه نمونے ذکر شی نو لاندے د بدعت نمونے اوگورئی.

د بدعت نمونے

خوږو لوستونکو د شی نمونه چه ذکر شی نو شے تنبه واضح شی لهذا د بدعت یو څو نمونے د علماء دیوبند د کتابونو په حواله سره اوگورئی .

(۱) د سنتونه روستو په هیئت اجتماعی سره مُرَوَّجَه دعا کول بدعت دے (سنت وبدعت تالیف د مفتی محمد شفیع)

(۲) د جنازے مونځ نه روستو متصل په هیئت اجتماعی سره دعا کول بدعت دے تفصیل اوگورئ په کتاب (راه سنت) کښ چه تالیف د شیخ سرفراز خان صفدر صاحبؒ دے .

(۳) په قبرونو د نیکانو خلقو عرسونه او میلے کول بدعت دے (سنت وبدعت تالیف د مفتی محمد شفیع ؒ صاحب)

(۴) حیله اسقاط مروجه چه مړے اوشی او کسان راجمع شی او قبرستان کښ د مړی په مال راغونډ شی یو بل ته ئے بخی وائی دے سره ډیرږی دا نا جائز او بدعت دے بلکه د بدعاتو او منکراتو مجموعه ده ملاحظه کړئی جواهر الفقه تالیف د مفتی محمد شفیع صاحبؒ . دلیل الخیرات تالیف د مفتی محمد کفایت الله صاحب .

(۵) څلویښتی دا عوام خلق د مړی د وفات نه څلویښت ورځے پس مړی پسے یو خیراب کوی

اردو کښې ورته چهلم وائی او پښتو کښې ورته څلویښتی وائی څلویښتو ورځو ته خیرات روستو کول او په دے کښې ثواب ګڼړل بدعت دے (فتاوی رشیدیه)

(٦) ټیبجه د مړی د دفن په دریمه ورځ د مړی په کور کښې خیرات کیږی او دیګونه پخوی څوک میوے او فروټ راوړی په کور کښې او په حجره کښې د ښادئی غونده ماحول جوړوی څوک په کښې د مړی د پاره ختم قرآن په هلکانو کوی بیا پری هغوئی خوراک کوی کله ورسره نقدے پیسے هم ورکوی او دیته د ثواب کار وائی ښو دا ټول کلرونه ناجائز او بدعت دی(شامی،معارف القرآن)

(٧) جمعه کول څمونږه علاقو کښې خلق د جمعے په شپه مړی پسے تازه تازه ورځو کښې خیرات کوی او د هغے د پاره دا شپه خاص کوی او دیته جمعه کول وائی نو دا هم بدعت دے (فتاوی رشیدیه)

(٨) کال کول چه کله مړے اوشی نو یو کال پس بعضے خلق په هغه پسے خیرات کوی وائی چه د فلانکی کال دے دا هم بدعت دے د خیرات دپاره کال خاص کول په شریعت کښې نیشته (حواله بالا)

یاد لرئی خوږو لوستونکو چه شریعت یو کار یو وقت پورے نه وی خاص کړے نو هغه یو وقت پورے خاص کول او په هغے تخصیص کښې ثواب ګڼړل بدعت دے .

(٩) بعض خلق د مړی پسے رومبے اختر کښې کټونه واچوی دعا ته کینی او خلق رازی او تعزیت ورته کوی دا ناسته کول او دے کښې ثواب ګڼړل هم بدعت دے ځکه شریعت کښې تعزیت صرف درے ورځے دے (هدیه)

(١٠) د عاشورے په ورځ په قبرونو اوبه اچول او په هغے کښې ثواب ګڼړل بدعت دے (فتاوی رشیدیه)

الدرس التاسع ٩

جګړالو انسان دالله بدی شی

[٤١] **الحديث الاول** : عن عائشة رضی الله عنه قالت قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَبْغَضُ الرِّجَالِ إِلَى اللّٰهِ الْأَلَدُّ الْخَصَامُ. صحيح الجامع الصغير جـ ١ صـ ٦٩ (صحيح)

ترجمه : حضرت عائشة رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه زیات مبغوض د سړو نه الله تعالی ته هغه سخت جګړالو دے.

د مؤمن د شرف دوه اسباب

[٤٢] **الحديث الثانی** : عن سهل بن سعدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : أَتَانِیْ جِبْرَئِيْلُ فَقَالَ يَامُحَمَّدُ عِشْ مَا شِئْتَ فَإِنَّكَ مَيِّتٌ وَأَحْبِبْ مَنْ شِئْتَ فَإِنَّكَ مُفَارِقُهُ وَاعْمَلْ مَا شِئْتَ فَإِنَّكَ مُجْزَى بِهِ وَاعْلَمْ أَنَّ شَرَفَ الْمُؤْمِنِ قِيَامُهُ بِاللَّيْلِ وَعِزَّهُ فِيْ اِسْتِغْنَاءِهِ عَنِ النَّاسِ حَسَنٌ. صحيح الجامع جـ ١ صـ ٧٦ (حسن)

ترجمه : حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه

راغے ماته جبریل علیه السلام نو وے وئیل ماته ژوند تیره وه څنګه چه ستا خوښه وی مړ ے به اومینه کوه چاسره چه د خوښه وی جدا کیګے به ترینه او عمل کوه هغه چه ستا خوښ وی بدله به ئے درکولے شی تاته او پوهه شه چه شرف د مومن په ولاړه د شپے کښ دے او عزت دده په استغناء کښ دے د مخلوق نه .

د ګډو بیزو د ساتلو فضیلت

[٤٣] **الحديث الثالث** : عن أُمِّ هانِی قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِتَّخِذِیْ غَنَمًا فَاِنَّهَا تَرُوْحُ بِخَیْرٍ وَ تَغْدُوْ بِخَیْرٍ (حَسَنٌ) وَفِیْ رِوَایَةٍ عَنْهَا اِتَّخِذُوْ الْغَنَمَ فَاِنَّهَا بَرَکَةٌ. صحیح. صحیح الجامع جـ ١ صـ ٧٨

ترجمه : حضرت ام هانی وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل یا اُم هانی ګډے چیلے اوساته څکه دوی مازیګر هم خیر راوړی او سحر هم خیر راوړی او د اُم هانی نه په یو روایت کښ نقل دی چه حضرت ﷺ اوفرمائیل ګډے چیلئ اوساته دے کښ برکت دے.

بدئ پسے نیکی اولګوه

[٤٤] **الحديث الرابع** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِتَّقِ اللّٰهَ حَیْثُ مَا کُنْتَ وَاَتْبِعِ السَّیِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَ خَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ. حسن. صحیح الجامع جـ ١ صـ ٨١

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی الله تعالیٰ نه اویریګه چرته چه ته ئے او بدئ پسے نیکی اولګوه ختمه به ئے کړی او خلقو سره ژوند تیر کړه په خو اخلاقو .

د خپل کور د عفت ټوه زبردسته نسخه او تدبیر

[٤٥] **الحديث الخامس** : عن ابن عمرؓ ، قَالَ : قَالَ رَسُول الله ﷺ بَرُّوا آبَائَکُمْ تَبَرُّکُمْ اَبْنَاؤُکُمْ ، عَفُّوا تَعِفُّ نِسَاؤُکُمْ . (مجمع الزوائد ،کتاب البر والصلة جـ ٨ صـ ١٧٨)

ترجمه : ابن عمرؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه نیکی اوکړی د خپلو پلارانو سره نیکی به اوکړی تاسو سره ځامن ستاسو او تاسو عفت (پاکدامنی) اختیار کړئ نو پاکدامنے به شی ښځے ستاسو.

فائده : داسے مضمون والا یو حدیث د حضرت عائشےؓ نه هم نقل دے چه رسل الله ﷺ ونیلے دی چه پاکدامنی اختیار کړئ پاکدامنے به شی زنانه ستاسو او د پلارانو سره نیکی کوی نیکی به اوکړی تاسو سره ځامن ستاسو (رواه الطبرانی فی الاوسط وفیه خالد بن یزید العمری وهو کذاب)

دے دوازو روایاتو نه معلومه شوه چه د خپل کور او حریم د آبرو ساتلو دپاره ضروری ده چه سړے په خپله د غلطو سلطو او بد أخلاقو نه ځان بچ ساتی نو د ده کور به هم محفوظ شی د دے روایاتو سره سره تجربه هم د دے ګواه ده چه څوك د بل حیا أخلی د ده حیا به تاله ترغه کیږی .

الدرس العاشر ﴿١٠﴾

د مور خدمت هم حج هم عمره هم جهاد

[٤٦] **الحديث الاول**: عَنْ انس انّ رَجُل رَسُول الله ﷺ فَقَالَ : اِنّی اَشْتَهِی الْجِهَادَ وَلَا اَقْدِرُ عَلَيْهِ ، قَالَ: هَلْ بَقِیَ مِن وَالِدَيكَ اَحَدٌ ؟ قَالَ: اُمّی ، قَالَ : اَللّٰهُ فِی بَرّهَا ، فَاِذَا فَعَلْتَ ذٰلِكَ كَانَ لَكَ اَجْرُ حَاجّ وَ مُعْتَمِرٍ وَ مُجَاهِدٍ، فَاِذَا رَضِیَتْ عَنْكَ اُمّكَ ، فَاتّقِ وَ بَرّهَا . (مجمع الزوائد . كتاب البر و الصلة جـ ٨ صـ ١٧٧ ، رواه أبو يعلى والطبرانی فی الصغير والأوسط و رجالهما رجال الصحيح غير ميمون بن نجيح ووثقه ابن حبان .

ترجمه : د حضرت انس ؓ نه روایت دے چه یو سړے راغے رسول الله ﷺ ته ئے وئیل یا رسول الله ﷺ ځما زړه جهاد ته کیږی او طاقت ئے نه لرم رسول الله ﷺ ورته اووئیل چه مور پلار کښ دے یو کس شته دے ؟ هغه اووئیل مور مے شته رسول الله ﷺ ورته اووئیل د الله د رضا د پاره کوشش اوکړه د هغے سره په نیکے کولو کښ کله چه ته د هغے سره احسان اوکړے نو دے کښ ستا د پاره اجر د حاجی او عمره کونکے او مجاهد دے کله چه ستانه مور رضا شی نو ځان ساته او د هغے سره نیکی کوه .

فائده : پیغمبر ﷺ نه بل یو سړی د جهاد باره کښ مشوره اغستله وه نو حضرت ورته وئیلے مور پلار د ژوندی دی هغه وئیل آو خوږ نبی ﷺ ورته اوفرمائیل " اَلْزِمْهُمَا فَاِنّ الجنة تَحْتَ اَقْدَامِهِمَا" لازم اونیسه خدمت د دواړو لره بیشك جنت لاندے د قدمونو د دوئی دے (رواه الطبرانی و رجاله ثقات . مجمع الزوائد جـ ١ صـ ١٧٧) .

د نافرمان غلام او نافرمانه بی بی سزا

[٤٧] **الحديث الثانی** : عن ابن عمو رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اِثْنَانِ لَا تُجَاوِزُ صَلٰوتُهُمَا رُؤُسَهُمَا عَبْدٌ اٰبِقٌ مِنْ مَوَالِيْهِ حَتّٰی يَرْجِعَ وَامْرَاَةٌ عَصَتْ زَوْجَهَا حَتّٰی تَرْجِعَ. صحيح (الجامع جـ ١ صـ ٨٩) .

ترجمه: حضرت ابن عمر رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه دوه کسان دی نه اوړی مونځونه ددوی د سرونو نه (یعنے نه قبلیږی) هغه غلام چه اوتختی دخپل مولی نه تردے چه راشی او بنځه چه نافرمانی کوی دخپل خاوند نه تردے چه د خپلے سرکشی نه واپس شی.

په جمع خوراك كول

[٤٨] **الحديث الثالث**: عن وحشی بن حرب : قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اِذَا اِجْتَمَعْتُمْ عَلٰی طَعَامِكُمْ وَاذْكُرُوا اِسْمَ اللّٰهِ يُبَارَكْ لَكُمْ فِيْهِ .حسن. الجامع جـ ١ صـ ٩١

ترجمه : حضرت وحشی بن حرب رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی

دی راغونډ شی. په طعام باندے او دالله نوم پرے واخلی. برکت به وا چولے شی ستاسو دپاره په هغے کښ.

فائده : دے حدیث شریف کښ دوه اسباب د برکت بیان شو یو په جمع روتئ خوړل او بل په روتئ کلمه وئیل. روټرو ددے دواړو اهتمام پکار دے. البته د حضرت تهانوئ وائی چه په یو ځائے او په جمع کښ طعام خوړل هغه وخت بهتر دی چه په انسان کښ د ایثار ماده موجوده وی چه بل په ځان غوره کوی او که داسے نه وی نو ځان له خوړل بهتر دی چه په مشترکه خوراك کښ حق تلفی او نه شی.

الله ته خوښ نومونه

[٤٩] **الحديث الرابع** : عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَحَبُّ الْاَسْمَاءِ اِلَى اللّٰهِ عَبْدُاللّٰهِ وَعَبْدُالرَّحْمٰنِ وَالْحَارِثُ. صحیح. الجامع جـ١ صـ ٩٥

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زیات خوښ دنومونو نه الله تعالیٰ ته عبدالله ، عبدالرحمٰن او حارث دے.

فائده : نوم ایښودل د بچے حق دی پلار د پاره ضروری ده چه بچی د پاره صحیح نوم کیدی او که نوم صحیح نه وی نو غلط نوم ایښودل د بچی حق تلفی ده ځمونږه مشهور کتاب "نام رکھنے کے اسلامی آداب" مطالعه کړئی.

الله ته خوښ عمل

[٥٠] **الحديث الخامس**: عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَى اللّٰهِ اَدْوَمُهَا وَاِنْ قَلَّ . صحیح. صحیح الجامع جـ ١ صـ ٩٥.

ترجمه : حضرت عائشة رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه خوښ داعمالو نه الله ته هغه عمل دے چه همیشه وی اګر چه لږ او معمولی وی.

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه معمولاتو کښ ناغه نه کول ډیر لوئے برکت لری د الله هغه عمل خوښ ډے چه ناغه په کښ نه وی اکابر دامت په دے حدیث عمل کړیدے ځکه ئے لوئے لوئے کارنامے کړے دی.

الدرس الحادی عشر ﴿١١﴾

الله ته د خوښو اعمالو ترتیب

[٥١] **الحديث الاول**: عن ابن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَى اللّٰهِ الصَّلٰوةُ

لِوَقْتِهَا ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ ثُمَّ الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ . صحيح (صحيح الجامع جـ ١ صـ ٩٥)

ترجمه : حضرت ابن مسعود وائی چه رسول الله ﷺ فرمانیلی دی " خوښ د اعمالو نه الله تعالی ته مونځ دے په خپل وخت ښا مور پلار سره نیکی ښا دالله تعالی په لار کښ جهاد .

فائده: دے حدیث شریف کښ د الله تعالی د خوښو کارونو ترتیب بیان شو مؤمن لره پکار دی چه د تولو مذکوره کارنو کولو کوشش نمبر په نمبر اوکړی .

هر وخت الله یادول

[٥٢] **الحديث الثانی**: عن معاذٌ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَى اللّٰهِ اَنْ تَمُوْتَ وَلِسَانُكَ رَطْبٌ مِنْ ذِكْرِ اللّٰهِ . حسن (صحيح الجامع جـ ١ صـ ٩٥)

ترجمه : معاذ رضی الله عنه وائی رسول الله ﷺ فرمانیلی دی خوښ د اعمالو نه الله ته دادے چه ته مړ شے او ژبه ستا لمده وی دیاد دالله نه .

فائده: په ذکر دوام د شیطان نه حفاظت زبردسته قلعه ده خوش قسمت سړے به په ذکر دوام کوی . فارسی بان وائی " دست بکار دل بیار" د مزے خبره ده چه لاس کښ د کار وی او په زړه او په ژبه د الله تعالی یاد وی .

الله ته خوښ او ناخوښ عملونه

[٥٣] **الحديث الثالث**: عن رجل من خثعم قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِيْمَانٌ بِاللّٰهِ ثُمَّ صِلَةُ الرَّحِمِ ثُمَّ الْاَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاَبْغَضُ الْاَعْمَالِ اِلَى اللّٰهِ الْاِشْرَاكُ بِاللّٰهِ ثُمَّ قَطِيعَةُ الرَّحِمِ . حسن صحيح الجامع جـ ١ صـ ٩٥

ترجمه: یو سړے د بنو خثعم قبیلے نه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی خوښ د اعمالو نه الله ته ایمان دے په الله باندے بیا خپلولی پالل بیا د نیکی وینا کول او ناخوښ د اعمالو نه الله تعالی ته شرك کول دی بیا خپلولی کټ کول دی.

فائده : یاد لری چه د نفلی نیکوکارونه هم پکار دی خو ډیره ضروری دا ده چه سړے د الله تعالی نا خوښ کارونه او پیژنی او د هغے نه ځان اوساتی ځکه د الله تعالی نا خوښ کارونه کول ګناه ده او ګناه کول نیکی خرابه وی . یو روایت کښ راغلیدی چه یوه ذره ګناه پریښودل بهتر دی د عبادت د انسانانو او د پیریانونه. (الاشباه لابن نجيم)

الله ته خوښ ځایونه

[٥٤] **الحديث الرابع**: عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللّٰهِ مَسَاجِدُهَا وَاَبْغَضُ الْبِلَادِ اِلَى اللّٰهِ اَسْوَاقُهَا. صحيح . (صحيح الجامع جـ ١ صـ ٩٥)

ترجمه : حضرت ابو هريرة رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه زیات خوښ ځایونه په بنارونو کښ الله ته جوماتونه دی او زیات ناخوښ ځایونه په بنارونو کښ الله ته بازارونه دی.

الله تعالیٰ ته خوښه خبره

[۵۵] **الحديث الخامس** عن الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَحَبُّ الْحَدِيْثِ اِلَى اللّٰهِ اَصْدَقُهُ .

صحيح الجامع حـ ۱ صـ ۹۶

ترجمه: حضرت مسور بن مخرمه وائی چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی زیات خوښ د خبرونه الله تعالیٰ ته رشتیا خبرے دی.

الدرس الثانی عشر ۱۲

اخلاق د آقائے نامدار ﷺ

[۵۶] **الحديث الاول** : عن انس رضی الله عنه قَالَ خَدِمْتُ النَّبِيَّ ﷺ عَشْرَ سِنِيْنَ فَمَا قَالَ لِيْ اُفٍّ وَلَا لِمَا صَنَعْتُ وَلَا اَلَا صَنَعْتَ. (متفق عليه)

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه ما درسول الله ﷺ لس کاله خدمت اوکړو (او په دے دومره موده کښ) نے ماته اف قدرے هم نه دی وئیلی او نه نے دا فرمانیلے دی چه دا فلانے کار دِ ولے نه دے کړے او نه نے راته دا فرمانیلے دی چه دا فلانے کار دِ ولے کړے دے.

نبی ﷺ چرته سخاوت کښ "نه" نه دے کړے

[۵۷] **الحديث الثانی**: عن جابر رضی الله عنه قَالَ مَا سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ شَيْئاً قَطُّ فَقَالَ لاَ . (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه داسے هیڅ کله نه دی شوے چه درسول الله ﷺ نه چا دکوم شی سوال کړے وی او هغه انکار کړے وی (بلکه د هغه ضرورت نے پوره کړے دے)

فائده: په دے حدیث شریف کښ د نبی ﷺ د سخاوت بیان دے چه کله هغوئی سره یو څیز په موقعه موجود ؤو او چا غوستلے دے نو هغوئی ورته نه نه دی کړے بلکه هغه څیز نے ورکړے دے . او کله که مجبوری وه یا څه بل عارض ؤو او هغه څانے کښ نه کړیدی نو هغه د دے حدیث منافی نه دی .

نبی ﷺ فحش گو نه وو

[۵۸] **الحديث الثالث** : عن انس رضی الله عنه قَالَ لَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَاحِشاً وَلَا لَعَّانًا وَلَا سَبَّاباً كَانَ

يَقُوْلُ عِنْدَ الْمَعْصَبَةِ مَالَهُ تَرِبَ جَبِيْنُهُ . (رواه البخاری)

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ نه فحش خبرے کولے او نه نے (په چا) لعنت ونیلو او نه نے بدکلامی کوله او چه کله به دچا نه ډیر ناراضه شو نو اوبه نے فرمائیل څه اوشو (څه چل دے) په خاورو دے خړ شی تندے دده.

نبی ﷺ رحمت وو

[٥٩] **الحديث الرابع**: عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قِيْلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اُدْعُ عَلَى الْمُشْرِكِيْنَ قَالَ اِنِّیْ لَمْ اُبْعَثْ لَعَّاناً وَاِنَّمَا بُعِثْتُ رَحْمَةً. (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت ابو هريرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته عرض اوشو چه اے د خدائے رسوله په مشرکانو باندے لعنت اووایه یعنی ازار ورته اوکړه (دے دپاره چه دشمنان دی چه هلاك شی) رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څه لعنت ویونکے نه یم لیګلے شوے بلکه څه رحمت والا لیګلے شوے یم.

فائده: جانشین د نبی ﷺ عالم باعمل له هم داسے اخلاق اختیارول پکار دی چه خیره پخ نه وی او نه په خلقو بے جا لعن طعن وائی بلکه رحمدل او مهربان وی .

نبی ﷺ په زوره خندا کونکے نه وو

[٦٠] **الحديث الخامس**: عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ مَا رَأَيْتُ النَّبِیَّ ﷺ مُسْتَجْمِعاً قَطُّ ضَاحِكاً حَتّٰى اَرٰى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ وَاِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ (رواه البخاری)

ترجمه: حضرت عائشة رضی الله عنها فرمائی چه ما هیڅ کله رسول الله ﷺ په آزاده خوله خندا کونکے نه وو لیدلے چه دخندا په وخت کښ ئے حلق مبارك ښکاره شوے وی بے شك هغو د مسکی کیدل .

الدرس الثالث عشر ١٣

د آقائے نامدار ﷺ د خبرو انداز

[٦١] **الحديث الاول**: عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ لَمْ يَكُنْ يَسْرُدُ الْحَدِيْثَ كَسَرْدِكُمْ كَانَ يُحَدِّثُ حَدِيْثاً لَوْ عَدَّهُ عَادٌ لَاَحْصَاهُ (متفق عليه)

ترجمه: حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه بے شك رسول الله ﷺ داسے زر زر خبرے نه کولے څنګه چه تاسو (خلق) کوی رسول الله ﷺ به داسے په مزه مزه خبرے کولے کچرے چاتے شمارل غوښتل نو شمارلے ئے شوے.

دنبیٔ خپل کور والوسره مدد

[٦٢] **الحديث الثانی**: عن الاسود رضی الله عنه قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا مَاكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَصْنَعُ فِيْ بَيْتِهِ قَالَتْ كَانَ يَكُوْنُ فِيْ مَهْنَةِ اَهْلِهِ تَعْنِيْ خِدْمَةَ اَهْلِهِ فَاِذَا حَضَرَتِ الصَّلٰوةُ خَرَجَ اِلَى الصَّلٰوةِ (رواه البخاری)

ترجمه: حضرت اسود رضی الله عنه فرمائی چه ما دحضرت عائشے رضی الله عنها نه تپوس اوکړو چه رسول الله ﷺ په کور کښ څه کار کوی ؟ وے فرمائیل چه محنت یعنی دکور کار خدمت کوی او چه کله وخت دمانځه شی نو دمانځه په طرف اوځی. (روان شی او کار کسب پریګدی)

فائده: دد ے حدیث نه معلومه شوه چه د کور کار روز ګارکول سنت طریقه ده او باعث د ثواب دے او د ثواب په نیت پکښ حصه اغستل پکار دی .

خادم او کشر سره دبرداشت معامله

[٦٣] **الحديث الثالث** : عن انس قال خدمت رسول الله ﷺ وَاَنَا ابْنُ ثَمَانِ سِنِيْنَ فَمَالَا مَنِيْ عَلٰى شَيْءٍ قَطُّ اُنِّبَ فِيْهِ عَلٰى يَدِيْ فَاِنْ لَامَنِيْ لَائِمٌ مِنْ اَهْلِهِ قَالَ دَعُوْهُ فَاِنَّهُ لَوْ قُضِيَ شَيْءٌ كَانَ هٰذَا لَفْظُ الْمَصَابِيْحِ (رواه البيهقی فی شعب الايمان)

ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه کله څه درسول الله ﷺ سره خادم شوم نو دغه وخت زما عمر اته کاله وو . دغه وخت نه مسلسل لس کاله ما دحضور علیه السلام په خدمت کښ تیر کړل. (او په دے دومره عمر) کښ ئے څه هیڅ کله دیو نقصان کولو باوجود هم ملامته کړے نه یم . که چرے اهل بیتو به ما ته (په یو کار دملامتیا) څه وئیل شروع کړل نو رسول الله ﷺ به ورته اوفرمائیل دا پریدی کوم کار چه مقرر شوے وی هغه (ضرور) کیګی . (دا الفاظ د مصابیح دی)

فائده: پښتانه وائی چه اوښان ساتے درواز ے به غټے جوړه وے مطلب دا چه مشری کوے نو سینه به کولاو ساتے د دے حدیث نه هم معلومه شوه چه مشر به برداشت کوی او د کشر د غلطو نه به درګزر کوی.

نبیٔ خپل کار پخپله کولو او نبیٔ پشروو

[٦٤] **الحديث الرابع** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَخْصِفُ نَعْلَهُ وَيَخِيْطُ ثَوْبَهُ وَيَعْمَلُ فِيْ بَيْتِهِ كَمَا يَعْمَلُ اَحَدُكُمْ فِيْ بَيْتِهِ وَ قَالَتْ كَانَ بَشَرًا مِنَ الْبَشَرِ يَفْلِي ثَوْبَهُ وَ يَحْلِبُ شَاتَهُ وَيَخْدِمُ نَفْسَهُ. صحيح . صحيح ابن حبان جـ ١٤ صـ ٣٥٢ ، ورواه الترمذی)

ترجمه : حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ به خپلے پنرے په خپله

کښلے. او خپلے کپړے به نے په خپله ګندلے او دخپل کور کار خدمت به نے کوو او حضرت عائشه رضی الله عنها اوفرمائیل چه حضور ﷺ په انسانی تقاضو کښ یو انسان وو ځنګه چه بل انسان وی (تردے) چه په خپلو کپړو کښ به ی سپګے په خپله کتلے او خپله پټرے ښ به خپله لشله او دخپل ځان خدمت به نے به خپله کولو.

فائده: سنت طریقه دا ده چه سړے خپل کار په خپله اوکړی او ځان په چا بوج نه کړی او دغه همیشه د سلفو معمول پاتے شوے دے چه اپنی مدد اپ.

ذخیره اندوزی دصبا دپاره

٦٥ | **الحديث الخامس** عن انس رضی الله عنه انّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ لَا يَدَّخِرُ شَيْئاً لِغَدٍ . صحيح ارد نظمان الى زوائد ابن حبان حد ٧ صـ ٤٠ ورواه الترمذی)

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د راتلونکی صبا دپاره څه شے نه ذخیره کوو.

فائده: دانسے د ځان دپاره عام عادت مبارک وو او د اهل اوعیال دپاره نسے کله کله د کال خرچه په یو ځانسے هغوی ته حواله کړے او محفوظ ۔ ے دے.

الدرس الرابع عشر ١٤

مونځ چه هیر شی دهغے حکم

٦٦ | **الحديث الاول** : عن انس بن مالك قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ نَسِيَ صَلٰوةً فَلْيُصَلِّهَا إِذَا ذَكَرَهَا. رواه الترمذی وقال حسن صحيح ورواه مسلم.

ترجمه: دحضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلی دی چه څوك مونځ هیر کړی نو ادا د کړی کله چه نے یاد کړی.

فائده: هیر شوے مونځ چه کله یاد شی نو کول نے فرض دی علامه عینی رانی که هیر مونځ نسو سړی ته په وقت مکروه کښ یاد شی نو انتظار د اوکړی چه وقت مکروه اوځی نو بیا د ادا کړی چه په دوو حدیثونو عمل راشی په دے حدیث شریف باندے ځکه دے کښ د دے ذکر نیشته چه یادیدو سره سمدستی د اوکړی او بل حدیث د نهی د مانځه نه په اوقاتو مکروه کښ. (عمدة القاری) (یعنی هغه وختونه چه مونځ کول په کښ مکروه دی هغه درے وختونه دی نمر ختلو وخت د نمر پریوتلو وخت او د زوال وخت)

د نبی علیه السلام بعض عادتونه مبارکه

٦٧ | **الحديث الثانی** عن عبدالله بن سلام رضی الله عنه قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا جَلَسَ يَتَحَدَّثُ يُكْثِرُ

أن يَرْفَعَ طَرْفَهُ إلى السَّمَاءِ. رواه ابوداؤد ص ۲۰۷ ج ۷ رقم ٤٨٣٧، قال شعيب الارنؤط صحيح لغيره.

ترجمه: حضرت عبدالله بن سلام رضي الله عنه وائي چه رسول الله ﷺ به کله خبرے کولے ناست په وو نو نګاه (نظر) به نے آسمان ته ونه کړو. (یعنی د وحی انتظار به نے کولو)

مضمون والا

٦٨ الحديث الثالث عن عبدالله بن اوفى قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُكْثِرُ الذِّكْرَ وَيُقِلُّ اللَّغْوَ وَيُطِيْلُ الصَّلٰوةَ وَيَقْصُرُ الْخُطْبَةَ وَلَا يَأْنَفُ أَنْ يَمْشِيَ مَعَ الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِيْنِ فَيَقْضِيَ لَهُ الْحَاجَةَ. صحيح صحيح ابن خزيمة ج ١٤ ص ٣٣، ورواه النسائي والدارمي.

ترجمه: د حضرت عبدالله بن اوفى رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د الله په ذکر زیات مشغول وو او نورے خبرے به نے هم ډیرے کمے کولے او مونځ به نے ډیر اوکه کولو او خطبه به نے مختصره لرسوله او د کومو مسکینانو سره به تلو کښ او د هغوی په حاجت پوره کولو کښ به نے هیڅ شرم نه محسوسولو.

نور مضمون

٦٩ الحديث الرابع عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْكَبَائِرُ الْاِشْرَاكُ بِاللّٰهِ وَعُقُوْقُ الْوَالِدَيْنِ وَقَتْلُ النَّفْسِ وَالْيَمِيْنُ الْغَمُوْسِ. (رواه البخاري)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ او فرمائیل چه د الله سره شریك نیول او د مور پلار نافرمانی کول او ځان قتلول او په دروغو قسم خوړل کبیره ګناهونه دی.

فائده: لویه ګناه هغه ده چه شریعت کښ په هغے د عذاب، غضب یا لعنت او داور وعید راغلے وی یا پرے شریعت کښ حد مقرر وی یا په نقصان کښ د دغے ګناهونو برابر وی د دے تعداد کښ د علماء اختلاف دے. څوك وائی اولس دی څوك وائی اوه سوه دی تفصیل سے به الزواجر د ابن حجر هیثمی کښ موجود دے.

په زړه کښ وسوسے راتلل معاف دی

٧٠ الحديث الخامس عن ابي هريرة رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى تَجَاوَزَ عَنْ اُمَّتِيْ مَا وَسْوَسَتْ بِهٖ صُدُوْرُهَا مَالَمْ تَعْمَلْ بِهٖ اَوْ تَتَكَلَّمْ. متفق عليه.

ترجمه: حضرت ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ او فرمائیل زما د امت په زړونو کښ چه کومے وسوسے سرګی الله تعالی دوی نه هغه معاف کړے دی خو پورے چه پرے عمل اونه کړی یا په دے سره خبرے اونکړی.

الدرس الخامس عشر ﴿۱۵﴾

دشیطان وسوسے او دهغے علاج

[۷۱] **الحديث الاول**: عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَاْتِی الشَّيْطَانُ اَحَدَكُمْ فَيَقُوْلُ مَنْ خَلَقَ كَذَا مَنْ خَلَقَ كَذَا حَتّٰى يَقُوْلَ مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ فَاِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللّٰهِ وَلْيَنْتَهِ . (متفق عليه)

ترجمه: ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو. چه تاسو نه بعضے کسانو له شيطان راځی او دا وائی چه فلانے فلانے شے چا پيدا کړے دے؟ تردے چه پوښتنه کوی چه ستا رب چا پيدا کړے دے؟ کله چه نوبت دے پورے اورسيگی نو هغه (کس) له پکار دی چه دالله نه پناه اوغواړی او (نوره) سلسله ختم کړی.

فائده: په دے حديث شريف کښ د وسوسے يو علاج ذکر شو چه هغه دا کلمات وئيل دی چه "أعُوذ بِالله منَ الشيطن الرجيم" او وسوسے پريښودل او بل څه عمل کښ مشغول کيدل دی.

په وخت دوسوسو کښ دعا

[۷۲] **الحديث الثانی**: عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَزَالُ النَّاسُ يَتَسَاءَلُوْنَ حَتّٰى يُقَالَ هٰذَا خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ فَمَنْ خَلَقَ اللّٰهَ فَمَنْ وَجَدَ مِنْ ذَالِكَ شَيْئاً فَلْيَقُلْ اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ (متفق عليه)

ترجمه: حضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو. چه خلق هميشه دخپل زړه يا دخلقو نه سوال کوی يعنی په زړه او دماغ کښ نے وسوسه راشی چه دا تمام مخلوق الله پيدا کړے دے نو الله چا پيدا کړے دے؟ لهذا د کوم سړی چه داوسوسه راپيدا شی نو اودے وائی چه آمَنتُ بِاللّٰهِ وَرَسُولِه ... الخ .ما ايمان راوړے دے په الله او دالله په رسول باندے.

فائده: دے حديث شريف کښ د وسوسے يو بل علاج ذکر شو هغه دا چه انسان دوسوسے په وخت کښ دا الفاظ اوائی "اٰمنتُ بِاللهِ وَ رُسُلِه"

شيطن دانسان په رګونو کښ ګرځی

[۷۳] **الحديث الثالث**: عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِیْ مِنَ الْاِنْسَانِ مَجْرَى الدَّمِ. (متفق عليه)

ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو. چه شيطان دانسان په رګونو کښ داسے منډے وهی ګرځی لکه څه رنګ چه وينه چلند کوی په رګونو کښ.

فائده: الصارم البتار کتاب وائی چه ددے حديث نه معلومه شوه چه پيريان دانسان بدن ته

ننوتلے شی او دانسان بدن متأثر کولے شی.

دماشوم په وخت دپیدائش کښ ژړا په وجه د شیطان ده

[۷٤] **الحديث الرابع**: عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنْ بَنِیْ آدَمَ مَوْلُوْدٌ اِلَّا يَمَسُّهُ الشَّيْطَانُ حِيْنَ يُوْلَدُ فَيَسْتَهِلُّ صَارِخاً مِنْ مَسِّ الشَّيْطَانِ غَيْرَ مَرْيَمَ وَابْنِهَا. (متفق علیه)

ترجمه: حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه بنی آدم نه یعنی دانسان نه چه کوم بچے (په دنیاکښ) پیدا کیگی یو شیطان ئے مس کوی (یعنی سکوندی ئے) او ددے په وجه بچے اوژاړی سوا دمریم او عیسیٰؑ نه.

ناکاره وسوسے راتلل بد نه دی

[۷۵] **الحديث الخامس**: عن ابن عباسؓ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ جَاءَهُ رَجُلٌ فَقَالَ اِنِّیْ اُحَدِّثُ نَفْسِیْ بِالشَّیْءِ لَاَنْ اَكُوْنَ حُمَمَةً اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ اَنْ اَتَكَلَّمَ بِهٖ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ رَدَّ اَمْرَهٗ اِلَی الْوَسْوَسَةِ (حسن صحیح. صحیح ابن حبان ج ١٤ ص ٦٧، ورواه ابوداؤد)

ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ ته یو سړے راغے او عرض ئے اوکړو. اے دخدائے رسوله! ځما په نفس کښ داسے خبره وسوسه دیو شی تیره شی چه په خوله باندے اظهار کولو په ځانے دا بهتره ګڼرم چه اوسوزم او (توره) کوئله (سکارهٔ) شم. نبی ﷺ ورته اوفرمائیل چه الله تعالی لره حمد و ثنا ده چه دشیطان کار ئے صرف وسوسے ته اورسولو (او تاته ئے هغه بدے خکاره کړے. یعنی چه الله پاك تاته داسے بدے وسوسے بدے ښکاره کړے)

فائده: د حدیث شریف مطلب دا دے چه شیطان په انسان غلط کارونه ګناهونه کول غواړی خو چه په هغے کښ ناکام شی نو بیا په وسوسه اکتفا کوی او هغه ګناه نه ده نو ځکه حضور ﷺ پرے اَلْحَمْدُ لِلّٰه اوائیل بل علماء وائی چه دا وسوسے شیطان نیکانو ته اچوی نو دا وسوسه راتلل ښه د نیکے ده ځکه پرے حضور ﷺ حمد اووئیل لکه پښتانه وائی چه په پلیت بوتی سپے هم متیازے نه کوی.

الدرس السادس عشر ١٦

زړونه په قبضه د قدرت دالله کښ دی

[۷٦] **الحديث الاول**: عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ قُلُوْبَ بَنِیْ آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ اِصْبَعَيْنِ مِنْ اَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ كَقَلْبٍ وَاحِدٍ يُصَرِّفُهٗ كَيْفَ يَشَاءُ ثُمَّ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ

صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ. (رواه مسلم)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. چه دتمامو بنی آدمو زړونه دالله ددوارو گوتو په مینځ کښ دی دارنګ لکه څه رنګ چه یو زړه وی او چه کوم طرفته غواړی نو گرزوی نے په هغه طرف باندے بیا حضور علیه السلام دا دعااوفرمائیله " اَللّٰهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوْبِ صَرِّفْ قُلُوْبَنَا عَلٰى طَاعَتِكَ" (اے الله دزړونو گرزولو والا زمونږ زړونه ستا دتابعداری طرفته اوگرځوے).

دثابت قدمی دعا

۷۷ | **الحديث الثانی** : عن انس ؓ قَالَ كَانَ النَّبِیُّ ﷺ يُكْثِرُ اَنْ يَّقُوْلَ يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِیْ عَلٰى دِيْنِكَ فَقُلْتُ يَا نَبِیَّ اللّٰهِ اٰمَنَّا بِكَ وَبِمَا جِئْتَ بِهٖ فَهَلْ تَخَافُ عَلَيْنَا قَالَ نَعَمْ اِنَّ الْقُلُوْبَ بَيْنَ اِصْبَعَيْنِ مِنْ اَصَابِعِ اللّٰهِ يُقَلِّبُهَا كَيْفَ يَشَاءُ. (صحيح . سنن الترمذی ط حـ ٤ صـ ٤٤٨ ، ورواه الترمذی وابن ماجه)

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به اکثر دادعا ونیله "يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِیْ عَلٰى دِيْنِكَ" یعنے اے دزړونو اړونکیه څما زړه په خپل دین باندے قائم اوساتے . ما عرض اوکړو اے دخدائی رسوله مونږه په تا ایمان راوړے دے او په هغه دین هم کوم چه تا راوړے دے ولے ته په مونږه یریگے ؟(یعنی چه مونږه گمراه نه شو) رسول الله ﷺ اوفرمائیل بیشکه زړونه دالله پاك د گوتو نه په دوه گوتو کښ دی چه کوم طرفته نے خوښه شی هغه طرفته نے گرځوی.

فائده : د حدیث شریف حاصل دا دے چه زړونه د الله تعالی په لاس کښ دی او هر وخت الله تعالی ته رجوع پکار ده چه الله ئی زړه ته په دین استقامت نصیب کړے.

دم او علاج دتقدیر خلاف نه دی

۷۸ | **الحديث الثالث** : عن ابی خزامةؓ عن ابيه قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اَرَاَيْتَ رُقًى نَسْتَرْقِيْهَا وَدَوَاءً نَتَدَاوٰى بِهٖ وَتُقَاةً نَتَّقِيْهَا هَلْ تَرُدُّ مِنْ قَدَرِ اللّٰهِ شَيْئاً قَالَ هِیَ مِنْ قَدَرِ اللّٰهِ (رواه احمد والترمذی وقال حسن صحيح ورواه ابن ماجه)

ترجمه : حضرت ابوخزامه رضی الله عنه دخپل والد مکرم نه نقل کوی چه وے وئیل ما درسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو چه اے د خدائے رسوله هغه عملیات کوم چه مونږ (دشفاپه غرض) وایو او هغه دارو کوم چه مونږ (دصحت دپاره) کوو او هغه څیزونه کوم نه چه مونږ حفاظت حاصلوو (مثلاً ډال وغیره) په دے الله د تقدیر نه څه بدلوی؟ وے فرمائیل دا څیزونه هم دتقدیر لیکلے شوی مطابق دی.

فائده: د دے حدیث شریف او د نور حدیثونو نه معلومیږی چه انسان مکلف د تدبیر دے او تقدیر د

الله تعالی په اختیار دے نو انسان به په تقدیر ایمان لری خو دے به خپل ژوند په تدبیر تیره وی.

پنځه خبرے دانسان فیصله دی

[۷۹] **الحديث الرابع**: عن ابی الدرداءؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ فَرَغَ إِلٰى كُلِّ عَبْدٍ مِنْ خَلْقِهِ مِنْ خَمْسٍ مِنْ أَجَلِهِ وَعَمَلِهِ وَ مَضْجَعِهِ وَأَثَرِهِ وَرِزْقِهِ . (صحيح. رواه احمد)

ترجمه: دحضرت ابی الدرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی دخپل هر یو بنده نه د پنځو خبرو نه فارغ شوے دے یعنی دا خبرے په تقدیر کښ لیکلے شوے دی (۱) دده مرګ (چه کله به راځی) (۲) دده (نیك یا بد) عمل (۳) دده داوسیدو مقام (۴) دده دواپس کیدو ځائے (۵) دده د رزق نه.

تهجدو کښ تلاوت کونکی ته رسول الله ﷺ دعا کړے ده

[۸۰] **الحديث الخامس**: عن عائشة تَهَجَّدَ النَّبِيُّ ﷺ فِيْ بَيْتِيْ فَسَمِعَ صَوْتَ عَبَّادٍ يُصَلِّي فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ: يَا عَائِشَةُ أَصَوْتُ عَبَّادٍ هٰذَا؟ قُلْتُ نَعَم قَالَ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْ عَبَّادًا . رواه البخاری رقم: ۲۴۸۹.

ترجمه: حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه تهجد کولو نبی ﷺ په کور ځما کښ نو واوے ریدو آواز د عباد چه مونځ نے کولو په جومات کښ نو اونے فرمائیل دا آواز د عباد دے؟ ما ورته اوئیل آو نو حضور ﷺ اوفرمائیل اے الله رحم اوکړے په عباد باندے.

الدرس السابع عشر ۱۷

تابعداری د صحابو او ځان ساتل د بدعت نه

[۸۱] **الحديث الاول**: عن العرباض بن سارية فی حديث طويل قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِيْ وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ تَمَسَّكُوْا بِهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُوْرِ فَإِنَّ كُلَّ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ . (رواه احمد وابوداؤد والترمذی. صحيح. الجامع الصغير و زيادته ج ۱ ص ۴۳۲)

ترجمه: دحضرت عرباض بن ساریه رضی الله عنه نه په خه اوږد حدیث کښ نقل دی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی په تاسو لازم دی چه ځما طریقه اونیسی او دخلفاء راشدینو لاره اونیسی او په دے طریقه عمل کوی او په غاښونو نے کلکه اونیسی (او په دین کښ) د نوے خبرو نه بچ اوسی (او یا د اولری) چه دین کښ هره نوے خبره بدعت دے او هر بدعت گمراهی ده.

فائده: خلفاء راشدین هغه صحابه چه پوره پوره نے د رسول الله ﷺ په طریقه نظام چلولو لکه ابوبکرؓ عمرؓ عثمانؓ علیؓ. یاد لری چه کُلُّ بِدْعَةٍ کښ د بدعت نه مراد بدعت شرعی دے نو هر بدعت چه سړے نے د دین حصه گڼی هغه ناجائز دے گناه او گمراهی ده په دغه بدعت کښ

حسنه نیشته بعضے خلق په عباداتو کښې بدعت کوی بیا وائی دا بدعت حسنه دے دا خبره سراسر خطا ده مثلاً د سنتو نه روستو په هیئت اجتماعی سره په طریقه د التزام سره دعا کوی بیا ورته بدعت حسنه وائی حالانکه دا بدعت سیئه دے بلکه عبدالحی لکهنوی په اکام النفاس کتاب کښې وائی چه "والبدعة فی العبادات لا تکون الا سیئه" بدعت په عباداتو کښې نه وی مگر سیئه دارنگه مجدد الف ثانی په مکتوبات کښې فرمائی نزد بنده هیڅ بدعت حسنه نیست مجدد صاحب وائی ځما په نزد باندے هیڅ بدعت حسنه نیشته .

سنت دنبی علیه السلام ته درواج ورکولو اجر

[۸۲] **الحدیث الثانی**: عن بلال بن حارث المزنیؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَحْیَا سُنَّةً مِنْ سُنَّتِیْ قَدْ اُمِیْتَتْ مِنْ بَعْدِیْ فَاِنَّ لَهٗ مِنَ الْاَجْرِ مِثْلَ اُجُوْرِ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ غَیْرِ اَنْ یُّنْقَصَ مِنْ اُجُوْرِهِمْ شَیْئاً وَمَنِ ابْتَدَعَ بِدْعَةً ضَلَالَةً لَا یَرْضَاهَا اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ کَانَ عَلَیْهِ مِنَ الْاِثْمِ مِثْلُ اٰثَامِ مَنْ عَمِلَ بِهَا لَا یَنْقُصُ ذَالِكَ مِنْ اَوْزَارِهِمْ شَیْئاً. (رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن وابن ماجه)

ترجمه: حضرت بلال بن حارث المزنی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. څوك چه ژوندے کړی یو سنت دسنتو ځما نه چه خلقو پریښودے وی ځما نه روستو نو بے شك ده له به الله تعالیٰ اجر ورکړی برابر دهغه چه په دغه سنت عمل کوی بغیر د دے نه چه د عمل کونکو اجر کم کړی او څوك چه یو بدعت ایجاد کړی چه الله او رسول ته خوښ نه وی (یعنی بدعت شرعی) نو په ده به گناه وی برابر دهغه چا چه عمل کوی په دغه بدعت بغیر ددے نه چه دبدعت کونکو گناه کم شی.

زړه دکینے نه د پاك ساتلو فضیلت

[۸۳] **الحدیث الثالث**: عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَا بُنَیَّ اِنْ قَدَرْتَ اَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِیَ وَلَیْسَ فِیْ قَلْبِكَ غَشٌّ لِاَحَدٍ فَافْعَلْ ثُمَّ قَالَ یَا بُنَیَّ وَذَالِكَ مِنْ سُنَّتِیْ وَمَنْ اَحَبَّ سُنَّتِیْ فَقَدْ اَحَبَّنِیْ وَمَنْ اَحَبَّنِیْ کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّةِ. (رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن غریب)

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل. چه اے بچوریه! کچرے ته په دے قدرت لرلے شے چه دصبا نه واخلے تر مابنامه پورے (وخت) تیر کړے په داسے حال کښې چه ستا په زړه کښې کینه نه وی (هیڅ یو مومن ته) نو داسے اوکړه ، او بیا ئے اوفرمائیل اے بچوریه! دا زما سنت دی لهذا چا چه ځما د سنتو سره محبت اوساتلو بس ده ما سره محبت اوساتلو او چاچه ماسره محبت اوساتلو هغه به ماسره په جنت کښې یو ځائے وی.

فائده: مشکوٰة شریف کښې دے حدیث کښې "ومن أحب سنتی" راغلیدے چه څوك ځما سنت سره مینه کوی نو دے ما سره مینه کوی اوڅوك چه ماسره مینه کوی نو دے به ما سره

په جنت کښې مطلب دا دے چه ماسره به جنت کښې چه اسانه نسبة ملاویدے شی ، د ترمذی شریف په موجوده نسخو کښې د دے مبارك الفاظ داسے دی "من أحی سنتی فقد احیانی و من احیانی کان معی فی الجنة" څوك چه ځما سنت ژوندے کړی ده مالره ژوندے کړو څوك چه مالره ژوندی کړی نو ماسره به جنت کښې وی ، د دے حدیث نه په سنت د عمل او د سنت د اشاعت مقام معلوم شو چه دا ډیر اوچت مقام دے دا مضمون چه په سنت منګولے لګول لونے فضیلت لری بل یو حدیث کښې نقل دے لاندے الفاظ سره د ترجمے اوګورئی .

زنانه د پاره د خپل کمی احساس پکار دے

[٨٤] **الحديث الرابع** : عن أبی سَعِيد الْخُدْرِیؓ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ أَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ ؟ قُلْنَا بَلَى قَالَ فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا . رواه البخاری .

ترجمه: حضرت أبو سعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل آیا نه ده ګواهی د زنانه پشان د نیمے ګواهئ د سړی ؟ مونږه اوئیل ولے نه حضور ﷺ اوفرمائیل بس دا د دے د عقل نقصان دے .

د جُمعے د مانځه او سنتو مینځ کښې فصل په خبرو یا په ځای بدلولو راوستل پکار دی

[٨٥] **الحديث الخامس** : عن عصمة بن مالك قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا صَلّٰى أَحَدُكُمُ الْجُمُعَةَ فَلَا يُصَلِّ بَعْدَهَا شَيْئاً حَتّٰى يَتَكَلَّمَ أَوْ يَخْرُجَ . صحيح (الجامع ج: ١ص ١٧١)

ترجمه : حضرت عصمة بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه مونږ اوکړی یو ستاسو د جمعے نو هیڅ مونځ (سنت،نفل) د هغے نه روستو د نه کوی تردے چه خبرے اوکړی یا بهر اوځی.

الدرس الثامن عشر ﴿١٨﴾

دعالم فضیلت په عابد

[٨٦] **الحديث الاول**: عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقِيْهٌ وَّاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ ،

رواه الترمذی وقال هذا حدیث غریب .جمع الفوائد من جامع الاصول جـ ١ صـ ٤٠ وابن ماجه ، وسنده حسن کنز العمال جـ ٩ صـ ٤٨٥ رقم : ٢٧٠٨٣ وله شواهد ضعیفه . المقاصد الحسنه)

ترجمه : حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. چه یو فقیه (عالم دین) په شیطان باندے د زرو (١٠٠٠) عابدانو نه زیات سخت وی.

فائده : حدیث شریف کښې د علم دحاصلولو ترغیب دے عبادت سره علم ضروری دے هر

مسلمان لره بقدر ضرورت علم ازده کول فرض دی.

دعلم په طلب کښ دوتلو فضیلت

[۸۷] **الحديث الثانی** : عن انس ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ خَرَجَ فِیْ طَلَبِ الْعِلْمِ فَهُوَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ حَتّٰی یَرْجِعَ. (رواه الترمذی، وقال هذا حدیث حسن غریب ، وایضا المقدسی (تحفة الاحوذی جـ ۷ صـ ۲٤۰ ، والدارمی)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. چه کوم کس د کورنه دعلم زده کولو دپاره اوځی نو چه تر څو راګرزیدلے نه وی تر هغے پورے دالله په لار کښ دے.

فائده : چه څوك د علم زده کړے دپاره لار شی نو دے په لار دالله تعالیٰ کښ دے تردے چه واپس شی نو درجه ئے دهغے نه نوره هم زیاتی شی ځکه چه دے جانشین د انبیاء شی.(مرقاة)

د طالب علم مقام

[۸۸] **الحديث الثالث** :عَنْ صفوان بن عسّال المرادی رضی الله عنه قَالَ : اَتیتُ النبی ﷺ وهو فی المسجد مُتّكِئٍ علٰی بردله أحمر ، فقُلتُ : یَا رَسول الله ، اِنّیْ جئت أطلب العلم ، فقالَ : مَرْحَباً بِطَالِبِ العَلم ، اِنَّ طَالِبَ العِلْمِ لَتَحُفُّهُ المَلاٰئِكَةُ بِاَجْنِحَتِهَا ، ثُمَّ یَرْكَبُ بَعْضُهُمْ بَعْضاً حَتّٰی یَبْلُغُوا السَّمَاءَ الدُّنْیَا مِنْ مَحَبَّتِهِمْ لِمَا یَطْلُبُ . رواه احمد والطبرای وابن حبان وابن ماجه ، وقال الهیثمی رجاله رجال الصحیح . مجمع الزوائد صـ ۱۳۱ جـ ۱ رقم ۵۵۰)

ترجمه: صفوان بن عسال مرادی وائی چه څه راغلم نبی ﷺ ته او هغ په مسجد کښ په سور څادر تکیه وهلے وه ماورته اووئیل یا رسول الله څه راغلم طلب کوم د علم نو اووبل رسول الله ﷺ په خیرا راغلے طالب العلم یقینا طالب علم پتوی ده لره فرشتے په خپلو وزرو سره بیا سوریږی بعضے په بعضو باندے تردے چه اورسی دوئی آسمان ته دوجے د محبت د دوئی نه د هغے علم سره چه طالب علم ئے طلب کوی روایت کړے دے د دے احمد طبرانی ابن حبان ، ابن ماجه خو د ابن ماجه په روایت کښ دی چه حضرت عسال وائی ما واوریدل د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیل ئے نشته یو وتونکے چه اوزی د کور خپل نه په طلب د علم کښ مګر ګدی ده ته فرشتے وزری خپلے دوجے د خوشحالی نه په هغے علم باندے چه طالب علم ئے حاصلوی .

فائده: د طالب علم ډیر لوئے مقام دے حدیث شریف نه هم واضح شو او دے مضمون کښ یو بل حدیث د حسن بصریؒ نه مرسل روایت دے

حضرت حسن بصری نه مرسلا روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه چاته مرګ راشی په داسے حال کښ چه دے علم زده کوی په دے غرض چه په دے علم سره اسلام ژوندے کړی (یعنی اسلام رائج کول په خلقو کښ غواړی) نو په جنت کښ به دده او دانبیاؤ (دنبوت په وجه) صرف یوه درجه فرق وی.

ددے حدیثونو نه معلومه شوه چه دطالب علم د دین لونے مقام دے څکه کتابونه لیکی "اذا رأیت طالباً فکُن له خادماً" چه کله طالب دعلم دین اووینے نو دهغه خادم شه (مرقاة)

د قرآن او حدیث د خودونکی عالم فضیلت

(۸۹) **الحدیث الرابع** : وعن الحسن مرسلاً قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ رَجُلَيْنِ اَمَّا اَحَدُهُمَا فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ وَالْاٰخَرُ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ اَيُّهُمَا اَفْضَلُ؟ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَضْلُ هٰذَا الْعَالِمِ الَّذِیْ يُصَلّٰی الْمَكْتُوْبَةَ ثُمَّ يَجْلِسُ فَيُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَيْرَ عَلَى الْعَابِدِ الَّذِیْ يَصُوْمُ النَّهَارَ وَيَقُوْمُ اللَّيْلَ كَفَضْلِیْ عَلٰی اَدْنَاكُمْ. حسن (رواه الدارمی)

ترجمه : حضرت حسن بصری نه مرسلا روایت دے چه درسول الله ﷺ نه تپوس اوشو د دوو کسانو باره کښ چه یو عالم دے صرف فرض مونځ کوی او بیا کینی خلقو ته علم خائی او بل د هغه کس چه دورځے روژه نیسی او دشپے تمامه شپه عبادت کوی (سائل سوال اوکړو په دے غرض) چه په دے دواړو کښ کوم یو بهتر دے ؟ آنحضرت ﷺ اوفرمائیل چه هغه عالم چه صرف فرض مونځ کوی او کینی خلقو ته علم ښائی دومره افضل دے په درجه کښ په هغه عابد چه دورځے روژه وی او دشپے قیام کوی لکه څومره چه ځما فضیلت دے په تاسو کښ په یو ادنی کس باندے دے.

فائده : حدیث شریف نه د هغه عالم چه خلقو ته قرآن او حدیث ازده کوی ډیر لوئے فضیلت ثابت شو هر عالم لره ضروری دی چه خیر خور کړی او خیر د قرآن او سنت تعلیم دے دے سره درجه ډیره او چتیګی خصوصاً چه په علم عمل هم اوکړی.

طالب العلم ته اجر

(۹۰) **الحدیث الخامس** : عن واثلة بن الأسقع رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ طَلَبَ الْعِلْمَ فَاَدْرَكَهُ كَانَ لَهُ كِفْلَانِ مِنَ الْاَجْرِ فَاِنْ لَّمْ يُدْرِكْهُ كَانَ لَهُ كِفْلٌ مِنَ الْاَجْرِ. (رواه الدارمی، ورواه الطبرانی فی الکبیر (۲۲/ ۶۸) ورجاله موثقون کما فی المجمع الزوائد (ج ۱ ص ۱۲۳)

ترجمه : حضرت واثله بن اسقع رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. چه هغه څوك چه دعلم طلبګار وی او علم زده کړی نو ده له به دوچند ثواب ملاویګی او کچرے علم زده نه کړی نو ده له به یو ثواب ملاویګی.

فائده : علم د پاره کوشش کول د فائدے نه خالی نه دی که ازده شی هم اوکه ازده نه شی هم یعنی علم یو داسے تجارت دے چه تاوان پکښ نیشته.

لطیفه: مونږه سره یو درے رونړه طالبان وو نو هغے کښ یو د تولو کشر وو چه ډیر مرنے نه وو یوه ورځ ورته پلار اووئیل چه هلکه فلانیه ځه به درنه جوړشی که نه هغه اوونیل داجی! که ملا

نه شم نو اوښيار امی خوبه شمه کنه .مطلب دادے چه علم هر صورت کښ د جهل نه خه دے.

الدرس التاسع عشر ﴿١٩﴾

دخلويښتو حديثو فضيلت

[٩١] **الحديث الاول** : عن ابی الدرداء رضی الله عنه قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا حَدُّ الْعِلْمِ الَّذِیْ إِذَا بَلَغَهُ الرَّجُلُ كَانَ فَقِيْهاً فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ حَفِظَ عَلٰى أُمَّتِیْ أَرْبَعِيْنَ حَدِيْثاً فِیْ أَمْرِ دِيْنِهَا بَعَثَهُ اللّٰهُ فَقِيْهاً وَكُنْتُ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شَافِعاً وَشَهِيْداً. (رواه البيهقی، والحديث حسن لغيره (مرقاة ج ١ ص ٣٠٩)

ترجمه : حضرت ابی الدرداء رضی الله عنه راوی دے چه رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو. اے دخدائے رسوله ! د علم مقدار څه دے؟ چه څه وخت سړے هغومره حاصل کړی او فقهی عالم جوړ شی . نبی ﷺ اوفرمائيل هر هغه څوك چه څما د امت نه څلويښت حديث ياد کړی چه ددين په معامله کښ وی (او نورو ته ئے درسولو کوشش اوکړی) نو دقيامت په ورځ به دفقيه (عالم) په شکل پورته شی او څه به ئے شفاعت کوم (او دده په اطاعت) به گواه يم.

دعلم پټولو وعيد

[٩٢] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ بِلِجَامٍ مِّنْ نَارٍ. (رواه احمد وابوداؤد والترمذی وقال هذا حديث حسن)

ترجمه: دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل. چاچه (دعالم نه) د علم دکومے خبرے تپوس اوکړو چه ده ته معلومه وی مگر دے ئے پټه کړی (يعنی د څه مقصد په وجه ئے ورته اونه وائی) نو دقيامت په ورځ به ورته داور واگے واچولے شی.

په دين مال کټل

[٩٣] **الحديث الثالث**: عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَعَلَّمَ عِلْماً مِمَّا يُبْتَغٰی بِهٖ وَجْهُ اللّٰهِ لَا يَتَعَلَّمُهُ إِلَّا لِيُصِيْبَ بِهٖ عَرَضاً مِّنَ الدُّنْيَا لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَعْنِیْ رِيْحَهَا. (رواه احمد وابوداؤد وابن ماجه ، و صححه الحاكم ووافقه الذهبی ، و جود اسناده الحافظ العراقی كذا فی التعليقات جامع الاصول ج ٤ ص ٥٤٣ رقم : ٢٦٤٨)

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو. چه کوم کس دا علم چه دالله رضا پرے طلب کيگی نه زده کوی مگر دے دپاره چه يو غرض ددنيا پرے حاصل کړی .يعنی علم دين دے غرض دپاره زده کړی چه ددے په ذريعه ددنيا مال ومتاع حاصل کړی نو دقيامت په ورځ به دجنت خوشبو (قدرے) هم بوئی نه کړی.

فائده: حاصل دا دے چه په دغه علم چه مقصد پکښې د الله تعالی رضا نه ده جنت نه حاصلېږی د دے حدیث نه معلومه شوه چه د نافع علم د پاره صحیح نیت ډیر ضروری دے سفیان ثوری وائی چه " لأن أطلب الدنیا بطب ومزمار أحب إلی من أطلبها بهذا " یعنی چه خه طلب کړم دنیا په تمبل او باجه پسند دی ماته د دے نه چه طلب نے کړم په دین باندے.

علم سبب د سرداری نه شی

۹۴) **الحدیث الرابع**: عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قال لَوْ اَنَّ اَهْلَ الْعِلْمِ صَانُوا الْعِلْمَ وَ وَضَعُوْهُ عِنْدَ اَهْلِهِ لَسَادُوْا بِهِ اَهْلَ زَمَانِهِمْ وَلٰكِنَّهُمْ بَذَلُوْهُ لِاَهْلِ الدُّنْيَا لِيَنَالُوْا بِهِ دُنْيَاهُمْ فَهَانُوْا عَلَيْهِمْ سَمِعْتُ نَبِيَّكُمْ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ جَعَلَ الْهُمُوْمَ هَمًّا وَاحِداً هَمَّ آخِرَتِهِ كَفَاهُ اللّٰهُ هَمَّ دُنْيَاهُ وَمَنْ تَشَعَّبَتْ بِهِ الْهُمُوْمُ اَحْوَالُ الدُّنْيَا لَمْ يُبَالِ اللّٰهُ فِیْ اَیِّ اَوْدِيَتِهَا هَلَكَ. (رواه ابن ماجه والبيهقي، وحسنه الالباني في صحيح الجامع رقم ٦١٨٩)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه وے فرمائیل کچرے اهل علم (یعنی علماؤ) د علم حفاظت کړے وے او علم نے اهل د علم ته ایښودلے وے. (یعنی علم نے دقدردانو په مخکښ بیان کړے وے) نو بیشکه ددے علم په ذریعه به ددنیا والو سردار جوړ شوے وے. لیکن دوی داسے اونکړل بلکه دوی علم په دنیا دارو خرچ کړو دے دپاره چه ددے په ذریعه مال حاصل کړی (او دعلم اصلی حقیقت د اقتداروالو او مالدارو په حق کښ استعمال کړی) نو ددنیا والو په نظر کښ ذلیل (او سپك ښکاره) شو او ما دسردار دوجهان ﷺ نه اوریدلی دی چه وے فرمائیل چه هر هغه چا چه دخپلو تمامو مقصدونو نه صرف یو مقصد یعنی د آخرت مقصد اختیار کړو نو الله تعالی به دده ددنیا (تول) مقصدونه پوره کړی او چاله چه گډوډ کړی غمونه ددنیا نو بیا الله دده پرواه نه کوی چه ددنیا په کوم څنگل کښ هلاك شو (هلاك ډ شی).

فائده: د حدیث شریف نه معلومه شوه چه د تولو پریشانو حل فکر آخرت دے اے الله مونږه ته فکر آخرت نصیب کړے (امین) او د حدیث شریف نه دا هم معلومه شوه چه د علم خیال ساتل په علم عمل کول او د هغے قدر کول سبب د سردارئی دے.

مسجد کښ تعلیم او تعلم د پوره حج ثواب لری

۹۵) **الحدیث الخامس**: عن أبی أمامة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال: مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُرِيْدُ إِلَّا اَنْ يَتَعَلَّمَ خَيْراً اَوْ يُعَلِّمَهُ كَانَ لَهُ كَاَجْرِ حَاجٍّ تَامًّا حِجَّتُهُ. (اخرجه الطبرانی باسناد لا باس به)

ترجمه: د حضرت ابو امامهؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ وائی څوك چه سحر لاړ چی جومات ته ارادہ نے نه وی مگر دا چه ازده کړی خیر یا اوښائی خیر وی به ده د پاره اجر د حاجی چه پوره وی حج د هغه

فائده: خیر علم د قرآن او حدیث ته وائی مطلب دا دے چه کوم سړے مسجد ته د قرآن او حدیث ازده کولو یا خودلو له څی نو ده ته به د پوره حج ثواب ملاوشی " وما ذالك على الله بعزيز ".

الدرس العشرون ۲۰

دبے عمله عالم مثال

[۹۶] **الحديث الاول**: عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَثَلُ عِلْمٍ لَا يُنْتَفَعُ بِهٖ كَمَثَلِ كَنْزٍ لَا يُنْفَقُ مِنْهُ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ . (رواه احمد والدارمی ، و اسناده حسن . إتحاف الخيرة المهرة جـ ۱ صـ ۲۵۵)

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه سرور کائنات ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه مثال دهغه علم چه نفع ترے وانه غستے شی (يعنی نه عالم په خپله پرے عمل کوی او نه ئے نورو ته بنائی نو مثال ئے) دهغه خزانے دے چه دهغے نه د الله په لار کښی هيڅ خرچ نشی .

فائده : دولت په دوه قسمه دے يو مال بل علم دے چه مال د لګولو په ځائے نه لګوی هغه هم بخيل دی او چه علم ورسره وی او چاته ئے ازده کوی نه نو هغه هم بخيل دے علم خودل سخا ده او دا د عالم ذمه داری ده .(و مما رزقنٰهم ينفقون) يوه معنی قرطبی داسے کوی و (مما علمنٰهم يعلمون الناس) هغه علم چه مونږ ورته خو دلے دی خلقو ته ئے خائی ، او په حديث شريف کښی د سمرهؓ نه نقل دی چه حضور ﷺ اوفرمائيل صدقه نه ده کړے چا پشان د علم چه خوريږی يعنی د علم دين اشاعت غوره صدقه ده (المتجر صـ ۲۰)

دقرآن هيرولو ګناه

[۹۷] **الحديث الثانی** : عن سعد بن عبادة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنِ امْرِءٍ يَقْرَءُ الْقُرْآنَ ثُمَّ يَنْسَاهُ اِلَّا لَقِیَ اللّٰهَ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَجْذَمَ .(رواه ابوداؤد والدارمی ، وضعفه بعضهم لكن له شواهد)

ترجمه : دحضرت سعد بن عباده رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيلو. چه هر هغه څوك چه قران مجيد اووائی او بيا ئے هير کړی نو ملاؤ به شی په قيامت کښی الله سره په داسے حال کښی چه لاسونه به ئے پريکړے شوے وی

د دريو شپو نه کمو شپو کښی ختم

[۹۸] **الحديث الثالث** : عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَمْ يَفْقَهْ مَنْ قَرَءَ الْقُرْآنَ فِیْ اَقَلَّ مِنْ ثَلَاثٍ. (رواه الترمذی وابوداؤد ، ورواه احمد فی مسنده مطولا جـ ۲ صـ ۱۸۹ رقم : ۶۷۷۵ ، قال شعيب الارنؤوط اسناده صحيح على شرط الشيخين)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد

اوفرمائیلو. څوك چه ددرے شپو نه کم کښ قران وائی (یعنی کم د درے شپو نه ختم کوی) نو دے په قرآن لوستو نه دے پوهه شوے.

فائده : دے حدیث شریف نه د شبینے حکم هم معلوم شو چه یوه شپه کښ قرآن ختمول څنګه دی ؟ که چرته قرآن شریف زرزر لولی چه ادائیګی ئے صحیح نه کیږی او نه پرے قاری صحیح پوهیږی او نه اوریدونکے نو دا شبینه صحیح نه ده او که د قران حق د لوستلو صحیح طریقے سره ادا کوی نو بیا شبینه یعنی یوه شپه کښ ختم کول صحیح دی ځکه چه د ډیرو سلفونه نقل دی چه هغوئی به یوه شپه کښ ختم کولو .

په ګناه رضا هم ګناه ده

[۹۹] **الحديث الرابع** : عن العرس بن عميرة رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيْئَةُ فِى الْاَرْضِ مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا. (رواه ابوداؤد جـ ٤ صـ ١٢٤ ، وقال الالبانى حسن)

ترجمه : دحضرت عرس بن عمیره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. کله چه په زمکه ګناه کیږی او هغه کس چه حاضر وی او دغه ګناهونه بد ګڼړی نو دے دهغه کس په شان دے کوم چه حاضر نه وی او کوم یو کس چه په هغه ځائے کښ موجود نه وی او دے په دغه ګناهونو راضی وی نو دے دهغه چا په شان دے چه دغلته حاضر وی.

فائده: د مسلمان د پاره د ګناه باره کښ کم ازکم ذمه داری دا ده چه دے پرے اظهار د ناراضګی اوکړی کله چه ګناه اوینی.لکه یو بل حدیث کښ دا مضمون پدے الفاظو ذکر دے "من رأى منكم منكراً" الخ.

درے غوره پسماندګان

[۱۰۰] **الحديث الخامس** :عنْ أبى قتادة رضى الله عنه قال : قَالَ رسول الله ﷺ : خَيْرُ مَا يُخَلِّفُ الرَّجُلُ مِنْ بَعْدِهِ ثَلاثٌ : وَلَدٌ صَالِحٌ يَدْعُوا لَهُ ، وَصَدَقَةٌ تَجْرِى يَبْلُغُهُ اَجْرُهَا ، وَعِلْمٌ يُعْمَلُ بِهِ مِنْ بَعْدِهِ .(رواه ابن ماجه باسناد صحيح)

ترجمه :حضرت ابی قتادهؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره هغه چه سړے روستو د ځان نه پریدی درے خبرے دی یلك بچے چه چه له دعا غواړی او صدقه جاریه (مثلا جومات مدرسه کوهی) چه زسی ده ته ثواب د هغے او هغه علم چه عملی کیږی په هغے باندے روستو د ده نه .

الدرس الحادی والعشرون ﴿۲۱﴾

د زرو رکعاتو نفلو ثواب په ډیر عمل

(۱۰۱) **الحديث الاول** عن أبی ذر رضی الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ : **لأن تغدو فتعلّم آیة من کتاب الله خیرٌ لك من أن تصلّی مائة رکعة، ولأن تغدو فتعلّم بابًا من العلم عُمل به أولم یُعمل خیرٌ من أن تصلی ألف رکعة.** (رواه ابن ماجه باسناد حسن وقد روی موقوفا علیه السحر ص ۱۶)

ترجمه: د حضرت ابوذر نه روایت دے هغه وائی چه رسول الله ﷺ ماته اوویل چه ته لاړشی سحر وختی اوازده کړے یو آیت د کتاب الله نه دا غوره ده ستا د پاره ددے نه چه ته سل رکعته نوښ اوکړے او چه ته لاړشی سحروختی نو ازده کړے یو باب د علم که عمل پرے اوشی اوکه اونه شی نو هغه بهتر دے تا نه د زرو رکعاتو د نفلونه .

فائده: دے حدیث شریف کښ لګ عمل او د ډیر ثواب حاصلولو طریقه بیان شوه .

د داعی فضیلت

(۱۰۲) **الحديث الثانی** عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى كَانَ لَهُ مِنَ الْأَجْرِ مِثْلُ أُجُوْرِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئاً وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلَالَةٍ كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئاً. (رواه مسلم)

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه کوم سړے (څوك) د هدایت طرفته راوبلی نو ده ته دومره ثواب ملاویږی څومره چه هغه عمل کونکی ته) ملاویګی او د (عمل کونکی) په ثواب کښ هیڅ کمے نه راځی او څوك چه چاڅه د ګمراهئ طرف ته راولی نو دومره ګناه دده هم کیګی څومره چه دهغه کیګی او ددے بل ګناه کښ به څه کمے نه راځی.

فائده: د دین دعوت دا لویه کیمیا ده ګټه د دنیا او د عقبی ده ملا ورته او تړه د اخیره دروغ نه ده رشتیا ده او دعوت د توحید او د سنت طریقه د مصطفی ده .

د بے علمه مفتی سزا

(۱۰۳) **الحديث الثالث** عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ أُفْتِیَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ وَمَنْ أَشَارَ عَلَى أَخِيْهِ بِأَمْرٍ يَعْلَمُهُ أَنَّ الرُّشْدَ فِيْ غَيْرِهِ فَقَدْ خَانَهُ (رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن)

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه سردار دوجهان ﷺ ارشاد اوفرمائیلو. چه کوم سړے ته بغیر د علم نه (د یو مسئلے) فتوی ورکړے شی نو ګناه به

هغه جاده چا چه (غلطه) فتوی ورکړے وی او هر هغه څوک چه خپل روږ مسلمان نه د څه داسے شی مشوره ورکړی چه دهغے په باره کښ دے پوهیګی چه فائده په بل کار کښ ده نو ده ورسره خیانت اوکړو.

فائده: د دینی مسئلے جواب ورکول د الله تعالی او د رسول ﷺ ترجمانی ده نو چه کوم عالم د دینی مسئلے جواب ورکوی نو هغه له سو فیصد احتیاط ضروری دے او چه کوم سړے په مسئله پوهه نه دے نو هغه له دجواب ورکولونه پرهیز لازم دے افسوس دے څمونږه زمانه کښ دے باره کښ ډیره بے احتیاطی کیږی ، یاد لری څنګه چه بے علمه مفتی ګناهګار دے چه فتوی غلطه ورکوی نو داسے بے علمه واعظ هم ګناهګار دے چه ارتکاب د ګناهونو کوی لکه درج ذیل حدیث سره د عبارت او ترجمے نه اوګورئ" حدیث د درس ۲۰"

دمریض څخه عیادت یوه دعاء

[۱۰٤] **الحدیث الرابع** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا عَادَ اَحَدُكُمْ مَرِيْضاً فَلْيَقُلْ " اَللّٰهُمَّ اشْفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا اَوْ يَمْشِيْ لَكَ اِلٰى صَلٰوةٍ. "حسن (الجامع ج۱ص ۱۷۸)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه یو ستاسو نه ده ناروغ تپوس کوی نو دادعا دے ورته اووائی.

"اللهم اِشفِ عَبْدَكَ يَنْكَأُ لَكَ عَدُوًّا اَوْ يَمْشِيْ لَكَ اِلٰى صَلٰوةٍ."

(اے الله شفاورکړه بنده خپل ته تکلیف به ورکړی دشمن ستا ته یا به لاړ شی ستا درضا دپاره مانځه له)

صحت او فراغت لوئے نعمته نه دی

[۱۰۵] **الحدیث الخامس** : عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نِعْمَتَانِ مَغْبُوْنٌ فِيْهِمَا كَثِيْرٌ مِّنَ النَّاسِ اَلصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ. (رواه البخاری)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه دوه نعمتونه دی چه په هغے کښ ډیر خلق په نقصان کښ پراته دی . یو صحت او بل فراغت .

فائده: دے حدیث شریف کښ دوخت د قدر او قیمت بیان دے څوک چه دوخت قدر کوی او په صحیح ځائے کښ خرچ کوی دا کامیاب او دنقصان نه بچ سړے دے. همدارنګ په دے حدیث کښ د صحت د قدر بیان دے د صحت په ورځو کښ عبادت پکار دے مشران وائی روغ صحت بے تاجه بادشاهی ده .

الدرس الثانی والعشرون ﴿۲۲﴾

قوت لا یموت ته ترغیب

[۱۰۶] **الحدیث الاول**: عن ابی هریرة رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ " اَللّٰهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوْتاً وَفِیْ رِوَایَةٍ کَفَافاً (متفق علیه)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ (به دا دعا غوښتله) اے الله اوګر څوی رزق د ال د محمد د ګوزارے او په یو روایت کښ د قوت په ځائے د کفاف لفظ راغلے دے. (معنی ددواړو لفظونو یوه ده لږ شے چه ګرزاره پرے کیږی)

مضمون بالا

[۱۰۷] **الحدیث الثانی**: عن عبدالله بن عمرو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَدْ اَفْلَحَ مَنْ اَسْلَمَ وَرُزِقَ کَفَافاً وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا اٰتَاهُ . (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه کامیاب شو هغه کس چه ایمان ئے راوړو او په قدر د کفایت رزق ورکړے شو او الله تعالیٰ ئے په هغه څه چه ورکړے ئے وی (صابر) او قانع جوړ کړی.

فائده: حدیث شریف اول او دویم کښ په لږ څیز ګوزاره کولو ته ترغیب دے چه په دے کښ چین سکون دے او په ډیر مال کښ اکثر پریشانی او بدحالی وی لکه وائی چه ډیرنے مال شی بد ئے حال شی. همدارنګ وئیلے شی چه کم خرچ بالا نشین.

اصل مال دانسان کوم دے؟

[۱۰۸] **الحدیث الثالث**: عن ابی هریرة رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ الْعَبْدُ مَالِیْ مَالِیْ وَاِنَّ مَالَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ مَا اَکَلَهُ فَاَفْنٰی اَوْ لَبِسَ فَاَبْلٰی اَوْ اَعْطٰی فَاَقْنٰی وَمَا سِوٰی ذٰلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ. (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه بنده وائی زما مال زما مال (یعنی په خپل مال اودولت فخر کوی چه ماسره مال دے) حالانکه ددغه مال نه ده له درے څیزونه دی (چه هغه دد پکار راځی) یو هغه چه وے خوړو بس ختم شو بل هغه چه وائے غوستو نو زوړ شو دریم هغه چه دالله د رضا دپاره ئے ورکړو (او د آخرت دپاره ئے) خزانه کړو او سوی ددے نه ټول مال چه څه دے وارثانو ته پاتے دے او دے ترے نه تلونکے دے (نن یا صبا)

تر قبره درے ځيزونه ځی

[۱۰۹] **الحديث الرابع**: عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ فَيَرْجِعُ اِثْنَانِ وَيَبْقٰى مَعَهٗ وَاحِدٌ يَتْبَعُهٗ اَهْلُهٗ وَمَالُهٗ وَعَمَلُهٗ فَيَرْجِعُ اَهْلُهٗ وَمَالُهٗ وَيَبْقٰى عَمَلُهٗ. (متفق عليه)

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه مړی سره تر قبره پورے درے ځیزونه ځی.دوه ځیزونه دی چه هغه واپس راځی (او دے یواځے پریږدی) او یو شے ده سره پاتے کیږی چنانچه اهل (خپلوان) ده او مال دده واپس راځی او صرف عمل ده سره پاتے کیږی (که ښه وی او که بد)

فائده: فارسی بان وائی هر چه پاید دل بستگی راه شاید کوم شی چه وفادار نه وی نو زړه ورسره نه دی تړل پکار نیک عمل د مؤمن وفادار دے ده سره زړه تړل کامیابی ده ځکه وائی خپل عمل د لارے مل.

بهتر مال هغه دی چه د ځان نه ئے مخکښ اولیږی

[۱۱۰] **الحديث الخامس**: عن عبدالله بن مسعود رضی الله قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهٖ اَحَبُّ اِلَيْهِ مِنْ مَالِهٖ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَامِنَّا اَحَدٌ اِلَّا مَالُهٗ اَحَبُّ اِلَيْهِ مِنْ مَالِ وَارِثِهٖ قَالَ فَاِنَّ مَالَهٗ مَا قَدَّمَ وَ مَالُ وَارِثِهٖ مَا اَخَّرَ. (رواه البخاری)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه تاسو کښ یو داسے شته چه دخپل مال نه د وارثانو مال زیات خوښوی. صحابه کرامو عرض اوکړو مونږ کښ هر یو ته د وارث دمال نه خپل مال زیات محبوب دے. وے فرمائیل خپل ئے هغه دے چه دځان نه ئے مخکښ اولیږه او کوم چه د ده نه پاتے شو هغه د وارثانو مال دے.

فائده: د حدیث شریف مطلب دا دے چه کوشش دا پکار دے چه سړے په صحیح طریقه خیرات صدقات په خپل ژوند اوکړی نو هغه په ده ته د مرګ نه روستو ملاوشی او هغه د ده ذخیره شوه اوچه د مرګ نه روستو کوم مال پاتے شی نو هغه د وارثانو شی خلاصه دا چه په ژوند د صدقے ورکولو ډیر ثواب دے.

الدرس الثالث والعشرون ۲۳

پنځه دپنځوو نه مخکښ غنیمت ګڼړل پکار دی

[۱۱۱] **الحديث الاول**: عن عمرو بن ميمون الاودی رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهٗ

اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ وَحَيَوتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ. (صحيح، رواه الترمذی)

ترجمه : دحضرت عمرو بن میمون الاودی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو کس نه نصیحت کولو و ے فرمائیل چه پنځه څیزونه غنیمت اوګڼه مخکښ د پنځه څیزونو نه چه ځوانی غنیمت اوګڼه مخکښ د زوړوالی نه او روغ بدن غنیمت اوګڼه مخکښ د بیماری نه او مالداری غنیمت اوګڼه مخکښ د فقر نه او فراغت غنیمت اوګڼه مخکښ د شغل نه لو ژوند غنیمت اوګڼه مخکښ د مرګ نه.

د لعنت نه ځان بچ دی؟

[۱۱۲] **الحديث الثانی**: عن ابی هريرة رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَلَا اِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُوْنَةٌ وَمَلْعُوْنٌ مَا فِيْهَا اِلَّا ذِكْرُ اللّٰهِ وَمَا وَالَاهُ وَعَالِمٌ اَوْ مُتَعَلِّمٌ. (حسن، رواه الترمذی وابن ماجه)

ترجمه: دحضرت ابی هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل یاد اولری دنیا ملعونه ده او څه چه په دے کښ دی دا هم مگر ذکر دالله تعالیٰ او هغه چه الله تعالیٰ نه محبوب وی او عالم یا متعلم.

ددنیا حیثیت

[۱۱۳] **الحديث الثالث**: عن سهل بن سعد رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَاللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ مَا سَقٰى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةً. (صحيح، رواه احمد والترمذی)

ترجمه: دحضرت سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه کچرے دے دنیا دالله په نزد د ماشی دوزر هومره قدر وقیمت لرلے نو الله تعالیٰ به کافر ته یو ګوټ اوبه هم نه وے ورکړے.

دپیسو په غلام لعنت

[۱۱۴] **الحديث الرابع**: عن ابی هريرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ لَعَنَ اللّٰهُ عَبْدَالدِّيْنَارِ وَلَعَنَ عَبْدَالدِّرْهَمِ. (رواه الترمذی، ولہ شاهد صحيح وفيه تعس)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ نه نقل کوی چه وے فرمائیل کوم سړے چه ددرهم او دینار بنده شی (یعنی پیسو سره ئے محبت شی) نو په هغه دے لعنت شی، د دے حدیث روایت ترمذی شریف کړے دے او د دے روایت د پاره یو بل روایت صحیح شاهد دے په هغے کښ د لعن په ځائے تعس راغلے دے.

فائده : د پیسو سره داسے مینه کول او دهغے داسے غلامی کول چه ورته د دین احکام

ریگدے دا سبب د لعنت د الله تعالی دے نو دے نا، کښې ځان سره محاسبه یکار ده.

د نکاح د شهرت حکم

۱۱۵ | **الحديث الخامس** عن ابن الزبير قال قال رسول الله ﷺ اعلنوا النكاح حسن (الجامع ج ۱ ص ۲۴۳)

ترجمه: د حضرت ابن الزبیر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه د نکاح اعلان (شهرت) اوکړی.

فائده: په جائز طریقه چه خومره شهرت د نکاح کیدے شی هغه اومره یکار دے دی وجے په جومات کښې او په ګنړه کښې نکاح نرل مستحب دی او کم از کم دو کسان سړی یا یو کس سړے او دوه ښځے ګواه کول د نکاح صحت د پاره شرط دی.

الدرس الرابع والعشرون ﴿۲۴﴾

عمارت په جوړولو مال لګول

۱۱۶ | **الحديث الاول**: عن خباب رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ قال إن المسلم يؤجر في كل شيء ينفقه، إلا في شيء يجعله في هذا التراب. (هذا حديث صحيح شرح السنة للبغوی ج ۱۴ ص ۲۸۰ رقم ۴۰۸۶ و رواه الترمذی وابن ماجه)

ترجمه: حضرت خباب رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه بنده مسلمان نه اجر ورکولی شی په هر شئ کښې چه خرچه اوکړی سوا د هغے خرچے نه چه په دے خاوره باندے اوکړے شی. (یعنی سے ضرورته عمارت پرے جوړ شی)

فائده: د ضرورت آبادی کښې مال لګول جائز دی د ضرورت نه زیاتی آبادی کولو کښې اجر نشته. ضرورت نه زیاته آبادی خو نبی ﷺ نه ده پسند کړے لکه څنګه چه حدیث مبارک کښې یره ذکر شو دا رنګ یو مرفوع حدیث د حضرت انس نه هم نقل دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه سوا د تعمیر نه نوره توله خرچه فی سبیل الله ده پس په تعمیر کښې (د ضرورت نه زیات خرچه) کښې فائده نشته. هم دارنګ د ابراهیم نخعی اثر دے چه اباد ے ټول وبال دے چا تپوس اوکړو چه د ضرورت د آبادی څه حکم دے؟ هغه اوئیل نه په کښې ګناه شته نه ثواب (شرح السنة للبغوی ج ۷ ص ۲۲۵).

دنیا دم دپاره په دنیا کښې د څلورو څیزونو حق دے

۱۱۷ | **الحديث الثاني** عن عثمان رضی الله عنه أن النبي ﷺ قال ليس لابن آدم حق في سوى هذه الخصال بيت يسكنه وثوب يواري به عورته وجلف الخبز والماء. (رواه الترمذی، وقال هذا حديث صحيح)

ترجمه: د حضرت عثمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بنده د څلورو څیزونو نه علاوه نور هیڅ حق نه لری یو کور (دومره چه کوذاره قدرے پرے جوړه وی)

اوسیدگی پکښې کپړه چه ستر ئے پرے پټ وی ، اوروتی (چه لولاړه ترے دفع کوی) او څلورم اوبه چه تنده پرے ماتیدگی.

فائده : د دے حدیث شریف نه دا سبق معلومیږی چه د دنیا په څیزنو کښې په لږ اکتفا پکار ده څومره چه کیدے شی چه دژوند په هر ډګر ګوزاره تر لاسه کړی . او د انسان ضرورت په څه پوره کیږی ؟ د هغے څیزونو نشاندهی حدیث شریف اوکړله کور ، جامه خوراك ، اوبه دا د انسان ضروریات دی بس .

خالق او مخلوق ته دمحبوب کیدو نسخه

[۱۱۸] **الحديث الثالث** : عن سهل بن سعد رضى الله عنه قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ دُلَّنِيْ عَلٰى عَمَلٍ إِذَا اَنَا عَمِلْتُهُ اَحَبَّنِيَ اللّٰهُ وَاَحَبَّنِيَ النَّاسُ قَالَ اِزْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبُّكَ اللّٰهُ وَازْهَدْ فِيْمَا عِنْدَ النَّاسِ يُحِبُّكَ النَّاسُ. صحيح (رواه الترمذى وابن ماجه)

ترجمه : دحضرت سهل بن سعد رضى الله عنه نه روایت دے چه یو سړے دربار رسالت ته حاضر شو عرض ئے اوکړو اے د خدائے رسوله ماته یوداسے عمل اوښایه چه څه هغه کوم نو الله تعالیٰ ماسره محبت کوی ، او مخلوق هم ماسره محبت کوی. رسول الله ﷺ اوفرمائیل ته ددنیا نه نفرت کوه الله به تاسره محبت کوی او څه چه خلقو سره دی (یعنی مال و دولت جاه وجلال) ته هغے ته میلان مه کوه خلق به تاسره محبت کوی.

فائده : زهد دے ته وائی چه سړے دنیا نه بقدر ضرورت اخلی خو زړه نه ورکوی نو که دنیا ډیره راشی نو بیا هم دے نه متاثر کوی او دا سبب د محبت د الله تعالی دے او د مخلوق د څیزونونه څان بے پروا کول سبب د محبت د خلقو دے او چه د الله تعالی مینه وی او د مخلوق درسره مینه وی نو دابه خوندہ وره زندګی وی یا الله مونږه ته ئے نصیب کړے آمین..

د آقائے نامدار ﷺ ددنیا نه بے رغبتی

[۱۱۹] **الحديث الرابع** : عن ابن مسعود رضى الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ نَامَ عَلٰى حَصِيْرٍ فَقَامَ وَقَدْ اَثَّرَ فِيْ جَسَدِهٖ فَقَالَ ابْنُ مَسْعُوْدٍ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ لَوْ اَمَرْتَنَا اَنْ نَبْسُطَ لَكَ وَنَعْمَلَ فَقَالَ مَالِيْ وَلِلدُّنْيَا وَمَا اَنَا وَالدُّنْيَا اِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ الشَّجَرَةِ ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا. صحيح (رواه احمد والترمذى وابن ماجه)

ترجمه : دحضرت ابن مسعود رضى الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ (دکجهورو) پوزکی باندے اوده وو او څه وخت پورته شو نو په جسم مبارك ئے (دپوزی) نخے وے . حضرت ابن مسعودؓ وائی ما عرض اوکړو اے دخدائی رسوله ! تاسو اجازت راکړی څه به تاسو دپاره نرمه بستره واچوم . وے فرمائیل (اے ابن مسعود) څما دنیا سره څه تعلق دے څما او ددنیا مثال داسے دے لکه څرنګ چه یو سور مسافر د یو ونے د سوری لاندے (دمه شی) او بیا

ترمے پورتہ شی او ونہ پہ ځانے پاتے شی.

دقیامت پہ ورځ بہ زیات اوږی ځوک وی؟

[۱۲۰] **الحديث الخامس** : عن ابن عمر رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ سَمِعَ رَجُلاً يَتَجَشَّأُ فَقَالَ اُقْصِرْ مِنْ جَشَاءِكَ فَاِنَّ اَطْوَلَ النَّاسِ جُوْعاً يَوْمَ الْقِيَامَةِ اَطْوَلُهُمْ شَبِعاً فِی الدُّنْيَا. حسن (رواه فی شرح السنة و روی الترمذی)

ترجمه: دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه (یو ورځ) یو سړی ډرقے اوکړو (نو) رسول الله ﷺ واوریدل وے فرمائیل (اے فلانکیه) خپل ډرقے ډ بند کړه (او واوری) دقیامت په ورځ به د ټولو نه زیات اوګے هغه کس وی کوم چه دنیا کښ ډیر زیات خوراك کوی.

فائده: دے حدیث شریف کښ دا تعلیم دے چه سړے روتی او خوراك په مسنون طریقه اوکړی چه خیټه درے حصے کړے یوه خوراك له کړی دویمه اوبوله کړی او دریمه هواء د پاره کړی او زیات خوراك عادت او نه گرځوے ځکه د هغے ډیر دنیوی او اخروی نقصانات یو اخروی نقصان ئے دے حدیث کښ ذکر دے چه دا ډیر خوراکی انسان به قیامت کښ ډیر اوږی وی .

الدرس الخامس والعشرون ۲۵

ددے امت فتنه مال دے

[۱۲۱] **الحديث الاول** :عن كعب بن عياض رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اِنَّ لِكُلِّ اُمَّةٍ فِتْنَةً وَفِتْنَةُ اُمَّتِیْ اَلْمَالُ (رواه الترمذی، صحيح الجامع جـ ۱ صـ ٤٣٠)

ترجمه : دحضرت کعب بن عیاض نه روایت دے چه ارشاد اوفرمائیلو رسول الله ﷺ چه دهر امت دپاره یو ازمیښت وی او زما دامت دپاره مال ازمیښت دے.

فائده: مال ازمائش دے گټلو او لګولو دواړو کښ احتیاط لازم دے چه حاصل هم په صحیح طریقه شی او خرچ هم په صحیح طریقه شی. او کوم مال چه سړے د الله تعالی د رضا حاصلولو نه لرے کوی هغه فتنه ده سبب د ګمراهے دے .

د قیامت په ورځ به اول د نعمتونو تپوس کیګی

[۱۲۲] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اَوَّلَ مَا يُسْاَلُ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مِنَ النَّعِيْمِ يُقَالُ لَهُ اَلَمْ يَصِحَّ جِسْمُكَ وَنُرْوِكَ مِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ. صحيح (رواه الترمذی)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه دقیامت په ورځ به د بنده نه د نعمتونو متعلق سوال کیګی . نو اول سوال به داوی چه ورته به اوویلے شی چه ولے ما ستا بدن ته تندرستی نه وه ورکړے (یعنی ته په وجود روغ جوړ نه

وکړے او نه مونږه په یخو اوبو سپرات کړے نه وے.

فائده : په حدیث شریف کښې مونږ او تاسو ته دا سبق دے چه دنعمت قدر اوکړو او شکر ئے اوباسو او په صحیح ځائے ئے استعمال کړو.

د قیامت په ورځ دپنځو خبرو پوښتنه

۱۲۳) **الحدیث الثالث** : عَنِ ابنِ مسعودٌ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ لَا تَزُوْلُ قَدَمُ ابْنِ آدَمَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ حَتّٰی یُسْئَلَ عَنْ خَمْسٍ عَنْ عُمْرِهٖ فِیْمَا اَفْنَاهُ وَعَنْ شَبَابِهٖ فِیْمَا اَبْلَاهُ وَعَنْ مَالِهٖ مِنْ اَیْنَ اکْتَسَبَهٗ وَفِیْمَا اَنْفَقَهٗ وَمَا ذَا عَمِلَ فِیْمَا عَلِمَ. صحیح (رواه الترمذی)

ترجمه : د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه د قیامت په ورځ به انسان قدم وانه خلی ترڅو پورے چه نه ورے دپنځو سوالونو جوابونه و نه غښتے شی . (۱) عمر د په څه کښې تیر کړے وو؟ (۲) ځوانی د په څه عمل کښې زړه کړے وه؟ (۳) او مال ودولت دے په څه طریقه حاصل کړے وو؟ (۴) (او هغه) ګټلے مال دے (بیا) خرچ کړے ځرنګ وو.(۵) او چه څه علم دے کړے وو په هغے دے څومره عمل کړے وو؟.

فائده : ددے سوالونو په جوابونو دلته سوچ پکار دے ځکه وئیلے شی چه " حَاسِبُوْا قَبْلَ اَنْ تُحَاسَبُوْا" حساب اوکړی مخکښې د هغے نه چه تاسو سره حساب اوشی.

فضیلت په تقوی کښې دے

۱۲۴) **الحدیث الرابع** : عَنْ اَبِیْ ذَرٍ رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اِنَّكَ لَسْتَ بِخَیْرٍ مِنَ الْاَحْمَرِ وَالْاَسْوَدِ اِلَّا اَنْ تَفْضُلَهٗ بِتَقْوٰی. صحیح (رواه احمد)

ترجمه : حضرت ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه نه سور رنګ والا نه بهتر ئے او نه تور رنګ والا نه بهتر ئے. مګر تاسو کښې د تولو نه افضل د تقوی (خاوند) دے.

فائده : تقوی وائی د ګناه نه ځان ساتلو ته نود الله تعالی په نزد غوره هغه انسان دے چه په خپل وسع ځان د ګناه نه بچ کوی لهذا ګناه پیژندل او د هغے نه ځان ساتل د هر مسلمان فرض دی.

ددنیا دار حال

۱۲۵) **الحدیث الخامس** : عَنْ عقبه بن عامر قال قال رسول الله ﷺ : اِذَا رَاَیْتَ اللّٰه تعالٰی یُعْطِی الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْیَا مَا یُحِبُّ وَ هُوَ مُقِیْمٌ عَلٰی مَعَاصِیْهِ ، فَاِنَّمَا ذٰلِكَ مِنْهُ اسْتِدْرَاجٌ . صحیح (الجامع ج ۱ ص ۱۵۷)

ترجمه : حضرت عقبه بن عامر وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی : کله چه ته اوښی چه بنده نه الله تعالی دنیا ورکوی څومره چه د هغه خوښه وی او هغه بیا هم په ګناهونو اخته وی

سر یو هډ شه چه دا استدراج په (مزه مزه نبول) دی.

فائده : معلومه شوه چه یو انسان ګناه کښې اخته وی او دے په ټوله پوره کښې وی نو دا د ده ګرفتاری سبب نه دے دا مضمون بل یو حدیث کښې هم ذکر دے.

د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ (صحابو کرامو نه مخاطب شو) وے فرمائیل داسے څوک شته چه په اوبو باندے پورے اوځی او خپے نے لوندے نه شی (صحابه عرض اوکړو) اے دخدائے رسوله؟ داسے نا ممکنه ده دوی اوفرمائیل دا رنګ د نورو دار حال هم دے (چه د دیر مال په وجه) دګناه نه سالم یعنی محفوظ نه شی پاتے کیدے.

فائده : په دے حدیث شریف کښې مالدار ته تنبیه او خبردارے دے چه دیر مال سره خطرات دی خیال کوه اون د حرام مال نه ځان بچ کوه دویم د فتنے د مال نه پناه غواړه د الله تعالی نه دریم د زکوة او د صدقے اهتمام کوه څلورم د دینی ذمه دارو خیال ساته.

الدرس السادس والعشرون ﴿٢٦﴾

دنیا څوک خپل کور ګڼی؟

(١٢٦) **الحديث الاول** عن عائشة رضی الله عنها عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَلدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَّا دَارَ لَهٗ وَمَالُ مَنْ لَّا مَالَ لَهٗ وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَّا عَقْلَ لَهٗ رواه احمد فی مسنده ص ٣٢٩ ج ١٧ رقم ٢٤٣٠٠ قال حمزة الزين اسناده صحيح و رواه البيهقی)

ترجمه : د حضرت عائشة رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. چه دنیا د هغه چا کور دے چه (په آخرت کښې) نے کور نه وی او (دنیا) مال د هغه چا مال دے چه په آخرت کښې نے مال نه وی او دنیا هغه څوک جمع کوی چه په هغه کښې عقل نه وی.

فائده: د حدیث شریف حاصل دا دے چه کوم سړے دنیا جمع کوی او صرف د هغے په فکر وی نو د غه سړے اوښیار نه دے ځکه د باقی فکر نه کوی چه اخرت دے او د فانی فکر کښې انځتے دے.

غوره مال کوم دے؟

(١٢٧) **الحديث الثانی** : عن ابی الدرداء رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ اِلَّا وَبِجَنْبَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ يُسْمِعَانِ الْخَلَائِقَ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ يَاَيُّهَا النَّاسُ هَلُمُّوْا اِلٰى رَبِّكُمْ مَا قَلَّ وَكَفٰى خَيْرٌ مِّمَّا كَثُرَ وَاَلْهٰى. صحيح. (رواه ابو نعيم)

ترجمه: د حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. کله چه د نمر ستر کیږی نو ددے په دواړو طرفونو دوه فرشتے وی چه آواز ونه کړی چه د انسانانو او پیریانو نه ماسوا (یول) مخلوق نے اوری (او دا وائی) چه اے خلقو د خپل ځان ذکر په طرف

راشی. (یعنی د خدائے پاک احکامو طرف ته راشی) او چه کوم مال (اودولت) کم وی او کفایت کوی هغه ډیر بهتر دے دهغه مال نه چه ډیر زیات وی (او داحکامو الهیه نه) سړے غافل کوی.

دځان نه مخکښ اخرت ته څه لیګلو اهمیت

[۱۲۸] **الحديث الثالث** : عن ابی هريرة رضی الله عنه يَبْلُغُ بِهٖ قَالَ اِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ مَا قَدَّمَ وَقَالَ بَنُوآدَمَ مَا خَلَّفَ. (رواه البيهقی)

ترجمه: دحضرت ابی هریره رضی الله عنه نه روایت دے هغه دا حدیث رسول الله ته رسوی چه وے فرمائیل چه کله سړے مری نو فرشتے دا وائی چه دے (سړی) دځان نه مخکښ څه لیګلی دی ؟(یعنی د آخرت دپاره ئے څه ذخیره لیګلے ده؟) او خلق دا وائی چه ده د ځان نه روستو څه پریخی دی؟ (یعنی څه مال او میراث ترے پاتے شوے دے؟).

فائده: د حدیث شریف حاصل دا دے چه د نیکو اعمالو مخکښ لیګل پکار دے او د هغے فکر ضروری دے.

د ناشکرۍ نه دبچ کیدو نسخه

[۱۲۹] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا نَظَرَ اَحَدُكُمْ اِلٰى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِی الْمَالِ وَالْخَلْقِ فَلْيَنْظُرْ اِلٰى مَنْ هُوَ اَسْفَلَ مِنْهُ. (متفق عليه) وَفِی رِوَايَةِ مُسْلِمٍ قَالَ اُنْظُرُوا اِلٰى مَنْ اَسْفَلَ مِنْكُمْ وَلَا تَنْظُرُوْا اِلٰى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ فَهُوَ اَجْدَرُ اَنْ لَّا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل. کله چه یو کس لتاسو نه داسے یو سړے اووینی چه هغه زیات وی په مال او فضیلت کښ له ده نه نو ده له پکار دی چه اوګوری داسے چاته چه هغه کم وی (په مال او نسب او) درجه کښ له ده نه او دمسلم په یو روایت کښ دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو مه ګوری هغه چاته چه زیات وی په (مال او) درجه کښ له تاسو نه بلکه ګوری هغه چاته چه کم وی په درجه کښ له تاسو نه او دا رنګ مناسب دی تاسو لره ځکه چه سپک اونه ګنړی هغه نعمتونو ته چه کوم درکړے دی الله تاسو ته.

فقراء به دمالدارو نه جنت ته مخکښ ځی

[۱۳۰] **الحديث الخامس** : وعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَدْخُلُ الْفُقَرَاءُ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْاَغْنِيَاءِ بِخَمْسِ مِائَةِ عَامٍ نِصْفِ يَوْمٍ. (رواه البخاری)

ترجمه: هم له دغه ابو هریره رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه فقراء به جنت ته د مالدارو نه پنځه سوه کاله مخکښ داخلیګی او (دغه کلونه) به د نیمے ورځے برابر وی.

فائده: په دے حدیث کښې فقراء غریبانو ته تسلی ده چه دوی ته به د فقر د تکلیف په عوض کښې لوئے اجرونه ملاویږی.

الدرس السابع والعشرون ﴿۲۷﴾

دغریبانانو اهمیت

[۱۳۱] **الحديث الاول** : عن ابی الدرداء رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اِبْغُوْنِیْ فِیْ ضُعَفَاءِ كُمْ فَاِنَّكُمْ تُرْزَقُوْنَ اَوْ تُنْصَرُوْنَ بِضُعَفَاءِ كُمْ. صحيح. (رواه ابو داؤد)

ترجمه: ابودرداء رضی الله عنه دنبی کریم ﷺ نه نقل کوی چه وے فرمائیل تاسو زما تلاش په ضعیفانو (عاجزانو) کښې کوی. ځکه تاسوته چه کوم رزق درکولے شی یا (ددشمن په مقابله کښې) مدد درکولے شی نو دضعیفانو (عاجزانو) له برکته.

فائده: د دے حدیث مه معلومه شوه چه سړے د فقیرانو خیال ساتی د دے فائده ده ته رازی د ده غیبی مدد کیږی.

په مریض د خوراك اصرار مه کوه

[۱۳۲] **الحديث الثانی** : عن عقبة بن عامر الجهنی قال : قال رسول الله ﷺ لا تكرهوا مرضاكم على الطعام والشراب ، فإن الله يطعمهم و يسقيهم . (أخرجه الترمذی جـ ۲ صـ ۳ ، و ابن ماجه . ۳٤٤٤ . صحيح السلسلة جـ ۲ صـ ۲۲٦)

ترجمه: د حضرت عقبه من عامر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی زبردستی مه کوئ په مریضانو خپلو په خوراك ځکاك کښې ، بے شك الله تعالی دوی ته خوراك ځکاك ورکوی.

مرګ دفتنو نه بهتر دے

[۱۳۳] **الحديث الثالث** : عن محمود بن لبيد رضی الله اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ اِلْتَنَانِ يَكْرَهُهُمَا ابْنُ آدَمَ يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَالْمَوْتُ خَيْرٌ لِلْمُؤْمِنِيْنَ مِنَ الْفِتْنَةِ وَيَكْرَهُ قِلَّةَ الْمَالِ وَقِلَّةُ الْمَالِ اَقَلُّ لِلْحِسَابِ. صحيح. (رواه احمد)

ترجمه: دحضرت محمود بن لبید نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه دوه ځیزونه دی چه بنیادم ئے نه خوښوی (او هغه دا) چه یو مرګ (نه خوښوی) حالانکه مومن دپاره فتنو نه مرګ بهتر دے او دویم کم والے د مال حالانکه دا کم والے دحساب دے.

دروغ ګپ کښې هم ښه نه دی

[۱۳٤] **الحديث الرابع** : عن أبی امامة قال : قال رسول الله ﷺ أنا زعيم ببيت فی ربض الجنة لمن ترك المراء و إن كان محقا ، و بيت فی وسط الجنة لمن ترك الكذب وإن كان مازحا ، وبيت فی أعلى الجنة

لمن حسن خلق . (رواه ابو داؤد في سننه ٤٨٠٠ صحيح السلسلة ج ١ ص ٢٧٣

ترجمه: د حضرت ابو امامه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وښلے دی چه چه ذمه دار یم د کور په اوچنه زمکه د جنت د هغه چا چه پریکدی جګړه اوکړ چه به حقه وی او به مینځ د جنت کښ د کور ذمه دار یم د هغه چا د پاره چه پریکدی دروغ اګر چه به ګټ کښ وی او ذمه دار یم د کور په علی د جنت کښ د هغه چا د پاره چه اخلاق یې ښائسته وی .

د رحمت الهی د نظر نه د جرمه بنخه

۱۳۵) **الحديث الخامس** عن عبد الله بن عمرو قال : قال رسول الله ﷺ لا ينظر الله الى امرأة لا تشكر لزوجها وهي لا تستغني عنه . (اخرجه النسائي في عشرة النساء من السنن الكبرى ج ٥ ص ٨٤ صحيح السلسلة ج ص ٢٨٨

ترجمه: حضرت عبد الله بن عمرو وائی چه رسول الله ﷺ فرمائلی دی نه ګوری الله تعالی (په نظر د رحمت) هغه زنانه ته چه شکر نه اوباسی د خپل خاوند او حال دا دے چه هغه د خاوند نه ښځی بے پروائی کیدے .

الدرس الثامن والعشرون ﴿ ۲۸ ﴾

د قران خیال نه ساتونکو ته خبره شوے ده

۱۳۶) **الحديث الاول** عن عبد الله بن عمرو قال : قال رسول الله ﷺ ارحموا ترحموا و اغفروا يغفر الله لكم و ويل لأقماع القول و ويل للمصرين الذين يصرون على ما فعلوا و هم يعملون . (رواه البخاري في الادب المفرد رقم ٣٨٠ واحمد ج ٢ ص ١٦٥، ٢١٩ صحيح السلسلة ج ١ ص ٤٨١

ترجمه: حضرت عبد الله بن عمرو فرمائی چه رسول الله ﷺ وښلی دی رحم اوکړے به مخلوق به تاسو به رحم اوشی د الله ده طرف نه او بخنه اوکړی تاسو ته به بخنه اوکړے شی او هلاکت دے هغے کسانو لپاره چه قران اوری یاده وی نے نه او هلاکت دے هغه کسانو له چه اصرار په ګناه کوی او پته پرے پوهیږی چه ګناه ده .

حرص د مال او اوږدو داوګد عمر

۱۳۷) **الحديث الثاني** عن انس رضي الله عنه قال قال رسول الله ﷺ يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَ يَشِبُّ مِنْهُ اثْنَانِ الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ . (متفق عليه)

ترجمه: حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بنیادم بوډا کیږی او دوه خیزونه دی (په بنیاده ګښ) هغه ځوانیږی چه یو حرص د مال دے او بل داوګد عمر اوږدو .

فائده: علماء وائی چه شپیته کاله مسنون عمر دے او چه یو سړے ځان تیاره وی اخرت له نو دا

ورله ډیر دے لهذا د دے عمر کسانو لره سوچ کول ضروری دی چه مونلا څه تیاری کړے دے ؟ پښتانه یو متل کوی چه د شپیتو شی نو د وپشتو شی خو دا متل صحیح نه دے عموما چه د شپیتو شی نو خاوند د تجربو شی د هغه د تجربو نه فائدے اغستل پکار دی .

مضمون بالا

[۱۳۸] **الحديث الثالث** : عن ابی هريرة رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَا يَزَالُ قَلْبُ الْكَبِيْرِ شَابًّا فِي اثْنَتَيْنِ فِيْ حُبِّ الدُّنْيَا وَطُوْلِ الْاَمَلِ (متفق عليه)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دبوډا سړی زړه همیشه دپاره په دوه څیزونو ځوان وی یو محبت ددنیا او بل د اوګد عمر آرزو.

چه عمر دشپیتو شی نو عذر ئے ختم شی

[۱۳۹] **الحديث الرابع**: عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَعْذَرَ اللّٰهُ اِلٰى اِمْرِئٍ اَخَّرَ اَجَلَهٗ حَتّٰى بَلَّغَهٗ سِتِّيْنَ سَنَةً. (رواه البخاری)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالیٰ د هغه سړی دپاره دعذر هیڅ موقع نه ده پریخودے یعنی دهغه عذر ئے رد کړے دے چه دچا مرګ ئے دومره روستو کړے دے چه شپیتو کالو ته ئے عمر رسیدلے وی.

په دنیا مړیدل نیشته

[۱۴۰] **الحديث الخامس** : عن ابن عباس رضی الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَّالٍ لَابْتَغٰى ثَالِثًا وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ اِلَّا التُّرَابُ وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ تَابَ (متفق عليه)

ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه روایت کوی چه وے فرمائیل بالفرض که انسان سره (دمال او دملك) دوه خوړه وی نو هم به د دریم په تلاش کښ وی.او دانسان ګیډه په بل څه نه ډکیګی مګر په خاورو (یعنی څو پورے چه قبر ته لاړ نه شی تر هغے وخته دده حرص نه ختمیګی) او الله تعالیٰ توبه قبلوی دهغه چا چه توبه اوباسی رب خپل ته.

الدرس الدرس التاسع والعشرون ۲۹

دنیا کښ داوسیدو طریقه

[۱۴۱] **الحديث الاول**: عن ابن عمر رضی الله عنه قَالَ اَخَذَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِبَعْضِ جَسَدِیْ (بِمَنْكِبَيَّ) فَقَالَ كُنْ فِي الدُّنْيَا كَاَنَّكَ غَرِيْبٌ اَوْ عَابِرُ سَبِيْلٍ وَعُدَّ نَفْسَكَ مِنْ اَهْلِ الْقُبُوْرِ (رواه البخاری)

ترجمه: حضرت ابن عمر رضی الله عنه فرمائی (یو ورځ) رسول الله ﷺ زما د جسم څه حصه (

یعنے ددواړو اوړو مینځ) اونیو او وے فرمائیل چه ته په دنیا کښ داسے اوسه لکه یو مسافر (چه په لاره تیریگی او ورانے ودانے ترے پاتے کیگی) او ته خپل ځان دهغه چانه شماره (کړه چه) په قبرونو کښ پراته دی.

د نبی ﷺ په مرګ یقین

[۱۴۲] **الحدیث الثانی** :عن ابن عباس رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ کَانَ یُهْرِیْقُ الْمَاءَ فَیَتَیَمَّمُ بِالتُّرَابِ فَاَقُوْلُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ الْمَاءَ مِنْكَ قَرِیْبٌ یَقُوْلُ مَا اَدْرِیْ لَعَلِّیْ لَا اَبْلُغُهٗ . صحیح. (رواه مشکاة المصابیح کتاب الرقاق و فی شرح السنة وابن الجوزی فی کتاب الوفاء)

ترجمه : حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د اودس ماتی نه پس (داودس کولو نه مخکښ) خاورو سره تیمم وهلو (یوه ورځ چه م اولیده) عرض م اوکړو اے دخدائے رسوله اوبه تاسو سره نزدے دی (یعنی تیمم ته صبر اوکړی، مخکښ او به ډیرے نزدے دی اودس به اوکړی) وے فرمائیل ماته څه علم دے چه دغه اوبو ته څه رسیگم یا نه.

فائده : د تیمم وهل په دے وخت کښ عامو مسلامانانو له ضروری شرعاً نه دے دا خوږ نبی ﷺ د زیات احتیاط او تقوی په بنیاد وهلے دے .

آرزو ګانونه نزدے اجل دے

[۱۴۳] **الحدیث الثالث** : عن انس رضی الله عنه اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ هٰذَا ابْنُ آدَمَ وَهٰذَا اَجَلُهٗ وَ وَضَعَ یَدَهٗ عَلٰی قَفَاهُ ثُمَّ بَسَطَ فَقَالَ وَثَمَّ اَمَلُهٗ (صحیح. رواه الترمذی)

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه روایت کوی چه وے فرمائیل دا بنیادم دے او دا ئے مرګ دے (یعنی لاس مبارك ئے په ست کیخوده او وے فرمائیل دا انسان دے بیا ئے ترے لګ روستو کړو وے فرمائیل دا ورپسے اجل دے) او بیا ئے لاس مبارك اونیوه وے فرمائیل دغه ځائے دانسان آرزو ده (یعنی آرزو ئے مخکښ وی لیکن اجل ورپسے نزدے وی)

الله تعالیٰ چاسره محبت کوی ؟

[۱۴۴] **الحدیث الرابع** : عن سعید رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ یُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِیَّ الْغَنِیَّ الْخَفِیَّ (رواه مسلم)

ترجمه : دحضرت سعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یقینا خدائے پاك محبت کوی ګم نام مالدار پرهیزګار بنده سره.

اوګد عمر او نیك عمل لوئے سعادت دے

[۱۴۵] **الحدیث الخامس**: عن ابی بکرة رضی الله عنه اَنَّ رَجُلًا قَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اَیُّ النَّاسِ خَیْرٌ قال مَنْ

طَالَ عُمُرُهُ وَ حَسُنَ عَمَلُهُ قَالَ فَاَیُّ النَّاسِ شَرٌّ قَالَ مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَ سَاءَ عَمَلُه .صحیح. (رواه احمد والترمذی والدارمی)

ترجمه : حضرت ابی بکرة رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړے راغے عرض ئے اوکړو اے د خدائے رسوله کوم سړے بهتر دے (په خلقو کښ) وے فرمائیل چه دچا عمر ډیر وی او عمل ئے نیك وی بیا ئے عرض اوکړو اے دخدائے رسوله ! کوم سړے بد(بخت) دے (په خلقو کښ) وے فرمائیل هغه چه عمر ئے ډیر وی او عمل ئے بد وی.

الدرس الثلاثون ﴿۳۰﴾

هوښیار او کم عقل انسان

[۱٤٦] **الحدیث الاول** : عن شداد بن اوس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَالْمَوْتِ وَالْعَاجِزُ مَنْ اَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا وَتَمَنّٰى عَلَى اللّٰهِ . (رواه الترمذی صـ ۲٤۷ جـ ٤ رقم ۲٤٥۹ وقال هذا حدیث حسن ورواه ابن ماجه)

ترجمه: حضرت شداد بن اوس رضی الله عنه نه روایت دے چه سرور کائنات ﷺ اوفرمائیل چه عقلمند سړے هغه دے چه خپل نفس سره حساب اوکړی او پس دمرګه ژوند (چه راځی دهغے) دپاره عمل کوی او کم عقل سړے هغه دے چه دے خپل نفس د خواهشاتو تابع کړی او دے دالله نه دا امید او تمنا لری چه ماته به مغفرت اوکړی.

په الله ځان سپارل

[۱٤۷] **الحدیث الثانی** : عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَدْخُلُ مِنْ اُمَّتِیْ سَبْعُوْنَ اَلْفاً بِغَيْرِ حِسَابٍ هُمُ الَّذِيْنَ لَا يَسْتَرْقُوْنَ وَلَا يَتَطَيَّرُوْنَ وَعَلٰى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُوْنَ. (متفق علیه)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څما دامت نه به اویا زره کسان بغیر د حساب نه داخل شی جنت ته او دا به هغه خلق وی چه نه ئے منتر کړے وی او نه ئے بدفالی نیولے وی او (په خپلو تولو کارونو کښ) صرف په الله بهروسه نیولے وی.

فائده: صحیح دم جائز دے کوډے منتر او شرکی دمونه او بدفالی نیول ناجائز دی دے حدیث شریف کښ دهغے نه دپرهیز ذکر دے.

دتوکل برکت

[۱٤۸] **الحدیث الثالث** : عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ لَوْ اَنَّكُمْ تَوَكَّلْتُمْ عَلَى اللّٰهِ حَقَّ تَوَكُّلِهٖ لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ تَغْدُو خِمَاصًا وَ تَرُوْحُ بِطَانًا. (رواه الترمذی وقال هذا

حدیث حسن صحیح ورواہ ابن ماجه)

ترجمه: دحضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دا اوفرمائیل او ما واوریدل کچیرے تاسو په الله تعالیٰ باندے توکل او اعتماد کوی داسے لکه څرنګ چه دتوکل کولو حق دے (یعنی مکمل یقین سره) نو رزق به درکړی درته دارنګ لکه څرنګ چه رزق ورکوی مارغانو ته چه سحر اولاړ اوځی (دجالے نه) او ماښام واپس ماړه راشی.

دعا کښې جلدی نه ده پکار

(۱۴۹) **الحديث الرابع** عَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : لَا يَزَالُ الْعَبْدُ بِخَيْرٍ مَا لَمْ يَسْتَعْجِلْ قَالُوْا : وَكَيْفَ يَسْتَعْجِلُ ؟ قَالَ : يَقُوْلُ : قَدْ دَعَوْتُ رَبِّيْ فَلَمْ يَسْتَجِبْ لِيْ . ((صحيح لغيره . مسند أحمد ط الرسالة . رقم: ١٣١٨٩))

ترجمه: حضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی همیشه به وی یو بنده په خیر تر کومے چه دے جلدی اونه کړی صحابو وئیل یا رسول الله ﷺ څنګه جلدی کوی؟ هغوئی اوفرمائیل ما سوال اوکړو د رب خپل نه نو قبول نه شو.

دحج داعمالو فضائل

(۱۵۰) **الحديث الخامس** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَمَّا خُرُوْجُكَ مِنْ بَيْتِكَ تَؤُمُّ الْبَيْتَ فَاِنَّ لَكَ بِكُلِّ وَطْأَةٍ تَطَؤُهَا رَاحِلَتُكَ يَكْتُبُ اللّٰهُ لَكَ بِهَا حَسَنَةً وَيَمْحُوْ عَنْكَ سَيِّئَةً وَاَمَّا وُقُوْفُكَ بِعَرَفَةَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ يَنْزِلُ اِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا فَيُبَاهِي بِهِمُ الْمَلَائِكَةَ ،فَيَقُوْلُ هٰؤُلَاءِ عِبَادِي جَاؤُوْنِيْ غُبْرًا مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيْقٍ يَرْجُوْنَ رَحْمَتِيْ وَيَخَافُوْنَ عَذَابِيْ وَلَمْ يَرَوْنِيْ فَكَيْفَ لَوْ رَاَوْنِيْ ؟ فَلَوْ كَانَ عَلَيْكَ مِثْلُ رَمْلِ عَالِجٍ اَوْ مِثْلُ اَيَّامِ الدُّنْيَا اَوْ مِثْلُ قَطْرِ السَّمَاءِ ذُنُوْبًا غَسَلَهَا اللّٰهُ عَنْكَ وَاَمَّا رَمْيُكَ الْجِمَارَ فَاِنَّهُ مَذْخُوْرٌ لَكَ وَاَمَّا حَلْقُكَ رَاْسَكَ فَاِنَّ لَكَ بِكُلِّ شَعْرَةٍ تَسْقُطُ حَسَنَةً فَاِذَا طُفْتَ بِالْبَيْتِ خَرَجْتَ مِنْ ذُنُوْبِكَ كَيَوْمِ وَلَدَتْكَ اُمُّكَ. حَسَنٌ (الجامع ج١ص ٢٨٩)

ترجمه: دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی هر چه وتل ستا دی د کور ستا نه چه قصد کومے د بیت الله نو بیشك په هر قدم چه ستاسورلی ئے اخلی تالره الله تعالیٰ یوه نیکی لیکی او یوه ګناه ستا نه لرے کوی او هر چه ولاړه ستا په عرفات ده نو الله تعالیٰ نازلیږی آسمان ددنیا ته او فخر کوی د دوی په وجه په فرشتو باندے .وائی رب ذوالجلال ، دا څما بندګان دی راغلی دی پراګنده ګرد آلود وبښتو والا دهر لارے لرے نه ، امید کوی د رحمت څما یریږی د عذاب څما نه، نو څه حال به وی ددوی که چرے ما اُوینی ؟ نو کچرے وی په تا باندے برابر د شګو دعالج مقام یا برابر د ورځو ددنیا یا برابر د څاڅکو د آسمان ګناهونه نو پاکے

به کړی هغه الله تعالیٰ ستا نه(په دغه ورځ د عرفات) او هر چه ویشتل ستا دی د شیطانانو لره نو دا ذخیره د نیکو ستا دپاره او هر چه سر خړیل دی ستا نو ستا دپاره په هر وینښته چه پرے وځی یوه نیکی ده نو کله چه ته طواف د بیت الله اوکړے نو اوبه وځے د گناهونو نه پاك داسے لکه څه رنگ چه ته په کومه ورځ د مور نه پاك پیدا وے.

فائده: اوگوری د حج شریف دومره لوئے ثواب دے ددے وجے نه په حج کولو کښ سستی نه ده پکار بعضے خلقو باندے حج فرض وی خو حج له ځی نه بلا وجه ئے لیټ کوی بعضے وقت کښ مړ شی او حج ئے په ذمه پاتے شی دا ډیره د افسوس خبره ده.

الدرس الحادی والثلاثون ﴿۳۱﴾

رزق بنده لره تلاش کوی

[۱۵۱] الحدیث الاول: عن ابی الدرداء رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهٗ اَجَلُهٗ. صحیح لغیره (رواه ابونعیم)

ترجمه: د حضرت ابی الدرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه یقیناً رزق د بنده بنده داسے تلاش کوی لکه څرنگ چه اجل(نیټه د مرگ) دانسان انسان له تلاش کوی.

فائده: د حدیث شریف نه دا تعلم په نښه کیږی چه د انسان رزق مقرر دے انسان به هله مری چه دے خپل رزق مقرر خلاص کړی لهذا رزق له د حدود لاندے کوشش پکار دے د یو انسان مقرر رزق بل نه شی خوړے نو د رزق د حصول د پاره غلطے لارے چارے اختیارول فضول دی.

الله تعالی شریك نه لری

[۱۵۲] الحدیث الثانی: عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی اَنَا اَغْنَی الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ مَنْ عَمِلَ عَمَلاً اَشْرَكَ فِيْهِ مَعِیَ غَيْرِیْ تَرَكْتُهٗ وَشِرْكَهٗ وَفِیْ رِوَايَةٍ فَاَنَا مِنْهُ بَرِیْءٌ هُوَ لِلَّذِیْ عَمِلَهٗ. (رواه مسلم)

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ ارشاد دے چه الله تعالیٰ فرمائی څه د تمام شرك والو نه بے زاره یم (یعنی څرنگ چه دنیا کښ خلق په کار او حکمت کښ شریکان نیسی نو دغه شان ماته په خپل نظام چلولو کښ او په عبادت کښ د شریك ضرورت نیشته لهذا) هر هغه څوك چه عبادت کوی او په دے کښ بل څوك هم شریکوی نو څه به دے ددے شریك سره پریگدم او په یو روایت کښ دی (چه الله فرمائی) څه

ترے بے زارہ یم او دغه عمل ئے د هغه چا دپاره دے چه چاله ئے کړے دے.

چا چه دچا د پاره عمل کړے وی ؛ هغه نه دے عوض غواړی

[۱۵۳] **الحديث الثالث**: عن ابی سعيد بن فضالة رضی الله عنه عَنْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَالَ إِذَا جَمَعَ اللّٰهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِيَوْمٍ لَارَيْبَ فِيْهِ نَادٰى مُنَادٍ مَنْ كَانَ اَشْرَكَ فِیْ عَمَلٍ لِلّٰهِ اَحَداً فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهٗ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ فَاِنَّ اللّٰهَ اَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ حسن (رواه احمد)

ترجمه: حضرت ابوسعید ابن فضاله رضی الله عنه درسول الله ﷺ نه روایت کوی چه وے فرمائیل چه کله الله تعالیٰ دقیامت په ورځ خلق راجمع کړی چه ددے ورځے په راتلو کښ هیڅ شك او شبه نشته نو یو اعلان کونکے ملائکه به دا اعلان اوکړی چا چه داسے څه عمل کړے وی چه دالله نه سوائے په کښ نور څوك هم شریك کړی وی نو هغه دے دخپل عمل ثواب بغیر دالله نه هم د هغه چانه اوغواړی څوك ئے چه شریك کړے دے ځکه چه الله پاك د ټولو شریکانو نه بے پرواه دے.

د زیتون د تیلو فوائد

[۱۵٤] **الحديث الرابع**: عن عمرؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كُلُوا الزَّيْتَ وَادَّهِنُوْا بِهٖ ، فَاِنَّهٗ مِنْ شَجَرَةٍ مُبَارَكَةٍ .

(أخرجه الترمذی جـ ۱ صـ ۳٤۰، وله شواهد أبی أسید ، و أبی هریرة ، وعبد الله بن عباس ، اسناده صحیح ، السلسلة جـ ۱ صـ ۳۷۸.

ترجمه: حضرت عمرؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی خورئ د خونه تیل(روغن زیتون) پس یقینا دا د اونے مبارکے نه دی .

دڅان ښودنے دپاره عمل کول

[۱۵۵] **الحديث الخامس**: عن شداد بن اوس رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ صَلّٰى يُرَاءِیْ فَقَدْ اَشْرَكَ وَمَنْ صَامَ يُرَاءِیْ فَقَدْ اَشْرَكَ وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَاءِیْ فَقَدْ اَشْرَكَ. (رواه احمد فی مسنده صـ ۲۷٦ جـ ۱۳ رقم ۱۷۰۷۵ قال حمزة الزين اسناده حسن)

ترجمه: د شداد بن اوس رضی الله عنه نه روایت دے ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی اوئی فرمائیل چا چه د خودنے په خیال مونځ اوکړو ده شرك اوکړو او چاچه دخودنے په خیال روژه اونیوه ده شرك اوکړو او چاچه دخودنے په خیال صدقه ورکړه ده شرك اوکړو.

فائده: مطلب دادے چه څنګه شرك عمل بربادوی نو دغه شان دے ریا هم دده دا اعمال برباد کړل.

الدرس الثانی والثلاثون ۳۲

د مشرک نه مدد غوسنل نه دی پکار

[۱۵۶] **الحديث الاول**: عن عائشةؓ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّا لَا نَسْتَعِيْنُ بِمُشْرِكٍ. صحيح (الجامع ج۱ص ۱۵۵)

ترجمه: دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی مونږه امداد نه غواړو د مشرک نه.

فائده: د ایمان د غیرت تقاضا داده چه دمشرک نه بغیر د ضرورت شدیده نه مدد اونه غوښتے شی او نه د هغوی نه هدیه قبوله کړے شی.بل یو روایت کښ دا سے راغلی دی چه مونږه مدد نه غواړو د مشرکانو نه په مقابل د مشرکانو کښ(عن ابی حمید .الجامع) او بل روایت کښ راغلی چه مونږه نه قبلوو هدیه دمشرکانو (عن حکیم .الجامع) نو ددے دواړو نه څان ساتل پکار دی.

الله دچا شکل و مال ته نه ګوری

[۱۵۷] **الحديث الثانی**: عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ اِلٰى صُوَرِكُمْ وَاَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ. (رواه مسلم)

ترجمه: حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خدائے ستاسو شکلونو او مالونو ته نه ګوری بلکه خدائے ستاسو زړونو او عملونو ته ګوری.(چه ستاسو عملونه دخدائے د رضا دی او کنه)

فائده: دحدیث شریف نه معلومه شوه چه په زړه محنت پکار دے چه اخلاص او لِلّٰهیت پکښ پیدا شی او په عمل محنت پکار دے چه مطابق د سنت شی نو دا دواړه خبرے دکامیابی دی.

ریاء کار به الله ذلیل کړی

[۱۵۸] **الحديث الثالث**: عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه اَنَّهٗ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ سَمَّعَ النَّاسَ بِعَمَلِهٖ سَمَّعَ اللّٰهُ بِهٖ اَمَامَ خَلْقِهٖ وَ حَقَّرَهٗ وَصَغَّرَهٗ. صحيح (رواه البيهقی فی شعب الايمان)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنهٗ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړے خپل عمل خلقو ته رسول غواړی.(یعنی دا ئے رضا وی چه ځما دا نیک عمل د په خلقو کښ ښکاره شی) نو الله تعالیٰ به ئے د خلقو په نظر کښ ذلیل او سپک ښکاره کړی.

چه باطن څنګه وی الله ئے هغه شان مشهور کړی

[۱۵۹] **الحديث الرابع**: عن ابی سعيد ن الخدری رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ اَنَّ رَجُلاً عَمِلَ عَمَلاً فِیْ صَخْرَةٍ لَا بَابَ لَهَا وَلَا كُوَّةَ خَرَجَ عَمَلُهٗ اِلَى النَّاسِ كَائِنًا مَا كَانَ. وقال الحاكم هذا حديث صحيح

الاسناد ورواه البيهقي).

ترجمه: حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کچرے یو سړے د یوگتیے مینځ کښ (بالفرض)یو عمل اوکړی چه دهغے نه دروازه وی او نه روشندان نو هم به ئے دغه عمل په خلقو کښ مشهور شی خواه که هر قسم عمل وی.

فائده: پښتانه وائی نمر په گوته نه پتیږی که یو سړے نیك وی نو وخت به دا به ننبه کوی چه دا سړے نیك دے او که بد وی نو وائی چه وخت بے رحمه قاضی دے هغه دا فیصله صادره وی چه دا سړے ناکاره دے یو سُتر فرق هم پټ نه پاتے کیږی یاد لرئی دا دواړه حدیثونه هم دا خبره په ننبه کوی چه ډوبه نه پاتے کیږی دا به میدان ته راوزی .

نیکی بدی نه پټیږی

[۱۶۰] **الحديث الخامس** : عن عثمان بن عفان رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ كَانَتْ لَهٗ سَرِيْرَةٌ صَالِحَةٌ اَوْ سَيِّئَةٌ اَظْهَرَ اللّٰهُ مِنْهَا رِدَاءً يُعْرَفُ بِهٖ (رواه البيهقي) مسند الشهاط القضاعي جـ ۱ صـ ۳۰۶ في شعب الايمان جـ ۹ صـ ۲۰۹ وله شاهد من رواية بن مسعود أخرجه ابويوسف في كتاب الآثار صـ ۱۹۶ جـ ۱ وآخر من رواية جندب البجلي أخرجه السيطي في الجامع صـ ۷۲۳ جـ ۱ .

ترجمه: دحضرت عثمان بن عفان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړی کښ نیك یا بد خصلت (پټ) وی.نو الله تعالیٰ به ددہ نه یوه داسے علامه ظاهره کړی چه دهغے په ذریعه به ئے خلق اوپیژنی (یعنی چه د چا باطن څه رنگ وی نو په خلقو کښ به هغه خصلت خدائے پاك مشهور کړی اگر که دغه باطن هر قسم وی)

الدرس الثالث والثلاثون ۳۳

په بیان دسزا دفوتوانو کښ او په بیان د نقصاناتو دهغے کښ

[۱۶۱] **الحديث الاول**: عن عائشة رضی الله عنها عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الَّذِيْنَ يُضَاهِئُوْنَ بِخَلْقِ اللّٰهِ (متفق عليه)

ترجمه: حضرت عائشه صدیقه د رسول الله ﷺ نه نقل کوی چه وے فرمائیل چه دقیامت په ورځ به د ټولو نه بدترین عذاب د هغه خلق ... څوك چه دالله د پیدائش سره مشابهت کوی. یعنی تصویر جوړوی.

[۱۶۲] **الحديث الثاني**: عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اَشَدُّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَاللّٰهِ الْمُصَوِّرُوْنَ. (متفق عليه)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دا اوفرمائیل

ما واوریدل چه د الله په نزد دتولو نه دسخت ترین عذاب مستحق تصویر جوړونکی دی.

فائده: افسوس دے په دے حدیثونو باندے ځمونږه زمانه کښ عمل پرینبودے شوے دے عوام څه کوے چه د علم او د دین سره ئے نسبت دے هغه خلق په مدرسو او جوماتونو کښ تصویرونه بلا ضرورته اوباسی او خیال او خاطر کښ ئے هم نه رازی چه دا سخته گناه ده .

[۱۶۳] **الحديث الثالث** : عن ابی طلحة رضی الله عنه قَالَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ لَا تَدْخُلُ الْمَلَائِكَةُ بَيْتًا فِيْهِ كَلْبٌ وَّلَا تَصَاوِيْرُ (متفق علیه)

ترجمه: حضرت ابو طلحه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوی چه اوئے فرمائیل نه داخلیگی ملائك هغه کور ته چه په کوم کښ سپے وی او نه هغه کور ته چه په کوم کښ تصویرونه وی.

فائده: بلا ضروت تصویر یا سپی ساتل گناه ده البته ضرورت د پاره لکه شناختی کارډ یا نوټ باندے تصویر وی هغه ساتل د مجبوری د وجے جائز دی اود چا چه مجبوری وی هغه د پاره ئے ایستل هم جائز دی خو بیا هم استغفار ورسره وئیل پکار دی او سپی د څوکی یا د ښکار یا د بل یو ضرورت د پاره ساتل جائز دی او بغیر د ضرورت نه ساتلو سره نیکے خرابیږی.

[۱۶۴] **الحديث الرابع** عن عائشة رضی الله عنها اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ لَمْ يَكُنْ يَتْرُكُ فِیْ بَيْتِهٖ شَيْئًا فِيْهِ تَصَالِيْبُ اِلَّا نَقَضَهٗ. (رواه البخاری)

ترجمه: حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په خپل کور کښ داسے هیڅ شے نه پرینبوده چه په هغے به تصویر وو بلکه مات به ئے کړو (اوبه ئے غورځولو).

[۱۶۵] **الحديث الخامس** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ ذَهَبَ يَخْلُقُ كَخَلْقِیْ فَلْيَخْلُقُوْا ذَرَّةً اَوْ لِيَخْلُقُوْا حَبَّةً اَوْ شَعِيْرَةً . (متفق علیه)

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه وے فرمائیل چه الله تعالی فرمائی چه د هغه کس نه به بل لونے ظالم څوك وی کوم چه زما د پیدا کولو په شان پیدا کول غواړی . کچرے بالفرض پیدا کولے ئے شی نو یو میکے خودے پیدا کړی او یا یوه دانه خودے پیدا کړی او یا یوه اوربشه.

فائده: په دے حدیث شریف کښ سخته زورنه ورکړه هغه چاته چه تصویرونه جوړه وی د ساه اوروح والا څیزونو تصویرونه جوړول شرعاً د الله تعالی قهر او غضب ته دعوت ورکول دی.

الدرس الرابع والثلاثون ٣٤

د غوړ امستنے سزا

[١٦٦] **الحديث الاول**: عن ابن عباس رضي الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ تَحَلَّمَ بِحُلْمٍ لَمْ يَرَهُ كُلِّفَ اَنْ يَّعْقِدَ بَيْنَ شَعِيْرَتَيْنِ وَلَنْ يَفْعَلَ وَمَنْ اسْتَمَعَ اِلٰى حَدِيْثِ قَوْمٍ وَهُمْ لَهُ كٰرِهُوْنَ اَوْ يَفِرُّوْنَ مِنْهُ صُبَّ فِيْ اُذُنَيْهِ الْاٰنُكُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ صَوَّرَ صُوْرَةً عُذِّبَ وَ كُلِّفَ اَنْ يَّنْفُخَ فِيْهَا وَلَيْسَ بِنَافِخٍ. (رواه البخاري)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه وے فرمائیل کوم سړے چه د داسے خوب دعوی اوکړی چه لیدلے نے نه وی (یعنی دروغ وائی چه بیګاه م داسے او داسے خوب لیده) نو ده له به تکلیف ورکولے شی (په آخرت کښ چه) وربه کړے شی دوه اوربشے او مجبور کولے به شی په دے چه دا دواړه یو ځائے کړه (یعنی تابه ددروغو خبرو جوړه څه رنګ راوسته اوس ددے دواړو جوړ راوله) حالانکه دے به داسے هرګز نه شی کولے او چه کوم سړے د داسے قوم خبرو ته غوږ اږدی چه هغوی نے بدګنړی یا هغوی دده نه تښتی نو الله تعالیٰ به په ورځ دقیامت دده په غولأونو کښ ویلے کړے سیکه واچوی. او چه کوم سړے تصویرونه جوړوی (فوټو ګرافر وی) نو دقیامت په ورځ به دے په دے مجبورولے شی چه په دے کښ روح واچوه حالانکه دے به دانه شی کولے.

دغیر ذی روح تصویر جائز دے

[١٦٧] **الحديث الثاني**: عن ابن عباس رضي الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ كُلُّ مُصَوِّرٍ فِي النَّارِ يُجْعَلُ لَهُ بِكُلِّ صُوْرَةٍ صَوَّرَهَا نَفْسٌ فَيُعَذِّبُهُ فِي جَهَنَّمَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ فَاِنْ كُنْتَ لَابُدَّ فَاعِلاً فَاصْنَعِ الشَّجَرَ وَمَالَارُوْحَ فِيْهِ (متفق عليه)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه وے فرمائیل هر یو مصور (یعنی تصویرونه جوړونکی) به دوزخ ته اوغورځولے شی او دده د جوړو شوو تصویرونو په بدله کښ به یو سړے پیدا کړے شی چه دے تصویر جوړونکی ته عذاب ورکوی په جهنم کښ (او بیا) حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل کچرے تاسو جوړول غواړی (یعنی تاسو نے کاریګری کوی) نو د دونو تصویر جوړوی. (یعنی د داسے شی تصویر چه روح والا نه وی)

درے قسمه خلقو باندے خطرناک عذاب

[١٦٨] **الحديث الثالث**: عن ابي هريرة رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَخْرُجُ عُنُقٌ مِّنَ النَّارِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهَا عَيْنَانِ تُبْصِرَانِ وَاُذُنَانِ تَسْمَعَانِ وَلِسَانٌ يَنْطِقُ يَقُوْلُ اِنِّيْ وُكِّلْتُ بِثَلٰثَةٍ بِكُلِّ جَبَّارٍ عَنِيْدٍ وَكُلِّ مَنْ دَعَا

مَعَ اللّٰهِ اِلٰهاً آخَرَ وَبِالْمُصَوِّرِيْنَ . صحيح .(رواه الترمذی)

ترجمه : دحضرت ابی هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دقیامت په ورځ به ددوزخ نه یو گردن راوځی (یعنی د اور لمبه د خطرناك صورت په شکل) او په دے گردن کښ به دلیدلو دوه سترگے وی او د اوریدلو دوه غوگونه به وی اوده دپاره به ژبه وی چه خبرے به کوی .وائی به چه څه په درے قسمه خلقو مقرر کړے شوے یم. (یعنی الله تعالیٰ ماته دا حکم کړے دے چه درے قسمه خلق دوزخ ته راکالاؤ) یو هغه چه (دحق سره ئے) تکبر او عناد کړے وی (دویم) هغه چه الله سره ئے بل څوك هم رابللے وی او بل هغه چه تصویرونه ئے جوړ کړی وی.

سخت ترین عذاب به د چا دپاره وی

[۱۶۹] **الحديث الرابع**: عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اَشَدَّالنَّاسِ عَذَابًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ قَتَلَ نَبِيًّا اَوْ قَتَلَهُ نَبِيٌّ اَوْ قَتَلَ اَحَدٌ وَالِدَيْهِ وَالْمُصَوِّرُوْنَ وعالم لم ينتفع بعلمه. (رواه البيهقی) فی شعب الايمان جـ ۱۰ صـ ۲۷۷ ، ۷۵۰٤. ضعيف و قد ثبت الحديث من رواية ابن مسعود مرفوعاً دون جملة الوالدين و كذا جملة العالم سلسلة الاحاديث الضعيفة جـ ٤ صـ ۱۲۱.

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په ورځ د قیامت به سخت ترین عذاب دهغه چا وی چه نبی ئے قتل کړے وی او بل هغه کس چه نبی ئے (په جهاد کښ) قتل کړی (یعنی چه نبی چالره قتل کړی هغه هم د خدائے ډیر لوئے مجرم وی) یا یو کس خپل مور پلار قتل کړی او دریم هغه کس چه مصور وی تصویرونه ئے جوړ کړی وی.او هغښ عالم چه په خپل علم فائده نه رسوی .

فائده: دے حدیث شریف کښ د پنځو کسانو د پاره د سخت عذاب وعید بیان شو یو چه څوك د الله تعالی پیغمبر او وژنی دویم چه څوك د پیغمبر دلاسه قتل شی او دریم چه مور او پلار خپل مړکړی څلورم چه د جاندار څیز تصویر (بلا ضرورت)اوباسی لکه څمونږه زمانه کښ چه د دے خبرے چرچه ده. پنځم هغه عالم دے چه په خپل علم ئے فائده نه وی رسولے یاد لری. خوږو لوستونکو د دے پنځو کسانو نه علاوه کسان هم د سخت عذاب مستحق شته تفصیل ئے لاندے اوګورئ (۱) د ابن مسعود په مرفوع روایت کښ د ګمراهی لیډر (صحیح مسند احمد شاکر) (۲) د ابو عبیده په مرفوع روایت کښ د امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه کونکی مسند البزار) (۳) د عبد الله بن مسعود مرفوع روایت کښ ظالم بادشاه (المعجم الكبير للطبرانی)

دحیا فضیلت

[۱۷۰] **الحديث الخامس**: عن عمران بن حصين قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْحَيَاءُ خَيْرٌ كُلُّهُ. صحيح (الجامع جـ

(۱ صـ ۶۰۹) و في روايته عن عمران بن حصين الحياء لا يأتي الا بخير (الجامع جـ ۱ صـ ۶۱۰)

ترجمه : د حضرت عمران بن حصين نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلی دی حياء ټول خير دے. او په يو روايت کښ د عمران بن حصين نه نقل دی چه حيا نه راوړی مګر خير.

فائده: حياء وائی هغه خوئی ته چه انسان د ګناه نه منع کول کوی. (نووی) ملا علی القاریؒ وائی چه حيا وائی دځ ته چه تا مولی هغه ځانے کښ اونه وينی چه د کوم ځانے نه ئے ته منع کړے "الحياء ان لا يراك مولاك حيث نهاك (مرقاة) او يو خبره په تنبيه کړے ده چه د ټولو نه زيات حياناك عثمان ؤو لکه سردار دو جهان ﷺ فرمائی "اَلْحَيَاءُ مِنَ الْاِيْمَانِ وَاَحْیٰ اُمَّتِی عُثْمَانُ" (صحيح الجامع جـ ۱ صـ ۱۰۹) حيا د ايمان حصه ده او ځما امت کښ زيات حياناك عثمانؓ دے.

الدرس الخامس والثلاثون ﴿۳۵﴾

صلح کښ د درغو وئيلو حکم

[۱۷۱] **الحديث الاول**: عَنْ اُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ عُقْبَةَ : اَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِی يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ ، فَيَنْمِی خَيْرًا ، اَوْ يَقُوْلُ خَيْرًا . رواه البخاری رقم : ۲۵۲۳.

ترجمه: د حضرت ام کلثومؓ د عقبه لور وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلے دی فرمائيل ئے چه نه دے دغورجن هغه کس چه صلح کوی په مينځ د خلقو کښ نو زياتی کړے خير او يا اوائی خير.

(دروغ جن)

فضول ګيمونو باندے د مشغوليدو سزا

[۱۷۲] **الحديث الثانی**: عن ابی موسیٰ الاشعری رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ لَعِبَ بِالنَّرْدِ فَقَدْ عَصَى اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ . صحيح (رواه احمد وابوداؤد)

ترجمه: حضرت ابی موسیٰ اشعری رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه کوم کس دنرد سره لوبه کوی نو حقيقة دے دالله او دهغه درسول نافرمانی کوی.

فائده: نرد يوه کهيل ؤو لکه زمونږه زمانه کښ چه عوام زمرے يا قط يا تاش لګوی او فضول وخت پکښ ضائع کوی او بعض اوقاتو کښ پرے جواری هم کوی نو دغه شان دا نرد هم يو کهيل ؤو چه شريعت ترے منع اوکړه.

د انسانانو ښکته بره کول د الله تعالیٰ په لاس کښ دی

[۱۷۳] **الحديث الثالث**: عن نعيم بن همار أن رسول الله ﷺ قال: اَلْمِيْزَانُ بِيَدِ الرَّحْمٰنِ يَرْفَعُ اَقْوَامًا وَيَضَعُ اٰخَرِيْنَ . رواه البزار ورجاله رجال الصحيح (مجمع الزوائد جـ ۱ صـ ۱۱۰)

ترجمه : د حضرت نعيم بن همارؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلے تله په لاس د مهربان بادشاه ده او چتوی څه قومونه او ښکته کوی څه قومونه.

فائده: د دے حدیث نه معلومه شوه چه د انسانانو ښکته کول بره کول د الله تعالی په دست قدرت کښې دی البته اسباب د پورته کولو ته خودلے دی لکه حدیث کښې رازی چه الله تعالی پورته کوی د قران په ذریعه سره چالره چه اوغواړی او ښکته کوی چالره چه اوغواړی دابن قیمؒ وائی چه چابی د عزت په اطاعت او تابعدارے د الله تعالی کښې ده و مفتاح العزّ فی اطاعة الله ورسوله.

مسلمان ته کنځل کول گناه ده

[۱۷٤] **الحديث الرابع:** عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوْقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ. (متفق علیه)

ترجمه: دحضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه مسلمان ته کنځل کول بد رد وئیل فسق دے او (دمسلمان) قتلول کفر دے.

فائده: دمسلمان قتل ډیر لوئے جرم دے دے حدیث شریف کښې ورته کفر وئیلے دے مطلب دادے چه دا کار دکفر دے یعنی شان دمسلمان دانه دے چه مسلمان قتل کړی د کافر کار دے دویم مطلب دادے چه حلال گنړل قتل دمسلمان کفر دے.

مسلمان ته [illegible] کفر نه کول

[۱۷۵] **الحديث الخامس:** عن ابی ذر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ دَعَا رَجُلًا بِالْكُفْرِ اَوْ قَالَ عَدُوُّ اللّٰهِ وَلَيْسَ كَذٰلِكَ اِلَّا عَادَ عَلَيْهِ. (متفق علیه)

ترجمه: هم له دغه ابی ذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړے چالره د کافرو په نوم راوبلی یا ورته دخدائے دشمن اووائی کچرے حقیقةً هغه داسے نه وی نو هغه دده ویل دده په ځان راگرځی.

فائده: دحدیث شریف مطلب دادے که هغه کافر نه وی نو ددے خبرے گناه ده ته راځی دے به په دے خبره گناه گار وی چه یو مسلمان ته ئے غلط نسبت اوکړو.

الدرس السادس والثلاثون ﴿٣٦﴾

چا چه په کنځلو کښې ابتداء اوکړه زیاته گناه دهغه ده

[۱۷٦] **الحديث الاول:** عن انس وابی هريرة رضی الله عنهما اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ الْمُسْتَبَّانِ ما قَالَا فَعَلَى الْبَادِی مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُوْمُ. (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت انس او حضرت ابو هریره رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ

اوفرمائیل یو بل ته کنځلو ویلو کښ تولہ ګناه په هغه کس ده چا چه اول کنځل کړی دی څو پورے چه مظلوم تجاوز اونه کړی.

خلق یادول څار حیروی نه ندی

[۱۷۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا قَالَ الرَّجُلُ هَلَكَ النَّاسُ فَهُوَ اَهْلَكُهُمْ . (رواه مسلم)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل کچرے یو سړے دا اووائی چه تول خلق هلاك شو (یعنی دوزخیان شو) نو ویونکے د تولو نه زیات هلاك شو.

په ژوند د رب دیدار

[۱۷۸] **الحدیث الثالث** : عن ابن الادرع قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّكُمْ لَنْ تَرَوْا رَبَّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ حَتّٰى تَمُوْتُوْا.(صحیح الجامع ج ۱ ص ۴۵۸)

ترجمه: دحضرت ابن الادرع نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه بے شك تاسو به نه وینے رب د مرګ نه مخکښ .

فائده : د حدیث شریف مطلب دادے چه دیدار دالله تعالیٰ د مسلمان دپاره په آخرت کښ حق دے او ثابت دے او کافر به ترے محروم وی او دنیا کښ عامو خلقو دپاره د هغه لیدل ناممکن دی البته خوب کښ د لیدو واقعات د بزرګانو نه ثابت دی.وائی چه امام ابو حنیفهؒ : سل ځله الله تعالی په خوب کښ لیدلے دے (مقدمه شامی)

بد ترین دخلقو منافق دے

[۱۷۹] **الحدیث الرابع**: عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَجِدُوْنَ شَرَّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ذَا الْوَجْهَيْنِ الَّذِیْ يَاْتِیْ هٰؤُلَآءِ بِوَجْهٍ وَهٰؤُلَآءِ بِوَجْهٍ. (متفق علیه)

ترجمه : حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دقیامت په ورځ به دتولو نه بدترین سړے د خلقو نه هغه وی چه (دفتنے او فساد) دوه مخے خبرے کوی یو دلے ته راشی یو څه وائی او بلے دلے ته راشی بل څه وای.

د دوپرق سزا

[۱۸۰] **الحدیث الخامس**: عن عمّار رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِی الدُّنْيَا كَانَ لَهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانَانِ مِنَ النَّارِ. صحیح (رواه الدارمی)

ترجمه : دحضرت عمار رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هر هغه څوك چه په دنیا کښ دوه مخے وی نو دقیامت په ورځ په به ده له دوه ژبے وی د اور.

فائده: دے دواړو حدیثونو کښ د چغل خور او دوه پرق د پاره ډیرے سخته سزا گانے ذکر دی د داسے سړی آخرت هم خراب دے او دنیا کښ سپك رسوا او ذلیل شی مسلمان د پاره د دے بدو عاداتو نه پرهیز لازم دے .

الدرس السابع والثلاثون ﴿۳۷﴾

روزانه دانداموتو فریاد

[۱۸۱] **الحديث الاول** : عن ابی سعید رضی الله عنه رفعه قَالَ إِذَا اَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ فَإِنَّ الْاَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ فَتَقُوْلُ اِتَّقِ اللّٰهَ فِيْنَا فَإِنَّا نَحْنُ بِكَ فَإِنِ اسْتَقَمْتَ اِسْتَقَمْنَا وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا. (رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن)

ترجمه: حضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه دا حدیث په طریقه مرفوعه سره نقل کوی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کله انسان صبا کړی نو تول اندامونه ژبے ته په عاجزی سره وائی چه زمونږ په حق کښ دالله نه خوف اوکړه ځکه چه زمونږ تعلق په تا پورے دے کجرے ته سمه ئے نو مونږه به هم سم یو او کجرے ته کړه شوے (یعنی ناحقه اوچلیدے او گنده استعمال شوے)نومونږه به هم کاږه شو.

فائده: د حدیث شریف نه معلومه شوه چه ژبه په احتیاط چلول ضروری دی پښتانه وائی دا خپله خله هم قلغه ده هم بلا ده د عربیؒ یو شاعر وائی .

إِحْفَظْ لِسَانَكَ اَيُّهَا الْاِنْسَانُ لَايَلْدَغَنَّكَ فَإِنَّهَا ثُعْبَانُ

ترجمه (ځان اوساته د ژبے د ضرر نه او د نه چیچی بے شك دا ژبه اژدها ده)

جهنم او جنت ته دتلو اسباب

[۱۸۲] **الحديث الثانی** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَتَدْرُوْنَ مَا اَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ ؟ تَقْوَى اللّٰهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ ثُمَّ قَالَ اَتَدْرُوْنَ مَا اَكْثَرُ مَا يَدْخُلُ النَّاسَ النَّارَ؟ اَلْاَجْوَفَانِ الْفَمُ وَالْفَرْجُ. حسن. (رواه الترمذی)

ترجمه: دحضرت ابی هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه ناسو پوهیگی چه زیات دخلقو نه کوم شے داخلوی جنت ته ؟ (او بیا ئے ارشاد اوفرمائیلو) چه تقوی او حسن خلق (یعنی ښه خوی دخلقو سره) او تاسو پوهیگی چه خلق عام طور سره څه شے داخلوی دوزخ ته ؟ (بیا ئے اوفرمائیل) هغه دوه څیزونه دی چه یوه ژبه ده او بل شرمگاه ده.

دضرورت دپاره سورلی غوستل جائز دی

[۱۸۳] **الحديث الثالث** : عن انس ؓ قَالَ كَانَ فَزَعٌ بِالْمَدِيْنَة فَاسْتَعَارَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَرَساً لَنَا يُقَالُ لَهُ مَنْدُوْبٌ فَقَالَ: مَا رَاَيْنَا مِنْ فَزَعٍ وَاِنْ وَجَدْنَاهُ لَبَحْراً . رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح واخرجه الشيخان (تحفة الاحوذی ج۵ ص ۲۷۲)

ترجمه : دحضرت انس ؓ نه روایت دے چه مدینه منوره باندے څه ګبراهټ پره راغله نو رسول الله ﷺ په سوال سره اوغوستلو اس (دابو طلحه نه) چه هغه ته مندوب ویلے کیدو نو اووېل رسول الله ﷺ نیشته پره او یقینا بیا موندلو مونږه دے اس لره دریاب.

فائده: حدیث نه معلومه شوه چه دضرورت وخت کښ سورلی غوستل جائز دی.

اسباب دنجات

[۱۸۴] **الحديث الرابع** : عن عقبة بن عامر رضی الله عنه قَالَ لَقِيْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقُلْتُ مَالنَّجَاةُ ؟ فَقَالَ اَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ وَابْكِ عَلٰى خَطِيْئَتِكَ. صحيح. (رواه احمد والترمذی)

ترجمه : دعقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ سره زما ملاقات اوشو ما عرض اوکړو . اے د خدائے رسوله (ددنیا او آخرت) نجات څه شے دے؟ وے فرمائیل ژبه قابو کښ اوساته او خپل کور دے تاته ځائے درکړی.او په خپلو ګناهونو باندے ژاړه یعنی په خپلو ګناهونو پښیمانه شه او استغفار کوه.

فائده: حدیث شریف کښ د نجات درے اسباب او خودل یو د ژبے حفاظت دویم کور کښ زیات وخت تیرول دریم په خپلو ګناه باندے اظهار د ندامت د دے اسبابو حاصلول د هر مسلمان ضرورت دے.

یو بل باندے لعنت کولو نه اجتناب

[۱۸۵] **الحديث الخامس** : عن سمرة بن جندب رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تُلَاعِنُوْا بِلَعْنَةِ اللّٰهِ وَلَا بِغَضَبِ اللّٰهِ وَلَا بِجَهَنَّمَ . وَفِی رِوَايَةٍ وَلَا بِالنَّارِ. صحيح. (رواه الترمذی وابوداؤد)

ترجمه : دحضرت سمره بن جندب رض ی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خپلو کښ په یو بل دخدائے لعنت مه وائی. او نه دالله غضب او مه د دوزخ د تلومخبرے کوی.یعنی دمسلمان د شان سره دا مناسب نه دی چه دبل مسلمان دپاره د لعنت او غضب الهی او دعذاب جهنم بد دعا کوی.

فائده: حدیث نه معلومه شو چه په چا لعنت وئیل منع دی علماء وائی چه یو سړے د لعنت مستحق نه وی نو په هغه لعنت وئیل دا ګناه کبیره ده.

الدرس الثامن والثلاثون ۳۸

د قیامت په ورځ به هر کس خپل عمل کم ګڼري

[۱۸۶] **الحديث الاول** : عن عتبة بن عبد قال: قال رسول الله ﷺ لَوْ اَنَّ رَجُلًا يَجُرُّ عَلَى وَجْهِهِ مِن يَوْمِ وُلِدَ إِلَى يَوْمِ يَمُوْتُ هَرَمًا فِيْ مَرْضَاةِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ لَحَقَّرَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (اخرجه احمد جـ ٤ صـ ١٨٥ صحيح السلسله جـ ١ صـ ٤٤٥ .

ترجمه : د حضرت عتبه بن عبد نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی که چرے یو سړے رابنکی مخ خپل په بندګئ د الله کښ د ورځے د پیدائش نه تر انتهائی بوډا کیدو د وجے مړ کیدو پورے نو خامخا دے به کم اوګڼری دغه عبادت لره په ورځ د قیامت.

ځلور اهمیت خبرے

[۱۸۷] **الحديث الثانى** : عن عبد الله بن عمرو بن العاصؓ قال : قال رسول الله ﷺ اَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فِيْكَ فَلَا عَلَيْكَ مَا فَاتَكَ مِنَ الدُّنْيَا ، حِفْظُ اَمَانَةٍ وَ صِدْقُ حَدِيْثٍ وَ حُسْنُ خَلِيْقَةٍ وَ عِفَّةُ طُعْمَةٍ . (رواه ابن وهب فى الجامع صـ ٨٤ . صحيح . السلسلة جـ ٢ صـ ٢٤٢)

ترجمه : د عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه ځلور خبری کله تاکښ وی نو پرواه مه کوه که باقی ځیزونه د دنیا تانه فوت شی ، حفظ د امانت ، صدق په خبرو کښ ، او خائسته والی د اخلاقو ، او پاکدامنی په خوراک کښ .

د سحر د سنتو مسنون قرأت

[۱۸۸] **الحديث الثالث** : عن عائشةؓ قالت : قال رسول الله ﷺ نِعْمَتِ السُّوْرَتَانِ يُقْرَأُ بِهِمَا فِى رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ (قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد) وَ (قُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُوْنَ) . (اخرجه ابن خزيمة فى صحيحه جـ ١ صـ ١٢١ . صحيح السلسلة جـ ٢ صـ ١٤٥)

ترجمه : د حضرت عائشهؓ نه روایت د چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی دوه ښه سورتونه چه لوستی شی په سنتو د صبا کښ سورت اخلاص او سورت کافرون دی .

فائده : خوږ و لوستونکو د سحر په سنتو کښ هر سورت لوستل جائز دی ،خو د دے دؤو سورتونو لوستو کښ زیات ثواب دے ، ځکه چه پیغمبر علیه السلام نے تعریف کړی دے

مریض له تپوس کونکو ته شکایت نه دے ښه

[۱۸۹] **الحديث الرابع** :عن ابى هريرة قال : قال رسول الله ﷺ: قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِىَ الْمُؤْمِنَ ، وَلَمْ يَشْكُنِى إِلَى عُوَّادِهِ اَطْلَقْتُهُ مِنْ إِسَارِى ، ثُمَّ اَبْدَلْتُهُ لَحْمًا خَيْرًا مِنْ لَحْمِهِ ، وَ دَمًا خَيْرًا مِنْ دَمِهِ ، ثُمَّ يَسْتَأْنِفُ الْعَمَلَ . (

اخرجه الحاكم في المستدرك جـ ١ صـ ٣٤٩ ، و من طريقه البيهقي في سننه جـ ٣ صـ ٣٧٥ ، صحيح ، سلسله جـ ١ صـ ٢٧٢ .

ترجمه : د حضرت ابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه کله څه ناجوړه کړم يو بنده مؤمن او دے شکايت اونه کړی زمانه تپوس کونکو ته نو څه به ده له خلاص کړم د خپل قيد نه او بدله به کړم ده له غوښه بهتره د غوښے د ده نه او وينه بهتره دوينے د ده نه دے بيمارے سره به دے د گناه نه پاك شی گويا که بيا به د ده زندگی شروع شی .

فائده : دے حديث شريف دا خبره په ننبه کړه چه بيمار ډ برداشت کوی او تپوس کونکو ته د فرياد نه کوی دے سره به د ده گناهونه رژی او پاکه زندگی به ورته نصيب کيږی .

د جنت د واجبيدو کلمات

[١٩٠] **الحديث الخامس** : عن ابی سعيد الخدری قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَالَ: رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَ بِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ . (اخرجه ابو داؤد ١٥٢٩ . صحيح . السلسله جـ ١ صـ ٣٣٣ .

ترجمه : حضرت ابو سعيد خدریؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه څوك دا کلمات اوائی " رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا وَ بِالْاِسْلَامِ دِيْنًا وَ بِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا " نو ده له جنت واجب شو .

الدرس التاسع والثلاثون ٣٩

په اوښيارتيا کښ د ترقی طريقه

[١٩١] **الحديث الاول** : عن ابن عباسؓ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنْ آدَمِیٍّ اِلَّا فِی رَأْسِهِ حِكْمَةٌ بِيَدِ مَلَكٍ ، فَاِذَا تَوَاضَعَ لِلْمَلَكِ : قِيْلَ لِلْمَلَكِ اِرْفَعْ حِكْمَتَهُ وَ اِذَا تَكَبَّرَ قِيْلَ لِلْمَلَكِ : ضَعْ حِكْمَتَهُ . (اخرجه الطبرانی فی المعجم الكبير جـ ٣ صـ ١٨٢ . صحيح . "السلسلة جـ ٢ صـ ٣٧ ")

ترجمه : حضرت ابن عباسؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلی دی نشته دے يو انسان مگر په سر د هغه کښ حکمت دے ، چه په لاس د فرشته کښ دے . کله چه دے عاجزی اوکړی نو اووئيلی شی فرشتی ته اوچت کړه د ده حکمت او کله چه دے تکبر اوکړی نو اوئيلی شی فرشتی ته ښکته کړه د ده حکمت .

فائده : خلاصه د حديث شريف دا شوه چه تواضع او عاجزے سره علم او دانش کښ اضافه رازی

د غيبت باره کښ وعيد شديد

[١٩٢] **الحديث الثانی** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قُلْتُ لِلنَّبِیِّ ﷺ حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا تَعْنِیْ قَصِيْرَةً فَقَالَ لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَ بِهَا الْبَحْرُ لَمَزَجَتْهُ . صحيح . (رواه احمد والترمذی وابوداؤد)

ترجمه : حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چه يو ورځ ما نبی عليه السلام ته اووئيل چه

کافی ده تالره دصفیے نه چه هغه داسے داسے ده (یعنے چیته ده) یعنی حضرت عائشے په طور د مزاق اوفرمائیل چه هغه چیته ده رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تا داسے الفاظ استعمال کړل که چرے درباب سره ملاؤ شی نو یقیناً بدمزه به نے کړی.

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه غیبت ډیر گنده څیز دے ذهن دماغ گنده کوی او سړے پریشان کوی کوم سړے چه غواړی چه څه سکون سره ژوند تیر کړم نو غیبت د نه کوی. او کوم سړے چه غواړی چه زما حافظه دے مضبوطه او محفوظه وی نو په دے کار کښ ډ کار نه لری او د پردو خبرو نه ډ ځان ساتی او هغه ځائے دنه گروی چه کوم نه گریگی د امام بخاریؒ او امام مسلمؒ حافظے ولے دومره مضبوطے وے ؟ هغوئی دواړو نه نقل دی چه مونږ غیبت نه دے کړے مونږه به الله تعالی به غیبت نه نیسی یاد لرئی حفاظت د نظر هم سبب د قوت د حافظے دے مسواك هر اودس ته ، روژه نیول تلاوت کول هم ددے مجرب اسباب دی او محنت او دعا د دے تولو نه اعلیٰ او بالا دی .

غیبت او بهتان کښ فرق

[۱۹۳] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرة رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَتَدْرُوْنَ مَا الْغِیْبَةُ؟ قَالُوْا اَللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ اَعْلَمُ قَالَ ذِکْرُكَ اَخَاكَ بِمَا یَکْرَهُ قِیْلَ اَفَرَاَیْتَ اِنْ کَانَ فِیْ اَخِیْ مَا اَقُوْلُ قَالَ اِنْ کَانَ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدِ اغْتَبْتَهٗ وَاِنْ لَّمْ یَکُنْ فِیْهِ مَا تَقُوْلُ فَقَدْ بَهَتَّهٗ (رواه مسلم)

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو پوهیگی غیبت څه شے دے؟ صحابه کرامو عرض اوکړو . الله او د هغه رسول ښه پوهیگی وے فرمائیل (غیبت دے ته وائی) چه تاسو دخپل رور مسلمان ذکر کوی په داسے خبره (کچرے هغه ترے خبر شی) نو نه نے خوښوی (یعنی چه په کومه خبره مخامخ سړے خفه کیگی او تاسو هغه خبره د هغه شاه په شاه وکړی نود اغیبت دے)صحابه کرامو عرض اوکړو اے دخدائے رسوله کچرے هغه خبره چه مونږ نے کوو کچرے هغے کښ موجود وی . وے فرمائیل کچرے هغه کښ موجود وی او تاسو نے د هغه په غیر موجودگی کښ بیانوی نو دا غیبت شو او که نه وی پکښ نو بیا تاسو په هغه بهتان اولگوو.

فائده : خوږو لوستونکو د ذکر شوے احادیثو نه پته اولگیده چه غیبت خطرناك څیز دے کوم غیبت چه په غلطئ سره شوے دے د هغے د متعلقه کسانو نه معافی غوستل پکار دی او په یو روایت کښ د غیبت کفاره د حضرت انسؓ نه منقول ده چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی د غیبت کفاره دا ده چه د چا دے غیبت کړی وی د هغه د پاره د الله نه د مغفرت دعا اوکړئ او دا اووائے چه اے الله ماته هم بخنه اوکړی او هغه کس ته هم بخنه اوکړی .

د خلقو دخندولو دپاره د دروغو ویلو سزا

[۱۹٤] **الحديث الرابع**: عن بهز بن حكيم رضى الله عنه عَنْ اَبِيْهِ عَنْ جَدِّهٖ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَيْلٌ لِمَنْ يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ فِيْهِ الْقَوْمَ وَيْلٌ لَهٗ. حسن. (رواه احمد والترمذى وابوداؤد والدارمى)

ترجمه: حضرت بهز بن حكيم رضى الله عنه دخپل پلار نه او هغه دخپل نيكه نه روايت كوى چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه دهغه كس د پاره هلاكت دے چه دخلقو دخندا دپاره ددروغو خبره كوى (يعنى لطيفے وائى چه سراسر دروغ وى ليكن خلق خندوى) افسوس دے ده لره افسوس دے ده لره يعنى انجام دده تباهى او هلاكت دے.

فائده: د حديث شريف مطلب دا دے چه بے حقيقته خبرے كول او خلق لكه د مداريانو خندول لويه گناه ده او داسے كس ته پيغمبر عليه السلام خيرے كړے دى.

نبى عليه السلام نه خوش طبعى ثابته ده

[۱۹۵] **الحديث الخامس**: عن ابى هريرة رضى الله عنه قَالَ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اِنَّكَ تُدَاعِبُنَا قَالَ اِنِّىْ لَااَقُوْلُ اِلَّا حَقًّا. صحيح. (رواه الترمذى)

ترجمه: حضرت ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے چه يو ورځ رسول الله ﷺ ته عرض اوشو اے دخدائے رسوله! تاسو مونږ سره خوش طبعى كوى؟ وے فرمائيل آو ليكن څه (په خوش طبعى كښ) نه وايم مگر رشتيا.

فائده: خوش طبعى جائز ده خو په خوش طبعى كښ فحش بے حيا خبرے او اكو بكو وئيل جائز نه دى. بيهوده خبرو نه پرهيز ضرورى دے خوش طبعى دنبى ﷺ په طريقه پكار ده.

الدرس الاربعون ٤٠

دنبى عليه السلام مزاح

[۱۹٦] **الحديث الاول**: عن انس رضى الله عنه اَنَّ رَجُلًا اِسْتَحْمَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنِّىْ حَامِلُكَ عَلٰى وَلَدِ نَاقَةٍ فَقَالَ مَا اَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَهَلْ تَلِدُ الْاِبِلَ اِلَّا النُّوْقُ. صحيح. (روای الترمذى وابوداؤد)

ترجمه: دحضرت انس رضى الله عنه نه روايت دے چه (يوه ورځ) د رسول الله ﷺ نه يو كس د سورلى غوښتنه اوكړه رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل څه به تاته دسورلى دپاره داوښ بچے دركړم هغه كس (په حيرت سره) اووئيل اے دخدائے رسوله څه به داوښے په بچى څه كوم رسول الله ﷺ اوفرمائيل داسے اوښ نيشته چه د اوښے بچے نه وى (يعنى اوښ هم د اوښے نه پيدا كيږى)

یو صحابی سره مزاح

[۱۹۷] **الحديث الثانی**: وعنه أنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ لَهُ يَا ذَا الْأُذُنَيْنِ. صحيح. (رواه ابوداؤد والترمذی)

ترجمه: هم له دغه حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ده ته اوفرمائیل اے دوه غوګونو والا.

فائده: د دے حدیثونو مطلب دا شو چه داسے مزاح کول چه هغه کښ فحشی خبره نه وی دروغ پکښ نه وی داچا بے عزتی پکښ مقصود نه وی نو داسے مزاح کله کله جائز دے لکه دریم حدیث کښ چه ذکر شو رسول الله ﷺ هغه صحابی ته اوئیل اے غوږو نو داسے قسم الفاظ چاته وئیل جائز دی.

یو بوډی سره دپیغمبر علیه السلام مزاح

[۱۹۸] **الحديث الثالث**: وعنه عن النبی ﷺ قَالَ لِامْرَءَةٍ عَجُوْزٍ اَنَّهٗ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوْزٌ فَقَالَتْ وَمَالَهُنَّ وَكَانَتْ تَقْرَءُ الْقُرْآنَ فَقَالَ لَهَا اَمَا تَقْرَئِيْنَ الْقُرْآنَ اِنَّا اَنْشَانَاهُنَّ اِنْشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ اَبْكَاراً. (رواه الترمذی فی الشمائل من حديث الحسن، ورواه رزين فی شرح السنة)

ترجمه: هم دغه حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو بوډی ښځے ته اوفرمائیل چه بوډی به جنت ته نه داخلیګی. بوډی وئیل ولے؟ یعنی حیرانتیا سره ئے ووئیل او بوډی قران پاك وئلے وو. رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل تا قران پاك نه دے لوستے الله تعالیٰ فرمائی چه پیدا کړی دی مونږه ښځے په جنت کښ او ګرزولی مو دی پیغلے ځوانانے.

فائده: کله کله مزاح او خوش طبعی د حدود لاندے جائز ده خو دے کښ استغراق او عادت ګرځول ئے ښه نه دی ځکه دے نه کله کله زړونو کښ دوښمنی نفرت پیدا شی لکه سیوطی "کتاب الفلك المشحون" کښ وائی چه المداعبة بزرالعداوة ګپ او آزادی په خبرو کښ ددښمنے تخم دے.

د امام او د مسجد د نبی طرف د فضیلت بیان

[۱۹۹] **الحديث الرابع**: عن براء بن عازب قَالَ كُنَّا اِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ النَّبِیِّ ﷺ اَحْبَبْنَا اَنْ نَكُوْنَ عَنْ يَمِيْنِهٖ (اخرجه النسائی باسناد صحيح)

ترجمه: د حضرت براءؓ نه روایت دے چه کله به موږه مونځ کولوروستو د نبی ﷺ نه نو مونږه به خوښوله چه شو مونږه د هغوئی نبی طرف ته.

فائده: دا مضمون بل یو حدیث شریف کښ د حضرت عائشهؓ نه نقل دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه بیشك الله تعالی رحمت رالیږی او فرشتے دعاګانے غواړی د پاره د نبی طرف د صفونو (ابن ماجه صـ ۸۲)

یاد لرئی غوره ښی طرف ته اودریدل دی البته کچرے گس سایید خالی او معطل پاتے کیږی نو د عارض د وجے په هغے کښ هم ثواب شته گس سایید خالی نه دی پریښودل پکار ځکه روایت کښ رازی څوک چه اباده کړی میسره گس سایید د جومات نو ده لره د اجر دوه اندی دی یعنی ده لره دوچند اجر دے (ابن ماجه صـ ۸۲).

که مور کافره وی هم د احسان مستحقه ده

(۲۰۰) **الحديث الخامس** : عن اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها قَالَتْ قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّيْ وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِيْ عَهْدِ قُرَيْشٍ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ أُمِّيْ قَدِمَتْ عَلَيَّ وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَاصِلُهَا قَالَ نَعَمْ. (متفق علیه)

ترجمه: د حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها نه روایت دے چه د قریشو سره د صلح په دور کښ ځما مور ما کره راغله (یعنے د مکے مکرمے نه مدینے منورے ته راغله) او دغه وخت دا په حالت د کفر کښ وه (ځه راغلم رسول الله ﷺ ته) ما عرض اوکړو اے دا خدائے رسوله ځه دے (مور) سره ښه سلوك اوکړم؟ (ځرنگ چه د مور حق وی) وے فرمائیل آو (بالکل دے سره ښه سلوك اوکړه).

فائده: حدیث شریف نه معلومه شوه که مور پلار کافر وی هم احسان او خدمت کول د هغوئی حق دے د یو دوست پلار سخت مزاج ؤو نو مونږه ورته اووئیل چه ستاسو والد صاحب سخت مزاج دے تاسو نه به ترے ډیر تکلیف وی هغه اووئیل نه مونږه ته تکلیف نیشته سم پلار سره خو هر څوك وخت پاس کوی کمال خو دادے چه سړے سخت پلار سره وخت تیر کړی او گوزاره ورسره اوکړی واقعی د دے دوست دا خبره ډیره قیمتی ده سخت مزاج پلار سره گوزاره کمال دے.

الدرس الحادی والاربعون ٤١

د فتنے د دجال نه د بچ کیدو وظیفه

(۲۰۱) **الحديث الاول**: عن أبی الدرداء عن النبی ﷺ قال : مَنْ حَفِظَ عَشْرَ آيَاتٍ مِنْ أَوَّلِ سُوْرَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنْ فِتْنَةِ الدَّجَّالِ . (اخرجه الإمام احمد جـ ٦ صـ ٤٤٩ . صحيح . السلسلة جـ ٢ صـ ٨١ .

ترجمه: حضرت ابو درداءؓ فرمائی چه نبی ﷺ وئیلی دی څوك چه یاد کړی لس آیاتونه د اول د سورت کهف نه نو دے به بچ شی د فتنے د دجال نه.

د مور دخپو دلاندے جنت دے

(۲۰۲) **الحديث الثانی** : عن معاوية بن جاهمة رضی الله عنه أَنَّ جَاهِمَةَ جَاءَ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ أَرَدْتُ أَنْ أَغْزُوَ وَقَدْ جِئْتُ أَسْتَشِيْرُكَ قَالَ هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَالْزَمْهَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا. صحيح (رواه احمد والنسائی والبيهقی)

ترجمه: دحضرت معاویه بن جاهمة رضی الله عنه نه روایت دے چه جاهمه (یوه ورځ) د رسول الله ﷺ په خدمت کښ حاضر شو عرض ئے اوکړو . اے دخدائے رسوله ! ځه تاله مشورے دپاره راغلے یم (اوهغه دا چه) ځه جهاد له تلل غواړم . حضور ﷺ ورته اوفرمائیل ستا مور شته ؟ یعنی ژوندی ده ؟ هغه عرض اوکړو چه آو نبی علیه السلام اوفرمائیل ته دهغے خدمت په ځان لازم اوګنړه .ځکه بے شکه جنت دهغے د قدمونو سره دے.

فائده: علماء وائی موریانے په پنځه قسمه دی یوه هغه ده چه سړے ترے پیدا وی دویمه هغه چه سړی ئے سینه رودلے وی په مدت د رضاعت کښ دریمه استاذه روحانی مور ده چه سړی ترے دین ازده کړه کړے وی څلورمه د پیغمبر علیه السلام بیبیانے چه په نص د قرآن کښ هغوئی ته میندے وئیلے شوے دی او پنځمه مدرسے ته هم مادرے علمی وائی د دے تولو قسمونو په خپل خپل ځائے خیال ساتل ضروری دی .

دمور پلار نافرمان ته دپیغمبر ﷺ بد دعائی

[۲۰۳] **الحديث الثالث** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رَغِمَ اَنْفُهُ رَغِمَ اَنْفُهُ رَغِمَ اَنْفُهُ قِيْلَ مَنْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ اَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ اَحَدَهُمَا اَوْ كِلَاهُمَا ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ (یوه ورځ) اوفرمائیل په خاورو کښ دے خړه شی پوزه دهغه کس (یعنی دا الفاظ ئے درے ځله اووے) صحابه کرام عرض اوکړو اے دخدائے رسوله ! څوك دے هغه کس (چه د چا باره کښ تاسو بد دعائی کوی) وے فرمائیل هغه کس چه دچا مور پلار دواړه یا یوکس له دوی نه ژوندی وی او حالت د بوډاوالی ته اورسی او دے جنت ته (ددوی دخدمت دوجے) داخل نه شی.

مور پلار ته دکنځلو ذریعه مه جوړیږه

[۲۰۴] **الحديث الرابع** :عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ قَالُوْا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَهَلْ يَشْتِمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ قَالَ نَعَمْ يَسُبُّ اَبَا الرَّجُلِ فَيَسُبُّ اَبَاهُ وَ يَسُبُّ اُمَّهُ فَيَسُبُّ اُمَّهُ. (متفق علیه)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خپل پلار مور ته کنځل کول ګناه کبیره ده ، صحابه کرام عرض اوکړو .اے دخدائے رسوله ! داسے به څوك وی چه خپل مورپلار ته به کنځل کوی وے فرمائیل د بل مور پلار ته کنځل کوی نو هغه به ضرور په بدله کښ ستا مور او پلار ته کنځل کوی . نو دا هم داسے شوه لکه چه ته خپل مور او پلار کنځے.

د پلار سره نیکی د ژوند پرمهال

[۲۰۵] **الحديث الخامس**: عن ابن عمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ مِنَ الْبِرِّ صِلَةَ الرَّجُلِ اَهْلَ وُدِّ اَبِيْهِ بَعْدَ اَنْ يُوَلِّيَ. (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه داعلیٰ نیکو نه یوه نیکی داده چه سړے دخپل پلار د مرګ نه پس او یا په غیر موجودګی کښ د هغه دوستانو سره ښه سلوك کوی.

الدرس الثانی والاربعون ﴿۴۲﴾

ستر ګے وهل د چا دایذاء دپاره جائز نه دی

[۲۰۶] **الحديث الاول**: عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّهُ لَيْسَ لِنَبِيٍّ اَنْ يُوْمِضَ. صحيح (الجامع جـ۱ صـ ٤٧٤)

ترجمه: دحضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی یقیناً شان دادے چه جائز نه دی یو نبی دپاره چه پټے اشارے کوی په ستر ګو سره.

فائده: مطلب دادے چه نبی د چا د ضرر دپاره پټے اشارے نه کوی دے نه معلومه شوه چه لوئے درجے والا خلق دا کار نه کوی بل حدیث شریف کښ دے ته دستر ګو خیانت وئیلے شوے دے دحدیث مفهوم دے چه جائز نه دی چه نبی د ستر ګو خیانت اوکړی. (عن سعد الجامع)

د رب رضا د پلار رضا کښ ده

[۲۰۷] **الحديث الثانی**: عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رِضَى الرَّبِّ فِيْ رِضَى الْوَالِدِ وَسَخَطُ الرَّبِّ فِيْ سَخَطِ الْوَالِدِ. صحيح (رواه الترمذی)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دالله رب العزت رضا دمور او پلار رضا کښ ده او دالله رب العزت ناراضګی د مور پلار په ناراضګی کښ ده.

دمور پلار متعلقینو سره دسلوك بیان

[۲۰۸] **الحديث الثالث**: عن ابن عمرؓ قال: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَحَبَّ اَنْ يَّصِلَ اَبَاهُ فِيْ قَبْرِهٖ، فَلْيَصِلْ اِخْوَانَ اَبِيْهِ بَعْدَهٗ. (اخرجه ابو يعلى جـ ۳ صـ ۱۳۶۱ ،و ابن حبان رقم ۱۰۳۱ . صحيح . السلسلة جـ ٤ صـ ٦)

ترجمه: د حضرت بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه غواړی چه خپلولی اوپالی د پلار خپل سره پس د مرګه نو تعلق دے اوساتی دوستانو د پلا خپل سره د هغه نه روستو.

فائده : مور او پلار د انسان د پاره ډیره لویه اثاثه ده د دوئی خیال ساتل د دوئی په ژوند هم پکار دی او د مرګ نه روستو هم لکه څنګه چه ذکر شوے حدیث کښ بیان شوی دا مضمون یو بل حدیث کښ هم نقل دے د ابو اسید ساعدی رضی الله عنه نه روایت دے چه یوه ورځ مونږه درسول الله ﷺ په خدمت کښ ناست وو (ناڅاپه) یو سړے (دقبیلے) دبنو سلمه راغے (او) عرض ئے اوکړو اے دخدائے رسوله ! دمور پلار د مرګ نه پس په ما دهغوئی دښه سلوك څه شے پاتے شته؟ چه څه هغوئی سره ښه سلوك اوکړم ، نبی علیه السلام ورته اوفرمائیل آو (دوالدینو د مرګ نه پس دهغوی سره نیکی داده) چه هغوی ته دمغفرت دعا کول او دهغوی وصیت پوره کول او دخپلوانو سره ئے خپلولی پالل او ددوستانو ئے عزت کول (ابوداؤد او ابن ماجه)

د رسول الله ﷺ د ماشومانو سره د ملاقات وخت کښ سلوك

[۲۰۹] **الحديث الرابع** : عن ثابت بأتم منه ولفظه كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَزُوْرُ الْأَنْصَارَ ، فَيُسَلِّمُ عَلَى صِبْيَانِهِمْ وَ يَمْسَحُ عَلَى رُؤُوسِهِمْ وَ يَدْعُوْلَهُمْ . (رواه النسائي) اسناده صحيح . "سلسلة جـ ۳ صـ ۳۵۲".

ترجمه : د ثابتؒ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د انصارو زیارت ته تللو نو د هغوئی په ماشومانو به ئے سلام اچولو او د هغوئی په سر به ئے د شفقت لاس راخکلو او هغوئی ته به ئے دعا کوله .

د قرآن د تعلیم عظیم الشان ثواب

[۲۱۰] **الحديث الخامس** : عن أبي مالك الأشجعي عن أبيه قال : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ عَلَّمَ آيَةً مِنْ كِتَابِ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ، كَانَ لَهُ ثَوَابُهَا مَا تُلِيَتْ . (أخرجه أبو سهم القطان في حديثه عن شيوخه جـ ٤ صـ ٢٤٣ رقم ٢ . و هذا اسناده جيد عزيز . "السلسلة جـ ٣ صـ ٤٠٩")

ترجمه : حضرت ابو مالك د خپل پلار نه نقل کوی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی څوك چه د الله د کتاب یو آیت چاته ازده کړی نو ده د پاره به د هغے ثواب وی تر کومے چه هغه لوستلے شی .

الدرس الثالث والاربعون ٤٣

د غیبی رزق کښ مخوکه سنډول نه دی پکار

[۲۱۱] **الحديث الاول** : عن عمرؓ قال : قال رسول الله ﷺ إذا ساق الله إليك رزقا من غير مسألة ولا إشراف نفس فخذه ، فان الله أعطاك . (أخرجه ابن حبان رقم ۸۵٦ . اسناده صحيح . السلسلة جـ ۳ صـ ۳۹۸)

ترجمه : د حضرت عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کله الله تاته رزق راوولیږی بغیر د سوال او د طمعے نه نو وائے خله څکه دا تا ته الله درکړو .

الله تعالی په توبه ډیر خوشحالیږی

[٢١٢] **الحديث الثاني** : عَنْ اَنَسٍ ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : لَلّٰهُ اَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهٖ مِنْ اَحَدِكُمْ اِنْ يَسْقُطَ عَلٰى بَعِيْرِهٖ ، وَقَدْ اَضَلَّهُ بِاَرْضٍ فَلَاةٍ . ((حديث صحيح . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ١٣٢٢٧))

ترجمه : حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی خامخه الله تعالی ډیر خوشحالیږی په توبه د بنده خپل باندے په یو ستاسو نه چه بیا اومومی اوښ خپل په زمکه دشته کښ چه د دے نه روك شوی وی .

دصلہ رحمیٔ برکت

[٢١٣] **الحديث الثالث** : عن انس رضی اللّٰه عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَحَبَّ اَنْ يُّبْسَطَ لَهٗ فِيْ رِزْقِهٖ وَيُنْسَأَلَهٗ فِيْ اَثَرِهٖ فَلْيَصِلْ رَحِمَهٗ (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیل چه کوم څوك غواړی چه څما رزق دے فراخه شی او څما عمر دے اوګد شی نو ده له پکار دی چه رشته دارو سره ښه سلوك نیکی کوی.

دصلہ رحمیٔ فضیلت

[٢١٤] **الحديث الرابع** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُوْلُ مَنْ وَصَلَنِيْ وَصَلَهُ اللّٰهُ وَمَنْ قَطَعَنِيْ قَطَعَهُ اللّٰهُ . (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیل چه صله رحمی د عرش سره انخته ده او (دادعا کوی) وائی چه څوك ما یوځائے کوی نو الله تعالیٰ دے د خپل رحمت سره یو ځائے کړی او چه څوك ما جدا کوی یعنی دخپلوانو سره خپلولی پریدی نو الله تعالیٰ دِ دے دخپل رحمت نه جدا کړی.

دقطع دصلہ رحمیٔ سزا

[٢١٥] **الحديث الخامس** : عن جبير بن مطعم رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ. (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت جبیر بن مطعم رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیل چه دخپلولی کټ کونکے به جنت ته نه داخلیګی.

الدرس الرابع والاربعون ﴿٤٤﴾

د رحم د الله تعالی نه ډډه محروم کیدو سبب

[٢١٦] **الحديث الاول** :عن جرير بن عبدالله رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ . (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت جرير بن عبدالله رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيل چه الله تعالیٰ په هغه کس باندے رحم نه کوی کوم چه په خلقو رحم نه کوی.

دالله د رحم د حاصلولو طريقه

[٢١٧] **الحديث الثانی** : عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلرَّاحِمُوْنَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمٰنُ اِرْحَمُوْا مَنْ فِی الْاَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِیْ السَّمَاءِ. صحيح. (رواه ابوداؤد والترمذی)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائيل چه دالله په مخلوق رحم کولو والا باندے رحمٰن بادشاه رحم کوی لهذا تاسو په زمکے والا باندے رحم او شفقت کوی دے دپاره چه په تاسو باندے رحم اوکړیْ هغه چه په آسمان کښ دے.

فائده : يادلری چه دالله تعالی رحم اوشو نو دے سره تمام ضروريات پوره کيگی دا يو دريابْ دے چه هر ضرورت پکښ نيولے شی لهذا دے په رنړا کښ دا حاصلول ضروری دی چه انسان د هغه په مخلوق رحم کوی د هغے بدل کښ هغه خپل رحم ورکوی دائے د حاصلولو نسخه ده حديث کښ رازیْ چه يو بے بدکارے بښځے يو تګے سپے اويه کړے ؤو نو الله پرے رحم اوکړو جنت ته ئے بوتله لهذا په هر مخلوق باندے رحم کولو سره د الله تعالی رحم حاصليږی.

يادلری د الله تعالی د رحم د حاصلولو يو څو سببونه قرآن هم ذکر کړے دی يو اطاعت د الله تعالی دويم اطاعت د رسول الله ﷺ لکه الله تعالی وائی (و اطيعو الله و اطيعو الرسول لعلکم ترحمون) تابعداری اوکړئی د الله او د رسول ﷺ چه په تاسو رحم اوکړی . دريم د الله تعالی نه د ګناګونو بښنه غوستل سبب د رحم دے (لولا تستغفرون الله لعلکم ترحمون) ولے بښنه نه غواړے د الله تعالی نه شايد په تاسو رحم اوکړی . څلورم قرآن اوريدل سبب د رحم د الله تعالی دے لکه الله تعالی وائی (و إذا قرئ القرآن فاستمعوا و انصتوا لعلکم ترحمون) کله چه قرآن لوستلے شی غوږ کيدئے او خاموشه شئی په تاسو به الله تعالی رحم اوکړی .

د يتيم دپالونکی مقام

[٢١٨] **الحديث الثالث**: عن سهل بن سعد رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنَا وَ كَافِلُ الْيَتِيْمِ لَهٗ وَ لِغَيْرِهٖ

فِي الْجَنَّةِ هٰكَذَا وَاِشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطٰى وَ فَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا .(رواه البخاری)

ترجمه: حضرت سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه ځه او دیتیم پرورش کونکے (خواه که یتیم نے خپل وی یا پردے یتیم وی) جنت کښ به دارنگے یو د شهادت او مینځمی ګوتے نے دواړه داشارے په طور اونیوے او په دواړو کښ نے لږ جدا والے راوسته.

د نیکانو یوه ښه

[۲۱۹] **الحديث الرابع**: عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : اِنَّكُمْ لَتَعْمَلُوْنَ اَعْمَالًا هِيَ اَدَقُّ فِي اَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعْرِ ، اِنْ كُنَّا لَنَعُدُّهَا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ، مِنَ الْمُوْبِقَاتِ . ((اسناده صحيح . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ١٢٦٠٤))

ترجمه: حضرت أنس ؓ نه روایت دے هغه فرمائیل چه اے خلقو ! تاسو اعمال کوئ او هغه ستاسو په نظر کښ زیات باریك ښکاری د ویخته نه (یعنی ګناه کوئ او وړه نے ګنړے) یقینا وو مونږه چه شمارل به مو دغه کارونو لره په زمانه د رسول الله ﷺ کښ د مهلکاتو نه .

فائده: دے روایت شریف مونږ ته دا خبره په نخه کړه چه د نیکانو یوه نخه دا ده چه دوئی به ګناه سپکه نه ګنړے او معمولی ګناه به دوئی د هلاکت سبب ګنړی او ځان به ترے ساتی .

د صبر میوه خوږه ده

[۲۲۰] **الحديث الخامس**: عن انس قال قال رسول الله ﷺ اَلنَّصْرُ مَعَ الصَّبْرِ وَالْفَرَجُ مَعَ الْكَرْبِ وَاِنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً . صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١١٥١).

ترجمه: د حضرت أنس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی مدد د الله تعالی صبر سره دے او فراخی د الله تعالی پریشانی سره او بے شك سختے سره راته وی .

فائده: خلق وائی د صبر میوه خوږه وی تفسیر التسهیل فی علوم التنزیل وائی چه الله تعالی د صبر اته (۸) فائدے ذکر کړے دی په قرآن عظیم الشان کښ اول صبر کونکی ته د الله تعالی محبت حاصلیږی الله تعالی وائی (وَاللّٰهُ يُحِبُّ الصّٰابِرِيْنَ) الله تعالی مینه کوی د صبر کونکو سره دویمه په صبر سره د لله تعالی مدد حاصلیږی لکه په دې حدیث کښ ذکر شو او الله وائی (وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰابِرِيْنَ) او مدد د الله تعالی د صبر کونکو سره دے دریمه په صبر د جنت بنګلے ملاویږی الله تعالی وائی (يجزون الغرفة بما صبروا) ورکوے به شی دوئی ته بنګلے په سبب د صبر د دوئی څلورمه فائده صبر کونکو ته به لوئے اجر ملاویګی الله تعالی وائی (اِنَّمَا يُوَفَّى الصّٰابِرُوْنَ اَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ) بے شك ورکولے به شی صبر کونکو ته اجر د دوی بے حسابه پینځمه فائده صبر کونکو له خوشخبری ده الله تعالی وائی (وَبَشِّرِ الصّٰابِرِيْنَ) او خوش خبری

ورکړه صبر کونکو ته او شپږمه فائده په صبر سره عفو ملاویګی او اووم نمبر فائده په صبر رحمة ملاویګی اتم نمبر فائده په صبر هدایت ملاویګی لکه الله تعالی فرمائی (اُولٰئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوٰتٌ مِنْ رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَاُولٰئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُوْنَ) دغه کسان په دوئی باندے د الله تعالی د طرف نه عفو ده او رحمت دے او دوئی په هدایت دی.

الدرس الخامس والاربعون ﴿٤٥﴾

دیتیم په سر د لاس کیخو دو ثوابونه

[٢٢١] **الحديث الاول**: عَنْ اَبِی اُمَامَةَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ مَسَحَ رَاْسَ يَتِيْمٍ لَمْ يَمْسَحْهُ اِلَّا لِلّٰهِ كَانَ لَهٗ بِكُلِّ شَعْرَةٍ تَمُرُّ عَلَيْهَا يَدُهٗ حَسَنَاتٍ وَمَنْ اَحْسَنَ اِلٰى يَتِيْمٍ عِنْدَهٗ كُنْتُ اَنَا وَهُوَ فِی الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ وَقَرَنَ بَيْنَ اِصْبَعَيْهِ. (رواه احمد فی مسنده صـ ٢١٨ جـ ١٦ رقم ٢٢٠٥٣ وقال حمزة الزين اسناده صحيح و رواه الترمذی).

ترجمه: دحضرت ابی امامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیل چه هر هغه څوك چه صرف دالله د رضا دپاره د یتیم په سر لاس (دشفقت او محبت په وجه) راکاږی نو دهر ویښته په عوض کښ چه کوم نے دلاس لاندے راغلے وی نیکی (په عملنامه) کښ لیکلے شی. او چه کوم سړے د یتیم په سر لاس (دمحبت او شفقت په وجه) راکاږی خواه که هلك وی که جینی (که خپل وی که پردے) نو دغه کس او څه به په جنت کښ دارنګ یو دانے اوفرمائیل نو خپلے ګوتے مبارکے نے د شهادت او مینځنی سره جوړه کړے اووے فرمائیل داسے به قریب قریب یو (په جنت کښ).

د ګاونډی حقوق

[٢٢٢] **الحديث الثانی**: عن عائشة وابن عمر رضی الله عَنْهُمَا عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ مَا زَالَ جِبْرِيْلُ يُوْصِيْنِی بِالْجَارِ حَتّٰى ظَنَنْتُ اَنَّهٗ سَيُوَرِّثُهٗ. (متفق عليه).

ترجمه: دحضرت عائشه او ابن عمر رضی الله عنهما درسول کریم ﷺ نه روایت کوی چه وے فرمائیل جبرئیل علیه السلام ماته همیشه د ګاونډی متعلق وصیت کوی تردے چه ماته دا خیال راغے چه ګاونډی د ګاونډی وارث جوړوی.

ګاونډی ته تکلیف نه ورکول

[٢٢٣] **الحديث الثالث**: عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ قِيْلَ مَنْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ الَّذِیْ لَا يَاْمَنُ جَارُهٗ بَوَائِقَهٗ. (متفق عليه)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل قسم په

خدائے ایماندار نه شی کیدے ،قسم په خدائے ایماندار نه شی کیدے ؟، قسم په خدائے ایماندار نه شی کیدے . عرض اوشو اے دخدائے رسوله ! څوك ایماندار نه شی کیدے وے فرمائیل هغه چه د چا د شر او ضرر نه ګاونډی په امن کښ نه وی.

فائده: دحدیث شریف مطلب دادے چه څوك ګاونډی ته ضرر رسوی دا کامل مومن نه دے.

د الله په نزد عمر ه خیر اه ښ

[۲۲٤] **الحديث الرابع**: عن عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ الْاَصْحَابِ عِنْدَاللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهٖ وَخَيْرُ الْجِيْرَانِ عِنْدَاللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهٖ. صحيح. (رواه الترمذی والدارمی)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دالله په نزد دوستانو نه بهترین دوست هغه دے چه دخپل دوست بهترین خیرخواه وی او دالله په نزد د ګاونډیانو نه بهترین ګاونډي هغه دے چه دخپل ګاونډی بهترین خیرخواه وی.

د څان نه والے او بد والے معلومول

[۲۲۵] **الحديث الخامس**: عن ابن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ ﷺ كَيْفَ لِيْ اَنْ اَعْلَمَ اِذَا اَحْسَنْتُ وَاِذَا اَسَاْتُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا سَمِعْتَ جِيْرَانَكَ يَقُوْلُوْنَ قَدْ اَحْسَنْتَ فَقَدْ اَحْسَنْتَ وَ اِذَا سَمِعْتَهُمْ يَقُوْلُوْنَ قَدْ اَسَاْتَ فَقَدْ اَسَاْتَ. صحيح. (رواه ابن ماجه)

ترجمه: دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړی عرض اوکړو اے دخدائے رسوله ماته به دخپل نیك والی او بد والی څنګه معلومات کیږی چه آیا څه نیکی کوم او که بد کوم .رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه کله ته خپل ګاونډی نه دا آورے چه ته نیکی کوے بس ته نیکی کوے او چه کله دے ګاونډی وائی چه ته بد کوے بس ته بد کوے(یعنی ستا د نیك والی او بد والی دارو مدار په ګاونډی پورے تعلق لری تاته به دځان معلومات دګاونډی نه کیږی).

الدرس السادس والاربعون ٤٦

دالله او د رسول د مینے د حاصلولو اسباب

[۲۲٦] **الحديث الاول**: عَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِي قُرَّادٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ تَوَضَّاَ يَوْماً وَ جَعَلَ اَصْحَابُهٗ يَتَمَسَّحُوْنَ بِوَضُوْئِهٖ فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ ﷺ مَا يَحْمِلُكُمْ عَلٰى هٰذَا قَالُوا حُبُّ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ مَنْ سَرَّهٗ اَنْ يُّحِبَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ اَوْ يُحِبَّهُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ فَلْيَصْدُقْ حَدِيْثَهٗ اِذَا حَدَّثَ وَ لْيُؤَدِّ اَمَانَتَهٗ اِذَا ائْتُمِنَ وَلْيُحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَهٗ. حسن. (رواه البيهقی)

ترجمه : دحضرت عبدالرحمن بن ابی قراد رضی الله عنه نه روایت دے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ اودس کولو صحابه کرام د حضور ﷺ د اودس اوبه په بدن پورے مړلے رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل دا څه کوی صحابه کرامو عرض اوکرو چه زمونږ دالله او دالله درسول سره محبت دے . په دے وجه (داسے کوو) وے فرمائیل چاته چه داخبره خوښه وی چه څه دے دالله او دهغه د رسول سره محبت اوکړم او الله و رسول ماسره محبت اوکړی نو ده له پکار دی چه خبره کوی نو رشتیا دے وائی او چه کله ده سره (څوك) امانت کیدی نو واپس دے کړے . او د ګاونډی سره دے (ډیر ښه) ګاونډ کوی.

هغه موس نه شی کیدے چه : ګاونډی غم ټیر سره نه وی

[۲۲۷] **الحديث الثانی** : عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِیْ يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلٰى جَنْبِهٖ. حسن. (رواه البيهقی فی شعب الايمان)

ترجمه : حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه ما درسول الله ﷺ نه اوریدلی دی وے فرمائیل چه هغه کس مومن نه شی کیدے چه په خپله اوخوری ځان مړ کړی او حالانکه ګاونډی ددده نهر وی.

ګاونډی ته ضرر رسولو سره عبادت ته نقصان رسی

[۲۲۸] **الحديث الثالث** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فُلَانَةُ تُذْكَرُ مِنْ كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَ صِيَامِهَا وَ صَدَقَتِهَا غَيْرَ اَنَّهَا تُؤْذِیْ جِيْرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ هِیَ فِی النَّارِ قَالَ فَاِنَّ فُلَانَةَ تُذْكَرُ قِلَّةَ صِيَامِهَا وَ صَدَقَتِهَا وَ صَلَاتَهَا وَاَنَّهَا تَصَدَّقُ بِالْاَثْوَارِ مِنَ الْاَقِطِ وَلَا تُؤْذِیْ بِلِسَانِهَا جِيْرَانَهَا قَالَ هِیَ فِی الْجَنَّةِ. صحيح. (رواه احمد والبيهقی فی شعب الايمان).

ترجمه : حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه عرض اوکړو یو سړی اے دخدائے رسوله د فلانی ښځے په باره کښ وئیلیے کیدی چه ډیر مونځونه کوی او روژے نیسی او د خیرات ورکولو ئے هم ډیره دبدبه ده لیکن (بداخلاقه ده او) د ژبے نه ئے ګاونډ ته (هر) وخت تکلیف رسیدی (یعنی کنځل بدے ردے وائی) رسول الله ﷺ اوفرمائیل دغه به دوزخ ته ځی . هغه سړی بیا عرض اوکړو اے دخدائے رسوله د فلانی ښځے په حقله ذکر کیدی چه (نفل)مونځ کم کوی . (نفلی)روژه کمه نیسی او خیرات (دومره) کم کوی چه د پنیرټکړے سره وی (یعنی ډیر کم وی) لیکن ددے د ژبے نه ګاونډی ته هیڅ تکلیف نه دے رسیدلے . رسول الله ﷺ اوفرمائیل دا ښځه به جنت له ځی.

فائده : ددے حدیث شریف نه معلومه شوه چه زنانه دپاره د ژبے حفاظت ډیر ضروری دے حضرت تهانوی ؒ وئیلی دی چه هره زنانه مسلمانه چه فرائض ادا کوی نو دا ولیه ده ځکه زنانه د

کور د بچو د خاوند خدمت کوی دا دومره مجاهده ددے د ولایت دپاره بس ده خو په شرط ددے چه داد ژبے حفاظت اوکړی او ژبه قابو کړی .

د کونډے او مسکین سره د خدمار کولو فضیلت

[۲۲۹] **الحدیث الرابع**: عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلسَّاعِیْ عَلَی الْاَرْمَلَةِ وَالْمِسْکِیْنِ کَالسَّاعِیْ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَاَحْسِبُهٗ قَالَ کَالْقَائِمِ لَا یَفْتُرُ وَکَالصَّائِمِ لَا یُفْطِرُ. (متفق علیه)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دکونډو ښځو او دمسکینانو سره د خیر ښیګړے والا دهغه چا په شان دے کوم چه دالله په لار کښ سعی کوی . راوی وائی چه ځما ګمان دے چه رسول الله ﷺ دا هم اوفرمائیل چه دے په شان دهغه چا دے چه په عبادت ولاړ وی ستړے کیګی نه او دهغه چا په شان چه روژه وی افطاری نه کوی یعنی دورځے خوراک سخاک نه کوی.

مسلمان به دیو بل پشتی وی

[۲۳۰] **الحدیث الخامس** : عن ابی موسی رضی الله عنهُ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ اَلْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ کَالْبُنْیَانِ یَشُدُّ بَعْضُهٗ بَعْضاً ثُمَّ شَبَّکَ بَیْنَ اَصَابِعِهٖ. (متفق علیه).

ترجمه : حضرت ابو موسیٰ رضی الله عنه د نبی کریم ﷺ نه روایت کوی چه وے فرمائیل مسلمان (دبل) مسلمان دپاره د یو مکان په شان دے چه (دمکان) یوه حصه دبلے حصے دپاره مظبوط والے دے او بیا ئے د یو لاس ګوتے د بل لاس په ګوتو کښ داخلے کړے (یعنی یو مسلمان د بل سره دا رنګ په غم او درد کښ تړلے دے.)

فائده: د حدیث شریف مطلب دا دے چه مسلمان د پاره داسے اوسیدل پکار دی چه د یو بل دفاع کوی او یو بل سره ئے همدردی او اتفاق وی نو دوئی به د خوادثو نه محفوظ وی لکه یو کتاب لیکلی دی چه یوبادشاه مړکیدو نو هغه خپل ځامن کینول او یو کانټه ئے راواغشتله یو ته ئے ورکړه وئیل ئے دا ماته کړه نو هغه ماته نه کړے شوه بیائے بل ته ورکړه نو هغه هم ماته نه کړے شوه دریم ته ئے ورکړه هغه هم ماته نه کړے شوه الغرض تولو بچو ته ئے ورکړه یو هم ماته نه کړے شوه اخر کښ ئے کانټه او سپړده اویو یو ډکے یو یو رور ته ورکړو ویل ئے دا مات کړئی چنانچه هر یو هغه مات کړو او لګ ساعت کښ کانټه ماته شوه ختمه شوه بادشاه ځامنو ته اووبلے چه بچو که متفق وی لکه د کانټے به مو څوک مات نه کړی او که بے اتفاقه شوے نو د کانټے د ډکو پشان به مات رامات شی او ختم به شی .

الدرس السابع والاربعون ﴿٤٧﴾

ظالم دظلم نه منع کول

[٢٣١] **الحديث الاول** : عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اُنْصُرْ اَخَاكَ ظَالِماً اَوْ مَظْلُوْماً فَقَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اُنْصُرُهُ مَظْلُوْمًا فَكَيْفَ اُنْصُرُهُ ظَالِمًا قَالَ تَمْنَعُهُ مِنَ الظُّلْمِ فَذَالِكَ نَصْرُكَ اياه . (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دخپل مسلمان رور مدد اوکړه خواه که ظالم وی که مظلوم . یو سړی عرض اوکړو اے دخدائے رسوله د مظلوم مدد خو کول پکار دی د ظالم مدد څرنګ کوو؟ وے فرمائیل هغه د ظلم نه منع کړه بس دا د ظالم سره مدد دے.

دمسلمان شرعی حاجت پوره کول

[٢٣٢] **الحديث الثانی** : عن ابن عمر رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَلْمُسْلِمُ اَخُ الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ وَمَنْ كَانَ فِیْ حَاجَةِ اَخِيْهِ كَانَ اللّٰهُ فِیْ حَاجَتِهٖ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً فَرَّجَ اللّٰهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (متفق عليه)

ترجمه: دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه (یو) مسلمان د بل مسلمان رور دے (رور په رور) ظلم نه کوی او نه دده مدد پریګدی . څوك چه دخپل رور مسلمان حاجت پوره کوی الله تعالیٰ به دده حاجت پوره کړی . اوڅوك چه دخپل رور مسلمان نه څه غم لرے کوی الله تعالیٰ به دقیامت په ورځ دده غمونه لرے کړی . او څوك چه دخپل مسلمان رور پرده پوشی کوی یائے عیب پټوی الله تعالیٰ به د قیامت په ورځ دده عیبونه پټ کړی.

مسلمان به دمسلمان سره څه سلوك کوی؟

[٢٣٣] **الحديث الثالث** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُسْلِمُ اَخُ الْمُسْلِمِ لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا وَيُشِيْرُ اِلٰى صَدْرِهٖ ثَلٰثَ مِرَارٍ بِحَسْبِ امرء ی مِنَ الشر اَنْ يَّحْقِرَ اَخَاهُ الْمُسْلِمَ كُلُّ الْمُسْلِمِ حَرَامٌ دَمُهٗ وَمَالُهٗ وَعِرْضُهٗ . (رواه مسلم)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل (چه یو) مسلمان د (بل) مسلمان رور دے لهذا مسلمان دے په خپل رور مسلمان ظلم نه کوی او نه د ورسره مدد پریګدی او نه دے دے حقیر او سپك ګڼړی. او بیا رسول الله ﷺ د خپلے سینے په طرف درے کرته اشاره اوکړه وے فرمائیل تقوی دلته ده (یعنی پرهیزګاری دزړه څیز دے) او دیو سړی دپاره داشر کافی دے چه خپل رور مسلمان خوار او حقیر اوګڼړی . (یعنی د نظر نه ئے

کم او سپك راولی نو دومره گناه ئے کافی ده او وے فرمائیل) په مسلمان د مسلمان وینه حرامه ده (یعنی جنگ وجدل او قتل وقتال به ورسره نه کوی) او دمسلمان مال او آبرو او عزت (اغستل) په بل مسلمان حرام دی.

بل مسلمان ته هغه څه خوښول چه کوم ځان ته خوښوی

[٢٣٤] **الحديث الرابع**: عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ لَا یُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّٰی یُحِبَّ لِاَخِیْهِ مَا یُحِبُّ لِنَفْسِهٖ . (متفق علیه).

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه قسم په هغه ذات چه دچا په لاس کښ ځما نفس یعنی ساه ده چه هیڅ یو بنده تر هغے کامل مومن نه شی کیدے چه تر څو دخپل رور مسلمان دپاره هغه څه خوښ نه کړی کوم چه دخپل ځان دپاره خوښوی .

فائده: مطلب دادے چه څه رنگ څیز او څه رنگ کار ځان دپاره خوښوے نو که مسلمان درنه مشوره اوغواړی نو دادے ورته هم د هغه څیز او کار مشوره ورکړی چه کوم ځان دپاره خوښوی.

دمشر عزت د نبی سنت

[٢٣٥] **الحديث الخامس**: عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَیْسَ مِنَّا مَنْ لَّمْ یَرْحَمْ صَغِیْرَنَا وَلَمْ یُوَقِّرْ کَبِیْرَنَا وَیَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَیَنْهَ عَنِ الْمُنْکَرِ. (روا الترمذی ، وقال غریب)

ترجمه: دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هغه کس زمونږ نه نه دے کوم چه په وړو باندے رحم نه کوی او دمشرانو عزت نه کوی او خلقو ته په نیکی کولو سره حکم او د بدی نه منع کول نه کوی.

فائده: د دے روایت یو شاهد په ترمذی شریف کښ په صحیح سند سره نقل دے چه رسول الله ﷺ فرمائی نه دے ځمونږه د ډلے نه هغه څوك چه رحم نه کوی په وړکوتی ځمونږه او نه پیژنی عزت د لوئے د زمونږه (ترمذی صـ ٢٠،١٩) .

الدرس الثامن والاربعون ٤٨

د عرفے د ورځے بهترین ذکر

[٢٣٦] **الحديث الاول**: عن علیؓ قال : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَفْضَلُ مَا قُلْتُ اَنَا وَالنَّبِیُّوْنَ عَشِیَّةَ عَرَفَةَ : لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ ، لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ ، وَ هُوَ عَلٰی كُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ . (رواه الطبرانی فی فضل عشر ذی الحجة جـ ٢ صـ ١٣ . الحديث ثابت . السلسلة جـ ٤ صـ ٧٧).

ترجمه: د حضرت علیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه بهتر هغه دی چه ما وئیلی دی او نورو پیغمبرانو په ماسپخین د عرفے کښ هغه دا کلمات دے " **لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَ لَهُ الْحَمْدُ ، وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٍ** "

د غټ اختر د ورځے کارونه

[۲۳۷] **الحديث الثانى** : **عن ابى هريرةؓ قال : قال رسول الله ﷺ اَيَّامُ التَّشْرِيْقِ اَيَّامُ طَعْمٍ وَ ذِكْرٍ** . (رواه ابن حبان رقم ۹۵۹ . صحيح . السلسلة جـ ۳ صـ ۳۵٦).

ترجمه: د د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی ایام تشریق (د غټ اختر ورځے) د خوراك او د ذکر ورځے دی .

فائده: د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه د غټ اختر په ورځو کښ خوراك او ذکر د نورو ورځو نه په فرق پکار دے او یو روایت کښ داسی راغلے دی چه دا ورځے د خوراك ځکاك دی ، نو د دے حدیثونو نه دے ورځو کښ درے کاره ثابت شو خوراك ، ځکاك ، ذکر ، په دغه ورځو کښ د ذکر د پاره مناسب الفاظ " الله اکبر الله اکبر لا اله الا الله والله اکبر الله اکبر ولله الحمد " دی .

مونځ ته خانسته جامے اچول مطلوب دی

[۲۳۸] **الحديث الثالث** : **عن ابن عمرؓ قال : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا صَلّٰى اَحَدُكُمْ فَلْيَلْبَسْ ثَوْبَيْهِ ، فَاِنَّ اللّٰهَ اَحَقُّ مِنْ تُزَيَّنَ لَهُ** . (اخرجه الطحاوى فى شرح معانى الآثار جـ ۱ صـ ۲۲۱ ، والطبرانى فى المعجم الاوسط جـ ۱ صـ ۲۸ . اسناده صحيح . " السلسلة جـ ۳ صـ ٤٤۳ ")

ترجمه: د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کله چه مونځ اوکړی یو ستاسو نه نو وادے چوی دواړه جامے (ځان دے خانسته کړی) ځکه الله زیات حق دار دے د هغه چا نه چه چاته ځان خانسته کولے شی .

فائده: د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه مونځ ته خانسته جامے اچول سنت دی ، فقهاء لیکلے دی چه په خیرنو او د کار په جامو کښ مونځ کول مکروه دی .

سفر کښ امیر جوړول سنت دی

[۲۳۹] **الحديث الرابع** : **عنْ ابى سعيد رضى الله عنه قال : قال رسول الله ﷺ اِذا خرج ثلاثة فى سفر فليؤمروا احدهم** . (رواه ابو داود رقم ۲٦۰۸ / ۲٦۰۹ . اسناده حسن . السلسلة جـ ۳ صـ ۱۲۳۳)

ترجمه: حضرت أبی سعیدؓ نه روایت دے چه روسول الله ﷺ فرمائیلے دی کله چه اوځی درے کسان په یو سفر کښ نو امیر دے کړی دوئی یو د دوئی نه .

فائده: د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه سفر کښ امیر جوړول سنت دی خو پیغمبر ﷺ ئے حکم کړے دے .

دعا ډیره غوستل پکار دی

[۲٤۰] **الحديث الخامس** :عن عائشة رضى الله عنها قالت : قال رسول الله ﷺ إذا سأل أحدكم فليكثر ، فإنما يسأل ربه .(أخرجه ابن حبان رقم ۲٤۰۳ . اسناده صحيح . السلسلة جـ ۳ صـ ۳۹۹)

ترجمه: د حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کله چه سوال کوی یو ستاسو د الله نه نو ډیر دے غواړی بے شکه دے غوستنه کوی د رب خپل نه .

فائده : د دے حدیث شریف نـه د دعا یو ادب معلوم شو هغه دا چه کله یو سړی د یو څیز غوستنه د الله تعالی نه کوی نو بار بار دے غواړی لکه یو حدیث کښ راځی چه رسول الله ﷺ به کله دعا غوستله نو درے ځله به ئے الفاظ مکرر کول (مسلم شریف) .

الدرس التاسع والاربعون ٤٩

دالله د رضا ډیاره یو بل سره محبت ساتل

[۲٤۱] **الحديث الاول** : عن ابى هريرة رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَقُوْلُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ أَيْنَ الْمُتَحَابُّوْنَ بِجَلَالِيْ اَلْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِيْ ظِلِّيْ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّيْ . (رواه مسلم)

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیشکه ځما د تعظیم په وجه چه دنیا کښ چا په خپلو کښ یو بل سره محبت کړے دے هغه خلق چرته دی ځه دوی ته سورے ورکوم دخپل سوری دلاندے(ځکه) نن ځما د سوری نه علاوه بل سورے نیشته.

فائده : د حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل (او) ما واوریدل چه الله تعالیٰ فرمائی چه ځما محبت واجب شوے دے . د هغه چا ډیاره کوم چه په خپلو کښ یو تریله محبت کوی (خالص) زما د رضا ډیاره. او زما د رضا ډیاره یو بل سره کینی (پاسی). او زما د رضا ډیاره دیو بل ملاقات کوی او زما د رضا د پاره په یو بل مال خرچ کوی.

دچا چه چاسره مینه وی دقیامت په ورځ به هغه سره وی

[۲٤۲] **الحديث الثانى** : عن ابن مسعود رضى الله عنه قال جَاءَ رَجُل إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ تَقُوْلُ فِيْ رَجُلٍ اَحَبَّ قَوْماً وَلَمْ يَلْحَقْ بِهِمْ فَقَالَ اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ. (متفق عليه)

ترجمه : د حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه یو سړے راغے عرض ئے اوکړو

اے دخدائے رسولہ د هغه چا په حق کښ تاسو څه فرمائئ چه یو قوم سره محبت کوی لیکن هغے ته رسیدلے نه شی رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه دے به هم دهغه چا سره وی چا سره نے چه محبت وی.

د ښه او ناکاره ملګری مثال

[۲۴۳] **الحديث الثالث**: عن ابی موسیٰ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَثَلُ الْجَلِيْسِ الصَّالِحِ وَالسُّوْءِ كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَ نَافِخِ الْكِيْرِ وَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا اَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا اَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ وَاِمَّا اَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيْحاً طَيِّبَةً وَنَافِخُ الْكِيْرِ إِمَّا اَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ وَإِمَّا اَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيْحاً خَبِيْثَةً. (متفق عليه)

ترجمه: دحضرت ابو موسیٰ رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د نیك او بد سره د کیناستو (ملګرتیا) داسے مثال دے لکه عطاری او بهټی والا سره ملګرتیا کول خوشبو والا به مفت خوشبو درکړی یا به ترے په پیسو واخلے یا به هسے خوشبو محسوس کړی. او بهټی والا به ستا کپړے سیزی یا به ترے بد بوئی محسوس کړے.

د کامیابی اسباب

[۲۴۴] **الحديث الرابع**: عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللّٰهِ، يَقُوْلُ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَسَلَّمَ مِنْ اَهْلِ نَجْدٍ ثَائِرَ الرَّاسِ، يُسْمَعُ دَوِيُّ صَوْتِهِ وَلَا يُفْقَهُ مَا يَقُوْلُ، حَتّٰى دَنَا، فَإِذَا هُوَ يَسْأَلُ عَنِ الْإِسْلَامِ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: خَمْسُ صَلَوَاتٍ فِي الْيَوْمِ وَاللَّيْلَةِ. فَقَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: لَا، إِلَّا اَنْ تَطَوَّعَ. قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: وَصِيَامُ رَمَضَانَ. قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهُ؟ قَالَ: لَا، اِلَّا اَنْ تَطَوَّعَ قَالَ: وَذَكَرَ لَهُ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الزَّكَاةَ، قَالَ: هَلْ عَلَيَّ غَيْرُهَا؟ قَالَ: لَا، إِلَّا اَنْ تَطَوَّعَ. قَالَ: فَاَدْبَرَ الرَّجُلُ وَهُوَ يَقُوْلُ: وَاللّٰهِ لَا اَزِيْدُ عَلٰى هٰذَا وَلَا اَنْقُصُ، قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: اَفْلَحَ إِنْ صَدَقَ. رواه البخاری رقم: ۲۵۰۹

ترجمه: حضرت طلحه بن عبید الله نه روایت دے فرمائی چه راغلو یو سړی رسول الله ﷺ ته د اهل نجد نه ببر سر نے وو اوریدے شو ښکارد آواز د هغه او پته نه لګیده چه دے څه وائی تر دے چه رانزدے شو نو اچانك تپوس نے کول د اسلام باره کښ نو اوونیل رسول الله ﷺ پنځے مونځونه دے په شپه ورځ کښ نو ده اوونیل شته په ما باندے غیر د دے نه؟ هغه اوونیل نه مګر که ته نفل کوی بیا رسول الله ﷺ اوفرمائیل او روژے د رمضان نیول دے سړے اوونیل د دے نه علاوه نور څه شته؟ هغه اوونیل نه مګر که ته نفل کوی او ذکر کړو رسول الله ﷺ هغه ته زکوة نو هغه اوونیل د دے نه علاوه نور څه شته نو رسول الله ﷺ اوونیل نه مګر که ته نفل کوی. راوی وائی چه دے سړی شاه کړه او روان شو او وئیل نے قسم په خدائے نه به زیاتی کومه په دے

او نه به کمومه نو اووئیل رسول الله ﷺ کامیاب شو دا سړی که رشتیا ئے وئیلے وی .

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه مومن له مونځ روژه او نور فرائض اسباب د کامیابئ دی په شرط د دے چه د څان نه په کښ کمے زیاتے اونه کړی .

یتیم نه خدمت اغشتل بطور تربیت جائز دی

[۲٤٥] **الحدیث الخامس** : عَنْ اَنَسٍ ؓ قَالَ : قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ المَدِيْنَةَ لَيْسَ لَهُ خَادِمٌ ، فَاَخَذَ اَبُو طَلْحَةَ بِيَدِى ، فَانْطَلَقَ بِى اِلَى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ ، فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، اِنَّ اَنَسًا غُلَامٌ كَيِّسٌ فَلْيَخْدُمْكَ ، قَالَ : فَخَدَمْتُهُ فِى السَّفَرِ وَالْحَضَرِ ، مَا قَالَ لِى لِشَىءٍ صَنَعْتُهُ لِمَ صَنَعْتَ هٰذا هٰكَذَا ؟ وَلَا لِشَىءٍ لَمْ اَصْنَعْهُ لِمَ لَمْ تَصْنَعْ هٰذَا هٰكَذَا ؟ . رواه البخاری رقم : ۲۵۸۹ .

ترجمه : حضرت انس ؓ نه روایت دے فرمائی چه راغلو رسول الله ﷺ مدینے ته نو وو د هغه یو خادم نو اونیول ابو طلحه ؓ لاس ځما او بوتے تلم رسول الله ﷺ ته نو اوئے وئیل یا رسول الله ﷺ بے شکه انس ؓ اوښیار هلك دے ستا خدمت دے اوکړی نو وائی حضرت انس ؓ ما خدمت اوکړو د پیغمبر ﷺ په سفر او په حضر کښ ماته ئے نه دے وئیلی ده یو شی باره کښ چه ما (په خطا غلط) کړی وی چه دا ده داسے ولے اوکړو او نه ئے ماته وئیلے دی د یو کار باره کښ چه ما (په غلطئ) نه وی کړی چه دا دے ولے داسے اونه کړو ؟

فائده : خوږو لوستونکو یاد لرئ چه حضرت انس ؓ دغه وخت کښ یتیم وو او د ده مور بی بی ام سلیم بل خاوند حضرت ابو طلحه سره نکاح کړے وه نو دغه میره پلار او خپلے مور په حالت د یتیمئ کښ دے د رسول الله ﷺ خدمت ته وقف کړو نو ثابت شو چه د یتیم نه بطور تربیت خدمت اغشتل جائز دی .

الدرس الخمسون ۵۰

دوستی او تعلق د مومن سره ساتل ضروری دی

[۲٤٦] **الحدیث الاول** : عن ابی سعید رضی الله عنه اَنَّهُ سَمِعَ النَّبِىَّ ﷺ يَقُوْلُ لَا تُصَاحِبْ اِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَاْكُلْ طَعَامَكَ اِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يَاْكُلْ طَعَامَكَ اِلَّا تَقِىٌّ. حسن. (رواه الترمذی وابوداؤد والدارمی)

ترجمه : د حضرت ابی سعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل (او) ما اوریدل چه ته ملګرتیا مه کوه مګر د مومن سره او اوډ نه خوری طعام ستا مګر مومن او اوډنه خوری طعام ستا مګر پرهیزګار.

فائده : پرهیزګار سړی باندے چه خوراك اوکړے نو دعا به درته اوکړی او ستا د طعام په طاقت

به هغه نیك كارونه اوكړی نو ستا به ورسره برخه په دغه هرڅه كښ جوړه شی خلاصه داده چه دا ډیره خه سرمایه كاری ده. او د مؤمن نه علاوه نورو خلقو سره د زړه دوستی نه ده پكار البته مدارات ورسره پكار دے یعنی ظاهری دفع دفع او خانه پوری ورسره پكار ده مدارات وئی "بذل الدنیا للدنیا یا بذل الدنیا للدین" خرچ د دنیا د دنیا د پاره یا خرچ د دنیا دین د پاره .

سړے ددوست دوجے نه پیژندے شی

[٢٤٧] **الحدیث الثانی**: عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمَرْءُ عَلٰی دِیْنِ خَلِیْلِهٖ فَلْیَنْظُرْ اَحَدُكُمْ مَنْ یُّخَالِلُ. حسن. (رواه احمد والترمذی وابوداؤد والبیهقی)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه انسان دخپل دوست په دین باندے وی . لهذا كله چه (سړے) دوست نیسی نو اودِ گوری چه څه چاسره دوستی كوم.(مطلب دادے چه خه او نیك سړی سره دوستی اوكړی.)

د بے لالچه مینے لوئے ثواب

[٢٤٨] **الحدیث الثالث**: عن ابی امامة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اَحَبَّ عَبْدٌ عَبْداً لِلّٰهِ اِلَّا اَكْرَمَ رَبُّهٗ عَزَّوَجَلَّ. حسن . (رواه احمد)

ترجمه: دحضرت ابی امامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه كوم بنده صرف دالله د رضا دپاره چا (مومن) سره محبت او دوستی ساتی نو دے دخپل پروردگار عزوجل تعظیم و تكریم كوی.

د ركوع او سجد بے یو عظیم فضیلت

[٢٤٩] **الحدیث الرابع**: عَنْ ابن عمرؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الْعَبْدَ اِذَا قَامَ لِلصَّلَاةِ اُتِیَ بِذُنُوْبِهٖ كُلِّهَا فَوُضِعَتْ عَلٰی عَاتِقَیْهِ ، فَكُلَّمَا رَكَعَ اَوْ سَجَدَ تَسَاقَطَتْ عَنْهُ . (اخرجه محمد بن نصر فی قیام اللیل صـ ٥٢ . اسناده صحیح . "السلسلة جـ ٣ صـ ٤٧٢")

ترجمه: حضرت ابن عمرؓ وائی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه كله، بنده مونځ ته اودریگی نو راوړے شی د ده گناهونه تول نو كیخودے به شی په ستړ د ده باندے نو كله چه ركوع یا سجده كوی نو تول ترے پریوځی.

فائده: دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه ركوع سجده ډیر لوئے فضیلت لری او گناهونه ورسره معاف كیږی د دے وجے نه مسلمان له ډیر نفلونه پكار دی چه ډیری ركوع او سجدے پكښ اوكړے شی .

چه په مخ څاروے وهی په هغه لعنت دے

[۲۵۰] **الحديث الخامس** : عن جابر : انّ النّبیّ ﷺ مُرَّ عَلَيْهِ بِحِمَارٍ قَدْ وُسِمَ فِیْ وَجْهِهِ ، فَقَالَ : أَمَا بَلَغَكُمْ اَنِّی قَدْ لَعَنْتُ مِنْ وَسَمِ الْبَهِيْمَةِ فِیْ وَجْهِهَا ، أَوْ ضَرْبِهَا فِی وَجْهِهَا؟ فَنَهٰی عَنْ ذٰالِكَ .(اخرجه ابو داود جـ ۱ صـ ٤٠١ ، ٤٠٢ . و هذا إسناد رجاله ثقات . " السلسلة جـ ٤ صـ ١٢٣ ")

ترجمه : د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه تیر شو یو خر د رسول الله ﷺ خوا کښ چه په مخ داغ ورکړے شوے وو نو رسول الله ﷺ اوونیل آیا نه دے رسیدلے تاسو ته دا خبره چه ما لعنت لیږلے دے په هغه چا چه داغ ورکوی څناور ته په مخ باندے او یا وهی هغے لره په مخ باندے نو د دے نه ئے منع اوکړه .

الدرس الحادی والخمسون ﴿۵۱﴾

د بدګمانی نه ځان ساتل

[۲۵۱] **الحديث الاول** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ اَكْذَبُ الْحَدِيْثِ وَلَا تَحَسَّسُوْا وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوْا وَلَا تَبَاغَضُوْا وَلَا تَدَابَرُوْا وَكُوْنُوا عِبَادَاللّٰهِ إِخْوَانًا .(متفق عليه).

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بدګمانی نه ځان اوساتی . ځکه بدګمانی (د دروغو) خبرو نه سخت ترین (قسم) دروغ دی او جاسوسی مه کوی او معلومول مه کوی (یعنی د چا راز مه معلوموی. یا دغوګونو په ذریعه یا دسترګو په ذریعه) او تیزول مه کوی (یعنی په خرید او فروخت کښ) او حسد مه کوی او بغض مه ساتی او خپلو کښ بائیکاټ مه کوی او شئ تاسو اے بندګانو دخدائے رونړه رونړه یو بل سره.

الله ته اعمال پیش کیږی

[۲۵۲] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُعْرَضُ اَعْمَالُ النَّاسِ فِیْ كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ يَوْمَ الْاِثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيْسِ فَيَغْفِرُ لِكُلِّ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ اِلَّا عَبْدًا بَيْنَهٗ وَبَيْنَ اَخِيْهِ شَحْنَاءُ فَيُقَالُ اُتْرُكُوْا هٰذَيْنِ حَتّٰی يَصْطَلِحَا.(رواه مسلم)

ترجمه: د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خیڑی اعمال دخلقو هر ګل او زیارت په ورځ الله تعالیٰ ته اوښنه کیږی . هربنده مومن ته سوا دهغه چا نه چه دده او دخپل رور مسلمان تر مینځه څه کینه او عداوت وی اووایے شی له طرفه د الله نه پریدی دغه دواړه کسه تردے چه صلح اوکړی.

مسلمان سره بائیکاټ کول ناروا دی

[۲۵۳] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرة رضی الله عنه انّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَایَحِلُّ لِمُسْلِمٍ اَنْ یَّهْجُرَ اَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثَةٍ فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ. صحیح . (رواه احمد وابوداؤد)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هیڅ یو مسلمان له جائز نه دی چه د درے ورځو نه زیات دخپل مسلمان رورسره (ملاقات کول) پریدی او هر څوك چه د درے ورځو نه زیات ملاویدل راملاویدل پریدی او په دے حالت کښ مړ شی نو ځائے ئے اور (یعنی دوزخ) دے.

فائده : د درے ورځو نه زیات بائکاټ کول د مسلمان رور سره گناه کبیره ده د دے مرتکب به د دے سزا څکی بیا به جنت ته ځی د سزا څکلو نه مخکښ نه شی تلے البته چه الله تعالی مهربانه شی او معاف ئے کړی .

حسد نیکئ سوزوی

[۲۵٤] **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرة رضی الله عَنْهُ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ اِیَّاکُمْ وَالْحَسَدَ فَاِنَّ الْحَسَدَ یَاْکُلُ الْحَسَنَاتِ کَمَا تَاْکُلُ النَّارُ الْحَطَبَ. (رواه ابوداؤد جـ ۷ صـ ۲٦٤ ، صـ ٤۹۰۳ و قال شعیب الارنووط حسن لغیره)

ترجمه : حضرت ابو هریره درسول الله نه روایت کوی چه وے فرمائیل د حسد نه ځان بچ اوساتی ځکه چه حسد نیکی (دبنده) داسے خوری لکه لرگے چه اور خوری. (یعنی لرگی ته چه اور اورسی نو ختموی ئے نو نیکی ته چه حسد اورسی نو ختموی ئے)

فائده : کتابونه لیکی چه حسد اوله گناه ده چه آسمان کښ شوے ده شیطان آدم علیه السلام سره حسد اوکړو او هم دا اوله گناه ده چه په زمکه اوشوه قابیل هابیل سره حسد اوکړو او دا دواړه د آدم علیه السلام ځامن وو.

د دوو کسانو تعلق خرابول ناروا دی

[۲۵۵] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة رضی الله عنه عَنِ النَّبِیِّ ﷺ اِیَّاکُمْ وَ سُوْءَ ذَاتِ الْبَیْنِ فَاِنَّهَا الْحَالِقَةُ .(حسن رواه الترمذی)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو د دوه کسانو خپل مینځ کښ د بدی اچولو نه ځان اوساتی ځکه چه دا خصلت (ددین دپاره) بیخ وبستونکے دے .

الدرس الثانی والخمسون ۵۲

څوك چه بل ته ضرر رسوی ضرر به مومی

[۲۵۶] **الحدیث الاول**: عن ابی صرمة انّ النّبیّ ﷺ قَالَ مَنْ ضَارَّ ضَارَّ اللّٰهُ بِهٖ وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللّٰهُ عَلَیْهِ. (حسن رواه ابن ماجه والترمذی).

ترجمه: حضرت ابوصرمه رضی الله عنه درسول الله ﷺ نه روایت کوی چه وے فرمائیل چه کوم سړے چا (مسلمان) ته (بلا وجه شرعی) څه ضرر رسوی نو الله تعالیٰ به ضرور ده ته ضرر اورسوی او چه څوك (یو مسلمان) په تکلیف کښ اچوی نو الله تعالیٰ به دے په تکلیف کښ اچوی.

فائده: د پښتو متل دے چه څه کړے هغه به ربیے او دا لزار نه چا بازار موندلے نه دے عرب وائی "مَنْ حَفَرَ بِئْرًا لِاَخِیْهِ فَقَدْ وَقَعَ فِیْهِ" څوك چه رور د پاره کوهی کنی نو دے به پکښ په خپله واقع شی. وائی کوهی مه کنه د بل سړی په لار کښ هسے نه ستا د کوهی په غاړه لار شی.

د ظلم صلح به رد کولی شی

[۲۵۷] **الحدیث الثانی**: عن ابی هُرَیْرَةَ قَالَ: جَاءَ اَعْرَابِیٌّ، فَقَالَ: یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ، اُقْضِ بَیْنَنَا بِکِتَابِ اللّٰهِ، فَقَامَ خَصْمُهٗ فَقَالَ: صَدَقَ، اُقْضِ بَیْنَنَا بِکِتَابِ اللّٰهِ، فَقَالَ الْاَعْرَابِیُّ: اِنَّ ابْنِیْ کَانَ عَسِیْفًا عَلٰی هٰذَا، فَزَنٰی بِامْرَاَتِهٖ، فَقَالُوْا لِیْ: عَلٰی ابْنِكَ الرَّجْمُ، فَفَدَیْتُ ابْنِیْ مِنْهُ بِمِائَةٍ مِنَ الْغَنَمِ وَوَلِیْدَةٍ، ثُمَّ سَاَلْتُ اَهْلَ الْعِلْمِ، فَقَالُوْا: اِنَّمَا عَلٰی ابْنِكَ جَلْدُ مِائَةٍ، وَتَغْرِیْبُ عَامٍ، فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ: لَاَقْضِیَنَّ بَیْنَكُمَا بِکِتَابِ اللّٰهِ، اَمَّا الْوَلِیْدَةُ وَالْغَنَمُ فَرَدٌّ عَلَیْكَ، وَعَلٰی ابْنِكَ جَلْدُ مِائَةٍ، وَتَغْرِیْبُ عَامٍ، وَاَمَّا اَنْتَ یَا اُنَیْسُ لِرَجُلٍ فَاغْدُ عَلٰی امْرَاَةِ هٰذَا، فَارْجُمْهَا، فَغَدَا عَلَیْهَا اُنَیْسٌ فَرَجَمَهَا. رواه البخاری رقم: ۲۵۲۶.

ترجمه: د حضرت أبو هریرهؓ نه روایت دے راغلو یو اعرابی نو اووئیے وئیل اے د الله رسوله! فیصله اوکړه په مینځ زمونږه کښ په کتاب د الله سره نو ادریدو مقابل د ده او ئے وئیل رشتیا وائی اے د الله رسوله! فیصله اوکړه په مینځ زمونږه په کتاب د الله سره نو اوئیل اعرابی بے شکه څوئی ځما د دے سړی نوکر وؤنو د ده د ښځے سره ئے زنا اوکړه نو خلقو ماته اوئیل چه ستا په څوئی باندے رجم دے نو ما د هغه نه فدیه ورکړله په سلو گډو سره او په یوه وینځه سره بیا ما تپوس اوکړو د اهل علمو نه هغوئی ماته اوئیل بے شکه ستا په څوئی باندے سل درے دی او د یو کال جلا وطنی ده نو اوئیل نبی ﷺ خامخا زه به فیصله اوکړمه په مینځ ستاسو کښ په کتاب د الله سره هر چه وینځه او گډی دی نو هغه تاته واپس کولی شی او ستا په څوئی باندے سل درے دی او یو کال جلا وطنی ده، او هر چه ته ئے اے انیسه یو سړی ته ئے اوئیل نو لړ شه د ده ښځے ته (نو که اقرار د زنائے وکړو) نو رجم ئے کړئ نو لاړو انیس هغے ته نو رجم ئے کړله.

الله تعالیٰ نرمی خوښوی

[۲۵۸] **الحدیث الثالث** : عن عائشة رضی الله عنها اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ رَفِيْقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَالا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ وَمَا لَا يُعْطِي عَلٰى مَا سِوَاهُ. (رواه مسلم)

ترجمه: د حضرت عائشے رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل بے شکه الله تعالیٰ مهربان دے او مهربانی خوښوی او په مهربانی سره هغه څه ورکوی چه هغه په سختی سره نه ورکوی او چه کوم څه په نرمی او مهربانی ورکوی نو هغه د نرمی او مهربانی نه سوا په بل څه نه ورکوی.

د ښو اخلاقو فضیلت

[۲۵۹] **الحدیث الرابع** : عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ مِنْ اَحَبِّكُمْ اِلَيَّ اَحْسَنُكُمْ اَخْلَاقًا. (رواه البخاری)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمرو نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه له تاسو نه هغه کس ماته ډیر محبوب دے چه د چا اخلاق ښه وی.

[۲۶۰] **الحدیث الخامس**: عن رجل من مزينة قَالَ قَالُوْا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَا خَيْرُ مَا اُعْطِيَ الْاِنْسَانُ قَالَ الْخُلُقُ الْحَسَنُ. (رواه البيهقی، والحاكم وقال الحاكم صحيح)

ترجمه: د مزینه قبیلے دیو سړی بیان دے چه صحابه کرامو عرض اوکړو اے دخدائے رسوله انسان ته چه څه ورکړے شوے دی په دے کښ دتولو نه بهترین څه شے دے؟ وے فرمائیل (انسان ته چه د تولو نه بهترین شے الله ورکړے دے) نو هغه ښه اخلاق دی.

فائده: حائسته اخلاق لوئے دولت دے د روایت مفهوم دا دے چه خائسته اخلاق خوږ زبان هر چا ته رسولے شی خو پیسه او دولت هر چاته نشی رسولے.

الدرس الثالث والخمسون ۵۳

تله دعمل کښ دروند عمل

[۲۶۱] **الحدیث الاول** : عن ابی الدرداء رضی الله عنها عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اِنَّ اَثْقَلَ شَيْءٍ يُوْضَعُ فِيْ مِيْزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُلُقٌ حَسَنٌ وَاِنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيَّ. صحيح. (رواه الترمذی)

ترجمه: د حضرت ابو درداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ارشاد اوفرمائیلو چه په میزان دقیامت کښ د بنده مومن د تولو نه وزنی یعنی دروند عمل چه دے نو هغه ښه اخلاق دی او الله تعالیٰ فاحش ویونکی او بیهوده (خبرو) ویونکی سره دشمنی ساتی.

مومن سپیڅه او ساده وی

[۲۶۲] **الحديث الثاني**: عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قَالَ الْمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيْمٌ وَالْفَاجِرُ خِبٌّ لَئِيْمٌ. صحيح. (رواه احمد والترمذي وابوداؤد)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه مومن ساده او نیك اخلاقو والا وی او فاجر دهوکه باز او چالاك وی.

رسول الله ﷺ به تولیه استعمالوله

[۲۶۳] **الحديث الثالث**: عن معاذ بن جبل قال رأيت رسول الله ﷺ إذا توضأ مسح وجهه بطرف ثوبه. (أخرجه الترمذي جـ ۱ صـ ۷۶. و اسناده حسن (السلسلة جـ ۵ صـ ۱۳۵ رقم ۲۰۹۹)).

ترجمه: د حضرت معاذؓ نه روایت دے فرمائی چه مالیدلے وو رسول الله ﷺ کله چه به ئے اودس کولو نو مسح کولو به ئے مخ خپل په طرف د کپړے خپلے باندے.

فائده: امام ترمذی یو روایت د حضرت عائشهؓ نه هم نقل کړے دے چه رسول الله ﷺ د پاره یو ټکړه د کپړے (تولیه) وه چه د اودس نه روستو نه ئے په هغے باندے څان اوچولو (ترمذی جـ ۱ صـ ۷۳) فقهاء کښ صاحب د کبیری دے ته مستحب وائی.

پیغمبر علیه السلام به دښه اخلاقو دعا غوښتله

[۲۶۴] **الحديث الرابع**: عن عائشة رضي الله عنها قالت كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ حَسَّنْتَ خَلْقِيْ فَاَحْسِنْ خُلُقِيْ. صحيح. (رواه ابوداؤد)

ترجمه: دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به دا دعا کوله چه اے الله تا زما (جسمانی) پیدائش ښه کړے دے. ځما اخلاق (د خلقو سره) هم ښه کړے.

بهترین خلق څوك دی؟

[۲۶۵] **الحديث الخامس**: عن ابي هريرة رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلَا اُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ قَالُوْا بَلٰى يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ خِيَارُكُمْ اَطْوَلُكُمْ اَعْمَاراً وَاَحْسَنُكُمْ اَخْلَاقًا. صحيح. (رواه احمد)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څه تاسو ته اوښائم چه بهترین خلق څوك دی؟ صحابه کرامو عرض اوکړو چه آو اوښایه اے دخدائے رسوله وے فرمائیل چه بهترین خلق هغه دی چه دچا عمر ډیر وی او اخلاق ئے ښه وی.

فائده: خلق حسن څه ته وائی؟ عبدالله بن مبارك فرمائیلے دی چه خلق حسن د درے څیزونو نه عبارت دے مخ او تندے کشاده سائل ، نیکی او احسان کول ، ضرر نه رسول. (ترمذی)

الدرس الرابع والخمسون ٥٤

بے ځایه غصه کول بنه نه دی

[٢٦٦] **الحديث الاول** : عن ابی هريرة رضی الله عنه اَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِیِّ ﷺ اَوْصِنِیْ قَالَ لَا تَغْضَبْ فَرَدَّ دَ ذٰلِكَ مِرَارًا قَالَ لَاتَغْضَبْ. (رواه البخاری)

ترجمه : حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته یو سړی عرض اوکړو . اے دخدائے رسوله ! ما ته نصیحت اوکړه (یعنی یو داسے عمل راته اوښایه چه ځه پرے عمل اوکړم او زما دپاره ددین او دنیا خیر شی). رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل غصه مه کوه هغه سړی دارنګ سوال څو وارے اوکړو . مګر هر ځل نے ورته هم دا جواب ورکړو چه غصه مه کوه.

پهلوان هغه دے چه غصه برداشت کوی

[٢٦٧] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ الشَّدِيْدُ بِالصُّرْعَةِ اِنَّمَا الشَّدِيْدُ الَّذِیْ يَمْلِكُ نَفْسَهٗ عِنْدَالْغَضَبِ. (متفق عليه)

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه طاقتور . پهلوان هغه نه دے کوم چه (خلق) راسملوی بلکه طاقتور . پهلوان هغه دے (چه دغصے په وخت خپل نفس راسملوی) او خپله غصه قابو کښ اوساتی.

د مسلمانانو د مستعمل لوخو نه اوبه اغستل سبب د برکت دے

[٢٦٨] **الحديث الثالث** : عَنْ ابن عمرؓ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَبْعَثُ اِلَى الْمَطَاهِرِ فَيُؤْتٰى بِالْمَاءِ فَيَشْرَبُهٗ يَرْجُوْ بَرَكَةَ اَيْدِی الْمُسْلِمِيْنَ . (اخرجه الطبرانی فی الاوسط والحديث حسن السلسلة رقم ٢١١٨)

ترجمه : ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به کس لیګو چه د مسلمانانو د مستعملو لوخو نه اوبه راوړه بیا به ئے څکلے امید به ئے کولو چه راکړی الله تعالی هغه برکت چه دے اوبو کښ ئے اچولے دے په سبب د وهلو د لاسونو د مسلمانانو .

دغصے څکلو فضیلت

[٢٦٩] **الحديث الرابع** : عن ابن عمر رضی اللّٰه عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا تَجَرَّعَ عَبْدٌاَفْضَلَ عِنْدَاللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ يَكْظِمُهَا اِبْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ تَعَالٰى . صحيح. (رواه احمد)

ترجمه : دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هیڅ یو بنده دالله په نزد داسے ګوټ نه دے تیر کړے چه هغه دالله تعالیٰ د رضا او خوشحالی سبب شی (سوا) د غصے د ګوټ نه .

فائده : بے جا غصه ډیر نقصانی ځیز دے وائی چه اول د غصے لیونتوب دے او آخر ئے ندامت دے داسے وئیلے شی چه ترکومے چه غصه نے نو ځان په انسانانو کښ مه شمیر کوه بره ذکر شوے حدیثونو نه فائده اغستل ضروری دی .

عاجزی کونکی الله پورته کوی

[۲۷۰] **الحدیث الخامس** : وعنه قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَاأَيُّهَاالنَّاسُ تَوَاضَعُوْا فَإِنِّى سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللّٰهُ وَهُوَ فِىْ نَفْسِهِ صَغِيْرٌ وَفِىْ أَعْيُنِ النَّاسِ عَظِيْمٌ وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللّٰهُ فَهُوَ فِىْ أَعْيُنِ النَّاسِ صَغِيْرٌ وَفِىْ نَفْسِهِ كَبِيْرٌ حَتّٰى لَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ كَلْبٍ أَوْ خِنْزِيْرٍ . (رواه البيهقى فى شعب الايمان. و هو حسن بشواهده . السلسلة جـ ٥ صـ ٤٣٢)

ترجمه: دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه په منبر باندے اودریدو وے فرمائیل چه اے خلقو تواضع اختیار کړی ځکه چه ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه وے فرمائیل ځوك چه دالله رضا دپاره دخلقو سره تواضع اختیار کړی نو الله تعالیٰ به دے (په خلقو کښ) بلند کړی چه دے به خپل ځان حقیر ګڼړی مګر دخلقو په نظر کښ به ډیر عظیم او معزز معلومیګی او هر هغه ځوك چه تکبر او غرور کوی نو الله تعالیٰ دده مرتبه او درجه غورځوی تردے چه دخلقو په نظر کښ به د سپی یا د خنزیر نه ذلیل او سپك ښکاری . مګر ځان به ورته عزت مند ښکاری.

الدرس الخامس والخمسون ۵۵

د ولد زنا ګناه د مور او پلار ده

[۲۷۱] **الحدیث الاول** : عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ عَلَى وَلَدِ الزِّنَا مِنْ وِزْرِ أَبَوَيْهِ شَىْءٌ (وَ لَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرٰى) . (أخرجه الحاكم جـ ٤ صـ ١٠٠ . اسناده صحيح . السلسلة جـ ٥ صـ ١٨٥ رقم ٢١٨٦)

ترجمه : حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی نشته په ولد زنا باندے د ګناه (یعنی د زنا) د مور او پلار نه څه بوج [ځکه الله تعالی فرمائی نه به باره وی یو باره ونکے بار د بل چا] .

فائده : دے حدیث مبارك دا خبره په نخه کړله چه ولد زنا په خپله نیك وی نو د مور او پلار په دغه جرم باندے هغه په آخرت کښ مجرم نه دے .

د صحت او د خوشحالئ یوه لویه نسخه

[۲۷۲] **الحدیث الثانی**: عن أبى هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : يَعْقِدُ الشَّيْطَانُ عَلَى قَافِيَةِ رَأْسِ أَحَدِكُمْ ، إِذَا هُوَ نَامَ ، ثَلَاثَ عُقَدٍ ، يَضْرِبُ مَكَانَ كُلِّ عُقْدَةٍ ، عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيْلٌ ، فَارْقُدْ ،فَإِنِ اسْتَيْقَظَ ، فَذَكَرَ اللّٰهَ ، انْحَلَّتْ

عُقْدَةً ، فَإِنْ تَوَضَّا ، انْحَلَّتْ عُقْدَةٌ فَإِنْ صَلَّى ، انْحَلَّتْ عُقْدَهُ فَاصْبَحَ نَشِيْطًا ، طَيِّبَ النَّفْسِ ، وَإِلَّا اصْبَحَ خَبِيْثَ النَّفْسِ كَسْلَانَ . ((رواه البخاری رقم : ٣٠٥٢)) .

ترجمه : حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل : تری شیطان په څټ د یو ستاسو باندے کله چه اوده شی درے غټے او څُف کوی په هره غټه باندے دا الفاظ " عَلَيْكَ لَيْلٌ طَوِيْلٌ ، فَارْقُدْ " نو کچرے دے راپاسی او الله یاد کړی نو یوه غټه پرانیستے شی نو که اودس اوکړی نو بله غټه پرانیستے شی نو که بیا مونځ اوکړی نو دریمه غټه پرانیستے شی نو صبا کړی دے تازه او خوشحاله نفس والا او که دا کارونه اونه کړی نو صبا کړی دے طبیعت ئے خراب وی او بدن ئے سست پست وی .

فائده : په دے حدیث شریف کښ د صحت او د خوشحالے یوه لویه نسخه بیان شوه تجربات گواه دی ټول حکیمان ډاکټران په دے متفق دی چه سحر وختی پاسیدل او د صبا هواخوری د انسانی صحت د پاره بے حد مفید ده ، دا رنگ دکاندارۍ زمیدارۍ هم سحر وختی سنبالول باعث برکت دی .

د تکبر تعریف او مذمت

[٢٧٣] **الحديث الثالث** : عن ابن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِيْ قَلْبِهٖ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ فَقَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ اَنْ يَّكُوْنَ ثَوْبُهٗ حَسَنًا وَنَعْلُهٗ حَسَنًا قَالَ إِنَّ اللّٰهَ جَمِيْلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَ غَمْطُ النَّاسِ. ((رواه مسلم))

ترجمه : دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هغه څوك به جنت ته نه داخلیگی د چا په زړه کښ چه د ذرے برابر کبر وی . یو سړی عرض اوکړو اے دخدائے رسوله! یو کس دا غواړی چه زما دے ښے عمده کپړے وی او ښے څپلئ دے وی (نو دا هم په کبر و غرور کښ راځی)؟ وے فرمائیل الله جمیل دے او جمال خوښوی او تکبر هغے ته وائی چه دحق (خبره په بدمزاج سره) نه منل او خلق د نظر نه سپك راوستل (یعنی بل بنده باندے ځان پورته گنړل)

د دریو کسانو سره به الله په ورځ دقیامت خبرے نه کوی

[٢٧٤] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيْهِمْ وَفِيْ رِوَايَةٍ وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ . شَيْخٌ زَانٍ وَمَلِكٌ كَذَّابٌ وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ. (رواه مسلم)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه درے کسانو سره به الله تعالیٰ په ورځ د حشر نه خبرے کوی او نه به ئے تزکیه اوکړی او په یو روایت کښ راغلی دی چه نه به دده په طرف اوگوری او دوی دپاره به دردناك عذاب وی چه یو له هغے

نه بوډا زناکار او بل دروغژن بادشاه (اوبل) غریب متکبر.

لوئی دالله څادر دے

[۲۷۵] **الحدیث الخامس**: عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اللّٰهُ تَعَالٰى اَلْكِبْرِيَاءُ رِدَائِیْ وَالْعَظَمَةُ إِزَارِیْ فَمَنْ نَازَعَنِیْ وَاحِدًا مِنْهُمَا اُدْخِلُهُ النَّارَ وَفِیْ رِوَايَةٍ قَذَفْتُهُ النَّارَ. (رواه مسلم)

ترجمه: حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالیٰ فرمائی چه لوئی زما څادر دے او عظمت زما ازار دے او هر هغه څوك چه په یو دے دواړو کښ ماسره جګړه کوی نو ځه به ئے په اور کښ داخل کړم او په یو روایت کښ دی چه ځه به ئے په اور کښ ګوزار کړم.

فائده: د حدیث شریف مطلب دا دے چه تکبر او عظمت زما جامه ده جامه عرف کښ خصوصیت ته وائی نو حاصل دا شو چه دا دواړه ماله ثابت دی چه څوك تکبر کوی او ځان ته لوئے وائی نو ځه به ئے په اور اوسیزم یقیناً دا آواز حقیقت دے چه لوئی تالره خائیږی لوئے دے شان دے الله.

الدرس السادس والخمسون ٥٦

کثرت د جماعت شرعا مطلوب دے

[۲۷٦] **الحدیث الاول**: عن سالم ابی النضر: اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ كَانَ يَخْرُجُ بَعْدَ النِّدَاءِ اِلَى الْمَسْجِدِ، فَاِذَا رَاٰى اَهْلَ الْمَسْجِدِ قَلِيْلاً، جَلَسَ حَتّٰى يَرٰى مِنْهُمْ جَمَاعَةً ثُمَّ يُصَلِّی، وَكَانَ اِذَا خَرَجَ فَرَاٰى جَمَاعَةً، اَقَامَ الصَّلَاةَ. (اخرجه البیهقی فی السنن جـ ۲ صـ ۱۹. و هذا اسناد مرسل. السلسلة جـ ۷ صـ ٦٦٨ رقم ۳۲۱۹)

ترجمه: حضرت سالم بن ابی النضر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د بانګ نه روستو جومات ته راوتلو نو چه کله بے جومات والا اولیدل چه لږ دی نو کیبه ناستلو تر دے چه اوبه ئے لیدلو د دوئی نه یو جماعت نو بیا به ئے مونځ اوکړو او کله چه به راوتلو او جومات کښ به ئے ډله اولیدله نو فوری به ئے مونځ قائم کړو.

فائده: دے حدیث نه پته اولګیده چه رسول الله ﷺ به د جماعت د ګنړے دو کوشش کولو نو بیا به ئے مونځ کولو نو دے نه ثابته شوه چه د جماعت ګنړ والے شرعاً مطلوب دے، فقهاء لیکی چه کومو کارنو سره جماعت کمیږی نو هغه مکروه دی.

په دنیا کښ دچا حق په ځان نه پریخودل

[۲۷۷] **الحدیث الثانی**: عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ كَانَتْ لَهٗ مَظْلَمَةٌ لِاَخِيْهِ مِنْ عِرْضِهٖ اَوْ شَیْءٍ فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ اَنْ لَّا يَكُوْنَ دِيْنَارٌ وَّلَا دِرْهَمٌ اِنْ كَانَ لَهٗ عَمَلٌ صَالِحٌ اُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ

مَظْلَمَةٍ وَإِنْ لَمْ تَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ. (رواه البخاری)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په کوم کس د خپل رور مسلمان د آبرو ریزی. حق وی یا نور څه وی (یعنی د یو بنده په بل حق وی خواه که غیبت ئے کړے وی بهتان ئے پرے لګولے وی یا ئے جسمانی تکلیف ور رسولے وی) نو ده له پکار دی چه دهغے ورځے نه مخکښ ترے بخښش اوغواړی په کومه ورځ چه نه ده سره دینار وی او نه درهم او کچرے ده سره نیك عمل وی نو دهغه دحق مقابل کښ به ترے نه نیك عمل په بدله کښ واخلی او که نیکی ئے نه وی نو دمظلوم بدی به راواغستلے شی او په ظالم به واچولے شی.

دپردو حقوق د نه ادا کولو انجام

[۲۷۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَتَدْرُوْنَ مَا الْمُفْلِسُ مِنْ اُمَّتِی مَنْ یَّاْتِیْ یَوْمَ الْقِیَامَةِ بِصَلٰوةٍ وَصِیَامٍ وَزَکٰوةٍ وَیَاْتِیْ قَدْ شَتَمَ هٰذَا وَقَذَفَ هٰذَا وَاَکَلَ مَالَ هٰذَا وَسَفَكَ دَمَ هٰذَا وَضَرَبَ هٰذَا فَیُعْطٰی مِنْ حَسَنَاتِهٖ وَهٰذَا مِنْ حَسَنَاتِهٖ فَاِنْ فَنِیَتْ حَسَنَاتُهٗ قَبْلَ اَنْ یُّقْضٰی مَا عَلَیْهِ اُخِذَ مِنْ خَطَایَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَیْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِی النَّارِ. (رواه مسلم)

ترجمه: دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل (صحابه کرامو ته) ایا تاسو پیژنی مفلس څوك دے؟(بعضے)صحابو عرض اوکړو چه مفلس هغه چاته وئیلے شی چه چاسره درهم او دینار یعنی روپئ او پیسے او اسباب و سامان ورسره نه وی . رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه (مفلس دے ته نه شی وئیلے بلکه) مفلس هغه چاته وئیلے شی چه زما دامت نه په ورځ د قیامت مونځ ، روژه ، زکوة (عبادت) دځان سره راوړی او راشی په داسے حال کښ چه چاته ئے کنځل کړے وی په چا ئے تهمت پورے کړے وی د چا ئے مال خوړلے وی او هر یو کس ته (په عوض کښ) دده دنیك عمل نه (دحق مطابق) نیکی ورکولے شی کچرے دحقدارانو د حق ادا کولو نه مخکښ مخکښ دده نیکیانے ختمے شی نو (بیا به) د حق دارانو گناه راخستے شی او په ده به اچولے شی او بیا به ئے انجام دا شی چه دوزخ ته به ئے ورګزار کړی.(نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه مفلس دارنګ سړی ته وئیلے شی)

د شهید فضائل

[۲۷۹] **الحدیث الرابع** : عن المقدام بن معدی یکرب عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ قَالَ: لِلشَّهِیْدِ عِنْدَ اللّٰهِ خِصَالٌ : (۱) یُغْفَرُ لَهٗ فِیْ اَوَّلِ دَفْعَةٍ مِنْ دَمِهٖ (۲) وَیُرٰی مَقْعَدَهٗ مِنَ الْجَنَّةِ (۳) وَیُحَلّٰی حُلَّةَ الْاِیْمَانِ (٤) وَیُزَوَّجُ اثْنَتَیْنِ وَ سَبْعِیْنَ زَوْجَةً مِنَ الْحُوْرِ الْعَیْنِ (٥) وَیُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ (٦) وَیَاْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الْاَکْبَرِ (۷) وَیُوْضَعُ عَلٰی

رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ ، اَلْيَاقُوتَةُ مِنْهُ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَ مَا فِيهَا(٨) وَ يُشَفَّعُ فِي سَبْعِيْنَ اِنْسَاناً مِنْ اَهْلِ بَيْتِهِ . (اخرجه الترمذي ١٩٦٣ حديث حسن صحيح السلسلة جـ ٧ صـ ٦٤٧ رقم ٣٢١٣)

ترجمه : حضرت مقدام بن معدی یکرب وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دے د شهید د پاره څه انعامات دی ، (١) ده ته به بخنه کولے شی د وینے د تویے دو په اول څل کښ (٢) او وینی به دے ځانے خپل په جنت کښ (٣) او اچولے به شی ده ته د جامے د اهل ایمان (٤) او ده ته به دوه اویا حورے ورکولے شی (٥)او پناه به ورکړے شی ده ته د عذاب د قبر نه (٦) او په امن به شی د لوئے ګبراهټ نه (٧) او د ده په سر به د عزت تاج کیخودے شی چه د هغے یوه ملغلره به د دنیا او ما فیها نه بهتره وی .

د مظلوم د ازار نه ځان ساتل

[٢٨٠] **الحديث الخامس** :عَنْ اَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِتَّقُوا دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ وَ لَوْ كَانَ كَافِرًا فَاِنَّهُ لَيْسَ دُوْنَهَا حِجَابٌ. (رواه احمد جـ ٣ صـ ١٥٣ ، اسناده حسن ، السلسلة جـ ٢ صـ ٣٩٥)

ترجمه: د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی یره اوکړئ د خیرو د مظلوم نه اګر چه کافر وی ځکه نشته الله ته د رسیدو د هغے ته پرده .

فائده : د دے حدیث مضمون بل یو حدیث کښ هم راغلے دے د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دمظلوم د آزار نه ځان اوساتئ ځکه چه هغه دالله نه خپل حق غواړی او بے شکه الله د چا حق نه منع کوی.(شعب الایمان)

الدرس السابع والخمسون ﴿٥٧﴾

د سود خور مذمت

[٢٨١] **الحديث الاول**: عن جابر رضی الله عنه قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اٰكِلَ الرِّبٰوا وَمُوْكِلَهُ وَكَاتِبَهُ وَشَاهِدَيْهِ وَقَالَ هُمْ سَوَاءٌ (رواه مسلم)

ترجمه : د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه سود ورکونکے سود اخستونکے او (دسود په معامله کښ) د کاغذ لیکونکے او په ګواه باندے (په تولو) دے لعنت وی (او دائے هم اوفرمائیل) چه دا تول (په ګناه کښ سره یو) برابر دی.

د سود نه دبچ کیدو یوه طریقه

[٢٨٢] **الحديث الثانی**: عن ابی سعید وابی هریرة رضی الله عنهما اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اِسْتَعْمَلَ رَجُلاً عَلٰى خَيْبَرَ فَجَاءَ بِتَمْرٍ جَنِيْبٍ فَقَالَ اَكُلُّ تَمْرِ خَيْبَرَ هٰكَذَا قَالَ وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّا لَنَاْخُذُ الصَّاعَ مِنْ هٰذَا بِالصَّاعَيْنِ وَالصَّاعَيْنِ

بِالثَّلاثِ فَقَالَ لَا تَفْعَلْ بِعِ الْجَمْعَ بِالدَّرَاهِمِ ثُمَّ ابْتَعْ بِالدَّرَاهِمِ جَنِيبًا وَقَالَ فِي الْمِيزَانِ مِثْلَ ذَلِكَ. (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت ابو سعيد او ابو هريره رضى الله عنهما نه روايت دے چه رسول الله ﷺ يو سړے خيبر ته عامل (يعنى په زكوة راتولولو) مقرر كړے اوليگه كله چه هغه كس واپس راغے نو درسول الله ﷺ په خدمت كښ ئے ډير ے ښے قجورے راوړے . حضور ﷺ ترے تپوس اوكړو چه دخيبر تولے قجورے هم دغه شان ښے دى ؟ هغه عرض اوكړو نا اے دخدائے رسوله قسم په خدائے چه تولے داسے نه دى بلكه مونږه داسے كوو چه دوه پيمانے خرابے قجورے د يوے پيمانے ښو قجورو په بدل كښ او درے پيمانے خرابے قجورے ددوه پيمانو ښو قجورو په بدل كښ اخلو . رسول الله ﷺ ورته اوفرمائيل چه داسے مه كوى بلكه تولے قجورے (خرابے) په روپو خرڅے كړے بيا ښے قجورے بيلے واخلى په پيسو باندے او دا رنگ (حكم) چه په تول خرڅوى دهغے هم دے.

فائده: په شريعت كښ د يو جنس څيز خپل مينځ كښ په كمى زياتى سره بدلول سود دے مثلاً غنم په غنم يا قجورے په قجورے برابر په برابر بدلول جائز دى او كمى زياتى سره چه يو كم وى او بل ډير وى دا ناجائز دے كه يو خراب وى او بل خه وى نو د دواړو قيمت دے اولگوى نو هر يو دے د بل په قيمت واخلى نو دا طريقه جائز ده دے كښ به سود هم رانه شى او غرض به هم حاصل شى ددے حديث شريف مطلب هم دا دے .

انقلاب زمانه

[٢٨٣] **الحديث الثالث:** عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ ابْنِ سَعْدٍ عَنْ رَّسُولِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ: اِنَّكُمْ اَصْبَحْتُمْ فِي زَمَانٍ كَثِيْرٍ فُقَهَاؤُهُ ، قَلِيْلٍ خُطَبَاؤُهُ ، قَلِيلٍ سُؤَالُهُ ، كَثِيْرٍ مُعْطُوْهُ ، اَلْعَمَلُ فِيْهِ خَيْرٌ مِنَ الْعِلْمِ . وَ سَيَاْتِي زَمَانٌ قَلِيْلٌ فُقَهَاؤُهُ ، كَثِيْرٌ خُطَبَاؤُهُ ، كَثِيْرٌ سُؤَالُهُ ، قَلِيْلٌ مُعْطُوْهُ . اَلْعِلْمُ فِيْهِ خَيْرٌ مِنَ الْعَمَلِ . (أخرجه الطبراني في المعجم الكبير وفي مسند الشاميين (٢/١٢٢٥/٢٢١) والحديث ثابت . السلسلة جـ ٧ صـ ٥٧٣)

ترجمه : د حضرت عبد الله بن سعد نه روايت دے چه رسول الله ﷺ صحابو ته اوفرمائيل چه تاسو په داسے زمانه كښ ئے چه فقهاء په كښ ډير دے او خطيبان په كښ كم دى سوال كونكے په كښ كم دى او وركونكے په كښ ډير دى عمل په دے زمانه كښ بهتر دے د علم نه ، او رابه شى يو زمانه چه لږ به وى فقهاء د هغے او ډير به وى خطباء د هغے ، ډير به وى سوال كونكے لږ به وى وركونكے علم په دغه زمانه كښ غوره دے د عمل نه .

دسود ادنى گناه

[٢٨٤] **الحديث الرابع** : عن ابى هريرة رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلرِّبٰوا سَبْعُوْنَ حُوبًا اَيْسَرُهَا اَنْ يَنْكِحَ الرَّجُلُ اُمَّهُ . صحيح. صحيح الجامع الصغير جـ ١ صـ ٦٦٤.

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دسود گناه (۷۰) اویا درجے ده او په دیکښ چه کومه ادنی درجه ده نو هغه داسے ده لکه یو سړے چه دخپلے مور سره زنا اوکړی.

فائده: خوږو لوستونکو دے حدیث په نخه کړه چه سود عظیم جرم دے او کمه گناه نے د مورد زنا سره برابر ده یو حدیث شریف کښ راځی چه داسے زمانه به راشی چه سود به عام شی که یو سړے سود نه کوی نو هغه ته به هم د سود گرد اولوړے رسی ، افسوس زمونږه په دے موجوده زمانه کښ سود ډیر عام شوے دے ځکه د دنیا د مالیاتو نظام د بینکونو په ذریعه دے او بینکونه اکثر په سود روان دی چه په هغے کښ د سود شبه خامخا رازی ددے وجے نه ټن صبا د سود نه بچ کیدل ډیر گران دی الله تعالیٰ دِ مونږه اوساتی د سود او د هر قسم بے دینی نه.(آمین) بل زمونږه زمانه کښ اکثر خلق د تجارت د مسئلو نه بے خبر دی او تجارت کوی نو اکثر بیوع فاسده کوی چه علماء وائی په بیع فاسده کښ شبه د ربا ده امام ترمذی لیکلی دی چه عمرؓ به وئیل " **لَا يَبِيعُ فِي سُوقِنَا مَنْ لَمْ يَتَفَقَّهْ** " زمونږه په بازار کښ دے هغه سړے سودا نه خرڅوی ځوک چه په مسئلو د تجارت نه پوهیږی نو بینکونو نه ځان ساتل پکار دی او تاجرانو له مسئلے د تجارت ازده کول ضروری دی چه د سود د لوگی نه حفاظت حاصل شی.

دسود انجام

[۲۸۵] **الحديث الخامس** : عن ابن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ الرِّبٰوا وَإِنْ كَثُرَ فَإِنَّ عَاقِبَتَهُ تَصِيْرُ إِلٰى قُلٍّ. صحيح. (رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الايمان)

ترجمه : دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دسود مال چه هر څومره وی (یعنی که ډیر زیات شی) نو آخر په کښ کمے راځی (یعنے بے برکته وی آخر ئے زوال وی)

فائده: د سود په ذریعه سره چه کوم آمدن راشی هغه به برباد کیږی ځکه الله تعالی وئیلے دی "وَيَمْحَقُ اللّٰهُ الرِّبٰوا" (او ختموی الله تعالی مال د سود لره)او تجربه گواه ده چه د سود خور په مال مختلف آفتونه رازی اوآخر کښ د پریشانو د لاسه درگړی درگړی د دنیا نه لاړشی.

الدرس الثامن والخمسون ۵۸

د فرضو کمے به د نفلو نه پوره کیږی

[۲۸۶] **الحديث الاول** : عن عائذ بن قُرطٍ يقول : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَلّٰى صَلَاةً لَمْ يُتِمَّهَا ، زِيْدَ عَلَيْهَا مِنْ سُبْحَاتِهِ حَتّٰى تَتِمَّ . (اخرجه الطبراني في المعجم الكبير جـ ۱۸ صـ ۲۲ . اسناده صحيح . السلسلة جـ ۷ صـ ٥٦٤ رقم

(۳۱۸۶)

ترجمه: د حضرت عائذ بن قرط نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه مونځ اوكړی او پوره نسے اونه كړی نو زیاتی به كړے شی په هغے د نفلو د ده نه تر دے پورے چه د فرض مونځ هغه كمے به پوره شی .

فائده: حدیث شریف كښ ترغیب دے نفل مونځ كولو ته چه دے نوافلو سره نه د فرائضو كمے به پوره كیږی او دا به سبب د نجات گرزی . دغه وجه ده فقهاء وانی چه نوافل متمّمات د فرائضو دی یعنی قیامت كښ به د فرضو كمے په نوافلو سره پوره كیږی .

دقرضدار هدیه مه اخله

(۲۸۷) **الحدیث الثانی**: عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا اَقْرَضَ اَحَدُكُمْ قَرْضًا فَأَهْدٰى إِلَيْهِ اَوْ حَمَلَهُ عَلَى الدَّابَّةِ فَلَا يَرْكَبْهُ وَلَا يَقْبَلْهَا إِلَّا اَنْ يَكُوْنَ اَجْرٰى بَيْنَهُ وَ بَيْنَهُ قَبْلَ ذٰلِكَ. صحیح. (رواه ابن ماجه والبیهقی)

ترجمه: د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل كله چه تاسو یو كس ته قرض وركړی او بیا قرضدار مے هغه ته تحفه اولیگی یا دسورلی دپاره څناور وركړی نو هغه (دمال خاوند) دنے نه په دغه څاروی سورلی كوی او نه دے دهغه تحفه قبلوی . هاں كچرے د قرضداری او دقرض د خاوند تر مینځه مخكښ نه دارنگ سلسله جاری وی نو بیا دے قبوله كړی.

فائده: د دے حدیث تائید په یو بل حدیث كښ راځی چه حضرت ابوبرده ابن ابی موسیٰ تابعی رحمه الله فرمائی چه كله څه مدینے منورے ته راغلم اوډ حضرت عبدالله بن سلام رضی الله عنه سره زما ملاقات اوشو نو (ماته ئے) اووئیل چه ته یو داسے زمكه باندے اوسیگے چه هلته د سود (عام) رواج دے لهذا په چا باندے چه ستا حق وی . یعنی څوك چه ستا قرضدار مے وی او هغه تاله د بوسو یو اندے یا دگیاه یو گیډے یا د غوښو یو اندے هم د تحفے په طور دركوی نو ته یے ترے مه اخله څكه چه داسود دے.(بخاری)

ماشوم بیعت كول نه دی پكار

(۲۸۸) **الحدیث الثالث**: عن عَبْدِ اللّٰهِ بنِ هِشَامٍ وكَانَ قَدْ اَدْرَكَ النَّبِيَّ ﷺ وَ ذَهَبَتْ بِهِ اُمُّهُ زَيْنَبُ بِنْتُ حُمَيْدٍ إِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بَايِعْهُ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ هُوَ صَغِيْرٌ فَمَسَحَ رَاْسَهُ و دَعَالَهُ. (رواه البخاری)

ترجمه: د عبد الله بن هشام نه روایت دے هغه د نبی كریم ﷺ زمانه موندلے وه او دے بوتلے ؤو مور چه زینب نوم ئے ؤو نبی ﷺ ته نو دے او فرمائیل یا رسول الله ﷺ بیعت اوكړه ده سره

نو پیغمبر ﷺ اوفرمائیل چه دے ورکوتے دے نو د ده سر نے مسح کړو او دعائے ورته اوکړه .

فائده : د دے حدیث شریف نه یو څو مسئلے معلومے شولے اوله مسئله دا ده چه ماشوم بیعت کول صحیح نه دی ځکه بیعت دے ته وائی چه سړے د یو مقتدی چه تابعدار د سنت وی او د مشرانو ترتیب کښ پاتے شوے وی هغه سړه عهد اوکړی چه څه به ختی الامکان گناه نه کوم . د شریعت د احکامو په پابندی به کوم او ظاهره ده چه مقصد ددے بیعت د شریعت په احکامو د پابندئ کولو عهد دے او ماشوم مکلف د احکامو نه دے ځکه خو د نبی ﷺ ورته بیعت نه کولو دویمه مسئله دا ده چه یو مشراو مقتدی له پکار دی چه څوك ورله یو ماشوم ورکړے چه ورته دعا اوکړی او په سر ورله لاس راکاږی . دریمه دا ثابته شوه چه بیعت ثابت دے او د بیعت کولو نه انکار صحیح نه دے . او صحیح پیری مریدی ثابته ده خو یاد لرئی پیرے مریدے کښ ډیر احتیاط پکار دے ځکه دے کښ اکثر تگ او نام نهاد پیران داخل شوے دی چه هغے کښ د صحیح پیر پهچان گران دے .

د بیعت د زنانو طریقه

[۲۸۹] **الحدیث الرابع** :عَنْ عَائِشَةَؓ قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُبَايِعُ النِّسَاءَ بِالْكَلَامِ بِهٰذِهِ الْآيَةِ لَا تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ شَيْئاً قَالَتْ وَمَا مَسَّتْ يَدُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَدَ امْرَءَةٍ إِلَّا امْرَءَةٌ يَمْلِكُهَا . (رواه بخاری)

ترجمه : د حضرت عائشهؓ نه روایت دے هغه فرمائی چه رسول الله ﷺ به بیعت کولو د زنانه سره صرف په دے ایت سره چه (لَا تُشْرِكُو بِاللّٰهِ شَيْئاً) حضرت عائشهؓ فرمائی چه نه دے مسح کړے لاس د رسول الله ﷺ لاس د یوے ښځے مگر هغه ښځه چه هغوئی ئے مالك ؤو.

فائده : دے حدیث شریف نه یوه دا خبره معلومه شوه چه زنانه بیعت کول جائز دی . دویمه دا خبره ثابته شوه چه د زنانو د بیعت طریقه دا ده چه صرف به خلے به پس پرده عهد اوکړی چه څه به گناه نه کووم او د شریعت د أحکامو پابندی به کوم یا به د زنانه د سړپرست په واسطه د خط کتابت په ذریعه عهد واخلی . دریمه دا خبره ثابته شوه چه د پردے ښځے لاس مسح کول ناجائز دی که چرته لاس ملاؤول مجبوری شی نو کپړه مینځ کښ حائل ساتل پکار دی .

د بیع یو ناجائز صورت

[۲۹۰] **الحدیث الخامس** : عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه نَهٰى رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الثِّمَارِ حَتّٰى يَبْدُوَ صَلَاحُهَا نَهَى الْبَائِعَ وَالْمُشْتَرِيَ. (متفق علیه)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د میوو خرڅولو نه منع فرمائیلے ده . تر هغه وخته تر څو ئے چه پوخوالے نه وی ښکاره شوے.

فائده : بُدُوُّالصَّلَاحُ دا مطلب دے چه میوه د استعمال قابله شی نو بیا ئے خرڅول پکار دی

څکه چه د هغے نه مخکښ خرڅولو کښ دهوکه ده او نقصان دے او اسلامی اصول دی نه به ناته څوك نقصان رسوی او نه به ته چاته نقصان رسوے.

الدرس التاسع والخمسون ۵۹

په بوتی کښ میوه هلاکه شی تاوان په خرڅونکی او که په اغستونکی

(۲۹۱) **الحديث الاول** : عن جابر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ بِعْتَ مِنْ اَخِيْكَ ثَمَرًا فَاَصَابَتْهُ جَائِحَةٌ فَلَا يَحِلُّ لَكَ اَنْ تَاْخُذَ مِنْهُ شَيْئًا ، بِمَا تَاْخُذُ مَالَ اَخِيْكَ بِغَيْرِ حَقٍّ. (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کچرے تاسو په خپل رور مسلمان د میوے باغ خرڅ کړی او (بیا پرے) څه آفت راشی ، ضائع ئے کړی ، نو تاسو دپاره ترے څه اغستل حلال نه دی تر دیو رور مسلمان مال په ناحقه سره څه رنگ اخلئ.

تشریح: دافسوس خبره داده چه یو سړے په ژبه دا اقرار کوی چه ما ایمان راوړے دے په الله او په رسول د هغه او بیا د الله د رسول نه دومره په واضح الفاظو کښ په سختی سره ممانعت هم موجود شته او باوجود ددے ډیر خلق بغیر د څه اګر بګر نه دا خرید و فروخت کوی او هیڅ باك ئے نه ګڼړی . بهر حال د باغاتو اخستل او خرڅول تر هغے پورے حرام دی . تر څو پورے چه میوے په بوتی کښ خپل ځان نه وی ښکاره کړے او شو کیدلو ته نه وی تیاره شوے بیا هم که سودا ګر پخه میوه په باغ کښ واخلی او د شوکولو نه مخکښ مخکښ پرے آفت راشی نو دباغ مالك لره پکار دی چه دخریدار نه څه وانه خلی او دا اخلاقی همدردی ده او حکم او فتوی کښ پیسے د بائع حق دے یا دا حدیث شریف په هغه صورت حمل دے چه باغ او میوه مشتری ته نه دی حواله شوے نو د غه صورت کښ که میوه هلاك شی نو هغه د خرڅونکی هلاك شو په اغشتونکی د هغے تاوان نه راځی .

دکال دوو دپاره دباغ میوه خرڅول ناجائزدی

(۲۹۲) **الحديث الثانی** عن جابر رضی الله عنه قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ السِّنِيْنَ. (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت جابر رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده د باغونو د خرڅولو نه د څو کلونو دپاره (یعنی یو کال دوه کالو دریو دپاره د باغونو د میوو خرڅول اخستل حرام دی)

غله د قبض کولو نه مخکښ خرڅول ګناه ده

(۲۹۳) **الحديث الثالث** عن ابن عمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتّٰى يَسْتَوْفِيَهُ. (متفق علیه)

ترجمه : حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړے غله واخلی نو تر هغے پورے دے نه خرڅوی څو پورے چه پوره ئے وانه خلی (یعنی چه تول ئے کړی خپل ګودام ته ئے راوړی نو بیا دے خرڅه کړی)

هر څیز چه واخلے نو د قبضه کولو نه ئے مخکښ خرڅول جائز نه دی

[۲۹٤] **الحدیث الرابع** : عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ اَمَّا الَّذِیْ نَهٰی عَنْهُ النَّبِیُّ ﷺ فَهُوَ الطَّعَامُ اَنْ یُّبَاعَ حَتّٰی یُقْبَضَ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ وَلَا اَحْسِبُ کُلَّ شَیْءٍ اِلَّا مِثْلَهٗ. (متفق علیه)

ترجمه: حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونږه دکومے غلے داخستو نه منع کړے یو نو دا هغه غله ده چه په قبضه کښ د راوستو نه مخکښ خرڅه شی حضرت ابن عباس رضی الله عنه فرمائی زما دا ګمان دے چه (په دے باره کښ) هر شے دغلے په مثل دے.

فائده: د حدیث شریف مطلب دا دے چه هر څیز چه یو سړے واخلی نو چه قبض کړے ئے نه وی نو مخکښ دے په بل نه خرڅوی تجربه هم دا ده چه داسے سودانه بعضے اوقاتو کښ پریشانی جوړیږی.

دتجارت یو دوه اصول

[۲۹۵] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا تَلَقُّوا الرُّکْبَانَ لِبَیْعٍ وَلَا یَبِیْعُ بَعْضُکُمْ عَلٰی بَعْضٍ . (متفق علیه)

ترجمه: حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تاسو (دکوم یو مال راوړونکی) مخے له مه ورځی (چه په بے خبری کښ ترے سودا اوکړی) او هیڅ یو کس دے د بل په بیع بیع نه کوی.

یعنی چه یو خریدار د مال د خاوند سره بیع کوی نو بل دے پرے نه ورځی چه ماته دده نه دوه روپی ګران راکړه.

الدرس الستون ٦٠

نکاح کښ ولیمه پکار ده

[۲۹٦] **الحدیث الاول**: عن بریدةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّهٗ لَابُدَّ لِلْعُرْسِ مِنْ وَلِیْمَةٍ. صحیح (الجامع ج۱ص ٤٧٥)

ترجمه: دحضرت بریدهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی لابدی ده (یعنی ضروری ده) د واده دپاره ولیمه.

فائده: په نکاح کښ ولیمه سنت ده چه سړے کور ته بی بی راولی او هغے سره شپه تیره کړی

نو په صبا دے ولیمه ورکړی .ولیمه کښې تکلف نه دے پکار او نه ورله قرض کول پکار دی بلکه سادګی سره چه څه میسر اوموجود وی هغه خپلوانو یارانو دوستانو باندے اوخوری. بعضے خلق د ډولے راوړلو نه مخکښې بلکه د نکاح نه هم مخکښې ولیمه ورکوی دے طریقے سره ولیمه باندے سنت نه ادا کیږی .

بیع کښې دهوکه مه کوه

[۲۹۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَلَقُّوا الْجَلَبَ فَمَنْ تَلَقَّاهُ فَاشْتُرِیَ مِنْهُ فَاِذَا اَتَی سَیِّدُهُ فَهُوَ بِالْخِیَارِ (رواه مسلم)

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د څه مال اخستو دپاره د (دتجارتی قافلے دبازار نه بهر)مخے ته مه ورځی. کچرے کوم یو کس مخے ته ورغے او څه څیز ئے ترے واغستو نو مالك د مال ته اختیار دے کله چه بازار ته راشی .

فائده : چه قافلے به دبهر نه غله راوړه نو څه خلق به مخکښې ورغلل نو غله به ئے ترے ارزانه واغسته د بازاری نرخ نه نو هغوی سره به ئے دهوکه اوکړه یا به ئے غله دهغوی په ریټ واغستله خو بیا به ئے بازار کښې ستاك کړه نه به ئے خرڅوله گران قیمت به ئے غوستلو نو خلقو ته به ضرر وو نو پیغمبر علیه السلام ددے بیع نه دوی منع کړل. چه دے کښې یا دهوکه ده یا بل ته ضرر دے بعضے اوقاتو کښې بجټ کښې یو شی گران شی نو د بے خبره سړی نه ارزان اغستل هم دهوکه ده هغه خبرول لازم دی .

د مبیعے عیب بتکاره کولو کښې برکت دے

[۲۹۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَرَّ عَلٰی صُبْرَةِ طَعَامٍ قَالَ فَاَدْخَلَ یَدَهُ فَنَالَتْ اَصَابِعُهُ بَلَلًا فَقَالَ مَاهٰذَا یَا صَاحِبَ الطَّعَامِ قَالَ اَصَابَتْهُ السَّمَاءُ یَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ کَیْ یَرَاهُ النَّاسُ مَنْ غَشَّ فَلَیْسَ مِنِّی . (رواه مسلم)

ترجمه : هم دغه ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه (یوه ورځ) رسول الله ﷺ د غلے په یو ډهیری باندے تیریده او خپل لاس مبارك ئے په ډهیری کښې وردننه کړو چه گوتو پورے ئے لوند والے راغلے وے فرمائیل اے دغلے خاونده! دا لوندوالے ولے دے؟ هغه عرض اوکړو باران پرے شوے دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه بیا تاداد ډهیری د پاسه ولے نه دی اچولی لو (یاد اولری) چه کوم سړے چاته فریب دهوکه ورکوی هغه زمانه نه دے.یعنی زمونږ په طریقه نه دے.

فائده : یاد لرئی چه مبیعه کښې عیب نه خودل نفع کښې بے برکتی پیدا کوی او عیب خودلو سره تجارت کښې برکت رازی دا حقائق او تجربے دی وائی چه امام ابو حنیفهؒ وکیل ته کیږا ورکړه چه دا خرڅه کړه خو عیب دے پکښې دا ورته اوښایه هغه کیږه خرڅه کړه خو عیب ترے هیر شو چه

راغلے امام صاحب واپس کړو وے ورشه عیب ورته اوښایه هغه وکیل اغشتونکے ته عیب ښکاره کړو هغه اووئیل چه ځماد عیب سره قبوله ده خو ته اوگوره چه ځماپیسے کره دی که نه وکیل چه پیسے اوکتلے نو هغه کوته وے مشتری ورته اووئیل چه دا کوته پیسے گوزار کړه چه کره درکړم اوگورئی رونړو دا برکت د عیب خودلو دے چه پیسے کره ملاو شولے.

دصباح او د مازیگر د مونځ نه روستو نفل مکروه دی

(۲۹۹) **الحدیث الرابع** : عن عمرؓ انّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ نَهٰی عَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَالْفَجْرِ حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَعَنِ الصَّلٰوةِ بَعْدَالْعَصْرِ حَتّٰی تَغْرُبَ الشَّمْسُ.رواه الترمذی وقال حدیث حسن صحیح.

ترجمه : د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړیده د مانځه نه پس د مونځ د صبا نه او منع ئے کړے ده د مانځه نه پس دمونځ دمازیگر نه .

فائده : علماء وائی چه ددے حدیث په روشنی کښ د صبا او دمازیگر د مونځ نه روستو نفل مکروه دی البته د نورو دلائل په رنړا کښ دے اوقاتو کښ قضا مونځ راګرځول جائز دی.

گډے سرول سنت د انبیاء دی

(۳۰۰) **الحدیث الخامس** : عن عُبَیْدَةَ بْنَ حَزْنٍ یقول : تفاخر أهل الابل و أصحاب الشاة ، فقال النبی ﷺ بُعِثَ موسی علیه السلامُ و هو راعی غنمٍ ، و بُعِثَ داودُ علیه السلامُ و هو راعی غنمٍ ، و بُعِثْتُ أنا و أنا راعی غنمٍ بأجیادَ . (أخرجه البخاری فی التاریخ جـ ۲ صـ ۱۱۳ . اسناده صحیح . السلسلة جـ ۷ صـ ۵۰۰ رقم ۳۱۶۷)

ترجمه : د عبیدة بن حزن فرمائی چه فخر کولو خاوندانو د اوښانو او د چیلو په یو بل باندے نو اووئیل نبی ﷺ لیږلے شوے ؤو موسی علیه السلام پیغمبر او هغه گډے څرونکے او او لیږلے شو داود علیه السلام پیغمبر او هغه گډے څرونکے ؤو او ځه او لیږلے شومه پیغمبر او ما گډے څرولے په اجیاد مقام کښ .

فائده : د دے حدیث نه معلومه شوه چه گډے څرول سنت د انبیاء علیه السلام دی بل یو حدیث کښ راغلے دی چه نه دے تیر شوی یو پیغمبر مکر هغه گډے څرولے دی .

الدرس الحادی والستون ٦١

پیمانه او تول کښ بے احتیاطی سبب د هلاکت دے

(۳۰۱) **الحدیث الاول**: عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِاَصْحَابِ الْكَيْلِ وَالْمِيْزَانِ اِنَّكُمْ قَدْ وُلِّيْتُمْ اَمْرَيْنِ هَلَكَتْ فِيْهِمَا الْاُمَمُ السَّابِقَةُ قَبْلَكُمْ. (رواه الترمذی) فی باب ماجاء اغلیان والمستان .وقال الحاکم صحیح الاسناد قال الحافظ المنذری : کیف و حسین بن قیس متروك والصحیح عن ابن عباس موقوف کذا قاله الترمذی

(وغیره تحفة الاحوذی جـ ۳ صـ ۳٤۲)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ناپ تول والو نه اوفرمائیل چه ستاسو په ذمه داسے دوه کارونه (یعنی ناپ تول) دی چه دده په سبب مخکښ امتونه هلاك شوے دی.

نرخ الهی ځیز دے

(۳۰۲) **الحدیث الثانی** : عن انس رضی الله عنهُ غَلا السِّعْرُ عَلی عَهْدِالنَّبِیِّ ﷺ فَقالُوا یَارَسُوْلَ اللّٰهِ سَعِّرْ لَنَا فَقَالَ النَّبِیِّ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ هُوَالْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْباسِطُ الرَّازِقُ. صحیح (رواه الترمذی و ابو داؤد وابن ماجه والدارمی)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په زمانه کښ غله گرانه شوه صحابه کرامو عرض اوکړو .اے دخدائے رسوله! مونږ دپاره نرخ مقرر کړه . رسول الله ﷺ اوفرمائیل الله تعالیٰ نرخ مقررونکے دے. تنګی راوستونکے دے . رزق ورکونکے دے.

غله ستاك کول ګناه ده

(۳۰۳) **الحدیث الثالث**: عن معمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنِ احْتَکَرَ فَهُوَ خَاطِئٌ. (رواه مسلم)

ترجمه: حضرت معمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړے څه مال ګرانی ته ساتی هغه ګناه ګار دے.

فائده: دده دے حدیث نه معلومه شوه چه غله ستاك کول ښه کار نه دے نورو احادیثو کښ هم د دے نه منع راغلے ده او دیکښ دنیاوی او اخروی نقصانات دی . یو حدیث کښ دحضرت عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاجر هغه چه خلقو ته غله راوړی (الله تعالی) رزق ورکوی او ذخیره کونکے لعنتی دے.(دارمی ابن ماجه) او بل حدیث کښ راځی هغه هم دحضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړے غله اوساتی دپاره ددے چه په ګران نرخ ئے خرڅه کړی په مسلمان رور باندے نو الله تعالیٰ به دے په جذام (مرض) او په افلاس کښ مبتلاء کړی . یعنی په مالی او بدنی مصیبت کښ به مبتلاء شی.(ابن ماجه بیهقی)

ښځه به د خاوند حال نه وائی او سړی به د ښځے حال نه وائی

(۳۰٤) **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرةؓ قَالَ : دَخَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الْمَسْجِدَ ، وَ فِیْهِ نِسْوَةٌ مِنَ الْأَنْصَارِ ، فَوَعَظَهُنَّ وَ ذَکَّرَهُنَّ ، وَ أَمَرَهُنَّ اَنْ یَّتَصَدَّقْنَ وَ لَوْ مِنْ حُلِیِّهِنَّ ، ثُمَّ قَالَ : اَلا هَلْ عَسَتْ اِمْرَاَةٌ اَنْ تُخْبِرَ الْقَوْمَ بِمَا یَکُوْنُ مِنْ زَوْجِهَا اِذَا خَلابِهَا؟ ! الا هَلْ عَسَی رَجُلٌ اَنْ یُخْبِرَ الْقَوْمَ بِمَا یَکُوْنُ مِنْهُ اِذَا خَلا بِأَهْلِهِ؟ فَقَامَتْ مِنْهُنَّ اِمْرَأَةٌ سَفْعَاءُ الْخَدَّیْنِ فَقَالَتْ : وَاللّٰهِ! اِنَّهُمْ لَیَفْعَلُوْنَ ، وَ اِنَّهُنَّ لَیَفْعَلْنَ ! قَالَ : فَلا تَفْعَلُوْا ذَالِكَ ، اَفَلا اُنَبِّئُکُمْ مَا

مَثَلُ ذَالِكَ ؟ مَثَلُ شَيْطَانٍ اَتَى شَيْطَانَةً بِالطَّرِيْقِ ، فَوَقَعَ بِهَا وَالنَّاسُ يَنْظُرُوْنَ! . (أخرجه الخرائطي في مساوئ الأخلاق جـ ٢ صـ ٣٩ . و هذا اسناده حسن او قريب من الحسن . السلسلة جـ ٧ صـ ٤٣٥ رقم ٣١٥٣)

ترجمه: د حضرت ابی هریرهؓ نه روایت دے هغه فرمائی چه داخل شو رسول الله ﷺ جومات ته او په هغه کښ څه زنانه وے د انصارو نو وعظ اوکړو هغوئی ته رسول الله ﷺ او امر نے اوکړو چه خیرات اوکړئ اگر چه د کالو ستاسو نه وی بیا نے اووئیل خبر دار قریبه ده چه یوه ښځه قوم خبر کړی په هغه تعلق باندے چه وی د دے خاوند سره کله چه دوئی ځان ته شی. خبر دار قریبه ده یو سړی خبر کړی قوم لره په هغه تعلق چه وی د ده د خپل کور والا سره کله چه هغے سره ځان له شی ، نو ادریده یوه ښځه چه په مخ نے داغونه ؤو پس اووئیل چه قسم دے چه دا سړی دا کارونه کوی او دا ښځے هم دا کارونه کوی نو پیغمبر علیه السلام اووئیل دا کار مه کوئ ، آیا خبر نه درکومه تاسو ته د دوئی په مثال باندے د دوئی مثال په شان د شیطان دے چه راشی شیطانے ته په لار کښ او هغے سره جماع کوی او خلق ورته گوری .

د پنځو خطرناکو څیزونو نشاندهی

[٣٠٥] **الحديث الخامس** : عنْ أبی هريرةؓ قال : قال رسول الله ﷺ كان من دعائه صلى الله عليه وسلم : اللهمَّ إنی أعوذُ بكَ من جارِ السُّوءِ ، و من زوجٍ تشيّبنی قبلَ المشيب ، ومن ولد يكونُ علیّ رَبّاً ، و من مال يكونُ علیّ عذاباً ، و من خليلٍ ماكر عينَه ترانی ، و قلبُه يرعانی ، إن رأى حسنة دفنها ، و إذا رأى سيّئةً أذاعها . (أخرجه الطبراني في الدعاء . جـ ٣ صـ ١٣٣٩ . اسناده جيد . السلسلة جـ ٧ صـ ٣٧٧ رقم ٣١٣٧)

ترجمه: حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه وه د رسول الله ﷺ د دعاګانو نه دا دعا اے الله څه پناه غواړمه په تا باندے د ناکاره ګاونډی نه او د هغے ښځے نه چه بوډا کړی ما لره مخکښ د بوډاتوب نه او د هغے څوئی نه چه هغه ځما مالك اوګرزی او د هغے مال نه چه هغه ما د پاره سبب د عذاب شی او د هغے ملګری مکار نه چه سترګے د هغه وینی مالره او زړه د هغه نګرانی کوی ځما که نیکی اووینی نو هغه پټوی اوکه بدی اوینی نو هغه خوره وی.

فائده: په دے حدیث کښ خوږ نبی ﷺ د پنځو خطرناکو څیزونو نشاندهی کړے ده ، اول ناکاره ګاونډی ، دویم بداخلاقه ښځه ،دریم ناکاره بچے ، څلورم مذموم مال ، پنځم مکر کونکی ملګرے ، د دے پنځو نه پناه غوستل پکار دی .

الدرس الثانی والستون ٦٢

چاړه به د څاروی نه پټه تیره کوی

[٣٠٦] **الحديث الاول** : عنْ عبد الله : أن رسول الله ﷺ أمر بحدّ الشّفار ، وأن توارى عن البهائم ، و إذا

ذبح احدكم ؛ فليُجهِز . (أخرجه أحمد جـ ٢ صـ ١٠٨ . إسناده حسن . السلسلة جـ ٧ صـ ٣٥٦ . رقم : ٣١٣٠)

ترجمه : د عبد اللهؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ حکم کړی دے په تیرولو د چرے باندے او دا چه دا دے پتـه تیره کړے شی د څناورو نـه او کله چه ذبح کوی یو د ستاسو نه نو جلدی دے اوکړی په ذبح کولو کښ .

ستوان خوږ او شپیلی وهل نه کیږی

[٣٠٧] **الحديث الثاني** : عن ابى هريرةؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا أَضَرَّ بِالآخِرَةِ ، وَ مَنْ طَلَبَ الآخِرَةَ أَضَرَّ بِالدُّنيا ! فَاضِرُّوا بِالْفَانى لِلْبَاقِى . (أخرجه ابن أبى عاصم فى الزهد . ٧٨/ ١٦١ . إسناده حسن . السلسلة جـ ٧ صـ ٨٤٩).

ترجمه: حضرت ابی هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك(زیاته) طلب کړی دنیا نو کمے به راولی په (ترقی) د آخرت کښ او څوك چه (زیات) طلب کړی آخرت لره نو کمے به راولی په(ترقی) د دنیا کښ نو کمے راولیٔ په دنیا کښ (چه فانی ده) د پاره د آخرت چه باقی دے .

فائده : دے حدیث دا خبره په نښه کړله چه دنیا او آخرت کښ د کوم یو د پاره کوشش زیات کوی نو بل کښ به کمے راځی اونبیارتیا دا ده چه سړے زیات کوشش د باقی د پاره اوکړی چه آخرت دے .

سل ځله سبحان الله زر نیکیٔ دی

[٣٠٨] **الحديث الثالث** : عن مصعب بن سعد قال كنا عند رسول الله ﷺ فقال : أيعجزُ أحدُكم ان يكسب كلَّ يومٍ الفَ حسنةٍ ؛ فساله سائلٌ من جُلسائه : كيف يكسبُ احدُنا الف حسنةٍ؟ قَالَ : يُسَبِّحُ مِئَةَ تَسْبِيْحَةٍ ؛ فَيُكْتَبُ لَه اَلْفُ حَسَنَةٍ ، اَوْ يُحَطُّ عَنْهُ اَلْفُ خَطِيْئَةٍ . (رواه مسلم جـ ٨ صـ ٧١)

ترجمه : حضرت مصعب بن سعد وائی چه او مونږه د رسول الله ﷺ سره نو اوتے فرمائیل چه آیا عاجز دے یو ستاسو نه چه کسب اوکړی د زرو نیکو هره ورځ نو تپوس اوکړو یو تپوس کونکی د ناستو کسانو نه څنګه به حاصلے کړی یو څمونږه نه سل نیکے ؟ نو اوفرمائیل رسول الله ﷺ تسبیح به اوائی سل کرته نو اویه لیکلی شی د هغه د پاره زر نیکیٔ او یا به معاف شی هغه ته زر ګناهونه .

د رښتیا ویونکی تاجر مقام

[٣٠٩] **الحديث الرابع** : عن ابى سعيد رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ اَلْاَمِيْنُ مَعَ النَّبِيِّيْنَ وَالصِّدِّيْقِيْنَ وَالشُّهَدَاءِ . (رواه الترمذى والدارمى والدارقطنى ورواه ابن ماجه عن ابن عمر والحديث ثابت .

(السلسلة الاحاديث رقم ٣٤٥٣)

ترجمه: دحضرت ابوسعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه نهایت ریشتونے او امانت دار تاجر به دنبیانو ، صدیقینو او شهداؤ سره یو ځائے وی.

فائده: درجه د انبیاؤ ډیره اوچته ده هغے ته نور خلق نه رسی خو ددے کسانو چه مندرجه بالا احادیثو کښ ذکر اوشو نو ددوی انبیاؤ سره به ناسته پاسته کیگی او دوی ته به هغوی سره دخبرو اترو شرف حاصلیگی ، نو دے حدیث کښ د امانت دار تاجر فضیلت بیان شو څو یاد لرئ دا مطلب نه دے چه دوئی هغه سره په درجه کښ برابر دے .

د تنگ دست نه تجاوز سبب د معافئ دے

[٣١٠] **الحديث الخامس**: عن ابی هريرة رضی الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ كَانَ رَجُلٌ يُدَايِنُ النَّاسَ فَكَانَ يَقُوْلُ لِفَتَاهُ إِذَا أَتَيْتَ مُعْسِرًا تَجَاوَزْ عَنْهُ لَعَلَّ اللّٰهَ أَنْ يَتَجَاوَزَ عَنَّا قَالَ فَلَقِيَ اللّٰهَ فَتَجَاوَزَ عَنْهُ. (متفق عليه)

ترجمه: حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه (په تیره زمانه کښ) یو سړے وو خلقو سره به ئے قرض کولو او خپلو نوکرانو ته به ئے ویل چه کله تاسو یو ناچار قرضداری ته ورغلئ نو درگذر کوئ ورسره (یعنی پریږدئ ورته) شاید چه الله تعالیٰ ماسره درگذر اوکړی چنانچه کله ئے چه دالله تعالیٰ سره ملاقات اوشو(یعنی انتقال ئے اوشو) نو الله ورسره درگذر اوکړو (یعنی په گناهونو کښ ئے اونه نیوو).

الدرس الثالث والستون ٦٣

د نجات یو سبب

[٣١١] **الحديث الاول**: عن ابی قتادة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُنْجِيَهُ اللّٰهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ أَوْ يَضَعْ عَنْهُ. (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړے دا غواړی چه الله تعالیٰ ده ته د قیامت په ورځ د سختو نه نجات ورکړی نو ده له پکار دی چه ناداره قرضدارو ته مهلت ورکړی یائے ورته معاف کوی.

د وفادارئ صفت د انبیاء کرامو دے

[٣١٢] **الحديث الثانی**: عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ : أَنَّ هِرَقْلَ قَالَ لَهُ : سَأَلْتُكَ مَاذَا يَأْمُرُكُمْ؟ فَزَعَمْتَ : أَنَّهُ أَمَرَكُمْ بِالصَّلَاةِ ، وَالصِّدْقِ ، وَالعَفَافِ ، وَالوَفَاءِ بِالعَهْدِ ، وَأَدَاءِ الأَمَانَةِ ، قَالَ : وَهَذِهِ صِفَةُ نَبِيٍّ - رواه البخاری . رقم ٢٥١٢.

ترجمه : حضرت عبيد الله بن عبد الله نه روايت دے ہے شكه هرقل اونيل ابو سفيان نه ما تانه تپوس اوكړو دے تاسو ته په څه حكم كوى ؟ او تا گمان اوكړو چه دے تاسو ته نے امر كړے دے په مانځ سره په رشتيا سره او به پاكدامنۍ سره او په پوره والى دوعدے سره او په ادا د امانت سره او اونيل هرقل بادشاه دا صفت د پيغمبر دے .

قرض كښې مهلت وركول هم ثواب دے

[٣١٣] **الحديث الثالث** : عن عمران بن حصين رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ كَانَ لَهٗ عَلٰى رَجُلٍ حَقٌّ فَمَنْ اَخَّرَهٗ كَانَ لَهٗ بِكُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ . (رواه مسلم)

ترجمه : دحضرت عمران بن حصين رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه ديو سړى په چا باندے حق وى او دے پكښې (قرضدارى) ته تاخير اوكړى. نو ده ته دهر ے ورځے په بدله كښې ديو ے صدقے ثواب وركولے شى.

دقرض اداكولو كښې تاخير ظلم دے

[٣١٤] **الحديث الرابع** : عن ابى هريرة رضى الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ. (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه غنى لره (دقرض په ادا كولو) كښې تاخير كول ظلم دے.

دقرض اغستو په وخت داداكولو نيت پكار دے

[٣١٥] **الحديث الخامس** : عن ابى هريرة رضى الله عنه عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ مَنْ اَخَذَ اَمْوَالَ النَّاسِ يُرِيْدُ اَدَاءَ هَا اَدَّى اللّٰهُ عَنْهُ وَمَنْ اَخَذَ يُرِيْدُ اِتْلَافَهَا اَتْلَفَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ. (رواه البخارى)

ترجمه : حضرت ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه چا د چا نه مال واخسته (يعنى څه قرض ئے ترے واخسته) او د وركولو اراده ئے وه (يعنى دائے يقين وو چه داپرده قرض دے او څه به ئے وركوم) نو الله تعالىٰ به ئے ترے ادا كړى (يعنى الله تعالىٰ به ئے مدد اوكړى)او چاچه مال واغستو (دچانه) او دضائع كولو اراده ئے وه (يعنى د وركولو نيت ئے نه وو تګ وو) نو الله تعالىٰ به دغه مال ده نه ضائع كړى.

فائده: د حديث نه معلومه شوه چه د چا مال ته نيت مه خرابه وه پښتانه وائى نيت صفا منزل آسان.

الدرس الرابع والستون ٦٤

په قرض دار به نبى عليه السلام جنازه نه كوله

[٣١٦] **الحديث الاول** : عن ابى سعيد ن الخدرى رضى الله عنه قَالَ اُتِيَ النَّبِيُّ ﷺ بِجَنَازَةٍ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهَا

فَقَالَ هَلْ عَلٰى صَاحِبِكُمْ دَيْنٌ قَالُوا نَعَمْ قَالَ هَلْ تَرَكَ لَهُ مِنْ وَفَاءٍ قَالُوا لَا قَالَ صَلُّوْا عَلَيْهِ قَالَ عَلِيُّ بْنُ اَبِي طَالِبٍ عَلَيَّ دَيْنُهُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَتَقَدَّمَ فَصَلّٰى عَلَيْهِ. (رواه فی شرح السنة ، وله شاهد عن روایة ابی قتادة وهو صحیح)

ترجمه : دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ ته یو جنازه راغله خلقو نه ئے تپوس اوکړو ستاسو په دے ملګری څه قرض شته ؟ (هغوی) عرض اوکړو آو شته بیائے تپوس اوکړو چه دقرض دخلاصیدو دپاره ئے څه پریخی دی یا نه ؟ عرض اوشو نا اے دخدائے رسوله . رسول الله ﷺ اوفرمائیل تاسو د خپل ملګری جنازه اوکړی.(یعنی په خپله جنازے ته نه وراندے کیده) حضرت علی رضی الله عنه عرض اوکړو اے دخدائے رسوله (تاسو پرے جنازه اوکړی)او دده قرض ادا کول زما په ذمه شو چنانچه رسول الله ﷺ مخکښ شو او مونځ د جنازے ئے پرے اوکړو.

فائده: پښتانه وائی قرض بدے ورځے له څی د حدیث شریف حاصل دا دے چه حَتَّى الْاِمْكَان د قرض نه پرهیز ضروری دے وائی " القرض مقراضُ المُحبة "قرض د محبت قینچی ده .

د ماسخوتن دجمعے نه مخکښ خوب منع دے

[۳۱۷] **الحدیث الثانی**: عن ابی برزة كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَكْرَهُ النَّوْمَ قَبْلَ الْعِشَاءِ وَالْحَدِيْثَ بَعْدَهَا. (رواه الترمذی وقال حدیث ابی برزة حدیث حسن صحیح جـ ۱ صـ ۱۳۹)

ترجمه: دحضرت ابی برزة رضی الله عنه نه روایت دے چه نبی ﷺ به بد ګنړلو خوب مخکښ د ماسخوتن دجمعے نه او خبرے روستو د مونځ دماسخوتن نه.

فائده: بغیر دڅه عذر شرعی نه د مانځه نه مخکښ اوده کیدل منع دی ځکه دے کښ د ماسخوتن د جمعے دفوت کیدو خطره ده دارنګے د ماسخوتن د مانځه نه روستو فضول خبرے منع دی ځکه دا د تهجدو او دسحر دمونځ دجُمعے نه د محروم کیدو سبب ګرځی الښته که دینی درس تدریس یا دعلم مذاکره وی یا د خپل اهل سره ضروری خبرے وی یا دمیلمه سره خبرے وی نو دهغے اجازت بقدر ضرورت شته دے ددے نه علاوه د حجرے او لارو ګپے سپے او فضول خبرے د ماسوختن د مونځ نه روستو منع دی.

د بنده روح دقرض ادا کولو پورے زوړند وی

[۳۱۸] **الحدیث الثالث**: عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ حَتّٰى يُقْضٰى عَنْهُ. صحیح. (رواه الشافعی واحمد والترمذی وابن ماجه والدارمی)

ترجمه : دحضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه د (بنده) مومن روح دقرض په وجه تر هغے وخته پورے معلق وی څو پورے چه دده قرض ادا شوے نه وی.

دمیرات دتقسیم نه مخکښې دمړی قرض ادا کول

[۳۱۹] **الحديث الرابع** عن سعد بن الاطول رضی الله عنه قَالَ مَاتَ اَخِیْ وَتَرَكَ ثَلٰثَ مِاۃِ دِیْنَارٍ وَتَرَكَ وَلَدًا صِغَارًا فَاَرَدْتُ اَنْ اُنْفِقَ عَلَيْهِمْ فَقَالَ لِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اَخَاكَ مَحْبُوْسٌ بِدَيْنِهٖ فَاقْضِ عَنْهُ قَالَ فَلَمْتُ فَقَضَيْتُ عَنْهُ ثُمَّ جِئْتُ فَقُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ قَضَيْتُ عَنْهُ وَلَمْ تَبْقَ اِلَّا امْرَاَۃٌ تَدَّعِیْ دِيْنَارَيْنِ وَلَيْسَتْ لَهَا بَيِّنَةٌ قَالَ اَعْطِهَا فَاِنَّهَا صَادِقَةٌ. صحيح. (رواه احمد)

ترجمه: دسعد بن اطول رضی الله عنه نه روایت دے چه ځما رور مړ شو او درے سوه دیناره او واړه واړه بچی ئے پاتے شو . ما دا اراده اوکړه چه دا (درے سوه دیناره) په دے ماشومانو خرچ کړم چنانچه رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل چه ستاسو رور په (برزخ) کښې دخپل قرض په وجه قید شوے دے ته (مخکښې د خپل رور) له طرفه قرض خلاص کړه . سعد رضی الله عنه فرمائی ما فوراً د هغه قرض خلاص کړو او بیا راغلم عرض مے اوکړو اے دخدائے رسوله! ما قرض (تول) خلاص کړو هیڅ پاتے نه شو مګر یوه زنانه د دوو دینارو دعوی کوی او څوك ګواه ئے نیشته وے فرمائیل هغے ته ئے هم ورکړه . ځکه چه هغه رشتیا وائی.

چه قرض ادا نه کړی دهغے وعید

[۳۲۰] **الحديث الخامس** عن ابی موسیٰ رضی الله عنه عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ اِنَّ اَعْظَمَ الذُّنُوْبِ عِنْدَاللّٰهِ اَنْ يَّلْقَاهُ بِهَا عَبْدٌ بَعْدَالْكَبَائِرِ الَّتِیْ نَهَى اللّٰهُ عَنْهَا اَنْ يَّمُوْتَ رَجُلٌ وَعَلَيْهِ دَيْنٌ لَا يَدَعُ لَهٗ قَضَاءً (رواه احمد فی مسنده ص ٤٩٤ ج ١٤ رقم ١٩٣٨٧ ،قال همزة زبن اسناده ضعيف و أخرجه ابوداؤد و هو الصحيح عنده ص ٢٣٠ ج ٥ رقم ٣٣٢٢، وابوداؤد)

ترجمه: دحضرت ابوموسیٰ رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه دتولو نه لویه ګناه دهغه ګناهونو نه چه الله تعالیٰ ترے منع فرمائیلے ده،هغه داده چه سړے مړ شی په داسے حال کښې چه پردے قرض پرے وی او دهغے دادا کیدو دپاره ئے هیڅ نه وی پریخے.

الدرس الخامس والستون ٦٥

چا چه دبل چا زمکه اونیوله دهغے وعید

[۳۲۱] **الحديث الاول** عن سعيد بن زيد رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَخَذَ شِبْرًا مِنَ الْاَرْضِ فَاِنَّهٗ يُطَوَّقُهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ اَرْضِيْنَ . (متفق عليه)

ترجمه: دحضرت سعد بن زید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هر چا (دچا نه) په ظلم سره یو لیشت (یازیاته) زمکه اونیوله نو دقیامت په ورځ به الله تعالیٰ ده ته

د اوومے زمکے پورے غاړه کښ بطور طوق واچوی.(یعنی د اوومے زمکے پورے به نے الله په زمکه کښ خخ کړی)

اقامت دچا حق دے

[۳۲۲] **الحدیث الثانی**: عن زیاد بن الحارث الصدائی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَمَنْ اَذَّنَ فَهُوَ يُقِيْمُ. (رواه الترمذی ج ۱ص ۱٤۸۰ وحسنه الحازمی وقواه العقیل وابن الجوزی واخرجه ابوداؤد وابن ماجه تحفة الاحوذی ج۱ص ۵۰۹)

ترجمه: دحضرت زیاد بن الحارث الصدائی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی څوك چه اذان اوکړی هم هغه به اقامت کوی.

فائده: علماء وائی چه ادب او مستحب دادی چه څوك بانګ اووائی هغه به اقامت کوی او کچرے بل څوك نے اوکړی نو هم جائز دے البته که چرے بانګ ویونکے پرے ناراض وی نو بیا مکروه دے.

په خپل لاس کتلے شوے رزق بهترین رزق دے

[۳۲۳] **الحدیث الثالث**: عن المقدام بن معدی کرب رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اَكَلَ اَحَدٌ طَعَامًا قَطُّ خَيْرًا مِنْ اَنْ يَّاْكُلَ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ وَاَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلَامُ كَانَ يَاْكُلُ مِنْ عَمَلِ يَدَيْهِ. (رواه البخاری)

ترجمه: دحضرت مقدام بن معدی کرب رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هیڅ یو کس هیڅ کله د خپل لاس د کتلی رزق نه بهتر رزق نه دے خوړلے (هم دا وجه ده) دالله پیغمبر حضرت داؤد علیه السلام د خپلو لاسونو محنت سره د کتلے شوی مال نه رزق خوړو.

حرام خور باندے جنت حرام دے

[۳۲٤] **الحدیث الرابع**: عن ابی بکر رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِيَ بِالْحَرَامِ. (رواه البیهقی فی شعب الایمان ، و رواه ابو یعلی والبزار والطبرانی فی الاوسط و رجاله ابی یعلی ثقات و فی بعضهم خلاف (مجمع الزوائد)

ترجمه: دحضرت ابوبکر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم بدن چه د حرام مال نه پرورش شوے وی هغه به جنت ته نه داخلیگی.

فائده: مطلب د حدیث شریف دا دے چه حرام خور به هله جنت ته ځی چه د حرامو سزا اوځکی او د هغے نه مخکښ د قانون مطابق جنت ته نه شی تلے اوکه الله تعالی ئے بغیر د سزا نه جنت ته بوځی نو هغه قادر مطلق دے بوتلے شی.

چه نیکی له ځی هغه قدمونه لیکلے شی

[۳۲۵] **الحدیث الخامس** : عن ابی سعید الخدری قال : کَانَتْ بَنُوْ سَلْمَةَ فِی نَاحِیَةِ الْمَدِیْنَةِ ، فَأَرَادُوْا النُّقْلَةَ إِلَی قُرْبِ الْمَسْجِدِ ، فَنَزَلَتْ هٰذِهِ الآیة : [إِنَّا نَحْنُ نُحْیِ الْمَوْتٰی وَ نَکْتُبُ مَا قَدَّمُوْا وَ آثَارَهُمْ] فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ آثَارَکُمْ تُکْتَبُ . (أخرجه الترمذی رقم ۳۲۲۶ . اسناده صحیح . السلسلة جـ ۷ صـ ۱٤٥۱)

ترجمه : حضرت ابی سعید خدریؓ نه روایت دے چه بنو سلمه قبیله د مدینے یو طرف ته اوسیدل نو اراده ئے اوکړه چه د مسجد نبوی خوا ته راشی نو دا آیت [إِنَّا نَحْنُ نُحْیِ...الایة] نازل شو ، نو پیغمبر ﷺ اووئیل بے شکه لیکلی شی قدمونه ستاسو .

الدرس السادس والستون ٦٦

د حلال حرام تمیز لازم دے

[۳۲٦] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَاْتِیْ عَلَی النَّاسِ زَمَانٌ لَا یُبَالِی الْمَرْءُ مَا اَخَذَ مِنْهُ اَمِنَ الْحَلَالِ اَمْ مِنَ الْحَرَامِ . (رواه البخاری)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه په خلقو به یو داسے زمانه راشی چه سړی ته کوم مال ملاویگی نو دا پروا به ئے نه کوی چه حلال دے که حرام .

فائده : یاد لری چه حرام خوری دینداری او عبادات برباده وی د دے وجے نه په هر مسلمان باندے د حرام خوری بلکه د مشتبه څیز چه حل حرمت ئے واضح نه وی هغے نه هم ځان ساتل لازم دی.

دشبهاتو نه ځان ساتل د دین د حفاظت د پاره ضروری دی

[۳۲۷] **الحدیث الثانی** : عن النعمان بن بشیر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْحَلَالُ بَیِّنٌ وَالْحَرَامُ بَیِّنٌ وَبَیْنَهُمَا مُتَشَابِهَاتٌ لَا یَعْلَمُهُنَّ کَثِیْرٌ مِّنَ النَّاسِ فَمَنِ اتَّقَی الشُّبْهَاتِ اِسْتَبْرَأَ لِدِیْنِهٖ وَعِرْضِهٖ وَمَنْ وَقَعَ فِی الشُّبْهَاتِ وَقَعَ فِی الْحَرَامِ . (متفق علیه)

ترجمه : دحضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه حلال ظاهر دی او حرام هم ظاهر دی او ددے دواړو په مینځ کښ مشتبه څیزونه دی چه ډیر خلق ئے نه پیژنی . لهذا چا چه د مشتبه څیزونو نه پرهیز اوکړو نو ده خپل دین او عزت محفوظ اوساتو او چه کوم سړے په مشتبه څیزونو کښ مبتلا شو نو (آخر کار) په حرامو کښ اخته شی.

فائده: د مشتبه مطلب دا دے چه د هغے حل حرمت (حلال والے او حرام والے) واضح نه وی مثلاً یو څیز دے هغے کښ ستا دا شك دے چه دا څما دے که د بل نو احتیاط دا دے چه هغه مه استعماله وه.

کوم څیز چه د شك کښ اچوی هغه پریده

[۳۲۸] **الحدیث الثالث:** عن الحسن بن علی رضی الله عنه قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ دَعْ مَا یُرِیْبُكَ اِلٰی مَالَا یُرِیْبُكَ فَاِنَّ الصِّدْقَ طَمَانِیْنَةٌ وَاِنَّ الْكِذْبَ رِیْبَةٌ. صحیح. (رواه احمد والترمذی والنسائی والدارمی)

ترجمه: دحضرت حسن بن علی رضی الله عنه نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه ارشاد مبارك یاد ساتلے دے وے فرمائیل چه هر هغه شے چه تاسو په شك کښ واچوی (یعنی تاسو ته شك وی چه حلال دے یا حرام) نو تاسو ئے پریکدی او دهغه شی طرفته میلان اوکړی کوم چه تاسو په شك کښ نه اچوی (یعنی ستاسو یقین وی چه دا پاك او حلال دے) بے شك رشتیا اطمینان دے او دروغ پریشانی ده.

انسان به متقی څنګه جوړیګی؟

[۳۲۹] **الحدیث الرابع:** عن عطیّة السعدی رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا یَبْلُغُ الْعَبْدُ اَنْ یَّكُوْنَ مِنَ الْمُتَّقِیْنَ حَتّٰی یَدَعَ مَالَا بَاْسَ بِهٖ حَذَرًا لِمَا بِهٖ بَاْسٌ. حسن. (رواه الترمذی وابن ماجه)

ترجمه: دحضرت عطیه سعدی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هیڅ یو بنده د پرهیزګارو درجے ته نه شی رسیدلے څو پورے چه هغه څیزونه پرے نه دی چه دکومو (په خوراك یا استعمال) کښ هیڅ عیب نه وی. دے دپاره چه هغه څیزونو ته اونه رسیګی چه په کومو کښ عیب وی.

حلال رزق ګټل فرض دی

[۳۳۰] **الحدیث الخامس:** عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ طَلَبُ كَسْبِ الْحَلَالِ فَرِیْضَةٌ بَعْدَ الْفَرِیْضَةِ. (رواه البیهقی فی شعب الایمان، وله شواهد یؤکد بعضها بعضاً. المقاصد الحسنه ج ۱ ص ۵۰۵).

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه (دبنده مومن دپاره) دحلال رزق ګټل د فرضونه پس یو فرض دی.

فائده: حلال رزق له کوشش کول فرض دی ځکه حرام خوری سره ټول عبادات بربادیږی داسے وائی چه په یوه پردئ پیسے کښ به پنځه سوه قبول شوے مونځو نه د سړی نه اعشتلے شی.

الدرس السابع والستون ﴿٦٧﴾

دحج نه بعد کورته په جلدی راتلل پکار دی

[٣٣١] **الحديث الاول**: عن عائشة قالت قال رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا قَضٰى اَحَدُكُمْ حَجَّهُ فَلْيُعَجِّلْ بِالرُّجُوعِ إِلٰى اَهْلِهِ إِنَّهُ اَعْظَمُ لِاَجْرِهِ . رواه الحاكم والبيهقي في سننه ورمز السيوطي بصحته وقال الذهبي بالمهذب سنده قوي جامع الشمل جلد ٢ صـ ٢٦٤.

ترجمه: دحضرت عائشة رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هر کله پوره کړی یو ستاسو نه حج خپل نو واپسی کښ دے جلدی اوکړی اهل خپل ته . بے شك دا دیر لویه خبره ده دپاره داجر دده.

د رسول الله ﷺ دشفاعت د حصول طریقه

[٣٣٢] **الحديث الثاني**: عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ زَارَنِيْ بِالْمَدِيْنَةِ مُحْتَسِبًا كُنْتُ لَهُ شَهِيْدًا وَشَفِيْعًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ . رواه البيهقي ورمز السيوطي بحسنه وحكم الالباني بضعفه جامع الشمل جـ ٢ صـ ٢٧٠

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوك چه زما زیارت په مدینه منوره کښ د ثواب په نیت اوکړی نو څه به دده دپاره گواه او سفارش کونکے یم په ورځ د قیامت .

لنگ څاروے ساتل پکار دی

[٣٣٣] **الحديث الثالث**: عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَذْبَحَنَّ ذَاتَ دَرٍّ . رواه الترمذي ورمز السيوطي بحسنه جامع الشمل جـ٢ صـ ٢٦٤ ، وقال الباني صحيح.

ترجمه: حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه پیو والا څناور مه ذبح کوی.

فائده: پی چونکه فائد مند څیز دے دے وجے پیو والا څناور بے ضرورته ذبح کول مناسب نه دی.

دخپلے ښځے سره محبت عبادت دے

[٣٣٤] **الحديث الرابع**: عن ابی سعيد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا نَظَرَ إِلٰى اِمْرَاَتِهِ وَنَظَرَتْ إِلَيْهِ نَظَرَ اللّٰهُ إِلَيْهِمَا نَظَرَ رَحْمَةٍ فَإِنْ اَخَذَ بِكَفِّهَا تَسَاقَطَتْ ذُنُوْبُهُمَا مِنْ خِلَالِ اَصَابِعِهِمَا. رمز السيوطي بصحته والالباني بضعفه جامع الشمل جـ٢ صـ٢٩٧

ترجمه: دحضرت ابوسعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی سړے

چه کله اوګوری خپلے بی بی نه او هغه ده نه اوګوری نو دے دواړو ﷺ نه الله په نظر درحمت اوګوری. نو که دے داد لاس نه اونیسی نو دده دے دواړو ګناهونه به ددوی دګوتو د مینځ نه اوځی.

دخاوند حق په بنځه باندے

[۳۳۵] **الحدیث الخامس** عن ابی سعید قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَقُّ الزَّوْجِ عَلٰی زَوْجَتِهٖ اَنْ لَّوْ کَانَ بِهٖ قَرْحَةٌ فَلَحَسَتْهَا مَا اَدَّتْ حَقَّهٗ . رواه الحاکم و صححه و رمز السیوطی بحسنه جامع الشمل جـ۲ـ ۳۰۵

ترجمه : دحضرت ابوسعید رضی الله عنه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی " حق د خاوند په بنځه باندے (دومره ډیر دے) کچرے په خاوند باندے زخم وی او دا بنځه هغه په ژبه اوستی (صفا ئے کړی) نو دا به دخاوند حق ادا نه کړی.

الدرس الثامن والستون ٦٨

حق دبنځے په خاوند

[۳۳۶] **الحدیث الاول** :عن معاویة بن حیده قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَقُّ الْمَرْاَةِ عَلَی الزَّوْجِ اَنْ یُّطْعَمَهَا اِذَا طَعِمَ وَیَکْسُوَهَا اِذَا کَتَسٰی وَلَا یَضْرِبُ الْوَجْهَ وَلَا یُقَبِّحُ وَلَا یَهْجُرُ اِلَّا فِی الْبَیْتِ . رواه الطبرانی فی کبیره والحاکم فی مستدرکه وصححه واقره الذهبی (جامع الشمل جـ ۲ صـ ۳۰۶)

ترجمه : دحضرت معاویه بن حیده نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی حق دبنځے په خاوند دادے چه روټی به ورکوی کله چه په خپله خوری او جامے به ورکوی کله چه په خپله اغوندی ، په مخ به ګوزار نه ورکوی او بدے ردے به ورته هم نه وائی او جدائی به ترینه هم نه اختیاروی مګر په کور کښ.

فائده: په دے حدیث شریف کښ د بنځے پنځه حقوق ذکر شو یو خوراک ورکوی دویم جامه به ورکوی دریم په مخ به ئے نه وهی څلورم ردے بدے به ورته نه وائی پنځم کور کښ به ئے ځان له نه پریګدی .

وتر کوه بیا اوده کیګه

[۳۳۷] **الحدیث الثانی** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَسْاَلِ الرَّجُلَ فِیْمَ ضَرَبَ اِمْرَاَتَهٗ وَلَا تَنَمْ اِلَّا عَلٰی وِتْرٍ . رواه احمد وابن ماجه والحاکم وصححه واقره الذهبی (جامع الشمل جـ ۲ صـ ۳۱۳)

ترجمه: دابن عمرؓ نه نقل دے چه پیغمبرؐ فرمائیلی دی دسړی نه تپوس مه کوه چه بنځه ډ ولے اووهله او مه اوده کیګه مګر دوتر کولو نه بعد.

فائده: بهتره داده چه د سړی په ځان په اخرد شپه کښې دباسدو اعتماد وی چه وتر به په اخرد شپه کښې اوکړی نو ببا دے اخرد شپے نه پریګدی خو اکثر سړے وتر اخرد شپے نه پریګدی او ببا پاته سی ددے وجے پیغمبر ؐ اوفرمائیل چه مه اوده کیګی مګر د وتر کولو نه روستو.

دزمزم په اوبو ځان ډیډه کول علاج د نفاق دے

(۳۳۸) **الحديث الثالث** عن ابن عباس ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلتَّضَلُّعُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ بَرَاءَةٌ مِّنَ النِّفَاقِ

والحديث رمز السيوطي لحسنه ورواه الازرقي في اخبار مكه انظر فيض القدير حـ ۳ صـ ۲۸۳ ، جامع الشمل لمحمد بن يوسف بن عيسى اصفش الحفصي المتوفى ۹۱۳۳۲ھ

ترجمه: دابن عباس ؓ روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی ځان پوره مړول د آب زمزم نه براءت دے د نفاق نه.

فائده: دے حدیث شریف دا خبره په ښه کړه چه کوم سړے د زمزم اوبه ډیرے اوځکی چه بیته پرے ځان ډیډه کړی نو الله تعالی به ئے د نفاق نه محفوظ کړی.

زیادت په علم کښې بهتر دے دزیادت د عبادت نه

(۳۳۹) **الحديث الرابع:** عن حذيفة بن اليمان ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَضْلُ الْعِلْمِ خَيْرٌ مِنْ فَضْلِ الْعِبَادَةِ وَخَيْرُ دِيْنِكُمُ الْوَرَعُ . رواه الطبراني والبزار باسناد حسن (المنحر الرابع صـ ٦)

ترجمه: دحضرت حذیفه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی زیات والے دعلم بهتر دے د زیادت د عبادت نه او بهترین دینداری ستاسو ځان ساتل دی د شبهاتو نه.

علم صدقه جاریه ده

(۳٤۰) **الحديث الخامس:** عن ابى هريرة ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا مَاتَ ابْنُ آدَمَ اِنْقَطَعَ عَمَلُهٗ اِلَّا مِنْ ثَلَاثٍ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ اَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهٖ اَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُوْلَهٗ . (رواه مسلم)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه کله مړ شی ابن آدم نو کټ شی عمل دده مګر درے ځیزه (۱) صدقه جاریه (۲) یا علم چه په هغے فائده اغستے شی (۳) یا نیک بچے چه ده له دعا غواړی.

الدرس التاسع والستون ٦٩

ددعوت ثواب

(۳٤۱) **الحديث الاول:** عن سهل بن سعد اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ وَاللّٰهِ لَاَنْ يَّهْدِىَ بِهُدَاكَ رَجُلٌ وَّاحِدٌ خَيْرٌ لَّكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ . رواه ابوداؤد وهو في الصحيحين في حديث طويل (المنحر الرابع صـ ٢٩)

ترجمه: د حضرت سهلؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل " قسم په الله تعالیٰ دے که په هدایت شی ستا په دعوت سره یو سړے نو دا بهتر ده ستا دپاره د سرو او ښانو نه.

دګناهونو وینځونکی خبرونه

(۳٤۲) **الحديث الثاني** : عن علىٍّ انَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اِسْبَاغُ الْوُضُوْءِ عَلَى الْمَكَارِهِ وَكَثْرَةُ الْخُطَا اِلَى الْمَسَاجِدِ وَانْتِظَارُ الصَّلٰوةِ بَعْدَ الصَّلٰوةِ يَغْسِلُ الْخَطَايَا غَسْلاً . رواه البزار باسناد صحيح (المنجر صـ ٤١)

ترجمه: دحضرت علی نه نقل دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل مکمل اودس کول په یخنی کښ او پیر قدمونه جوماتونو ته اخستل او انتظار د مانځه پس دمانځه نه وینځی ګناهونه په وینځلو سره.

دمسواك یو ناشنا فضیلت

(۳٤۳) **الحديث الثالث** : وَعَنْ عَلِيٍّ اَنَّهُ اَمَرَ بِالسِّوَاكِ وَقَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الْعَبْدَ اِذَا تَسَوَّكَ ثُمَّ قَامَ يُصَلِّي قَامَ الْمَلَكُ خَلْفَهُ فَيَسْتَمِعُ لِقِرَاءَتِهِ فَيَدْنُوْ مِنْهُ كُلَّمَا قَرَاَ اٰيَةً اَوْ كَلِمَةً نَحْوَهَا حَتّٰى يَضَعَ فَاهُ عَلٰى فِيْهِ فَمَا يَخْرُجُ مِنْ فِيْهِ شَيْءٌ مِّنَ الْقُرْاٰنِ اِلَّا صَارَ فِيْ جَوْفِ الْمَلَكِ فَطَهِّرُوْا اَفْوَاهَكُمْ لِلْقُرْاٰنِ . رواه البزار باسناد جيد

ترجمه : د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے چه ده امر اوکړو په مسواك او وے ویل چه وئیلی دی رسول الله ﷺ چه بے شکه بنده کله چه مسواك وهی بیا اودریگی مونځ کوی نو اودریگی فرشته روستو دهغه نه نو اوری قران بنا نزدے کیگی ده ته . هر کله چه لولی یو ایت نو خله ګدی دا فرشته په خله د قاری باندے نو نه راوزی د خلے د قاری نه څه شی د قرآن نه مګر څی په خیټه د فرشتے کښ نو پاکے سائی خلے خپلے دقرآن دپاره.

دمسواك سره مونځ او یا چنده فضیلت لری

(۳٤٤) **الحديث الرابع** : عن عائشةؓ عن النبى ﷺ قَالَ فَضْلُ الصَّلٰوةِ بِالسِّوَاكِ عَلَى الصَّلٰوةِ بِغَيْرِ سِوَاكٍ سَبْعِيْنَ ضِعْفًا . رواه احمد وابويعلى وابن خزيمه والحاكم وقال صحيح على شرط مسلم (المنجر صـ ٤٤)

ترجمه: دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه نبیؐ وئیلی فضیلت د مونځ چه د مسواك سره وی په هغه مونځ چه بے د مسواك وی اویا چنده دے.

صدقه د قبر حرارت وڑنی

(۳٤٥) **الحديث الخامس** : عن عقبة بن عامر قال : قال رسول الله ﷺ اِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِئُ عَنْ اَهْلِهَا حَرَّ الْقُبُوْرِ ، وَ اِنَّمَا يَسْتَظِلُّ الْمُؤْمِنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِيْ ظِلِّ صَدَقَتِهِ . (اخرجه الطبرانى فى المعجم الكبير جـ ١٧ صـ ٧٨٨ ، واسناده جيد . السلسلة جـ ٧ صـ ١٤١٣)

ترجمه : حضرت عقبة بن عامر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وونیلے دی بے شکه صدقه وژنی د اهل خپل نه گرمی د قبرونو او بے شکه د سورے به حاصله وی مؤمن په ورځ د قیامت په سایه د صدقے خپلے کښ .

الدرس السبعون ﴿٧٠﴾

تحية الوضوء سره د بنده د پاره جنت واجبیږی

[٣٤٦] **الحديث الاول**: عن عقبة بن عامرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنْ اَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوْءَ وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ يُقْبِلُ بِقَلْبِهٖ وَوَجْهِهٖ عَلَيْهِمَا اِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ. (رواه مسلم)

ترجمه : دحضرت عقبه بن عامرؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمانیلی دی نیشته یو کس چه اودس اوکړی او خائسته اودس اوکړی او دوه رکعاته مونځ اوکړی چه ظاهر باطن دواړو کښ متوجه وی د هغے طرف ته مگر ده دپاره جنت واجب دے.

تحية الوضوء سره د گناه مغفرت

[٣٤٧] **الحديث الثاني**: عن ابی الدرداءؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ تَوَضَّأَ فَاَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ اَوْ اَرْبَعًا شَكَّ سَهْلٌ يُحْسِنُ فِيْهِنَّ الرُّكُوْعَ وَالسُّجُوْدَ وَالْخُشُوْعَ ثُمَّ اِسْتَغْفَرَ اللّٰهَ غَفَرَ لَهُ . رواه احمد باسناد حسن (المنجر ص ٥٠)

ترجمه : دحضرت ابو الدرداء نه روایت دے چه ما اوریدلی دی دنبی علیه السلام نه چه فرمانیل نے ځوک چه اودس اوکړی خائسته اودس بیا اودریگی دوه یا څلور رکعاته مونځ اوکړی چه خائسته رکوع او خشوع پکښ اوکړی بیا بخنه اوغواړی نو الله تعالیٰ به ورته بخنه اوکړی.

تحية الوضوء سره مخکښ گناه معاف کیگی

[٣٤٨] **الحديث الثالث** : عن زيد بن خالد الجهنیؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ فَاَحْسَنَ وُضُوْءَهٗ ثُمَّ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ لَا يَسْهُوْ فِيْهِمَا غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ . حسن. رواه ابوداؤد

ترجمه: حضرت زید بن خالد جُهَنِی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلی دی څوک چه اودس اوکړی خائسته اودس بیا دوه رکعاته اوکړی توجه سره نو معاف به کړے شی ده ته مخکښ گناهونه.

فائده: چه سړے اودس اوکړی نو دوه رکعاته مونځ کول مستحب دی دے مونځ ته تحية الوضوء ونیلے شی یاد لری، دا په اوقاتو مکروه کښ جائز نه دے اوقات مکروه پنځه دی د صبا د ختو نه روستو د نمر ختو وخت کښ د زوال وخت کښ د مازیگر نه روستو د نمر پرے وتو وخت کښ.

دالله تعالیٰ غوره بندیان

[۳٤۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی اوفی ؓ انَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ اِنَّ خِیَارَ عِبَادِاللّٰهِ الَّذِیْنَ یُرَاعُوْنَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ لِذِکْرِ اللّٰهِ تَعَالٰی . رواه الطبرانی والبزار والحاکم وقال صحیح الاسناد (المتجر صـ ۵۷)

ترجمه : دحضرت ابن ابی اوفی نه روایت دے چه نبی ﷺ وئیلی دی چه بیشك غوره بندگان دالله تعالیٰ هغه کسان دی چه لحاظ کوی دنمر سپوږمی او دستورو دپاره د یاد دالله تعالیٰ .

د حدیث شریف مطلب دا دے چه د الله تعالی غوره خلق د عباداتو د اوقاتو د پاره د نمر سپوږمئ ستورو خیال ساتی چه عبادات په وخت ادا شی نن صبا دغه ضرورت گهړو او نقشو کتلو سره پوره کیږی نو د هغے د ساتلو اهتمام پکار دے.

د مونځ د اودیدو په وقت کښ دعا قبلیگی

[۳۵۰] **الحدیث الخامس** : عن جابرؓ عن النبی ﷺ قال اِذَا ثُوِّبَ بِالصَّلٰوةِ فُتِحَتْ اَبْوَابُ السَّمَاءِ وَاسْتُجِیْبَتِ الدُّعَاءُ . (اخرجه الامام احمد فی مسنده (المتجر صـ ٦٦) وقال همزة الزین اسناده حسن . صـ ٥١٤ جـ ١١ رقم ١٤٦٢٤ .

ترجمه: دحضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی کله چه اقامت اوشی د مانځه دپاره نو دروازے د آسمان کولاو شی او دعاگانے قبلیگی.

الدرس الحادی والسبعون ﴿۷۱﴾

په اذان یقین کول سبب ددخول د جنت دے

[۳۵۱] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرةؓ قَالَ کُنَّا مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَامَ بِلَالٌ یُنَادِی فَلَمَّا سَکَتَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَالَ مِثْلَ مَا قَالَ هٰذَا یَقِیْنًا دَخَلَ الْجَنَّةَ . (رواه النسائی وابن حبان والحاکم وقال صحیح الاسناد)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه مونږ درسول الله ﷺ سره وو نو اودریدو بلال چه اذان ئے کوو نو کله چه چپ شو نو اویل رسول الله ﷺ څوك چه په شان د هغے چه ده اویل په یقین سره اوانی نو داخل به شی جنت ته.

د اذان جواب سره د اذان ثواب حاصلیگی

[۳۵۲] **الحدیث الثانی** : عن عبدالله بن عمر انَّ رَجُلًا قَالَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ الْمُؤَذِّنِیْنَ یَفْضُلُوْنَنَا فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قُلْ کَمَا یَقُوْلُوْنَ فَاِذَا انْتَهَیْتَ فَسَلْ تُعْطَهْ. صحیح. رواه ابوداؤد والنسائی وابن حبان)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه یو سړی اویل . یارسول الله ﷺ موذنین څمو نږ نه غوره دی (څکه هغوی بانگ کوی او مو نږ نه کوو) نو پیغمبرؐ ورته اویل ته هم وایه هغه چه

هغوی نسے وائی نو کله چه اخر ته اورسی نو غواړه درکولسے به شی.

فائده: د حدیث حاصل دا شو چه اذان یو کس کوی خو نور څوک کجرے د بانګ ثواب حاصلول غواړی نو د بانګ جواب دے اوکړی چه مؤذن کوم کلمات وائی دے د هم هغه وائی نو د اذان ثواب به ورته ملاوشی.

د اذان او اقامت په مینځ کښ کومه دعا پکار ده

[۳۵۳] **الحدیث الثالث**: عن انسؓ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَلدُّعَاءُ بَيْنَ اَلْاَذَانِ وَالْإِقَامَةِ لَا يُرَدُّ. صحیح. رواه ابوداؤد وابن خزیمة وابن حبان زاد الترمذی فِي رِوَايَةٍ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَمَاذَا نَقُوْلُ؟ قَالَ سَلُوا اللّٰهَ اَلْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ. صحیح. (المنحر الابحر صـ ۹۶)

ترجمه: د حضرت انسؓ نه روایت دے چه بیشك رسول الله ﷺ اوفرمائیل دعاء په مینځ د اذان او اقامت کښ نه رد کیږی صحابه تپوس اوکړو. یارسول الله کومه دعاء غواړو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل دالله تعالیٰ نه دبخښے او دعافیت ددنیا او داخرت سوال کوی.

حفاظت په اودس کمال د ایمان دے

[۳۵۴] **الحدیث الرابع**: عن ثوبان قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِسْتَقِيْمُوا وَلَنْ تُحْصُوْا (وَاعْلَمُوا) أَنَّ خَيْرَ اَعْمَالِكُمْ اَلصَّلٰوةُ. وَلَنْ يُّحَافِظَ عَلَى الْوُضُوْءِ اِلَّا مُؤْمِنٌ. صحیح. (رواه ابن ماجه وابن حبان والحاکم)

ترجمه: حضرت ثوبانؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی. چه مضبوط شی. او هیڅ کله طاقت نه لری. دمکمل مضبوط کیدو او پوهه شی. چه بهتر داعمالو ستاسو نه مونځ دے. او حفاظت نه کوی په اودس باندے مګر مومن کامل.

فائده: د حدیث شریف مطلب دا دے چه په دین د استقامت د مضبوط اودیدو کوشش اوکړی اګر چه مضبوط اودیدل ګران دی خو بیا هم خپل کوشش پکار دے څکه هر سړے د خپل وسع پورے مکلف دے نو کوشش د استقامت پکار دے څکه علماء وائی چه استقامت د کرامت نه بهتر دے او حدیث نه دا هم ثابته شوه چه همیشه اودس کښ لوڅیدل د ایمان کامل نښه ده.

د سجدے فضیلت

[۳۵۵] **الحدیث الخامس**: عن عبادة بن الصامتؓ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَا مِنْ عَبْدٍ يَسْجُدُ لِلّٰهِ سَجْدَةً، اِلَّا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِهَا حَسَنَةً وَمَحَا عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً وَرَفَعَ بِهَا دَرَجَةً فَاسْتَكْثِرُوا مِنَ السُّجُوْدِ. (رواه ابن ماجه باسناد حسن صـ ۷۰)

ترجمه: عباده بن صامتؓ فرمائی، چه ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل، چه وئیل نے، چه نیشته یو بنده چه سجده کوی دالله تعالیٰ دپاره یوه سجده، مګر الله تعالیٰ لیکی دهغه دپاره په دے

سجده باندے . یوه نیکی او لرے کوی دده نه په دے باندے یوه بدی .او چتوی ورله یوه درجه پس تاسو په سجدو کښ ډیر والے کوی۔

فائده : حدیث شریف کښ ډیرو نوافل ته ترغیب دے ځکه ډیرو نوفل سره به ډیرے سجدے راځی او ډیر نوافلو سره حدیث کښ رازی چه الله تعالی ته محبوبیت حاصلیږی نو خلاصه داشوه چه ډیرو سجدو سره د الله تعالی قرب او درجه د ولایت ملاویږی .

الدرس الثانی والسبعون ﴿۷۲﴾

په صف پیوست کولو د رسول الله دعا ملاویگی

[۳۵۶] **الحدیث الاول** : عن عبدالله بن عمرؓ انّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ وَصَلَ الصَّفَّ وَصَلَهُ اللّٰهُ وَمَنْ قَطَعَ قَطَعَهُ اللّٰهُ . رواه النسائی وابن حزیمة والحاکم وقال صحیح علی شرط مسلم " المعجم الرابح صـ ۱۱۰)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمرؓ نه روایت دے چه بیشك رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه صف پیوست کړی الله به دے دخپل رحمت سره پیوست کړی او څوك چه صف کټ کړی نو الله تعالیٰ به دے د خپل رحمت نه کټ کړی.

فائده: په دے حدیث شریف کښ د صف د پیوست کولو یوه فائده ذکر شوه هغه فائده دا ده چه رسول الله ﷺ ورته دعاکړے ده چه الله تعالی دے دے خپل رحمت سره پیوست کړی ، صف درست کونکی ته که بل هیڅ ثواب ملاؤ نشی صرف دا یوه دعا د خوږ نبی ورته قبوله شی نو دا کافی ده .

د جهاد اقسام

[۳۵۷] **الحدیث الثانی** : عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ جَاهِدُوا الْمُشْرِكِيْنَ بِاَلْسِنَتِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ وَاَمْوَالِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ . ((صحیح . المسند احمد ط الرسالة . رقم : ۱۲۵۵۵))

ترجمه : حضرت أنس بن مالكؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی جهاد اوکړئ تاسو د مشرکانو سره په ژبو باندے او په ځانونو باندے او په مالونو باندے او په لاسونو خپلو باندے .

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه د بے دینو سره د جهاد ګنړ قسمونه دی یو جهاد په ژبه دے چه سړے قرآن حدیث بیانوی او د هغوئی د غلطو عقیدو رد کوی دویم جهاد د ځانونو دے چه سړے د دین په دفاع کښ ځان شهید کړی دریم جهاد د مال دے چه د دین د بلندئ د پاره مال خرچ کړی او څلورم جهاد په لاس دے چه په لاس باندے د دین د بلندئ او د حفاظت مختلفے کارنامے اوکړی .

د صف پیوست کولو فضیلت

[۳۵۸] **الحدیث الثالث** : عن عائشة قالت قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَدَّ فُرْجَةً رَفَعَهُ اللّٰهُ بِهَا دَرَجَةً وَبَنٰى لَهُ بِهَا فِي الْجَنَّةِ . رواه الطبرانی باسناد لا باس به. (المنجر ص ۱۱۱)

ترجمه : دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی څوك چه بند کړی صف کښ خالی ځائے نو اوچته به کړی الله تعالیٰ ده لره په دے باندے درجه او جوړ به کړی الله تعالیٰ ده لره کور جنت کښ.

فائده : په دے حدیث شریف کښ د صف د برابرولو څلورمه فائده ذکر شوه چه هغه په جنت کښ کور ملاویدل دی څوك چه د صف د برابرولو کوشش کوی نو الله تعالی به ده د پاره کور په جنت کښ جوړ کړی.

صف پیوست کول سبب د مغفرت

[۳۵۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی جحیفة قَالَ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ سَدَّ فُرْجَةً فِي الصَّفِّ غُفِرَ لَهُ . رواه الطبرانی باسناد حسن(المنجر ص ۱۱)

ترجمه: د حضرت ابو جحیفه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك د صف خالی ځائے بند کړی بخنه به اوکړے شی ده ته.

فائده: دے حدیث شریف کښ د صف د برابرولو پنځمه فائده ذکر شوه د الله تعالی بخنه ده چه کول سړے د صف د برابرولو کوشش کوی الله تعالی به ده گناهونه معاف کړی .

دصف د نه سیدها کولو سزا

[۳۶۰] **الحدیث الخامس**: عن النعمان بن بشیر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ .رواه الترمذی وقال حدیث نعمان بن بشیر حدیث حسن صحیح جـ۱ص ۱۵۵)

ترجمه : دحضرت نعمان بن بشیر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه برابره وی به تاسو صفونه او یا به مخالفت راولی الله تعالیٰ ستاسو مخونو کښ.

فائده : دے حدیث شریف کښ دصفونو د نه برابرولو سزا ذکر ده چه مخونو کښ به مخالفت راشی ددے دوه مطلبه دی.یو دادے چه بدل به ئے کړی د بعضے حیواناتو په شکل به ئے کړی.لکه خروغیره یا وجوه نه مراد قلوب (زړونه) دی یعنی ستاسو مینځ کښ به مخالفت او نفرت پیدا شی نو دیو بل نه به مخونه اړوے یو مرفوع روایت کښ دی چه اقامت د صفونو د مونځ حصه ده .(ترمذی)

یاد لری چه دصفونو برابرتیا دپاره پنځه خبرے ضروری دی اوله خبره نیغ والے د صف چه صف داسے نیغ شی چه غشے په نیغولے شی.دویمه خبره یو بل سره جخت والے چه مینځ کښ

د شیطان د تنو تلو ځایونه بندشی .دریم اودریدل دامام په مینځ کښی چه پښی او ګس طرف ته ترے مقتدیان برابر وی ځلورم داول صف مخکی پوره کول پیا دویم شروع کول پیا دویم مخکښی پوره کول پیا دریم شروع کول پنځم د دوو صفونو مینځ کښی فاصله دومره پریښودل چه صرف سجده پکښی راشی زیاته فاصله پریښودل صحیح نه دی.(التعلیق الفصیح علی مشکوة المصابیح ج ۱ ص ۱۶)

الدرس الثالث والسبعون ۷۳

د هغه عالم مثال چه علم نه خائی

(۳۶۱) **الحدیث الاول** : عن ابی هریرةؓ ان رسول الله ﷺ قال : مَثَلُ الذی یتعلَّمُ العِلْمَ ثمّ لا یحدّث به ، کمَثَلِ الذی یکنِزُ الکنْزَ فلا ینفق منه . (اخرجه الطبرانی فی المعجم الأوسط ج ۱ ص ۲۱۳ . و هذا اسناده حسن عزیز السلسلة ج ۷ ص ۱۴۰۱)

ترجمه : حضرت ابی هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل مثال د هغه کس چه علم زده کوی او بیا نے خلقو ته نه بیانوی پشان د هغه کس دے چه خزانه جمع کوی پس بیا ترے نه خرچ کوی .

د کوهی ثواب

(۳۶۲) **الحدیث الثانی** : عن جابرؓ انّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ حَفَرَ بِئْرَ مَاءٍ لَمْ یَشْرَبْ مِنْهُ کَبِدُ حُرِّیٍّ . (اَیْ یَابِسَة مِنَ الْحَرِّ وَالْعَطَشِ) مِنْ جِنٍّ وَّلَا اِنْسٍ وَّلَا طَائِرٍ اِلَّا اٰجَرَهُ اللّٰهُ یَوْمَ الْقِیَامَةِ وَمَنْ بَنٰی مَسْجِدًا کَمِفْحَصِ قَطَاةٍ اَوْ اَصْغَرَ بَنَی اللّٰهُ لَهٗ بَیْتًا فِی الْجَنَّةِ .صحیح. (رواه ابن خزیمة " المنتخر ص ۱۲۹)

ترجمه : د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك کوهے اوکنی نو نه څکی ددے نه اوچ جگر والا (دتندے او دګرمے دوجے نه) د پریانو نه او نه دانسانانو او دمارغانو نه مګر بدله به ورکوی ده لره الله په ورځ دقیامت او څوك چه جوړ کړی جومات اګر چه د زانړے د جالے برابر وی یا دهغے نه هم ورکوتے وی نو جوړ به کړی الله تعالیٰ ده لره کور په جنت کښی.

فائده: د زانړے جاله ډیره وړه ده په هغے کښی مونځ نه کیګی . لهذا ددے تشبیه دوه مطلبه دی یو دا چه دا کنایه ده د ورکوتوالی نه یعنی که ډیر ورکوتے وی نو هم به پرے الله تعالیٰ ده لره کور په جنت کښی جوړه وی . دویم دا چه دینه مراد دادے چه دے په مسجد کښی دومره ځائے جوړ کړی لکه د زانړے جاله نو دا ثواب به ورته ملاؤ شی.

جومات ته دتلو ثواب

[٣٦٣] **الحديث الثالث** : عن عبدالله بن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ رَاحَ إِلَى مَسْجِدٍ لِلْجَمَاعَةِ فَخُطْوَةٌ تَمْحُوْ سَيِّئَةً وَخُطْوَةٌ تُكْتَبُ لَهُ حَسَنَةٌ ذَاهِبًا وَرَاجِعًا . صحيح. رواه احمد وابن حبان . (المتجر صـ ١٢٩)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن عمررضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه جومات ته جمعے له لاړو نو دده یو قدم سره ګناه معاف کیګی او بل قدم سره نیکی لیکلے شی دتلو او د راتلو.

فائده : حدیث شریف کښ د جمعے سره د مونځ کولو فائده بیان شوے چه نیکے ورسره لیکلے شی او دویم ګناهونه ورسره معاف کیږی او دریمه په لاندے حدیث کښ او ګورئی.

دمونځ تلو ته هر قدم صدقه ده

[٣٦٤] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرة عن النبی ﷺ قَالَ اَلْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ وَبِكُلِّ خُطْوَةٍ يَمْشِيْهَا إِلَى الصَّلٰوةِ صَدَقَةٌ . (رواه الصحيحان " المتجر صـ ١٢٩ ")

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی کلمه طیبه وئیل صدقه ده او هر قدم چه په هغے مونځ ته څی صدقه ده.

فائده : دے حدیث کښ د جمعے دریمه فائده ذکر شوه چه هر قدم د جمع د تلو پاره صدقه حسابیږی او صدقے دے کتاب کښ بار بار ذکر شوے دی.

مونځ کزار دالله میلمه دے

[٣٦٥] **الحديث الخامس** : وعن سلمانؓ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ مَنْ تَوَضَّأَ فِي بَيْتِهٖ فَاَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ اَتَى الْمَسْجِدَ فَهُوَ زَائِرُ اللّٰهِ وَحَقٌّ عَلَى الْمَزُوْرِ اَنْ يُّكْرِمَ الزَّائِرَ . رواه الطبرانی باسناد جيد (المتجر صـ ١٣٤)

ترجمه : دحضرت سلمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه اودس اوکړی او خائسته اودس اوکړی بیا جومات ته راشی نو دے دالله میلمه دی اوثابت دے په کوربه چه د میلمه قدر اوکړی.

فائده : دے حدیث کښ د جمع د مونځ یوه بله فائده ذکر شوه هغه داده چه کوم سړے د جمع مونځ ته جومات کښ حاضری کوی هغه د الله تعالی د اکرام مستحق دے.

الدرس الرابع والسبعون ٧٤

مسجد کښ دعبادت دپاره دناستے فضیلت

[٣٦٦] **الحديث الاول** : عن ابی هريرةؓ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ مَا تَوَطَّنَ رَجُلُ الْمَسَاجِدَ لِلصَّلٰوةِ وَالذِّكْرِ اِلَّا تَبَشْبَشَ

اللّٰهُ تَعَالٰى إِلَيْهِ كَمَا يَتَبَشْبَشُ اَهْلُ الْغَائِبِ لِغَائِبِهِمْ إِذَا قَدِمَ عَلَيْهِمْ . رواه ابن ماجه وابن خزيمه وابن حبان والحاكم وقال صحيح على شرط البخاري ومسلم (المنجر صـ ۱۳۹)

ژباړه : حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے دنبی ﷺ نه نقل کوی چه وطن نه ګرځوی یو سړے جوماتونو لره دپاره دمانځه او ذکر مګر خوشحالیګی الله تعالیٰ ده ته لکه څنګه چه خوشحالیګی اهل د غائب راتلو دغائب ته.

فائده ۱: په جومات کښ د ناستے او جومات سره د مینے محبت پیر لوئی فضیلت دے تر دے چه یو روایت کښ د ابو سعید خدری نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کله چه اووینی د تاسو یو سړے چه د جومات خدمت کوی او باربار ورته رازی نو تاسو ګواهی اوکړئے هغه د پاره ایمان چه دے موامن دے او د حضرت انس نه روایت دے چه پیغمبر ﷺ فرمائیلی دی چه اباډونکے د جوماتونو د الله تعالی خاص خلق دی بل روایت کښ د حضرت انس نقل دی چه پیغمبر ﷺ فرمائی چه څوك جومات سره مینه کوی الله تعالی به ده سره مینه کوی (المنجر صـ ٦٩)

فائده ۲: یاد لری چه دا فضیلت هغه وخت کښ د جومات د ناستے دے چه سړے د جومات د ناستے د آدابو خیال او ساتی اوکه د جومات بے ادبی اوشی نو بیا د هغے سزا هم ډیره لویه ده لهذا څوك چه جومات کښ پاتے کیږی هغوئی له د جومات آداب ازده کول او په هغے عمل کول لازم دی هسے نه چه ګناهګار د جومات نه راوځی.

آداب مسجد

علماء په ادابو کښ پنځلس څنزونه ذکر کړے دی د هغے خیال ساتل پکار دی .

رومبے ادب دا دے کچرے مسجد ته د ورتلو وخت کښ څوك ناست وی نو په هغوئی سلام کول دی خو په دے شرط چه څوك په مونځ ذکر تلاوت کښ مشغول نه وی کښ څوك دے څیزونو کښ مشغول وی نو بیا سلام اچول صحیح نه وی اوکه جومات کښ څوك نه وی نو " بن الاسلام علینا و علی عباد الله الصالحین " وئیل پکار دی . دویم اداب دا دے چه مسجد ته داخل شی د ناستے نه مخکښ دے دوه رکعاته تحیة المسجد مونځ اوکړی کچرے مکروه وقت نه وی مکروه اوقات پنځه دی نمر ختو وخت ، زوال وخت او پرے وتو وخت د صبا د مونځ نه پس او دمازیګر د مونځ نه پس دے پنځو اوقاتو کښ نفل مکروه دی . دریمه ادب دا دے چه مسجد کښ خرید فروخت نه کوی. څلورم ادب دا دے چه هلته په دار والا څیز توره غشی لور چاړه چاقو نه راوباسی . پنځم جومات کښ به د روك شوے څیز اعلان نه کوی. شپږم جومات کښ په شور نه وی . اووم جومات کښ به د دنیا خبرے نه کوی . اتم جومات کښ په چارسره د ناستے په ځائے جګړه نه کوی . نهم چه کوم ځائے پورے صفونه رسیدلے وی هغه ځائے کښ کیناستل خلقو نه تنګول . لسم د ه مونځ کونکوو مخکښے نه تیریدل . یولسم جومات کښ لاړے نه توکل . دولسم ادب د

ګونونه تقونه نه ایستل دیارلسم خپل بدن او اندامونو سره لوبے نه پاك ساتل . پنځلسم جومات کښ کثرت ذکر کول قرطبی لیکلی دی چه څوك دا کارونه اوکړی نو ده د مسجد حق ادا کړو او مسجد به ده د پاره د حفاظت او د امان ځائے اوګرځی .

دمسجد خصوصی فرشتے دی

[۳٦۷] **الحدیث الثانی** : عن عبدالله بن سلام عن النبی ﷺ قَالَ اِنَّ لِلْمَسَاجِدِ اَوْتَادًا اَلْمَلَائِكَةَ جُلَسَاءُ هُمْ اِنْ غَابُوا يَفْتَقِدُوْنَهُم وَاِنْ مَرِضُوا عَادُوهُمْ وَاِنْ كَانُوْا فِیْ حَاجَةٍ اَعَانُوْهُمْ . (رواهم الحاکم وقال صحیح الاسناد (المتجر صـ ۱٤۰)

ترجمه : د عبدالله بن سلام رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه جوماتونو دپاره اوتاد دی یعنی خاص فرشتے چه هغوی د جوماتونو د ناستو تپوس کوی که غائب شی او بیمار پرسی ئے کوی که بیمار شی او که په څه کار کښ وی نو امداد ئے کوی.

فائده: خلاصه د حدیث دا شوه چه د جومات په ډیره ناسته باندے د الله تعالی غیبی مدد حاصلیږی.

د شرك په ختمیدو د شیطان ژړا

[۳٦۸] **الحدیث الثالث** : عن ابن عباسؓ قال: لما افتتحَ صلی الله علیه وسلم ؛ مکةَ ؛ رَنَّ اِبلیسُ رنّةً اجتمعتْ اِلیه جنودُه ، فقالَ : ایاسُوا ان تری اُمّةَ محمّد علی الشّرکِ بعْدَ یومِکم هذا! و لکنِ افتنُوهم فی دینِهم و اَفشُوا فیهم النّوحَ . (اخرجه الطبرانی فی المعجم الکبیر جـ ۱۲ صـ ۱۱ . اسناده حسن . السلسلة جـ ۷ صـ ۱۳۷۳)

ترجمه : حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه کله رسول الله ﷺ مکه فتح کړله نو په ژړا شو شیطان پس جمع شو ده ته لښکر د ده نو ده ورته اووئیل نا اومیده شئ د دے نه چه او به وینو مونږه تاسو اُمّت د محمد ﷺ په شرك باندے پس د دے ورځے نه (په مکه معظمه کښ) لیکن دوئی له فتنه کښ واچوئ په دین د دوئی کښ او خوره کړئ په دوئی کښ ژړا (او ستائینے) په مړو باندے .

د حسن خاتمه نښه

[۳٦۹] **الحدیث الرابع** : عن معاذ بن جبلؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ كَانَ اٰخِرُ كَلَامِهٖ لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ . رواه ابوداؤد والحاکم وقال صحیح الاسناد . (والمتجر صـ ۲۲۵)

ترجمه : حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه د چا اخری خبره دا وی چه لااله الاالله نو جنت ته به ځی.

فائده : چه کولم مسلمان په وخت د وفات کښ کلمه طیبه " لا اله الا الله محمد رسول الله "یا کلمه شهادت " اشهد ان لا اله الا الله و اشهد انّ محمداً عبده ورسوله " اوائی او بیا خبرے اونه کړے او مړشی نو دا د جنتی کیدو نښه ده د دے وجے نه حدیث کښ رازی چه کوم سړے

مرے نو تا سو ورته کلمه طیبه وائی د دے د پاره چه هغه ئے اوائی.

دجمعے دخطبے د اوریدو ثواب

[۳۷۰] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَوَضَّا فَاَحْسَنَ الْوُضُوْءَ ثُمَّ اَتَى الْجُمُعَةَ وَاسْتَمَعَ وَاَنْصَتَ غُفِرَ لَهٗ مَا بَيْنَهٗ وَ بَيْنَ الْجُمُعَةِ وَ زِيَادَةُ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ . رواه مسلم.

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلی دی چه څوك اودس اوكړی خائسته اودس او بیا جُمعے ته راشی او غوږ كیدی او خاموشئ سره خطبه واوری نو معافی به اوكړے شی ده ته د ګناهونو د یوے جمعے نه بلے جمعے پورے درے ورځے دپاسه.

الدرس الخامس والسبعون ۷۵

دتهجدو پنځه فوائد

[۳۷۱] **الحدیث الاول**: عن ابی امامة الباهلی عن النبی ﷺ قَالَ عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَاِنَّهٗ دَاْبُ الصَّالِحِيْنَ قَبْلَكُمْ وَقُرْبَةٌ اِلٰى رَبِّكُمْ وَ مُكَفِّرَةٌ لِلسَّيِّئَاتِ وَمِنْهَاةٌ عَنِ الْاِثْمِ . رواه الترمذی وابن خزیمة والحاکم وقال صحیح علی شرط البخاری (المتجر صـ ۱۷۵)

ترجمه : دحضرت ابو امامهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی د شپے د عبادت پابندی اوكړی. دا طریقه د مخكښو نیكانو ده او رب ته د قرب ذریعه ده او لرے كونكے د ګناهونو ده دے او منع كونكے د ګناه ده.

فائده : په روایت د ترمذی كښ ورسره دا هم دی چه بیماری ورسره خه كیګی نو فوائد ے د تهجدو حدیث كښ پنځه شوے . رومبے فائده دا عادت د نیكانو معنی دے سره به نیك شی دویمه فائده درب ته نزدے كول كوی دے سره به د رب د مقربینو نه شی دریمه فائده تهجدو سره ګناهونه معاف كیږی پنځمه فائده دا ده چه دے سره انسان صحت یاب وی د بیمارے نه ورسره افاقه كیږی.

بدله په قدر د محنت

[۳۷۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ عن النبی ﷺ قَالَ مَنْ صَلّٰى فِىْ لَيْلَةٍ بِمِائَةِ اٰيَةٍ لَمْ يُكْتَبْ مِنَ الْغَافِلِيْنَ وَمَنْ صَلّٰى فِىْ لَيْلَةٍ بِمِائَتَىْ اٰيَةٍ كُتِبَ مِنَ الْقَانِتِيْنَ الْمُخْلِصِيْنَ. رواه ابن خزیمه والحاکم وقال صحیح علی شرط مسلم (المتجر صـ ۱۸۱)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی څوك چه مونځ اوكړی شپه كښ په سل ایاتونو او به نه لیكلے شی دغافلینو نه او څوك چه مونځ اوكړی

شپه کښ په دو سوه ایاتونو اوبه لیکلے شی د عاجزی کونکو مخلصینو نه.

پنځه درنے خبرے

[۳۷۳] **الحدیث الثالث**: عن ابی سلمیٰ راعی رسول الله ﷺ قال سمعتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ بَخٍ بَخٍ وَأَشَارَ بِیَدِهٖ لِخَمْسٍ مَا أَثْقَلَهُنَّ فِی الْمِیْزَانِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ أَکْبَرُ وَالْوَلَدُ الصَّالِحُ یُتَوَفّٰی لِلْمَرْءِ الْمُسْلِمِ یَحْتَسِبُهُ (رواه النسائی وابن حبان والحاکم وقال صحیح الاسناد (المنتخب صـ ۲۵۳)

ترجمه: حضرت ابو سلمیٰ چه درسول الله ﷺ چرواها دے وائی ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه چه ونیل ئے وخ وخ او اشاره ئے اوکړه پنځو خبرو ته څه درنے دی په تله کښ (۱) سبحان الله (۲) الحمدلله (۳) لااله الاالله (۴) الله اکبر (۵) او نیک بچے چه وفات شی دمسلمان چه ثواب ئے اوګڼړی.

بهترین کسب

[۳۷٤] **الحدیث الرابع**: عن ابی هریرةؓ أَنَّهُ قَالَ خَیْرُ الْکَسْبِ کَسْبُ الْعَامِلِ إِذَا نَصَحَ. رواه احمد باسنادٍ جید (المنتخب صـ ۲۶۶).

ترجمه: د حضرت ابو هریره نه روایت دے چه بهتر کسب کسب د عمل کونکی دے کله چه خیرخواه وی.

فائده: د دے روایت مطلب دا دے چه بهتر رزق د مزدوری او د محنت رزق دے چه کله سړے د خپل نیك سره په اخلاص کار کوی او خیانت نه کوی تجربه په دے خبره ګواه ده چه داسے سړے اکثر د خپل روزګار مالك ګرځی او د شتو خاوند شی غل او خیانت ګر مزدور اکثر د مشقت ژوند تیره وی سره د ذلت او پریشانے نه.

صدقه دقیامت سورے دے

[۳۷۵] **الحدیث الخامس**: عن عقبة بن عامرؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ کُلُّ امْرِءٍ فِیْ ظِلِّ صَدَقَتِهٖ حَتّٰی یُقْضٰی بَیْنَ النَّاسِ قَالَ یَزِیْدُ وَکَانَ مَرْثَدٌ لَا یُخْطِئُهُ یَوْمٌ إِلَّا تَصَدَّقَ فِیْهِ بِشَیْءٍ وَلَوْ کَعْکَةٍ أَوْ بَصَلَةٍ. صحیح رواه احمد فی مسنده جـ ۵ صـ ٤١١ و صححه الالبانی فی صحیح الجامع.

ترجمه: د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے وائی ما اوریدلی دی د رسول الله ﷺ نه فرمائیل ئے هر سړے به په سوری د صدقے خپلے کښ وی په ورځ د قیامت تر دے چه فیصله اوشی په ورځ د قیامت وائی یزید وو مرثد نه به ئے خطا کوله یوه ورځ مګر صدقه به ئے پکښ کوله په څه څیز باندے اګر چه یو کیك یا دپیاز غوټه به وه.

فائده: د حدیث شریف حاصل دا دے چه د صدقے معمول جاری ساتل پکاردی اګر چه معمولی وی ځکه حدیث شریف دے چه بهتر عمل هغه دے چه همیشه وی.

الدرس السادس والسبعون ٧٦

ددعا دقبولیت دپاره اعمال

[٣٧٦] **الحديث الاول** : عن عبدالله قَالَ كُنْتُ أُصَلِّي وَالنَّبِيُّ ﷺ وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ مَعَهُ فَلَمَّا جَلَسْتُ بَدَأْتُ بِالثَّنَاءِ عَلَى اللّٰهِ ثُمَّ الصَّلٰوةِ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ ثُمَّ دَعَوْتُ لِنَفْسِي فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ سَلْ تُعْطَهْ . رواه الترمذي وقال حديث حسن صحيح (ج ١ ص ٢٤٧)

ترجمه : دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه وائی چه ما مونځ کولو او نبی ﷺ ابوبکر او عمر هم موجود وو کله چه دمونځ نه فارغ شوم دعاء ته کیناستم نو شروع مے په ثنا اوکړه په الله تعالیٰ باندے بیا مے درود شریف اووئیلو په نبی ﷺ باندے بیا مے دعا اوکړه نو اوفرمائیل نبی ﷺ غواړه اوس درکولے به شی غواړه اوس درکولے به شی.

فائده : دحدیث مطلب دادے چه ددعا نه مخکښ دالله ثنا او په نبی کریم ﷺ درود شریف وئیل پکار دی بیا د عا غوستل پکار دی دے سره دعا خه قبلیګی.

د درے کارونو ثمره

[٣٧٧] **الحديث الثاني** : عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ صَنَائِعُ الْمَعْرُوْفِ تَقِي مَصَارِعَ السُّوءِ وَ صَدَقَةُ السِّرِّ تُطْفِئُ غَضَبَ الرَّبِّ وَصِلَةُ الرَّحِمِ تَزِيْدُ فِي الْعُمُرِ . رواه الطبراني باسنادٍ حسنٍ وصححه الالباني في صحيح الجامع.

ترجمه : دحضرت ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه خلقو سره احسانات کول سړے دناکاره مرګ نه ساتی او صدقه د خلقو نه په پټه ورکول غصه درب وژنی او خپلولی پالل زیادت راولی په عمر کښ.

د مخلوق نه نه غوښتل ضمانت د جنت

[٣٧٨] **الحديث الثالث** : عن ثوبانؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَكَفَّلَ لِيْ اَنْ لَّا يَسْاَلَ النَّاسَ شَيْئًا اَتَكَفَّلُ لَهُ بِالْجَنَّةِ فَقُلْتُ اَنَا فَكَانَ لَا يَسْاَلُ اَحَداً شَيْئًا . رواه ابوداؤد باسناد صحيح

ترجمه : دحضرت ثوبان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه څوک چه ضامن شی ددے خبرے چه څه به مخلوق نه نه غواړم نو څه ضمانت ورکوم هغه ته دجنت نو ثوبان اویل څه به نه غواړم نو هغه به دچا نه هیڅ څیز نه غوښتلو.

فائده : تاریخ لیکلی دی چه ثوبانؓ نه به چابك پرے وتلو او دے به په سورلی سوروو چاته به ئے نه ویل چه چابك راکړه په خپله به کوز شو او راوچت به ئے کړو. (ابوداؤد)

د روند زیارت د نبی سنت

[۳۷۹] **الحدیث الوامو** عن جبیر بن مطعم ، قال: قال رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : انْطَلِقُوْا بِنَا اِلٰی نَبِیٍّ وَاقِفٍ نَزُوْرُ الْبَصِیْرَ ، رَجُلٌ کَانَ مَکْفُوْفَ الْبَصَرِ . (مجمع الزوائد جـ ۸ صـ ۲۲۵)

ترجمه : جبیر بن مطعم وائی چه رسول الله ﷺ اووئیل رازی. چه لاړ شو بنی واقف قبیلے ته چه ملاقات اوکړو د بصیر چه دا یو روند سړے وو .

فائده: د خوږ نبی ﷺ اخلاقو ته اوګورئی د خپلو ملګرو څنګه تپوس کوی روغ څه کوی چه د رښتو هم تپوس او زیارت کوی یو روایت کښ رازی چه رسول الله ﷺ به د انصارو زیارت له ډیر تلو خاص کس له به کورته تلو او عمومے ملاقات له به د محلے مسجد ته راتلو . (رواه احمد مجمع الزوائد جـ ۸ صـ ۲۲۳)

د مسلمانانو روښرو زیارت له تلل بے لالچه صرف د رضا اِلهی د پاره کامیابی ده دے سلسله کښ د حضرت ابن مسعودؓ نه یو روایت دے چه شاګردان ئے راغلل نو ده ورته اووئیل چه تاسو د یو بل سره کینے؟ هغوئی وئیل : آو یا ابا عبد الرحمن . ابن مسعودؓ ورته بیا اووئیل تاسو د یو بل ملاقات کوئ؟ نو هغوئی ورته اووئیل آو یا ابا عبد الرحمن چه زمونږه د یو کس ملګری رانه شی نو هغه ورپسے پیاده تر اخر د کوفے پورے څی تردے چه هغه سره ملاؤ شی نو عبد الله ابن مسعودؓ ورته اوفرمائیل چه تاسو به همیشه په خیر ئے ترکومے چه تاسو دا کار کړی .

(رواوه الطبرانی مجمع جـ ۸ صـ ۲۲٦).

قرضداری سره داحسان کولو فضیلت

[۳۸۰] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَنْظَرَ مُعْسِرًا اَوْ وَضَعَ عَنْهُ اَظَلَّهُ اللّٰهُ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ تَحْتَ ظِلِّهٖ یَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهٗ . رواه الترمذی وقال حدیث حسن صحیح وصححه الالبانی فی صحیح الجامع صـ ٦١٠

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه کوم سړے تنګ دست ته مهلت ورکړی یا ورته معافی اوکړی نو سورے به ورکړی ده لره الله پاك په ورځ د قیامت دخپل سوری درحمت لاندے چه په دغه ورځ به سوا د سوری دالله نه بل سورے نه وی.

فائده ۱: سورے خو دلته هم دالله دے او قیامت کښ به سور ے پیدا کول هم دالله قدرت کښ وی خو فرق دادے چه دلته ئے انسانانو ته اسباب ورکړی دی او هغوی هغه استعمالوی نو سورے ورته ملاویګی او اخرت کښ به دا ظاهری اسباب نه وی چه الله تعالیٰ چاته مهربانه شی هغه ته به سورے ورکوی تقریباً روایاتو کښ د سلو لګ بګ کسانو ذکر کوی . چه هغوی ته به دخپلو نیکو خصلتونو او عملونو په بنیاد سورے د قیامت په ورځ ورکولے شی اے الله په خپل فضل او کرم مونږ ددغه کسانو نه اوګرځوی .آمین ثم آمین.

فائده ۲: دا مضمون یو بل حدیث کښ هم راغلے دے د حضرت ابو قتاده نه نقل دے چه رسول الله ﷺ نه ما اوریدلی دی چه چاڅه خوشحاله وی دا خبره چه ده لره الله تعالیٰ نجات ورکړی د مصائبو د قیامت نه نو مهلت دے ورکړی تنګ دست ته یا دهغه ته معافی اوکړی.(مسلم)

الدرس السابع والسبعون ﴿۷۷﴾

دروژے برابر عمل نشته

[۳۸۱] **الحديث الاول:** عن ابی امامةؓ قَالَ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مُرْنِی بِعَمَلٍ قَالَ عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ فَاِنَّهٗ لَا عِدْلَ لَهٗ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ مُرْنِی بِعَمَلٍ قَالَ عَلَيْكَ بِالصَّوْمِ فَاِنَّهٗ لَا عِدْلَ لَهٗ. رواه النسائی وابن ماجه خزيمة والحاكم وقال صحيح الاسناد.

ترجمه: دحضرت ابی امامهؓ نه روایت دے هغه وائی ما اویل یا رسول الله ﷺ حکم اوکړه ماته دیو عمل اوفرمائیل رسول الله ﷺ لازم او نیسه روژه ددے برابر بل عمل نیشته اوأبو امامه وائی ما بیا عرض اوکړو یا رسول الله ماته یو عمل اوښایه . پیغمبر پاك اوفرمائیل روژه لازم اونیسه ددے برابر بل عمل نیشته.

سلام کښی سبقت سبب دقرب الهی

[۳۸۲] **الحديث الثانی:** عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اَوْلَى النَّاسِ بِاللّٰهِ تَعَالٰى مَنْ بَدَاَهُمْ بِالسَّلَامِ. صحيح. رواه ابوداؤد صـ ۳۶۰

ترجمه: دحضرت ابو امامهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی بے شك نزدے دخلقو نه الله تعالیٰ ته هغه څوك دے چه اول شروع کوی په سلام اچولو کښی.

فائده: حدیث کښی د سلام یوه عظیمه فائده ذکر شوه چه دا د الله تعالی د قرب ذریعه ده دا د لوټ میدان دے په سبقت د سلام کښی د الله تعالی قرب حاصلیږی په دے حقیقت صحابه رسیدلے ؤو او فائدے ترے اغستے وے وائی چه بعض صحابه کرامؓ به بازار ته صرف د سلام اچولو د پاره تلل چه هغه ځائے کښی خلق ډیر وی د سلام موقعے زیاتے ملاویګی سبحان الله.

دمصافحے ثواب

[۳۸۳] **الحديث الثالث:** عن البراء بن عازب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَالْتَقَى الْمُسْلِمَانِ فَتَصَافَحَا وَحَمِدَااللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَاهُ غَفَرَلَهُمَا. (رواه ابوداؤد جـ ۲ صـ ۳۶۱) و له طرق صحيحة بالفاظ اخرى .

ترجمه: دحضرت براء بن عازب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی کله چه یو ځای شی دوه مسلمانان او مصافحه اوکړی او حمد اوائی دالله تعالیٰ اوبخنه اوغواړی دهغه نه نو الله

تعالیٰ به دواړو ته بخنه اوکړی.

فائده: د ملاقات په وخت کښ سلام مسنون دے او بیا ددے حدیث په رنړا کښ د لاس ملاوولو نه روستو دا الفاظ وئیل پکار دی "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ یَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَ لَکُمْ ." ثناه د الله تعالیٰ لره الله تعالیٰ د مونږ ه او تاسو ته بخنه اوکړی .نو په دے طریقه ملاقات به د بخنے سبب گرځی.

دخلقو ولاړے او سلوت ته خوشحاله کیدل گناه ده

[۳۸٤] **الحدیث الرابع** : عن معاویة قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ مَنْ اَحَبَّ اَنْ یَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِیَامًا فَلْیَتَبَوَّاْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ .صحیح. رواه ابوداؤد جـ ۲ صـ ۳٦۳.

ترجمه : دحضرت معاویهؓ نه روایت دے چه څوك دا خوښه وی چه رواندے شی ده ته سړے په ولاړه نو دوی د ځان له دوزخ کښ ځائے په خپله تیارکړی.

داوده کیدو وقت کښ اورمړ کوی

[۳۸۵] **الحدیث الخامس** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَتْرُکُوا النَّارَ حِیْنَ تَنَامُوْنَ. صحیح. (رواه ابوداؤد جـ ۲ صـ ۳٦۵)

ترجمه : دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی مه پریگدی بَل اور چه کله تاسو اوده کیگی. (یعنی چه لوده کیگی. نو اور مړکوی. نه بیده نقصان اوکړی)

الدرس الثامن والسبعون ۷۸

د بنکار آداب

[۳۸٦] **الحدیث الاول** : عن عدی بن حاتمؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اَمْسَكَ عَلَیْكَ فَكُلْ .صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۹۷٤).

ترجمه : دحضرت عدی بن حاتم نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه بنکاری سپے ځیز تاله اوساتی نو هغه اوخوره.

فائده: علماء وائی چه د بنکاری سپی بنکار خوړل جائز دی لکه څه رنگ چه دے حدیث مبارك کښ دی خو د سورت مائدے د څلورم نمبر ایت نه د بنکار د حلال والی د پاره یو څو شرطونه معلومیږی یو دا چه تعلیم به د بنکار کولو ورکړے شوے وی او د بنکاری ځناور د تعلیم درے نښے دی اوله دا چه په خپله به بنکار پسے نه ځی د مالك په اشاره به ځی دوم نښه دا ده که مالك ئے بنکار پسے روان کړی او بیا ورته وائی چه واپس شه نو واپس کیږی به دریمه چه بنکار محفوظ کړی اوترے نه او نه خوری دویم شرط چه مالك ئے بنکار پسے خوشے کړی کچرے د مالك د اشارے نه بغیر لاړ او بنکار ئے اوکړو نو هغه حرام دے دریم شرط دا دے د

ځناور پرېښودو وخت کښې مالك بسم الله الله اکبر اوائی ځلورم شرط دا دے چه ښکاری ځناور ښکار ژحمی کړی فرض کړه که ښکاری سپی سویا اونیوله او مړے نے ورله خفه کړه اومړه شوه نو دا خوراك حرام دے ځکه چه ژحمی نے نه کړه . یاد لرئی چه دا شرطونه موجود شی او ښکاری ښکار اوکړی او دے فوری ورشی او هغه مړ وی نو ده لره نے خوراك روا دے او که ژوندے وی نو بیا پنځم شرط دا دے چه دے به نے ذبح کوی که ده ته د ذبح موقع ملاؤ شوه او ذبح نے نه کړو او ښکار مړ شو نو خوراك نے حرام دے (جواهر القران)

دحکمران دروازه به د خدمت خلق دپاره هروخت کولاؤ وی

(۳۸۷) **الحدیث الثانی** : عن معاویة رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَنْ وَلِیَ مِنْ اُمُوْرِ النَّاسِ شَیْئًا ثُمَّ اَغْلَقَ بَابَهٗ دُوْنَ الْمُسْلِمِیْنَ اَوِالْمَظْلُوْمِ اَوْذِی الْحَاجَةِ اَغْلَقَ اللهُ دُوْنَهٗ اَبْوَابَ رَحْمَتِهٖ عِنْدَحَاجَتِهٖ وَفَقْرَهٗ اَفْقَرَ مَایَکُوْنُ اِلَیْهَا. (رواه البیهقی فی شعب الایمان) صحیح لغیره . مسند احمد ط الرسالة رقم ۱۵۶۵۱

ترجمه :دحضرت معاویه رضی الله عنه نه روایت دے چه مادرسول الله ﷺ نه واوریدل چه وے فرمائیل چه کوم سړے دخلقو دامورونه دځه کاروالی (حاکم) حو ړسی اوبیا خلقوته یاچا مظلوم ته یا چا حاجت مندته دروازے بندے کړی(یعنی ځوکیدار یه د دروازه کښې ودروی اوضرورت مند ورته نه پریږدی اود هغوی په مسائلو ځان نه خبروی)نو الله تعالی به دخپل رحمت دروازے په ده باندے هغه وخت بندے کړی کله چه دے ډیر حاجتمند اومحتاج وی.

غصه کښې فیصله مه کوه

(۳۸۸) **الحدیث الثالث** :عَنْ اَبِی بَکْرَةَ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ یَقُوْلُ لَایَقْضِیَنَّ حَکَمٌ بَیْنَ اثْنَیْنِ وَهُوَ غَضْبَانُ . متفق علیه).

ترجمه :دحضرت ابوبکرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه هیڅ یو حاکم دے دقهراوغضب په حالت کښې ددوه کسانوپه مینځ کښې فیصله نه کوی (یعنی دغصے په وخت کښې دماغ صحیح نه وی هسے نه چه په باطله طریقه فیصله وکړی).

قاضی په خطرناك ډګر

(۳۸۹) **الحدیث الرابع** :عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ جُعِلَ قَاضِیًا بَیْنَ النَّاسِ فَقَدْذُبِحَ بِغَیْرِ سِکِّیْنٍ. صحیح .(رواه احمد والترمذی وابوداود وابن ماجه).

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه کوم کس خلقو په مینځ کښې قاضی مقررکړے شو هغه بغیر دچرے نه حلال کړے شو.

فائده: د خلقو مینځ کښ صحیح فیصلے کول لوئے عبادت دے خودعدل او انصاف تقاضے پوره کول ډیر گران دی د دے وجے نه دے حدیث کښ د دے مبارکے عهدے د مشکلاتو نه خبردارے ورکړو.

قاضیان درے قسمه دی

[۳۹۰] **الحدیث الخامس** عن بریدة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْقُضَاةُ ثَلَاثَةٌ وَاحِدٌ فِی الْجَنَّةِ وَاثْنَانِ فِی النَّارِ فَاَمَّا الَّذِی فِی الْجَنَّةِ فَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَقَضٰی بِهٖ وَرَجُلٌ عَرَفَ الْحَقَّ فَجَارَ فِی الْحُکْمِ وَرَجُلٌ قَضٰی لِلنَّاسِ عَلٰی جَهْلٍ فَهُوَ فِی النَّارِ. صحیح (رواه ابوداود وابن ماجه)

ترجمه: دحضرت بریده رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمانیل چه قاضیان په درې قسمه دی یوقسم قاضی به په جنت کښ وی اودوه قسمه قاضیان به دوزخ کښ وی کوم چه جنت کښ وی هغه به هغه وی چه حق پیژنی اودهغے مطابق حکم وکړی اوکوم کس چه حق پیژنی اوفیصله په ظلم سره وکړی (یعنی دخپلولی یادوستی خیال وساتی یارشوت واخلی). هغه به په دوزخ کښ وی اودریم هغه کس چه فیصلے په خلقو باندے په جهالت سره کوی (یعنی دقران وحدیث نه خبرنه وی اوپه بے علمی سره قضاکوی) نودے به په دوزخ کښ وی.

الدرس التاسع والسبعون ۷۹

حکمران په خطرناك ډگر

[۳۹۱] **الحدیث الاول** عن عبدالله بن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَامِنْ حَاکِمٍ یَحْکُمُ بَیْنَ النَّاسِ اِلَّاجَاءَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ وَمَلَکٌ اٰخِذٌ بِقَفَاهُ ثُمَّ یَرْفَعُ رَاْسَهٗ اِلَی السَّمَاءِ فَاِنْ قَالَ اَلْقِهِ اَلْقَاهُ فِی مَهْوَاةٍ اَرْبَعِیْنَ خَرِیْفًا. صحیح (رواحمد وابن ماجه والبیهقی). وقال احمد شاکر حسن" مسند احمد ص ۱٤۲ ج ٤

ترجمه: دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمانیل چه هرسو حاکم (خواه که قاضی وی اوکه بل یوامیر حاکم) چه دخلقو په مینځ کښ حکم اوفیصله کوی رابه ئے ولی دقیامت په ورځ ده لره یوه فریشته په داسے حال کښ چه نیولے به نی وی څټ د ده بیا به سر اوچت کړی اسمان نه (یعنی دالله حکم ته به منتظروی) کچرے الله تعالی حکم اوکړی چه دے اوغورزوی (په جهنم کښ یعنی که دے مجرم ثابت شی نواوبه غورځولے شی ددوزخ) په داسے کنده کښ چه جوروالے به ئے د څلویښتو کالو په مقدار وی.

د "الحمد لله کثیرا" وئیلو فضیلت

[۳۹۲] **الحدیث الثانی** عن سلمان قال: قال رسول الله ﷺ قال رجلٌ: الحمد لله کثیراً، فاعظَمها

السلك أن يكتبها ، وراجع فيها ربه عز وجل ، فقيل له : اكتبها كما قال عبدي : كثيراً . (أخرجه الطبراني في المعجم الأوسط جـ ٣ صـ ٤٤ . و هذا اسناد رجاله كلهم ثقات) و في رواية اكتبوا لعبدي رحمتي كثيراً . السلسلة جـ ٧ صـ ١٣٣٥ رقم ٣٤٥٢)

ترجمه :حضرت سلمان نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه یو سړی اووئیل " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا" نو لوئے اوګټرله دے کلمے لره فرشتے دلیکلو نه نو پښتنه اوکړه په دے کښ درب خپل ته (چه ده دے ثواب څنګه اولیکمه) نو اووئیلی شو ده ته اولیکه دے لره څنګه چه ځما بنده وائی "كَثِيْرًا". او په یو روایت کښ داسے دی چه ځما د بنده د پاره اولیکے رحمت ډیر .

قاضی له دمدالهی د حصول طریقه

[۳۹۳] **الحديث الثالث** :عن عبدالله ابن ابی اوفی رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ مَعَ الْقَاضِيْ مَالَمْ يَجُرْ فَإِذَا جَارَ تَخَلّٰى عَنْهُ وَلَزِمَهُ الشَّيْطَانُ. حسن. (رواه الترمذی وابن ماجه)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن ابی اوفی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه څوپورے قاضی ظلم اونه کړی نو الله تعالی دده سره وی یعنی دالله تعالی مدد او هدایت ورسره وی او چه کله ظلم اختیار کړی (یعنی غیرشرعی لاره اختیار کړی) نو الله تعالی ترے جداشی (یعنی دالله تعالی مدد ترے لرے شی)

فائده: د حدیث شریف حاصل دا دے چه د عدل او انصاف کولو سره د الله تعالی مدد ملګرے کیږی د دے وجے نه عدل او انصاف د ژوند په تولو شعبو کښ نافذ کول ضروری دی.

رشوت خور ملعون دے

[۳۹٤] **الحديث الرابع** :عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه قَالَ لَعَنَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الرَّاشِيْ وَالْمُرْتَشِيْ. صحيح. (رواه ابوداود وابن ماجه).

ترجمه :د حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په رشوت اخستونکی اوورکونکی (په دواړو) باندے لعنت فرمائیلے دے.

فائده: رشوت لویه ګناه ده ځکه حدیث کښ په رشوت اخستونکی او ورکونکی باندے لعنت اووئیلے شو او دا علامت د ګناه کبیره دے .او یاد لرئی ګناه کبیره بغیر د توبے نه نه معاف کیږی نو رشوت خور د پاره توبه لازم ده. اوکه ممکن وی نو چه چانه ئے رشوت اغشتے وی نو هغه د هغوی ته واپس کړی اوکه د هغوئی پته نه لګی او هغوئی ته رسائی ممکه نه وی نود هغے مقدار د غریبانو ته ورکړی او ثواب د مالکانو ته او بخی کیدشی الله تعالیٰ دے معاف کړی .

سفارش کونکی له تحفه رشوت دے

[۳۹۵] **الحديث الخامس** عن ابی امامة رضی الله عنه انّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ مَنْ شَفَعَ لِاَحَدٍ شَفَاعَةً فَاَهْدٰی لَهٗ هَدِيَّةً عَلَيْهَا فَقَبِلَهَا فَاَتَی بَابًا عَظِيْمًا مِنْ اَبْوَابِ الرِّبٰوا. حسن. (رواه ابوداود)

ترجمه: دحضرت ابوامامة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه کوم کس د چادپاره (چاحاکم قاضی ته) سفارش کوی اوسفارش کولو والا ده ته څه تحفه ولیږی اوهغه نے ترے واخلی نودے دسودد دروازونه په یوه لویه دروازه داخل شو.

فائده: خلاصه د حدیث شریف دا شوه چه چاله سفارش اوکړے نو هدیه ترے مه أخلی دا په نوم هدیه ده په حقیقت کښ رشوت دے.

الدرس الثمانون ﴿۸۰﴾

صدقه څه څیز دے؟

[۳۹۶] **الحديث الاول** عن جابر وحذيفة رضی الله عنهما قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كُلُّ مَعْرُوْفٍ صَدَقَةٌ. (متفق عليه).

ترجمه: دحضرت جابر وحذیفة رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه هره نیکی صدقه ده.

فائده: مطلب دا دے چه د صدقے ثواب په هر نیك کارحاصلیږی خصوصاً د هغه چا د پاره چه د مالی صدقے طاقت نے نه وی.

صدقه ناکاره مرګ دفع کوی

[۳۹۷] **الحديث الثانی** عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الصَّدَقَةَ لَتُطْفِیءُ غَضَبَ الرَّبِّ وَتَدْفَعُ مِيْتَةَ السُّوْءِ. (رواه الترمذی) وقال هذا حديث حسن غريب.

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه په صدقه ورکولوسره دالله غضب سړیږی اودناکاره مرګ د سړی نه دفع کوی.

فائده: دے حدیث شریف کښ د صدقے دوه فائدے بیان شوے یو د الله تعالی غضب دفع کوی دویم د ناکاره مرګ نه ورسره سړے بچ کیږی او دا دواړه د انسان ضرورتونه دی.

دصدقے اقسام

[۳۹۸] **الحديث الثالث** عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كُلُّ سُلَامٰی مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيْهِ الشَّمْسُ يَعْدِلُ بَيْنَ الْاِثْنَيْنِ صَدَقَةٌ يُعِيْنُ الرَّجُلَ عَلٰی دَابَّتِهٖ فَيَحْمِلُ عَلَيْهَا اَوْيَرْفَعُ عَلَيْهَا مَتَاعَهٗ وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ وَكُلُّ خُطْوَةٍ يَخْطُوْهَا اِلَی الصَّلٰوةِ صَدَقَةٌ وَيُمِيْطُ الْاَذٰی عَنِ الطَّرِيْقِ صَدَقَةٌ. (متفق عليه).

ترجمه :د حضرت ابو هریره رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه دسړی په هرېو جوړیاندی هره ورځ چه سحرراخیژی صدقه لازمیږی او(دده دپاره) چه دوه کسانو ترمینځه عدل وکړی داهم صدقه ده اوکه چامسلمان سره په سورلی کښ مدد وکړی داهم دده دپاره صدقه ده اوهره ښه خبره صدقه ده اوهرېو قدم چه دمانځه دپاره اخلی داددہ دپاره صدقه ده اوچه هر یو دضررشے دلارے نه لرے کوی داهم دده دپاره صدقه ده.

فائده : د حدیث شریف حاصل دا دے چه د الله تعالی کرم دے د صدقے الله تعالی ډیر مواقع مسلمان ته خودلے دی چه څوك هم صدقه کول غواړی نو صدقه کولے شی هیڅ څوك محروم نه شی کیدے.

صدقه ډیریږی

(۳۹۹) **الحديث الرابع** :عن ابی أُمَامَة قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ دَخَلَ رَجُلُ الجَنَّة ، فَرَاٰی عَلٰی بَابِهَا مَكْتُوباً : الصَّدَقَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا ، وَالْقَرْضُ بِثَمَانِيَةَ عَشَرَ . (اخرجه الطبرانی فی المعجم الکبیر جـ ۸ صـ ۷۹۷ . اسناده حسن السلسلة جـ ۷ صـ ۱۲۰۲)

ترجمه :حضرت ابو امامهؓ فرمائی چه رسول الله ﷺوئیلی دی داخل شی سړے جنت ته نو اوئے لیدو په دروازه د هغه چه لیکلے وو د صدقے ثواب په لس چنده دے او د قرض ثواب په اتلس چنده دے .

فائده :دا مضمون یو بل حدیث کښ هم دحضرت ابوامامة رضی اللهعنه نه روایت دے چه حضرت ابوذررضی اللهعنه عرض وکړو چه اے دالله نبی ماته وښایه چه دصدقے ثواب څومره دے؟نبی ﷺوفرمائیل چه چنددرچند (یعنی یوپه لسه نه یوپه اووه سوه) (چه دالله رضاشی) دے نه هم زیات. دے حدیثونوکښ د صدقے یو خاصیت ذکر شو چه صدقه په اخلاص ورکړے شی نو دا ډیریږی مطلب دا دے چه د الله تعالی په نوم صدقه ډیر د کتے سودا ده او بهترینه سرمایه کاری ده .

هره نیکی صدقه ده

(۴۰۰) **الحديث الخامس** :عن جابررضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ وَإِنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ اَنْ تَلْقٰی اَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلِيْقٍ وَّاَنْ تُفْرِغَ مِنْ دَلْوِكَ فِی إِنَاءِ اَخِيْكَ. حسن .(رواه احمدو الترمذی).

ترجمه :د حضرت جابر رضیؓ اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه هره نیکی صدقه ده (اوله نیکونه یونیکی داهم ده) چه ته خپل رورمسلمان سره مخامخ شی په خنداوخوش طبعی سره اودخپل لوښی نه اوبه دبل مسلمان رورپه لوښی کښ زیاتے واچوے.

الدرس الحادی والثمانون ﴿۸۱﴾

قرض د جنت د تلو رکاوټ دے

[٤٠١] **الحدیث الاول** :عن سمرة بن جندب قال : قال رسول الله ﷺ ها هنا أحدٌ من بنی فلانٍ ؟ إن صاحبکم محبوسٌ بباب الجنةِ بدینٍ علیه . (اخرجه الطیالسی فی مسنده . ۸۹۱ / ۱۲۱ . اسناده صحیح . السلسلة ج ۷ ص ۱۲۲٤)

فائده: حضرت سمرة بن جندب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل شته دے دلته کښ یو کس د بنو فلان (د یوے قبیلے نوم نے واغستلو) بے شکه ستاسو مړے د جنت په دروازه کښ بند دے (د جنت د تلو نه) په وجه د قرض چه په هغه باندے دے .

چه ورنے کړی نو کل شی

[٤٠٢] **الحدیث الثانی** :عن عائشة رضی الله عنها إنَّهُمْ ذَبَحُوْا شَاةً فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ مَابَقِیَ مِنْهَا قَالَتْ مَابَقِیَ إِلَّا کَتِفُهَا قَالَ بَقِیَ کُلُّهَا إِلَّا کَتِفَهَا. صحیح. (رواه الترمذی).

ترجمه: د حضرت عائشة رضی الله عنه نه روایت دے چه یو ځل مونږ یوه چیلی حلاله کړه (نوره غوښه تقسیم شوه یوه وولے پاتے شوه) رسول الله ﷺ وفرمائیل څه ترے پاتے شو حضرت عائشه رضی الله عنها عرض وکړو بغیر دشانے (دیو هډوکی نه) نور هیڅ نیشته رسول الله ﷺ وفرمائیل له دغه هډوکی نه سوا نوره ټوله پاتے شوه.

فائده : د حدیث مطلب دا دے چه کومه غوښه د الله تعالی په نوم ورکړے شوه نو هغه پاتے شوه او کومه چه مونږه او خوړه نو هغه ختمه او فانی شوه ځکه چه کوم شی د الله تعالی د پاره وی هغه باقی پاتے کیږی. امام مالک به فرمائیل "ماکان لله یبقی" هغه شی چه د الله تعالی د پاره وی هغه به پاتے کیږی نور به ختمیږی .

دڅان دحفاظت یوګر

[٤٠٣] **الحدیث الثالث** :عن ابن عباس رضی الله عنهما قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ مَامِنْ مُسْلِمٍ کَسَامُسْلِمًا ثَوْبًا إِلَّا کَانَ فِی حِفْظٍ مِّنَ اللهِ مَادَامَ عَلَیْهِ مِنْه خِرْقَةٌ.(رواه احمدوالترمذی)، وقال الترمذی هذا حدیث حسن غریب ،

ترجمه : د حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدل وے فرمائیل چه کوم مسلمان چامسلمان ته جامے ورواغوندوی نوتر هغے پورے به دالله په حفاظت کښ وی څوپورے چه یوه ټکړه هم دده په غاړه کښ وی.

فائده: مطلب دا دے چا مسلمان ته کپړے ورکول صدقه جاریه ده چه څومره مده هغه جامے د

هغه په تن وی او عبادت پرے کوی او پرده پرے ورته حاصله وی نو دومره به ده ته ثواب ملاویگی د دے وجے نه مناسب دا ده چه کوم خلق رسمی رواجی کارونو باندے پیسے خرچ کوی د هغے په ځائے دے چا مونځ ګوزار له جوړه جامے اخلی.

رسول الله ﷺ د مزدور مزدوری نه کموله

[٤٠٤] **الحديث الرابع** عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ يَقُوْلُ : كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَحْتَجِمُ وَلَا يَظْلِمُ اَحَدًا اُجْرَهُ . ((اسناده صحيح . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ١٣٢٥٣))

ترجمه : حضرت انس بن مالك نه روایت دے فرمائی چه رسول الله ﷺ به خکر لګولو او د هیچا مزدوری به ئے نه کموله .

فائده :خوږو لوستونکو اسلامی اصول دا دی چه مزدور ته مزدوری پوره ورکول پکار دی چه په څومره عقد شوے وی او زر ورکول پکار دی یو حدیث شریف کښ راځی چه مزدور ته مزدوری ورکړئ مخکښ د دے نه چه د هغه خوله اوچه شی ، د دے قیمتی اصولو خیال ساتل ضروری دی .

دشپے معمولات که فوت شی څه کول پکار دی؟

[٤٠٥] **الحديث الخامس** :عن عمر بن الخطاب يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ نَامَ مِنْ حِزْبِهٖ اَوْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَقَرَأَهُ مَابَيْنَ صَلٰوةِ الْفَجْرِ وَ صَلٰوةِ الظُّهْرِ كُتِبَ لَهٗ كَاَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيْلِ . رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح جـ ١ صـ ٢٤٤ .

ترجمه :دحضرت عمر بن الخطاب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه څوك دخپل معمول یا دهغے دځه حصے نه اوده شی نو دصبا او دماسپخین د مونځ مینځ کښ دے دا اولولی نو داسے شو چه لکه ده د شپے اولوستو.

فائده : دحدیث شریف نه معلومه شو چه بهتره داده چه د شپے معمولات فوت شی نو دماسپخین دمونځ نه دمخکښ مخکښ اوکړے شی نو کمے به پوره شی او معمولاتو کښ به ناغه رانه شی او په دے حدیث به عمل اوشی چه خوږ نبی ﷺ وائی غوره عمل هغه دے چه همیشه اوکړے شی ، یاد لرئی چه دے حدیث شریف دا خبره په نښه کړه چه د شپے معمولات مقرر کول مسنون دی تلاوت قرآن نفل مونځ یا ذکر څه نه څه وظیفه کول پکار دی اوکه په څه عذر پاتے شی نو قضائے مستحب ده حدیث شریف کښ رازی چه پیغمبر ﷺ نه به په څه وجه د شپے تهجد پاتے شو نو د ورځے به ئے دولس رکعاته اوکړل . ((تحفه جـ٣ صـ ١٥٠))

الدرس الثانی والثمانون ﴿۸۲﴾

اول ځان دے بیاجهان دے

[٤٠٦] **الحدیث الاول** :عن ابی هریرة وحکیم ابن حزام رضی الله عنهما قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَا كَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنیً وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُوْلُ. (رواه البخاری).

ترجمه :دحضرت ابو هریره اوحکیم بن حزام رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه بهترینه صدقه هغه ده چه بے پرواهی سره وی (یعنی چه توفیق لرے دانه چه ځان قرضدارے کړے) اودصدقے ورکول دهغه چانه شروع کړه چه دچانفقه په تالازم وی یعنی خپل اهل وعیال.

فائده: بعض خلق په یارانو دوستانو خرچے کوی خود بچو او د مور پلار خیال نه ساتی هغوئی له په دے حدیث شریف د عمل کولو غور ضروری دے .

[٤٠٧] **الحدیث الثانی** :عن ابی مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا أَنْفَقَ الْمُسْلِمُ نَفَقَةً عَلٰی اَهْلِهٖ وَهُوَ يَحْتَسِبُهَا كَانَتْ لَهٗ صَدَقَةً. (متفق علیه).

ترجمه:دحضرت ابو مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه څه وخت سړے په خپل اهل وعیال باندے خرچ کوی اودثواب امیدلے لری نودا د ده دپاره صدقه ده.

[٤٠٨] **الحدیث الثالث** :عن ثوبان رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَفْضَلُ دِيْنَارٍ يُنْفِقُهُ الرَّجُلُ دِيْنَارٌ يُنْفِقُهُ عَلٰی عِيَالِهٖ وَدِيْنَارٌ يُنْفِقُهُ عَلٰی دَابَّتِهٖ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَدِيْنَارٌ يُنْفِقُهُ عَلٰی اَصْحَابِهٖ فِیْ سَبِيْلِ اللّٰهِ. (رواه مسلم)

ترجمه :دحضرت ثوبان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه بهترین دینار هغه دے چه سړے ئے په خپل اهل وعیال باندے خرچ کړی اوبهترین دینار هغه دے چه (سړے) دالله لارے په سورلی باندے خرچ کړی اوبهترین دینار هغه دے چه سړے ئے په خپلو ملګرو باندے خرچ کړی کوم چه دالله په لارکښ جهادته وتلے وی.

فائده: دفی سبیل الله په مصداق کښ طالب علم هم دے چه سړے په سفر د علم کښ په طالبانو ملګرو باندے خرچ کوی هغه هم په دے حکم کښ دے یعنی دغه بهترین مال دے چه د دین په طالبانو خرچ شی

اکرام کښ نزدے ګاونډی مقدم دے

[٤٠٩] **الحدیث الرابع** :عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ لِی جَارَيْنِ فَإِلٰی أَيِّهِمَا أُهْدِیْ قَالَ إِلٰی أَقْرَبِهِمَا مِنْكِ بَابًا. (رواه البخاری).

ترجمه :دحضرت عائشه رضی الله عنه نه روایت دے چه ماعرض وکړو اے دالله رسوله زمادوه

گاونډیان دی څه په دوی کښې کوم یوته تحفه (صدقه) ولیږم؟ وے فرمائیل چه دچادروازه زیاته نزدے وی.

فائده: بره ذکر شوے حدیثونو کښې د خرچے ترتیب بیان شو اول حدیث کښې درے حق داران بیان شو اول اهل عیال دوم سورلی دریم د الله تعالی د لارے ملگرے دویم حدیث کښې نزدے گاونډی په صدقه کښې د دے ترتیب خیال ساتل پکار دی.

دخلقو خلے دخدائے نغارے

[٤١٠] **الحدیث الخامس** :عن سلمة بن الاکوع قال قال رسول الله ﷺ: انتم شهداء الله فی الارض والملائکة شهداء الله فی السماء .صحیح (الجامع جـ ١ صـ ٣١٢).

ترجمه: دحضرت سلمه بن الاکوع نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی حه تاسو گواهان دالله تعالیٰ ئی په زمکه باندے او فرشتے گواهان دی په آسمان باندے.

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه عام خلق خصوصاً عام نیکان په سړی د څه گواهی اوکړی نو هغه به څه وی دارنگ دیو سړی باره کښې چه یو رائی عام خلق لری نو اکثر و بیشتر هم هغه شان وی لکه متل دے چه دخلقو خلے د خدائے نغارے دی.

الدرس الثالث والثمانون ﴿٨٣﴾

په یوغشی دوه بنکاره

[٤١١] **الحدیث الاول** :عن سلیمان بن عامر رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ الصدقة علی المسکین صدقة وهی علی ذی الرحم اثنان صدقة وصلة .حسن .(رواه احمد و الترمذی و النسائی و ابن ماجه و الدارمی).

ترجمه: دحضرت سلیمان بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه مسکین ته صدقه ورکول یوه صدقه ده اوخپلوان مسکین ته صدقه ورکول دوه اجره دی یودمسکینی اوبل دصله رحمی (خپلولی).

دپیسو (روپو) دخرچ ترتیب

[٤١٢] **الحدیث الثانی** :عن ابی هریرة رضی الله عنه قال جاء رجل الی رسول الله ﷺ فقال عندی دینار قال انفقه علی نفسک قال عندی آخر قال انفقه علی ولدک قال عندی آخر قال انفقه علی اهلک قال عندی آخر قال انفقه علی خادمک قال عندی آخر قال انت اعلم .صحیح .(رواه ابوداود و النسائی).

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ ته خدمت کښې یو سړے حاضر شو .عرض ئے وکړو (یارسول الله) ماسره یودینار دے (چه څه ئے خرچ کول

غواړم) رسول الله ﷺ ورته وفرمائيل په خپل نفس نے خرچ کړه .هغه عرض وکړو ماسره يوبل دے وے فرمائيل په خپل اولاد نے خرچ کړه هغه بياعرض وکړو ماسره يوبل دے وے فرمائيل په خپل اهل (يعنی په خپلوانو)نے خرچ کړه. هغه عرض وکړو ماسره يوبل دے وے فرمائيل چه په خپل نوکريعنی مزدور نے خرچ کړه هغه بياعرض وکړو ماسره يوبل دے حضور ﷺ ورته وفرمائيل چه نورته په خپله بنه پوهيږی (يعنی دے نه مخکښ حقدار ورله ګوره.)

د موسی عليه اووه سوالات او د رب کريم جوابات

[٤١٣] **الحديث الثالث**: عن ابی هريرةؓ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَاَلَ مُوْسٰی رَبَّهٗ عَنْ سِتِّ خِصَالٍ ؛ كَانَ يَظُنُّ اَنَّهَا لَهٗ خَالِصَةً ، وَالسَّابِعَةَ لَمْ يَكُنْ مُوْسٰی يُحِبُّهَا : (١) قَالَ : يَا رَبِّ ! اَیُّ عِبَادِكَ اَتْقٰی ؟ قَالَ : يَذْكُرُ وَلَا يَنْسٰی. (٢) قَالَ : فَاَیُّ عِبَادِكَ اَهْدٰی ؟ قَالَ : اَلَّذِی يَتَّبِعُ الْهُدٰی (٣) قَالَ : فَاَیُّ عِبَادِكَ اَحْكَمُ ؛ قَالَ : اَلَّذِی يَحْكُمُ لِلنَّاسِ كَمَا يَحْكُمُ لِنَفْسِهٖ (٤) قَالَ : فَاَیُّ عِبَادِكَ اَعْلَمُ؟ قَالَ: اَلَّذِی لَا يَشْبَعُ مِنَ الْعِلْمِ ؛ يَجْمَعُ عِلْمَ النَّاسِ اِلٰی عِلْمِهٖ (٥) قَالَ : فَاَیُّ عِبَادِكَ اَعَزُّ ؟ قَالَ : اَلَّذِی اِذَا قَدَرَ غَفَرَ (٦) قَالَ : فَاَیُّ عِبَادِكَ اَغْنٰی ؟ قَالَ : اَلَّذِی يَرْضٰی بِمَا يُؤْتٰی (٧) قَالَ : فَاَیُّ عِبَادِكَ اَفْقَرُ ؟ قَالَ : صَاحِبُ مَنْقُوْصٍ . قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ الْغِنٰی عَنْ ظَهْرٍ ؛ اِنَّمَا الْغِنٰی غِنَی النَّفْسِ ، وَ اِذَا اَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدٍ خَيْرًا ؛ جَعَلَ غِنَاهُ فِی نَفْسِهٖ ، وَ تُقَاهُ فِی قَلْبِهٖ ، وَ اِذَا اَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدٍ شَرًّا جَعَلَ فَقْرَهٗ بَيْنَ عَيْنَيْهِ . (اخرجه ابن حبان فی صحيحه ٨٦/ ٥٠ . اسناده حسن رجاله ثقات . السلسلة ج ٧ ص ١٠٥٨).

ترجمه: حضرت ابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی تپوس اوکړو موسی عليه السلام د خپل رب نه د شپږو خصلتونو چه هغه ګمان کولو چه دا ځما د پاره خالص دی او اووم خصلت چه هغه نه ښوه خولو (١) اووئيل موسی عليه السلام اے ربه ! څوك دے زيات پرهيزګار د بندګانو ستا نه؟ اووئيل الله هغه چه ما ياده وی او هيره وی مے نه (٢) اووئيل موسی عليه السلام اے الله کوم يو بنده ستا زيات په هدايت دے؟ اووئيل الله هغه چه تابعدای کوی د کتاب ځما (٣) اووئيل موسی عليه السلام کوم يو بنده خه فيصله کونکے دے؟ اووئيل الله هغه کس چه فيصله کوی خلقو له لکه څنګه چه ځان ته فيصله کوی (٤) اووئيل موسی عليه السلام کوم يو د بندګانو ستا نه زيات پوهه دے ؟ اووئيل الله هغه کس چه نه مړيږی د علم نه جمع کوی علم خپل سره علم د خلقو نو

(٥) اووئيل موسی عليه السلام کوم يو د بندګانو نه تاته ګران دے؟ نو اووئيل الله هغه کس کله چه قادر شی نو معافی کوی (٦)نو اووئيل موسی عليه السلام کوم يو د بندګانو نه زيات مالدار دے؟ نو اووئيل الله هغه کس چه خوشحاليږی په هغه څه باندے چه د الله د طرف نه ورکړے شی (٧) اووئيل موسی عليه السلام کوم يو د بندګانو ستا نه زيات فقير دے؟ نو

اووئیل الله هغه کس چه کم کنړی هغه چه هغه ته ورکړی شی (یعنی نفس ئے نه مړیکی) وئیلی دی رسول الله ﷺ نه ده مالداری په مال باندے مالداری مالداری د نفس ده او کله چه اراده اوکړی الله بنده ته د خیر نو اوګرځوی مالداری د ده په نفس کښ او تقوی د ده په زړه کښ او کله چه اراده اوکړی الله بنده ته د شر نو اوګرځوی فقر په مینځ د سترګو د ده کښ .

هیڅ نیکی سپکه مه ګڼره

[٤١٤] **الحدیث الرابع** :عن ابی ذررضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاتَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْاَنْ تَلْقٰى اَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْيْقٍ. (رواه مسلم).

ترجمه :دحضرت ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه تاسو هیڅ یوه نیکی حقیره (لږه) مه ګڼری. اګرچه دخپل رورسره په خوشحالی سره مخامخ شے هم.

داځیزونه ټول صدقے دی

[٤١٥] **الحدیث الخامس** :عن ابی ذررضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَبَسُّمُكَ فِي وَجْهِ اَخِيْكَ صَدَقَةٌ وَاَمْرُكَ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ وَنَهْيُكَ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ وَاِرْشَادُكَ الرَّجُلَ فِي اَرْضِ الضَّلَالِ لَكَ صَدَقَةٌ وَنَصْرُكَ الرَّجُلَ الرَّدِيُّ الْبَصَرِ لَكَ صَدَقَةٌ وَاِمَاطَتُكَ الْحَجَرَ وَالشَّوْكَ وَالْعَظْمَ عَنِ الطَّرِيْقِ لَكَ صَدَقَةٌ وَفَرَاغُكَ مِنْ دَلْوِكَ فِيْ دَلْوِ اَخِيْكَ لَكَ صَدَقَةٌ. صحيح. (رواه الترمذی).

ترجمه :دحضرت ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه ته دخپل رورمسلمان سره مخامخ شے (په داسی حال کښ) چه ته مسکے ئے داصدقه ده اوته دنیکی حکم کوے چاته داصدقه ده اوچه دبدی نه څوك منع کوے داصدقه ده اوکه دچانه لارخطاشوے وی هغه ته لارخودل صدقه ده دکم نظر والا سړی سره مددکول صدقه ده دلارے نه کانړے ، تیګه هډوکے لرے کول صدقه ده اودخپل لوښی نه دخپل مسلمان رورپه لوښی کښ اویه اچول صدقه ده.

الدرس الرابع الثمانون ﴿٨٤﴾

دمړی دپاره بهتره صدقه

[٤١٦] **الحدیث الاول** :عن سعد بن عبادة رضی الله عنه قَالَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّ اُم سَعْدٍ مَاتَتْ فَاَيُّ الصَّدَقَةِ اَفْضَلُ قَالَ الْمَاءُ فَحَفَرَ بِئْرًا وَقَالَ هٰذِهٖ لِاُمِّ سَعْدٍ. حسن. (رواه ابوداود و النسائی)

ترجمه :دحضرت سعدبن عبادةرضی الله عنه نه روایت دے چه مادرسول الله ﷺ نه تپوس وکړو اے دالله رسوله ام سعد (یعنی زمامور) مړه شوے ده (اوڅه دهغے په حق کښ صدقه کول

غواړم)کومه یوه صدقه بهتره ده؟رسول الله ﷺ وفرمائیل اوبه نو حضرت سعد رضی الله عنه کوهے وکنسته اووے ویل چه دادام سعدیعنی زمامورپه حق کښ صدقه شوه.

فائده: د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه د مړو د ایصال ثواب د پاره د مخلوق خدا د پاره د اوبو د پروګرام کولو لوئے ثواب دے مدارك د یو ایت په تفسیر کښ لیکلی دی چه بل ته اوبه ورکول د بهترو أعمالو نه دے یعنی اوبه فراهم کول انسانانو ته دا د بهترینو اعمالو نه دے .نو پکار دی چه سړے د وسع مناسب د اوبو د فراهمی کوشش اوکړی د ضرورت په ځائے هینډ پمپ اولګه وی اوکه وسع کښ وی نو کوهی اوکنه وی دا اوبه پمپ او مشین اولګوی کنے ټینکی او سبیل کښ حصه واخلی یا د یخو اوبو کلر په مناسب ځائے د ګلاس سره کیږ دی چه خلق ترے اوبه څکی .

په سپی درحم بدله

[٤١٧] **الحدیث الثانی** :عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ غُفِرَلِامْرَأَةٍ مُوْمِسَةٍ مَرَّتْ بِكَلْبٍ عَلٰى رَأْسِ رَكِيٍّ يَلْهَثُ كَادَيَقْتُلُهُ الْعَطَشُ فَنَزَعَتْ خُفَّهَافَأَوْثَقَتْهُ بِخِمَارِهَا فَنَزَعَتْ مِنَ الْمَاءِ فَغُفِرَتْ لَهَابِذٰلِكَ .(متفق علیه)

ترجمه: دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه الله تعالی یوبدکارے ښځے ته بخښش اوکړو(په دے خبره چه یوه وږغ)تیریده په یوسپی باندے چه د یوکوهی په غاړه باندے ولاړ وواوله تندے په وجه نے خپله ژبه راویستے ده قریبه وه (داخبره) چه له تندے دشدت نه هلاك شوے وے نودے ښځے خپله پټه راوویسته اوپه زړوکی(خادر) پورے نے وترله او اوبه نے راوویستے سپے نے خړوب کړو په دے وجه الله پاك ورته بخښش وکړو.

په پیشو دظلم سزا

[٤١٨] **الحدیث الثالث** :عن ابن عمرو ابی هریرة رضی الله عنهما قَالَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عُذِّبَتْ اِمْرَءَةٌ فِی هِرَّةٍ اَمْسَكَتْهَا حَتّٰی مَاتَتْ مِنَ الْجُوعِ فَلَمْ تَكُنْ تُطْعِمُهَا وَلَاتُرْسِلُهَا فَتَاْكُلُ مِنْ خُشَاشِ الْاَرْضِ .(متفق علیه)

ترجمه :دحضرت ابن عمراو ابو هریره رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه یوه ښځه (صرف) په دے وجه په عذاب کښ اخته شوه چه پیشو نے ترلے وه تردے پورے چه دلوږے دکبله مړه شوه چه نه ے خورل(څکل)پرے کول اونه نے پریخوده چه د زمکے څه څناور وغیره ئی خورلے وو.

دولیمے دعوت قبلول

[٤١٩] **الحديث الرابع** :عن ابن عمر رضی اللہعنہ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَالَ إِذَادُعِیَ اَحَدُکُمْ إِلَی الْوَلِیْمَةِ فَلْیَأْتِهَا .(متفق علیہ)

ترجمہ:دحضرت ابن عمر رضی اللہعنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه کله تاسونه څوك د واده روتی. ته وغوښتے شی نوورشی. ورته .

[٤٢٠] **الحديث الخامس** :عن جابر رضی اللہعنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺإِذَادُعِیَ اَحَدُکُمْ إِلَی طَعَامٍ فَلْیُجِبْ فَإِنْ شَاءَ طَعِمَ وَإِنْ شَاءَ تَرَكَ .(رواه مسلم).

ترجمہ:دحضرت جابر رضی اللہعنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه څه وخت یوله تاسو نه ډوډی ته څوك اوغواړی یعنی دعوت درکړی نوورشی. ورله کجرے خوښه وی نوروتے د اوخری اوکه خوښه وی (نو صرف حاضری د اوکړی) روتے د پریکدی.

فائده : د حدیث شریف حاصل دا شو چه دعوت د ولیمه که د منکراتو نه خالی وی نو قبلول نے پکار دی او حاضری ضروری ده خوراك ضروری نه دے .

الدرس الخامس والثمانون ٨٥

بے دعوته طعام خوړل لوټ دے

[٤٢١] **الحديث الاول** :عن ابن عمررضی اللہعنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺمَنْ دُعِیَ فَلَمْ یُجِبْ فَقَدْعَصَی اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ وَمَنْ دَخَلَ عَلٰی غَیْرِ دَعْوَةٍ دَخَلَ سَارِقًا وَخَرَجَ مُغِیْرًا. قال شعیب الارنؤط له اسناده ضعیف و له شاهد موقوف علی ابی هریرة و هو صحیح ابو داؤد جـ ٤ صـ ٥٧٠ رقم ٣٧٤٣ ، رواه ابوداود) .

ترجمہ:دحضرت ابن عمر رضی اللہعنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه کوم کس ته دعوت ورکړے شی اوهغه نے قبول نه کړی نوده د اللہاواللہدرسول نافرمانی اوکړه اوهر څوك چه دخوراك په یو مجلس کښ بے له دعوته راداخل شو نویو غل ووراغے غلائے وکړه اولاړو لوټ کونکے.

فائده: دے روایت مضمون په یو بل روایت کښ راغلیدے چه هغه موقوف دے په ابو هریرةؓ باندے ابو هریرةؓ وائی چه ناکاره طعام د هغے ولیمے دے چه مالدار ورته بللے شی او فقیران پریښودلے شی لو څوك چه دعوت قبول نه کړی نو ده نافرمانی اوکړه د الله تعالی او د رسول ﷺ.

دمخکینی دعوت قبول کړه

[٤٢٢] **الحديث الثانی** :عن رجل من اصحاب رسول الله ﷺاَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺقَالَ إِذَااجْتَمَعَ الدَّاعِیَانِ فَاَجِبْ

اَقْرَبُهُمَا بَابًا وَاِنْ سَبَقَ اَحَدُهُمَا فَاَجِبِ الَّذِیْ سَبَقَ. رواه احمد وابوداود و قال حمزة الزين اسناده حسن مسند احمد ج ١٧ ص ٥، رقم ٢٣٣٥٨

ترجمه :درسول الله ﷺ دصحابه کرامو نه د یوصحابی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه څه وخت دوه دعوتونوالا یو ځائے شی (تاسوله)راشی نو چه دچادروازه نزدے وی نو دهغه دعوت قبول کړی بیاکچرے د دواړونه یومخکښ دعوت درکړی نودړومبنی دعوت قبول کړی.

دام المومنين زينب رضى الله عنها وليمه

[٤٢٣] **الحديث الثالث** :عن انس رضى الله عنه قَالَ اَوْلَمَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ حِيْنَ بَنٰى بِزَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ فَاَشْبَعَ النَّاسَ خُبْزًا وَلَحْمًا. متفق عليه

ترجمه :دحضرت انس رضى الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حضرت زینب بنت جحش سره نکاح وکړه نوډهغے نه پس یعنی دنکاح په صباله نے خلق په غوښه اوروتی مارہ کړل.

په دوډئ د اوريشو وليمه

[٤٢٤] **الحديث الرابع** :عن صفيه بنت شيبة رضى الله عنها قَالَتْ اَوْلَمَ النَّبِیُّ ﷺ عَلٰى بَعْضِ نِسَاءِهٖ بِمُدَّيْنِ مِنْ شَعِيْرٍ. رواه البخارى

ترجمه :دحضرت صفيه بنت شيبة رضى الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ بعضے ببیانو(غالبادام سلمه) ولیمه دوه سیره داوریشو دوډی سره کړے وه.

په ستوانو اوکجورو وليمه

[٤٢٥] **الحديث الخامس** :عن انس رضى الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ اَوْلَمَ عَلٰى صَفِيَّةَ بِسَوِيْقٍ وَّتَمْرٍ. صحيح. رواه احمد والترمذى وابوداود وابن ماجه

ترجمه :دحضرت انس رضى الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حضرت صفیه ولیمه صرف ستوانو اوکجورو سره کړے وه.

الدرس السادس والثمانون ٨٦

دریاکارو طعام نه پرهیزپکاردے

[٤٢٦] **الحديث الاول** :عن عكرمه رضى الله عنه عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ نَهٰى عَنْ طَعَامِ الْمُتَبَارِيَيْنِ اَنْ يُّؤْكَلَ. صحيح. رواه ابوداود.

ترجمه :دحضرت عکرمه وابن عباس رضى الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده ده هغه دوه کسانو دډوډی نه چه هغوی فخرکونکی وی (او یو بل سره په طعام

ورکولو کښې بطور فخر مقابله کوی)

ناکاره ولیمه

[٤٢٧] **الحديث الثاني** :عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيْمَةِ يُدْعٰى لَهَا الْاَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ .متفق عليه.

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه دتولونه بدترینه ډوډۍ دهغه واده ده چه مالدار پکښې راغواړی اومسکینان پکښې پریږدی.

فائده : په ولیمه کښې د فقراء او د غرباء خیال ساتل پکار دی دے سره برکت رازی او دوئی نظر انداز کول سبب د بے برکتے دے خیال اوکړئی چه کومه ولیمه کښې دغریبانو خیال اونه ساتلے شی هغے ته خوږ نبی ﷺ ناکاره طعام وئیلے دے

دغیب وینابے بنیاده ده

[٤٢٨] **الحديث الثالث** :عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ سَاَلَ النَّاسُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْكُهَّانِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّهُمْ لَيْسُوْا بِشَيْءٍ.متفق عليه.

ترجمه :دحضرت عائشة رضی الله عنها نه روایت دے چه څه خلقو د رسول الله ﷺ نه د کاهنانو په باره کښې تپوس وکړو رسول الله ﷺ وفرمائیل چه دا هیڅ شے نه دے.

فائده: کاهن هغے کس ته وائی چه دراتلونکو وختونو حالات وائی خو دا دروغ دی د راتلونکی وخت حالات صرف الله تعالی ته یقینی طور باندے معلوم دی څکه خوږ نبی ﷺ او فرمائیل چه دوئی په هیڅ نه دے یعنی په غلطه دی .

د ایمان د تازه کولو طریقه

[٤٢٩] **الحديث الرابع**:عن أبی هريرةؓ قال قال رسول الله ﷺ جَدِّدُوا اِيْمَانَكُمْ قِيلَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَ كَيْفَ نُجَدِّدُ اِيْمَانَنَا ؟ قَالَ : اَكْثِرُوا مِن قَول لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰه .رواه احمد و اسناده جيد (مجمع الزوائد جـ ١ صـ ٨٢)

ترجمه: د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی تازه کړئی خپل ایمانونه اوئیلے شو یا رسول الله څه رنګ تازه کړو ایمانونه وئیل ئے ډیر کړئی (بار بار وائی) دا قول چه "لا اله الا الله" نیشته لائق د عبادت سیوا د الله تعالی نه صرف هغه لائق د عبادت دے .

فائده: معلومه شوه چه ایمان په دے تازه کیږی چه سړے د کلمے معنی او پیژنی چه الله تعالی لائق د تولو اقسامو د عبادت دے او بل هیڅ څوك لائق د عبادت نیشته او بیا په دے باندے کلك ولاړوی او په دغه عقیده بار بار دا کلمه وائی چه لا اله الا الله او دا عهد او لوظ تازه کوی .

بل یو روایت کښې راغلیدی د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه نقل دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه ایمان زړپړی په سینو کښې لکه څه رنګ چه جامه زړپړی نو تاسو الله تعالی نه اوغواړی چه ستاسو ایمان نوے کړی (اسناده حسن مجمع الزوائد) نو دے روایت نه معلومه شوه چه ایمان د تازه کولو د پاره دعا او سوال د الله تعالی نه ضروری دے چه ایمان څمونږه تازه او محفوظ شی.

ددے کسانو نه الله تعالی بیزاره دے

[٤٣٠] **الحديث الخامس** :عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَتٰى كَاهِنًا فَصَدَّقَهٗ بِمَا يَقُوْلُ اَوْاَتٰى اِمْرَءَتَهٗ حَائِضًااَوْاَتٰى اِمْرَءَتَهٗ فِی دُبُرِهَا فَقَدْبَرِیءَ مِمَّاانْزِلَ عَلٰی مُحَمَّدٍ. صحیح. (رواه احمد وابوداود).

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه کوم کس کاهن (نجومی) ته لاړشی اوچه څه ورته هغه ووائی اودے نے ریښتیا وګڼړی اویادحیض په حالت کښې خپلے ښځے سره جماع وکړی اویاورسره دشا دطرفه بدفعلی وکړی نودے بے زاره شود هغه څه نه کوم چه په محمد ﷺ نازل شویدے (یعنی دقران مجیدنه).

الدرس السابع والثمانون ﴿٨٧﴾

داسلام بهترین خصلتونه

[٤٣١] **الحديث الاول** :عن عبدالله بن عمرو رضی الله عنه اَنَّ رَجُلًا سَاَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اَیُّ الْاِسْلَامِ خَیْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرِیُ السَّلَامَ عَلٰی مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَّمْ تَعْرِفْ. متفق علیه.

ترجمه :دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ نه یو سړے راغلے عرض ئے وکړو چه اسلام کښې کوم یو عمل بهتر دے؟ رسول الله ﷺ وفرمائیل چه په غریبانو باندے روټی خوړل اوپه هر آشنا اوناآشنا باندے سلام اچول.

اسبابِ دمحبت

[٤٣٢] **الحديث الثانی** :عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاتَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰی تُؤْمِنُوا وَلَاتُؤْمِنُوا حَتّٰی تَحَابُّوْا اَوَلَا اَدُلُّكُمْ عَلٰی شَیْءٍ اِذَافَعَلْتُمُوْهُ تَحَابَبْتُمْ اَفْشُوا السَّلَامَ بَیْنَكُمْ. رواه مسلم.

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه تاسو به جنت ته داخل نه شی ترهغے چه ایمان رونه ړے اوایمان به رانه وړی ترهغے چه خپلو کښې دوستی قائمه نه کړی ایا ونه ښائم څه تاسوته یو عمل داسے چه دهغے په ذریعه ستاسو په مینځ کښې دوستی اومحبت پیدا شی اوهغه دا چه تاسو په خپلو کښې سلام عام اختیار کړی یعنی هر اشنااوناآشنا مومن ته السلام علیکم ووائی.

فائده: حدیث شریف کښی د مینے پیدا کیدلو یوه طریقه بیان شوه چه هغه د ملاقات وخت کښی سلام اچول دی.

درے به په درے سلام اچوی

[٤٣٣] **الحديث الثالث** :وعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلرَّاكِبُ عَلَى الْمَاشِيْ وَالْمَاشِيْ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيْلُ عَلَى الْكَثِيْرِ. متفق عليه.

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه سوردے په پیاده باندے سلام وائی اوروان دے په ناستو اولږ دے په ډیرو باندے سلام وائی یعنی مخکښ دے شی پرے.

فائده : حدیث شریف کښی د سلام څه اداب بیا ن شو یو دا چه په سورلے سور به په پیاده سلام اچوی دویم دا چه پیاده تلونکی به په ناست سلام اچوی دریم دا چه لګ به په ډیر سلام اچوی.

په ماشومانو سلام سنت دے

[٤٣٤] **الحديث الرابع** :عن انس رضی اللهعنه قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَرَّ عَلٰى غِلْمَانٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِمْ. متفق عليه.

ترجمه :دحضرت انس رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ په څه ماشومانو تیریده سلام ئے پرے واچولو.

فائده: حدیث شریف نه معلومه شو چه په ماشومانو باندے هم سلام اشول سنت دی باعث د ثواب او برکت دے.

په زنانو دسلام حکم

[٤٣٥] **الحديث الخامس**:عن جرير رضی اللهعنه اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ مَرَّ عَلٰى نِسْوَةٍ فَسَلَّمَ عَلَيْهِنَّ. صحيح. رواه احمد.

ترجمه :دحضرت جریر رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یوه ورځ په زنانو تیریده سلام ئے پرے وفرمائیلو.

تشریح : په زنانه سلام اچول درسول الله ﷺ سره مخصوص ووځکه چه رسول الله ﷺ په هیڅ قسمه فتنه اوشر کښی نه مبتلا کیده اونه ددے خبرے څه خوف وخطر وواوبل هیچا ته ددے اجازت نیشته خصوصا په دے زمانه کښی داجنبی سړی سلام په اجنبی ښځو جائزنه دے البته یوه داسی بوډی سپین سرے چه نه دهغے په زړه کښی بدګمانی راځی اونه دنورو په زړونو کښی څه شکوك وشبهات پیداکیږی نوبیاپرے سلام اچول جائزدی.

الدرس الثامن والثمانون ۸۸

د یهود د سلام ـ جواب طریقه

[٤٣٦] **الحديث الاول** :عن ابن عمر رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَاسَلَّمَ عَلَيْكُمُ الْيَهُوْدُ فَاِنَّمَا يَقُوْلُ اَحَدُهُمُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ فَقُلْ وَعَلَيْكَ. متفق علیہ

ترجمه :د حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه څه وخت یهودی په تاسو سلام وائی نو بیشك وائی یو د دوئی په تاسو د مرګ وی نو تاسو په جواب کښ وائی وعلیك (یعنی تاله دے مرګ راشی)

د مسافر د جمعے حکم

[٤٣٧] **الحديث الثانی** :عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ عَلٰى مُسَافِرٍ جُمُعَةٌ. صحیح (الجامع ج ۱ص ۹۵۲).

ترجمه :د حضرت ابن عمرؓ نه روایت د ے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی نشته په مسافر باندے جمعه .

فائده:د حدیث شریف مطلب دادے چه په مسافر باندے جمعه فرض نه ده کچرے دے ځان له مونځ کوی نو دماسپښین څلور رکعاته مونځ به کوی البته که چا پسے د جمعے مونځ اوکړی اویا په یو خار او قصبه (غټ کلی) کښ دے په خپله د جمعے مونځ ورکړی نو مونځ او جماعت د جمعے نے صحیح کیږی.

سلام اچونکے اوقبلونکے په ډله کښ یو کافی دے

[٤٣٨] **الحديث الثالث** :عن علی رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَجْزِیُ عَنِ الْجَمَاعَةِ اِذَامَرُّوْا اَنْ يُّسَلِّمَ اَحَدُهُمْ وَيَجْزِیُ عَنِ الْجُلُوْسِ اَنْ يَّرُدَّ اَحَدُهُمْ. حسن. رواه البیقی.

ترجمه :د حضرت علی بن ابی طالب رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه څه خلق یعنی یوه ډله تیریږی په ناستو خلقو نودیوکس سلام کافی دے په ټولو باندے اودناستو له طرف نه کافی دے وعلیکم السلام دیوکس .

فائده : دے حدیث شریف کښ د سلام اچولو یو ادب بیان شو چه د ډلے نه یو سړے سلام اچوی نو د ټولو د پاره دا کافی دے او چه په ډله کښ یو سړے جواب ورکړی نو د ټولو نه دا کافی دے .

باربار ملاقات سره باربار سلام

[٤٣٩] **الحديث الرابع** :عن ابی هريرة رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَالَقِیَ اَحَدُكُمْ اَخَاهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ

فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ أَوْ جِدَارٌ أَوْ حَجَرٌ ثُمَّ لَقِيَهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ. صحيح. رواه ابو داود.

ترجمه: دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائيل چه څه وخت له تاسو نه يو کس دخپل رور مسلمان سره مخامخ شی نو سلام دے واچوی دے نه پس کچرے ددواړو ترمينځه وُنه يا ديوال يا غټه ګټه راشی اوبياسره مخامخ شی نوبيا دے سلام واچوی.

فائده: دے حديث شريف کښ د سلام يو بل ادب بيان شو هغه دا دے چه سلام بار بار اچول پکار دی.

درخصتی سلام هم مسنون دے

[٤٤٠] **الحديث الخامس**: عن قتادة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا دَخَلْتُمْ بَيْتًا فَسَلِّمُوا عَلَى اَهْلِهٖ وَإِذَا خَرَجْتُمْ فَأَوْدِعُوا اَهْلَهٗ بِسَلَامٍ. حسن. رواه البيهقی. صحيح جامع الصغير ج ١ ص ١٥٣.

ترجمه: دحضرت قتاده رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائيل چه څه وخت تاسو په يو کور کښ داخل شی. نو په هغه کورواليو باندے سلام اچوے اوچه څه وخت وځی. نو دهغه کور واليو نه په سلام سره رخصت شی.

فائده: دے حديث شريف کښ د سلام بل ادب بيان شو چه سړے کورته ځی نو د ننوتلو وخت کښ سلام باعث د برکت دے نو خيال ئے ساتل پکار دی.

الدرس التاسع والثمانون ٨٩

کورکښ سلام اچول سبب دبرکت دے

[٤٤١] **الحديث الاول**: عن انس رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلٰى اَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُوْنُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلٰى اَهْلِ بَيْتِكَ. رواه الترمذی و قال حسن صحيح.

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائيل چه اے زمابچوړيه څه وخت چه ته په خپل کورواليو ته وردا خل شے نو سلام اچوه (څکه) چه دغه سلام به ستاوستا د کورواليو دپاره دبرکت ذريعه شی.

درخصتی اوملاويد وسلام برابردی

[٤٤٢] **الحديث الثانی**: عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا انْتَهٰى اَحَدُكُمْ إِلٰى مَجْلِسٍ فَلْيُسَلِّمْ قَبْلَ اَنْ يَّجْلِسَ فَلْيَجْلِسْ ثُمَّ إِذَا قَامَ فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتِ الْاُوْلٰى بِأَحَقَّ مِنَ الْاٰخِرَةِ. حسن. رواه الترمذی وابوداود.

ترجمه: دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائيل چه کله يو لتاسو نه يو مجلس ته ورشی نو سلام دے واچوی بياکچرے کينی نو کی دنی بيا چه څه وخت پورته شی (ځی) نو سلام دے واچوی څکه چه روميے سلام دروستی نه زيات بهتر نه دے

یعنی څه رنګ چه رومبے سلام افضل اوسنت دے دارنګ دروانیدو په وخت کښ سلام کول هم افضل اوسنت طریقه ده.

فائده: خلاصه د حدیث شریف دا ده چه سلام دوه وخته کښ اچول سنت دی د راتلو وخت کښ چه سړے رومبے ملاو شی او دویم د رخصت وخت کښ چه سړے یو ځائے نه روانیګی او دواړه په ثواب کښ برابر دی.

د مسجد نبوی د طالبانو د پالنے طریقه

[٤٤٣] **الحدیث الثالث**: عن عَبْدُ اللّٰهِ بْنُ طَهْفَةَ اَنَّ رَسُوْلَاللّٰه ﷺ كَانَ إِذَا كَثُرَ الضَّيْفُ عِنْدَهُ قَالَ لِيَنْقَلِبْ كُلُّ رَجُلٍ بِضَيْفِهِ. صحیح. (کتاب الأدب جـ٨صـ١٢٨)

ترجمه: د عبد الله بن طهفة نه روایت دے چه د رسول الله ﷺ میلمانه به کله ډیر شو نو پیغمبر ﷺ به صحابه کرامو ته او فرمائیل چه بودے ځی هریو سړے یو ملګرے ځان سره.

فائده: دا مضمون د بخاری شریف په حدیث کښ د عبد الرحمٰن بن ابی بکرؓ نه هم نقل دے هغه فرمائی چه اصحاب صفه یعنی د نبی ﷺ د مدرسے طالبان فقیران خلق ؤو او نبی ﷺ به فرمائیل چه چاسره د دوه کسانو طعام وی نو دریم کس دے ځان سره بوځی او که د څلورو وی نو پنځم یا شپږم دے بوځی نو یوه ورځ ابو بکرؓ درے کسان د هغوئی نه راوستل او رسول الله ﷺ لس کسان بوتلل (بخاری جا صـ ٨٣).

دے دواړو حدیثونو نه دا پته اولګیده چه د طالبانو د دربار نبوت پالنه مشترکه ذمه داری ده اوس هم د دینی مدارسو طالبانو ذمه داری د مسلمانانو مشترکه ده چه د هغوئی د پرورش د پاره خپله ذمه داری پیش کړی.

د ملاقات وخت کښ مصافحه سنت ده

[٤٤٤] **الحدیث الرابع**: عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اَلرَّجُلُ مِنَّا يَلْقَى اَخَاهُ اَوْصَدِيْقَهُ اَيَنْحَنِيْ لَهُ قَالَ لَا قَالَ اَفَيَلْتَزِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ قَالَ لَا قَالَ اَفَيَاْخُذُهُ بِيَدِهٖ وَيُصَافِحِهٖ قَالَ نَعَمْ. صحیح. رواه الترمذی.

ترجمه: د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه یوسړی عرض اوکړو اے د الله رسوله کله چه مونږ نه څوک خپل روریادوست سره ملاوشی نودتعظیم په وجه ورته راتیټ شی؟ وے فرمائیل نا هغه کس بیاعرض اوکړو غاړه ورکړی دمحبت په وجه ښکل یے کړی؟ وے فرمائیل نا هغه بیاعرض وکړو لاس نے په خپل لاس کښ ونیسی مصافحه ورسره وکړی رسول الله ﷺ وفرمائیل آو.

هرکله راشه پخیره راغلے وئیل ثابت دی

[٤٤٥] **الحدیث الخامس**: عن عکرمةُ بن ابی جهلٍ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَوْمَ جِئْتُهُ مَرْحَبًا

بِالرَّاكِبِ الْمُهَاجِرِ. رواه الترمذی. صحیح لکنه منقطع التعلیق من تلخیص الذهبی علی المستدرك جـ ۳ صـ ۲۷۱.

ترجمه :دحضرت عکرمه بن ابی جهل رضی الله عنه نه روایت دے چه په کومه ورځ (داسلام قبولو په عرض ځه) درسول الله ﷺ په خدمت کښ حاضرشوم نو رسول الله ﷺ وفرمائیل دکفر نه داسلام په طرف)هجرت کولووالا په خیره راغلے.

فائده: د دے حدیث شریف او همدارنګ د نورو احادیثونه مرحباً دهر کله راشے په خیره راغلے وئیل ثابت دی لهذا د ملاقات وخت کښ د سلام وئیل او د دے الفاظو وئیل باعث د ثواب دی .

الدرس التسعون ۹۰

د پیغمبر ﷺ د دعا اثر

[٤٤٦] **الحديث الاول** :عن عبد الله بن عمرو ؓ : اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ خَرَجَ يَوْمَ بَدْرٍ فِی ثَلاثَمِائَةٍ وَ خَمْسَةَ عَشَرَ ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَللّٰهُمَّ اِنَّهُم حُفَاةٌ فَاحْمِلْهُمْ اِنَّهُم عُرَاةٌ فَاكْسُهُمْ ، اَللّٰهُمَّ اِنَّهُمْ جِيَاعٌ فَاشْبَعْهُمْ فَفَتَحَ اللّٰهُ لَه يَومَ بدرٍ ، فَانْقَلَبُوا حِينَ انْقَلَبُوا وما مِنْهُم رَجُل اِلا وَقد رَجَعَ بِجَمَلٍ اَوْ جَمَلَيْنِ ، وَاكْتَسَوْا وَ شَبِعُوْا . (اخرجه ابو داؤد ۲۷٤۷ . اسناد حسن و رجاله ثقات . السلسلة جـ ۳ صـ ۷۷)

ترجمه :حضرت عبد الله بن عمرو وائی چه رسول الله ﷺ اووتلو په ورځ د بدر په درے سوه پنځلسو کسانو کښ نو اووئیل رسول الله ﷺ اے الله ! بے سورلے دی سورلئ ورته ورکړے اے الله بربنډ دی جامے ورته ورکړے اے الله اوګی دی ماړه نے کړے نو فتح ورکړه الله پیغمبر ﷺ ته په ورځ د بدر نو واپس شو کله چه واپس شو دوئی نو نه زود دوئی نه یو کس مګر واپسے کښ یو یا دوه اوښان ورسره ؤو جامے ئے واغوستلے او ماړه شو.

[٤٤٧] **الحديث الثانی** عَنْ جعفربن ابی طالب رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ فِیْ قِصَّةِ رُجُوعِهِ مِنْ اَرْضِ الْحَبَشَةِ قَالَ فَخَرَجْنَا حَتّٰی اَتَيْنَا الْمَدِيْنَةَ فَتَلَقَّانِیْ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ فَاعْتَنَقَنِیْ ثُمَّ قَالَ مَاادْرِی اَنَابِفَتْحِ خَيْبَرَ اَفْرَحُ اَمْ بِقُدُومِ جَعْفَرَ وَوَافَقَ ذٰلِكَ فَتْحُ خَيْبَرَ. رواه فی شرح السنة. هذا حديث صحيح . المستدرك للحاكم جـ ۳ صـ ۲۳۳.

ترجمه :دحضرت جعفربن ابی طالب رضی الله عنه د زمکے د حبشو نه دواپسی قصه بیانوی فرمائی چه (ځه وخت)ځه دحبشو نه راروان شوم تردے چه مدینے منورے ته راورسیدم رسول الله ﷺ ماسره ملاوشو غیرنے راکړه وے فرمائیل ځه نه شم وئیلے چه ځه نن دخیبر په فتح ډیرخوشحاله یم اوکه دجعفر په واپس راتلو ډیرخوشحاله یم اوپه دغه وختونو کښ اتفاقاً خیبرفتح شوے وو.

فائده: په تندے خکلول چه د شفقت او اظهار محبت په بنیاد وی جائز دی او د شهوت په بنیاد جائز نه دی او د عبادت په بنیاد د حجر اسود خکلول ثابت دی دارنګ دقرآن شریف خکولول

ثابت دی البته د قبرونو او د نورو کانړو خکلول بدعت دے.

دکینے ختمولو چل

[٤٤٨] **الحديث الثالث** :عن عطاء الخراسانيؒ انّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ تَصَافَحُوا يَذْهَبُ الْغِلُّ وَتَهَادَوْا تَحَابُّوا وَتَذْهَبُ الشَّحْنَاءُ. رواه مالك مرسلا قال في المقاصد و هو حديث جيد كشف الخفاء للهنداوي جـ ١ صـ ٣٦٧

ترجمه: دحضرت عطاء الخرسانیؒ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه خپلو کښ یوبل سره لاس ملاوهئ دے سره کینه ځی اویوبل ته تحفه لیږی دے سره محبت زیاتیږی اودشمنی بغض ختمیږی.

پیغمبر علیه السلام اودریدل بدکنړل

[٤٤٩] **الحديث الرابع** :عن أنس رضى الله عنه قَالَ لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ اَحَبَّ اِلَيْهِمْ مِنْ رَّسُولِ اللهِ ﷺ وَكَانُوا اِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذٰلِكَ. صحيح. رواه الترمذى.

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه صحابه کرامو ته درسول الله ﷺ نه زیات محبوب ترین انسان هیڅوك نه وولیکن (ددے عشق ومحبت) باوجود هم به چه کله صحابه کرامو رسول الله ﷺ ولیده نو نه به ودریدل ځکه چه دوی په دے پوهیدل چه رسول الله ﷺ دا اودریدل نه خوښوی.

ځان ته د خلقو ډاودریدو خوښولو سزا

[٤٥٠] **الحديث الخامس** :عن معاوية رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَرَّهُ اَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ. صحيح. رواه الترمذى وابوداود.

ترجمه: دحضرت معاویة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه کوم سړے داخبره خوښوی چه خلق دے ده ته مخامخ ودریږی نوده له پکاردی چه خپله ځان له ځانے په جهنم کښ تیار کړی.

الدرس الحادى والتسعون ٩١

کورونو کښ نفل کوی

[٤٥١] **الحديث الاول** :عن ابن عمر رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ صَلُّوا فِيْ بُيُوْتِكُمْ وَلَا تَتَّخِذُوْهَا قُبُوْرًا.

صحيح الجامع ج٢ ص٧٠٦.

ترجمه: دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه مونځ کوے په کورنو کښ اومه ګرځوے دے لره قبرونه.

فائده: د دے حدیث شریف یو مطلب دا بیان شوے دے چه کورونو کښ عبادت کوی د عبادت نه نے خالی مه پریگدی لکه د قبرونو په شان چه قبرونو کښ عبادت نه کیږی نو تاسو کورونو کښ عبادت کوی. نفل مونځ تلاوت ذکر وغیره بل مطلب نے دا بیان شوے دے چه کورونو کښ مړی مه دفن کوی. قبرونه نے مه گرځوے مړی عام قبرستان کښ دفن کړئ.

دضرورت دپاره چاته اودریدل جائزدی

[٤٥٢] **الحديث الثاني** :عن ابی سعيدالخدری رضی الله عنه قَالَ لَمَّانَزَلَتْ بَنُوقُرَيْظَةَ عَلٰى حُكْمِ سَعْدِبْنِ مُعَاذٍ بَعَثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ اِلَيْهِ وَكَانَ قَرِيْبًامِنْهُ فَجَاءَ عَلٰى حِمَارٍ فَلمادنا مِنَ الْمَسْجِدِ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لِلْاَنْصَارِ قُوْمُوالِى سَيِّدِكُمْ. متفق عليه

ترجمه :دحضرت ابو سعیدالخدری رضی اللهعنه نه روایت دے چه کله بنوقریظة دحضرت سعد په ثالثی اوحکم باندے رضاشو نورسول اللهﷺ په حضرت سعد پسے سړے ولیږلو دغه وخت حضرت سعد درسول اللهﷺ قیام گاه ته نزدے ووچنانچه حضرت سعد په خره باندے سوروو راغے څه وخت چه مسجد ته رانزدے شو نورسول اللهﷺ انصاروته وفرمائیل چه تاسو خپل سردارته ودریږی.

فائده : په یو حدیث شریف کښ ذکر شوے دی چه رسول الله ﷺ د صحابه کرامو تعظیماً اودریدل بد گنړل او په روایت دابوسعید کښ داذکر شو چه رسول اللهﷺ انصارو صحابه کرامو ته وفرمائیل چه تاسو خپل سردارته پاسیء.علماؤ په دے کښ ډیرتحقیق کړے دے اوبحث مباحثه نے کړے ده بعضے دافرمائی چه یوصالح بزرگ عالم ته پاسیدل جائزاومستحب دی بعضے وائی مکروه دی بهرحال دے مسئله باندے څان په غور سره پوهه کول پکاردی اوله خبره داده چه په دے خبره کښ هیڅ اختلاف نیشته چه یوفاسق سړی ته ودریدل اواستقبال کول هرگز جائزنه دی. اونه هغه چاته چه دځه طمع لالچ اودنیوی مطلب په نیت وی اونه هغه چاته چه هغه پرے خوشحالیږی پاتے شوه داخبره چه یوعالم دین دار اوصالح ته ودریدل نوپه دے کښ غوره صورت دادے چه دادتعظیم اوتکریم په شکل نه وی څرنگ چه دبعضے خلقو رواج دے چه دامیراومعتبر اوپیروغیره په اکرام کښ په عاجزی اوخاکساری سره ودریږی بلکه دهرکلی په شکل ودریدل .لکه څرنگ چه یو حاجی یامسافر دبهرنه راشی نودهغه دتکلیف لرے کولو په خیال یادځه سامان اووزن پورته کولو په خیال ورپاسی ځکه چه دتعظیم په شکل ودریدل رسول اللهﷺ بدگنړل تراخره پورے یعنی دانه چه په اول کښ نے بدگنړل اوروستو پرے راضی ووبلکه تراخره وخته پورے نے داعمل نه دے خوښ کړے اوکوم چه دسعدبن معاذرضی اللهعنه په باره کښ رسول اللهﷺ وفرمائیل چه اے انصارو تاسو خپل سردار ته ورپاسی. نودایوداسے واقعه وه چه په غزادخندق کښ دیهودو یوه قبیله وه دبنوقریظه په نوم

هغوی یو منافقانه کردار اداکړے ووچه دمعاهدے باوجودئے دعربو دمشرکانو مرسته کړے وه کله چه رسول الله ﷺ دخندق کنستونه فارغ شونوبنو قریظه سره دجنګ اعلان اوکړو هغوی نے په قلعه کښ محاصره کړل خو ورځو پورے داقلعه بندی جاری وه آخر هغوی داتجویز پیش کړوچه حضرت سعدته دے زمونږ فیصله مخکښ شی چه په دے معامله کښ هغه څه فیصله وکړه نومونږته قبوله ده چنانچه رسول الله ﷺ په حضرت سعد پسے سړے ولیږه دغه وخت دے قریب وو مګرجنګ کښ زخمی شوے وو وینه ترے نه جاری وه لیکن بیا هم په خره باندے سور شوځه وخت چه دربار رسالت ته حاضرشو نورسول الله ﷺ دسعدبن معاذقبیلے ته وفرمائیل قوموا الی سیدکم یعنی اے انصاروتاسو دخپل سردار مخے ته ورپاسی ځکه چه زخمی دے دسورلی نه نے راکوز کړی دلاس نه نے ونیسی چه نورتکلیف ورته ونه رسیږی.

حضرت یحیی رحمه الله فرمائی چه که دالرشاد دتعظیم وتکریم په غرض وے نوداسے به نے فرمائیلے وے قوموا لسیدکم یعنی دے سردارته تاسوودریږی خاص یوے قبیلے ته به اشاره نه وے ددے خیال علماء داهم فرمائی چه کوم حدیث دعکرمه یاد عدی بن حاتم په حق کښ دے نودے ته محدثینو ضعیف وئیلے دی.

راتلونکی په مجلس کښ ځائے کړی

[٤٥٣] **الحدیث الثالث** :عن ابن عمر رضی الله عنه عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ لَایُقِمِ الرَّجُلُ الرَّجُلَ مِنْ مَجْلِسِهٖ ثُمَّ یَجْلِسُ فِیهِ وَلٰکِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوْا. متفق علیه

ترجمه:دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هیڅاته نه دی پکار چه یوسړے د خپل ځائے نه پاسوی اوپه هغه ځائے دے کینی لیکن نزدے نزدے شی او دا ځکه چه یوسړے د خپل ځائے فراخه کړی نو ځومره چه ضرورت وی یا ځومره چه ګنجائش وی.

فائده: مجلس کښ راتلونکی ته ځائے ورکول اسلامی حکم دے او ددے ډیرے فوائد دی یو دا چه ددے مسلمان به الله تعالی رزق فراخه کړی دویم دا چه د ده قبر به الله تعالی فراخه کړی دریم دے سره به د مسلمانانو مینځ کښ جوړ پیدا شی افسوس نن صبا په دے حکم عمل نه کیږی ګاړی کښ په سیټ کهلاؤ کهلاؤ ناست وی بل سړے به روان ناست وی تکلیف کښ به وی خو څوك خوزی نه چه هغه ته ځائے ورکړی.

بیاراتلونکے مجلس ته دخپل ځائے حقداردے

[٤٥٤] **الحدیث الرابع** :عن ابی هریرة رضی الله عنه اَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ مَنْ قَامَ مِنْ مَجْلِسِهٖ ثُمَّ رَجَعَ اِلَیْهِ فَهُوَ اَحَقُّ بِهٖ. (رواه مسلم ٢١٧٩)

ترجمه:دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه کوم

سړے (په یو مجلس کښ ناست وی)اودخپل ځائے نه پاسی لږلاړشی اوبیابیرته راشی نو دهغه ځائے زیات حقدارهم دے دے.

فائده: د حدیث شریف مطلب دا دے چه یو سړے د خپل ځائے نه پاسی او بیائے د راتلو امکان دی نو هغه ځائے د هغه دے په هغه ځائے د بل سړی کیناستل د هغه حق تلفی ده اخلاقی جرم دے.

ددوه کسانو مینځ کښ مه کینه

(٤٥٥) **الحدیث الخامس** عن عبدالله بن عمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَایَحِلُّ لِرَجُلٍ اَنْ یُفَرِّقَ بَیْنَ اثْنَیْنِ اِلَّا بِاِذْنِهِمَا. حسن. رواه ابوداود.

ترجمه: د حضرت عبدالله ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه هیڅ چاته جائزنه دی چه ددوه کسانو مینځ کښ جدائی راولی بغیرد هغوی داجازت نه.

فائده: د حدیث شریف حاصل دا دے چه د چا د ضرر سبب مه جوړیږه او دوه کسان مه جدا کوه خپل مینځ کښ د هغوئی په خبرو کښ خلل مه راوله.

الدرس الثانی والتسعون ﴿٩٢﴾

لحد د آدم علیه السلام د وخت نه دے

(٤٥٦) **الحدیث الاول** عن اُبَیٍّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَمَّا تُوُفِّیَ آدَمُ غَسَلَتْهُ الْمَلَائِکَةُ بِالْمَاءِ وِتْرًا وَاَلْحَدُوا لَهُ وَقَالُوا : هٰذِهِ سُنَّةُ اٰدَمَ فِی وُلْدِهٖ. صحیح (الجامع جـ ٢ ص. ٩٢٤)

ترجمه: د حضرت اُبَیّ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی هر کله چه وفات شو آدم علیه السلام نو غسل ورکړو هغوی ته فرشتو په اوبو سره ناتکی او لحد ئے جوړ کړو هغه لره او وے وئیل چه دا طریقه د آدم علیه السلام ده د هغه په اولاد کښ (یعنی د هغه اولاد به په دے طریقه ځای دفن کوی).

ناشکری اوکړه .

فائده: دے حدیث شریف دا خبره په ښه کړه چه د احسان کونکی احسان یاده ول مثلاً تاته چا هدیه درکړه یا تاسره ئے د لاسو خپو امداد اوکړو یا په څه بله طریقه ئے ستا مدد اوکړو نو دا یادول او د خلقو مخکښ د هغے اقرار کول او احسان کونکی په ښه صفاتو یاده ول دا شکریه ده . او په نیکئ خپه رابنکل او د هغے پټول ناشکری ده .

اولټه ملاسته ښه نه ده

[٤٥٨] **الحديث الثالث** :عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ رَاٰی رَسُوْلُ اللهِ ﷺ رَجُلًا مُضْطَجِعًا عَلٰی بَطْنِهٖ فَقَالَ اِنَّ هٰذِهٖ ضَجْعَةٌ لَا يُحِبُّهَا اللهُ. صحيح. رواه الترمذی.

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو سړے ولیده چه نسکور یعنی پرمخ پروت وو رسول الله ﷺ ورته وفرمائیل (چه داسے مه سمله ځکه) دا رنګ سملاستل الله نه خوښوی.

فائده: دابن ماجه په یو روایت کښ رازی حضرت ابو ذرؓ وائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے جندب : بے شك د الټا ملاستا د دوزخیانو ملاسته ده .

تقریر کښ صرف یوه ګوته اوچتول دی لاسونه اوچتول نشته

[٤٥٩] **الحديث الرابع** :عَنْ عَمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ اَنَّهٗ رَاٰی بِشْرَ بْنَ مَرْوَانَ عَلَی الْمِنْبَرِ رَافِعًا يَدَيْهِ فَقَالَ قَبَّحَ اللّٰهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ لَقَدْ رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَا يَزِيْدُ عَلٰی اَنْ يَّقُوْلَ بِيَدِهٖ هٰكَذَا وَ اَشَارَ بِاُصْبَعِهِ الْمُسَبِّحَةِ . رواه مسلم.

ترجمه: د حضرت عماره بن رویبهؓ نه روایت دے چه ده بشر بن مروان په منبر اولیدو چه (په دوران د بیان او خطبه کښ) دواړه لاسونه اوچت کړے ؤو ده ورته اووئیل الله تعالی دے دا دواړه لاسونه هلاك کړه یقینا مالیدلے دے رسول الله ﷺ نه ئے زیاتی کوو په دے چه اشاره به ئے کوله په لاس باندے داسے او اشاره ئے اوکړه په ګوته مسواکه باندے.

فائده: دے حدیث نه معلومه شوه چه دوران بیان کښ صرف مسواکه ګوته اوچتول ثابت دی لاسونه اوچتول یا لاسونه پټونونو له راچول صحیح نه دی بعضے خطیبان زمانه د پاره په دے حدیث شریف غور پکار دے د وعظ نه د کښې میدان نه دی جوړول پکار .

د ځان صفت مه کوه

[٤٦٠] **الحديث الخامس** :عن زينب بنت ابی سلمة رضی الله عنها قَالَتْ سُمِّيَتْ بَرَّةَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا تُزَكُّوْا اَنْفُسَكُمْ اَللّٰهُ اَعْلَمُ بِاَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ سَمُّوْهَا زَيْنَبَ. رواه مسلم.

ترجمه :دحضرت زینب بنت أبی سلمة رضی الله عنها نه روایت دے چه زما نوم بره وو

یعنی نیك عمله رسول الله ﷺوفرمائیل چه دخپل ځان تعریف په خپله مه کوی ځکه چه ځوك نیك عمله وی الله‌تعالی هغه ښه پیژنی اودده جینے نوم زینب کیږدی.

فائده: حدیث شریف نه معلومه شوه چه د ځان صفت او د ځان پاکے بیانول الله تعالی نه ښوښوی لهذا داسے لقب یا نوم ایښودل هم خه نه دی چه د هغے نه خپل صفت اوبر تری معلومیږی.

الدرس الثالث والتسعون ﴿۹۳﴾

عاصیه نوم کیخودل گناه ده

[٤٦١] **الحدیث الاول** عن ابن عمر رضی الله‌عنه اِنَّ بِنْتًا كَانَتْ لِعُمَرَ يُقَالُ لَهَاعَاصِيَةُ فَسَمَّاهَا رَسُولُ اللهِ ﷺ جَمِيْلَةَ. رواه مسلم

ترجمه :دحضرت ابن عمر رضی الله‌عنه نه روایت دے چه دحضرت عمر رضی الله‌عنه لوروه عاصیة نوم نے وو یعنی ګناهګاره نورسول الله ﷺ نے نوم جمیله کیښودو.

نوم خانسته کیدنی

[٤٦٢] **الحدیث الثانی** عن ابی درداء رضی الله‌عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِاَسْمَائِكُمْ وَاَسْمَاءِ اٰبَاءِ كُمْ. فَاَحْسِنُوا اَسْمَاءَ كُمْ. رواه احمدوابوداود جد ۷ صـ ۳۰۳ رقم ٤٩٤٨ قال شعیب الارنؤط اسناده صحیح

ترجمه :دحضرت ابودرداء رضی الله‌عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه دقیامت په ورځ به ستاسو په نومونواو ستاسو دپلار په نوم بللے شی. دے دپاره تاسو خپل ښه نومونه ګدی.

خراب معنی والانوم بدلول سنت دی

[٤٦٣] **الحدیث الثالث** عن عائشة رضی الله‌عنها قَالَتْ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ كَانَ يُغَيِّرُ الْاِسْمَ الْقَبِيْحَ. صحیح. رواه الترمذی

ترجمه:دحضرت عائشة رضی الله‌عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺبه بدیعنی ناکاره نوم بدلوو.

دطعام عیب مه وایه

[٤٦٤] **الحدیث الرابع** عن ابی هریرة رضی الله‌عنه قَالَ مَاعَابَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ طَعَامًاقَطُّ اِنْ اِشْتَهَاهُ اَكَلَهُ وَاِنْ كَرِهَهُ تَرَكَهُ. متفق علیه

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی الله‌عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺهیڅ کله دخوراك یوشی ته بدنه دی وئیلے اوچه کوم شے به نے طبیعت منلونوخوړو به نے اوچه کوم به نے طبیعت نه منلو نوپرے به نے خوده.

فائده: حضرت احمد علی لاهوری" یو ورځ اوفرمائیل چه ځما د واده پنځه پنځوس کاله اوشو خو دده حدیث د عمل په برکت ځما او دبی بی مینځ کښ تلخ کلامی نه ده راغلے ما چرته په

طعام کښې دهغوی په پخلی کښې عیب نه دے راوستلے یوه ورځ ئے په کهیر کښې په خطا د چینی په ځائے مالګه اچولے وه ما اوخوړلو او هغوئی ته مے غږ اونه کړو چه په دے کښې ناسو د چینو په ځائے مالګه اچولے ده (مرشدی حضرت مولانا سید عبدالهادی شاه صاحب)

دتلبینے فوائد

[٤٦٥] **الحدیث الخامس** عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ ﷺ يَقُولُ التَّلْبِيْنَةُ مُجِمَّةٌ لِفُؤَادِ الْمَرِيْضِ وَتُذْهِبُ بَعْضَ الْحُزْنِ. متفق علیه

ترجمه: دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلی دی چه تلبینه درنخورزړه ته تسکین اوقوت ورکوی اوبعضے غمونه لرے کوی.

تشریح: تلبینه هغه شیرے ته وائی چه داوربشو اوړه په پیو کښې حل شی اوبعضے وخت پکښې شات هم اچولے شی داشیره دپیو یوخاص جزوګرزی اودپیو په رنګ سپین شی چه د دے ارشادمطابق د بیمار زړه ته تسکین ورکوی.

الدرس الرابع والتسعون ﴿٩٤﴾

اوچه غوښه خوړل جائزدی

[٤٦٦] **الحدیث الاول** عَنْ اَنَسٍ رضی الله عنه اِنَّ خَيَّاطًا دَعَا النَّبِيَّ ﷺ لِطَعَامٍ صَنَعَهُ فَذَهَبْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فَقَرَّبَ خُبْزَ شَعِيْرٍ وَمَرَقًا فِيْهِ دُبَّاءٌ وَقَدِيْدٌ فَرَاَيْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَتَتَبَّعُ الدُّبَّاءَ مِنْ حَوَالَى الْقَصْعَةِ فَلَمْ اَزَلْ اُحِبُّ الدُّبَّاءَ. (بخاری)

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه یودرزی رسول الله ﷺ نه دعوت اوکړو نو زه د نبی ﷺ سره لاړم نو د اوربشو دوډی او خوروا ئے راوړه کے ئے خودله چه کدو او اوچه غوښه وه مالیدل چه رسول الله ﷺ دکاسے په غاړوکښې کدوتلاش کولو خوړلو نے حضرت انس رضی الله عنه فرمائی چه هغے ورځے نه پس ځه کدوډیرخوښوم.

شهد دپیغمبر خوښ وو

[٤٦٧] **الحدیث الثانی** عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُحِبُّ الْحُلْوَا وَالْعَسَلَ. رواه البخاری

ترجمه: دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ خوږخیز اوشهد ډیرخوښ وو.

صرف په اوبو اوپه کجورو کوزاره

[٤٦٨] **الحدیث الثالث** عن عائشةؓ رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ يَاْتِي عَلَيْنَا الشَّهْرَ مَانُوْقِدُ فِيْهِ نَارًا اِنَّمَا هُوَ التَّمْرُ

وَالْمَاءُ اِلَّاانْ يُؤتٰى بِاللُّحَيْم. متفق عليه

ترجمه :دحضرت عائشه رضی اللهعنها نه روایت دے چه په مونږ (اهل بیتو) داسے میاشت هم راغلے ده چه مونږ اورنه دے بل کړے او(په دی دوران کښ) زمونږ خوراك صرف کجورے وے اوبابه چاځه قدرے غوښه راوړه.

د کمزورو کجورو خوراك هم جائزدی

[٤٦٩] **الحديث الرابع** :عن نعمان بن بشير رضی اللهعنه قَالَ اَلَسْتُمْ فِیْ طَعَامٍ وَّشَرَابٍ مَاشِئْتُمْ لَقَدْرَاَيْتُ نَبِيَّكُمْ ﷺ وَمَايَجِدُمِنَ الدَّقَلِ مَايَمْلَأُ بَطْنَهُ. رواه مسلم

ترجمه :دحضرت نعمان بن بشیر رضی اللهعنه نه روایت دے چه ده(یووخت) اوفرمائیل ولے تاسو په خپل خوراك اوڅکاك کښ عیش وعیشرت نه کوی یعنی چه ستاسو څه زړه غواړی هغه خوری)اویقینا مالیدلے ووستاسو نبی ﷺ چه بے کاره کجورے هم ورته په مړه کیږه نه دی رسیدلی.

فائده: حدیث شریف کښ تنبیه ده چه کله کله په دین کښ سختۍ رازی هغه برداشت کول سنت طریقه ده او فطرت الهی دے چه بیا عموما سختے پسے راته هم رازی لهذا حوصله بلنده ساتل ضروری دی.

داوګے خوراك

[٤٧٠] **الحديث الخامس** :عن جابر رضی اللهعنه اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ مَنْ اَكَلَ ثُوْمًااَوْبَصَلًا فَلْيَعْتَزِلْنَااَوْقَالَ فَلْيَعْتَزِلْ مَسْجِدَنَا اَوْلْيَقْعُدْ فِی بَيْتِهٖ وَاَنَّ النَّبِیَّ ﷺ اُتِیَ بِقِدْرٍ فِيْهِ من بُقُوْلٍ فَوَجَدَلَهَارِيْحًا فَقَالَ قَرِّبُوْهَا اِلٰی بَعْضِ اَصْحَابِهٖ وَقَالَ كُلْ فَاِنِّیْ اُنَاجِیَ مَنْ لَّاتُنَاجِی. متفق عليه.

ترجمه :دحضرت جابر رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه کوم کس پیازیااوګه خوړلے وی نو هغه له پکاردی چه مونږنه جدا شی (یعنی مونږسره دے نزدے مجلس کښ نه کینی) اوبائے داوفرمائیل چه زمونږدجومات نه دے جداشی یعنی جومات ته دے جمع له نه راځی)اوبائے داوفرمائیل چه په خپل کورکښ دے کینی اوبوه ورځ رسول الله ته کتوے راوړه لے شوه چه په دے کښ سبزیانے وے (یعنی پیازاوګه وغیره).رسول الله ﷺته پکښ بوی محسوس شو(نودصحابه کرامونه ئے یوکس ته اشاره وکړه) چه دا دوی ته نزدے کړے او هغوی ته ئے اوفرمائیل چه داتاسو وخوری څه ئے نه خورم ځکه چه څه دکومے هستی سره ملاویږم تاسو دهغے سره نه ملاویږی یعنی جبرئیل علیه السلام.

فائده: مسجد درسګاه او روحانی مجالسوته چه سړے ځی نو پکار دی چه هر قسم بدبوئی د ځان نه لرے کړے دے سره روحانی قوت مضبوط کیږی او کتابونه لیکی چه خوشبو ته

فرشتے د رحمت راغوندیږی.

الدرس الخامس والتسعون ۹۵

د جمعے د ورځے یو ادب

[٤٧١] **الحديث الاول** :عن سهل بن سعد قَالَ مَاكُنَّا نَتَغَدّٰى فِي عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ وَلَا نَقِيْلُ إِلَّا بَعْدَ الْجُمُعَةِ.رواه الترمذی وقال حديث سهل حديث حسن جـ ١صـ ٢٣١)

ترجمه:دحضرت سهل نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په زمانه کښ به دغرمے ډوډی مونږه نه خوړه او نه به مونږه خوب کوو مګر پس دجمعے د مانځه نه.

فائده: علماء وائی چه د جمعے مونځ اول وخت کښ پکار دے زیات روستو کول نے خه نه دی ځکه به صحابه کرامو د غرمے خوب او ډوډی د مونځ نه روستو خوړه..

دملاقات وخت کښ د رسول الله ﷺ طریقه د صحابه کرامو سره

[٤٧٢] **الحديث الثانی** :عن حذيفة قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ إِذَا لَقِيَهُ الرَّجُلُ مِنْ اَصْحَابِهِ مَسَحَهُ وَدَعَا لَهُ . صحيح (الجامع جـ ١صـ ٨٦٨)

ترجمه :دحضرت حذیفهؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ سره به کله یو سړے د صحابه کرامو نه ملاؤ شو نو په سر به نے ورته لاس راخکلو او دعا به نے ورته اوکړه.

فائده: اوس هم مناسب دی چه یو مشر کله یو کشر سره علیك سلیك اوکړی نو په سر د ورته د شفقت لاس رابنکی او دعا د ورته اوکړی .ان شاء الله دے سره به محبت کښ اضافه کیګی. او جوړ به پیدا کیګی.

ملتزم سره مخ او سینه لګول سنت دی

[٤٧٣] **الحديث الثالث** :عن ابن عمرو قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَلْزِقُ صَدْرَهُ وَوَجْهَهُ بِالْمُلْتَزَمِ. حسن(الجامع جـ ٢صـ ٨٩٤)

ترجمه :دحضرت ابن عمروؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به سینه او مخ ملتزم سره پیوست کولو.

فائده: ملتزم د بیت الله شریف د دروازے او د حجر اسود مینځ کښ حصے ته وئیلے شی دغے سره خوا کښ دعا ښه قبلیږی او دغے سره مخ او سینه لګول د رسول الله ﷺ نه ثابت دی . حاجی او عمره کونکی لره پکار دی چه دے سره جوخت شی اودعاګانی اوغواړی.

دطعام نه بعد په حمدالله‌تعالی خوشحالیږی

[٤٧٤] **الحديث الرابع** :عن انس رضی الله‌عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی لَيَرْضٰى عَنِ الْعَبْدِ اَنْ يَّاْكُلَ الْاَكْلَةَ فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا اَوْيَشْرَبَ الشَّرْبَةَ فَيَحْمِدُهُ عَلَيْهَا. صحيح (الجامع)

ترجمه :دحضرت انس رضی الله‌عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه الله‌تعالی دبنده په دے خبره راضی کیږی چه یوه نوړۍ وخوړی اوپه هغے دالله‌تعالی حمدوثنا اداکړی اویایو څل وڅکی اوپه هغے دالله‌حمدوثنااداکړی.

دډوډۍ خوړلو نه روستو دعا

[٤٧٥] **الحديث الخامس** :عَنْ اَبِی اُمَامَةَ ، اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ كَانَ اِذَا فَرَغَ مِنْ طَعَامِهٖ اَوْ رُفِعَتْ مَائِدَتُهٗ قَالَ : اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ غَيْرَ مَكْفُوْرٍ وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا . (اسناده صحيح على شرط البخاری . مسند احمد ط الرسالة ح ٣٦ صـ ٥٠٠)

ترجمه : حضرت أبو امامه نه روایت دے چه کله به رسول الله ﷺ د طعام نه فارغ شو او درستخوان به پورته کړے شو نو هغوئی به دا دعا غوسټله "اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ كَثِيْرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيْهِ غَيْرَ مَكْفُوْرٍ وَلَا مُوَدَّعٍ وَلَا مُسْتَغْنًى عَنْهُ رَبَّنَا "

فائده: یاد لرې د طعام دشکریه دوه طریقے دی اونه دا ده چه د خوراك د ذرے ذرے قدر او احترام اوکړے شی چه د ډوډے دیو پوتی هم بے قدری او نشی او په صحیح طریقه استعمال کړے شی ځکه شرعی حکم دے چه د روټے عزت اوکړئ ، دویمه دا چه سړے د خوراك څکاك نه روستو د غه دعا اوائی او د دے نه علاوه یو بله دعا هم د خوراك څکاك نه روستو نقل ده د هغے وئیل هم. صحیح دی د هغے الفاظ دا دی " اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ اَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ "(رواه الترمذی وابوداود)

الدرس السادس والتسعون ٩٦

دخبرالله‌ترڅنګ کښینا دخل

[٤٧٦] **الحديث الاول** عن عبدالله بن عمر رضی الله‌عنه قَالَ مَارَاَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَاْكُلُ مُتَّكِئًا قَطُّ وَلَا يَطَأُ عَقِبَهٗ رَجُلَانِ. صحيح. رواه ابوداود

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمر رضی الله‌عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ روټی دخوراك په وخت په تکیه لګولو کله هم مونږ نه دے لیدلے اونه وریسے دوه کسان روستو تلے دی.

د سورت زمر او بنی اسرائیل فضیلت

[٤٧٧] **الحديث الثاني** عن عائشةؓ قالت : كان النبي ﷺ لا ينام حتى يقرأ الزُّمَرَ وَ بَنِيْ إِسْرَائِيْلَ . (اخرجه الترمذي جـ ٤ صـ ٢٣٢ ، و ابن خزيمة في صحيحه جـ ١ صـ ١٢٦ ، وابن نصر في قيام الليل صـ ٦٩ ، والحاكم جـ ٢ صـ ٤٣٤ ، و أحمد جـ ٦ صـ ٦٨ . صحيح . السلسلة جـ ٢ صـ ١٤٠)

ترجمه : عائشهؓ وائی چه څو رسول الله ﷺ نه به اوده کیدو تر دے چه سورت زمر او سورت بنی اسرائیل به نے اولوستلو .

کجورو نه چینجی ایستل باقی خوړل جائزدی

[٤٧٨] **الحديث الثالث** عن انس رضي الله عنه قَالَ اُتِيَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِتَمْرٍ عَتِيْقٍ فَجَعَلَ يُفَتِّشُهُ وَيُخْرِجُ السُّوْسَ مِنْهُ. صحيح ابوداود

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په خدمت کښ چا زړے کجورے راوړے کے نے خودے نو شروع شو رسول الله ﷺ چه تفتیش به نے کولو اوراویسته به نے چینجی دهغے نه.

فائده: دا دهرے میوے حکم دے چه خرابه حصه ترے لرے کړه باقی استعمال کړه.

رسول الله ﷺ ته خوښه جامه

[٤٧٩] **الحديث الرابع** عن انس رضي الله عنه قَالَ كَانَ اَحَبُّ الثِّيَابِ اِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ اَنْ يَّلْبَسَهَا الْحِبَرَةَ. متفق عليه

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دا غستلو په جامو کښ حِبَرَه (څادریمنی) دتولو نه زیات خوښ وو.

فائده: علماء لیکی چه داحبرة جامه خالص دتار نه جوړیده اوبعضے علماء دا سے هم لیکی چه ددے وجه داوه چه ددے رنګ شین وو اوداهل جنت لباس به هم شین وی ، نو ددے وجے نه دا جامه د رسول الله ﷺ ښوښه وه .

د رسول الله ﷺ بستره

[٤٨٠] **الحديث الخامس** عن عائشة رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ فِرَاشُ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ الَّذِيْ يَنَامُ عَلَيْهِ اُدْمًا حَشْوُهُ لِيْفٌ. متفق عليه

ترجمه : دحضرت عائشة رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په کومه بستره اوده کیدو نو هغه د چمړے وه چه دخرما (کجورو) دپانړو نه ډکه شوے وه.

فائده : دحدیث شریف نه معلومه شوه چه په ژوند کښ سادګی پکار ده وښیلے شی کم

خرچ او بالا نشین.

الدرس السابع والتسعون ﴿۹۷﴾

د رکوع طریقه

[٤٨١] **الحدیث الاول** :عن ابن مسعودؓ قَالَ كَانَ إِذَا رَكَعَ سَوَّى ظَهْرَهُ حتىٰ لَو صُبَّ عَلَيْهِ الْمَاءُ لَا سْتَقَرَّ . صحیح (الجامع جـ ۲ صـ۸٦۲)

ترجمه :دحضرت ابو مسعودؓ نه روایت دے چه کله به رسول الله ﷺ رکوع کوله نو شاه به نے نیغه کړه تردے کچرے په هغے باندے اوبه توئے شوے وے نو اودریدے به

فائده : رکوع کښ دا کوشش پکار دے چه دسر او د لنډے د دواړو لیول برابر وی چه یو ښکته او بل پرته نه وی دا سنت طریقه ده. یاد لرئی چه رکوع په مونځ کښ فرض ده او په رکوع کښ څه کارونه سنت دی د هغے کول پکار دی لاندے تفصیل اوګورئی .

په رکوع کښ سنت

(۱) تکبیر ویلو سره رکوع ته تلل (۲) د امام په اوچت اواز سره تکبیر وئیل (۳) د رکوع په حالت کښ ګوندې نیول (۴) په رکوع کښ ګوتی ښه خلاصی او فراخه ساتل (۵) کوم از کوم دری ځله "سبحان ربی العظیم" وئیل (٦) د تسبیحاتو په ورو اواز سره لوستل (۷) د رکوع نه پس قومه کول یعنی ودریدل (۸) د رکوع نه سر اوچتولو په وخت کښ د امام "سمع الله لمن حمده" په اوچت اواز سره وئیل ، د دی نوم تسمیع دی (۹) د مقتدی صرف "ربنا لك الحمد" وئیل د دی نوم تحمید دی (۱۰) د منفرد تسمیع او تحمید دواړه وئیل (۱۱) په قومه کښ دومره ایساریدل ، چه هر اندام په خپل خپل مقام باندے قرار ونیسی ، یعنی ښه په اطمینان سره ودریدل . (کلمه طیبه او مونځ)

په رکوع او سجده کښ د ګوتو اینبودلو کیفیت

[٤٨٢] **الحدیث الثانی** :عن وائل بن حجر قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا رَكَعَ فَرَّجَ أَصَابِعَهُ وَإِذَا سَجَدَ ضَمَّ أَصَابِعَهُ. صحیح (الجامع جـ ۲صـ ۸٦۲)

ترجمه :دحضرت وائل بن حجرؓ نه روایت دے وائی چه رسول الله ﷺ به کله رکوع کوله نو ګوتے به نے کولاؤ کړے او کله چه به نے سجده کوله نو ګوتے به نے جوخته کړے.

فائده : رکوع کښ ګوتے معمولی کولاؤ ساتل پکار دی او په سجده کښ یو ځائے او پیوسته اینبودل پکار دی داسنت طریقه ده.

سړودپاره ریښم ناجائزدی

[٤٨٣] **الحديث الثالث** :عن عمروانس وابن الزبير وأبوامامه رضي الله عنهم عن رسول الله ﷺ قال مَنْ لَبِسَ الْحَرِيْرَ فِي الدُّنْيَا لَمْ يَلْبَسْهُ فِي الْآخِرَةِ. متفق عليه

ترجمه :دحضرت عمروانس وابن زبیر وابی امامة رضی الله عنهم نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه کوم سړی په دنیاکښ دریښمو جامه اغوستے وی نو آخرت کښ به ریښم وانه غوندی.

قمیص اچول ثابت دی

[٤٨٤] **الحديث الرابع** :عن ام سلمة رضي الله عنها قالت كَانَ أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ ﷺ الْقَمِيْصُ. صحيح. رواه الترمذي وابوداود.

ترجمه :دحضرت ام سلمة رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته په تولو جامو کښ قمیص ډیرخوښ وو.

فائده : یاد لری قمیص کښ کالرے کول شرعی طریقه نه ده کالرے نه دی کول پکار او قمیص کهلاو او د کونډو پورے دے چه پرده پکښ پوره راشی.

د قمیص اول خے طرف اچول مسنون دی

[٤٨٥] **الحديث الخامس** :عن ابی هريرة رضي الله عنها قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا لَبِسَ قَمِيْصًا بَدَأَ بِمَيَامِنِهِ. صحيح. رواه الترمذي

ترجمه:دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به چه کله قمیص اغوستونودښی طرفنه به اغوستل شروع کول یعنی ښے لاس به ئے مخکښ لستونړی کښ ورکړو.

الدرس الثامن والتسعون ٩٨

دپرتوګ حد

[٤٨٦] **الحديث الاول** :عن ابی سعيدالخدری رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ إِزَارَةُ الْمُؤْمِنِ إِلَى أَنْصَافِ سَاقَيْهِ لَاجُنَاحَ عَلَيْهِ فِيْمَابَيْنَهُ وَبَيْنَ الْكَعْبَيْنِ وَمَااَسْفَلَ مِن ذَالِكَ فَفِي النَّارِ قَالَ ذَالِكَ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ وَلَايَنْظُرُاللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى مَنْ جَرَّإِزَارَهُ بَطَرًا. صحيح ابوداودوابن ماجة

ترجمه :دحضرت ابوسعیدالخدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل اوماواوربدل چه دمومن دازاربعنی دپرتوګ بهترصورت دادے چه دنیمے پنډی پورے وی اودنیمو پنډو نه ترګیتو پورے هم څه دګناه خبره نه ده لیکن دګیتو نه ښکته چه کومه حصه ده

هغه به اوردوزخ ته ضرور لاړه شی راوی فرمائی چه رسول الله ﷺ داخبره درے ځله وکړه اوبیائے وفرمائیل چه کوم کس دغرور اوتکبر په وجه پرتوک دگیتونه لاندے سائی نواللہتعالی به دقیامت په ورځ دے کس ته درحم وکرم په نظر ونه گوری.

د سورت اخلاص د لوستلوانعام

[٤٨٧] **الحديث الثانی** :عن معاذ بن انس ؓ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : مَنْ قَرَأَ (قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ) حَتّٰى يَخْتِمَهَا عَشْرَ مَرَّاتٍ بَنَى اللّٰهُ لَهٗ قَصْرًا فِى الْجَنَّةِ . (اخرجه احمد جـ ٥ صـ ٤٣٧ ، والعقيلى فى الضعفاء صـ ١٤٧ . صحيح السلسلة جـ ٢ صـ ٨٨)

ترجمه :د حضرت معاذ بن أنس نه روایت دے چه نبی ﷺ وئیلی دی څوك چه "قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ (سورت اخلاص) " لس ځله اولولی نو جوړه به کړی الله ده لره بنګله په جنت کښ.

دسپینو جامو فضیلت

[٤٨٨] **الحديث الثالث** :عن سمرة رضى الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اِلْبَسُوْا الثِّيَابَ الْبِيْضَ فَاِنَّهَا اَطْهَرُ وَاَطْيَبُ وَكَفِّنُوا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ. صحيح. رواه احمد والترمذى والنسائى وابن ماجه.

ترجمه :د حضرت سمرة رضی اللہعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه سپینے جامے اغوندوی ځکه سپینه جامه پاکه اوزیاته پاکیزه وی اوخپلو مړوته کفن هم سپین ورکوئ.

چه سړے کله دشپے په ډډه اوړی دا دعا به وائی

[٤٨٩] **الحديث الرابع** :عن عائشة قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا تَصَوَّرَ مِنَ اللَّيْلِ قَالَ لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ . صحيح(الجامع جـ ٢ صـ ٨٥٧)

ترجمه :د حضرت عائشے ؓ نه روایت دے وائی چه کله به رسول الله ﷺ د شپے په ډډه اوړیدو نو دا دعا به ئے وئیله " لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيْزُ الْغَفَّارُ".

فائده : چه د شپے سړے بیدار شی نو دا ذکر چه دے حدیث کښ ذکر دے او که بل ذکر او دعاوی وئیل ئے ډیره فائده لری بعض علماء وائی چه سړے بیدار شی او دے اوائی چه اے الله ماله د تهجدو توفیق راکړے د دے ډیره لویه فائده په تجربه ثابته ده.

دشهرت جامه اچول خه نه دی

[٤٩٠] **الحديث الخامس** :عن عمر رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ لَبِسَ ثَوْبَ شُهْرَةٍ فِى الدُّنْيَا اَلْبَسَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى ثَوْبَ مَذَلَّةٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. حسن. رواه احمد، ابوداود وابن ماجة

ترجمه :د حضرت عمر رضی اللہعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه کوم کس په دنیاکښ دشهرت جامه اغوندی دقیامت په ورځ به اللہتعالی ده ته دذلت جامه ورواغوندوی.

الدرس التاسع والتسعون ﴿٩٩﴾

غیر سره تشبیه ښه نه ده

[٤٩١] **الحديث الاول** :عن عمر رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ. صحیح رواہ احمد وابوداود

ترجمہ: د حضرت عمر رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه کوم کس دکوم قوم مشابهت اختیار کړی هغه به هم هغه قوم سره شماروی.

د پریشانۍ وقت کښې څه پکار دی؟

[٤٩٢] **الحديث الثانی** :عن حزيفة قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا حَزَبَهُ اَمْرٌ صَلّٰى. حسن (الجامع جـ ٢ صـ ٨٥٨)

ترجمہ: د حضرت حذیفہؓ نه روایت دے وائی چه کله به رسول الله ﷺ یو کار پریشان کړو نو مونځ به ئے اوکړو.

فائدہ: د حدیث شریف نه معلومه شوه چه د پریشانۍ په وخت کښې مسنون طریقه داده چه سړے فوراً الله تعالیٰ نه متوجه شی او صلوة حاجت اوکړی او دعا اوغواړی او بار بار په دے طریقه عمل اوکړی نو الله تعالیٰ به ئے پریشانی لرے کړی.

مونځ کښې مرګ یاد کړه

[٤٩٣] **الحديث الثالث** :عن أنسٌ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اُذْكُرُ الْمَوْتَ فِيْ صَلَاتِكَ ، فَإِنَّ الرَّجُلَ إِذَا ذَكَرَ الْمَوْتَ فِيْ صَلَاتِهِ لَحَرِيٌّ أَنْ يُحْسِنَ صَلَاتَهُ ، وَ صَلِّ صَلَاةَ رَجُلٍ لَا يَظُنُّ اَنَّهُ يُصَلِّيْ صَلَاةً غَيْرَهَا ، وَ إِيَّاكَ وَ كُلَّ اَمْرٍ يَعْتَذِرُ مِنْهُ (اخرجه الديلمي في مسند الفردوس جـ ١ صـ ١ رقم ٥١ . حسن . السلسلة جـ ٣ صـ ٤٩٥)

ترجمہ: د حضرت انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی یاد کړه مرګ لره په مونځ خپل کښې ځکه چه کله سړے مرګ یاد کړی په مونځ خپل کښې نو لائق ده چه دے به خانسته مونځ اوکړی او مونځ اوکړه پشان د مونځ د هغه سړی چه هغه ګمان نه کوی چه زه به بل مونځ اوکړمه او ځان اوساته د هر هغه کار نه چه هغے نه د عذر ضرورت راځی.

زنانه دپاره ټرے چادر لاندې کنادہ

[٤٩٤] **الحديث الرابع** :عن عائشة رضی اللہ عنہا اَنَّ اَسْمَاءَ بِنْتَ اَبِیْ بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَاَعْرَضَ عَنْهَا وَقَالَ يَا اَسْمَاءُ إِنَّ الْمَرْاَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيْضَ لَمْ يُصْلُحْ اَنْ يُرٰى مِنْهَا إِلَّا هٰذَا وَاَشَارَ إِلٰى وَجْهِهٖ وَ كَفَّيْهِ. حسن رواہ ابوداود

ترجمہ: د حضرت عائشة رضی اللہ عنہا نه روایت دے چه یوه ورځ اسماء بنت ابوبکر د رسول الله

ﷺ په خدمت کښې حاضره شوه په داسې حال کښې چه ددے په بدن باندے باریکه جامه وه رسول الله ﷺ ترے مخ وګرزو اووے فرمائیل چه اے اسماء زنانه چه کله ایام حیض (بلوغ) ته ورسیږی نو دا هرګز جائز نه دی چه له دے نه اوله دے نه سوائے بل اندام د دے په نظر راشی دغه وخت رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك اومخ مبارك ته اشاره وکړه.

فائده: کوم ځائے کښې چه دفتنے خطره وی نو هغه ځائے کښې بیا مخ خکاره کول هم ګناه ده.

دسروګتمه سړودپاره حرامه ده

[۱۹۵] **الحدیث الخامس** :عن عبدالله ابن عباس رضی الله عنه انّ رَسُولَ اللهِ ﷺ رَاٰی خَاتَمًامِنْ ذَهَبٍ فِی یَدِرَجُلٍ فَنَزَعَهُ فَطَرَحَهُ فَقَالَ یَعْمِدُاَحَدُکُمْ اِلٰی جَمْرَةٍ نَارٍفَیَجْعَلُهَا فِیْ یَدِهٖ فَقِیْلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَمَاذَهَبَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خُذْ خَاتَمَكَ اِنْتَفِعْ بِهٖ قَالَ لَا وَاللهِ لَااٰخُذُهٗ وَقَدْطَرَحَهٗ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ.صحیح .صحیح بن حبان جـ ۱ صـ ۱۹۲

رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ

خوراك په ښی لاس سنت دے

[٤٩٧] **الحديث الثاني** :عن عمر رضی الله عنه قال قال رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا اَكَلَ اَحَدُكُمْ فَلْيَاْكُلْ بِيَمِيْنِهٖ وَإِذَا شَرِبَ فَلْيَشْرَبْ بِيَمِيْنِهٖ. رواه مسلم

ترجمه:دحضرت عمر رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه کله یوله تاسو نه څه خوراك کوی نو په ښی لاس دے خوری اوچه کله څه شے څکی نو په ښی لاس دے څکی.

فائده : حدیث کښ د طعام ادب ذکر شو چه په ښی لاس خوراك څكاك پكار دے په ګس لاس طعام خورل د شیطان كار دے.

شیطان په ګس لاس خوراك كوی

[٤٩٨] **الحديث الثالث**:وعنه رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَاْكُلَنَّ اَحَدُكُمْ بِشِمَالِهٖ وَلَا يَشْرَبَنَّ بِهَا فَاِنَّ الشَّيْطَانَ يَاْكُلُ بِشِمَالِهٖ وَيَشْرَبُ بِهَا. رواه مسلم

ترجمه : هم له دغه عمر رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه یو كس دے له تاسو نه نه په ګس لاس خوراك كوی اونه دے په ګس لاس څكل كوی څكه چه دا رنګ د شیطان عادت دے چه په ګس لاس خوری او څكی.

طعام نه بعد ګوتے سټل سنت دی

[٤٩٩] **الحديث الرابع** :عن جابر رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اَمَرَ بِلَعْقِ الْاَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ وَقَالَ اِنَّكُمْ لَا تَدْرُوْنَ فِيْ اَيِّهَا الْبَرَكَةُ. رواه مسلم

ترجمه :دحضرت جابر رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ دګوتو اودكاسی په څټلو سره حكم كړے دے اووے فرمائیل چه تاسو نه پوهیږی. چه په كومه ګوته یانوری كښ بركت دے.

خوراك په درے ګوتو سنت دے

[٥٠٠] **الحديث الخامس** :عن كعب بن مالك رضی الله عنه قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَاْكُلُ بِثَلَاثَةِ اَصَابِعَ وَيَلْعَقُ يَدَهٗ قَبْلَ اَنْ يَّمْسَحَهَا. رواه مسلم

ترجمه:دحضرت كعب بن مالك رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ په درے ګوتو روټی خوړه اودخوراك نه پس به ئے لاس مبارك په رومال وغیره اوچولو یا وینځلو نه مخكښ څټلو.

الدرس الواحد والمائة ﴿ ١٠١ ﴾

د غصے علاجونه

٥٠١ | **الحديث الاول** عن عطية بن عروة السعدى رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ وَإِنَّ الشَّيْطَانَ خُلِقَ مِنَ النَّارِ وَإِنَّمَا يُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ فَإِذَا غَضِبَ اَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأ. (رواه احمد فى مسنده وهذا حديث حسن. جامع الاصول جـ ٨ صـ ٤٣٩. ورواه ابوداود)

ترجمه : د حضرت عطیه بن عروه سعدی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه غصه کول شیطانی اثر وی او شیطان د اور نه پیدا شوے دے او اور په اوبو سره مړ کیږی لهذا کله چه تاسو نه کوم یو له غصه راشی نو پکار دی چه اودس اوکړی . یعنی اوبو سره چه اندامونه لونده شی نو غصه به سړه شی.

دغصے علاج

٥٠٢ | **الحديث الثانى** عن ابى هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا غَضِبَ اَحَدُكُمْ فَلْيَسْكُتْ. صحيح (الجامع جـ ١ صـ ١٨٠)

ترجمه :د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله غصه شی یو ستاسو نه نو چپ د شی.

د غصے ؓبل علاج

٥٠٣ | **الحديث الثالث** عن ابى هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا غَضِبَ الرَّجُلُ فَقَالَ :" اَعُوذُ بِاللّٰهِ" سَكَنَ غَضَبُهُ . صحيح (الجامع جـ ١ صـ ١٨٠)

ترجمه :د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کله چه سړے غصه شی نو اوډ وائی اعوذبالله نو غصه به ئے سړه شی.

د غصے یو بل علاج

٥٠٤ | **الحديث الرابع** عن عمران بن حصين قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا غَضِبْتَ فَاجْلِسْ .صحيح (الجامع جـ ١ صـ ١٨٠)

ترجمه:د عمران بن حصینؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه ته غصه شے نو کینه.

ؓبل غصے یو بل علاج

٥٠٥ | **الحديث الخامس** عن ابى ذر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا غَضِبَ اَحَدُكُمْ وَهُوَ قَائِمٌ فَلْيَجْلِسْ فَإِنْ ذَهَبَ عَنْهُ الْغَضَبُ وَإِلَّا فَلْيَضْطَجِعْ. صحيح (الجامع جـ ١ صـ ١٨٠)

ترجمه: دحضرت ابو ذرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه غصه شی یو ستاسو نه او دے ولاړ وی نو کیدینے نو که غصه لاړه نو ډیره خه ده ګنی ډډه د اولګوی.

الدرس الثانی والمائة ﴿۱۰۲﴾

کچرے کلمه درنه په اول دخوراك کښ هیره شی نو مینځ کښ دا کلمات اوایه

[۵۰۶] **الحدیث الاول**: عن عائشة رضی الله عنها قالت قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا أَكَلَ اَحَدُكُمْ فَنَسِیَ اَنْ یَّذْكُرَ اللهَ عَلٰی طَعَامِهٖ فَلْیَقُلْ بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ. صحیح. رواه الترمذی و ابو داود.

ترجمه: دحضرت عائشة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه کله یوله تاسو نه کینی روتی. ته اودالله نوم اخستل ئے هیرشی نوده له پکار دی چه مینځ کښ یعنی چه څه وخت ورته یادشی نو دے د اوائی چه " بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ.

په اخر کښ کلمه وئیلو سره برکت واپس کیږی

[۵۰۷] **الحدیث الثانی**: عن اُمَیَّةَ بْنِ مَخْشِیٍّ رضی الله عنه قَالَ كَانَ رَجُلٌ یَاْكُلُ فَلَمْ یُسَمِّ حَتّٰی لَمْ یَبْقَ مِنْ طَعَامِهٖ اِلَّا لُقْمَةٌ فَلَمَّا رَفَعَهَا اِلٰی فِیْهِ قَالَ بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ فَضَحِكَ النَّبِیُّ ﷺ ثُمَّ قَالَ مَازَالَ الشَّیْطٰنُ یَاْكُلُ مَعَهٗ فَلَمَّا ذَكَرَ اسْمَ اللهِ اِسْتَقَاءَ مَافِیْ بَطْنِهٖ. (مشکوة جـ ۲ صـ ۳۷۸ مکتبه رحمانیه) رواه ابو داؤد جـ ۵ صـ ۵۹۱ رقم ۳۷۶۸ و قال شعیب الارنؤط اسناده حسن.

ترجمه: دحضرت امیة بن مخشی رضی الله عنه نه روایت دے چه یوه ورځ یو کس ډډوډی خوراك ته کیناست او بسم الله ئے اونه وئیله تردے پورے چه په دے طعام کښ یوے نورے نه زیات نور هیڅ پاتے نه وو ناڅاپه ده ته یادشو چه ځمانه دخوراك دشروع په وخت کښ بسم الله پاتے شوے ده نو ددغه آخری لقمے خلے له اوږوپه وخت ئے ووئیل بِسْمِ اللهِ اَوَّلَهٗ وَآخِرَهٗ رسول الله ﷺ چه ولیده مسکے شو اووے فرمائیل چه شیطان دے کس سره برابر ډودی خوړه او چه څه وخت ده بسم الله اووئیله نو شیطان قے کړو هغه څه چه په ګیډه ده کښ وو.

په کور کښ د چابك ساتلو حکم

[۵۰۸] **الحدیث الثالث** عَنْ ابْنِ عَبَّاس اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ اَمَرَ بِتَعْلِیْقِ السَّوْطِ فِی الْبَیْتِ. صحیح، صحیح الادب جـ ۱ صـ ۴۷۷)

ترجمه: د حضرت بن عباس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ امر کړے دے (د تادیب د اهل بیتو د پاره) په زورندلو د چابك سره په کور کښ.

خوروا کښې دماتے روتی فضیلت

(۵۰۹) **الحديث الرابع** عن انس عن النبی ﷺ قال : فضل عائشة على النساء كفضل الثريد على سائر الطعام . جمع بين الصحيحين ج ۲ ص ۵۳٤) .

ترجمه : حضرت أنس نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلے دی غوره والے د عائشے په زنانو باندے داسے دے لکه غوره والے د ماتے روتے په خوروا د غوښے کښې په نورو طعامونو باندے .

فائده : دا مضمون په نورو حدیثونو کښې هم راغلے دے یو روایت د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دے چه رسول الله ﷺ ته خوښ طعام ماته شوے روتی وه په خوروا د غوښے کښې او دویم ښوښ طعام ورته حَیس ؤو . (ابو داؤد) . (اوحَیس ماته روتے ده په کجهورو او شهدو او پنیر وغیره کښې)(عون المعبود) . او یو بل روایت د حضرت ابی هریرهؓ نه دے چه نبی ﷺ د برکت دعا کړے ده (خوراك) د پیشمنی ته او د غوښے خوروا کښې ماتے روتے ته .(الترغیب والترهیب ج ۲ ص ۳۷۰) .

اوکه پخه خوراك بلاکراهت جائزدی

(۵۱۰) **الحديث الخامس** عن علی رضی الله عنه قَالَ نَهٰى رَسُوْلَ اللهِ ﷺ عَنْ أَكْلِ الثُّوْمِ إِلَّا مَطْبُوخًا. صحيح (رواه الترمذی وابو داود).

ترجمه: د حضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ کچه اوړے خوراك نه منع فرمائیلے ده مگر که سالن وغیره کښې پخه شی نوبیاخیر دے (ځکه بدبوئی ئے ختمه شی).

الدرس الثالث والمائة ۱۰۳

د شپے اور مړ کړه بیا اوده شه

(۵۱۱) **الحديث الاول** عن ابن عمر عَنِ النَّبِيِّ ﷺ لَا تَتْرُكُوا النَّارَ فِيْ بُيُوتِكُمْ حِيْنَ تَنَامُوْنَ فَإِنَّهَا عَدُوٌّ . صحيح (صحيح الادب المفر ج ۱ ص ٤٧٥) .

ترجمه : د ابن عمرؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ وئیلے دی اُور بل مه پریکدئ کله چه تاسو اوده کیګئ بیشکه دا دشمن دے .

فائده : امام بخاری لیکی چه ابن عمر به هله اوده کیدو چه په دے حدیث به ئے عمل اوکړو او اور به ئے کور کښې مړ کړو . (صحیح الادب ج ۱ ص ۴۷۵)

کاسه ښتل مستحب دی

(۵۱۲) **الحديث الثانی** عن أنسؓ : انَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ إِذَا أَكَلَ طَعَامًا لَعِقَ أَصَابِعَهُ الثَّلَاثَ ، قَالَ : وَ قَالَ :

إِذَا سَقَطَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيُمِطْ عَنْهَا الْأَذَى ، وَ لْيَأْكُلْهَا وَلَا يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ وَ أَمَرَنَا أَنْ نَسْلُتَ الْقَصْعَةَ ، قَالَ : فَإِنَّكُمْ لَا تَدْرُوْنَ فِي أَيِّ طَعَامِكُمُ الْبَرَكَةُ. رواه مسلم (الجمع الصحيحين جـ ٢ صـ ٦٤٦)

ترجمه : حضرت أنس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به کله طعام اوخوړو نو درے واړه ګوتی به ئے سټلے او فرمائیل به ئے کله چه پریوځی نوړے دیو ستاسو نه نو لری دے کړی د هغے نه ضرر (خاوره وغیره) او اود خوری او نه دے پریدے شیطان ته او حکم کړے دے مونږه ته پیغمبر ﷺ چه کاسه صفا کړئ ځکه تاسو ته پته نه لګی چه په کوم طعام ستاسو کښ برکت دے .

فائده ۱ : د دے حدیث شریف نه د ګوتو سټلو او د کاسے د سټلو فضیلت معلوم شو دے باره کښ نور احادیث هم شته یو حدیث د حضرت نبیشة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه کوم سړے پیالئ کاسه و غیره کښ خوراك اوکړی اوبیائے پاکه کړی نو هغه لوښے دے کس ته وائی چه څرنګ تامالـه دشیطان څټلونه نجات راکړو دارنګ دے تاته خدائے پاك د دوزخ داورنه نجات درکړی.(رزین ، مسند احمد ، ترمذی ، ابن ماجه)

فائده ۲: د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه کاسه صفا کول سنت دی د دے وجے نه سالن کم اچول پکار دی چه کاسه او پلیټ ګنده پاتے نه شی او په سنت عمل اوشی.

درے کسان د الله تعالی په ضمان کښ دی

[٥١٣] **الحديث الثالث** :عنْ أبی أُمامةَ قالَ : قالَ النَّبیّ ﷺ ثَلاثَةٌ كُلُّهُمْ ضَامِنٌ عَلَى اللّٰهِ ، إِنْ عَاشَ كُفِيَ ، وَ إِنْ مَاتَ دَخَلَ الْجَنَّةَ : مَنْ دَخَلَ بَيْتَهُ بِسَلَامٍ، فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللّٰهِ عَزَّ و جَلَّ . و مَنْ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ ، فَهُوَ ضَامِنٌ عَلَى اللّٰهِ . وَ مَنْ خَرَجَ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ ، فهو ضامن على الله. صحيح (صحيح الجامع الادب المفرد جـ ١ صـ ٤٢٢)

ترجمه : حضرت أبو أمامه وائی چه رسول الله ﷺ فرمائی درے کسان دی چه الله تعالی د هغوئی ضامن دے که ژوندے وی نو محفوظ به وی اوکه مړه شی نو جنت ته به ځی (۱) څوك چه کورته داخل شی په سلام سره نو هغه ضامن د په الله باندے (۲) او څوك چه جومات ته داخل شو نو هغه ضامن دے په الله باندے (۳) او څوك چه اوځی په لاره د الله کښ نو هغه ضامن دے په الله باندے (۴) یعنی الله تعالی به دوئی ته د دے نیکو أعمالو بدلے ورکوی ، الله تعالی د دے ذمه په خپل کرم اعشتلے ده.

دماشومانو د حفاظت یوه طریقه

[٥١٤] **الحديث الرابع** :عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَكُفُّوا صُبْيَانَكُمْ فَإِنَّهَا سَاعَةٌ يَنْتَشِرُ فِيْهَا الشَّيَاطِيْنُ. صحيح (الجامع جـ ١ صـ ١٨٠)

ترجمه :د حضرت ابن عباس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله نمر پریوځی نو

پسند کړے (غیګ کښې ئے اونیسی) دځان سره ماشومان ځکه دا وخت دے چه راخوریږی په دے کښې شیطانان (پیریان).

فائده: په دے حدیث کښې د ماشومانو د حفاظت یو تدبیر بیان شو چه تیاره راتلو وخت کښې دوئی غیګ کښې نیول پکاردی چه د جنّاتو د شرارت نه بچ شی.

په یو ځاے خوراک کښې برکت دے

الخامس:عن عمربن الخطاب رضی اللہعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ كُلُوا جَمِيْعًا وَلَاتَفَرَّقُوا فَإِنَّ

ترجمه: د حضرت سعید بن تمیم" نه روایت دے چه نبی ﷺ ماته اووئیلے چه څامن د څه شو؟ ما اوئیل چه کور دی دے فرمائیل ماته ئے راوله سعید" وائی نو زه کور ته راغلم نو هغوئی ته مے سپین قمیصونه واچول بیا مے پیغمبر ﷺ ته راوستل نو پیغمبر ﷺ ورته په دے الفاظو دعا اوکړله" **اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اُعِیْذُهم بِكَ مِنَ الْكُفْرِ والضَّلَالِ وَالْفَقْرِ الَّذِیْ یُصِیْبُ بَنِیْ آدَمَ** " اے الله څه پناه غواړم پتا باندے دوئی د پاره د کفر او گمراهی نه او د فقر هغے نه چه رسی انسانانو ته .

فائده: دے حدیث شریف نه یو څو خبرے معلومے شوے اوله یو مشر له پکار دی چه د خپلو ماتحتو د بچو پښتنه اوکړی او هغوئی راوغواړی او دعا ورته اوکړی دے سره به محبت زیات شی دویمه دغه وخت کښ کومه دعا پکار ده هغه دے حدیث شریف په نښه کړه سره د ترجمے ئے یاده کړئ ، دریمه چه ماشومان د مشرانو خواته بوتلل وی نو پاکی جامے ورته اچول پکار دی .

دزمزم اوبه په ولاړه څکل مستحب دی

[۵۱۹] **الحدیث الرابع** :عن ابن عباس رضی الله عنه قال رایت رسول الله ﷺ **بِدَلْوٍ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ فَشَرِبَ وَهُوَ قَائِمٌ.** متفق علیه

ترجمه :د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه مایو لوښے د اوبه دزمزم د رسول الله ﷺ په خدمت کښ راوړے ؤ نو رسول الله ﷺ څکلے په داسے حال کښ چه دے ولاړوو.

فائده: د دے حدیث شریف او د بعضے نورو روایاتو په سبب علماء کرام وائی د زمزم اوبه په ولاړه څکل مستحب دی .

دسرو سپینو لوخی استعمالول ښه نه دی

[۵۲۰] **الحدیث الخامس** :عن ام سلمة رضی الله عنها **اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ الَّذِی یَشْرَبُ فِی اٰنِیَةِ الْفِضَّةِ اِنَّمَا یُجَرْجِرُ فِیْ بَطْنِهٖ نَارَ جَهَنَّمَ.** متفق علیه. **وفی روایة مسلم اِنَّ الَّذِی یَاْكُلُ وَیَشْرَبُ فِی اٰنِیَةِ الْفِضَّةِ وَالذَّهَبِ.**

ترجمه: دحضرت ام سلمة رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه کوم کس دسپینوزروپه لوښی کښ څکل کوی نو داڅکل نورڅه نتیجه نه پیداکوی سوا له دے نه چه د دوزخ اور به په خپته دده کښ قړ قړ کوی. (بخاری ومسلم)

اودمسلم په یوروایت کښ دی چه بیشکه هغه سړے چه خوراك او څکاك کوی په لوښو د سرو او د سپینو کښ نو د هغه هم هم دغه حکم دے چه قړقړ به کوی د ده په خپته کښ د دوزخ اور یعنی د مسلم شریف روایت کښ د خوراك زیادت دے او مخکښ روایت کښ صرف د څکاك ذکر دے .

الدرس الخامس والمائة ١٠٥

کس طرف لونبی ورکولو دپاره د نبی طرف اجازت پکار دے

[٥٢١] **الحديث الاول** :عن سهل بن سعد رضی اللہ عنہ قَالَ اُتِیَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ بِقَدَحٍ فَشَرِبَ مِنْهُ وَعَنْ يَمِيْنِهِ غُلَامٌ اَصْغَرُ الْقَوْمِ وَالْاَشْيَاخُ عَنْ يَسَارِهِ فَقَالَ يَاغُلَامُ اَتَاْذَنُ اَنْ اُعْطِيَهُ الْاَشْيَاخَ فَقَالَ مَاكُنْتُ لَاُوْثِرُ بِفَضْلِ مِنْكَ اَحَدًايَارَسُوْلَ اللهِ فَاَعْطَاهُ اِيَّاهُ. متفق عليه

ترجمه: دحضرت سهل بن سعد رضی اللہ عنہ نه روایت دے چه یوه ورځ رسول الله ﷺ ته خدمت کښې دپیو یاداوبو یوه پیاله چاراوړه رسول الله ﷺ ترے وڅکلے اوڅه پاتے شوے دغه وخت ددې نبی طرفته یو هلك ناست ووچه په عمر کښې دټولو نه کم وواوکوم چه زاړه مشران خلق ووهغه کس طرفته ناست وو رسول الله ﷺ وفرمانیل اے هلکه ته اجازت ورکوے چه داباقی پاتے اوبه یاپې دے مشرانو ته ورکړم؟ هلك ویل نااے دخدائے رسوله ستاسونه بچ شوی پښی یااوبه بل ته په ورکولوباندے تیارنه یم نونبی ﷺ هغه هغے هلك ته ورکړے.

فائده: دے حدیث شریف کښې دے نوجوان درسول الله ﷺ سره د محبت مظاهره کړه دے اودا لونے سعادت سے د صحابو دا عادت ؤو چه هغوی هرے ادا د نبی ﷺ سره د محبت کوشش کړے دے ځکه د هغوی شان اوچت دے او وی به.

دالله تعالیٰ خاص خلق

[٥٢٢] **الحديث الثانی** : عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ: اِنَّ لِلّٰهِ اَهْلَيْنَ مِنَ النَّاسِ اَهْلُ الْقُرْآنِ هُمْ اَهْلُ اللّٰهِ وَخَاصَّتُهُ. صحيح (الجامع جـ ١ صـ ٤٣٢)

ترجمه : دحضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی بیشك دالله تعالیٰ دپاره اهل (خاص خلق) دی (بیائے اوفرمانیل) اهل قرآن هم دوی دالله اهل او خاص خلق دی.

فائده: حاصل داد ے چه څوك د قران زده کړه خودنه په قران عمل او ددے تلاوت کوی دے کښې مصروف وی نو دا دالله تعالیٰ خاص خلق دی.

د غسل نه روستو اودس نیشته

[٥٢٣] **الحديث الثالث**: عن عائشةؓ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْغُسْلِ .حسن (الجامع جـ ٢ صـ ٨٧٥)

ترجمه: دحضرت عائشهؓ نه نقل دے چه رسول الله ﷺ به دغسل نه روستو اودس نه کولو.

فائده : چه سړے اولامبے نو د هغے نه روستو اودس ته ضرورت نشته البته د لامبلو نه مخکښې اودس کول سنت دی.

توبه څه څیز دے؟

[٥٢٤] **الحديث الرابع** :عن ابی سعید الانصاری قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلنَّدَمُ تَوْبَةٌ وَالتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَا ذَنْبَ لَهُ. حسن (الجامع ج ٢ص ١١٥٠)

ترجمه : دحضرت ابو سعید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی توبه خپیمانتیا ده او توبه کونکے داسے دے لکه چه گناه نے نه وی کړے.

په قبر لیکل نه دی جائز

[٥٢٥] **الحديث الخامس** : عن جابرؓ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّكْتَبَ عَلَى الْقَبْرِ شَيْءٌ .صحيح (الجامع ج٢ص ١١١٥٥)

ترجمه : دحضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده ددے نه چه اولیکلے شی په قبر باندے څه څیز.

فائده : نن صبا خلق په قبرونو اية الكرسی او نور ایتونه دارنګ اسماء الحسنی لیکی څوك پرے په شعرونه لیکی دا ګناه ده او دے کښی د قرآن او دالله تعالیٰ د نوم بے ادبی هم ده.علماء لیکلی دی چه په قبرنو لیکلے شوے خبرے لوستلو سره حافظه کمزوری کیږی (تعلیم المتعلم) بنده محمد مسلم نستوی وائی شاید دا تجربے سره ثابت وی.

الدرس السادس والمائة ﴿١٠٦﴾

الله تعالی ته ناخوښ سړے

[٥٢٦] **الحديث الاول** :عن عائشة رضی اللهعنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَبْغَضُ الرِّجَالِ اِلَى اللهِ **الاَلَدُّالْخَصِمُ**. صحيح الجامع الصغير ج١ ص ٧٦.

ترجمه :دحضرت عائشة رضی اللهعنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه زیات ناخوښ دسړونه الله تعالی ته هغه سخت جګړمارانسان دے.

فائده : د جګړو نه ځان ساتل ضروری دی ځکه چه جګړمار انسان د الله تعالی خوښ نه وی پښتانه هم وائی چه جګړه د سپو کار دے نو انسان به جګړے نه کوی.

عزت په استغناء کښی دے

[٥٢٧] **الحديث الثانی** :عن سهل بن سعد رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَتَانِی جِبْرِيْلُ فَقَالَ يَامُحَمَّدُ عِشْ مَاشِئْتَ فَاِنَّكَ مَيِّتٌ وَاَحْبِبْ مَنْ شِئْتَ فَاِنَّكَ مُفَارِقُهُ وَاعْمَلْ مَاشِئْتَ فَاِنَّكَ مُجْزَى بِهِ وَاعْلَمْ اِنَّ شَرَفَ الْمُؤْمِنِ قِيَامُهُ بِاللَّيْلِ وَعِزُّهُ فِی اِسْتِغْنَائِهِ عَنِ النَّاسِ .حسن. صحيح الجامع ج١ ص ٧٦

ترجمه :دحضرت سهل بن سعد رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه راغے ماته جبریل نووے وئیل اے محمد ﷺژوند تیرکړه څه رنګ چه ستاخوښه وی مړے به اومینه کوه چاسره چه ستا خوښه وی جداکیږے به ترے اوعمل کوه هغه چه ستاخوښ وی بدله به درکولے شی دهغے اوپوه شه چه شرف دمومن په ولاړه دشپے کښ دے اوعزت ددہ په بے پرواهی کے دے دخلقونه.

دامام قرأت ته توجه اوکړه

[۵۲۸] **الحديث الثالث** :عن ابن موسیؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺإِذَا قَرَأَ الْإِمَامُ فَانْصِتُوْا. صحيح (الجامع ج۱ص ۱۸۷)

ترجمه :دحضرت ابوموسیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺوئیلے دی کله چه امام قرأت لولی نو تاسو خاموش شی.

هرڅائے الله نه یره کوه

[۵۲۹] **الحديث الرابع** :عن انس رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺاِتَّقِ اللهَ حَيْثُ مَاكُنْتَ وَاَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ. حسن الجامع ج۱ص ۸۱

ترجمه :دحضرت انس رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه اللهتعالی نه اوویږه هرڅائے چه ئے اوبدی پسے نیکی کوه چه بدی ختمه کړی اوژوند تیروه خلقو سره په خائسته اخلاقو.

د شیطان نه د کاسے د محفوظ کولو یو تدبیر

[۵۳۰] **الحديث الخامس** :عن أبی موسی الأشعری ، اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺقَالَ: مَا قَعَدَ يَتِيْمٌ مَعَ قَوْمٍ عَلٰى قَصْعَتِهِمْ ، فَيَقْرُبُ قَصْعَتَهُمْ شَيْطَانٌ . حسن.(مجمع الزوائد . كتاب البر و الصلة جـ ۸ صـ ۲۰۶)

ترجمه :د حضرت أبو موسی اشعریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺاووئیل نه کینی یو یتیم د یو قوم سره په کاسه د هغوئی باندے (د خوراك د پاره) چه نزدے شی هغوئی ته شیطان (معنی دا ده چه دغه قوم ته شیطان نه نزدے کیږی دوئی د شیطان نه محفوظ شو .

الدرس السابع والمائة ۱۰۷

توبه اللهتعالی قبلوی

[۵۳۱] **الحديث الاول** :عن عائشة رضی اللهعنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺإِنَّ الْعَبْدَاِذَااعْتَرَفَ ثُمَّ تَابَ تَابَ اللهُ عَلَيْهِ. رواه البخاری ج۲ص ۹۶

فائده ۲: حدیث شریف مونږه ته دا خبره په ننبه کړه چه کلی کښ به مقامی کار کول غواړی د قرآن او حدیثو تعلیم به خودل یا ازده کول غواړی د خوږ نبی حکم دے دے سره به روحانی او اسلامی ترقی حاصلیږی.

فائده ۳: حدیث نه دا خبره ثابته شوه چه مقامی مقرر امام نه دی او په علم او په قرأت کښ تول برابر وی نو بیا به عمر کښ مشر مخکښے کولے شی اوکه د محلے مقرر امام په مسجد کښ موجود وی نو بیا امامت کول حق د هغه دے اگر چه هغه کشر وی.

خاوند د حق که سخته خبره اوکړی هغه برداشت کول پکار دی

[۵٤۰] **الحدیث الخامس:** عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رسول اللّٰهِ دَعُوْهُ فَاِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا (الجامع ج ۱ ص ۶۳۸).

ترجمه: د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول لله ﷺ اووئیل چه پریکدئی ده لره بیشك صاحب د حق لره حق د خبرے شته دے.

فائده: د دے حدیث شان ورود دا دے چه د یو سړی په پیغمبر ﷺ قرض ؤو نو هغه د نیټے نه مخکښ راغے او پیغمبر ﷺ ته ئے سختے خبرے اوکړے نو صحابه ورته غصه شو نو پیغمبر ﷺ ورته اوفرمائیل چه پریکدئی ده لره د حق د خاوند د پاره حق د خبرے شته دے، دے حدیث شریف مونږه ته دا خبره په ننبه کړه چه کچرے د یو سړی تاسره پیسے وی یا بل څه حق وی او هغه سخته خبره اوکړی نو برداشت ئے کړه چه جگړه نه جوړیږی او خپل حق ورته ورکړه.

الدرس التاسع والمائة ۱۰۹

د سرد درد ثوابونه

[۵٤۱] **الحدیث الاول:** عنْ اَبی هریرة رضی الله عنه قال: قال رسول اللّٰه ﷺ: لَا تَزَالُ الْمَلٰئِكَةُ وَالصُّدَاعُ بِالْعَبْدِ وَالْاَمَةِ وَاِنَّ عَلَيْهِمَا مِنَ الْخَطَايَا مِثْلَ اُحُدٍ فَمَا تَدَعُهُمَا وَعَلَيْهِمَا مِثْقَالُ خَرْدَلَةٍ: رواه ابو یعلی ورجاله ثقات (المنجر ص ۳۹۶)

ترجمه: د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله وئیلے دی همیشه وی د هډوکو تبه او د سر درد په غلام او په ویندځه او حال دا دے چه په دوئی د اُحد د غر برابر گناهونه وی پس نه پریکدی دوئی لره چه په دوئی باندے د اُوری د دانے برابر گناه وی.

فائده: مطلب د حدیث شریف دا دے چه سړی باندے د هډوکو تبه او د سر درد اُموخته شی نو ده ته الله تعالی د دے په ذریعه تول گناهونه معاف کړی اگر چه هغه د اُحد د غر برابر وی.

[۵٤۲] **الحدیث الثانی:** عن ابی سعید الخدری رضی الله عنه ان رسول الله ﷺ قال: صُدَاعُ الْمُؤْمِنِ

فائده : په حدیث شریف کښې د برکت دوه اسباب ذکر شوے دی یو په یو ځانے روټے خوړل او دویم د روټے شروع کولو په وخت کښې د الله تعالی نوم اغستل . حضرت تهانویؒ وائی چه په جمع کښې روټی هغه وخت خوړل بهتر دی چه انسان کښې دایثار ماده وی او که د ایثار ماده په کښې نه وی نو بیا ځان له خوراك بهتر دے چه پردے حق تلفی او نه شی .

اللہ تعالی ته خوښ نومونه

رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَحَبُّ الْاَسْمَاءِ اِلَى اللهِ

ثُمَّ صِلَةُ الرَّحِمِ ثُمَّ الْاَمْرُ بِالْمَعْرُوفِ وَالنَّهْيُ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاَبْغَضُ الْاَعْمَالِ اِلَى اللهِ الْاِشْرَاكُ بِاللهِ ثُمَّ قَطِيْعَةُ الرَّحِمِ

حسن ،،صحيح الجامع جـ١ صـ٩٥

ترجمه :يو سړے دخثعم قبيلے روايت كوى چه رسول الله ﷺوفرمائيل چه ډيرخوښ داعمالونه هغه ايمان په الله دے بياپالل دخپلولى دى بياپه نيكوامركول اودبدونه منع كول دى اوډير ناخوښه داعمالونه اللهته شرك كول دى دالله سره بياختمول دخپلولى دى

[٥٥٤] **الحديث الرابع** :عن ابى هريرة رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ مَسَاجِدُهَا وَاَبْغَضُ الْبِلَادِ اِلَى اللهِ اَسْوَاقُهَا. صحيح،،الجامع جـ١ صـ٩٥

ترجمه :دحضرت ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺوفرمائيل چه خوښ دځايونونه اللهته جوماتونه دى اوناخوښه دځايونونه اللهته بازارونه دى.

[٥٥٥] **الحديث الخامس** :عن المسور بن مخرمة رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَحَبُّ الْحَدِيْثِ اِلَى اللهِ اَصْدَقُهُ. صحيح،،الجامع

ترجمه :دحضرت مسوربن مخرمة رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺوفرمائيل چه ډيرخوښ دخبرونه اللهته ډيره رشتيا ويناده.

الدرس الثانى عشر بعدالمائة ﴿١١٢﴾

مثله منع ده

[٥٥٦] **الحديث الاول** :عن قتادة رضى الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَحُثُّنَا عَلَى الصَّدَقَةِ وَيَنْهَى عَنِ الْمُثْلَةِ، رواه البخارى جـ١ صـ٦٠٢

ترجمه:دحضرت قتادة رضى الله عنه وائى چه مونږه ته درسول الله ﷺنه داخبره رارسيدلے ده چه هغوى به دصدقے باره كښ تيزى وركوله اودمثلے نه به ئے منع كوله.

فائده :مثله ديته وائى چه سړے دمړى نه پوزه غوږونه شرمگاه يانوردبدن اندامونه اواطراف پرے كړى.قسطلانى.

قبلے ته مخ كول شاه كول په وخت دتقاضے كښ منع دى

[٥٥٧] **الحديث الثانى** :عن ابى ايوب الانصارى رضى الله عنه قال قال رسول الله ﷺ اِذَا اَتَيْتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَسْتَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ بِغَائِطٍ وَلَا بَوْلٍ وَلَا تَسْتَدْبِرُوْهَا. صحيح. رواه الترمذى.

ترجمه :دحضرت ابوايوب انصارى رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺوفرمائيل چه كله تاسو اودس ماتے كوى نوقبلے ته مه مخ كوى په ډك اودس ماتى كښ اونه په

تشو متیازو کښې اومه شاه کوی قبلے ته.

فائده: دغه شان مضمون په یو روایت کښې د ابو هریرةؓ نه هم نقل دیچه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هرکله راشی یوستاسونه اودس مائی ته نونه دی مخ کوی قبلے ته اونه دے شاکوی. (مسلم).

د دے حدیثونو به وجه فقهاء وائی چه قبلے ته د تقاضے وخت کښې مخ کول یا شاکول مکروه تحریمی دی.

کوروتو کښې دنکاچه جوړول مستحب دی

[۵۵۸] **الحديث الثالث** : عن محمدد بن الرّبيع الانصارى اَنّ مالك و هو من اصحاب رَسُولِ اللّٰه ﷺ مِمّن شهد بدرًا مّن الانصارانه اتى رَسُول اللّٰه ﷺ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَد اَنكَرْتُ بَصَرى وَ اَنَا اُصَلّى لِقَومِى فَاِذَا كَانت الامطَار سَالَ الْوَادِى اللذِى بَينِى وَ بَينَهُم لم استطع اَنْ اٰتِىَ مَسجدَهم فاُصَلّى بهم وَوَدِدتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِنّك تَاتِينِى فتصلّى فِى بيتى فاتخِذُهُ مُصَلًّى قَالَ فَقَالَ لَهُ رَسُوْل اللّٰهِ ﷺ سَافعلُ ان شَاء اللّٰهُ تعالى قَالَ عِتبان تغدا عَلَىّ رَسول اللّٰه ﷺ وَ ابو بكر حِيْنَ ارتفعَ النَّهَارَ فاستاذَنَ رَسُول اللّٰهِ ﷺ فَاذنتُ لهُ فلم يَجْلِس حِين دخلَ البيتَ ثم قال اين تُحِبُّ اَن اُصَلّى مِن بيتك قال فاشرتُ لهُ اِلَى ناحيةٍ من البَيتِ فَقَامَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ فَكبر فقُمنا فصَفَفنا فَصَلّى ركعتين ثم سَلّم قَالَ وَ حَبَسْناهُ عَلَى خَزِيْرَة صنعناهالهُ قال فثاب فى البيت رجال من اهل الدرار ذوُو عَدَدٍ فاجتمعوا فقال قَائِلٌ منهم اين مالك بن الدُّخَيْشِنَ اوابن الدُخشُن فقال [illegible] منافقٌ لا يُحبُّ اللّٰهُ وَ رَسُولهُ فَقَالَ رَسُوْل اللّٰهِ ﷺ لَا تَقُل ذاك اَلا تَرَاه قد قَالَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ يُرِيْدُ

هغه مونږه د هغونې د پاره تیار کړے وه . حضرت عتبان وائی چه بیا د محلے مختلف خلق راجمع شو په دغه کسانو کښې یو کس اووئیل چه مالك بن دخیشن څه شو ؟ هغه خو حاضر نه شو هم په دغه حاضرینو کښې چا جواب ورکړو چه هغه خو منافق دے الله تعالی او رسول الله ﷺ سره مینه نه کوی رسول الله چه دغه خبره اوریدله نو وے فرمائیل داسے مه وایه ته نه وینی چه لا اله الا الله کلمه وئیلے ده او د دے کلمے په ذریعه سره هغه د الله تعالی رضا حاصلوی . د رسول الله په دے خبره باندے هغه سړی اووئیل چه الله او د هغه رسول ښه پوهیږی مونږه خو ظاهر کښې د هغه توجه او خیر خوانی منافقانو سره وینو د دے وجے نه مودغه خبره د خلے ته اووتله . رسول الله ﷺ ورته اوفرمائیل چه الله دوزخ حرام کړے دے په هغه کس باندے چه هغه لا اله الله اوائی او د هغه مقصد د الله تعالی رضا او خوشنودی وی .

فائده : د دے حدیث شریف نه یو څو مسئلے ثابتیږی .

مسئله ۱ : دا چه په کور ونو کښې د مونځ د پاره ځائے مقرر کول مستحب دی د رسول الله ﷺ زمانه کښې د دے وجود ؤ او هغوئی په خپله د هغے د ځائے تعین کړے دے حمونږه علاقه کښې هغے ته دنکا چه وئیلے شی . یاد لری د دغے دنکا چے احترام او هغے لره پاك ساتل پکار دی خو دغه د جومات په حکم کښې سو قیصد نه ده دغے ته حائضه زنانه ورتلے شی د هغے د پاشه بغیر د کراهت نه خوب کیدے شی خلاصه دا چه د جومات احکام پرے نه جاری کیږی .

مسئله ۲: دا جومات بنیاد یا د جومات افتتاح د پاره پروګرام کول او یو مشر راغوستل جائز دی او هغه ته ملګری راجمع کیدل او مقامی خلق حاضر کیدل هم جائز دی .

مسئله ۳ : دا چه سړے کوم کار د پاره چرته لاړشی نو اول هغه کار مخکښے کول پکار دی بیا اضافی کارونه کول پکار دی ځکه ډیر کرته اضافی کارونو مخکښې کولو سره مقصودی کار ته نقصان اورسی د دے خبرے تجربه بار بار شوے ده گورنی پیغمبر ﷺ ناستے نه مخکښے اوفرمائیل چه کوم ځائے مونځ اوکړم دا دلیل دے چه مقصود مقدم کړئی .

مسئله ٤ : دا چه کچرے سړے دینی پروګرام ته لاړو بیان ته افتتاحی ،اختتامی دعا ته لاړو او مقامی خلقو د خوراك ځکاك یا څه اکرام اوکړو نو دے حدیث نه د هغے جواز معلوم شو .

مسئله ٥ : دا کچرے یو ځائے ته یو مشر راغلو او هغه ته یو ملګرے حاضر نه شونو هغه باندے بدګمانی نه ده صحیح او هغه پسے بدے خبرے نه دی .

مسئله ٦ : دا چه نفل مونځ کښې جمع فقهاء بغیر تداعی نه جائز وائی د تداعی دا مطلب دے چه صحف دوه درے کسه مقتدیان وی ظاهره دا ده چه دے حدیث کښې ذکر شوے جمع د نو افلو هم بغیر د تداعی نه دی .

مسئله ۷ : دا چه د څدر د باران یا د ستر ګو د معزورے د وجے نه مسجد ته نه تلل او کور کښې

مونځ کول جائز دی .

مسئله ۸: دا چه عتبانؓ د خپل قوم جومات کښې امام ؤو که یو جومات والا د خپل قومی کس په امامت متفق شی نو دا ډیره خونده وره خبره ده .

مسئله ۹ : دا چه رسول الله ﷺ خزیره (حلیم چه غوښه اوړه گډ کړے شی یو نرم او ترسکون خوراك تیار کړے شی) استعمال کړے ده .

مسئله ۱۰ : دا چه کلمه طیبه ډیر لوئے فضیلت لری دے حدیث شریف دا خبره په نښه کړه چه کلمه طیبه "لا اله الا الله" څوك د الله د رضا د پاره اوائی په هغه باندے د دوزخ اور حرام دے .

قبلے ته لاړے توکل منع دی

[۵۵۹] **الحدیث الرابع** :عن حذیفة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَنْ تَفَلَ تُجَاهَ الْقِبْلَةِ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَتَفْلَهُ بَيْنَ عَيْنَيْهِ. رواه ابن خذیمة وابن حبان فی صحیحهما. معارف السنن ج۱ ص ۹۰

ترجمه: دحضرت حذیفه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه څوك قبلے طرف نه لاړے توکی نورابه شی په ورځ دقیامت اولاړے دده به په مینځ ددواړوسترگو دده کښې وی.

فائده: دے حدیث شریف نه د قبلے مبارکے احترام ثابتیږی یو روایت کښې رازی چه یو امام په زمانه د رسول الله ﷺ کښې قبلے ته لاړے توکلے وی نو رسول الله ﷺ ئے قوم ته اوفرمائیل چه دے بیا امامت ته مه پریگدئی نو کله چه هغه امامت ته مخکښے کیدو نو قوم روستو کړو هغه امام تپوس اوکړو چه دا ولے ؟ نو هغوئی ورته اووئیل چه دا رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نو هغه امام رسول الله ﷺ ته راغلو تپوس ئے ترے اوکړو چه دا ولے نو هغوئی ورته اووئیل چه تا الله او رسول ته ضرر رسولے دے یعنی چه تا قبلے ته لاړے توکلے دی په دے الله او رسول ناراضی دی علماء داسے وائی چه بایزید بسطانیؒ ته چا اووئیل چه دلته یا ولی الله دے رازه چه ملاقات له ورشو دوئی چه ورغلل هغه د کور نه جومات ته مرنځ له روان وو دوئی اولیدو چه قبلے ته ئے لاړے اوتوکلے بایزید د لاړے نه واپس شو ملگری ته ئے وئیل وے رازه دا ولی نه شی کیدے ده قبلے ته لاړے اوتوکلے .

دسورة الفتح فضیلت

[۵۶۰] **الحدیث الخامس** :عن عمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَقَدْ اُنْزِلَتْ عَلَيَّ اللَّيْلَةَ لَهِيَ اَحَبُّ اِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ ثُمَّ قَرَاَ اِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحًا مُّبِيْنًا، رواه البخاری ج۲ ص ۶۰۰

ترجمه: دحضرت عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه نازل شویدے ماباندے نن شپه یوسورت چه هغه ماته خوښ دے دتولو هغه څیزونونه چه راخیژی په هغے باندنمر بیائے دایت اولوستو انافتحنالك فتحامبینا.

ترغیب دے بښځو ته په محافظت د امر ددین چه داخلے نشی اور ته.(تحفة الاحوذی ج۷ص ۲۷۷)

صفونه خانسته قائم کړی

[٥٦٧] **الحديث الثانی** :عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَحْسِنُوْا اِقَامَةَ الصُّفُوْفِ فِی الصَّلٰوةِ. صحيح ،الجامع ج۱ص۱۰۰

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه خانسته کړی اودرول دصفونو په مانځه کښ.

دژبے حفاظت اوکړی

[٥٦٨] **الحديث الثانی** :عن مالك بن يخامر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِحْفَظْ لِسَانَكَ .صحيح، الجامع ج۱ص۱۰۱

ترجمه :دحضرت مالك بن يخامر رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه دژبے حفاظت اوکړی.

ښځولره سره زراوربښم روادی

[٥٦٩] **الحديث الرابع** :عن ابی موسی رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اُحِلَّ الذَّهَبُ وَالْحَرِيْرُ لِاِنَاثِ اُمَّتِیْ وَحُرِّمَ عَلٰی ذُكُوْرِهَا. صحيح. الجامع ج۱ص۱۰۲

ترجمه :دحضرت ابو موسی رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه حلال کړے شویدی سره زراوربښم زمادامت دزنانو دپاره اوحرام دی په سړوباندی.

نفل په ناسته نیم ثواب دولاړے لری

[٥٧٠] **الحديث الخامس** :عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ صَلٰوةُ الْجَالِسِ عَلَى النِّصْفِ مِنْ صَلٰوةِ الْقَائِمِ. صحيح. الجامع ج۲ص۷۱۰.

ترجمه :دحضرت عائشة رضی اللهعنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺوفرمائیل چه مونځ دناست په نیمه دے دمونځ دولاړنه.

فائده : مونځ کښ ولاړه فرض ده په ناسته نه کیکی البته نفل مونځ کښ ولاړه فرض نه ده په ناسته هم جائزدی خوثواب نے د ولاړے په نیمه دے.

الدرس الخامس عشر بعد المأة ﴿١١٥﴾

الدرس السادس والعشر بعدالمائة ﴿١١٦﴾

دقدرت باوجود غصه خوړل دحسن خاتمه سبب دے

[٥٧٦] **الحديث الاول** عن ابن عمر رضی اللہ عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَحَبُّ النَّاسِ اِلَى اللهِ اَنْفَعُهُمْ وَاَحَبُّ الْاَعْمَالِ اِلَى اللهِ عَزَّوَجَلَّ سُرُوْرٌ تُدْخِلُهُ عَلٰى مُسْلِمٍ اَوْتَكْشِفُ عَنْهُ كُرْبَةً اَوْتَقْضِيْ عَنْهُ دَيْنًا اَوْتَطْرُدُ عَنْهُ جُوْعًا وَلَاَنْ اَمْشِيَ مَعَ اَخِي الْمُسْلِمِ فِي حَاجَةٍ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اَعْتَكِفَ فِي الْمَسْجِدِ شَهْرًا وَمَنْ كَفَّ غَضَبَهُ سَتَرَاللهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَلَوْشَاءَ اَنْ يُمْضِيَهُ اَمْضَاهُ مَلَاَاللهُ قَلْبَهُ رِضًى يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَمَنْ مَشٰى مَعَ اَخِيْهِ الْمُسْلِمِ فِي حَاجَتِهِ حَتّٰى يُثْبِتَهَا لَهُ اَثْبَتَ اللهُ تَعَالٰى قَدَمَهُ يَوْمَ تَزِلُّ الْاَقْدَامُ وَاِنَّ سُوْءَ الْخُلُقِ لَيُفْسِدُ الْعَمَلَ كَمَا يُفْسِدُ الْخَلُّ الْعَسَلَ. حسن ،،صحيح الجامع ج١ ص ٩٧

ترجمه :دحضرت ابن عمر رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه خوښ دخلقونه اللہ تعالی ته زیاته فائده رسونکے دے مخلوق ته اوزیات خوښ داعمالو نه اللہ ته خوشحالی ده چه دمسلمان زړه ته ئے داخله کړے یاترے غم لرے کړے یاترے قرض اداکړے یاترے لوګه دفع کړے اوداچه زه لاړشم یومسلمان سره حاجت کښ ماته خوښ دے داعتکاف دمیاشتے نه په جومات کښ اوځوک چه غصه بنده کړی الله به دده عیوب پټ کړی اوځوک چه غصه اوخوری سره دقدرت نه په نافذ کولواللہ به ډک کړی زړه دده په ورځ دقیامت درضا خپلے نه اوځوک چه لاړشی یومسلمان رورسره په حاجت کښ تردے چه ورلره پوره کړی اللہ تعالی به دده قدمونه ثابت کړی په ورځ دقیامت اوبیشك بدخوئی خرابه وی عمل لکه څنګه چه شهدو لر سرکه خرابه وی.

دحسن خلق انعام

[٥٧٧] **الحديث الثاني** عن اسامة بن شريك رضی اللہ عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَحَبُّ عِبَادِاللهِ اِلَى اللهِ اَحْسَنُهُمْ خُلُقًا. صحيح،صحيح الجامع ج١ ص ٩٧

ترجمه :دحضرت اسامة بن شريك رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه زیات خوښ دبندګانونه اللہ تعالی ته خائسته خوئی والا دے.

فائده : په دے حدیث شریف کښ د خائسته اخلاقو والا انسان د پاره لوئے انعام ذکر دے هغه دا چه دے الله تعالی ته خوښ اوګران دے د دے وجے نه په اخلاقو محنت پکار دے چه د خائسته اخلاقو دولت ترلاسه شی.

دجمعے دشپے ورځے یو مخصوص عمل

[٥٧٨] **الحديث الثالث** عن صفوان بن سليم مرسلاً قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ وَلَيْلَةُ

الْجُمُعَةِ فَاَكْثِرُوا الصَّلٰوةَ عَلَيَّ. حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۱۹۶)

ترجمه :دحضرت صفوان بن سليم نه روايت دے چه رسول الله ﷺ ونيلے دی کله چه ورځ او شپه د جمعے وی نو په ما باندے درود شريف ډير وائی.

فائده : د حضرت گنگوهی نه منقول دی چه هغوئی خپلو متعلقينو ته وئيل چه کم از کم تين سو پيرے د جمعے په روځ درود شريف وئيل مناسب دی.

دمدح کونکو حوصله افزائی مه کوی

[۵۷۹] **الحديث الرابع** :عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اُحْثُوا التُّرَابَ فِی وُجُوهِ الْمَدَّاحِيْنَ. صحيح ،،صحيح الجامع ج۱ ص۹۸

ترجمه :دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائيل چه اونولی خاورے په مخونو دمدح کونکو.

فائده : مطلب دادے چه کوم سړے ستاسو مدح په مخامخ کوی نو دهغوی حوصله شکنی اوکړی. چه مدح نه کوی څکه دے سره نفس فتنه کښ واقع کيږی.

د حسن قرأت نشانی خوف رحمانی

[۵۸۰] **الحديث الثالث** :عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَحْسَنُ النَّاسِ قِرَاءَةً الَّذِی اِذَا قَرَاَ رَاَيْتَ اَنَّهٗ يَخْشَى اللهَ. صحيح ،،صحيح الجامع ج۱ ص ۱۰۰

ترجمه :دحضرت عائشة رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وفرمائيل چه خائسته قرأت کونکے هغه کس دے چه کله هغه قرأت کوی نوته محسوس کړے چه دے دالله تعالی نه يريږی.

فائده : دے حديث شريف نه واضحه شوه چه د خائسته قرأت نښه دا ده چه اوريدونکے محسوس کړی چه دالوستونکی د الله تعالی نه يريږی کله چه سړے تدبر سره د زړه د ويخ نه تلاوت کوی نو دا کيفيت پيدا کيږی فارسی بان وائی چه ازدل خيزد بردل ريزد کومه خبره چه د زړه د خبرے کونکی نه پورته کيږی هغه د اوريدونکی په زړه باندے اثر کوی.

الدرس السابع والعشر بعدالمائة ۱۱۷

الله تعالیٰ خوښوی چه قسم دهغه په نوم اوشی

[۵۸۱] **الحديث الاول** :عن ابن عمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَحْلِفُوا بِاللهِ وَبَرُّوا وَاصْدُقُوْا فَاِنَّ اللهَ يُحِبُّ اَنْ يُّحْلَفَ بِهٖ. صحيح صحيح الجامع ج۱ ص ۱۰۲.

ترجمه :دحضرت ابن عمر رضی اللہعنہ نه روایت دے چه رسول الله ﷺونیلے دی چه قسم اوخوری په الله اوسرته ئے اورسوی اورشتیا وائے ځکه اللهتعالی خوښه وی چه قسم اوخورے شی په هغه باندے.

دزړه د نرمولو علاج

[۵۸۲] **الحديث الثانی**:عن ابی الدرداء رضی اللہعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اُدْنُ الْيَتِيْمَ مِنْكَ وَالْطُفْهُ وَامْسَحْ رَاْسَهُ وَاطْعِمْهُ مِنْ طَعَامِكَ فَاِنَّ ذَالِكَ يُلَيِّنُ قَلْبَكَ وَيُدْرِكُ حَاجَتَكَ.حسن ،،صحيح الجامع ج ۱ ص ۱۰۸

ترجمه :دحضرت ابوالدرداء رضی اللہعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺونیلے دی چه یتیم ځان له رانزدے کړه اونرمی ورسره اوکړه اوپه سرورته دشفقت لاس راکاګه اود خپل طعام نه ورته طعام ورکړه بیشك دابه نرم کړی زړه ستااوحاصل به کړی تاته حاجت ستا.

فَفَرِّقُوا بَيْنَ فُرُشِهِمْ وَإِذَابَلَغُوا عَشْرَسِنِيْنَ فَاضْرِبُوْهُمْ عَلَى الصَّلٰوةِ .صحيح.،صحيح الجامع ج١ ص ١٣٥

ترجمه :دحضرت سبرة بن معبد رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه اورسی اولاد ستاسو اووکالوته نوبسترے ورله جداکړی اوکله چه لسوکالوته اورسی نووے وهی په نه کولودمانحه باندے.

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه دا وو(۷) کالو نه بعد د بچو بسترے جدا کول پکار دی ځمونږه نه دے باره کښ کوتاهی کیږی او اکثر بلوغ ته نزدے او بعضے اوقاتو کښ بالغ رونړه خویندے په یوه بستره اوده کیږی د دے نه پرهیز ضروری دے .

الدرس العشرين بعدالمائة ١٢٠

لنګ ځاروے خرڅ دپاره مه ډب کوی

[٥٩٦] **الحديث الاول** :عن ابی هريرة رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَاسَبَاعَ اَحَدُكُمُ الشُّدَّةَ اوِللُّقْحَةَ فَلايَحْفِلْهَا .صحيح.،صحيح الجامع ج١ ص ١٣٤

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی اللہعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺوئیلے دی کله چه کت شی چنړیادپنړے دیوستاسو نونه دے ځی په بله کښ تردے چه دغه شلیدلے اوګندی مطلب دادے چه په یوه ځپلی ،چپل وغیره کښ مزل ګرځیدل منع دی.

فائده : دے حدیث کښ د انسان د فائدے د پاره د یو عمل ارشاد دے چه په شلیدلے پنړه کښ مزل مه کوه کیدے شی راوغړځیږے نو خو په به شے دے ته امر ارشادی وائی شریعت د انسان دورو ورو خبرو خیال ساتلے دے چه ده ته ضرر اونه رسی.

نفل مانځه سره کورکښ خیررازی

الرابع :عن جابر رضی اللہعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺإِذَاحَضَرَ اَحَدَكُمُ الصَّلٰوةُ فِي مَسْجِدِهٖ

اَمَانَةٌ .حسن .،صحیح الجامع ج۱ ص ۱٤٦

ترجمه :دحضرت انس رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه یوسړے خبره کوی اوشاته اوګوری نودغه خبره امانت دے یعنی دغه خبره بیاخورول ګناه اوخیانت دے.

فائده : چه یو کس تاسره یو خبره امانت کړی هغه خیانت کول ګناه ده او امانت کول په دوه طریقے دی یو دا چه تاته اوائی چه دا چانه مه کوه دویم دا چه خبره کوی او ګیر چاپیره اوګوری نو داهم د امانت کولو نښه ده.

دکور نه ډوتلو کلمه

[٦٠٢] **الحديث الثانی** :عن انس رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَاخَرَجَ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهٖ فَقَالَ بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّابِاللهِ فَيُقَالُ لَهٗ حَسْبُكَ قَدْهُدِيْتَ وَكُفِيْتَ وَوُقِيْتَ فَيَتَنَحّٰى لَهُ الشَّيْطَانُ فَيَقُوْلُ لَهٗ شَيْطَانٌ اٰخَرُ كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْهُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ.صحیح .،صحیح الجامع ج۱ ص۱٤۸

ترجمه :دحضرت انس رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه یوسړے دکوره اوځی اوداکلمات اوائی بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ اِلَّابِاللهِ نواوئیلے شی ده ته دالله‌طرف نه داکلمات کافی دی تالره یقینا ستار هبری اوشوه اوستا کفایت اوشو اوستا حفاظت اوشو نوقصد کړی ده لره شیطان نوبل شیطان ورته اووائی چه څه به اوکړے شے ته په هغه کس چه رهبری شویده اوکفایت ے شویدے اومحفوظ کړے شوے دے .مطلب دادے چه په ده باندے زمونږ وس نه رسی.

فائده : چه سړے د کوره اوځی او دا کلمات اوائی نو ده څان او سپاره الله تعالی ته او الله تعالی هغه ذات دے چه د هغه سره امانت نه ضائع کیږی نو دے به نه ضائع کیږی .

د تحية المسجد حکم

[٦٠٣] **الحديث الثالث** :عن ابی هريرة رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَادَخَلَ اَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلَايَجْلِسْ حَتّٰى يُصَلِّيَ رَكْعَتَيْنِ .صحیح .،صحیح الجامع ج۱ ص ۱۵۰

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی اللهعنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه یوستاسو نه جومات ته ورشی نونه دے کینی تردے چه دوه رکعاته اوکړی.

فائده : دے مونځ ته تحية المسجد وائی د مکروه اوقاتو نه علاوه چه سړے مسجد ته ورشی نو دا مونځ کول مستحب دے .او د دے ډیر فواند دی.

دفرشتو د دعادحصول یوه طریقه

[٦٠٤] **الحديث الرابع** :عن ابی هريرة رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَادَعَا الْغَائِبُ لِغَائِبٍ قَالَ لَهٗ

دخراب خوب لیدو وقت کښې څه پکاردی

[٦٠٧] **الحديث الثاني** :عن ابی سعیدالخدری رضی اللہعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَارَأَى اَحَدُكُمُ الرُّؤْيَا يُحِبُّهَا فَإِنَّمَاهِيَ مِنَ اللهِ فَلْيَحْمَدِاللهَ عَلَيْهَا وَلْيُحَدِّثْ بِهَاوَإِذَارَأَى غَيْرَذٰلِكَ مِمَّايَكْرَهُ فَإِنَّمَا هِيَ مِنَ الشَّيْطٰنِ فَلْيَسْتَعِذْبِاللهِ مِنْ شَرِّهَا وَلَايَذْكُرْهَا لِاَحَدٍ فَإِنَّهَا لَاتَضُرُّهُ.صحیح،،صحیح الجامع،، ج١ص١٥٦

ترجمه :حضرت ابوسعیدالخدری رضی اللہعنه وائی چه رسول الله ﷺ ویلے دی کله چه اوښی یوستاسونه خوب چه خوښوی ئے نوبیشك دادالله دطرف نه دے پس حمدداللہ دے پری اوبیان دے کړی خلقوته اوهرکله چه اوښی علاوه ددے نه هغه چه دے ئے بدګنړی نودابیشکه دشیطان نه دے [illegible] ویجاته دے نه ذکرکوی

إِلَّامِنْ ثَلٰثٍ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ اَوْعِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهٖ اَوْوَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُولَهٗ. صحيح،، صحيح الجامع ج١ ص١٩٩

ترجمه :حضرت ابو هريره رضی اللهعنه وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی کله چه یوانسان مرشی نوددہ عمل ختم شی مگردرے خبرے یوصدقه جاریه دویم علم چه په هغے فائده اخستلے شی دریم نیك اولاد چه ده دپاره دعاغواړی.

فائده : دانسان عمر ډیر کم دے نو رحمت اللعالمین خوږ پیغمبر ﷺ مونږه ته داسے اعمال په ننبه کړل چه د مرګ نه روستو هم د هغے بدله به جاری وی یو صدقه جاریه داسے کار چه د هغے نه خلق مسلسل فائده اخلی لکه کوئے 'مسجد'مدرسه' دینی کتابونه وغیره دویم علم چه خلقو ته ئے اوښائی دریم نیك اولاد .ابن الجوزی لیکلی دے چه تصنیف د عالم په منزله د نیك اولاد دے چه همیشه ژوندے وی (صيد الخاطر)

الدرس الثالث والعشرون بعدالمائة ﴿١٢٣﴾

دطعام مینځ نه مه خوری

[٦١١] **الحديث الاول** :عن ابن عباس رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِذَاوُضِعَ الطَّعَامُ خُذُوامِنْ حَافَّتِهٖ وَذَرُوْاوَسَطَهٗ فَإِنَّ الْبَرَكَةَ تَنْزِلُ فِيْ وَسْطِهٖ .صحيح،،صحيح الجامع ج١ ص٢٠٤

[redacted] وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی کله چه طعام کیښودلے شی

بهترین کسب

[٦٢٠] **الحديث الخامس** :عن ابن عمر رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَطْيَبُ الْكَسْبِ عَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهٖ وَكُلُّ بَيْعٍ مَبْرُوْرٍ. صحيح ،،الجامع ج١ ص٢٣٦

ترجمه :حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ وائی چه رسول الله ﷺ وائی چه پاك كسب گټه دسړی ده په خپل لاس اوهره سودا ده چه دروغو نه پاكه وی.

فائده : حدیث شریف کښ د آمدن دوه بهترین ذرائع بیان شوے یو د خپل لاس مشقت چه دا سنت د انبیاء دی او دویم تجارت چه په صدق او ایماندارے باندے مبنی وی.

الدرس الخامس والعشرون بعدالمائة ﴿١٢٥﴾

سلام نه کول غټ بخل دے

[٦٢١] **الحديث الاول** :عن انس رضی اللہ عنہ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَعْجَزُ النَّاسِ مَنْ عَجِزَ عَنِ الدُّعَاءِ وَاَبْخَلُ النَّاسِ مَنْ بَخِلَ بِالسَّلَامِ. صحيح ،،صحيح الجامع ج١ ص٢٣٨

ترجمه :حضرت انس رضی اللہ عنہ وائی چه رسول الله ﷺ وائی زیات عاجز اوکمزورے دخلقونه

ورته بالبنست کیدے د اکرام د پاره مکر الله تعالی به ده ته بخنه اوکړئی (رواه الطبرانی وفیه عمران ابن خالد الخزاعی وهو ضعیف مجمع الزوائد جـ۸ صـ۲۲۵)

د دے روایاتو نه معلومه شوه بالبنت ایښودل د اکرام حصه ده دے سلسله بل روایت دے حبیب بن ابراهیم تابعی وائی چه څه عبد الله بن الحارث خواته لاړم نو ماته ئے بالبنت راچو چه هغه ته پروت ؤو اووے فرمائیل چه څوك د خپل مجلس د ناست سړی عزت اونه کړی نو نه دے دے په طریقه د احمد ﷺ او نه په طریقه د ابراهیم علیه السلام (رواه الطبرانی ورجاله ثقات مجمع الزوائد جـ ۸ صـ ۲۲٦) لهذا د میلمه د تکیه او بالبنت خیال ساتی.

دخلقو عیوب مه لټوه

[redacted]

ثُمَّ اعْنِ النَّاسِ اَلَمْ تَرَ اَنَّكَ اِنْ

الأخر .صحيح،،صحيح الجامع ج١ ص٢٤٩



الثلاثون بعد المائة ١٣٠

ترجمه :حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه قتل کړی ماران ټول (قسمونه) پس څوك چه یریږی دانتقام ددوئی نه نودے نه دے زمونږه نه یعنی دے زمونږپه سنت نه دے ځکه مونږه نه یریږو.

قران څلویښت ورځو کښ لولی

(٦٤٩) **الحدیث الرابع**:عن ابن عمر رضی اللہ عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِقْرَا الْقُرْآنَ فِی اَرْبَعِیْنَ.حسن صحیح الجامع ج١ص٢٥٦

ترجمه :حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه قران په څلویښت ورځو کښ لولی یعنی په څلویښت ورځو کښ یو ختم کوی.

قران پنځه ورځو کښ ختم کړی

[redacted]

لِسَانِهِ. حسن،،صحیح الجامع ج۱ ص۲۶۲

ژباړه: حضرت ابن مسعود رضی اللہ عنہ وائی چه رسول اللہ ﷺ وئیلے دی ډیرګناهونه دانسان په ژبه کښ وی.

د حفاظت درے کا ورته

[٦٧٤] **الحديث الرابع** :عن عقبة بن عامر رضی اللہ عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ وَابْكِ عَلٰى خَطِيْئَتِكَ. صحيح ،،،صحيح الجامع ج١ ص ٢٩٥

ترجمه :حضرت عقبة بن عامر رضی اللہ عنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی قابو کړه ژبه خپله اوکور دتالړه ځاے درکړی (معنی کوره نه مه اوزه)اوژاړه په خپله گناه باندے.

فرشتے د رحمت جنب ته نه نژدے کیږی

[٦٧٥] **الحديث الخامس** :عن ابن عباس رضی اللہ عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَحْضُرُ الْجُنُبَ وَلَا الْمُتَضَمِّخَ بِالْخَلُوْقِ حَتّٰى يَغْتَسِلَا. حسن (الجامع جـ ١ صـ ٣٩٥)

ترجمه :دحضرت ابن عباس رضی اللہ عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بے شك فرشتے د رحمت نه حاضریږی جنب ته او هغه چه خلوق (رنگداره خوشبو) ئے لګولے وی تردے چه اولامبے.

فائده : جنب دپاره اولین فرصت کښ لامبل پکار دی گنی د رحمت د فرشتو د ملګرتیا نه به محروم وی او سړو دپاره رنګداره خوشبو لګول منع دی ددے نه د پرهیز لازماً اوکړی گنے د رحمت د فرشتو دصحبت نه به محروم وی.

الدرس السادس والثلاثون بعد المائة ﴿١٣٦﴾

د ... سره معامله ساته

[٦٧٦] **الحديث الاول** :عن شداد بن الهاد رضی اللہ عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِنْ تَصْدُقِ اللهَ يَصْدُقْكَ،صحيح ،،،صحيح الجامع ج١ ص ٢٩٩

ترجمه :حضرت شدادبن الهاد رضی اللہ عنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی که چرے دالله سره معامله درشتیا اوکړے نو الله به تالړه بدله درشتیا درکړی.

فائده : دا حدیث شریف مونږه ته دا خبره په ښه کوی چه الله سره معامله د رشتیا او د اخلاص ساته نو بدله به درکړی هغه سره دهوکه او چل وی نه چلیږی هغه علیم بذات الصدور دے د سینو په رازونو خبر دار دے مصلح او فسادی پیژنی .

د کافر لاس نه فرشتے نه نژدے کیږی

[٦٧٧] **الحديث الثانی** :عن عمار بن ياسر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَحْضُرُ جَنَازَةَ الْكَافِرِ بِخَيْرٍ وَلَا الْمُتَضَمِّخِ بِالزَّعْفَرَانِ وَلَا الْجُنُبَ. حسن الجامع جـ١ صـ ٣٩٥

ترجمه :حضرت عبدالرحمن بن ابی قراد رضی اللهعنه وائی چه رسول الله ﷺ ویلے دی کچرے تاسو خوښه وی چه اللهتعالی اورسول دهغه تاسو سره مینه اوکړی نواداکړی امانت کله چه تاسو سره کیښودے شی اورشتیاوائی کله چه تاسو خبرے کوی اونیکی کوی هغه چاسره چه ستاسو سره نه ګاونډوی.

دبے سهاراخلقو دمددفرائد

[٦٨٥] **الحديث الخامس** :عن عائشة رضی اللهعنها قالت قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيْمِ لَهٗ اَوْلِغَيْرِهٖ فِی الْجَنَّةِ وَالسَّاعِی عَلَی الْاَرْمِلَةِ وَالْمَسَاكِيْنِ كَالْمُجَاهِدِ فِی سَبِيْلِ اللهِ. صحيح ،،،صحيح الجامع جـ١صـ ٣١٠ .

نو شیطان ئے ځان ته رانزدے کړی اوورته وائی ته ډیر ښه ئی.

فائده :دحدیث شریف حاصل دادے چه شیطان دښځے خاوندپه روانه ډیرخوشحالیږی ددے وجے نه پکاردی چه ښځه خاوند ډیره ګوزاره کوی اوخپل مینځ کښ نه روانه وی نو چه دشیطان

ترجمه :حضرت ابوالدرداء رضی اللہ عنه وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه رزق طلب کوی بنده زیات دهغے نه چه طلب کوی ده لره مرګ.

الدرس الاربعون بعدالمائة ﴿١٤٠﴾

قرض هم یوه صدقه ده

السَّلَفُ يَجْرِي مَجْرَى

ترجمه :حضرت ابن مسعود رضی اللهعنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه اللهتعالی معافی کونکے دے اومعافی خوښوی.

دغوابی، دوائی ده

[۷۰۰] **الحديث الخامس** :عن طارق بن شهاب رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ لَمْ يَضَعْ دَاءً إِلَّا وَضَعَ لَهُ شِفَاءً فَعَلَيْكُمْ بِأَلْبَانِ الْبَقَرِ فَإِنَّهَا تَرُمُّ كُلَّ الشَّجَرِ .صحيح ،،،صحيح الجامع ج۱ ص ۳۷۱

ترجمه :حضرت طارق بن شهاب رضی اللهعنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بیشك اللهتعالی نه ده پیداکړے یوه بیماری مګر هغے دپاره ئے پیداکړیده شفاء نولازم اونیسه پی، دغواګانو بیشك هغه خوراك کوی دهړے اونے نه.

الدرس الحادی والاربعون بعدالمائة ﴿۱۴۱﴾

استنجاء ناتکی کوی

[۷۰۱] **الحديث الاول** :عن ابن مسعود رضی اللهعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ فَإِذَا اسْتَجْمَرْتَ فَأَوْتِرْ.(صحيح ، صحيح الجامع جـ۱ صـ ۳۷۵)

ترجمه :حضرت.ابن مسعود رضی اللهعنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی اللهتعالی ناتکی (یو)دے اومینه کوی دناتکی. سره نوکله چه ته استنجاء کوے (یاخوشبو لګوے)نو ناتکی لګوه

د قران په علم مبارکی ورکول د پیغمبر ﷺ

[۷۰۲] **الحديث الثانی** :عن أبی ، يعنی ابن كعب ، أن النبی ﷺ سأله أیُّ آيَةٍ فِی كِتَابِ اللهِ ، تَبَارَكَ وَ تَعَالَى ، أعْظَمُ ؟ قَالَ : اللهُ وَرَسُولُهُ أعْلَمُ ، فَرَدَّدَهَا مِرَارًا ، ثُمَّ قَالَ أُبَيٌّ : آيَةُ الْكُرْسِيِّ ، قَالَ : لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أبَا الْمُنْذِرِ ، وَالَّذِی نَفْسِی بِيَدِهِ إِنَّ لَهَا لِسَانًا وَشَفَتَيْنِ تُقَدِّسُ الْمَلِكَ عِنْدَ سَاقِ الْعَرْشِ. (قلت هو فی الصحيح باختصار . رواه احمد ، ورجاله رجال الصحيح) .

ترجمه :د حضرت أبی ابن کعبؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ مانه تپوس اوکړو چه کوم ایت په کتاب د الله تعالی کښ لوئے دے ؟ نو أبی اووئیل چه الله تعالی او د هغه پیغمبر ﷺ نبه پوهیږی نو دا سوال پیغمبر ﷺ څو ځله مکرر اوکړو بیا أبی جواب ورکړو چه د تولو ایتونو د قران نه لوئے ایت ایة الکرسی ده نو پیغمبر ﷺ ورته اووئیل مبارك دِ شه علم (د قران) اے ابو المنزر قسم ذے ځما په هغه الله چه نفس زما د هغه په لاس کښ دے بیشك دے ایت د پاره یوه ژبه ده او دوه شونډے دی پاکی بیانوی د الله بادشاه د عرش د پنډی سره .

فائده۱: دے حدیث شریف نه معلومه شو چه کوم سړے د قران شریف علم حاصل کړی هغه د

مبارکی ورکولو قابل دے گورئ چه کله أیی به د قران د یو ایت باره کښ تپوس اوشو او هغوئی صحیح جواب ورکړو نو پیغمبر ﷺ ورته مبارکی ورکړو دا مبارکی حقیقت کښ د قران په پوهه باندے وه .

فائده ۲ :دے حدیث شریف مونږه ته د ایة الکرسی فضیلت هم په نښه کړو چه دا ډیر لوئے مرتبے والا ایت دے د دے په نورو روایاتو کښ هم ډیر فضیلت راغلیدے یو حدیث شریف کښ رازی چه کوم سړے دا ایت فرض مونځ پسے متصل وائی د ده او د جنت مینځ کښ صرف مرگ دے مړ کیدل او جنت ته تلل سم دی.

د صف د جوخت جوړولو ثواب

[۷۰۳] **الحدیث الثالث** :عن عائشة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ يَصِلُوْنَ الصُّفُوْفَ وَمَنْ سَدَّ فُرْجَةً رَفَعَهُ اللهُ بِهَا دَرَجَةً. حسن ،،،الجامع ج۱ ص۳۷۷

ترجمه :حضرت عائشه رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه الله تعالی رحمت والیږی اوفرشتے درحمت دعاغواړی دپاره د هغه چاچه صفونه پیوست کوی اوځوک چه صف [illegible] درجه اوچتوی.

الدرس الثانی والاربعون بعد المائة ﴿۱۴۲﴾

اللہ تعالی مضبوط عمل خوښوی

[۷۰۶] **الحدیث الاول** :عن عائشة رضی اللہ عنہا قالت قال رسول اللہ ﷺ إِنَّ اللہَ یُحِبُّ إِذَا عَمِلَ اَحَدُکُمْ عَمَلًا اَنْ یُتْقِنَهُ .حسن،،الجامع ج۱ ص ۳۸۳

ترجمہ :حضرت عائشہ رضی اللہ عنہا وائی چہ رسول اللہ ﷺ وئیلے دی چہ بیشک اللہ تعالی خوښوی کلہ چہ یوکس تاسونہ عمل کوی یو عمل چہ پوخ اومضبوط کړی هغے لره.

متقی سره اللہ تعالی مینه کوی

[۷۰۷] **الحدیث الثانی** :عن سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ قال قال رسول اللہ ﷺ إِنَّ اللہَ یُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِیَّ الْغَنِیَّ الْخَفِیَّ.صحیح ،،،صحیح الجامع ج۱ ص ۳۸۳

ترجمہ :حضرت سعد بن ابی وقاص رضی اللہ عنہ وائی چہ رسول اللہ ﷺ وئیلے دی چہ بیشک اللہ تعالی مینه کوی دبنده پرهیزګار مالدار ګمنام سره.

اللہ تعالی نرمی خوښوی

[۷۰۸] **الحدیث الثالث** :عن عائشة رضی اللہ عنہا قالت قال رسول اللہ ﷺ إِنَّ اللہَ یُحِبُّ الرِّفْقَ فِی الْاَمْرِ کُلِّهِ .صحیح ،،،صحیح الجامع ج۱ ص ۳۸۳

ترجمہ :حضرت عائشہ رضی اللہ عنہا وائی چہ رسول اللہ ﷺ وئیلے دی اللہ تعالی خوښوی نرمی په ټولو کارونو کښ.

اللہ تعالی انټوشی خوښوی

[۷۰۹] **الحدیث الرابع** :عن ابی هریرة رضی اللہ عنہ قال قال رسول اللہ ﷺ إِنَّ اللہَ تَعَالٰی یُحِبُّ الْعُطَاسَ وَیَکْرَهُ التَّثَاؤُبَ.صحیح ،،،صحیح الجامع ج۱ ص ۳۸۳

ترجمہ :حضرت ابو هریره رضی اللہ عنہ وائی چہ رسول اللہ ﷺ وئیلے دی بیشک اللہ تعالی مینه کوی دانټوشی سره اوبدګنړی اسویلے.

اثر دنعمت بنکاره کړه

[۷۱۰] **الحدیث الخامس** :عن ابن عمر رضی اللہ عنہ قال قال رسول اللہ ﷺ إِنَّ اللہَ تَعَالٰی یُحِبُّ اَنْ یُرٰی اَثَرُ نِعْمَتِهِ عَلٰی عَبْدِهِ حسن،،الجامع ج۱ ص۳۸۳

ترجمہ :حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ وائی چہ رسول اللہ ﷺ وئیلے دی چہ اللہ تعالی خوښوی

چه اولیدیشی په بنده باندے اثردنعمت دهغه.

الدرس الثالث والاربعون بعدالمائة ﴿۱۴۳﴾

د اللہتعالی رخصتونه قبلول پکاردی

[۷۱۱] **الحديث الاول** :عن ابن عمر رضی اللہعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ تَعَالٰی يُحِبُّ اَنْ تُؤْتٰی رُخَصُهٗ كَمَايُحِبُّ اَنْ تُؤْتٰی عَزَائِمُهٗ. صحيح ،،،صحيح الجامع ج۱ ص ۳۸۳

ترجمه :حضرت ابن عمر رضی اللہعنه وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه بیشك اللہتعالی خوښوی چه راتلل اوشی دهغه رخصتونو ته لکه څنګه چه خوښوی چه راتلل اوشی دهغه عزیمتونوته.

فائده : رخصت هغه حکم دے چه په هغے کښ انسان دپاره آسانتیا وی لکه په سفر کښ روژه ماتول اوعزیمت هغه حکم دے چه هغے کښ مشقت وی لکه په سفر کښ روژه نیول دواړه د اللہ تعالی حکمونه دی اواللہ پرے عمل خوښوی پکاردی چه کله په یوعمل کوی کله په بل.

اللہتعالی ته درے خوښ بندګان

[۷۱۲] **الحديث الثانی** :عن ابی هريرة رضی اللہعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ تَعَالٰی يُحِبُّ سَمْحَ الْبَيْعِ سَمْحَ الشِّرَاءِ سَمْحَ الْقَضَاءِ. صحيح ،،،صحيح الجامع ج۱ ص ۳۸٤

ترجمه :حضرت ابو هریره رضی اللہعنه وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه اللہتعالی مینه کوی دهغه چاسره چه خرڅولو اخستلو او ادائیګی دقرض کښ چشم پوشی اوآسانی کوی.

اللہتعالی اوچت اخلاق خوښوی

[۷۱۳] **الحديث الثالث** :عن سهل بن سعد رضی اللہعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ يُحِبُّ مَعَالِیَ الْاَخْلَاقِ وَيَكْرَهُ سَفْسَافَهَا. صحيح ،،،صحيح الجامع ج۱ ص ۳۸٤

ترجمه :حضرت سهل بن سعد رضی اللہعنه وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه اللہتعالی مینه کوی داوچتو اخلاقو سره نه خوښوی بے کاره اخلاق.

دڅابنت دمونځ فضیلت

[۷۱٤] **الحديث الرابع** :عن عقبه بن عامر رضی اللہعنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِنَّ اللهَ تَعَالٰی يَقُوْلُ يَاابْنَ آدَمَ اُكْفِنِیْ اَوَّلَ النَّهَارِ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ اَكْفِكَ بِهِنَّ اٰخِرَيَوْمِكَ. صحيح ،،،صحيح الجامع ج۱ ص۳۸۸

ترجمه :حضرت عقبه بن عامررضی اللہعنه وائی چه رسول الله ﷺ ونیلے دی اے دآدم ځویه اوکړه مالره ځلور رکعاته په اول دورځ کښ کافی به شم تالره دهغے په بدل کښ ترآخر دورځے پورے.

په ظلم گواهی منع ده

(۷٤۳) **الحديث الثالث**: عن النعمان بن بشير قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهﷺ إِنِّى لَا اَشْهَدُ عَلٰى جَوْرٍ. صحيح (الجامع ج ۱ ص ٤٩٤)

ترجمه: [redacted] رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلی دی: ښه

ترجمه : حضرت ابو سعید الخدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه زه منع کوم تاسو لره د روژو د دوو ورځو نه د وړوکی اختر او دغټ اختر د ورځو نه.

فائده : کله چه یو علاقه کښ یقینی اختر وی غټ یا ورکوټے نو روژه نیول بیا په هغه علاقه کښ منع دی .

دروغ منع دی

[۷٤۷] **الحديث الثانی** : عن معاوية قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْهَاكُمْ عَنِ الزُّوْرِ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۹٤۹٤)

ترجمه : حضرت معاویه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه منع کوم زه تاسو د دروغ نه.

نشه آور څیز لږ هم منع ده

[۷٤۸] **الحديث الثالث**: عن سعدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَنْهَاكُمْ عَنْ قَلِيْلِ مَا اَسْكَرَ كَثِيْرُهُ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٤۹٤).

ترجمه : دحضرت سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی منع کووم زه تاسو د لږ هغه څیز نه چه ډیر د هغے سړے نشه کوی.

فائده : چه د کوم څیز ډیر مقدار نشه راولی نو د هغے لګ استعمال هم منع دے ځکه چه کتابونه وائی د هغے لګ سړے ډیر ته راکاږی او سړے رفته رفته نشئی شی او د ګناه ذریعه هم ګناه وی او د حرام ذریعه حرام وی .

داولیاؤ ننبه

[۷٤۹] **الحديث الرابع** : عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ : اَوْلِيَاءُ اللّٰهِ الَّذِيْنَ اِذَا رُؤُوْا ذُكِرَ اللّٰهُ تَعَالٰى حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۵۰۰)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه دوستان دالله هغه کسان دی چه د هغوی لیدو سره الله تعالیٰ یادیګی.

اول حساب

[۷۵۰] **الحديث الخامس** : عن ابن مسعودٌ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَوَّلُ مَا يُحَاسَبُ بِهِ الْعَبْدُ الصَّلٰوةُ وَاَوَّلُ مَا يُقْضٰى بَيْنَ النَّاسِ فِى الدِّمَاءِ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٤۹۹)

ترجمه : حضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی اول هغه چه حساب کیګی په هغے بنده سره مونځ دے او اول هغه چه فیصله به کولے شی

دخلقو په مینځ کښې هغه به په باره دوینو کښې وی.

الدرس الحادی والخمسون بعدالمائة ﴿۱۵۱﴾

خپل مینځ کښې دجوړې فضیلت

[۷۵۱] **الحدیث الاول** : عن ابی الدرداء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِاَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّلٰوةِ وَالصَّدَقَةِ ؟ اِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ فَاِنَّ فَسَادَ ذَاتِ الْبَيْنِ هِيَ الْحَالِقَةُ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۰۶)

ترجمه : دحضرت ابوالدرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی آیا نه خبروم تاسو له دهغه عمل نه چه درجه ئے دروژمے مونځ او خیرات نه بهتر ده ؟ هغه صلح د خپل مینځ ده ځکه فساد او روانه د خپل مینځ ختمونکے (دنیکو) ده.

دهرے پریشانئ علاج

[۷۵۲] **الحدیث الثانی** : عن سعدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِشَيْءٍ اِذَا نَزَلَ بِرَجُلٍ مِنْكُمْ كَرْبٌ اَوْ بَلَاءٌ مِنْ اَمْرِ الدُّنْيَا دَعَا بِهٖ فَفُرِّجَ عَنْهُ دُعَاءُ ذِي النُّوْنِ " لَااِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّي كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ" صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۰۸)

ترجمه : د حضرت سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه آیا نه خبووم تاسو لره دیو دعا نه کله چه راشی په یو سړی ستاسو نه پریشانی یا مصیبت د کارونو ددنیا نه نو هغه به هغه دعا وائی نو الله تعالیٰ به ترے پریشانی لرے کوی؟ هغه دعاء د حضرت یونسؑ ده." لَااِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحٰنَكَ اِنِّي كُنْتُ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ."

فائده : یاد لرئی د یونس علیه السلام دا دعا مبارکه په قران شریف کښې ذکر ده او څه رنګ چه دے حدیث کښې ذکر شو نو همدغه رنګ دا د هرے پریشانی د لرے کولو د پاره مجرب عمل دے او بار ها تجربه شوے ده .

د الله نه حیاء کوه

[۷۵۳] **الحدیث الثالث** : عن الحسن بن سفیان قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اُوْصِيْكَ اَنْ تَسْتَحْيِيَ مِنَ اللّٰهِ كَمَا تَسْتَحْيِي مِنَ الرَّجُلِ الصَّالِحِ مِنْ قَوْمِكَ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۴۹۸)

ترجمه : دحضرت حسن بن سفیان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه زه وصیت کوم تاته چه حیاء اوکړه دالله تعالیٰ نه داسے لکه څرنګ چه ته حیا کوی دخپل قوم د یو نیک سړی نه.

فائده : دے حدیث شریف کښې د ګناه نه د بچ کیدو د پاره یو چل اوخودلو چه تصور کوه چه الله تعالی ما

وینی نو تاله به حیا رازی لکه چه ته گورے چه یو سړے تانه مخامخ دے او تانه گوری نو ته بیا غلط کار نه کوی نو چه یو سړی نه حیا کوی نو الله تعالی ډیر لائق دے چه د هغه نه حیا اوکړے شی .

د لعنت کولو نه منع

(۷۵٤) **الحدیث الرابع** : عن جرموز بن اوس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أُوْصِيْكَ اَنْ لَاتَكُوْنَ لَعَّانًا . صحیح (الجامع جـ۱ صـ ٤٩٨)

ترجمه : دحضرت جرموز بن اوس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه وصیت کووم تانه چه نه شے ته لعنت ویونکے .

فائده : په چا معین شخص باندے لعنت وئیل چه شرع پرے لعنت نه وی وئیلے یا شرعاً هغه د لعنت مستحق نه وی دا گناه کبیره ده دے حدیث کښ ترے منع ثابته شوه .

د گاونډی سره ښه سلوک کول

(۷۵۵) **الحدیث الخامس** : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ أُوْصِيْكُمْ بِالْجَارِ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٤٩٩)

بدیی نه بندول شپږم چانه لاره غلطه شی هغوئی ته لار خودل اووم بوج او چتولو کښی خلقو سره مدد کول کچرے د دے کارنو خیال اوساتلے شی نو د لارے ناسته به د فائدے شی کنے ځان ترے ساتل پکار دی .

په کت کانړو ویشتل منع دی

[۷۵۷] **الحديث الثاني** : عن عبدالله بن مغفل قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِيَّاكُمْ وَالْخَذْفَ فَإِنَّهَا تَكْسِرُ السِّنَّ وَ تَفْقَأُ الْعَيْنَ وَلَا تَنْكِي الْعَدُوَّ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۲۱)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه ځان اوساتی د کت کانړو ویشتو نه ځکه دا غاښ ماتوی او سترګه اوباسی او دشمن ته تکلیف نه ورکوی.

پردو زنانو سره خلوت (یواځے والے) منع دے

[۷۵۸] **الحديث الثالث** : عن عقبة بن عامر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۲۱)

ترجمه : دحضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه ځان اوساتی د داخلیدو نه په پردو زنانو باندے.

فائده : پردو ښځو سره ځان له کیدل دفتنے نه خالی نه دی. حدیث شریف کښی راځی چه سړے پردی ښځے سره ځان له شی نو دریم نے شیطان وی ددے وجے نه شریعت پردی ښځے سره ځان له کیدل حرام کړے دی.

چه څوك ذکر ډیر کوی دعا ئے نه رد کیږی

[۷۵۹] **الحديث الرابع** : عن أبي هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ ثَلَاثَةٌ لَا يَرُدُّ اللهُ دُعَاءَ هُمُ الذَّاكِرُ اللهَ كَثِيْرًا ، وَالْمَظْلُومُ ،وَالْإِمَامُ الْمُقْسِطُ . حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۵۸۷)

ترجمه : دحضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه درے کسان دی نه رد کوی الله تعالیٰ دعا ددوی یو هغه کس چه الله تعالیٰ ډیر یادوی دویم هغه کس چه ظلم پرے اوشی دریم هغه بادشاه چه انصاف کوی.

فائده : په دے درے کارونو کښی ذکر دالله تعالیٰ آسان دے او اختیاری دے هر سړے نے کولے شی نو پکار دی چه سړے پرے دوام اوکړی چه مستجاب الدعوات جوړ شی.

بغیر افطار مسلسل روژو نه منع راغلے ده

[۷۶۰] **الحديث الخامس** : عن ابي هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِيَّاكُمْ وَالْوِصَالَ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۲۲)

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلی دی چه ځان اوساتی د بے خوراکه مسلسل روژو نه.

فائده : په روژه کښ شریعت د وصال نه منع کړے ده . وصال دے ته وائی چه سړے ماښام هم څه نه خوری او پیشمنی هم څه نه خوری او مسلسل روژه نیسی نو دے کښ د بدن د نقصان خطره ده شاید ځکه شریعت منع اوکړه.

الدرس الثالث والخمسون بعد المائة ﴿۱۵۳﴾

دمظلوم دخیرو نه ځان ساتل

[۷۶۱] **الحديث الاول** : عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِيَّاكُمْ وَدَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ وَاِنْ كَانَتْ مِنْ كَافِرٍ فَاِنَّهُ لَيْسَ لَهَا حِجَابٌ دُوْنَ اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ. حسن .(الجامع جـ٦صـ ٥٢٢)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه ځان اوساتی دخیرو د مظلوم نه اگر چه کافر وی ځکه نیشته دیته الله تعالیٰ ته درسیدو نه څه پرده.

د غفلت د لرے کولو علاج

[۷۶۲] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَحَوَّلُوْا عَنْ مَكَانِكُمُ الَّذِی أَصَابَتْكُمْ فِيْهِ الْغَفْلَةُ .صحيح (الجامع جـ ١ صـ ٥٦٤)

ترجمه :د حضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه بدل کړئی ځائے چه رسیدلے دے تاسو ته په هغے کښ غفلت .

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه د غفلت د لرے کولو یو علاج دا دے چه کوم ځائے کښ انسان ته غفلت او رسی نو هغه ځائے دِ بدل کړی مثلا مطالعه کوی یا بیان اوری یا څه بل علمی کار کوی او خوب پرے غلبه اوکړی او یا په څه بله وجه د غفلت شکار شی نو علاج نے دا دے چه ځائے د بدل کړی .

قسم د بیع برکت بوځی

[۷۶۳] **الحديث الثالث** : عن ابی قتادة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِيَّاكُمْ وَكَثْرَةَ الْحَلْفِ فِی الْبَيْعِ فَاِنَّهُ يُنَفِّقُ ثُمَّ يُمْحَقُ . حسن (الجامع جـ ١ صـ ٥٢٢)

ترجمه : دحضرت ابو قتاده رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه ځان اوساتی دډیرو قسمونو نه په خرڅولو کښ ځکه دا دخرڅولو څیز اوباسی خو برکت نے ختموی.

ورو گناهونو نه پرهيز اوكړي

[٧٦٤] **الحديث الرابع** : عن سهل بن سعدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ إِيَّاكُمْ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوْبِ . صحيح. وَفِيْ رِوَايَةٍ فَإِنَّهُنَّ يَجْتَمِعْنَ عَلَى الرَّجُلِ حَتّٰى يُهْلِكْنَهُ . (الجامع جـ ١ صـ ٥٢٣)

ترجمه : دحضرت سهل رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه ځان اوساتی د ورو گناهونو نه او په یو روایت کښ راغلی دی ځکه د دے نه ځان ساتئ چه دا واړه گناهونه جمع کیگی په سړی تر دے چه هلاك ئے کړی.

د ژبے لو خطرناك دے

[٧٦٥] **الحديث الخامس** : عن معاذ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ هَلْ يَكُبُّ النَّاسَ عَلٰى وُجُوْهِهِمْ فِي النَّارِ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ . ((أخرجه الترمذی صحيح لشواهده))

ترجمه : دحضرت معاذ رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه نه پریوځی خلق په اور کښ مگر د لوونو د ژبے د وجے نه.

فائده : لو د ژبے دروغ وئیل بل پسے تهمت تړل پردے غیبت کول . اکو بکو بے فائدے خبرے کول غلطے مسئلے کول دا تول د ژبے په لو کښ رازی د ژبے د لو نه د بچ کیدو د پاره ځان له ناسته بے ضرورت گډون نه د خلقو سره پرهیز او د بے ضرورته خبرو نه هم ځان ساتل ضروری دی .

الدرس الرابع والخمسون بعد المائة ﴿١٥٤﴾

دمریض دتپوس اداب

[٧٦٦] **الحديث الاول** : عن ابن عباس ؓ مِنَ السُّنَّةِ تَخْفِيْفُ الْجُلُوْسِ وَقِلَّةُ الصَّخَبِ فِي الْعِيَادَةِ عِنْدَ الْمَرِيْضِ قَالَ : وَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَمَّا كَثُرَ لَغَطُهُمْ وَ اِخْتِلَافُهُمْ قُوْمُوْا عَنِّيْ . جامع الأصول جـ ٦ صـ ٦٣١. صحيح أخرجه رزين والجزء الثاني قد رواه البخاري جـ١ صـ ١٨٥) من حديث طويل تعليق أيمن صالح شعبان.

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه وائی د سنت نه داخبره ده چه مریض سره لږ کینه او شور مه کوه.

مریض ته کومه دعاء وئیلے شی؟

[٧٦٧] **الحديث الثاني** : عن ابن عباس ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُوْدُ مُسْلِمًا فَيَقُوْلُ سَبْعَ مَرَّاتٍ " أَسْأَلُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ أَنْ يَّشْفِيَكَ " . إِلَّا شُفِيَ إِلَّا أَنْ يَّكُوْنَ قَدْ حَضَرَ أَجَلُهُ. صحيح. رواه ابو داؤد والترمذی (مشكوة جـ ١ صـ ٣٥)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی نیشته یو مسلمان چه تپوس اوکړی د بل مسلمان او دتپوس په دوران کښ دا کلمات اوه

څلـه اوائی. " اَسْـاَلُ اللّٰـه الْعَظِيْمَ رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَنْ يَّشْفِيَكَ " مـکـر اللـه تعالیٰ به ده ته شفاء ورکړی کچرے نیتـه ئـے نه وه پوره.

فائده : دا دعـا یادول پـکـار دی او چه د بیمار تپوس له سړے څی نو دا دعا د وائی ان شاء الله دے سره به بیمار ته فائده رسی .

د مریض تپوس به کله کوے؟

[۷٦۸] **الحديث الثالث**: عن انسٍ ؓ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَعُوْدُ مَرِيْضًا اِلَّا بَعْدَ ثَلٰثٍ . رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الايمان " مشكوة جـ ۱ صـ ۱۳۸") وله طرق يتقوى بعضها ببعض ولذا أخذ بمضمونه جماعة "المقاصد الحسنه جـ ۱ صـ ٤٦٨"

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه وو رسول الله ﷺ چه عیادت به ئـے نه کوو د مریض مگر پس ددریو ورځو نه.

فائده : د حدیث مـه معلومه شوه چه د عیادت یو ادب دا هم دے چه درے ورځـے پس د مریض تپوس پکار دے دے نه مخکښ عام طور مناسب نه دے په دے باره کښ د سلفو عمل هم دا وو نعمان بن ابی عیاش تابعی وائی چه عیادت د مریض پس د درے ورځو نه دے .(شعب الایمان) اعـمش وائی چه مونږه مجلس کښ کیناستو نو چه کله به مونږه درے ورځـے سړے او نه لیدو نـه مونږه بـه تپوس کـولو نو که مریض به وو نو عیادت ته به لاړو او امام غزالی " "أحْيَاء " کښ لیکلے دی چه عیادت پس د درے ورځو نه دے (مقاصد الحسنه) .

د حضرت ګلونه خوښ ؤو

[۷٦۹] **الحديث الرابع** : عَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَتْ تُعْجِبُهُ الْفَاغِيَةُ وَكَانَ اَعْجَبُ الطَّعَامِ اِلَيْهِ الدُّبَّاءُ . ((صحيح . مسند احمد الرسالة : رقم : ۱۲۵٤٦))

ترجمه : حضرت أنس ؓ نـه روایت دے چـه رسول الله ﷺ به تعجب کښ اچوو ګلونو (یعنی رسول الله ﷺ ته ګلونه پسند وو) او رسول الله ﷺ به پسند کول په طعام کښ کدو لره .

په جوماتونو فخر کول ښه کار نه دے

[۷۷۰] **الحديث الخامس**: عَنْ اَنَسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰى يَتَبَاهَى النَّاسُ فِي الْمَسَاجِدِ ((صحيح . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ۱۲۵۳۷))

ترجمه : حضرت أنس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه به قائمیږی قیامت تر دے چه فخر به کوی خلق په جوماتونو باندے .

فائده : دے حدیث دا خبره پـه ښښـه کړه چه په جوماتونو فخر کول دا د قیامت د علاماتو نه یو علامت دے ، د فخر دا مطلب دے چه یو قوم وائی څمونږ جومات خاپسته جوړ دے د فلانکو

جومات خائسته نه دے ، یا ځمونږه جومات عت دے د فلانکو جومات ورکوتے دے ، یا وائی ځمونږ د جومات آمدن ډیر دے د فلانکو د جومات آمدن نشته هغه خوارپرق دی دا تولے خبرے صحیح نه دی دے نه پرهیز لازم دے .

الدرس الخامس والخمسون بعدالمائة ﴿۱۵۵﴾

دبیمار پرسی ثواب

[۷۷۱] **الحديث الاول** : عن علیؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ مَا مِنْ اِمْرِءٍ مُسْلِمٍ يَعُوْدُ مُسْلِمًا اِلَّا ابْتَعَثَ اللّٰهُ سَبْعِيْنَ اَلْفَ مَلَكٍ يُصَلُّوْنَ عَلَيْهِ فِيْ اَيِّ سَاعَاتِ النَّهَارِ حَتّٰى يُمْسِيَ وَ فِي اَيِّ سَاعَاتِ اللَّيْلِ حَتّٰى يُصْبِحَ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۹۹۲).

ترجمه : دحضرت علی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه نیشته یو سړے مسلمان چه تپوس اوکړی د یو مسلمان مګر الله رالیګی اویا زره (۷۰۰۰۰) فرشتے چه دعا غواړی ده دپاره په هر وقت د اوقاتو د ورځے کښ تر دے چه مابنام شی او په هر وقت داوقاتو د شپے،کښ تردے چه صبا شی.

اسان جهاد

[۷۷۲] **الحديث الثاني** : عن حسين بن علیؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلَا اَدُلُّكَ عَلٰى جِهَادٍ لَا شَوْكَةَ فِيْهِ ؟ حَجُّ الْبَيْتِ . صحيح . الجامع جـ ۱ صـ ۵۰۹)

ترجمه : دحضرت حسین بن علی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی : آیا نه خائم تاته داسے جهاد چه ازغے پکښ نیشته؟ هغه حج دے د بیت الله شریف.

فائده : حج او جهاد دواړه په دے کښ شریك دی چه په جهاد کښ هم مال او جان دواړه خرچ کیږی او په خج کښ هم دواړه خرچ کیږی او جهاد سره هم تثبت په دین حاصلیږی او په حج سره هم مشران وائی چه تثبت په دین سره حاصلیږی.

دسلام رسول حکم شرعی دے

[۷۷۳] **الحديث الثالث** : عن عائشةؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَهَا اِنَّ جِبْرِيْلَ يُقْرِئُكِ السَّلَامَ قَالَتْ وَعَلَيْهِ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ . رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح واخرجه الشيخان (تحفة الاحوذی جـ ۷ صـ ۳۹۰)

ترجمه : دحضرت عائشةؓ نه روایت دے چه رسول الله اوفرمائیل اے عائشه! بیشك جبرئیلؑ تاته سلام کوی نو حضرت عائشةؓ جواب اوکړو او وے وئیل وعلیه السلام ورحمة الله وبرکاته.

فائده : ددے حدیث نه معلومه شوه که تاته یو کس سلام راولیګی دسړی په واسطه یا دخط په



په یو عمل د لسو کالو د اعتکاف ثواب

[۷۷۷] **الحديث الثاني** : و عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ ؓ ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ ، قَالَ : مَنْ مَشٰى فِيْ حَاجَةِ أَخِيْهِ كَانَ خَيْرًا لَهُ مِنْ إِعْتِكَافِهِ عَشْرَ سِنِيْنَ ، وَمَنْ إِعْتَكَفَ يَوْماً إِبْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ ، جَعَلَ اللّٰهُ بَيْنَهُ ، وَ بَيْنَ النَّارِ ثَلَاثَ خَنَادِقَ كُلُّ خَنْدَقٍ أَبْعَدُ مِمَّا بَيْنَ الْخَافِقَيْنِ . (رواه الطبراني في الأوسط ، و إسناده جيد)

ترجمه : د حضرت ابن عباس ؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ وئیلے دی څوک چه لاړلو په حاجت د یو رور (مسلمان خپل کښې) نو وے به دا غوره ده د پاره د اعتکاف د لسو کالو نه او څوک چه اعتکاف اوکړی یوه ورځ د پاره د رضا د الله تعالی نو اوبه ګرځوی الله تعالی د ده او د رور منځ کښې درے خندقه فاصله چه د یو خندق فاصله به دومره وی لکه د زمکے او د آسمان د فاصلے برابر .

فائده : دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه د مسلمان د حاجت د سر کولو او هغے کښې د کوشش کولو لونے ثواب دے دے باره کښې نور هم ډیر احادیث دی یو څو ترے نه اوګورئی حضرت عائشه ؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه څوک یو رور مسلمان حکمران ته اورسوی چه نیکی ورسره اوکړی یا ورته یو سخت کار آسان کړی نو الله تعالی به د دے سفارش کونکی امداد اوکړی په تیریدو د پلے صراط کښې په وخت د خویدو د قدمونو کښې (رَوَاهُ الطَّبْرَانِيُّ) د ابن عمر ؓ په روایت کښې دی حضور ﷺ وائی چه د بل حاجت کښې کوشش کوی "أُولٰئِكَ الْآمِنُوْنَ مِنْ عَذَابِ اللّٰهِ" دغه کسان په امن دی د عذاب د الله نه دارنګ د حسن بن علی ؓ نه نقل دی چه د حضور ﷺ فرمان دے چه اسبابو د بخنے نه داخلول د خوشحالی دی په زړه د رور مسلمان ستا کښې (طبرانی) دارنګ حضرت عائشه ؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه څوک داخله کړی خوشحالی په یو کور د مسلمانانو باندے نو نه دے راضی الله تعالی د هغه دپاره په بدله سوا د جنت نه په بل څه باندے (مجمع الزوائد).

د پیغمبر علیه السلام د خوف یو نمونه

[۷۷۸] **الحديث الثالث** : عَنْ أَنَسٍ أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا هَبَّتِ الرِّيْحُ عُرِفَ ذَالِكَ فِيْ وَجْهِهِ . ((إسناده صحيح مسند أحمد ط الرسالة . رقم : ١٢٦٢٠))

ترجمه : حضرت أنس ؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ به کله هوا اولیده نو د هغوئی په مخ مبارک به د هغے اثر پیژندے شو (یعنی هغوئی به پریشانه شو چه هڅے نه دا د عذاب ذریعه اونه ګرځی) .

مجاهد ته تسلی

[۷۷۹] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرة ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : " مَايَجِدُ الشَّهِيْدُ مِنْ مَسِّ الْقَتْلِ إِلَّا كَمَا يَجِدُ أَحَدُكُمْ مِنْ مَسِّ الْقَرْصَةِ. رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن غريب صحيح واخرجه النسائی وابن ماجه والدارمی

وابن حبان فی صحیحه ورواه الطبرانی فی الاوسط عن قتادةً (تحفة الاحوذی جـ ۵ صـ ۳۵۳)

ترجمه : دحضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی نه به مونے شهید د درد د قتل نه مگر دومره درد لکه چه سړے محسوس کوی د میګے دتك نه (یا د نوکارے نه)

فائده : په دے کښ مجاهد ته تسلی ده چه په شهادت کښ درد او تکلیف د عام قتل او مرګ پشان نیشته حوصله بلنده ساته.

نفلی کارونو کم او باندے د والدینو خبره مقدم ده

[۷۸۰] **الحدیث الخامس** : عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلَی النَّبِیِّ ﷺ یَسْتَأْذِنُهُ فِی الْجِهَادِ فَقَالَ اَلَكَ وَالِدَانِ؟ قَالَ نَعَمْ! قَالَ فَفِیْهِمَا فَجَاهِدْ. (رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه الشیخان وابوداؤد والنسائی (تحفة الاحوذی جـ ۵ صـ ۲۵۷)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن عمروؓ نه روایت دے چه راغلو یو سړے نبی ﷺ ته اجازت نے ترے غوستلو په جهاد تلو کښ نو نبی کریم ﷺ ورته اووئیلو ستا موربلار شته؟ نو هغه اووئیلو او نو بیغمبر پاك ورته اووئیل چه د هغوی په خدمت کښ مجاهده اوکړه.

فائده : جهاد که فرض عین وی نو بیا د والدینو اجازت ضروری نه دے او که فرض کفایه وی نو بیا د هغوی رضا ضروری ده ، دے حدیث شریف دا خبره په نښه کړه چه د مور پلار د رضا خیال ساتل او د هغوئی خدمت کول ډیر أهم دی او د نفلی کارونونه د هغوئی حکم منل مقدم دی .

الدرس السابع والخمسون بعد المائة ﴿۱۵۷﴾

ثواب د مریض

[۷۸۱] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ یُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَیْرًا یُصِبْ مِنْهُ. رواه البخاری.

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چاته چه د الله تعالیٰ اراده اوکړی دخیرنو دے بیمار کړی. (تکلیف ورته اورسوی)

[۷۸۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی سعید عن النبی ﷺ قَالَ مَا یُصِیْبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَّلَا وَصَبٍ وَّلَا هَمٍّ وَّلَا حُزْنٍ وَّلَا اَذًی وَّلَا غَمٍّ حَتَّی الشَّوْكَةُ یُشَاكُهَا اِلَّا كَفَّرَ اللّٰهُ مِنْ خَطَایَاهُ. (متفق علیه).

ترجمه : دحضرت ابوسعید خدری رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی نه رسی مسلمان ته څه مشقت او نه بیماری او نه خفګان اونه ضرر او غم تردے چه ازغے چه دے نے اوباسی د بدن نه مګر الله تعالیٰ ده ته معاف کوی ګناهونه.

[۷۸۳] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا یَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ اَوِ الْمُؤْمِنَةِ فِیْ

نَفْسِهِ وَمَالِهِ وَوَلَدِهِ حَتّٰى يَلْقَى اللّٰهَ تَعَالٰى وَمَا عَلَيْهِ مِنْ خَطِيْئَةٍ . رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح (مشكوة جـ ١ صـ ١٣٧)

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلی دی همیشه وی مصيبت په مومن سړی يا په مومنه ښځه باندے په نفس دهغوی کښ او په مال اولاد دهغوی کښ تردے چه دے يو ځانی شی دالله سره او نه به وی په ده باندے هيڅ ګناه.

[٧٨٤] **الحديث الرابع** : عن عبدالله بن مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَامِنْ مُسْلِمٍ يُصِيْبُهُ أَذًى مِنْ مَرَضٍ فَمَا سِوَاهُ إِلَّا حَطَّ اللّٰهُ تَعَالٰى بِهِ سَيِّئَاتِهِ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا. متفق عليه

ترجمه : د حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اووئيل نشته يو مسلمان چه اورسی هغه ته ضرر بيماری يا د بيمارے نه سوی بل ضرر مګر الله تعالیٰ رژوی په هغے سره د هغه ګناهونه لکه څه رنګ چه رژوی اونه پانړے خپلے.

[٧٨٥] **الحديث الخامس** : عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَوَدُّ اَهْلُ الْعَافِيَةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حِيْنَ يُعْطَى اَهْلُ الْبَلَاءِ الثَّوَابَ لَوْ اَنَّ جُلُوْدَهُمْ كَانَتْ قُرِضَتْ فِي الدُّنْيَا بِالْمَقَارِيْضِ .حسن. رواه الترمذی . (مشكوة جـ ١ صـ ٣٧)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلے دی خوښوی به خاوندان دصحت او عافيت په ورځ د قيامت کله چه دوی اوينی چه ورکولے شی اهل مصيبت ته ثوابونه کاش چه زمونږه غوښے په دنيا کښ په قينچو پرے کړی شوے وے (خو چه الله مونږه ته هغه ثوابونه راکړے وے کوم چه اهل مصائبو ته ورکړل).

الدرس الثامن والخمسون بعد المائة ﴿١٥٨﴾

د رسول الله ﷺ لاس قدرتی خوشبو ؤو

[٧٨٦] **الحديث الاول** : سمعتُ جَابِرَ بْنَ الْأَسْوَدِ يُحَدِّثُ عَنْ أَبِيْهِ ؛ أَنَّهُ صَلّٰى مَعَ النَّبِيِّ ﷺ وَ هُوَ غُلَامٌ ؛ قَالَ : وَجَعَلَ النَّاسُ يُقَبِّلُوْنَ يَدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : فَجِئْتُ ، فاخذت بِيَدِهِ ؛ فَإِذَا هِيَ أَبْرَدُ مِنَ الثَّلْجِ ، وَأَطْيَبُ رِيْحاً مِنَ الْمِسْكِ ؛ ﷺ .(رواه الدينوری فی المجالسة جـ ١٩ صـ ٢٧٧٧ و قال المحقق اسناده صحيح) .

ترجمه : جابر د خپل پلار يزيد بن الاسودؓ نه روايت کوی چه ما د رسول الله ﷺ سره مونځ اوکړو او ځه غلام ووم نو شروع شو خلق چه خکلول ئے لاس د رسول الله ﷺ نو دے وائی چه ځه راغلم نو ما د رسول الله ﷺ لاس اونيولو نو هغه د واورے نه يخ ؤو او د مشك نه زيات خوشبو ؤو .

فائده : په حديثو کښ باربار رازی چه د رسول الله خوشبو خوښه وه او خوشبو به ئے استعماله او دے حديث دا خبره په نښه کړه چه د حضور ﷺ لاس کښ قدرتی خوشبو هم وه .

حکما وائی چه څوك زان خوشبو ساتی نو عقل به ئے زیات وی او څوك چه جامے پاکی ساتی نو غم به ئے کم وی زړه به ئے خوشحاله وی . المجالسة ج ١٦ ص ٢٢٢٧. د ابو هريرةؓ یو صحیح روایت کښ رازی کښ څوك خوشبو درکوی نو مه ئے واپس کوه څکه چه د دے بوئے ښه وی او بوج ئے نه وی (المجالسة ج ٢٠ ص ٢٨١٠)

چه الله د مل وی نو پرواه مه کوه

[٧٨٧] **الحديث الثانی** : عَنْ اَبِی بَکْرِ الصِّدِّیْقِ رضی الله عنه قَالَ : قُلْتُ لِلنَّبِیِّ ﷺ وَنَحْنُ فِی الْغَارِ : لَوْ اَنَّ اَحَدَهُمْ یَنْظُرُ اِلَی قَدَمَیْهِ ؛ لَاَبْصَرَنَا تَحْتَ قَدَمِهِ . فَقَالَ ﷺ : یَا اَبَا بَکْرٍ ! مَا ظَنُّکَ بِاثْنَیْنِ اللّٰهُ ثَالِثُهُمَا ؟ (رواه الدینوری فی المجالسة ص ٢٨٦٩ ، و قال المحقق إسناده صحیح.

ترجمه : د حضرت ابو بکرؓ نه نقل دی چه ما د رسول الله ﷺ ته اووئیل او مونګ په غار کښ (د کافرانو نه) پټ ؤو چه یا رسول الله کچرے یو د دوئی نه خپلو قدمونو ته اوګوری نو مونږه به اوینی نو هغوئی اوفرمائیل یا ابا بکر څه ګمان دے ستا په هغه دوه کسانو بادنے چه دریم ئے الله تعالی دے .

فائده : د الله تعالی ملګرتیا چه سړے په نیکو اعمالو حاصله کړی نو په هغه اِعتماد د هرے پریشانے حل دے .

چه د ګناهو روك تهام نه وی بیا به عذاب رازی

[٧٨٨] **الحديث الثالث** : عَنْ جَرِیْرٍ قَالَ قَالَ رسول الله ﷺ مَا مِنْ قَوْمٍ یُعْمَلُ فِیْهِمْ بِالْمَعَاصِی هُمْ اَعَزُّ وَاَکْثَرُ مِمَّنْ یَعْمَلُ بِهٖ ثُمَّ لَا یُغَیِّرُوْهُ ؛ اِلَّا اَصَابَهُمُ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ بِعَذَابٍ . (رواه الدینوری فی المجالسة ص ٣٠٣٧ . و قال المحقق حدیث صحیح بشواهده)

ترجمه : حضرت جریر وائی چه نبی ﷺ وئیلی دی چه نشته یو قوم چه په هغوئی کښ ګناهونه کیږی او دوئی عزتمند اوزیات وی د هغه چا نه چه ګناه کوی بیا هم دوئی ګناه نه بندوی نو دوئی ته به الله تعالی عذاب اورسوی.

فائده : قرآن شریف او احادیث د خوږ نبی ﷺ دا حقیقت واضح بیانوی چه کوم ځائے کښ ګناه کیږی او خلق ئے روك تهام نه کوی نو هغه ځائے کښ به عذاب رازی .

مسجد کښ د ناستے ثواب

[٧٨٩] **الحديث الرابع** : عَنْ عُتْبَةَ و ابُو اسامة رضی الله عنهما قَالَا : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَلَّی صَلَاةَ الصُّبْحِ فِی مَسْجِدِ الْجَمَاعَةِ ، ثُمَّ لَبِثَ فِیْهِ حَتّٰی یُسَبِّحَ تَسْبِیْحَةَ الضُّحٰی ؛ کَانَ لَهٗ کَاَجْرِ حَاجٍّ وَ مُعْتَمِرٍ تَامًّا لَهٗ حَجَّتُهٗ وَعُمْرَتُهٗ . (رواه الدینوری فی المجالسة جـ ٢٤ صـ ٣٠٨٩ . وقال المحقق اسناده ضعیف ، والحدیث حسن)

ترجمه : د حضرت عتبهؓ او ابوامامهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه څوك د صبا مونځ اوکړی په جومات کښ د جمعے سره بیا کینی جومات کښ تر چاشت پورے یا د چاشت مونځ اوکړی نو وے به ده د پاره اجر په شان د حج او عمره کونکی چه پوره وی حج او عمره د هغه .

ضرر رسول منع دی

[۷۹۰] **الحدیث الخامس** : عَنْ اَبِی سَعِیدِ الْخُدْرِیِّ ؛ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ ، مَنْ ضَارَّ ضَرَّ بِهٖ ، وَ مَنْ شَاقَّ شَقَّ اللّٰهُ عَلَیْهِ . (رواه الدینوری فی المجالسة جـ ٢٤ صـ ٣١٦٠ . و قال المحقق رجاله ثقات والحدیث صحیح) .

ترجمه : حضرت ابو اسعید خدریؓ وائی چه رسولا لله ﷺ وئیلے دی نشته اسلام کښ ضرر سرداشت کول او نه بل ته ضرر رسول څوك چه بل سر(بے جا) سختی کوی نو الله تعالی به ده ته د سختے سزا ورکړی .

فائده : دا حدیث چه نه به تاته څوك ضرر رسوی او نه به ته چا ته ضرر رسوی د جوامع الکلم نه دے او په دے سره د معاملاتو او ژوند ډیرے مسئلے حل کیږی تفصیل د پاره "الاشباه" کتاب د ابن نُجَیم اوګورئی .

الدرس التاسع والخمسون بعدالمائة ﴿ ۱۵۹ ﴾

دا درس د بیمار پرسی د ثواب په بیان دئی دے

[۷۹۱] **الحدیث الاول** : عن ثوبان قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الْمُسْلِمَ اِذَا عَادَ اَخَاهُ الْمُسْلِمَ لَمْ یَزَلْ فِیْ خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتّٰی یَرْجِعَ . رواه مسلم (مشکوة جـ ۱ صـ ۱۳۳)

ترجمه : د حضرت ثوبان رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بے شکه یو رور مسلمان کله چه بیمار پرسی کوی د بل رور مسلمان نو همیشه وی په باغیچه د جنت کښ تردے چه واپس شی .

[۷۹۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَی الْمُسْلِمِ خَمْسٌ رَدُّ السَّلَامِ وَعِیَادَةُ الْمَرِیْضِ وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ وَاِجَابَةُ الدَّعْوَةِ وَتَشْمِیْتُ الْعَاطِسِ . (متفق علیه) مشکوة جـ ۱ صـ ۱۳۳)

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی : حقونه د یو مسلمان په بل پنځه دی (۱) د سلام جواب ورکول (۲) بیمار پرسی کول (۳) جنازے پسے تلل (د مونځ د جنازے د پاره) (۴) دعوت قبلول (۵) د پرنجی جواب ورکول

په ځیزونو کښې برکت الله تعالی اچوی

[۷۹۳] **الحديث الثالث** : عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ ، كُنَّا نَعُدُّ الآيَاتِ بَرَكَةً ، وَأَنْتُمْ تَعُدُّونَهَا تَخْوِيفًا ، كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ فِي سَفَرٍ ، فَقَلَّ الْمَاءُ ، فَقَالَ : اُطْلُبُوْا فَضْلَةً مِنْ مَاءٍ فَجَاءُوا بِإِنَاءٍ فِيْهِ مَاءٌ قَلِيْلٌ فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِي الْإِنَاءِ ، ثُمَّ قَالَ : حَيَّ عَلَى الطَّهُوْرِ الْمُبَارَكِ ، وَالْبَرَكَةُ مِنَ اللّٰهِ فَلَقَدْ رَأَيْتُ الْمَاءَ يَنْبَعُ مِنْ بَيْنِ أَصَابِعِ رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ وَلَقَدْ كُنَّا نَسْمَعُ تَسْبِيْحَ الطَّعَامِ وَهُوَ يُؤْكَلُ . رواه البخاری . رقم : ۳۳٤۰

ترجمه : حضرت عبد اللهؓ نه روایت دے هغه فرمائی چه ؤو مونږه د رسول الله ﷺ سره په یو سفر کښې نو اوبه کمے شوے نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل اوګورئ د ضرورت نه زیاتی اوبه نو راوړو صحابو یو لوښے چه په هغے کښې لګے اوبه وے نو داخل کړو پیغمبر ﷺ لاس خپل په لوښے کښې بیا ئے اوئیل چه راشے مبارکو اوبو ته او برکت د الله د طرف نه دے نو یقینا ما لیدے اوبو لره چه راوتلے د مینځ د ګوتو د پیغمبر ﷺ نه او یقینا مونږه به اوریدل تسبیح د طعام او هغه به خوړے شو .

فائده: یاد لرئ برکت خیر او زیادت ته وئیلی شی نو دے حدیث شریف کښې دا خبره وضاحت سره ذکر شوه چه په ځیزونو کښې برکت (خیر او زیادت) الله تعالی اُ چوی دا عقیده په هر مسلمان باندے ساتل فرض دی ، د دے وجے بعضے علماء وائی چه په دعا کښې داسے وئیل چه په برکت د فلانکی سره ځما دا کار اوکړے عوامو د پاره نه دی پکار ځکه دے نه هغوئی کښې د غلطے عقیدے د تو هم خطره ده ، نه بیده دوئی دا خیال اوکړی چه فلانکے برکت اُ چوی حالانکه برکت الله تعالی اُ چوی نو د غلطے عقیدے د مخ نیوے د پاره احتیاطا دے نه پرهیز پکار دے .

[۷۹٤] **الحديث الرابع**: عن ابی هريرةؓ قال قال رسول الله ﷺ: من عاد مريضا نادى منادٍ مِنَ السَّمَاءِ طِبْتَ وَ طَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلاً . حسن. (رواه ابن ماجه " مشكوة جـ ۱ صـ ۱۳۷)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه ځوک د مریض تپوس له لاړ شی نو اواز اوکړی یو اواز کونکے (فرشته) د آسمان نه ښه ئے ته اوښه ټګ دے ستا دا اوتیار کړوتا د ځان دپاره کور د جنت نه.

[۷۹۵] **الحديث الخامس** : وعن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ عَادَ مَرِيْضًا لَمْ يَزَلْ يَخُوْضُ الرَّحْمَةَ حَتّٰى يَجْلِسَ فَإِذَا جَلَسَ اغْتَمَسَ فِيْهَا. صحيح .رواه مالك واحمد مشكوة جـ ۱ صـ ۱٤۰

ترجمه: دحضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی ځوک چه تپوس اوکړی د مریض نو همیشه به ننوځی په رحمت کښې نو چه مریض سره کینی نو رحمت کښې به غوپه شی.

وَمَآ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ ۗ وَ مَا نَهٰكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ۚ ﴿القرآن﴾

ترجمہ: او هغه څیز چه درکړي درسول الله ﷺ تاسو ته نو اونیسئ هغه او هغه څیز چه منع کړی نے تاسو دهغے نه نو منع شئے.

اَلدُّرُوْسُ الْيَوْمِيَّةِ مِنَ الْاَحَادِيْثِ النَّبَوِيَّةِ

مَعْرُوْفٌ بِهٖ

گلدستہ احادیث

تالیف

شیخ القرآن والحدیث مفتی

محمد مسلم صاحب نستوئی

فاضل دارالعلوم کراچی

مہتمم وشیخ الحدیث جامعہ روضۃ الاسلام نستہ چارسدہ

ناشر: مکتبہ روضۃ الاسلام

نستہ چارسدہ

الدرس الستون بعدالمائة ﴿١٦٠﴾

دا درس په بیان دترغیب کښې دے کم وای دخبرو ته

[٧٩٦] **الحديث الاول** : قال النبی ﷺ إِنَّ اَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَاَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الثَّرْ ثَارُوْنَ وَالْمُتَشَدِّقُوْنَ وَالْمُتَفَيْهِقُوْنَ قَالُوا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْ ثَارُوْنَ وَالْمُتَشَدِّقُوْنَ فَمَا الْمُتَفَيْهِقُوْنَ قَالَ الْمُتَكَبِّرُوْنَ . (رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن)

ترجمه : وئیلے دی نبی ﷺ بیشکه ډیر مبغوض ستاسو نه ماته په ورځ د قیامت قت قتے دے (ډیرے خبرے کونکے) او هغه چه خبرو کښې احتیاط نه کوی او هغه څوك چه متکبر وی.صحابه کرامو تپوس اوکړو چه اے دالله تعالیٰ رسوله ! یقیناً پیژنو ثرثارون او متشدقون خو متفیهقون څوك دی؟ هغوی اوفرمائیل متکبرون.

[٧٩٧] **الحديث الثانی** : عن المغيرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ كَرِهَ لَكُمْ قِيْلَ وَقَالَ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ وَاِضَاعَةَ الْمَالِ. اخرجه البخاری فی صحيحه.

ترجمه : د حضرت مغیره رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بے شکه الله تعالیٰ نه خوښوی قیل و قال (تاویلے ماویلے یا ویتے چتے) او ډیر سوال او ضائع کول د مال.

[٧٩٨] **الحديث الثالث** : عن عبدالله بن عمروؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَمَتَ نَجَا. صحيح. رواه احمد والترمذی والدارمی..

ترجمه :دحضرت عبدالله بن عمروؓ نه روایت دت چه څوك (دفضول خبرو نه) خاموش پاتے شو نو ده نجات (دژبے د آفاتو نه) بیاموندو.

[٧٩٩] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مَا يَتَبَيَّنُ فِيْهَا لَمْ يَزَلْ بِهَا فِي النَّارِ اَبْعَدَ مِمَّا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ. متفق عليه.

ترجمه : دحضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بیشك بنده خبره کوی او په هغے کښې تحقیق نه کوی نو همیشه وی دے په هغے سره په اور کښې لرے دفاصلے دمشرق او دمغرب نه.

[٨٠٠] **الحديث الخامس** : عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا اَوْ لِيَصْمُتْ . متفق عليه

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه څوك ایمان کامل لری په الله تعالیٰ باندے او په ورځ دقیامت نو د خیر خبره دے اوکړی او یا دے چپ شی.

الدرس الحادی والستون بعدالمائة ﴿۱۶۱﴾

[۸۰۱] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ خَيْرُ الصَّدَقَةِ مَاكَانَ عَنْ ظَهْرِ غِنًى وَالْيَدُ الْعُلْيَا خَيْرٌ مِّنَ الْيَدِ السُّفْلٰى وَابْدَأْ بِمَنْ تَعُوْلُ . صحیح (نفقة العیال جـ ۱ صـ ۱۵ لابن ابی الدنیا)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه بهتره د صدقو نه هغه صدقه ده چه د مالداری نه وی او لاس اوچت (خرچ کونکے) بهتر دے. دلاس ښکته (اغستونکی) نه او شروع اوکړه دخرچ کولو په هغه چا چه ستا په عیال کښ وی.

[۸۰۲] **الحدیث الثانی** : عن سعدٍؓ قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لِی اِنَّكَ اَنْ تَدَعَ وَرَثَتَكَ اَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِّنْ اَنْ تَدَعَهُمْ عَالَةً . صحیح (نفقة العیال جـ ۱ صـ ۱۵)

ترجمه : دحضرت سعد رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی که چرے پریگدے ته ورثاء خپل مالدار نو دا ډیره ښه ده ددینه چه ته ئے غریبان پریږدے.

[۸۰۳] **الحدیث الثالث** : عن النعمان بن بشیر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِعْدِلُوا بَيْنَ اَوْلَادِكُمْ فِی النُّحْلِ كَمَا تُحِبُّوْنَ اَنْ يَّعْدِلُوْا بَيْنَكُمْ فِی الْبِرِّ وَاللُّطْفِ. صحیح (نفقة العیال جـ ۱ صـ ۱۹)

ترجمه : دحضرت نعمان بن بشیر رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی چه برابر والے اوکړی په مینځ داولاد خپل کښ په عطیه کښ لکه څنګه چه تاسو خوښوی چه هغوی برابروالے اوکړی تاسو سره په نیکی او مهربانی کښ.

فائده : امام ابراهیمؒ نه منقول دی چه سلفو خوښوله چه برابر والے اوکړی په خپل اولاد کښ تردے چه په خکولولو کښ هم برابر والے کوو.

دعمر بن عبدالعزیز نه نقل دی چه ده یوه ورځ یو څوے څان ته رانزدے کړو او دده خوښ وو او ورته ئے اوئیل اے فلانیه څه تاسره مینه کوم خو طاقت نه لرم چه غوره کړم تالره په رور باندے په یوه نوری باندے. (الادب المفرد للامام بخاری)

[۸۰۴] **الحدیث الرابع** : عن امّ کرز الخزاعیة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْغُلَامِ شَاتَانِ مُكَافِئَتَانِ وَمِنَ الْجَارِيَةِ شَاةٌ. حسن (نفقة العیال جـ۱ صـ ۲۴)

ترجمه : دحضرت ام کرز رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلی دی چه دهلك نه په عقیقه کښ دوه ګډان کافی دی او د جینی نه یو چیلے یا ګډ کافی دے.

فائده : حضرت امام عطاء وائی چه تپوس اوشو دحضرت عائشے نه په باره د عقیقے کښ چه

سړے اوښ ذبح کړی نو څنګه ؟ نو هغے اوئیل چه سنت اوافضل دغه دے یعنی چیلے یا ګډ په دے موقعه افضل او بهتر دی د اوښ نه .

[۸۰۵] **الحدیث الخامس** : عن ابن عمرؓ قال قال رسول الله ﷺ النار عَدُوٌّ فَاحْذَرُوهَا . صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱٤۹)

ترجمه : ترجمه د حضرت ابن عمرؓ نه روارت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی اور دشمن دے ځان ترے اوساتی .

فائده : کتابونه وائی چه درے ځیزونه لګ ډیریږی اور ، دشمنی ، بیماری ، (مفید) ادب المفرد کښ امام بخاری لیکلی دی چه ابن عمرؓ به د شپے کور کښ اور مړ کړو بیا به اوده کیدو لهذا اور د شپے مړکول ضروری دی هغے نه روستو بیا اوده کیدل پکار دی .

الدرس الثانی والستون بعد المائة ﴿ ۱٦۲ ﴾

دا درس دے په نرمی کولو کښ په بچو

[۸۰٦] **الحدیث الاول** : عن انس بن مالك قَالَ مَارَاَیْتُ اَحَداً اَرْحَمَ بِالْعِیَالِ مِنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ کَانَ اِبْرَاهِیْمُ مُسْتَرْضِعًا لَهٗ فِی عَوَالِی الْمَدِیْنَةِ وَکَانَ ظِئْرُهٗ قَیْنًا فَکَانَ یَاْتِیْ وَاِنَّ الْبَیْتَ لَیُدْخَنُ فَیَاْخُذُهٗ فَیُقَبِّلُهٗ . صحیح (نفقة العیال جـ۱ صـ ٤۸)

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه وائی ما نه دے لیدلے یو کس زیات رحم کونکے په خپل عیال درسول الله ﷺ نه او (بچے دده) ابراهیم سینه ورکولے شوه ده ته په اطرافو د مدینه کښ اوتے ورکونکے لوهار وو (یعنے د لوهار ښځے سینه ورکوله) نو پیغمبر علیه السلام به ورتلو او کور به دلوګی ډك وو او ابراهیم به ئے اغستلو او خکولولو به ئے .

فائده : ددے نه معلومه شوه چه بچے خکلول جائز دی او کار ثواب دے .

[۸۰۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّهٗ مَنْ لَّا یَرْحَمُ لَا یُرْحَمُ . صحیح (العیال جـ ۱ صـ ٤۸)

ترجمه : حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه بے شکه څوك رحم اونه کړی په هغه باندے به رحم نه شی کولے .

فائده : ددے حدیث شریف شان ورود کښ بعض علماء لیکلی دی چه یو کس اوئیل دالله رسوله ځما لس بچی دی ما یو هم نه دے خکل کړے نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه څوك رحم اونکړی په هغه باندے به رحم اونه کړے شی .ترمذی شریف.

[۸۰۸] **الحدیث الثالث**: عن عائشةؓ قَالَتْ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یُؤْتٰی بِالصِّبْیَانِ فَیَدْعُوْلَهُمْ وَیُحَنِّکُهُمْ

. صحيح (العيال جـ ١ صـ ٤٩)

ترجمه : حضرت عائشه رضی الله عنها وائی چه وو رسول الله ﷺ راوستے به شو ورته ماشومان نو دعاء به ئے کوله ورته او تحنیك(یعنی کجهوره به ئے خله کښ میده کړه هغه به ئے ورکړه دے ته تحنیك وائی) به ئے ورته کولو.

[٨٠٩] **الحديث الرابع**: عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَّمْ يَرْحَمْ صَغِيْرَنَا وَلَمْ يُوَقِّرْ كَبِيْرَنَا.

صحيح (جـ ١ صـ ٤٩)

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلے دی چه نه دے زمونږ نه (يعنی په طريقه زمونږ نه دے) هغه څوك چه رحم نه كوی په كشر څمونږ او عزت نه كوی دمشر زمونږ.

[٨١٠] **الحديث الخامس**: عن انس قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ مَعَ أُمِّهِ وَهُوَ فِی الصَّلٰوةِ فَيَقْرَأُ بِالسُّوْرَةِ الْخَفِيْفَةِ وَالْقَصِيْرَةِ . صحيح (العيال جـ ١ صـ ٥٤)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به ډيماشوم ژړا دمور سره واوريده او هغوی به مونځ كښ وو نو مختصر سورت به ئے اولوستو (چه ماشوم او مورته ئے تكليف اونه رسی).

الدرس الثالث والستون بعد المائة ﴿١٦٣﴾

په رحم كولو كښ مخلوق باندے

[٨١١] **الحديث الاول** : عن ابی هريرة قَالَ سَمِعْتُ اَبَالْقَاسِمِ ﷺ يَقُوْلُ لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ اِلَّا مِنْ شَقِيٍّ. رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن واخرجه احمد والبخاری فی الادب المفرد وابوداؤد وابن حبان فی صحيحه والحاكم فی مستدركه قال المناوی اسناده صحيح (تحفة الاحوذی جـ ٦ صـ ٤٣))

ترجمه : دحضرت ابو هريرةؓ نه روايت دے چه ما دحضرت ابو القاسم و نه اوريدلے دی فرمانيل ئے چه نه ايستلے كيگی رحمت مگر د بدبخت نه .

[٨١٢] **الحديث الثانی** : عن اسامة بن زيدؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِنَّمَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ. صحيح (العيال جـ ١ صـ ٦٤)

ترجمه : دحضرت اسامه بن زيد رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلی دی چه بے شكه رحم كوی الله په خپلو رحم كونكی بندگانو باندے .

[٨١٣] **الحديث الثالث** : عن معاوية بن قرة عن ابيه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ وَالشَّاةُ اِنْ رَحِمْتَهَا رَحِمَكَ اللّٰهُ

عَزَّوَجَلَّ . (صحيح (العيال جـ١ صـ ٦٥)

ترجمه : دحضرت معاویه بن قره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی که په گډه چیلی د رحم اوکړو نو الله تعالیٰ به تا باندے رحم اوکړی.

فائده : ددے احادیثو نه معلومه شوه چه په مخلوق رحم کول سبب د رحم او د مغفرت دالله تعالیٰ دے بعض علماؤ لیکلی دی چه امام غزالی چاته په خوب کښ وئیلے وو چه ځما دمعافی سبب یو مچ اوکړځیدو او هغه داسے چه ماته اوئیلے شو چه یوه شپه تا لیکل کول نو تانه د سیاهی څاڅکے پرے وتلو په هغے مچ کیناستو نو تا قلم اودرولو چه دے خپل ضرورت ددے سیاهی نه پوره کړی نو څه به بیا لیکل کومه کله چه هغه مچ پاسیدو نو تالیکل شروع کړل په دے مچ درحم دوجے ته معاف کړے شوے.

[٨١٤] **الحديث الرابع** : عن ابن المنكدر انّ امْرَاةً اَتَتِ النَّبِيَّ ﷺ فَقَامَ رَجُلٌ مِنْ مَجْلِسِهٖ فَجَاءَ كَ فَجَلَسَكَ فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ اُمُّكَ هِيَ؟ قَالَ لَا: قَالَ اُخْتُكَ ؟ قَالَ لَا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَرَحِمْتَهَا رَحِمَكَ اللّٰهُ . مرسل رجاله رجال الصحيح (العيال جـ ١ صـ ٦٥)

ترجمه : دحضرت ابن المنکدر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته یو زنانه راغله نو یو کس ورته پاسیدو او څائی ئے ورته پریخودو نو رسول الله ﷺ ورته اوئیل دا د مورده ؟ وے نه. بیا ورته حضورؐ اوے خور د ده ؟ وے نه . وے رحم د پرے اوکړو الله د په تا رحم اوکړی.

[٨١٥] **الحديث الخامس** : عن ابى هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الْمَرْاَةَ كَالضِّلْعِ الاَعْوَجِ اِنْ ذَهَبْتَ تُقِيْمُهَا كَسَرْتَهَا وَاِنْ تَرَكْتَهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا وَبِهَا عِوَجٌ . صحيح (العيال جـ ١ صـ ١٠١)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه ښځه پشان د ککړے پښتی ده که نیغوے ئے نو ماته به ئے کړے او که پریګدے نو فائده ترے واخله او پدے به کوګ والے وی.

فائده : دحدیث شریف حاصل دا شو چه ښځه قابله درحم ده کوزاره ورسره کوه او وقت پاس کوه.

الدرس الرابع والستون بعد المائة ﴿١٦٤﴾

دا درس دے په فضیلت دمال کښ

[٨١٦] **الحديث الاول** : عن عمروبن العاص قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نِعْمَ الْمَالُ الصَّالِحُ لِلْمَرْءِ الصَّالِحِ . صحيح (اصلاح المال جـ ١ صـ ٤٥)

ترجمه : دحضرت عمروبن العاص رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه ډیر ښه دے مال حلال د نیک سړی دپاره.

[٨١٧] **الحديث الثانی** : عن عبدالله بن حبيب عن عمه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ لَا بَاسَ بِالْغِنٰى لِمَنْ اِتَّقٰى اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ وَالصِّحَّةُ لِمَنْ اِتَّقَى اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ خَيْرٌ مِنَ الْغِنٰى وَ طِيْبُ النَّفْسِ مِنَ النَّعِمِ. صحيح (اصلاح المال جـ ١ صـ ٤٦)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن حبيب نه نقل دی هغه دخپل تره نه روايت کوی چه رسول الله ﷺ وئيلے دی پرواه نيشته په مالدارے باندے هغه چا دپاره چه يريگی دالله تعالیٰ نه او صحت دهغه چا دپاره چه يريگی دالله تعالیٰ نه بهتر دے د مالداری نه او دنفس خوشحالی د نعمتونو نه ده.

[٨١٨] **الحديث الثالث** : عن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا اُعْطِيْتَ شَيْئًا مِنْ غَيْرِ اَنْ تَسْأَلَ فَكُلْ وَتَصَدَّقْ، (اصلاح المال جـ١ صـ ٤٩) صحيح و له شواهد انظر جامع الاصول جـ ١٠ صـ ١٦٢.

ترجمه : دحضرت عمررضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلے دی چه کله درکړے شی تاته څه څيز بغير دسوال کولو نه نو اوخوره او خيرات کړه.

[٨١٩] **الحديث الرابع** : عن سمرة بن جندب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلْحَسَبُ الْمَالُ وَالْكَرَمُ التَّقْوٰى. صحيح (اِصْلَاحُ الْمَالِ)

ترجمه : دحضرت سمره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلی دی چه حسب مال دے او کرم تقوىٰ ده.

فائده : مطلب دادے چه حسب او کرم اوچت صفات دی دانسان دکاميابی دپاره نو پيغمبر ﷺ ددے دواړو صفتونو تشريح اوکړه چه حسب حلال مال دے اوکرم دګناه نه ځان ساتل دی.

[٨٢٠] **الحديث الخامس** : عن عمر بن الخطاب قَالَ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ اِدَّخَرَ قُوْتَ سَنَةٍ. صحيح. (اصلاح المال صـ ١٩)

ترجمه : دحضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ د يو کال خرچه ستاك کړے وه .

الدرس الخامس والستون بعدالمائة ﴿١٦٥﴾

دا درس دے په بيان د خوراك کښی په اندزه باندے

[٨٢١] **الحديث الاول** : عن المقدام بن معديكرب اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ مَا مَلَأَ ابْنُ آدَمَ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنِهٖ حَسْبُ ابْنِ آدَمَ اُكَلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهٗ فَاِنْ كَانَ لَا مُحَالَةَ فَثُلُثٌ طَعَامٌ وَثُلُثٌ شَرَابٌ وَثُلُثٌ نَفَسٌ. صحيح (اصلاح المال جـ ١ صـ ٢٤٥)

ترجمه : دحضرت مقداد بن معديكرب رضی الله عنه نه روايت دے چه نبی ﷺ وئيلی دی چه نه ډکوی انسان يو لوښے ناکاره د خيتے نه کافی دی انسان لره يو څو نورې چه شاه پرے نيغه

کړی او که خامخا ډیره خوری.نو یوه حصه دے طعام کړی او یوه حصه دے اوبه او دریمه حصه معده دے خالی پریګدی ساه اغستلو دپاره .

[۸۲۲] **الحديث الثاني** : عن ابن عمرؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اَطْوَلُكُمْ جُوْعاً يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَكْثَرُكُمْ شِبَعاً فِي الدُّنْيَا. حسن. (اصلاح المال)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه زیات اوګے به ورځ د قیامت کښ به هغه کس وی چه زیات مور وی په دنیا کښ (یعنی ډیر خوراك نه دے ښه)

[۸۲۳] **الحديث الثالث** : عن عبدالله قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا عَالَ مُقْتَصِدٌ . (اصلاح المال جـ ۱ صـ ۲٤۲) وله شواهد تقتضي حسن الحديث ، كشف الخفاء جـ ۱ صـ ۱۷۹ .

ترجمه : دحضرت عبدالله رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه نه دے فقیر شوے درمیانه خرچ کونکے .

[۸۲٤] **الحديث الرابع**: عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نِعْمَ الْاِدَامُ الْخَلُّ . صحيح. (اصلاح المال صـ ۱۷۲)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه بهترین سالن سرکه ده .

[۸۲۵] **الحديث الخامس** : عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اَطْبَخْتُمْ فَاَكْثِرُوْا مَاءَهَا وَاغْرِفُوْا لِجِيْرَانِكُمْ. صحيح. (اصلاح المال صـ ۱٦۲)

ترجمه : حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه کله تاسو پخلے کوی نو اوبه پکښ ډیرے کړی او ګاونډیانو ته ورکړی.

الدرس السادس والستون بعد المائة ﴿۱٦٦﴾

خوراك به په چا کوے؟

[۸۲٦] **الحديث الاول** : عن ابی سعيد عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اَطْعِمُوْا طَعَامَكُمُ الْاَتْقِيَاءَ وَاَوْلُوْا مَعْرُوْفَكُمُ الْمُؤْمِنِيْنَ (الاخوان لابن ابی الدنيا) رواه احمد و ابو يعلى و رجالهما رجال الصحيح غير ابی سليمان الليثی و عبد الله ابن وليد التجيبی و كلاهما ثقة ، مجمع الزوائد جـ ۱۰ صـ ۲۰۱ .

ترجمه : حضرت ابوسعید د نبی کریم ﷺ نه نقل کوی چه خوراك اوکړی د خپل طعام نه په پرهیزګارانو او احسانات خپل اوکړی د مومنانو سره .

فائده : دے حدیث شریف دا خبره په ښه کړه چه خوراك به په نیکانو کوی دا مضمون یو بل حدیث کښ راغلے دے دحضرت ضحاك رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمانیلی

دی میلمستیا ورکړه په طعام خپل سره هغه چاته چه ته ورسره مینه کوے دالله دپاره.(کشف الخفاء) او بل روایت کښې راځی دحضرت حبان رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلی دی بے شکه تیزه صدقه دصدقاتو نه چه خیڑی آسمان ته هغه داده چه سړے نبه طعام تیار کړی بیا ورته دوستان راوغواړی.(الاحوان)

د شیطان نه د حفاظت قلعه

(۸۲۷) **الحديث الثانی** : عنْ جَابِرٍ ؓ أنَّهُ سَمِعَ النَّبِیَّ ﷺ يَقُولُ : إذا دَخَلَ الرَّجُلُ بَيْتَهُ ، فَذَكَرَ اللّٰهَ عَزَّ و جَلَّ عِنْدَ دُخُوْلِهِ ، وَ عِنْدَ طَعَامِهِ . قَالَ الشَّيْطَانُ : لَا مَبِيْتَ لَكُم و لا عَشَاءَ ، و إذا دَخَلَ فَلَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ عِنْدَ دُخُولِهِ . قَالَ الشَّيْطَانُ : أدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ ، و إنْ لَمْ يَذْكُرِ اللّٰهَ عِنْدَ طَعَامِهِ . قَالَ الشَّيْطَانُ : أدْرَكْتُمُ الْمَبِيْتَ والعِشاء .

صحیح . (صحیح الادب المفرد جـ ۱ صـ ٤٢٤)

ترجمه : د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی هر کله چه یو سړے داخل شی کورته نو الله تعالی یاد کړی په وخت د داخلیدو کښې کورته او په وخت د طعام کښې نو اوائی شیطان (خپلو کسانو ته) چه نشته ځائے د شپے ستاسو او نه بیګا ناری ستاسو او کله چه کورته داخل شی او الله یاد نه کړی نو وائی شیطان بیا موندلو تاسو د شپے ځائے اوکه د طعام وخت کښې دا نه اخلی نو شیطان (خپل قوم ته اوائی) چه بیا موندلو تاسو ځائے د شپے او بیګا نارے .

د څوك نے په جواب کښې نوم اغشتل ضروری دی

(۸۲۸) **الحديث الثالث**: عن جابر قالَ : أتَيْتُ النبی ﷺ فِی دَيْنٍ كَانَ عَلَى أبِیْ ،فَدَقَقْتُ الْبَابَ . فقالَ : مَنْ ذَا؟ ، فَقُلْتُ : أنَا . قَالَ : أنا ، أنا ؟ كأنه كرهه . صحیح (صحیح الادب المفرد جـ ۱ صـ ٤٢٠)

ترجمه : حضرت جابر وائی چه زه راغلم نبی ﷺ ته په یو قرض کښې چه ؤو ځما په پلار باندے نو ما اوټکوله دروازه نو خوږ نبی ﷺ اووئیل څوك ؟ نو ما اووئیل څه نو خوږ ﷺ اووئیل څه څه ؟ گویا کښې څه وئیل ئے په اوګنړل (مطلب دا دے چه نوم واخله) .

فائده : د دے حدیث نه د موبائل د استعمال هم یو ادب معلوم شو چه څوك بل ته رینګ اوکړی او هغه ئے اوچت کړی نو پکار دی چه سمدستی رینګ کونکے خپل نوم واخلی چه فلانکے خبرے کوم دانه چه نوم وانه اخلی یا دا اوائی چه څه خبرے کوم بلکه صفا واضح نوم اغشتل ضروری دی چه فلانکے خبرے کوم دارنګ چه څوك د دروازے اخوا وائی څوك ئے نو ورته اوایه فلانکے نوم واخله .

اجازت غوستونکے به د دروازے نبی باګس طرف ته اودریږی

(۸۲۹) **الحديث الرابع** عن عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ بُسْرٍ صَاحِبُ النَّبِیِّ ﷺ أنَّ النَّبِیَّ ﷺ كانَ إذا أتى بَاباً يُرِيدُ أنْ يَسْتَأذِنَ

لَمْ يَسْتَقْبِلْهُ ؛ جَاءَ يَمِيْناً أَوْ شِمالًا ؛ فَإِنْ أَذِنَ لَهُ وَإِلَّا انْصَرَفَ . حسن صحيح (صحيح الادب المفرد جـ ١ صـ ٤١٧) .

ترجمه : عبد الله بن بسرؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ وو کله چه به راغلو یوے دروازے ته د اجازت غوستلو د پاره نو دروازے ته مخامخ به نه اودریدلو بنی یا کس طرف ته به اودریدلو که اجازت به اوشو کنے بیا به واپس شو .

د ناوے نه خدمت د میلمه اغشتل جائز دی

(۸۳۰) **الحديث الخامس** :عنْ سَهْلِ بْنِ سعْدٍ : إِنَّ أَبَا أُسيد السَّاعِدِيَّ دَعا النبى ﷺ فِي عُرْسِهِ ، و كَانَتِ امْرَأَتُهُ خَادِمَهُمْ يَوْمِئِذٍ ، و هِي العروس . فقالت او قال :أَتَدْرُونَ مَا أَنْقَعْتُ لِرَسُولِ اللّٰهِ ﷺ؟ أَنْقَعْتُ لَهُ تَمَرَاتٍ مِنَ اللَّيْلِ فِي تَوْرٍ . (صحيح الادب المفرد جـ ١ صـ ٢٧٨)

ترجمه : حضرت سهل بن سعد نه روایت دے بیشکه ابا اسید ساعدی دعوت ورکړے او نبی ﷺ ته په واده خپل کښ نو وه ښځه د ده په دغه ورځ خدمت کونکی د دوئی او دا ناوے وه نو اووئیل دے ناوے یا ابو اسید چه تاسو پوهیږے چه رسول الله ﷺ ته مونږه د څه شربت کړے وو مونږه د شپے نه اچولے وے د هغه د پاره څه قجورے په یو لوښی د اوبو کښ .

الدرس السابع والستون بعد المائة ﴿۱۶۷﴾

هغه کسان چه د مرګ نه روستو به د خصوصی سایه لاندے وی

(۸۳۱) **الحديث الاول** :عن هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللّٰهُ فِيْ ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ اَلْإِمَامُ الْعَادِلُ وَشَابٌّ نَشَأَ فِي عِبَادَةِ اللّٰهِ وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّقٌ بِالْمَسَاجِدِ وَرَجُلَانِ تَحَابَّا فِي اللّٰهِ اِجْتَمَعَا عَلَيْهِ وَتَفَرَّقَا عَلَيْهِ وَرَجُلٌ طَلَبَتْهُ وَفِيْ رِوَايَةٍ دَعَتْهُ اِمْرَأَةٌ ذَاتُ مَنْصَبٍ وَّجَمَالٍ فَقَالَ إِنِّي أَخَافُ اللّٰهَ وَرَجُلٌ تَصَدَّقَ بِصَدَقَةٍ فَأَخْفَاهَا حَتّٰى لَا تَعْلَمَ شِمَالُهُ مَا تُنْفِقُ يَمِيْنُهُ وَرَجُلٌ بَكٰى خَالِيًا فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ. (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه اووه کسان دی په کومه ورځ چه دسوری د الله تعالیٰ نه علاوه بل سورے نه وی نو دوی ته به الله تعالیٰ دخپل سوری لاندے ځائے ورکوی ، امام عادل ، ځوان چه دالله تعالیٰ په عبادت کښ لوئے شوے وی، هغه سړے چه زړه ئے جوماتونو سره انختے وی او هغه دوه کسان چه مینه کوی یو بل سره دالله دپاره دهغه په نوم یو ځائے کیګی او دهغه په نوم جدا کیګی او بل هغه سړے چه طلب کړی هغه لره یا دعوت ورکړی هغه ته یو ښځه خاونده د منصب او دښائست نو دے ورته وائی چه زه یریږم دالله تعالیٰ نه او هغه سړے چه صدقه اوکړی نو پته ئے اوکړی تردے چه نه پوهیګی کس لاس دده په هغه باندے چه خرچ کوی بنے لاس دده او هغه سړے

چه اوژاړی ځان له دالله ډیرے نه تردے چه اوبهیګی اونبکے دده د سترګو نه.

[٨٣٢] **الحديث الثاني** : عَنْ اَنَسٍ ؓ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلتَّاجِرُ الصَّدُوْقُ تَحْتَ ظِلِّ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . رواه الدارمي في الترغيب والترهيب و رواه ابو هريرةؓ . صحيح . (فتح الباري)

ترجمه : حضرت أنسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه رشتیا ویونکے تاجر به د قیامت په ورځ د عرش د سوری د لاندے وی .

[٨٣٣] **الحديث الثالث** : عن ابی یسر رضی الله عنه قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ اَنْظَرَ مُعْسِرًا اَوْ وَضَعَ عَنْهُ اَظَلَّهُ اللّٰهُ فِيْ ظِلِّهِ (رواه مسلم)

ترجمه : د حضرت أبو یسر رضی الله عنه نه روایت دے چه ما اوریدلی دی (چه) رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه هرڅوك چه ناچارو (قرضدارو) ته مهلت ورکړی ، یائے ورته معاف کړی نو الله تعالیٰ به ده له دخپل سوری لاندے ځائے ورکړی (یعنی د قیامت په ورځ چه خلق په ګرمی کښ مبتلاء وی ده له به دخپل رحمت د سوری لاندے ځائے ورکړی)

[٨٣٤] **الحديث الرابع** : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لِاَصْحَابِهٖ ، اِنَّهٗ لَمَّا اُصِيْبَ اِخْوَانُكُمْ يَوْمَ اُحُدٍ جَعَلَ اللّٰهُ اَرْوَاحَهُمْ فِيْ جَوْفِ طَيْرٍ خُضْرٍ تَرِدُ اَنْهَارَ الْجَنَّةِ تَاْكُلُ مِنْ ثِمَارِهَا وَ تَاْوِيْ اِلٰى قَنَادِيْلَ مِنْ ذَهَبٍ مُعَلَّقَةٍ فِيْ ظِلِّ الْعَرْشِ فَلَمَّا وَجَدُوْا طِيْبَ مَاْكَلِهِمْ وَ مَشْرَبِهِمْ وَ مَقِيْلِهِمْ قَالُوْا : مَنْ يُبَلِّغُ اِخْوَانَنَا عَنَّا اَنَّا اَحْيَاءٌ فِي الْجَنَّةِ لِئَلَّا يَزْهَدُوْا فِي الْجَنَّةِ وَ لَا يَنْكُلُوْا عِنْدَ الْحَرْبِ فَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى : اَنَا اُبَلِّغُكُمْ عَنْكُمْ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ تَعَالٰى : ((وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَاءٌ)) . ((رواه ابو داؤد ، صحيح . صحيح الجامع الصغير . رقم : ٢٥٠٤))

ترجمه : حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ خپلو ملګرو ته اوفرمائیل کله چه شهیدان شو ستاسو رونړه په ورځ د جنګ اُحد نو اوګرځول الله روحونه د هغوئی په خیتو د مرغو شنو کښ کوزیګی نهرونو د جنت ته خوراك کوی د میوو د هغے نه اوراځی قندیلونو د سروزرو ته چه آویزان دی په سوری د عرش کښ نو هر کله چه دوئی بیا اومونډل خائسته خوراك او څکاك او آرام نو اوئے وئیل څوك به اورسوی رونړو زمونږه ته زمونږه د طرف نه چه مونږه ژوندی یو په جنت کښ هڅے نه چه دوئی په جنت کښ بے رغبته شی او په جهاد کښ روستو شی نو الله تعالی دوئی ته اووئیل زه ستاسو رونړو ته ستاسو پیغام رسوم نو نازل ئے کړو دا آیت ((وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا بَلْ اَحْيَاءٌ)) "ترجمه :ګمان مه کوئ په هغه کسانو باندے چه قتل شی په لاره د الله کښ د مړو بلکه دوئی ژوندے دی (په ژوند د برزخ سره)"

[٨٣٥] **الحديث الخامس** : عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ ، اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : اَلْمُتَحَابُّوْنَ فِي اللّٰهِ فِيْ ظِلِّ الْعَرْشِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . ((حديث صحيح . مسند أحمد ط الرسالة . رقم : ٢٢٠٠٢ و ٢٢٠٣١))

ترجمه : حضرت معاذ بن جبلؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی هغه کسان چه مینه کوی خپل مینځ کښی د الله په دین کښی په ورځ د قیامت به د عرش د سوری د لاندے وی .

الدرس الثامن والستون بعدالمائة ﴿١٦٨﴾

درس په بیان د هغه چا کښی دے چه په اته واړه دروازو د جنت به ورته د ورتلو اجازت وی

[٨٣٦] **الحديث الاول** : عن عمر بن الخطابؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَا مِنْكُمْ اَحَدٌ يُسْبِغُ الْوُضُوْءَ ثُمَّ يَقُوْلُ " اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ " اِلَّا فُتِحَتْ لَهٗ مِنَ الْجَنَّةِ ثَمَانِيَةُ اَبْوَابٍ مِنْ اَيِّهَا شَاءَ دَخَلَ . (رواه مسلم) الدرالمنثور جـ ١ صـ ٢١٥).

ترجمه : دحضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی ، نیشته ستاسو نه یو کس چه پوره اوکړی اودس او بیا دا لاندے کلمات اووائی " اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ " مګر کولاؤ به کړی شی ده ته اته واړه دروازے دجنت. په کومه چه خوښه وی نو داخل به شی.

فائده : دے حدیث شریف کښی پوره اودس کولو ته ترغیب دے پوره اودس علماء وائی هغه دے چه په هغه کښی د فرئضو سنتو او مستحباتو خیال اوساتلے شی.

[٨٣٧] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرةؓ وابی سعيدؓ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ مَا مِنْ عَبْدٍ يُصَلِّی الصَّلَوٰاتِ الْخَمْسَ وَيُؤَدِّی الزَّكٰوةَ وَيَجْتَنِبُ الْكَبَائِرَ السَّبْعَ اِلَّا فُتِحَتْ لَهٗ اَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (رواه النسائی) " الدرالمنثور جـ ٧ صـ ٢٦٧"

ترجمه : دحضرت ابو هریره او حضرت ابو سعید رضی الله عنهما نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی . چه نیشته یو بنده چه پنځه مونځونه کوی او زکوة ادا کوی او ځان د اووۀ(۷) غټو ګناهونو نه ساتی مګر ده ته به اته واړه دروازے د جنت په ورځ دقیامت کولاؤ شی.

فائده : هغه اووه غټ ګناهونه چه حدیث کښی ئے ذکر دے هغه دادی (۱) شرك (۲) سحر جادو(۳) ناجائز قتل (۴) سود کول (۵) دیتیم مال خوړل (٦) دجهاد په میدان کښی دشمن نه تیخته کول (۷) په پاکدامنو زنانو بدنامه لګول .(جامع جـ ١ صـ ٩٢)

[٨٣٨] **الحديث الثالث** : عن عتبة بن عبدالله السلمی يَقُوْلُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَامِنْ عَبْدٍيَمُوْتُ لَهٗ ثَلَاثَةٌ : مِنَ الْوَلَدِ لَمْ يَبْلُغُوا الْحِنْثَ اِلَّا تَلَقَّوْهُ مِنْ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ مِنْ اَيِّهِمَا شَاءَ دَخَلَ. حسن. (رواه احمد " درالمنثور جـ ٧ صـ ٢٦٦)

ترجمه : دحضرت عتبه بن عبدالله نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه

فرمائیل ئے نیشته یو بنده چه مړه شی د هغه درے بچی چه نه وی رسیدلے بلوغ ته مګر ده سره به داتو وارو دروازو دجنت نه ملاؤ شی دابچی چه په کومه دروازه دده خوښه وی په هغے به داخل شی.

فائده : استقبال د بچی به ده ته د صدمے په بدله کښ کولے شی حدیث شریف کښ ئے د نابالغ ذکر اوکړو کیدے شی د بالغ د فوت کیدو اجر د دے نه زیات څه بل اکرام وی ځکه د هغه صدمه د ماشوم د صدمے نه زیاته وی.

[۸۳۹] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَيُّمَا اِمْرَءَةٍ اِتَّقَتْ رَبَّهَا وَحَفِظَتْ فَرْجَهَا فَبَحَتْ لَهَا ثَمَانِيَةُ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ فَقِيْلَ لَهَا ادْخُلِيْ مِنْ اَيِّ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ شِئْتِ . (رواه الطبرانی فی الاوسط باسناد حسن) الدرالمنثور جـ ۷ صـ ۲٦٦)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کومه ښځه دخپل رب نه اویریګی او خپله شرمګاه اوساتی نو کولاؤ به شی دے ته اته واړه دروازے د جنت او اوبه وئیلے شی دے ته په کومه دروازه چه ستا خوښه وی داخله شه.

فائده : حدیث نه معلومه شوه چه زنانه د پاره د شرمګاه د حفاظت د جنت ضمانت دے سړو د پاره هم اهم دے خو زنانو د پاره ډیر ضروری دے د دوئی د پاره عفت پاکدامنی تاج او تحت دے.

د وعظ د اوریدونه په محروم کیدو باندے خفګان

[۸٤۰] **الحديث الخامس** : عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ يَقُوْمُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اِلَى شَجَرَةٍ اَوْ نَخْلَةٍ ، فَقَالَتْ لَهُ امْرَاَةٌ مِنَ الْاَنْصَارِ اَوْ رَجُلٌ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، اَلَا نَجْعَلُ لَكَ مِنْبَرًا ؟ قَالَ : اِنْ شِئْتُمْ فَجَعَلُوْا لَهُ مِنْبَرًا ، فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ ذَهَبَ اِلَى الْمِنْبَرِ ، فَصَاحَتِ النَّخْلَةُ صِيَاحَ الصَّبِيِّ ، فَنَزَلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ، فَضَمَّهَا اِلَيْهِ ، كَانَتْ تَئِنُّ اَنِيْنَ الصَّبِيِّ الَّذِيْ يَسْكُتُ ، كَانَتْ تَبْكِي عَلَى مَا كَانَتْ تَسْمَعُ مِنَ الذِّكْرِ عِنْدَهَا . رواه البخاری. رقم: ۳۳٤٥.

ترجمه : حضرت جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په ورځ د جمعے د کجهورے د اونے تندے سره به ئے د جمعے خطبه وئیله نو یو زنانه د انصارو ورته اوئیل منبر درته نه جوړومه اے د الله روسوله ؟ نو هغوئی ورته اوفرمائیل که ستاسو خوښه وئی نو جوړ کړه نو هغے زنانه رسول الله ﷺ ته منبر جوړ کړو نو کله چه ورځ د جمعے شوه نو رسول الله ﷺ منبر ته لاړلو خطبے د پاره نو د کجهورے تنے د ماشوم په شان ژړا شروع کړله نو رسول الله ﷺ ورغلو او هغه ئے ځان سره راجوخته کړه نو هغے زیرګے کولو په شان د زیرګو د ماشوم چه قلارولے شی او دے ژړل د رسول الله ﷺ په هغے وعظ نصیحت پسی چه دے به اوریدلو خپلے خوا کښ.

فائده : وعظ او نصیحت اوریدل ډیر لوئے نعمت دے د روح عذا ده او چه سړے د دے نعمت نه محروم شی نو هغه له خفګان پکار دے یو روایت کښ راځی چه د رسول الله ﷺ د وفات نه بعد ابو بکرؓ او عمرؓ د ام ایمن خوا ته لاړلو نو أم ایمن ورته په ژړا شوه نو ابو بکرؓ او عمرؓ ورته اوئیل چه ولے ژاړے تاته پته نشته چه د رسول الله ﷺ د پاره هغه جهان د دے دنیا نه غوره دے نو هغے اوفرمائیل د دے خبرے ماته پته ده خو زه په هغے وجے پسے ژاړمه چه د رسول الله د وفات د وجے نه هغه د دنیا نه بنده شوه نو دے خبرے سره ابو بکرؓ او عمرؓ هم په ژړا شو ، لهذا کوم ځائے کښ چه درس قرآن وی تعلیم تعلم وی وعظ او نصیحت وی نو هغے سلسله کټ کول نه دی بنه او کچرے کټ شی نو د زړه نه پرے خفګان پکار دے .

الدرس التاسع والستون بعدالمائة ﴿ ١٦٩ ﴾

د دا درس دے په بیان دګناه د هغه چا کښ چه قسم خوری په غیرالله باندے .

[٨٤١] **الحديث الاول** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ اللّٰهَ يَنْهَاكُمْ اَنْ تَحْلِفُوا بِاٰبَائِكُمْ مَنْ كَانَ حَالِفًا فَلْيَحْلِفْ بِاللّٰهِ اَوْ لِيَصْمُتْ " متفق عليه "

ترجمه : د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی بے شکه منع کوی تاسو الله تعالیٰ د دے نه چه قسم اوخوری په پلارانو خپلو باندے ځوک چه قسم خوری په الله تعالیٰ د اوخوری یا د چپ شی.

[٨٤٢] **الحديث الثانی** : عن عبدالرحمٰن بن سمرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَحْلِفُوا بِالطَّوَاغِی وَلَا بِاٰبَائِكُمْ . رواه مسلم .

ترجمه : د حضرت عبدالله بن سمره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی چه مه په بوتانو قسم خوری او مه په پلارانو.

[٨٤٣] **الحديث الثالث** : عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ حَلَفَ فَقَالَ فِی حَلِفِهٖ بِاللَّاتِ وَالْعُزّٰی فَلْيَقُلْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ " وَمَنْ قَالَ لِصَاحِبِهٖ تَعَالَ اُقَامِرْكَ فَلْيَتَصَدَّقْ (متفق عليه)

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی ځوک چه قسم اوخوری په لات او عزیٰ (بوتانو) باندے نو (ایمان د تازه کړی) لااله الاالله د اوائی او ځوک چه بل ته اووائی راشه چه جواری اوکړو نو دے د صدقه اوکړی.

فائده: د حدیث شریف مطلب دادے چه ده دګناه خبره اوکړه او صدقے سره ګناه معاف کیګی نو دے ته صدقه اوکړی چه ګناه ئے معاف شی.

[٨٤٤] **الحديث الرابع** عن أبي هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَحْلِفُوا بِاٰبَائِكُمْ وَلَا بِاُمَّهَاتِكُمْ وَلَا بِالْاَنْدَادِ وَلَا تَحْلِفُوا بِاللّٰهِ اِلَّا وَاَنْتُمْ صَادِقُوْنَ. صحيح. رواه ابوداؤد والنسائي

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائي چه قسم مه خورئ په پلارانو او نه په موريانو او نه په شريكانو او قسم مه خورئ مگر چه تاسو رشتينې ئې.

[٨٤٥] **الحديث الخامس** : عن ابن عمرؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللّٰهِ فَقَدْ اَشْرَكَ. صحيح (الجامع جـ٢صـ ١٠٦٧)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روايت دے وائي ما درسول الله ﷺ نه اوريدلے دي چه څوك قسم اوخورئ په غيرالله باندے نو ده شرك اوكړو.

الدرس السبعون بعدالمائة ﴿١٧٠﴾

دا درس په بيان د هغه كارونو كښې دے چه آسانونكى دى دپاره د تهجدو د پاسيدو

[٨٤٦] **الحديث الاول** : عن البراء بن عازب اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ اِذَا اَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوْءَكَ لِلصَّلٰوةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلٰى شِقِّكَ الْاَيْمَنِ ، (متفق عليه)

ترجمه : دحضرت براء بن عازب نه روايت دے نبي ﷺ وائي چه كله بسترے ته راځے نو دمانځه د اودس پشان اودس اوكړه بيا په ښي طرف ډډه اولګوه.

فائده: ابن قيمؒ په زادالمعاد كتاب كښې وئيلى دى چه شارع په ښي طرف خوب خوښ كړے دے دے دپاره چه دده خوب ګهرا او زور نه شى هسے نه چه د قيام الليل دتهجدو نه اوده پاتے شى .

[٨٤٧] **الحديث الثاني** : عن عبدالله بن مسعودؓ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَجْدِبُ (اى يكره) لَنَا السَّمَرَ بَعْدَ الْعِشَاءِ ، رواه احمد وابن ماجه فى سننه وحسن اسناد الحديث الشيخ شاكر فى تعليقه على المسند جـ ٥ صـ ٣٧٨٧)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن مسعود رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ به بد ے ګڼلے خبرے پس دماسخوتن نه.

فائده : دحضرت عمرؓ نه منقول دى چه هغوى به په خپله ډنډه باندے د ماسخوتن نه روستو خلق كورونو ته شړل وئيل به ئے پاسى. (اوده شى) كيدے شى الله پاك تاسو ته د شپے مونځ نصيب كړى. حضرت قره نه نقل دى چه هغوى به خپلو بچو ته وئيل اے بچو! كله چه دماسخوتن مونځ اوكړى. نو اوده شى كيدے شى الله پاك تاسو ته د شپے نه خير نصيب كړى . يعنى د شپے مونځ.

[٨٤٨] **الحديث الثالث** : عن عائشةؓ قَالَتْ كَانَتْ وِسَادَةُ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَنَامُ عَلَيْهَا بِاللَّيْلِ مِنْ اُدْمٍ (اى جلد) حَشْوُهَا لِيْفٌ . رواه احمد وابوداؤد والترمذى وابن ماجه وصححه الالبانى فى صحيح الجامع صـ ٤٦٤

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه وو بالخت درسول الله ﷺ هغه چه دشپے به پرے اوده کیدو د څرمنے نه چه دننه طرف ته پکښ د کجهورو پانړے وے.

فائده : حضرت امام مناوی رحمة الله علیه وائی چه بهتر دهغه سړی دپاره چه سستیا او ارام طلبی پرے غالبه وی چه کوشش اونه کړی دنرمے بسترے اچولو څکه دا سبب دکثرت دخوب او دغفلت دے او سبب د شغل دے دنیکی دا هموکارونو نه.

[۸٤۹] **الحديث الرابع** : عن انس أنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ : قِيْلُوا فَإِنَّ الشَّيَاطِيْنَ لَا تَقِيْلُ . رواه ابونعيم فی كتاب الطب والطبرانی فی الاوسط والحديث ضعفه ابن حجر وصححه الالبانی فی السلسلة برقم ـــ ٢٦٤٧

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وائی چه دغرمے آرام کوی څکه شیطانان د غرمے خوب نه کوی.

فائده : په سنن ابن ماجه کښ په یو ضعیف سند سره حدیث دے چه مدد حاصل کړی په طعام د پیشمنی په روژے دورځے او مدد حاصل کړی په خوب دغرمے په تهجدو باندے . او حسن بصری به په بازاریانو تیریدو نو وئیل به ئے گمان کووم چه شپه ددے کسانو ناکاره شپه ده څکه دوی دغرمے خوب نه کوی.

[۸٥۰] **الحديث الخامس** : أَخْرَجَ ابْنِ الفرليس فِي فَضَائِلِ الْقرآنَ عَنْ إِسْمَاعِيْلَ بْنِ أَبِي رَافِعٍ قَالَ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ قَرَأَ الْخَمْسَ اٰيَاتٍ مِنْ خَاتِمِيَتِهَا حِيْنَ يَأْخُذُ مَضْجَعَهُ مِنْ فِرَاشِهِ حُفِظَ وَ بُعِدَ مِنْ أَيِّ اللَّيْلِ شَاءَ (الدر المنثور جـ ٥ صـ ٤٧٥)

ترجمه : اسماعیل بن ابی رافع وائی چه مونږه ته د رسول الله ﷺ نه داخبره رسیدلے ده چه څوك دا پنځه ایتونه اخر دسورة کهف نه اووائی کله چه سملی نو محفوظ به شی او چه دشپے کله پاسیدل غواړی نو پاسی به.

فائده ۱ : په دے روایت باندے باربار عمل شوے دے یقیناً سړے راپاسی خو چه د ناراستے شکار نه شی او بیا اوده نه شی بلکه چه کله پاسی سمدستی دے اودس اوکړی نو سستیا به لرے شی تجربه دا ده چه کله سړے اوده کیگی او دا ایتونه د سورت کهف د " ان الذين امنو او عملو الصالحات" نه تر اخره پورے اوائی او زړه کښ د وقت تعین اوکړی نو هغه وخت له یاد هغے نه څو منټه مخکښ روستو پاسی.

فائده ۲ : خوږو لوستونکو یاد لرئ دے حدیث سره حکم نه دے لګیدلے خو دا مشتمل دے عملیاتو باندے او عملیاتو د پاره تجربه هم کافی ده او په دے بارها تجربه شوے ده زبردست تاثیر لری .

الدرس الحادی والسبعون بعدالمائة ﴿۱۷۱﴾

د پیغمبر ﷺ دهجرت نه مخکښ د حجونو ذکر

[۸۵۱] **الحدیث الاول** : قَدْ اَخْرَجَ الْحَاكِمُ بِسَنَدٍ صَحِيْحٍ اِلَى الثَّوْرِيِّ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ حَجَّ قَبْلَ اَنْ يُّهَاجِرَ حِجَجاً.

فتح الباری جـ ۸ صـ ۱۳۰.

ترجمه : امام حاکم په سند صحیح سره د امام ثورۍ نه نقل کړے دی چه رسول الله ﷺ د هجرت نه مخکښ ډیر حجونه کړی دی.

فائده : ابن الجوزیؒ وائی چه رسول الله ﷺ ډیر حجونه کړیدی چه تعداد ئے معلوم نه دے او علامه ابن الاثیر په " اَلنِّهایه " کتاب کښ وائی چه نبی ﷺ به د هجرت نه مخکښ هر کال حج کوو. او ابن حجر په فتح الباری جـ ۸ صـ ۱۳۵ کښ وائی چه رسول الله ﷺ د هجرت نه مخکښ څو ځله حج کړے دے بلکه بے شکه خبره داده چه رسول الله ﷺ کله مکه معظمه کښ وو نو حج ئے هډو پریښے نه دے هر کال ئے کړے دے ځکه قریشو په جاهلیت کښ حج نه پریښودو هغه سړے به د حج نه پاتے کیدو چه مکه کښ به نه وو مسافر به وو یا به کمزورے وو بدنی طاقت به ئے د حج کولو نه وو.

دسفر نه واپسے کښ دوه رکعاته کول سنت دی

[۸۵۲] **الحدیث الثانی** : عن كعب بن مالك قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ بَدَا بِالْمَسْجِدِ فَيَرْكَعَ فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ لِلنَّاسِ. (رواه البخاری جـ ۲ صـ ٦٣٤)

ترجمه : د حضرت کعب بن مالکؓ نه روایت دے چه وو رسول الله ﷺ کله چه به د سفر نه راغلو نو ړومبے به مسجد ته لاړو او دوه رکعاته مونځ به ئے اوکړو بیا به خلقو (ملاویدو) ته کیناستو.

فائده : ددے حدیث مبارك نه معلومه شوه چه سنت دادی چه سړے د سفر نه راشی چه جومات ته لاړ شی دوه رکعته مونځ اوکړی بیا خلقو سره ملاؤ شی او کور ته لاړ شی.

د ښځے حکومت ناکام دے

[۸۵۳] **الحدیث الثالث** : عن ابی بكرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَنْ يُّفْلِحَ قَوْمٌ وَّلَّوْا اَمْرَهُمْ اِمْرَاَةً. رواه البخاری جـ ۲ صـ ٦٣٧)

ترجمه : د حضرت ابی بکرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی هیڅ کله به کامیاب نه شی هغه قوم چه اوسپاری حکومت (مشری) خپله ښځے ته.

فائده : یعنی ښځے ته بادشاهی حواله کول ښه کار نه دے.

د مریض دپاره دم

[٨٥٤] **الحديث الرابع**: عن عائشة قَالَتْ اَنَّ الرَّسُوْلَ ﷺ كَانَ إِذَا اشْتَكٰى نَفَثَ عَلٰى نَفْسِهٖ بِالْمُعَوِّذَاتِ وَمَسَحَ عَنْهُ بِيَدِهٖ. رواه البخاری جـ ٢ صـ ٦٣٨

ترجمه : دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به کله بیمار شو نو په ځان به ئے معوذات (آخری سورتونه)دم کړل او لاس به ئے په بدن مبارك راخکلو.

فائده : مسنون عمل دے چه مریض معوذتین په لاسونو دم کړی او په بدن ئے رابښکی.

فرض نه علاوه مونځ کور کښ بهتر دے

[٨٥٥] **الحديث الخامس** : عن زيد بن ثابت قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلَيْكُمْ بِالصَّلٰوةِ فِي بُيُوْتِكُمْ فَاِنَّ خَيْرَ صَلٰوةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهٖ اِلَّا الصَّلٰوةَ الْمَكْتُوْبَةَ . (صحيح الجامع جـ ١ صـ ٥٣٣)

ترجمه : حضرت زید بن ثابت رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی تاسو په کورونو کښ مونځ کوی. ځکه بهتر مونځ د سړی په کور کښ دے سوا دفرض نه (چه هغه په جومات کښ پکار دے)

فائده : د فرض نه علاوه مونځونه او سنت کور کښ کول بهتر دی اوکه ځوك جمات کښ اوکړی نو هم جائز دی ځکه پیغمبر علیه السلام کله کله جمات کښ هم کړے دی (مشکوٰة)

الدرس الثاني والسبعون بعد المائة ﴿ ١٧٢ ﴾

ددشمن آرزو ښه نه ده

[٨٥٦] **الحديث الاول** : عن عبدالله بن ابی اوفیٰ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَيُّهَا النَّاسُ ! لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ وَاسْئَلُوْا اللّٰهَ الْعَافِيَةَ . (صحيح الجامع جـ ١ صـ ٥٣٣)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن ابی اوفی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی. اے خلقو! تاسو آرزو د ملاقات ددشمن مه کوی. او الله نه عافیت اوغواړی.

جومات ته د لرے نه راتلو کښ ثواب زیات دے .

[٨٥٧] **الحديث الثاني** :عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْاَبْعَدُ عَنِ الْمَسْجِدِ اَعْظَمُ اَجْرًا، (صحيح الجامع جـ١ صـ ٥٣٥)

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی لرے د جومات نه په لاره او فاصله کښ لوئے دے په اعتبار د اجر سره.

کپړے ته ډډ ټکړے اچول ارشاد نبوی دے

[۸۵۸] **الحديث الثالث** : عن عائشة قَالَتْ قَالَ لِي رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنْ أَرَدْتِ اللُّحُوْقَ بِي فَلْيَكْفِكِ مِنَ الدُّنْيَا كَزَادِ الرَّاكِبِ وَإِيَّاكِ وَمُجَالَسَةَ الْأَغْنِيَاءِ وَلَا تَسْتَخْلِقِي ثَوْباً حَتّٰى تُرَقِّعِيْهِ. رواه الترمذی وقال هذا حديث غريب وقال الحاكم صحيح الاسناد (تحفة الاحوذی جـ ۵ صـ ۲۸۷)

ترجمه :دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ماته اووئیل کله چه ته اراده کوی ماسره د پیوست کیدو نو کافی د شی تالره پشان د توشے دمسافر او څان اوساته د ناستے د مالدارو نه او زړه مه ګنړه یوه جامه تردے چه ټکړے ورته واچوے.

فائده : ددے حدیث نه معلومه شوه چه جامے ته ټکړے اچول بوقت ضرورت مسنون عمل دے.

نمبر د بنی طرف نه چلول سنت دی

[۸۵۹] **الحديث الرابع** :عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَلْاَيْمَنَ فَالْاَيْمَنَ . (صحيح الجامع جـ ۱ صـ ۵۳۵)

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی رومنبی بنی طرف والا بیا هغه پسے بنی طرف والا.

فائده : مطلب دادے څه څیز ورکول وی نو اول بنی طرف ته ورکول پکار دی بیا هغه پسے بنی طرف ته سلسله چلول دی درسول الله ﷺ نه قولًا او فعلًا دا سنت ثابت دی او په اسلام کښ هر کار د بنی طرف نه شروع کول مسنون دی.

دنکریزو او دکتم استعمال

[۸۶۰] **الحديث الخامس** : عن ابی ذر عن النبی ﷺ قال : إِنَّ اَحْسَنَ مَا غُيِّرَ بِهِ الشَّيْبُ الْحَنَّاءُ وَالْكَتَمُ .رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح واخرجه ابوداؤد والنسائی وابن ماجه (تحفة الاحوذی جـ۵صـ ۳۵۵)

ترجمه : دحضرت ابوذرؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ وئیلی دی بیشك خائسته هغه چه بدلولے شی په هغے باندے سپین والے دوبنتو هغه نکریزے او کتم بوتے دے.

فائده : دا دواړه چه یو څے کړے او په ویښتو ئے اولګوی نو ویښته تورمائل سرخے ته شی دا لګول جائز دی او خالص تور رنګ لګول منع دی.(تحفه)

الدرس الثالث والسبعون بعد المائة ۱۷۳

دحج سفر کښ اهم کارونه

[۸۶۱] **الحديث الاول** : عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ :بِرُّ الْحَجِّ اِطْعَامُ الطَّعَامِ وَطِيْبُ الْكَلَامِ . حسن (صحيح الجامع جـ ۱ صـ ۵۴۴)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه نیکی د حج طعام ورکول دی او نرمے خبرے کول دی.

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه په حج کښ د یو دوو(۲) نفلی کارنو اهتمام پکار دے یو کاربل ته طعام ورکول په بل خوراك کول دی او دویم کار نرمو او خانسته اخلاقو سره خبرے کول افسوس بعض حاجیان هغه ځائے کښ د سبیل او صدقے ته گیر چاپیره گوری او دیر داسے هم وی چه د هغے د حصول د پاره نورو کسانو له دکے او موغکے هم ورکوی لکه د حجر اسود پرے راچمپر شی دا حرکات د حاجی د شان سره نه بنائی او بعض حاجیان جنگ جگړے کوی یادلرئی دا د حج د تقدس خلاف دی .

د رشتنے خوب اهمیت

[۸٦۲] **الحديث الثانی** : عن عبادة بن الصامت قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بُشْرَى الدُّنْيَا الرُّؤيَا الصَّالِحَةُ . صحيح (صحيح الجامع جـ ۱ صـ ٥٤٧)

ترجمه : دحضرت عباده بن الصامت رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه دنیا کښ مومن دپاره د خوشحالی زیرے نیك خوبونه دی.

دمسافر استقبال

[۸٦۳] **الحديث الثالث** : عن السائب بن يزيد قَالَ : لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مِنْ تَبُوْكَ خَرَجَ النَّاسُ يَتَلَقَّوْنَهُ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ قَالَ السَّائِبُ فَخَرَجْتُ مَعَ النَّاسِ وَأَنَا غُلَامٌ . رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح واخرجه البخاری فی استقبال الغزاة وغيره واخرجه ابوداؤد فی الجهاد (تحفه الاحوذی جـ٥ صـ ۳۱۱)

ترجمه : دحضرت سائب بن یزید نه روایت دے چه کله رسول الله ﷺ د تبوك نه واپس شو نو اووتلو خلق ثنیة الوداع مقام ته دپاره د ملاویدو نو سائبؓ وائی ځه هم دخلقو سره اووتلم او ځه هلك ووم.

فائده : معلومه شوه چه دمسافر استقبال ثابت دے او شرعاً جائز دے.

دخپلولے پاللو ادنی درجه

[۸٦٤] **الحديث الرابع** : عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بُلُّوا أَرْحَامَكُمْ وَلَوْ بِالسَّلَامِ . صحيح (صحيح الجامع جـ ۱ صـ ٥٤٦)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه تازه ساتی خپلولی خپلے اگر که په تش سلام سره وی.

د بخیل یو قسم

[۸٦٥] **الحديث الخامس** : عن الحسين قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْبَخِيْلُ مَنْ ذُكِرْتُ عِنْدَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيَّ.

صحیح (الجامع ج ۱ صـ ۵۵۷)

ترجمه : دحضرت حسین نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی بخیل هغه سړے دے چه څه دهغه خوا کښ ذکر شم او په ما درود شریف اونه وائی.

الدرس الرابع والسبعون بعدالمائة ﴿۱۷۴﴾

د برکت درے اسباب

[۸۶۶] **الحدیث الاول** : عن سلمان قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْبَرَكَةُ فِی ثَلَاثَةٍ فِی الْجَمَاعَةِ وَالثَّرِيْدِ وَالسُّحُوْرِ.

صحیح (الجامع ج. ۱ صـ ۵۵۷)

ترجمه : دحضرت سلمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وائی چه برکت په درے څیزونو کښ دے په اتفاق کښ په ماته شوے روټی. کښ په خوروا د غوخے کښ او په پیشمنی کښ.

داسونو اهمیت

[۸۶۷] **الحدیث الثانی** : عن انس ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْبَرَكَةُ فِی نَوَاصِی الْخَيْلِ . صحیح (الجامع ج ۱ صـ ۵۵۷)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی برکت په تندو داسونو کښ دے.

دمشرانو اهمیت

[۸۶۸] **الحدیث الثالث** : عن ابن عباس ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَلْبَرَكَةُ مَعَ اَكَابِرِكُمْ . صحیح (الجامع ج ۱ صـ ۵۵۸)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه برکت ستاسو مشرانو سره دے.

فائده : په ذکر شوے درے حدیثونو کښ پنځه څیزونه ذکر شو چه په دے کښ برکت دے یو اتفاق دویم خوروا کښ ماته ورتے کښ دریم د اسونو ساتلو کښ څلورم د پیشمنی خوراک کښ پنځم د مشرانو وجود کښ برکت دے یادلرئی د دے څیزنو سره په دے نیت تعلق ساتل چه خوږ نبی ﷺ په دے کښ برکت وئیلے دے خامخا سبب د برکت دے .

سادګی ښه څیز دے

[۸۶۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی امامة الحارثی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْبَذَاذَةُ مِنَ الْاِيْمَانِ. صحیح (الجامع ج ۱ صـ ۵۵۷)

ترجمه : دحضرت ابوا امامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه

سادگی دایمان نه ده.

پرله پسے دحج او عمرے فوائد

[۸۷۰] **الحديث الخامس** : عن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّ مُتَابَعَةً بَيْنَهُمَا تَنْفِي الْفَقْرَ وَالذُّنُوْبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيْرُ خُبْثَ الْحَدِيْدِ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۶۰)

ترجمه : دحضرت عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی پے درپے حج او عمرے کوی ځکه دا دواړه پرله پسے فقراو ګناهونه داسے لرے کوی لکه ځنګه چه بنی دلو هار زنګ داوسپنے لرے کوی.

الدرس الخامس والسبعون بعدالمائة ۱۷۵

جمعے ته دوخته تلو فضیلت

[۸۷۱] **الحديث الاول** : عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تُبْعَثُ الْمَلَائِكَةُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ إِلَى اَبْوَابِ الْمَسْجِدِ يَكْتُبُوْنَ الْاَوَّلَ فَالْاَوَّلَ فَإِذَا صَعِدَ الْإِمَامُ عَلَى الْمِنْبَرِ طُوِيَتِ الصُّحُفُ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۶۱)

ترجمه : دحضرت ابی امامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وائی چه رالیګلے شی فرشتے په ورځ دجمعے دروازو دجوماتونو ته لیکی راتلونکی ترتیب وار نو کله چه امام منبر ته اوخیژی نو کاغذات راغوندې کړے شی (لیکل بند شی)

د نبی کریم ﷺ امنیقامت په مقابل د دشمن کښې

[۸۷۲] **الحديث الثانی** :عن البراء بن عازب قَالَ لَهُ رَجُلٌ أَفَرَرْتُمْ يَا اَبَاعُمَارَةَ قَالَ لَا وَاللّٰهِ مَا وَلّٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَلٰكِنْ وَلّٰى سَرْعَانُ النَّاسِ تَلَقَّتْهُمْ هَوَازِنُ بِالنَّبْلِ وَرَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلٰى بَغْلَتِهِ وَاَبُوْسُفْيَانُ بْنُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِالْمُطَّلِبِ اٰخِذٌ بِلِجَامِهَا وَرَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ اَنَا ابْنُ عَبْدِالْمُطَّلِبِ. رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح واخرجه الشيخان (تحفة الاحوذی جـ ۵ صـ ۲۷۴)

ترجمه : دحضرت براء ابن عازبؓ نه روایت دے، چه اووئیل ده ته یو سړی چه اے ابا عماره ! آیا تاسو تختیدلے وے نو ده اووئیل نه قسم دے رسول الله ﷺ نه وو تختیدلے لیکن تختیدلے وو هغه جلدباز د خلقو نه چه مخامخ شو دوی سره بنو هوازن قبیله په غشو باندے او رسول الله ﷺ په خپله خچره باندے وو ابو سفیان دهغے لګام نیولے وو او رسول الله ﷺ وئیل ځه نبی یم نه یم دروغژن ځه یم ځوئے د عبدالمطلب.

فائده : عبدالمطلب ئے ځکه یاد کړو چه هغه مشهور وو په نسبت د عبدالله باندے چه والد د نبی کریم ﷺ وو او حاصل دادے لکه ځنګه چه ځما د عبدالمطلب اولاد کښې کیدل منے نو

داسے ځما نبوت هم اومنے دا دواړه خبرے حق دی.

دغفلت د لرے کولو یو گر

[۸۷۳] **الحديث الثالث**: عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَحَوَّلُوا عَنْ مَكَانِكُمُ الَّذِی أَصَابَتْكُمْ فِيْهِ الْغَفْلَةُ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٥٦٤)

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلے دی بدل کړی هغه ځائے چه تاسوته پکښ غفلت رسيدلے دے.

دحاضر ذمه داری غائب ته رسول دی

[۸۷٤] **الحديث الرابع** : عن عبادة بن الصامت قال قال رسول الله ﷺ إِنِّی أُحَدِّثُكَ الْحَدِيْثَ فَلْيُحَدِّثْ الْحَاضِرُ مِنْكُمُ الْغَائِبَ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٤٨٠)

ترجمه :دحضرت عبادة بن الصامتؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلے دی چه ځه کله تاسو ته حديث بيان کړم نو حاضر دغه حديث غائب ته بيان کړی.

فائده : دحديث شريف مطلب دادے چه سړے په کومه خبره پوهه شی نو هغه دے بل ته اورسوی دے سره ددين احياء او بقاء ده او دا دهر اوريدونکی ذمه داری ده.

ختنه کول اسلام کښ ضروری دی

[۸۷٥] **الحديث الخامس**: عن قتادة الرهاوی قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَأْمُرُ مَنْ اَسْلَمَ اَنْ يَّخْتَتِنَ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۸۸۰)

ترجمه : دحضرت قتادة الرهاوی نه نقل دے چه وو رسول الله ﷺ امر به ئے کولو هغه چاته چه اسلام به ئے راوړو د ختنه کولو.

فائده : چه چا به اسلام راوړو نو هغه ته به حضرت وئيل چه ځان سنت کړه کجړے سنت به نه وو نو په پوځ عمر کښ به ئے ځان سنت کوو ددے نه معلومه شوه چه اسلام کښ ختنه کول ضروری دی.

الدرس السادس والسبعون بعد المائة ﴿۱۷٦﴾

نفل مونځ کور کښ بهير دے

[۸۷٦] **الحديث الاول**: عن رجل من الصحابة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَطَوُّعُ الرَّجُلِ فِی بَيْتِهٖ يَزِيْدُ عَلٰی تَطَوُّعِهٖ عِنْدَ النَّاسِ كَفَضْلِ صَلٰوةِ الرَّجُلِ فِی جَمَاعَةٍ عَلٰی صَلٰوتِهٖ وَحْدَهٗ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٥٦٨)

ترجمه : ديو سړی دصحابه وو نه نقل دی چه رسول الله ﷺ وئيلے دی نفل ... ی په کور کښ

زیات ثواب لری دهغه نفلو نه چه د خلقو مینځ کښ کوی دومره زیات ثواب لری لکه مونځ د سړی په جمع کښ په نسبت د ځان له مونځ.

حج کښ جلدی اوکړی.

[۸۷۷] **الحديث الثاني** : عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَعَجَّلُوا اِلَى الْحَجِّ فَاِنَّ اَحَدَكُمْ لَا يَدْرِى مَا يَعْرِضُ لَهٗ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۶۹)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی حج کولو کښ جلدی اوکړی. ځکه یو ستاسو نه نه پوهیګی چه څه پیښیګی ده ته.

په سخته کښ دمدد حاصلولو کر

[۸۷۸] **الحديث الثالث**: عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَعَرَّفْ اِلَى اللّٰهِ فِى الرَّخَاءِ يَعْرِفْكَ فِى الشِّدَّةِ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۶۹)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی تعلق جوړ کړه الله تعالیٰ سره په راحت کښ نو قبلوی به دعاء ستا په سخته کښ.

خپل نسب زده کول پکار دی

[۸۷۹] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَعَلَّمُوْا مِنْ اَنْسَابِكُمْ مَا تَعْلَمُوْنَ بِهٖ اَرْحَامَكُمْ فَاِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِى الْاَهْلِ مِثْرَاةٌ فِى الْمَالِ منساة فِى الْاَثَرِ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۷۰)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه زده کړی د نسبونو نه هغه چه پیژنی. تاسو په هغے باندے خپلولی. ځکه خپلولی پالل سبب دمحبت دے په اهل کښ ډیر والے دے په مال کښ ، ډیر والے دے په عمر کښ.

عذاب او ثواب د قبر

[۸۸۰] **الحديث الخامس**: عن عائشةؓ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ (الجامع جـ ۲ صـ ۷۳۹)

ترجمه : دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه عذاب د قبر حق دے.

فائده : عذاب او ثواب د قبر دواړه حق دی مومن تابعدار ته به ثواب او بدله او خوشحالی ملاویګی او بد عمل کافر ته به عذاب او سزا ملاویګی .البته ددے عذاب او ثواب په کیفیت الله تعالیٰ نبه پوهیګی دا دعالم برزخ خبرے دی چه انسانان په هغے نه پوهیګی.

الدرس السابع والسبعون بعدالمائة ﴿۱۷۷﴾

په زمکه عبادت سره زمکه خوشحالیږی

[۸۸۱] **الحديث الاول** : عن سلمان قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَمَسَّحُوا بِالْاَرْضِ فَاِنَّهَا بِكُمْ بَرَّةٌ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۷۶)

ترجمه : دحضرت سلمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی مونځ کوی په زمکه بغیر دځه اچولو نه ځکه دا تاسو سره نیکی کونکے ده.

فائده : کـه د ګرد او غبار د آلودګی خطره نه وی نو کله کله په زمکه بغیر د پوزی او جانے نماز نه مونځ کول بهتر دی.

دتوبے فضیلت

[۸۸۲] **الحديث الثانی** : عن ابن مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ. حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۵۷۸)

ترجمه : دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی توبه ایستونکے دګناه نه داسے دے لکه چه ده ګناه نه وی کړے.

[۸۸۳] **الحديث الثالث** : عن النعمان بن بشير قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلتَّحَدُّثُ بِنِعْمَةِ اللّٰهِ شُكْرٌ وَتَرْكُهَا كُفْرٌ وَمَنْ لَّا يَشْكُرُ الْقَلِيْلَ لَا يَشْكُرُ الْكَثِيْرَ وَمَنْ لَّا يَشْكُرُ لِلنَّاسِ لَا يَشْكُرُ اللّٰهَ وَالْجَمَاعَةُ بَرَكَةٌ وَالْفُرْقَةُ عَذَابٌ .

حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۵۷۹)

ترجمه : دحضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی اظهار دنعمت دالله شکر دے او اظهار نه کول ناشکری ده او څوك چه د لګ شکر نه کوی نو اظهار دډیر شکر هم نه کوی او څوك چه دمخلوق شکر نه کوی نو هغه دالله شکر هم نه کوی او اتفاق کښ برکت دے او بے اتفاقی عذاب دے.

ددعا دقبولیت دوه موقعے

[۸۸۴] **الحديث الرابع** : عن سهل بن سعدٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ثِنْتَانِ مَا تُرَدَّانِ اَلدُّعَاءُ عِنْدَ النِّدَاءِ وَتَحْتَ الْمَطَرِ . حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۵۹۰)

ترجمه : دحضرت سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی دوه دعاګانے نه رد کیږی (قبلیږی) دعاء د اذان وقت کښ او دعاء لاندِ دباران.

دزنانو جهاد

[۸۸۵] **الحديث الخامس**: عن عائشةؓ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ جِهَادُكُنَّ الْحَجُّ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۹٤)

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی (زنانوته) ستاسو جهاد حج د بیت الله شریف دے.

فائده : حج د اسلام فریضه ده چه د چا طاقت بدنی مالی وی که نارینه وی او که زنانه وی نو حج پرے فرض دے خو زنانو د پاره نفلی حج کول د جهاد پشان فضیلت لری ځکه جهاد کښ مال او بدن صرف کیږی او زنانه د پاره حج د جهاد په نسبت پر امن وی .

الدرس الثامن والسبعون بعد المائة ﴿۱۷۸﴾

دعقوق د والدینو سزا په دارښتو کښ

[۸۸۶] **الحديث الاول**: عنْ ابی بکرَةَ عنِ النبی ﷺ قال: كلُّ ذُنوب يؤخرّ الله منْهَا مَاشَاءَ إلى يَوْمِ الْقِيامةِ الا البغْی ، و عقوق الولدين ، او قطعية الرّحمْ ، يُعجّلُ لِصَاحِبِهَا فِی الدُّنيا قبل الموت . صحيح (صحيح الادب المفرد جـ ۱ صـ ۲۲۲)

ترجمه : حضرت ابی بکره نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی تول گناهونه روستو کوی الله د سزا د دهغے نه هغه چه اوغواړی د ورځے د قیامت ته مگر ظلم او نافرمانی د مور او پلار او صلهٔ رحمی په تلوار سره سزا ورکولے شی خاوند د دے ځیزونه دنیا کښ مخکښ د مرګ نه .

د شیطان باجے

[۸۸۷] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الْجَرَسُ مَزَامِيْرُ الشَّيْطَانِ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۹۶)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه جرسونه د شیطان باجے دی.

فائده : معنی داده چه شیطان د جرس په استعمال خوشحالیګی نو پکار دی چه مسلمان جرس استعمال نه کړی.

حج بدل

[۸۸۸] **الحديث الثالث** : عن ابی رزين العقيلی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حُجَّ عَنْ اَبِيْكَ وَاعْتَمِرْ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۹۹)

ترجمه : دحضرت ابورزین بن عقیلی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی

حج اوکړه دخپل پلار نه او عمره اوکړه دهغه نه.

فائده : مطلب دادے کہ د چا دپلار نه حج عمره پاتے وی او ځوئی ترے ادا کړی نو صحیح ده.دحج بدل مسئلے تفصیلاً د مفتی شفیع صاحبؒ کتاب جواهر الفقه کښ ملاحظه کړی.

دالله تعالیٰ دمدد یو سبب

[۸۸۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَقٌّ عَلَى اللّٰهِ عَوْنُ مَنْ نَكَحَ اِلْتِمَاسَ الْعَفَافِ عَمَّا حَرَّمَ اللّٰهُ . حسن. (الجامع جـ ۱ صـ ۶۰۲)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی حق دے په الله امداد دهغه چاچه نکاح اوکړی د طلب کولو د پاکدامنی دپاره دهغه څیز نه چه الله تعالیٰ حرام کړے دے.

فائده : نکاح کول سبب د مدد د الله تعالی دے غیر شادی شده مسلمان لره پکار دی چه په ساده طریقه سره نکاح اوکړی او د الله تعالی مدد حاصل کړی.

اوۀ ورځو کښ یو غسل حق دے

[۸۹۰] **الحدیث الخامس**: عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ حَقٌّ عَلٰى كُلِّ مُسْلِمٍ اَنْ يَّغْتَسِلَ فِى كُلِّ سَبْعَةِ اَيَّامٍ يَوْماً يَّغْتَسِلُ فِيْهِ رَاْسَهٗ وَجَسَدَهٗ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۶۰۳)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی حق دے لازم دی په هرمسلمان غسل کول(لامبل) په هر اووه ورځے کښ..

الدرس التاسع والسبعون بعدالمائة ۱۷۹

دکلونجی اهمیت

[۸۹۱] **الحدیث الاول** : عن بریدةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ فِيْهَا شِفَاءٌ عَنْ كُلِّ دَاءٍ اِلَّا الْمَوْتَ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۶۰۵)

ترجمه : حضرت بریده رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کلونجی کښ دمرګ نه علاوه دهرے بیماری شفاء ده.

د قبول حج بدله

[۸۹۲] **الحدیث الثانی** : عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْحَجُّ الْمَبْرُوْرُ لَيْسَ لَهٗ جَزَاءٌ اِلَّا الْجَنَّةُ . حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۶۰۵).

ترجمه : حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه حج مقبول

دپاره سوا دجنت نه بله بدله نیشته.

دالله تعالی میلمانه

[۸۹۳] الحديث الثالث : عن جابر قال قال رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اَلْحُجَّاجُ وَالْعُمَّارُ وَفْدُاللّٰهِ دَعَاهُمْ فَأَجَابُوا وَسَأَلُوْهُ فَاَعْطَاهُمْ . حسن (الجامع جـ ۱ صـ ٦٠٦)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی حج او عمره کونکے دالله تعالیٰ میلمانه دی . الله تعالیٰ دعوت ورکړو نو دوی قبول کړو او دوی سوال اوکړو نو الله تعالیٰ قبول کړو. (یعنی الله تعالیٰ د دوی سوال او دعا قبوله کړه)

دکافرانو دلوښو استعمال

[۸۹٤] **الحديث الرابع**: عن ابی ثعلبة الخشنی اَنَّهٗ قَالَ : يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّا بِاَرْضِ اَهْلِ الْكِتَابِ فَنَطْبَخُ فِی قِدْرِهِمْ وَنَشْرَبُ فِی آنِيَتِهِمْ؟فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنْ لَّمْ تَجِدُوا غَيْرَهَا فَارْحَضُوْهَا بِالْمَاءِ .رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح واخرجه الشيخان (تحفة الاحوذی جـ ٥ صـ ٤٢٠)

ترجمه : دحضرت ابو ثعلبهؓ نه روایت دے چه مونګه اووئیل یا رسول الله ! مونګه په زمکه داهل کتابو یو نه دهغوی په کټوو کښ پخلے کوو او د هغوی په لوښو کښ اوبه څکو ؟ نو رسول الله ﷺ اووئیلو که نور لوښی نه وی نو په اوبو ئے اوینځی. (بیائے استعمال کړی.)

فائده : د حدیث شریف حاصل دا دے چه د ضرورت د پاره د کافرانو لوښی استعمالول جائز دی.

د مړے نه دغورو د پاکولو طریقه

[۸۹٥] **الحديث الخامس**: عن ميمونة اَنَّ فَارَّةً وَقَعَتْ فِی سَمْنٍ فَمَاتَتْ فَسُئِلَ عَنْهَا النَّبِیُّ ﷺ فَقَالَ اَلْقُوْهَا وَمَا حَوْلَهَا فَكُلُوْهُ. رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن صحيح واخرجه البخاری وابوداؤد والنسائی (تحفة الاحوذی جـ ٥ صـ ٤٢١)

ترجمه : دحضرت میمونهؓ نه روایت دے چه یو مړه غورو ته پرے وته نو مړه شوه نو تپوس اوشو د هغے باره کښ د نبی ﷺ نه نو هغوی اوفرمائیل چه دغه مړه او د هغے گیر چاپیره اوغورځوے باقی استعمال کړی.

فائده : دا حکم هغه وخت دے کچرے غوړی ناک وی او که غوړی ویلی وی نو بیا به تول پلیت شی چه مګه پکښ مړه شی.

الدرس الثمانون بعدالمائة ۱۸۰

څادر سره خپے غزول پکار دی

[۸۹٦] **الحديث الاول**: عن عائشةؓ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: خُذُوْا مِنَ الْاَعْمَالِ مَا تُطِيْقُوْنَ فَاِنَّ اللّٰهَ لَا يَمَلُّ

حَتّٰی تَمَلُّوْا. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦١٣)

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی اونیسی داعمالو نه هغه چه ستاسو طاقت وی ځکه الله نه ستړے کیگی د ثواب نه تردے چه تاسو ستړے شی.(یعنی تاسو به ستړے شی نو عمل به پریگدی نو دثواب نه به محروم شی)

فائده : متل دے لگ خوره تل خوره.نو لگ کوه خو تل کوه په یو روایت کښ دے چه محبوب عمل رسول الله ته هغه عمل ؤو چه عمل کونکے پرے همیشوالے کوی.

دقرض ادائیگی په ښه طریقه پکار ده

[۸۹۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: خِیَارُکُمْ اَحْسَنُکُمْ قَضَاءً لِلْدَیْنَ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦١٩)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه غوره ستاسو نه هغه دی چه ښے طریقے سره ادا کونکی دی د قرض.

فائده : یاد لری چه پردے حق ادا کول ډیر ضروری دی د یو بزرگ باره کښ رازی چه هغه شپیته کاله د شپے خوب نه کولو عبادت نه ئے کولو د وفات نه پس چا په خوب کښ اولیدو تپوس ئے ته اوکړو چه الله تعالی تا سره څه معامله اوکړه هغه اووئیل احسان ئے راسره اوکړو خو په ستنه چه ما د بل غوستلے وه او واپس کړے مے نه وه هغے کښ د جنت نه اتال کړے شوم رونړو د دے وجے د پردے حق ادائیگے کښ کوشش پکار دے .(انوکهے واقعات). یاد لری چه دے حدیث یو ښه صفت په ښه کړو د غوره والی یوه ښه ئے ښکاره کړه چه هغه په ښه طریقه ادائیگی د قرض ده .

دغوره والی دوه ښے

[۸۹۸] **الحدیث الثالث** : عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خِیَارُکُمْ اَطْوَلُکُمْ اَعْمَاراً وَاَحْسَنُکُمْ اَعْمَالاً. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦١٩)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی غوره ستاسو نه هغه کسان دی چه عمرونه ئے اوگده دی او عملونه ئے نیك دی .

فائده : دے حدیث شریف کښ د غوره والی دوه ښے بیان شوے یو اوگد والے دعمر او دا غیر اختیاری ده او دویمه ښه نیك عمل دے او دا اختیاری ده یا د لری په نیك عمل سره لږ عمر کښ برکت راځی او ډیر عمل پکښ کیږی نو دنیکو اعمالو اهتمام پکار دے.

داهل وعیال خیال ساتل سنت دی

[۸۹۹] **الحدیث الرابع**: عن ابی کبشة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خِیَارُکُمْ خَیْرُکُمْ لِاَهْلِهٖ. صحیح (الجامع

جـ ۱ صـ ۶۲۰)

ترجمه : دابو کبشهؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ وئیلے دی غوره ستاسو نه هغه دی چه ښه وی دخپل اهل دپاره.

فقاهت سبب دغوره والی دے

[۹۰۰] **الحديث الخامس** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خِيَارُكُمْ فِی الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُكُمْ فِی الْاِسْلَامِ اِذَا فَقُهُوْا. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۶۲۰)

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره ستاسو نه په جاهليت کښ غوره ستاسو دی په اسلام کښ کله چه پوهه شی (يعنی اسلام دچا مرتبه ښکته کوی نه اوچتوی ئے)

فائده : په دے حديث شريف کښ د غوره والی يوه پنځمه نښه ذکر شوه چه هغه په دين باندے پوهه ده ځومره چه سړے زيات په دين پوهيږی هغه اومره هغه غوره انسان دے ددے وجے نه په دين باندے د پوهے کوشش پکار دے.

الدرس الحادی والثمانون بعدالمائة ﴿۱۸۱﴾

بد ترين حصه دزمکے

[۹۰۱] **الحديث الاول** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ الْبِقَاعِ الْمَسَاجِدُ وَشَرُّ الْبِقَاعِ الْاَسْوَاقُ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۲۰)

ترجمه : دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه بهترين دحصو دزمکے نه جوماتونه دی او بدترين بازارونه دی .

دالله په نزد خه څوك دے؟

[۹۰۲] **الحديث الثانی** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ الْاَصْحَابِ عِنْدَاللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهٖ وَخَيْرُ الْجِيْرَانِ عِنْدَاللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهِمْ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۶۲۰)

ترجمه : دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره د ملګرو نه دالله تعالیٰ په نزد هغه کس دے چه دملګری دپاره ښه وی او عوره د ګاونډيانو نه دالله په نزد هغه دے چه ښه وی د ګاونډی دپاره .

فائده : حديث شريف کښ ترغيب دے چه ملګرو او ګاونډيانو سره احسان کوی دے سره د انسان ژوند کښ خوشحالی راځی او بے حد سکون ورته ملاويږی او الله تعالی پرے خوشحاليږی.

امداد الهی په قدر د مشقت راځی

[۹۰۳] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ الْمَعُوْنَةَ تَاْتِی مِنَ اللّٰهِ لِلْعَبْدِ عَلٰی قَدْرِ الْمُؤْنَةِ وَإِنَّ الصَّبْرَ یَاْتِی مِنَ اللّٰهِ عَلٰی قَدْرِ الْمُصِیْبَةِ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۳۹٤)

ترجمه : د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه بے شك امداد دالله تعالیٰ بنده ته په قدر د مشقت د هغه راځی او بے شك صبر دالله تعالیٰ د طرف نه راځی په قدر د مصیبت باندے.

فائده : مطلب دادے چه څومره انسان الله طرف ته انابت او رجوع کوی او ددین په کار کښ مشقت او محنت کوی نو دهغے نه په زیات الله مدد او احسان کوی ځکه هغه شکور دے او شکور هغے ته وائی چه په لږ عمل ډیره بدله ورکوی او الله تعالیٰ چه مصیبت راولی نو هغه له دصبر طاقت هم ورکوی حوصله نه دی بیلل پکار البته د عافیت سوال ډیر په کار دے.

غوره صدقه

[۹۰٤] **الحدیث الرابع**: عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَیْرُ الصَّدَقَةِ مَا اَبْقَتْ غِنیً. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦۲۲)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره د صدقو نه هغه ده چه روستو مالداری د مخلوق نه پریږدی (یعنی چه دومره ورکړی چه بیا چاته محتاج نه وی)

مضمون بالا

[۹۰۵] **الحدیث الخامس**: عن عقبة بن عامر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَیْرُ الصَّدَقَةِ اَیْسَرُهٗ. صحیح الجامع جـ ۱ صـ ٦۲۲)

ترجمه : د حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره صدقه هغه ده چه اسانه وی

فائده : دے دوو حدیثونو کښ د غوره صدقے دوه صفتونه ذکر شو یو چه د وس مطابق ورکړے دویمه نښه ئے داده چه آسان شے ورکړے. یعنی صدقه کښ تکلف هم نه دے پکار کله کله د تکلف د وجے سړے د اصل عمل نه محروم شی او د موتی بهر رودل هم نه وی پکار چه بیا سړے پریشان شی.

الدرس الثانی والثمانون بعد المائة ﴿۱۸۲﴾

ددعا یوه بهترینه ورځ

[۹۰٦] **الحدیث الاول** : عن ابن عمرو قال قال رسول الله ﷺ خَیْرُ الدُّعَاءِ یَوْمَ عَرَفَةَ. حسن (الجامع

جـ ۱ صـ ٦٢١)

ترجمه : دحضرت ابن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره دعا دورځے د عرفے ده.

غوره آمدن

[۹۰۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ الْكَسْبِ كَسْبُ يَدِ الْعَامِلِ إِذَا نَصَحَ. حسن (الجامع جـ ۱ صـ ٦٢٢)

ترجمه : دحضرت ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره د آمدن نه آمدن د لاس د عمل کونکی دے کله چه خیرخواهی کوی.

فائده : په دے کښ ترغیب دے چه کوم سړے نوکری کوی د خپل لاس مشقت کوی څه قسم ملازمت کوی هغه له په خپل کار کښ دیانتداری لازمه ده او د خپل مالك خیر خواهی ورلره ضروری ده تجربه گواه ده چه کوم سړے په ایماندارے نوکری کوی دے به ډیر زر د خپل کاروبار مالك شی.

غوره عمل په ذکر دوام

[۹۰۸] **الحدیث الثالث**: عن عبدالله بن بسر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ الْعَمَلِ اَنْ تُفَارِقَ الدُّنْيَا وَلِسَانُكَ رَطْبٌ مِّنْ ذِكْرِ اللّٰهِ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٢٢)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن بسر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره عمل دادے چه دنیا نه جدا کیگی او ستا ژبه دالله په یاد لمده وی.

فائده : په دے حدیث کښ ترغیب دے همیشه ذکر کولو ته څکه علماء وائی چه الله تعالی ته خپل نوم ډیر خوښ دے نو څوك چه د الله تعالی نوم ډیر اخلی نو هغه به الله تعالی ته ډیر خوښ وی.

غوره گواهی

[۹۰۹] **الحدیث الرابع**: عن زید بن مالك قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ الشَّهَادَةِ مَاشَهِدَ بِهِ صَاحِبُهَا قَبْلَ اَنْ يُّسْأَلَهَا. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٢٢)

ترجمه : دحضرت زید بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه غوره گواهی هغه ده چه سړے ئے د مطالبے نه مخکښ اوکړی یعنی بے منته او بے احسانه ئے اوکړی دالله درضا دپاره.

فائده : چه کوم څائے کښ چه په شهادت او گواهی کښ مسلمان ته فائده وی او د چاد ستر او د پردے خلاف نه وی نو د ثواب په نیت گواهی بغیر د مطالبے نه کول بهتر دی.

دغوره والی یوه ښښه" نفع رسانی"

[۹۱۰] **الحدیث الخامس** : عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ النَّاسِ اَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ. حسن (الجامع جـ ۱ صـ ٦٢٤)

ترجمه : دحضرت جابررضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه بهترین دخلقو نه هغه کس دے چه زیاته نفع رسونکے وی خلقو ته.

الدرس الثالث والثمانون بعدالمائة ﴿۱۸۳﴾

دا درس دے په بیان د صفاتو د غوره زنانو کښ

څلور غوره زنانه

[۹۱۱] **الحدیث الاول** : عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ: خَيْرُ نِسَاءِ الْعَالَمِيْنَ اَرْبَعٌ مَرْيَمُ بِنْتُ عِمْرَانَ وَخَدِيْجَةُ بِنْتُ خُوَيْلِدٍ وَفَاطِمَةُ بِنْتُ مُحَمَّدٍ وَاٰسِيَةُ اِمْرَءَةُ فِرْعَوْنَ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٢٨)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی غوره ښځے دزنانو د عالم نه څلور دی مریم دعمران لور ، خدیجهؓ دخویلد لور، فاطمهؓ د جناب محمد ﷺ لوراو آسیه د فرعون ښځه. ۰

دعربو د زنانو ښه صفات

[۹۱۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ نِسَاءٍ رَكِبْنَ الْاِبِلَ صَالِحُ نِسَاءِ قُرَيْشٍ اَحْنَاهُ عَلٰى وَلَدٍ فِى صِغْرِهٖ وَاَرْعَاهُ عَلٰى زَوْجٍ فِى ذَاتِ يَدَهٗ.صحیح (جـ ۱ صـ ٦٢٨)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه بهترین ښځے چه سورے شوے دی په اوښانو (یعنی دعربو زنانه) نیکے زنانه د قریشو دی چه زیات شفقت کونکی دی په بچو باندے او زیات خیال کونکی دی دخاوند په تنګ دستی کښ.

فائده : په دے حدیث شریف کښ د زنانو دوه ښه صفتونه بیان شو یو چه د بچو خیال ساتی په هغوئی شفقت کوی دویم چه د خاوند لحاظ کوی او په تنګ دستی کښ هغه سره مدد کوی .

د ښے زنانه پنځه صفتونه

[۹۱۳] **الحدیث الثال** : عن ابی اذینة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ نِسَائِكُمُ الْوَلُوْدُ الْوَدُوْدُ الْمُوَاسِيَةُ وَالْمُوَاتِيَةُ اِذَا تَّقَيْتُنَ اللّٰهَ . صحیح (الجامع جـ۱ صـ ٦٢٤)

ترجمه : دحضرت ابو اذینه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی غوره په زنانو ستاسو کښ (۱) هغه ډیر بچی راوړونکی ، (۲) خاوندانو سره ډیره مینه کونکی ، (۳) غمخواری او

(۴)موافقت کونکی زنانه دی.(۵) کله چه یریگی دالله تعالیٰ نه.

د ښے زنانه نور درے صفتونه

[۹۱٤] **الحديث الرابع** : عن عبدالله بن سلام قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ النِّسَاءِ مَنْ تَسُرُّكَ إِذَا أَبْصَرْتَ وَتُطِيْعُكَ إِذَا أَمَرْتَ وَتَحْفَظُ غَيْبَتَكَ فِي نَفْسِهَا وَمَالِكَ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٢٤)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن سلام رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی غوره دښځو نه هغه ښځه ده چه تاله خوشحاله کړی کله چه ورته اوګورے او ستا تابعداری کوی کله چه ورته امر اوکړے او خیال ساتی په عدم موجودګی ستا کښ دځان خپل او د مال ستا .

د ښے زنانه یو بل صفت

[۹۱۵] **الحديث الخامس** : عن ام سلمة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ مَسَاجِدِ النِّسَاءِ قَعْرُ بُيُوتِهِنَّ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٢٨)

ترجمه : دحضرت ام سلمه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی غوره مساجد د زنانو دپاره ویخ د کورونو د دوی دے.

فائده : مطلب دادے چه دوی د پاره بهتر ځائے د مونځ د کوټے ګوټ دے یعنی چه څومره دوی پټ مونځ ادا کړی نو دومره بهتر ده نو دے حدیث شریف د غوره زنانه یوه نښه ښکاره کړه چه دا به پرده کوی. یاد لری: چه د دے درس په حدیث نمبر اول کښ د غوره ښځو مقام او درجه ذکر شوه او په باقی ځلورو حدیثونو کښ د هغوئی د غوره والی صفات ذکر شو چه یو زنانه ځان غوره جوړول غواړی نو دا صفات دے حاصل کړی غوره به اوګرځی او هغه صفات د غوره والی توټل یولس جوړیږی یو په بچو شفقت دویم د خاوند مدد دریم کثرت اولاد ځلورم خاوند سره محبت پنځم خاوند سره موافقت شپږم خاوند سره غمخوری اووم د الله تعالی نه یره اتم چه لیدو سره خاوند خوشحاله وی نهم د خاوند حکم منی لسم د خپل ځان او د خاوند د مال حفاظت کوی په عدم موجودګی د هغه کښ یولسم چه شرعی پرده کوی .

الدرس الرابع والثمانون بعدالمائة ﴿۱۸٤﴾

دبرنی کجهورو فضیلت

[۹۱٦] **الحديث الاول** : عن بريدة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ تَمْرَاتِكُمُ الْبَرْنِيُّ يَذْهَبُ الدَّاءَ وَلَا دَاءَ فِيْهِ. حسن (الجامع جـ ۱ صـ ٦٢٥)

ترجمه : حضرت بریده رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بهترین د کجهورو ستاسو نه برنی ده بیماری بوځی او بیماری پکښ نیشته.

فائده : برنی یو قسم کجهوره ده عربو کښ ملاویکی .

ماشوم په اوګه کینول جائز دی

[۹۱۷] **الحدیث الثانی** : عن البراء قال رایت النبی ﷺ والحسن صلوات الله علیه عاتقه و هو یقول اللهم إنی احبه فاحبه . صحیح الادب المفرد ص ۳۸ .

ترجمه : حضرت براءؓ وای چه ما اولیدو رسول الله ﷺ چه حسنؓ ئے په اوګه باندے وو اووئیل ئے اے الله ! څه مینه کوم ده سره نو ته ورسره مینه اوکړے .

بهترین صف کوم دے؟

[۹۱۸] **الحدیث الثالث** عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ صُفُوْفِ الرِّجَالِ اَوَّلُهَا وَشَرُّهَا اٰخِرُهَا وَخَيْرُ صُفُوْفِ النِّسَاءِ اٰخِرُهَا وَشَرُّهَا اَوَّلُهَا. صحیح (الجامع)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بهترین دصفونو د سړو نه اول صف دے او ناکاره (یعنی کم ثواب والا) اخر دے او بهتر د صفونو د زنانو نه آخری دے او ناکاره (یعنی کم ثواب والا) اول صف دے.

فائده : په حدیث شریف کښ تنبیه ده په دے خبره باندے چه د سړی د پاره د بهتر یوه وجه دا ده چه دے د پردو زنانونه لری وی او د زنانه د پاره یوه وجه د بهتر والی دا ده چه دے د پردو سړونه لرے وی ځکه د پردو سړو او زنانو د اختلاط نه مفاسداو خرابی پیدا کیږی د دے وجے نه مخلوط تعلیم چه بنځے سړی پکښ گډوی مخلوط نوکری چه د پردے اهتمام پکښ نه وی شرعاً ناجائز دے.

دوه مسنون علاجونه

[۹۱۹] **الحدیث الرابع** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحَجَامَةُ وَالْقُسْطُ الْبَحْرِيُّ وَلَا تُعَذِّبُوا صِبْيَانَكُمْ بِالْغَمْزِ مِنَ الْعُذْرَةِ . صحیح (الجامع ج ۱ ص ۶۲۷)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بهترین دهغے نه چه تاسو علاج کوی په هغے سره بنکر لګول دی او قسط بحری استعمالول دی او تکلیف مه ورکوی ماشومانو ته په زور ورکولو سره تالوته د ژبے نه.

فائده : یاد لری حجامت بنکر لګولو ته وائی د دے طریقه علاج نن صبا هم ډیر مشهوره ده او قسط بحری ته مود مهندی هم وائی دا د یو بوتی جړ دے په دوائی کښ استعمالیږی ډیرو بیمارو کښ فائده کوی او عزره یوه بیماری ده چه تی رودونکو بچو ته لګی میندے د هغے د علاج د پاره د بچو په تولو کښ ګوتے ورکړی او زور ورکوی چه وینه ترے رازی په هغے سره ماشوم ته لونے تکلیف رسی پښتو کښ عام طور دے بیمارے ته ژبے پرے وتل وائی او دغه

طریقے ته ژبے اوچتول وائی حضور ﷺ د دے علاج قسط بحری اوخودلو د دے طریقه علاج په دے بیمارے کښی دا ده چه دا بوتے په اوبو کښی حل کړه او د ماشوم پوزه کښی څاڅکے اوکړه دے سره به ماشوم جوړشی.

د نامه د لاندے د صفائ مدت

[۹۲۰] **الحدیث الخامس** : عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : وَقَّتَ لَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِیْ قَصِّ الشَّارِبِ ، وَتَقْلِیْمِ الْاَظَافِرِ ، وَحَلْقِ الْعَانَةِ فِیْ كُلِّ اَرْبَعِیْنَ یَوْمًا مَرَّةً . ((حدیث صحیح . مسند احمد ط الرسالة. رقم : ۱۳۱۱۱))

ترجمه : حضرت أنس بن مالك ؓ نه روایت دے فرمائی چه وخت مقرر کړے دے مون.. د پاره رسول الله ﷺ د بریتانو خریلو او د نوکونو کټ کولو او د نامه د لاندے د صفائ کولو په څلویښت ورځو کښی یو ځل .

فائده : فقهاء وائی چه هفته کښی یو ځل صفائی د بدن پکار ده او زیات نه زیات تاخیر په صفائ کښی تر څلویښتو ورځو پورے جائز دے ، د هغے نه اخوا صفائی نه کول ګناه ده دے حدیث شریف کښی د صفائ د آخری مدت بیان دے .

الدرس الخامس والثمانون بعد المائة ﴿۱۸۵﴾

د حرمینو فضیلت

[۹۲۱] **الحدیث الاول** : عن جابر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَیْرُ مَا رُكِبَتْ اِلَیْهِ الرَّوَاحِلُ مَسْجِدِی هٰذَا وَالْبَیْتُ الْعَتِیْقُ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۶۲۷)

ترجمه : د حضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بهترین ځائے چه سورلی ورته بار کولے شی زما دا جومات دے او بیت الله شریف دے.

فائده : په حدیث شریف کښی ترغیب دے د بیت الله شریف او د مسجد نبوی زیارت ته د حرمینو زیارت بهتر عمل دے نو هغے ته چه کومے سورلے استعمالیږی هغه هم بهترے دی.

په اودس کښی شروع دښی طرف نه مسنون ده

[۹۲۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا تَوَاضَاْتُمْ فَابْدَاُوْا بِمَیَامِنِكُمْ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۱۴۱)

ترجمه : د حضرت ابو هریرة ؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه تاسو اودس کوی نو شروع کوی په ښی طرفونو باندے په اندامونو داودس کښی.

فائده : په دے حدیث شریف کښی د اودس د آدابونه یو ادب بیان شو چه هغه د ښے طرف نه

اودس شروع کول دی علماء وائی په ښه طرف کښ الله تعالی یو خاص برکت اچولے دے ځکه پر هر کار د ښی طرف نه شروع پکار ده.

دبیماری یو بهترین علاج صدقه ده

[۹۲۳] **الحدیث الثالث**: عن ابی امامةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ دَاوُوْا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ. حسن (الجامع جـ ۱ صـ ٦٣٤)

ترجمه: دحضرت ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی علاج اوکړی دبیمارانو خپلو په صدقے سره.

فائده: دے حدیث شریف کښ یو اهم تنبیه ده چه مو ډیره بیماران شو نو مختلف قسم منډے ترړے داکټرانو حکیمانو پسے وهو خو صدقه نه کوو دے حدیث شریف کښ یو لنډه لار دعلاج په نښه کړے شوی ده چه صدقه ورکول د حدیث شریف مفهوم دے چه صدقے سره مصیبتونه دفع کیږی لهذا بیمارانو له د صدقے اهتمام ډیر ضروری دے.

د فرشتو ددعا د حاصلولو طریقه

[۹۲٤] **الحدیث الرابع**: عن ام کرز قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ دَعْوَةُ الرَّجُلِ لِأَخِيْهِ بِظَهْرِ الْغَيْبِ مُسْتَجَابَةٌ وَمَلَكٌ عِنْدَ رَأْسِهٖ يَقُوْلُ آمِيْنَ وَلَكَ بِمِثْلِ ذَالِكَ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٣٧)

ترجمه: دحضرت ام کرز رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلی دی دعا دسړی دپاره د رور خپل چه نه وی موجود ددعا په موقع قبول ده او دهغه سره فرشته وی هغه پرے آمین وائی او وائی چه ستا دپاره دِ هم الله دغه شان دعا قبوله کړی.

د دعا د اجابت یوه موقعه

[۹۲۵] **الحدیث الخامس**: عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلدُّعَاءُ بَيْنَ الْأَذَانِ وَالْإِقَامَةِ مُسْتَجَابٌ فَادْعُوْا. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٤١)

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی دعاء په مینځ د اذان او اقامة کښ قبوله ده نو دغه وخت کښ دعا اوغواړی.

فائده: داذان او اقامت وخت کښ دعا ښه قیمتی یو روایت کښ رازی چه دغه وخت کښ د عافیت غوستلو اهتمام پکار دے په دے الفاظو سره " اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَسْئَلُكَ الْعَفْوَ وَالْعَافِيَةَ وَالْمُعَافَاةَ فِی الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ "

الدرس السادس والثمانون بعدالمائة ﴿١٨٦﴾

دعزت دفاع شرعی حکم

[٩٢٦] **الحدیث الاول** : عن عائشة قالت قال رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ذُبُّوا عَنْ اَعْرَاضِكُمْ بِاَمْوَالِكُمْ . صحیح (الجامع جـ ١ صـ ٦٤٤)

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی دفاع اوکړی د عزتونو خپلو نه په مالونو خپلو سره.

فائده : په حدیث شریف کښ ترغیب دے چه د عزت د تلو خطره وی او په مال بچ کیږی نو مال خرچ کړه مال د دے د پاره دے چه انسان په دے باندے خپل ضروریات پوره کړی او د عزت بچاو یو اهم ضرورت دے.

دسرحداتو دحفاظت فضیلت

[٩٢٧] **الحدیث الثانی** : عن انسؓ قال قال رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رِبَاطُ يَوْمٍ خَيْرٌ مِنْ صِيَامِ شَهْرٍ وَقِيَامِهِ. صحیح (الجامع جـ ١ صـ ٦٥٥)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چوکیداری د سرحداتو داسلام یوه ورځ بهتره ده د روژے نفلی دیوے میاشتے نه او د ولاړے دهغے نه (دپاره دعبادت)

فائده : ددینی مراکزو او مدارسو حفاظت د مساجدو نگرانی او خیال به هم په دے حکم کښ وی ان شاء الله تعالیٰ.

نوکر ځان سره په روټے کښنول پکار دی

[٩٢٨] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرة عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : إِذَا كَفَى اَحَدَكُمْ خَادِمُهُ طَعَامَهُ حَرَّهُ وَدُخَانَهُ فَلْيَاخُذْ بِيَدِهِ فَلْيُقْعِدْهُ مَعَهُ فَإِنْ اَبٰى فَلْيَاخُذْ لُقْمَةً فَلْيُطْعِمْهُ إِيَّاهَا . رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه ابوداود وابن ماجه (تحفة الاحوذی جـ ٥ صـ ٤٧٧)

ترجمه : دحضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کله چه خادم دیو ستاسو د طعام د پخلی گرمی او لوګے برداشت کړی نو دلاس نه دے اونیسی او زان سره دے په طعام باندے کینه وی نو که دغه نه کوی (یانه شی کولے) نو یوه نوړے د پرے اوخوری.

دمازیگر نه مخکښ د څلور رکعاتو فضیلت

[٩٢٩] **الحدیث الرابع** : عن ابن عمرؓ قال قال رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رَحِمَ اللّٰهُ اِمْرَأً صَلّٰى قَبْلَ الْعَصْرِ اَرْبَعًا. حسن

(الجامع جـ ۱ صـ ٦٥٧)

ترجمه : دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه رحم د اوکړی الله تعالیٰ په هغه کس باندے چه دمازیگر د مونځ نه مخکښ څلور رکعاته نفل کوی.

هغه ښځه خاوند چه رسول الله ﷺ ورته دعا کړیده

[۹۳۰] **الحديث الخامس** : عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رَحِمَ اللّٰهُ رَجُلاً قَامَ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلّٰى وَاَيْقَظَ اِمْرَاَتَهٗ فَصَلَّتْ فَاِنْ اَبَتْ نَضَحَ فِيْ وَجْهِهَا الْمَاءَ رَحِمَ اللّٰهُ اِمْرَاةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ فَصَلَّتْ وَاَيْقَظَتْ زَوْجَهَا فَصَلّٰى فَاِنْ اَبٰى نَضَحَتْ فِيْ وَجْهِهِ الْمَاءَ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٥٧)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی رحم د اوکړی الله تعالیٰ په هغه سړی چه پاسیدو د شپے نو مونځ ئے اوکړو او پائے سوله خپله بی بی نو مونځ ئے اوکړو نو که نه پاسی نو په مخ ورله اوبه ترمکی کړی او رحم دے اوکړی الله په هغه ښځه چه دشپے پاسی نو مونځ اوکړی او خاوند راپاسوی نو مونځ اوکړی نو که نه پاسی نو اوبه ورلره په مخ ترمکی کړی.

الدرس السابع والثمانون بعد المائة ۱۸۷

سوال گر تش مه پریکده

[۹۳۱] **الحديث الاول** : عن حواء بنت السكن قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رُدُّوْا السَّائِلَ وَلَوْ بِظِلْفٍ مُحْرَقٍ. صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٥٨)

ترجمه : دحضرت حواء بی بی چه لور د سکن ده نقل دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی واپس کړی سوال گر (یعنی څه ورکړی) اگر چه په یو سوزیدلی نوکه باندے وی.

فائده : مطلب دادے چه سوال گر تش مه واپس کوی څه ورکړی لگ څیز ورکړی خو ورکړی.

د دوو رکعاتو نفلو فضیلت

[۹۳۲] **الحديث الثاني** : عن عائشةؓ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رَكْعَتَانِ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيْهَا . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٦٥)

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه دوه رکعاته سنت د صبا غوره دی ددنیا نه او څه چه په دے دنیا کښ دی.

په اودس کښ دگوتو تخلیل سنت دے

[۹۳۳] **الحديث الثالث** : عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا تَوَضَّاْتَ فَخَلِّلْ اَصَابِعَ يَدَيْكَ وَرِجْلَيْكَ

صحيح (الجامع جـ ١ صـ ١٤١)

ترجمه : دابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه اودس کوے نو خلال اوکړی په مینځ د ګوتو د لاسونو کښ او په مینځ د ګوتو د خپو کښ.

دنیا کښ دجنت ملغلرے

[٩٣٤] **الحديث الرابع** : عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلرُّكْنُ وَالْمَقَامُ يَاقُوتَانِ مِنْ يَوَاقِيْتِ الْجَنَّةِ. صحيح الجامع جـ ١ صـ ٦٦٥)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی رکن او مقام دوه ملغلرے دی د ملغلرو دجنت نه.

فائده : د رکن نه مراد حجر اسود دے او د مقام نه مراد هغه کانړے دے چه ابراهیم علیه السلام پرے د بیت الله د جوړولو وخت کښ قدمونه ایښودل او اوس په کښ د هغوئی د قدمونو نشانات دی.

دمحبت دزیاتولو طریقه

[٩٣٥] **الحديث الخامس** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ زُرْ غِبًّا تَزْدَدْ حُبًّا. صحيح الجامع جـ ١ صـ ٦٦٧)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی ملاقات کوه کله کله نو مینه به زیاتیګی.

فائده : په دے حدیث شریف کښ د ملاقات یو ادب اوخودلو چه چاسره ملاقات کوی نو کله کله ملاقات کوه چه هغه په ملاقات تنګ نه کړے البته خدمت د مشرانوله هر وخت حاضری مناسب ده خصوصاً د ضرورت په وخت کښ.

الدرس الثامن والثمانون بعدالمائة ﴿١٨٨﴾

د سرسایه فوائد

[٩٣٦] **الحديث الاول**: عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ زَكٰوةُ الْفِطْرِ طَهْرَةٌ لِلصَّائِمِ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ وَطُعْمَةٌ لِلْمَسَاكِيْنِ. (الجامع جـ ١ صـ ٦٦٨)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه سرسایه پاك والے دروژے دے د عبثو او فضول خبرو نه او خوراك دے دمسکین دپاره.

فائده : د حدیث شریف مطلب دا دے چه په روژه کښ چرته فضول خبره شوے وی او د هغے د وجے څه کمی په روژه کښ راغلے وی نو د سرسایه ادا کولو سره به پوره شی دویمه فائده د

سرسایه دا ده چه دا د مسکینانو خوراك دے په دے مبارك وخت کښ به د هغوئی د خوراك ضرورت کښ مدد اوشی.

دتول طریقه

[۹۳۷] **الحدیث الثانی** : عن سوید بن قیس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ زِنْ وَارْجِحْ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٦٨)

ترجمه : دحضرت سوید بن قیس نه روایت دے رسول الله ﷺ (تول کونکی ته) اووئیل چه اوتله او خوږ اوتله.(یعنی دروند اوتله)

دزیارت دقبرونو فائده

[۹۳۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ زُوْرُوْا الْقُبُوْرَ فَاِنَّهَا تُذَكِّرُكُمُ الْاٰخِرَةَ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٧١)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی زیارت کوی دقبرونو بے شکه دا یادوی تاسو ته آخرت.

د فیصلے دوه اصول

[۹۳۹] **الحدیث الرابع** : عن ابن مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ شَاهِدَاكَ اَوْ يَمِيْنُهُ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦٩٠)

ترجمه : د حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ (یو دعوی کونکی ته اووئیل) چه ته دوه گواهان پیش کړه یا به دے قسم اوکړی.

فائده : مطلب دا دے چه کله د دوه کسانو مینځ کښ خصومت پیدا شی نو د هغے د ختمولو دوه طریقے دی یوه دا چه مدعی گواهان پیش کړی نو حقدار به شی او که هغه سره گواهان نه وی نو بیا به مدعیٰ علیه قسم اوخوری .

دمرتد سزا

[۹٤۰] **الحدیث الخامس** : عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ بَدَّلَ دِيْنَهُ فَاقْتُلُوْهُ. رواه البخاری فی صحیحه جـ ۲ صـ ٤٧٩

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی څوك چه خپل دین بدل کړی هغه لره قتل کړی.

الدرس التاسع والثمانون بعد المائة ﴿۱۸۹﴾

مسبوق به امام سره په هر حال کښ فوری شرکت کوی

[۹٤۱] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا جِئْتُمُ الصَّلٰوةَ وَنَحْنُ سُجُوْدٌ فَاسْجُدُوا وَلَا تَعُدُّوْهَا شَيْئاً وَمَنْ اَدْرَكَ الرَّكْعَةَ فَقَدْ اَدْرَكَ الصَّلٰوةَ. صحیح الجامع جـ ۱ صـ ۱٤۳)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی کله چه تاسو مانځه ته راشی او مونږه په سجده کښ یو نو تاسو هم سجده اوکړی او مه حسابوی دغه سجده دمانځه نه اوځوک چه رکوع بیامونده نو د رکعت بیا موندو.

فائده : مسبوق هغه کس ته وائی چه هغه نه امام څه حصه دمونځ اوکړی بیا ورسره دے شریك شی ده لره پکار دی چه څنګه راشی چه دامام سره فوری شریك شی اګر چه هغه عمل دده د مانځه نه نه حسابیګی خو ده ته پرے اجر ملاویګی..

په اور به انسانان سزا نه ورکوی

[۹٤۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ النَّارَ لَا يُعَذِّبُ بِهَا اِلَّا اللّٰهُ . رواه البخاری ج. ۱ صـ ٤۷۸)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بیشك اُور عذاب به نه ورکوی په دے باندے مګر الله تعالیٰ یعنے شرعاً په اور سزا ورکول انسانانو لره ممنوع دی.

فائده : بعض زمیدار خلق سروتکه کیدی د څاروی نه کونی شوکوی او هغے ته اچوی دا لویه ګناه ده د دے حدیث نه ثابته شوه چه دا حرام دی.

پیشمنے لږ اوکه خو اوکه

[۹٤۳] **الحدیث الثالث** : عن ابی سعیدن الخدری قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلسَّحَرُ اُكْلَةُ بَرَكَةٍ فَلَا تَدَعُوْهُ وَلَوْ اَنْ يَجْرَعَ اَحَدُكُمْ جُرْعَةَ مَاءٍ فَاِنَّ اللّٰهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الْمُتَسَحِّرِيْنَ . حسن (الجامع جـ ۱ صـ ٦۸٦)

ترجمه : دحضرت ابو سعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه خوراك د پیشمنی خوراك دبرکت دے نو دا مه پریګدی اګر چه د اوبو یو ګوټ وی ځکه الله تعالیٰ رحمت لیګی او فرشتے د رحمت دعا کوی دپاره د پیشمنی کونکو.

علاج دعرق النساء

[۹٤٤] **الحدیث الرابع** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ شِفَاءُ عَرْقِ النِّسَاءِ اَلِيَةُ شَاةٍ اَعْرَابِيَّةٌ تُذَابُ ثُمَّ

ثَلَاثَةَ اَجْزَاءٍ ثُمَّ تُشْرَبُ عَلَى الرِّيقِ كُلَّ يَوْمٍ جُزْءٌ. صحيح (الجامع جـ ١ صـ ٦٩١)

ترجمه : دحضرت انس" نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی علاج د عرق النساء بیماری د اعرابی گډ لم دے چه ویلی کړے شی او بیا درے ځایه کړے شی او بیا په نهاره یوه یوه ورځ یوه یوه حصه حصه او څکلے شی.

جواب دپرنجی څو ځله ورکول پکار دی

[٩٤٥] **الحديث الخامس** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَمِّتْ اَخَاكَ ثَلَاثًا فَمَا زَادَ فَاِنَّمَا هِيَ نَزْلَةٌ اَوْ زُكَامٌ. حسن (الجامع جـ ١ صـ ٦٩٢)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی جواب د انتوشی ورکړه رور خپل ته درے کرته چه دے نه زیاتی شی هغه بیا نزله یا زکام دے یعنی بیا نے جواب ورکول شرعا نیشته.

الدرس التسعون بعدالمائة ١٩٠

ریاء شرك دے

[٩٤٦] **الحديث الاول** : عن ابی سعيد الخدریؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اَلشِّرْكُ الْخَفِيُّ اَنْ يَّعْمَلَ الرَّجُلُ لِمَكَانِ الرَّجُلِ . حسن (الجامع جـ ١ صـ ٦٩٣)

ترجمه : دحضرت ابوسعید الخدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه پټ شرك دادے چه عمل کوی سړے د وجے د یو سړی نه .

فائده : مطلب دادے چه یو سړے عمل دالله تعالیٰ د رضا دپاره نه کوی دخلقو د خاطره کوی نو ده ته به دهغے بدله نه ملاویگی لکه څه رنګ مشرك ته دشرك په عمل بدله نه ملاویگی.

دضرر نه د بچ کیدلو یو کر

[٩٤٧] **الحديث الثانی** :عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ بَاتَ وَفِيْ يَدِهٖ غَمَرٌ فَاَصَابَهٗ شَيْءٌ فَلَا يَلُوْمَنَّ اِلَّا نَفْسَهٗ .رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن غريب واخرجه ابوداود وابن ماجه وابن حبان فی صحيحه (تحفة الاحوذی جـ ٥ صـ ٤٨٥)

ترجمه : دحضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی څوك چه شپه تیره کړی او په لاس دده کښی د طعام بوئے وی او ده ته څه څیز نقصان اورسولو نو نه دے ملامته کوی مګر خپل ځان.

فائده : ددے حدیث نه معلومه شوه چه سړے اوده شی او دده په لاس باندے د طعام بوئے وی

نو ده تـه د ضـرر خطره ده نو ده لره ضروری دی چه لاس د طعام نه روستو کلك اووینځی او کوم ضـرر چـه ذکر دے علماء وائی هغه دادے چه حشرات د زمکے به په دے بوتے پسے راشی ده تـه بـه تك ورکړی او یا به ده ته ضرر دپیریانو نه اورسی او یو روایت کښ راځی چه ده ته به برص (برگے مرض) اولگی (تحفه)

دخپل نسل د پیریانو نه د بچ کولو یو عمل

[۹٤۸] **الحدیث الثالث** : عن ابن عباسؓ یَبْلَغ بِهِ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ لَو اَنَّ اَحَدَکُمْ اِذَا اَتٰی اَهْلَهُ قَالَ بِسْمِ اللّٰهِ اَللّٰهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّیْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّیْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا فَقُضِیَ بَیْنَهُمَا وَلَدٌ لَمْ یَضُرَّهُ . رواه البخاری فی صحیحه جـ ۱ صـ ۱۳٤

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی که چرے یو ستاسو نه کله چه راځی اهل خپل ته دا دعا اووائی " اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان ما رزقتنا " (اے الله مونږ دشیطان نه اوساتے او د شیطان نه اوساتے هغه بچے چه تا مونږ لره مقرر کړے دے.) نو که ده لره بچے مقدر وی په دے صحبت سره نو هغه ته به ضرر نه رسوی شیطان .

فائده : الصارم البتار کتاب کښ وائی چه دغه ماشوم باندے به دجناتو اثر نه کیگی . پیریان به پرے نه کینی.

دشفاء درے څیزونه

[۹٤۹] **الحدیث الرابع** :عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلشِّفَاءُ فِی ثَلَاثَةٍ شَرْبَةُ عَسَلٍ وَشَرْطَةُ مُحْجَمٍ وَکَیَّةُ نَارٍ وَاَنْهٰی اُمَّتِی عَنِ الْکَیِّ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ٦۹٤)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی شفا په درے څیزونو کښ ده په څکلو د شهدو کښ او په ښکر لگولو کښ او په داغ ورکولو داور کښ او زه منع کوم امت خپل د داغ ورکولو نه.

کامل مسلمان

[۹۵۰] **الحدیث الخامس**: عن عبدالله بن عمرو عن النبی ﷺ قَالَ اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِّسَانِهٖ وَیَدِهٖ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَی اللّٰهُ عَنْهُ . رواه البخاری فی صحیحه جـ ۱ صـ ٦۹

ترجمه : دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کامل مسلمان هغه دے چه دهغه د ژبے او لاس نه مسلمانان بچ پاتے شی او کامل مهاجر هغه دے چه هغه پریگدی هغه څیزونه چه الله تعالیٰ ترے منع کړیده.

الدرس الحادی والتسعون بعدالمائة ۱۹۱

دشیطان رومبے کوشش په انسان څه دی؟

[۹۵۱] **الحدیث الاول** : عن جابر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ اَنْ يَّعْبُدَهُ الْمُصَلُّوْنَ وَلٰكِنْ فِي التَّحْرِيْشِ بَيْنَهُمْ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن واخرجه احمد وسلم (تحفة الاحوذی جـ ٦ صـ ٥٧)

ترجمه : دحضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه شیطان یقینا نا امید دے ددے نه چه عبادت اوکړی(یعنی شرك اوکړی په زمکه د عربو کښ) مسلمانان لیکن کوشش کوی په دشمنے پیداکلو باندے په مینځ ددوی کښ.

فائده : امام نوویؒ وائی چه دا حدیث دمعجزاتو دنبی علیه السلام نه دے چه شیطان په جزیرة العرب کښ دشرك دمسلمانانو نه ناامیده دے لیکن ددوی مینځ کښ به د جنګولو کوشش کوی (تحفه) او حدیث شریف نه دا پته هم اولګیده چه شیطان اول کوشش په انسان د شرك کوی او چه په هغے ناکام شی بیا په ده دنورو ګناهونو کوشش کوی.

په اهل عیال خرچه صدقه ده

[۹۵۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اَنْفَقَ الرَّجُلُ عَلٰى اَهْلِهٖ يَحْتَسِبُهَا فَهُوَ لَهٗ صَدَقَةٌ . رواه البخاری فی صحیحه جـ ١ صـ ٩٥

ترجمه : دحضرت ابو مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه سړے خرچ اوکړی په اهل خپل باندے په نیت د ثواب نو داده دپاره صدقه ده.

فائده : دے حدیث شریف کښ د کور د خرچے باره کښ یو ادب ذکر شو چه په کور کښ خرچه د ثواب په نیت پکار ده چه نیت پکښ د ثواب اوشی نو دغه خرچه صدقه ګرځی.

مړی ته د خوشبو لګولو طریقه

[۹۵۳] **الحدیث الثالث** : عن جابر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا جَمَّرْتُمُ الْمَيِّتَ فَاَوْتِرُوْا. صحیح (الجامع جـ١ صـ ١٤٥)

ترجمه : دحضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه مړی ته خوشبو ورکوی نو درے ځله ورکړی.

فائده : دے حدیث نه معلومه شو چه مړے خوشبو کول پکار دی اوخوشبو ورته درے ځله لګول ثابت دی چه خوشبوته د رحمت فرشتے راځی.

سفر کښې امیر مقرول شرعي حکم دی

(۹۵٤) **الحدیث الرابع** : عن ابی سعید قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا خَرَجَ ثَلٰثَةٌ فِی سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوْا اَحَدَهُمْ

صحیح (الجامع ج۱ ص۱٤۸)

ترجمه : د حضرت ابو سعید ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله اوځی دری کسان په سفر نو یو ددوئی امیر کړی.

فائده : حدیث شریف کښې د سفر یو ادب بیان شو چه سفر کښې ملګری ګټړ وی نو یو پکښې امیر کښې چه مشری کشری وی په هغه ځائے کښې ډیر لوئے برکات وی.

بَعْضٍ. رواه البخاری جـ ۱ صـ ۱۲۳

ترجمه : دحضرت جریر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی مه گرځی روستو زمانه په شان د کافرانو چه وهی بعض ستاسو څنونه د بعضے .

بیت الخلاء ته د ننوتلو دعا

[۹۵۸] **الحدیث الثالث** : عن انس یَقُوْلُ کَانَ النَّبِیُّ ﷺ اِذَا دَخَلَ الْخَلَاءَ قَالَ اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ. رواه البخاری جـ ۱ صـ ۱۳۵

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله یو ستاسو نه اراده د ننوتلو د بیت الخلاء اوکړی نو اودے وائی " اللهم انی اعوذبك من الخبث والخبائث".

فائده : یاد کړی چه جنات او پلید ارواح د انسان بدن ته د نقصان رسولو د پاره دوه وخته کښی د ننوتلو کوشش زیات کوی یو د غصے وخت کښی دویم بیت الخلاء کښی نو کله چه انسان دا کلمه اوائی او بیا بیت الخلاء ته ورشی نو پیریان ورته بیا دغه ځائے کښی نقصان نه شی رسولے.

د عالم فضیلت

[۹۵۹] **الحدیث الرابع**: عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ صَاحِبُ الْعِلْمِ یَسْتَغْفِرَ لَهٗ کُلُّ شَیْءٍ حَتّٰی الْحُوْتُ فِی الْبَحْرِ. (الجامع جـ ۱ صـ ۷۰۱)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه خاوند دعلم دپاره بخنه غواړی هر شے تردے چه کب په دریاب کښی.

د پتے صدقے برکت

[۹۶۰] **الحدیث الخامس** : عن ابی سعید الخدری قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ صَدَقَةُ السِّرِّ تُطْفِیءُ غَضَبَ الرَّبِّ، صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۷۰۲)

ترجمه : دحضرت ابوسعید خدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی پته صدقه ورکول سړوی غصه دالله تعالیٰ.

الدرس الثالث والتسعون بعد المائة ﴿۱۹۳﴾

امت ته جائز سهولت سنت طریقه

[۹۶۱] **الحدیث الاول**:عن عائشة کَانَ النَّبِیُّ ﷺ یُحِبُّ مَا یُخَفِّفُ عَنْهُمْ. رواه البخاری فی صحیحه جـ ۱ صـ ۳۰۱

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه وو رسول الله ﷺ چه خوښوله به

نے هغه چه سپك والے راولی دامت نه.

انتظار دمونځ عبادت دے

[٩٦٢] **الحديث الثانی** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَمْ تَزَالُوا فِی صَلٰوةٍ مَا انْتَظَرْتُمُ الصَّلٰوةَ . رواه البخاری جـ ١ صـ ٣٠٤

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه همیشه ئے تاسو په مانځه کښ چه تر کومے چه تاسو انتظار کوی دمونځ.

فائده : حضرت حسن بصریؒ وائی همیشه وی قوم په خیر کښ تر کومے چه دکار خیر انتظار کوی.

ژوندو ته دمړو په ردو بدو ضرر مه رسوی

[٩٦٣] **الحديث الثالث** : عن المغيرة بن شعبة يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَسُبُّوا الْاَمْوَاتَ فَتُؤْذُوا الْاَحْيَاءَ . صحيح. رواه الترمذی واخرجه احمد (تحفه جـ ٦ صـ ٩٩)

ترجمه : دحضرت مغیره بن شعبهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی ردے بدے مه وائی مړو پسے چه ضرر رسوی ژوندو ته.

فائده : ابن بطال وائی ردے بدے مړو ته دغیبت په حکم کښ دی نو کچرے دیو سړی اکثر او ډیر احوال ئے دخیر او داصلاح دی اوکله کله ترے شر صادر شی نو غیبت ئے ممنوع دے او که اغلب احوال ئے د فسق وی او بنکاره فاسق وی نو دهغه د فسق بیان غیبت نه دے او په دے تفصیل کښ مړے او ژوندے برابر دی.(تحفه)

مسجد ته د تلوراتلو فضیلت

[٩٦٤] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ غَدَا اِلَى الْمَسْجِدِ وَرَاحَ اَعَدَّ اللّٰهُ لَهٗ نُزُلَهٗ مِنَ الْجَنَّةِ كُلَّمَا غَدَا اَوْ رَاحَ . رواه صحيح البخاری. جـ ١ صـ ٣٢٢

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی څوك چه سحر لاړ شی مسجد ته یا مازیگر الله تعالیٰ ده لره میلمستیا تیاروی دجنت هرکله چه دے سحر ځی یا مازیگر.

د فرشتو د دعاکانو یو لونی عمل

[٩٦٥] **الحديث الخامس** : عن ابی هريرةؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اَلْمَلَائِكَةُ تُصَلِّی عَلٰی اَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِی مُصَلَّاهُ مَالَمْ يُحْدِثْ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ . رواه البخاری فی صحيحه جـ ١ صـ ٣٢٢.

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وائی فرشتے درحمت دعا غواړی دیو ستاسو دپاره کله چه په ځائے دمونځ کښ وی تر کومے پورے چه بے اودسه شوے نه وی. دعاء په دے الفاظ غواړی. اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهٗ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ اے الله تعالیٰ ده ته

بخنه اوکړے اے الله په ده باندے رحم اوکړے.

فائده : یاد لرې امام بخاریؒ د دے حدیث نه یو مسئله ثابتوی هغه دا چه په مسجد کښ هوا خارج کول جائز نه دی د ضرورت په وخت کښ شیخ زکریاؒ فرمائی چه جائز دی خو خلاف اولی دی بنده محمد مسلم نستوی وائی کښ د هوا خارج کولونه د بدبوئی د خورلے دو خطره وی نو بیا دے ضرورت پوره کولوله د مسجد نه بار وتل ضروری دی ځکه چه د بدبوئے فرښتے تکلیف محسوس کوی.

الدرس الرابع والتسعون بعدالمائة ﴿۱۹٤﴾

دملګرو ملاقات

[۹٦٦] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ عَادَ مَرِيْضًا اَوْ زَارَ اَخَاهُ فِی اللّٰهِ نَادَاهُ مُنَادٍ اَنْ طِبْتَ وَ طَابَ مَمْشَاكَ وَتَبَوَّاْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَثْوَاكَ .رواه الترمذی وقال هذا حدیث غریب قال المنذری فی الترغیب بعد ذکر هذا الحدیث .رواه ابن ماجه والترمذی واللفظ له وقال حدیث حسن وابن حبان فی صحیحه .(تحفة جـ ٦ صـ ١٢٤)

ترجمه : دحضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه څوك د مریض تپوس اوکړی او یا ملاقات اوکړی د یو رور مسلمان دالله رضا دپاره نو آواز کونکے ده ته یو آواز کوی ده ته یو آواز کونکے چه خه ښے ته او خه دے دا مزل ستا او حاصل کړو تا دجنت نه ځائے خپل.

فائده : علامه طیبیؒ وائی: چه دے حدیث کښ دا بیمار تپوس کونکی ته او دمسلمان زیارت کونکے ته دعا ده چه تا دالله تعالیٰ بنه ساتی او تاله د الله تعالیٰ جنت درکړی.(تحفه)

امام سره دامین وئیلو فضیلت

[۹٦۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اَمَّنَ الْاِمَامُ فَاَمِّنُوا فَاِنَّهُ مَنْ وَافَقَ تَاْمِيْنُهُ تَاْمِيْنَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ . رواه البخاری جـ ١ صـ ٢٢٦.

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه امام آمین وائی نو تاسو هم آمین وائی ځکه د چا آمین چه موافق شی دآمین دفرشتو سره نو معاف به شی هغه ته هغه چه مخکښ کړے وی دګناهونو نه.

د سجدے برکت

[۹٦۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كُلُّ ابْنِ آدَمَ تَاْكُلُهُ النَّارُ اِلَّا اَثَرَ السُّجُوْدِ. رواه البخاری فی صحیحه جـ ١ صـ ٣٨٧.

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه ټول

اندامونه دانسان به سیزی اور سوا دنشانونو دسجدو نه.

ظلم په کافر هم خه نه دے

[۹۶۹] **الحدیث الرابع** : عن ابن عباسؓ انّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بَعَثَ مُعَاذًا إِلَى الْيَمَنِ فَقَالَ اِتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهٗ لَيْسَ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ اللّٰهِ حِجَابٌ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه احمد(تحفه جـ ٦ صـ ١٣١)

ترجمه : دحضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ معاذ یمن ته لیګلو نو ورته نے اووئیل چه یره اوکړه دخیرو دمظلوم نه ځکه نیشته دده او دالله تعالیٰ مینځ کښ پرده. معنی داده چه الله تعالیٰ ئے خیره قبلوی.

فائده : دحضرت انسؓ نه په سند صحیح سره نقل دے چه ځان اوساته دخیرو دمظلوم نه اګر چه کافر وی ځکه نیشته مخکښ د هغے ته پرده (مسند احمد ابویعلیٰ) علامه طیبی وائی دا کنایه ده د زړ قبلیدو نه چه دده خیره زړ قبلیږی.(تحفه)

دبی بی دتعلق خیال ساتل

[۹۷۰] **الحدیث الخامس** : عن عائشةؓ انها قَالَتْ اِنْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيَذْبَحُ الشَّاةَ فَيَتَتَبَّعُ صَدَائِقَ خَدِيْجَةَ فَيُهْدِيْهَا لَهُنَّ .رواه الترمذی وقال هذا حدیث صحیح غریب واخرجه الشیخان(تحفه جـ ٦ صـ ١٣٥)

ترجمه : دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه یقیناً رسول الله ﷺ به چیلے ذبح کوو او دخدیجے ملګری به نے کتلے او هغوی ته به ئے هدیه کولو.

الدرس الخامس والتسعون بعد المائة ﴿۱۹۵﴾

معمولی دعوت قبلول پکار دی

[۹۷۱] **الحدیث الاول** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا دُعِيْتُمْ إِلَى كُرَاعٍ فَاَجِيْبُوْا. (صحیح الجامع جـ١ صـ ١٥٥)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله دعوت درکړے شی تاسو ته دچیلی لیچے ته(یعنی معمولی څیز ته) نو قبول ئے کړی..

په جهاد کښ دروژے فضیلت

[۹۷۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی الدرداء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ صِيَامُ الْمَرْءِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُبْعِدُهٗ مِنْ جَهَنَّمَ مَسِيْرَ سَبْعِيْنَ عَامًا .صحیح (الجامع جـ ٢ صـ ٧١٥)

ترجمه : دحضرت ابوالدرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی روژه نیول د سړی په لار دالله تعالیٰ کښ لرے کوی ده لره د اور دجهنم نه داویا کالو په مزل.

فائده : فی سبیل الله جهاد ،سفر حج ،سفر طلب علم ، سفر دعوت و تبلیغ تولو ته شامل دے او په دے موقعو کښی د روژے نیولو به دغه ثواب وی.

د مومن عظمت شان

[۹۷۳] **الحدیث الثالث:** عن ابن عمرؓ قال : صَعِدَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الْمِنْبَرَ فَنَادٰی بِصَوْتٍ رَفِیْعٍ قَالَ : یَامَعْشَرَ مَنْ اَسْلَمَ بِلِسَانِهٖ وَلَمْ یُفْضِ الْاِیْمَانُ اِلٰی قَلْبِهٖ لَا تُؤْذُوا الْمُسْلِمِیْنَ وَلَا تُعَیِّرُوْهُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا عَوْرَاتِهِمْ فَاِنَّهٗ مَنْ یَّتَّبِعْ عَوْرَةَ اَخِیْهِ الْمُسْلِمِ تَتَبَّعَ اللّٰهُ عَوْرَتَهٗ وَمَنْ یَّتَّبِعِ اللّٰهُ عَوْرَتَهٗ یَفْضَحْهُ وَلَوْ فِیْ جَوْفِ رَحْلِهٖ " قَالَ وَنَظَرَ ابْنُ عُمَرَ یَوْمًا اِلَی الْبَیْتِ اَوْ اِلَی الْکَعْبَةِ فَقَالَ مَا اَعْظَمَكِ وَاَعْظَمَ حُرْمَتَكِ وَالْمُؤْمِنُ اَعْظَمُ حُرْمَةً عِنْدَاللّٰهِ مِنْكِ . رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن واخرجه ابن حبان فی صحیحه (تحفه جـ ٦ صـ ١٥٣)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منبر ته اوختلو او په اوچت آواز ئے اوئیل اے هغه ډلے چه په ژبه مسلمانه ئے زړه ته د ایمان نه دے رسیدلے ضرر مه رسوے مسلمانانو ته او مه پیغور ورکوی او ددوی عیبونه مه لټوے ځکه څوك چه لټوی عیب د رور مسلمان نو الله تعالیٰ به ددہ عیبونو پسے شی او الله تعالیٰ چه دچا عیب پسے شی نو رسوا به کړی ده لره اګر چه دکور په مینځ کښی وی او ابن عمرؓ یو ورځ اوکتل کعبے ته او وے فرمائیل څه لوئے شان او لوئے حرمت دے ستا خو مومن لوئے دے دالله په نزد په حرمت کښی ستا نه.

هوشیار تیا ،پاره د تجربو ضرورت دے

[۹۷٤] **الحدیث الرابع :** عن ابی سعید قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : لَا حَلِیْمَ اِلَّا ذُوْعُثْرَةٍ وَلَاحَکِیْمَ اِلَّا ذُوْ تَجْرِبَةٍ . رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن غریب واخرجه احمد فی مسنده وابن حبان فی صحیحه والحاکم فی مستدرکه .قال المناوی فی شرح الجامع الصغیر اسناده صحیح (تحفة الاحوذی ضـ ٦ صـ ١٥٤)

ترجمه : دحضرت ابوسعیدؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی نیشته بردبار (کامل) مګر لغزش والا او (کامل) هوشیار نه وی مګر تجربه کار.

فائده : بردبار نشته مګر لغزش والا ددے مطلب دادے چه کله سړی نه غلطے اوشی نو دده د سوچ انداز بدل شی چه څنګه مانه غلطی اوشوله داسے د بل نه هم کیدے شی نو دے بیا دبل په غلطے باندے برداشت کوی پښتانه وائی چه عقل په دغرو زده کیږی .او هوشیار نه وی مګر تجربه کار ددے مطلب دادے چه بار بار دیو کار په تجربه او مشاهده سره په عقل کښی پختګی راځی او دتجربو او مشاهدو نه بغیر هوشیارتوب کمزورے وی.عرب وائی " سَلِ الْمُجَرِّبَ وَلَا تَسْئَلِ الْحَکِیْمَ" دتجربه کار نه تپوس اوکړه او دحکیم نه تپوس مه کوه یعنی چه تجربه ئے نه وی.

حاصل دحدیث داسے شو چه بردباری حاصلول او په تجرباتو باندے عمل پکار دے مطلب دادے چه په تجربه کښی یو سړے خائن ثابت شو اعتماد پرے مه کوه چه دروغژن ثابت شو خبره ئے مه منه.

د جاهلیت کارونه

[۹۷۵] **الحدیث الخامس**: عن عبدالله بن مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَطَمَ الْخُدُوْدَ وَشَقَّ الْجُيُوْبَ وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ . رواه البخاری فی صحیحه جـ ۱ صـ ۷۱۷.

ترجمه : دحضرت عبدالله بن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی نه دے زمونږ په طریقه هغه څوک چه مخ وهی (دغم په وخت کښی) او گریبان شلوی او دجاهلیت آوازونه کوی.

الدرس السادس والتسعون بعدالمائة ﴿۱۹۶﴾

د جنازے د ثواب ذکر

[۹۷۶] **الحدیث الاول** :عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ شَهِدَ الْجَنَازَةَ حَتّٰى يُصَلّٰى فَلَهٗ قِيْرَاطٌ وَمَنْ شَهِدَهَا حَتّٰى تُدْفَنَ كَانَ لَهٗ قِيْرَاطَانِ قِيْلَ وَمَاالْقِيْرَاطَانِ قَالَ مِثْلُ الْجَبَلَيْنِ الْعَظِيْمَيْنِ.رواه البخاری جـ ۱ صـ ۵۶۴

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه څوک جنازے ته حاضر شی تردے چه مونځ اوکړی نو ده دپاره یو قیراط ثواب دے او څوک چه جنازے ته حاضر شی تردے چه دفن شی نود ده دپاره دوه قیراطه دی تپوس اوشو یا رسول الله دوه قیراطه څه څیز دے؟ وے فرمائیل د دوو غټو غرونو برابر.

څاروے چه لشی تولو پیړ ترے مه اخله

[۹۷۷] **الحدیث الثانی** : وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو ، قَالَ : مر رَسُول اللّٰهِ ﷺ برجل يحلب شاة فَقَالَ : اى فلان ، إِذَا جلبت فابق لولدها، فإنّها من أبر الدواب .(رواه الطبرانی فی الکبیر والأوسط ، ورجال الکبیر رجال الصحیح غیر عبد الله بن جبارة، وَهُوَ ثقة.)

ترجمه :د حضرت عبد الله بن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ د یو سړی خوا ته تیر شو چه چیلیړ ئے لشله نو رسول الله اووئیل چه اے فلانیه کله چه چیلیړ لشے نو د دے بچے د پاره پیړ پریگده تیان مکمل مه خالی کوه ځکه د احسان د ځناورو نه ده .

فائده : دا مضمون بل یو روایت کښی د تقاده صحابی نه هم نقل دے چه هغه وائی ماته رسول الله ﷺ وئیلے دی چه تول پیړ د څاروی نه مه أخله لهذا دے احادیثو نه معلومه شوه چه لنگ څاروے به بالکل پیو نه نه خالی کوی .

دصدقے د قبولیت یو شرط

[۹۷۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَقْبَلُ اللّٰهُ إِلَّا الطَّيِّبَ .(صحیح

(البخاری جـ ۱ صـ ۵۹۸)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی نه قبلوی الله تعالیٰ مگر حلال مال.

پردے حق ادا کړه اگر که لږ وی

[۹۷۹] **الحدیث الرابع** : عن عدی بن حاتم قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اِتَّقُوا النَّارَ وَلَو بِشِقِّ تَمْرَةٍ. صحیح البخاری جـ۱ صـ ۶۰۱

ترجمه : عدی بن حاتم وائی ما اوریدلے دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیل نے ځان اوساته داور نه اگر که په یو شق دکهجورے وی.

فائده : ددے حدیث دوه مطلبه دی. یو داچه صدقه داور نه د حفاظت ذریعه ده دصدقے په ذریعه ځان داور نه بچ کړی اگر که دا دکهجورے یوه حصه وی . دویم مطلب دادے که پردے حق وی نو دهغے سزا اور دے اگر که هغه دکجهورے یوه حصه وی نو اور نه ځان بچ کړی. هغه ادا کړی.

دلوربانو تربیت دجهنم نه حفاظت دے

[۹۸۰] **الحدیث الخامس** : عن عائشةؓ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هٰذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِّنَ النَّارِ . صحیح البخاری جـ ۱ صـ ۶۰۱

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی څوك چه ستاسو نه اخته شی ددے لوربانو نه په یو شی باندے وی به دده دپاره پرده د اور نه.

فائده : د حدیث شریف مطلب دا دے چه د چا لوربانے اوشی او دے د هغے تربیت په صحیح طریقه اوکړی نو دغه به الله تعالی ده د پاره د اُور نه د بچ کیدو ذریعه اوګرځوی .

الدرس السابع والتسعون بعدالمائة ﴿۱۹۷﴾

دسفارش ثواب

[۹۸۱] **الحدیث الاول** :عن ابی موسیٰؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِشْفَعُوْا تُوْجَرُوْا . صحیح البخاری ج. ۱ صـ ۶۰۶.

ترجمه : دحضرت ابو موسیٰ رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه سفارش کوی تاسو لره به بدله درکولے شی.

د سحر دفاع

[۹۸۲] **الحدیث الثانی** : عن سعد قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ تَصَبَّحَ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً لَمْ يَضُرَّهُ

ذَالِكَ الْيَوْمَ سُمٌّ وَلَا سِحْرٌ . رواه البخاری فی کتاب الطب.

ترجمه : دحضرت سعد رضی الله عنه نه روایت دے وائی چه ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه فرمائیل نے څوك چه د سحرے په نهاره اووه کجهورے عجوه اوخوری ده ته به ضرر نه رسوی په دغه ورځ زهر نه جادو.

فائده : دا عجوه کجهورے که د مدینے منورے وی نو ډیرے بهترے به وی که د بل ښار وی هم صحیح دی.(الصارم البتار)

د معدے صحت د بدن صحت دے

[۹۸۳] **الحدیث الثالث**:عن ابی هریرةؓ قال قال رسول الله ﷺ**المعدة حوض البدن والعروق اليها واردة فاذا صحت المعدة صدرت العروق بالصحة و اذا فسدت المعدة صدرت العروق بالسقم** . اخرجه الطبرانی وقال حدیث حسن (مرقات جـ ۱ صـ ۳٦۸) .

ترجمه : حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی چه معده د بدن حوض دے او رګونه دے ته راغلیدی نو کچرے معده صحیح وی نو رګونه صحیح رطوبات بدن ته پاس کوی (نو انسان جوړوی) اوکه چرے معده خرابه شی نو دا رګونه فاسد رطوبات اندامونو ته پاس کوی (نو انسان بیمار شی او کمزور تیا ورته لاحق شی) .

فائده : حدیث شریف کښ د معدے مثال د حوض سره ورکړے دے که حوض سره ورکړے دے که حوض کښ پاکی او خوږے اوبه وی نو لختو ته به صفا او خوږے اوبه ځی اوکه حوض کښ ګنده اوبه وی نو نالو ته به ګنده اوبه ځی دغه رنګ معده ده که معدے ته خرابه غزا لاړه شی یا د حد نه زیاته غزا لاړه شی نو معده به خرابه شی او رګونو ته به فاسد مواد ځی چه د هغے اثر به په صحت پرے وځی او صحت به خرابه وی اوکه معده صحیح دی نو ټول نظام صحت به ټهیك وی لهذا د معدے خیال ضروری دے علامه طیبی وائی چه حدیث د طبی اصول بطابق تعلیم په ښه کوی ملا علی قاریؒ وائی حدیث کښ د طب نبوی بیان دے په دے طریقه سره چه وئیلے شی افعال د سړی او اقوال او اداب د ده په حساب د خوراك او څخاك د ده دی که داخل شی حرام نو اوځی به حرام اوکه داخل شی فضول نو اوځی به فضول او خوراك تخم د افعالو دے.

د درود ثواب یو په لس دے

[۹۸٤] **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرةؓ انَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ وَاحِدَةً صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ عَشْراً. رواه مسلم.

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی څوك چه

درود شریف په ما باندے یو ځل اووائی . الله تعالیٰ به په ده باندے لس ځله رحمت راولیږی.

په رمضان کښ دعمرے ثواب

[۹۸۵] **الحدیث الخامس** : عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَاِنَّ عُمْرَةً فِیْ رَمَضَانَ حَجَّةٌ . رواه البخاری فی صحیحه.

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بیشك عمره په رمضان کښ حج دے یعنی دحج برابر ثواب ئے دے.

فائده : رمضان مبارك کښ د عباداتو ثوابونه ډیر شی بعض کتابونو کښ لیکلی دی چه د عامو روځو نه پکښ یو په لاکه اضافه اوشی مثلاً روژه کښ یو ځلی "سُبْحَانَ اللّٰهِ" وئیل د عامو روځو په نسبت په یو لاکه حسابیږی.

الدرس الثامن والتسعون بعد المائة ۱۹۸

سفر دعذاب ټکړه ده

[۹۸۶] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلسَّفَرُ قِطْعَةٌ مِّنَ الْعَذَابِ یَمْنَعُ اَحَدَکُمْ طَعَامَهٗ وَشَرَابَهٗ وَنَوْمَهٗ فَاِذَا قَضٰی نَهْمَتَهٗ فَلْیُعَجِّلْ اِلٰی اَهْلِهٖ . رواه البخاری.

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی سفر یو ټکړه د عذاب ده منع کوی یو ستاسو لره د خوراك او څښاك او خوب نه نو کله چه پوره کړی یو ستاسو نه حاجت خپل نو جلدی دِ اوکړی واپسی کښ اهل خپل ته.

فائده : علماء وائی چه اَلسَّفَرُ وَسِیْلَةُ الظَّفَرِ سفر ذریعه د کامیابیے ده خو دے حدیث نه معلومه شوه چه سفر کښ تکالیف وی نو چه ضرورت د پاره سفر اوکړی نو پکار دی چه بیا ضرورت پوره کیدو پسے فوراً وطن اوکلی ته واپس شی.

د برکت د طعام یو سبب

[۹۸۷] **الحدیث الثانی** : عن المقدام بن معدیکرب عَنِ النَّبِیِّ ﷺ کِیْلُوا طَعَامَکُمْ یُبَارَكْ لَکُمْ. رواه البخاری جـ ۱ صـ ۲۷۳ .

ترجمه : حضرت مقدام بن معدیکرب دنبی علیه السلام نه نقل کوی هغوئی فرمائیل چه پیمانه کړی طعام خپل برکت به واچولے شی ستاسو دپاره په هغے کښ.

فائده : علماء وائی چه کله طعام پخه وی نو په ناپ دے راخلی چه څومره ضرورت وی نه په هغه اندازه دے د پوخ کړی چه ضائع نه شی دے کښ به برکت وی.

روژه د عذاب نه ډال دے

[۹۸۸] **الحدیث الثالث** : عن عثمان بن ابی العاص قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الصَّوْمُ جُنَّةٌ مِّنْ عَذَابِ اللّٰهِ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۷۱۸)

ترجمه : دحضرت عثمان بن ابی العاص رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی روژه ډال دے دعذاب دالله نه.

روژه په زړے کښ غنیمت دے

[۹۸۹] **الحدیث الرابع**: عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الصَّوْمُ فِی الشِّتَاءِ اَلْغَنِیْمَةُ الْبَارِدَةُ . حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۷۱۸)

ترجمه : دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی روژه په زړے کښ یخ غنیمت دے یعنی آسان ثواب گټل دی.

فائده : علماء وائی چه د زړے شپے د عبادت د پاره ډیرے موزون دی چه اوگدے وی اوروځے ئے دروژے د پاره ډیرے موزون دی چه لنډے وی نو غنیمت ئے گنړل پکاردی.

روژه او قران به قیامت کښ سفارش کوی

[۹۹۰] **الحدیث الخامس** : عن عبدالله بن عمرو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلصِّیَامُ وَالْقُرْآنُ یَشْفَعَانِ الْعَبْدَ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ یَقُوْلُ الصِّیَامُ اَیْ رَبِّ رَبِّ اِنِّی مَنَعْتُهُ الطَّعَامَ وَالشَّهَوَاتِ بِالنَّهَارِ فَشَفِّعْنِی فِیْهِ وَیَقُوْلُ الْقُرْآنُ مَنَعْتُهُ النَّوْمَ بِاللَّیْلِ فَشَفِّعْنِی فِیْهِ فَیُشَفَّعَانِ . صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۷۲۰)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه روژے او قران شریف به سفارش کوی د بنده دپاره په ورځ د قیامت . وائی به روژه اے ربه ما منع کړے وو ده لره دخوراك او دشهوات نه دورځے نو زما سفارش دده باره کښ قبول کړه اووائی به قران منع کړے وو ما ده لره دخوب نه دشپے نو زما سفارش دده باره کښ قبول کړه نو دواړو سفارش به قبول کړے شی.

الدرس التاسع والتسعون بعدالمائة ۱۹۹

روژه دجنت قلعه ده

[۹۹۱] **الحدیث الاول** : عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلصِّیَامُ جُنَّةٌ وَهُوَ حِصْنٌ مِّنْ حُصُوْنِ الْجَنَّةِ وَکُلُّ عَمَلٍ لِصَاحِبِهٖ اِلَّا الصِّیَامُ یَقُوْلُ اللّٰهُ الصِّیَامُ لِی وَاَنَا اَجْزِی بِهٖ. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۷۲۰)

ترجمه : دحضرت ابو امامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه روژه

ډال دے او دا قلعه ده د قلعګانو دجنت نه او هر عمل دپاره د صاحب خپل دے مګر روژه الله تعالیٰ فرمائی روژه زما دپاره ده اوزه به په هغے (خصوصی) بدله ورکوم.

روژه شهوت دفع کوی

[۹۹۲] **الحدیث الثانی** : عن عبدالله قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنِ اسْتَطَاعَ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ فَإِنَّهُ اَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَاَحْصَنُ لِلْفَرْجِ وَمَنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ الصَّوْمُ فَإِنَّهُ لَهُ وِجَاءٌ. رواه البخاری.

ترجمه : دحضرت عبدالله رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه څوک طاقت لری ستاسو نه دجماع نو نکاح دِ اوکړی . بیشك دا ښکته کونکے د نظر دے او حفاظت کونکے د شرمګاه دے اوڅوك چه دنکاح طاقت نه لری نو روژه دِ اونیسی . بیشك دا ماتونکے دشهوت دده دے.

فائده : یعنی څوك چه د نکاح د لوازماتو یعنی د بی بی د نفقے سکن او جامو طاقت لری نو نکاح دے اوکړے .

روك شوے څیز داور سروټکه ده

[۹۹۳] **الحدیث الثالث** : عن عبدالله بن الشخیر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ حَرْقُ النَّارِ .

صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۷۲۱)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن الشخیر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه روك شوے څیز د مومن داور سروټکه ده.

فائده : مطلب دادے چه دشرعی حکم نه بغیر مومن له روك شوے څیز استعمالول ګناه ده سبب داور د سزا دے او شرعی حکم ئے دادے چه چاته روك شوے څیز ملاؤ شی نو تشهیر به ئے کوی چه مالك ئے پیدا شی که مالك دمناسب تشهیر باوجود پیدا نه شو نو بیا که غریب وی نو خپله به ئے استعمال کړی او که مالدار وی نو فقیر مستحق د زکوة ته دے ورکړی.

د درد دبدن دم

[۹۹٤] **الحدیث الرابع**: عن عثمان بن ابی العاص الثقفی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ضَعْ يَدَكَ عَلَى الَّذِى تَأَلَّمَ مِنْ جَسَدِكَ وَقُلْ بِسْمِ اللّٰهِ ثَلَاثًا وَقُلْ سَبْعَ مَرَّاتٍ اَعُوْذُ بِعِزَّةِ اللّٰهِ وَقُدْرَتِهِ مِنْ شَرِّ مَااَجِدُ وَاُحَاذِرُ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۷۲۲)

ترجمه : دحضرت عثمان بن ابی العاص ثقفی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کیده لاس په هغه ځائے چه درد کوی ستا د بدن نه او اوایه درے ځله بسم الله او اووه ځله اوایه اعوذبعزة الله وقدرته من شر مااجد واحاذر.

پناه غواړم په عزت دالله او په قدرت دهغه باندے د شر دهغے نه چه ځه ئے محسوسوم او ځه

ترے یریگم.

فائده : دے حدیث شریف کښ د درد یوه مجربه دعا ذکر شوه چه هغه د بدن په هره حصه کښ وی چاته تکلیف وی نو فائده دے ترے واخلی .ابن القیمؒ وائی چه د درد د دفع د پاره سورة الفاتحه لوستل او د درد په ځائے دم کول ډیر لوئے تاثیر لری او هغوی وائی چه په دے ځما ډیره تجربه شوے ده لهذا د هغوئی د تجربے نه هم فائده اغستل پکار دی دارنګ ابن قیمؒ وائی چه سورة فاتحه د زمزم په اوبو دم کول او هغه څکل هم ډیر مفیددی.

د میلمستیا مقدار

[۹۹۵] **الحدیث الخامس** : عن ابن مسعود قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلضِّيَافَةُ ثَلَاثَةٌ فَمَا زَادَ فَهُوَ صَدَقَةٌ وَكُلُّ مَعْرُوفٍ فَهُوَ صَدَقَةٌ . صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۷۲۹)

ترجمه : دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی میلمستیا درے ورځے ده درے ورځو نه چه زیاتی شی هغه خیرات دے او هر نیك کار صدقه ده.

الدرس المأتان ۲۰۰

درے اعمال د خوشخبری اسباب

[۹۹۶] **الحدیث الاول** : عن ثوبان قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ طُوْبٰى لِمَنْ مَلَكَ لِسَانَهُ وَوَسِعَتْهُ بَيْتُهُ وَبَكٰى عَلٰى خَطِيْئَتِهِ . حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۷۲۹)

ترجمه : دحضرت ثوبان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی خوشحالی ده دهغه چا دپاره چه ژبه ئے قابو کښ وی او ځائے ورکړی هغه لره کور دهغه او اوژاړی هغه په ګناه خپله باندے.

د استغفار فضیلت

[۹۹۷] **الحدیث الثانی** : عن عائشة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ طُوْبٰى لِمَنْ وَجَدَ فِيْ صَحِيْفَتِهِ اِسْتِغْفَارًا كَثِيْرًا . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۷۲۹)

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی خوشی ده دهغه چا دپاره چه بیا مومے په خپله صحیفه کښ استغفار ډیر.

د کور صفائی

[۹۹۸] **الحدیث الثالث** : عن سعد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ طَهِّرُوْا اَفْنِيَتَكُمْ فَاِنَّ الْيَهُوْدَ لَا تُطَهِّرُ اَفْنِيَتَهَا . حسن (الجامع ج. ۲ صـ ۷۳۰)

ترجمه : حضرت سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه پاك کړی غولے د کورونو خپلو پس بیشك یهود نه پاکوی خپل غولی.

د خلے د پاکولو اهتمام دپاره د قران

[۹۹۹] **الحدیث الرابع** : عن سمرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ طَيِّبُوا اَفْوَاهَكُمْ فَاِنَّهَا طُرُقُ الْقُرْآنِ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۷۳۰)

ترجمه : د سمره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه پاکے کړی خولے خپلے ځکه چه دا لارے دقرآن دی . یعنے دقرآن الفاظ په دیکښ وئیلے شی.

فائده : ذکر او تلاوت ته خله پاك کول ضروری دی ځکه دا دواړه الله تعالی ته ډیر خوښ دی نو خله کښ مسواك وهل او کنګالول پکار دی دے نه علاوه که خله کښ لاچی او نیسی یا بل څه خوشبو استعمال کښ نو بهتره به وی ځکه علماء وائی چه خوشبو ته فرشتے راجمع کیلای.

لونړه محروم کول لوئے جرم دے

[۱۰۰۰] **الحدیث الخامس** : عن جابر بن عبدالله قَالَ جَاءَ تِ اِمْرَاَةُ سَعْدِ بْنِ الرَّبِيْعِ بِابْنَتِهَا مِنْ سَعْدٍ اِلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَتْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ هَاتَانِ ابْنَتَا سَعْدِ بْنِ الرَّبِيْعِ قُتِلَ اَبُوْهُمَا مَعَكَ يَوْمَ اُحُدٍ شَهِيْدًا وَاِنَّ عَمَّتَهُمَا اَخَذَ مَالَهُمَا فَلَمْ يَدَعْ لَهُمَا مَالًا وَلَا تُنْكَحَانِ اِلَّا وَلَهُمَا مَالٌ قَالَ يَقْضِيْ اللّٰهُ فِيْ ذَالِكَ فَنَزَلَتْ اٰيَةُ الْمِيْرَاثِ فَبَعَثَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِلٰى عَمِّهِمَا فَقَالَ اَعْطِ اِبْنَتَيْ سَعْدٍ الثُّلُثَيْنِ وَاَعْطِ اُمَّهُمَا الثُّمُنَ وَمَا بَقِيَ فَهُوَ لَكَ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه احمد وابوداؤد وابن ماجه .(تحفة الاحوذی جـ ٦ صـ ٢٦٤)

ترجمه : دجابر بن عبدالله ؓ نه روایت دے چه راوستلے ښځے د سعد بن الربیع دوه لوریانے رسول الله ﷺ ته وے وئیل دالله رسوله دا دواړه دسعد لوریانے دی ددوی پلار تاسره په احد کښ شهید شوے دے او ددوی تره ددوی مال اغستلے دے او دوی ته ئے څه مال پریښودلے نه دے او دوی به څوك بغیر دمال نه په نکاح وانه خلی نو هغوی اوئیل چه الله تعالیٰ به دے باره کښ فیصله اوکړی نو نازل شو ایت دمیراث نو اولیګلو رسول الله ﷺ تره ددغه جینکو ته چه ورکړه لوریانو د سعد ته دوه دریمے او مور دهغوی ته اتمه حصه او چه باقی پاتے شی هغه ستاشو یعنی دسعد مال څلیریشت حصے کړه شپاړس لوریانو ته ورکړه او درے ښځے دسعد ته ورکړه او پنځه ته واخله .

فائده : ډیر خلق لوریانے په ژوند محرومه کړی ټول مال ځامنو ته ورکړی دا هم لوئے ظلم دے او بعض خلق دپلار د مرګ نه روستو دپلار په مال کښ لونړو ته حق ورنه کړی بلکه په حق غوستلو ورسره دشمنی کوی دادمخکښ نه هم زیات ظلم دے چه دهغوی شرعاً ثابت حق غصب کړی.

الدرس الواحد بعد المأتين ﴿۲۰۱﴾

ممبری کښ احتیاط

[۱۰۰۱] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْفَرَائِضُ اَوَّلُهَا مَلَامَةٌ وَاٰخِرُهَا نَدَامَةٌ وَالْعَذَابُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ . (الجامع جـ ۲ صـ ۷۴۹).

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه ممبری اول کښ ملامتیا ده اخری کښ پښیمانتیا ده او عذاب دے په ورځ دقیامت.

فائده : د مشری مطالبه او شوق ښه نه دے دے حدیث نه ښکاره واضحه شوه چه مشری دنیا او اخرت کښ د تاوان سبب دے البته که بغیر د مطالبے او د چاهت نه د انسان په سر مسلطه شی او دے په دے کښ احتیاط کوی نو امید دے چه الله تعالی ئے مدد اوکړی.

د بدنظری نقصان

[۱۰۰۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی ذر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْعَيْنُ تُدْخِلُ الرَّجُلَ الْقَبْرَ وَتُدْخِلُ الْجَمَلَ الْقِدْرَ . حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۷۶۱).

ترجمه : دحضرت ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بدنظری ننه باسی سړی لره قبر ته او اوښ لره کتوی ته.

قرض دوصیت نه مخکښ دے

[۱۰۰۳] **الحدیث الثالث** : عن علیؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَضٰى بِالدَّيْنِ قَبْلَ الْوَصِيَّةِ . رواه الترمذی وقال العمل علی هذا الحدیث عند اهل العلم واخرجه ابن ماجه والحاکم (تحفة جـ ۶ صـ ۴۲۷).

ترجمه : دحضرت علیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فیصله کړے ده دقرض ورکولو مخکښ دوصیت پوره کولو نه.

فائده : ترکه دمړی سره څلور حقونه بالترتیب وابسته دی اول کفن دفن دویم قرض دریم وصیت څلورم حقدارو وارثانو کښ تقسیم.دے حدیث کښ دا واضح کړه او په دے د امت اجماع هم ده چه د فرض ادائیګی په وصیت مخکښے ده اګر چه د څه مصلحت په بنیاد قرآن شریف وصیت په دَین مخکښے کړے دے .

د نفع یو تدبیر

[۱۰۰۴] **الحدیث الرابع** : عن ابی سعید الخدری قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِیْ اَحَدِ جَنَاحَیِ الذُّبَابِ سُمٌّ وَفِی الْاٰخَرِ شِفَاءٌ فَاِذَا وَقَعَ فِی الطَّعَامِ فَامْقُلُوْهُ فِيْهِ فَاِنَّهُ يُقَدِّمُ السُّمَّ وَيُؤَخِّرُ الشِّفَاءَ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۷۷۹)

ترجمه : دحضرت ابوسعید الخدری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه په یو وزر دمچ کښې زهر دی او په بل کښې شفاء ده نو کله چه واقع شی (اوغورځیږی) په طعام کښې نو غوپه ورکړی، بیائے لږے کړی، ځکه دے زهر مخکښې کوی او شفا روستو کوی.

فائده : دے حدیث شریف کښې دیوے مفیدے خبر حکم دے چه مچ کله په څه کښې پرے وځی نو دے بیمارے والا وزر ښکته کوی بل پورته کوی نو تاسوئے غوپه کړئی چه دوائی والا وزر هم په څیز کښې ورشی چه تاسوته د بیمارے نه حفاظت حاصل شی دے ته ارشادی امر وائی د فائدے خبره ده فرض واجب نه ده علماء دا هم وائی چه ډیر گرم څیز کښې به غوپه نه ورکوی.

دورځے ابتداء کښې دځلورو رکعتونو فضیلت

[۱۰۰۵] **الحدیث الخامس** : عن النواس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَابْنَ آدَمَ لَا تَعْجِزْ عَنْ اَرْبَعِ رَكَعَاتٍ فِيْ اَوَّلِ النَّهَارِ اَكْفِكَ فِيْ اٰخِرِهٖ. صحیح (الجامع ج ۲ ص ۸۰۰)

ترجمه : دحضرت نواس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی اے د آدم ځویه پاتے رانه شے دځلور رکعاتو نه په اول دورځے کښې کافی به شم څه تالره په آخر دورځے کښې.

فائده : مطلب دادے څه به ددے څلورو رکعاتو په بدل کښې ستا توله ورځ مدد اوکړم او حفاظت به دِ اوکړم.

الدرس الثانی بعد المأتین ﴿۲۰۲﴾

رسول الله ﷺ به تصویر والا کمرے ته نه داخلیدو

[۱۰۰۶] **الحدیث الاول** :عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ ، اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمَّا رَاَى الصُّوَرَ فِي الْبَيْتِ لَمْ يَدْخُلْ اَمَرَ بِهَا فَمُحِيَتْ ، وَرَاَى اِبْرَاهِيْمَ ، وَاِسْمَاعِيْلَ بِاَيْدِيْهِمَا الْاَزْلَامُ ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ :قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ ، وَاللّٰهِ مَا اسْتَقْسَمَا بِالْاَزْلَامِ قَطُّ .

رواه البخاری : رقم : ۳۱۲۷

ترجمه : حضرت بن عباسؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ کله بیت الله کښې دننه تصویرونه اولیدلو نو پیغمبر ﷺ هغه وخته پورے داخل نه شو کوم وخته پورے چه هغه نه ډوروان شوے او اولیدل پیغمبر ﷺ ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام چه په لاس د هغوئی کښې غشی ډو نو پیغمبر علیه السلام اوفرمائیل دوئی الله تباه کړه دے دواړو پیغمبرانو هیڅرے تقسیم په غشو نه دے کړے.

فائده : دے حدیث نه معلومه شوه چه په کومه کمره کښې به تصویر ډو هغے ته به پیغمبر

علیه السلام نه داخلیدو دا مضمون نورو احادیثو کښی هم راغلے دے د دے وجے نه فقهاء
وائی چه داسے کمرے ته چه په هغے کښی تصویر وی داخلیدل مکروه دی .

فضیلت ددعاء بعد المجلس

[۱۰۰۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی برزة الاسلمی قَالَ كَانَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ بِاٰخِرَةٍ إِذَا أَرَادَ اَنْ يَّقُوْمَ مِنَ الْمَجْلِسِ " سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ اَنْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوْبُ اِلَيْكَ " فَقَالَ رَجُلٌ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ اِنَّكَ لَتَقُوْلُ قَوْلًا مَا كُنْتَ تَقُوْلُهُ فِيْمَا مَضٰى قَالَ كَفَّارَةٌ لِمَا يَكُوْنُ فِى الْمَجْلِسِ . اخرجه ابن ابی شیبه وابوداؤد والنسائی والحاکم وابن مردویه. " الدرالمنثور جـ ۷ صـ ٦٣٧ ، (اسناده حسن صحیح . سنن ابی داؤد جـ ۱۰ صـ ۳۵۹)

ترجمه : حضرت ابوبرزة الاسلمی رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ به دمجلس په اخر کښی داودریدو په وخت کښی دا دعا وئیله. سبحنك اللهم .... الخ . نو یوسړی ورته اوئیل : چه اے دالله رسوله تاسو داسے کلمات وائی چه دا به تاسو مخکښی نه وئیل ؟پیغمبر پاك ﷺ ورته اوئیل چه دا کفاره ده دهغے گناهونو چه مجلس کښی سړی نه اوشی.

سورت قٓ د صبا مونځ کښی لوستل ثابت دی

[۱۰۰۸] **الحدیث الثالث** :عن قُطْبَةَ بن مالِكٍ قَالَ : سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقْرَأُ فِى الْفَجْرِ : وَالنَّخْلَ بَاسِقَاتٍ . (اسناده صحیح . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ۱۸۹۰۳).

ترجمه : حضرت قطبه بن مالكؓ نه روایت دے هغه وائی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدل چه د صبا په مانځ کښی " والنخل باسقات" [سورت قٓ] لوستلو .

فائده : رسول الله ﷺ سورت قٓ د صبا په مونځ کښی لوستل په روایاتو کښی ثابت دے دارنگے د جمعے په خطبه او په مونځ کښی هم د سورت قٓ لوستل ثابت دی ، یو زنانه وائی چه ما سورت قٓ د رسول الله ﷺ د خلے نه یاد کړے دے چه هغوئی به د جمعے په خطبه کښی لوستلو ځمونږ او د رسول الله ﷺ تنور یو ؤو .

د جنت دنعمتونو بیان

[۱۰۰۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرة رضی الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِيْنَ مَا لَا عَيْنٌ رَاَتْ وَلَا اُذُنٌ سَمِعَتْ وَلَا خَطَرَ عَلٰى قَلْبِ بَشَرٍ. اخرجه ابن ابی شیبه واحمد وهناد كلاهما فی الزهد والبخاری ومسلم والترمذی. " الدرالمنثور جـ ۷ صـ ٥٤٩).

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه الله جل شانه وائی چه ما دخپلو نیکانو بندګانو دپاره هغه نعمتونه تیارکړی دی چه نه سترګو لیدلے دی او نه غوږونو اوریدلی دی او نه دیو بشر په زړه کښی تیر شوی دی.

فائده : په دے حدیث کښ ترغیب دے چه نیك اعمال اوکړی ځکه چه د جنت نعمتونه د نیك عمل کونکو دپاره دی او یاد لرئ نیك عمل هغه دے چه د شریعت د دلائلو نه ثابت وی .

د لارے نه ضرری څیز د لرے کولو ثواب

[۱۰۱۰] **الحدیث الخامس :** عنْ ابی برزةَ الْاَسْلَمِی قال : قلتُ : یا رسولَ الله ! دُلّنی علٰی عَمَلٍ یُدخِلُنی الْجَنَّةَ ، قَالَ اَمِطِ الْاَذٰی عَنْ طَرِیقِ النَّاسِ. صحیح . (صحیح الادب المفرد جـ ۱ صـ ۱۰۳)

ترجمه : حضرت ابی برزة الاسلمیؓ نه روایت دے چه ما اوئیل اے د الله رسوله ماته یو عمل اوخایه چه ما جنت ته بوځی هغه اوفرمائیل چه ضرری څیز د لارے نه لرے کړه .

الدرس الثالث بعد المأتین ﴿۲۰۳﴾

د دعا دنه قبلیدو یو سبب

[۱۰۱۱] **الحدیث الاول :** عن حذیفة بن الیمانؓ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ وَالَّذِی نَفْسِی بِیَدِهٖ لَتَاْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوْفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْکَرِ اَوْلَیُوْشِکَنَّ اللّٰهُ اَنْ یَّبْعَثَ عَلَیْکُمْ عِقَاباً مِنْهُ فَتَدْعُوْنَهُ فَلَا یَسْتَجِیْبُ لَکُمْ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن واخرجه ابن ماجه .(تحفه جـ ٦ صـ ۳۲۵)

ترجمه : د حضرت حذیفهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی قسم دے په هغه ذات چه روح ځما دهغه په لاس کښ دے چه خامخا به امر بالمعروف کوی او نهی عن المنکر به کوی او یا به راولیږی الله تعالیٰ په تاسو باندے عذاب بیا به دعاګانے کوی او نه به قبلیږی.

فائده : د حدیث شریف حاصل دادے چه دنیکو امر کوئ او بدو نه خلق بندوئ ګنی عذاب به راشی او بیا به ستاسو دعاګانے نه قبلیږی چه عذاب پورته شی نو د امر بالمعروف او نهی عن المنکر دعوت ضروری دے.

د جماعت سره مونځ الله ډیر خوښوی

[۱۰۱۲] **الحدیث الثانی :** عن عمرؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ اِنَّ اللّٰهَ تَبَارَکَ وَتَعَالٰی لَیَعْجَبُ مِنَ الصَّلٰوةِ فِی الْجَمْعِ . رواه احمد باسناد حسن.

ترجمه : حضرت عمر رضی الله عنه نه نقل دی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی فرمائیل ئے " چه الله تبارك وتعالیٰ (زیات) خوښوی دمانځه نه هغه چه په جمع سره وی.

فائده : نو دالله تعالیٰ راضی کولو دپاره او دهغه دخوشحاله کولو دپاره هر فرض مونځ په جمع سره کول ضروری دی.

جماعت چه څومره ځمیرې ثواب نسي ډیریږي

[١٠١٣] **الحديث الثالث**: عَنْ ثَابِتٍ اَنِ اذَجَّ الْمُزَنِي رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ صَلٰوةُ الرَّجُلَيْنِ يَؤُمُّ اَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ اَزْكٰى عِنْدَاللّٰهِ مِنْ صَلٰوةِ اَرْبَعَةٍ تَقْرٰى وَصَلٰوةُ اَرْبَعَةٍ يَؤُمُّ اَحَدُهُمْ اَزْكٰى عِنْدَاللّٰهِ مِنْ صَلٰوةِ مِائَةٍ تَقْرٰى . اخرجه البزار والطبراني بسند لابأس به . (المنتقى جـ ١ صـ ٩٨)

ترجمه : حضرت ثابت رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه مونځ د دوو سړو چه امامت ورکړی یوبل ملګری خپل ته بهتر دی دمونځ دځلورو کسانو نه چه ځان ځان له نسے اوکړی او مونځ دځلورو په جمع سره بهتر دے د مونځ داتو کسانو نه چه ځان ځان له نسے اوکړی او مونځ داتو کسانو چه یو ورته جمع اوکړی بهتردے دمونځ دسلو کسانو نه چه ځان ځان له مونځ اوکړی.

فائده : مطلب دحدیث دادے چه جمع څومره ډیریږی هغه هومره ثواب زیاتیږی . ددے وجے غټه جمع کښ د شرکت اهتمام پکار دے ، پښتانه وائی شریت کښ چه څومره کوړه اچوی هغه اومره خوږیږی .

دکربوړی وژل

[١٠١٤] **الحديث الرابع** :عن سعد قَالَ اَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِقَتْلِ الْوَزَغِ وَسَمَّاهُ فُوَيْسِقاً. صحيح رواه ابوداؤد جـ٢ صـ ٣٦٧.

ترجمه : حضرت سعدؓ وائی چه رسول الله ﷺ امر اوکړو په وژلو د کربوړی او دے ته نسے نوم کینبودو روانکارے.

فائده رسوه فائده به مومی

[١٠١٥] **الحديث الخامس** : عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِسْمَحْ يُسْمَحْ لَكَ. صحيح (الجامع جـ ١ صـ ٢٢٩)

ترجمه : حضرت ابن عباسؓ نه نقل دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بل سره نرمی کوه تاسره به نرمی کیږی.

فائده : دا خبره دګنړو روایاتو نه معلومیږی چه د مخلوق نه د خیر اود احسان طمع کوی نو د وسع مناسب احسان کوه څومره چه ته احسان او نیکی د بل سره کوی هم هغه اومره به تاته بنه صله ملاویږی ، پښتانه وائی پرق د یو لاسه نه حیژی او وائی چه بنه کوی بنه به مومی.

الدرس الرابع بعد المأتين ﴿۲۰۴﴾

اوچو سره لامده سوزی

[۱۰۱۶] **الحدیث الاول** عن زینب قالت قلت یارسول اللّٰہ أنهلك وفینا الصالحون قال نعم إذا كثر الخبث. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه البخاری ومسلم والنسائی وابن ماجه (تحفه ج ۶ ص ۳۵۲)

ترجمه : دحضرت زینب نه روایت دے چه ما تپوس اوکړو دالله د رسول نه چه آیا مونږه به هلاك کیږو او حال دادے چه په مونږ کښ به نیکان وی نو هغوی اوفرمائیل او کله چه بدعملی ډیره شی.

فائده : حاصل دحدیث شریف دادے چه بدعملی دیر سپیره ځیز دے کوم ځائے چه ډیره شی هغه ځائے کښ به عذاب راځی نیك بد ټولو ته به شامل وی بیا حساب کتاب به دهر یو جدا وی پښتانه وائی آخرت کښ به ځان ځانی وی.

دسورة بقرے فضیلت او د جادو نه حفاظت

[۱۰۱۷] **الحدیث الثانی** : عن بریدة قال قال رسول اللّٰہ ﷺ تعلموا سورة البقرة فإن أخذها برکة وترکها حسرة ولا تستطیعها البطلة. اخرجه الحاکم وصححه. صحیح. (الدرالمنثور ج ۱ ص ۴۸)

ترجمه : حضرت بریده نه روایت دے هغه وائی رسول الله ﷺ وئیلے دی " زده کړی سورة البقره بے شك حاصلول ددے برکت دے او پرے خودل ددے سبب دحسرت دے او طاقت نه لری ددے ساحران.(جادوگران)

فائده : مطلب دادے چه ددے لوستلو سره دانسان په هرځیز کښ خیراوبرکت راځی او ددے لوستل دسحر(جادو) نه دحفاظت دپاره یو زبردسته قلعه ده.

دسورة بقرے د لوستلو فائده

[۱۰۱۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرة قال قال رسول اللّٰہ ﷺ إن لکل شیء سنامًا وإن سنام القرآن البقرة وفیها اٰیة هی سیدة ای القرآن " اٰیة الکرسی" لا تقرأ فی بیت فیه شیطان إلا خرج منه. اخرجه الحاکم وصححه. " الدرالمنثور ج ۱ ص ۵۲)

ترجمه : حضرت ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی : چه رسول الله ﷺ وئیلے دی " بے شك دهر شی دپاره یو قلب دے او قلب دقرآن شریف سورة البقره ده او په دے کښ یو آیة دے چه هغه سردار دایتونو دقرآن دے هغه اٰیة الکرسی ده. نه شی لوستلے په یو کور کښ سورة البقره مگر شیطان تختی دهغے کورنه "

فائده :دے حدیث شریف نه معلونه شوه چه په کوم کور کښې جنات شرارت کوی هغے کښې کثرت سره سورت بقره لوستل پکار دی ۔

د دعا قبولیت یو اهم وخت

[۱۰۱۹] **الحدیث الرابع**: عنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ قَالَ : دَعَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِی هٰذَا الْمَسْجِدِ مَسْجِدِ الْفَتْحِ ، يَوْمَ الاِثْنَيْنِ وَ يَوْمِ الثُّلاثَاءِ وَ يَوْمَ الأَرْبِعَاءِ فَاسْتُجِيْبَ لَهُ بَيْنَ الصَّلاتَيْنِ مِنْ يَوْمِ الأَرْبِعَاءِ . قَالَ جَابِرٌ وَلَمْ يَنْزِلْ بِی اَمْرٌ مُهِمٌّ غَائِظٌ اِلا تَوَخَّيْتُ تِلْكَ السَّاعَةَ ، فَدَعَوْتُ اللّٰه فِيْهِ بين الصلاة يَوْمَ الأَرْبِعَاءِ فِی تِلْكَ السَّاعَةِ ، اِلا عَرَفْتُ الاِجَابَةَ . حسن (صحیح الادب المفرد جـ ۱ صـ ۲۶۲) .

ترجمه : حضرت جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه دعا اوکړه رسول الله ﷺ په دے مسجد کښې چه مسجد فتح دے ورځ د خالی او په ورځ د نهے او په ورځ د چارشنبے نو قبوله شوه دعا د ده په مینځ د دوو مونځونو (ماسپخین او مازیګر) کښې په ورځ د چارشنبے جابرؓ وائی چه نه دے راغلے په ما باندے یو ضروری کار مګر ما قصد کړے دے دغه وخت او الله نه مے دعا غوستلے ده په مینځ د دواړو مونځونو کښې په ورځ د چارشنبے نو ما قبولیت پیژندلے دے (یعنی ځما ضرورت پوره شوے دے).

الله تعالیٰ به خپله اراده کښې د چا محتاج نه دے

[۱۰۲۰] **الحدیث الخامس**:عن حذیفة بن الیمان عن النبی ﷺ قَالَ : لَاتَقُوْلُوا مَاشَاءَ اللّٰهُ وَشَاءَ فُلَانٌ قُوْلُوا مَاشَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ .((صحیح)) .مسند احمد ط الرسالة جـ ۳۸ صـ ۳۹۶ .

ترجمه : حضرت حذیفة بن الیمان دنبی کریم ﷺ نه نقل کوی هغوی فرمائیلے دی چه داسے مه وائی. چه الله تعالیٰ اوغواړی او فلانکے .داسے وائی. چه الله اوغواړی او بیا فلانکے ،

فائده : یعنی په نسبت د مشیت کښې به دالله سره څوک نه برابره وے داګناه ده.

الدرس الخامس بعد المأتين ۲۰۵

جنت او جهنم نه دنیا ته راځی

[۱۰۲۱] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرة قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ ؟ قَالَ تَقْوَى اللّٰهِ وَحُسْنُ الْخُلُقِ، وَسُئِلَ مَا اَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ؟ قَالَ اَلاَجْوَفَانِ . اَلْفَمُ وَالْفَرْجُ. اخرجه احمد والبخاری فی الادب والترمذی وصححه .(الدرالمنثور جـ ۱ صـ ۵۳۲)

ترجمه : حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه تپوس اوشو درسول الله ﷺ نه چه څه شے دے چه ډیر ننه باسی خلق جنت ته؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه تقوی دالله او خائسته

خوئی او تپوس اوشو دهغوی نه چه څه څیز دے چه ډیر خلق ننه باسی اورته نو وے فرمائیل چه دوه خالی څیزونه یعنی خُله او شرمگاه.

په سفر تلونکی ته دعا او وصیت دنبی ﷺ

[۱۰۲۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ يُرِيْدُ سَفَراً فَقَالَ أَوْصِنِیْ قَالَ أُوْصِيْكَ بِتَقْوَى اللّٰهِ وَالتَّكْبِيْرِ عَلٰى كُلِّ شَرَفٍ فَلَمَّا مَضٰى قَالَ اَللّٰهُمَّ أَزْوِ لَهُ الْبُعْدَ وَهَوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ. اخرجه الترمذی وحسنه والنسائی وابن ماجه والحاکم وصححه. الدرالمنثور جـ ۱ صـ ۵۳۳.

ترجمه : حضرت ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ ته یو سړے راغے چه اراده ئے دسفر وه پیغمبر ﷺ ته ئے اویل چه ماته وصیت اوکړه نو رسول الله ﷺ ورته اوئیل چه وصیت کوم تاته په تقوی سره او په تکبیر وئیلو سره په هر اوچت ځائے چه خیجے نو کله چه دغه سړے روان شو نو پیغمبر ﷺ اوفرمائیل " اَللّٰهُمَّ اَزْوِ لَهُ الْبُعدُ " اے الله لرے والے ده ته راغوند کړے " وهوِّن عَلَيْهِ السَّفَرَ" او په ده باندے سفر آسان کړے.

فائده : مسنون طریقه ده چه مسافر رخصت کوے نو دا دعا ورته درخصت کولو په وخت کښ وائی. " اللهم أَزْوِ لَهُ الْبُعْدَ وهوِّنْ عَلَيْهِ السَّفَرَ "

دحرامو په پریښودو خانسته بدل

[۱۰۲۳] **الحدیث الثالث**: عن رجل من اصحاب النبی ﷺ قَالَ قَالَ النَّبِیُّ ﷺ إِنَّكَ لَنْ تَدَعَ شَيْئًا اِتِّقَاءَ اللّٰهِ إِلَّا اَعْطَاكَ اللّٰهُ خَيْرًا مِنْهُ. اخرجه احمد والبغوی فی معجمه والبیهقی فی شعبه. (الدرالمنثور جـ ۱ صـ ۵۳۲، ورجال احمد رجال الصحیح. المقاصد الحسنة جـ ۱ صـ ۱۹٤).

ترجمه : یوسړے داصحاب دنبی ﷺ نه وائی چه پیغمبر ﷺ فرمائیلے دی چه ته نه پریگدے یو څیز دوجے دیرے دالله نه مگر الله تعالیٰ به تاته درکړی بهتر دهغے نه.

فائده : په دے حدیث کښ د دے خبرے بیان دے چه الله تعالی ډیر غیرتی دے څوك چه د الله تعالی د رضا دپاره یو څیز چه حرام او ناجائز وی پریگدی نو الله تعالی به ده ته ډیره زیاته څو چنده بدله ورکړی د لوټ میدان دے فائدے ترے اغستل پکار دی.

په سفر تلونکی ته توشه

[۱۰۲٤] **الحدیث الرابع** : عن انس قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّی اُرِيْدُ سَفَراً فَزَوِّدْنِیْ فَقَالَ زَوَّدَكَ اللّٰهُ التَّقْوٰى قَالَ : زِدْنِی قَالَ وَغَفَرَ ذَنْبَكَ قَالَ زِدْنِی بِاَبِیْ وَاُمِّیْ. قَالَ : وَيَسَّرَ لَكَ الْخَيْرَ حَيْثُمَا كُنْتَ . اخرجه الترمذی و قال هذا حدیث حسن غریب ورواه الحاکم. الدرالمنثور جـ ۱ صـ ۵۳۳.

ترجمه : حضرت انسؓ وائی یو سړے راغے نو وے وئیل یا رسول الله زه اراده دسفر کوم ماسره

اَلْعَدَنِي عَلَى حِجْرِهٖ ، وَمَسَحَ عَلَى رَاسِي . صحيح الاسناد (صحيح الادب المفرد ج ١ ص ١٤٧)

ترجمه : حضرت یوسف بن عبد الله بن سلام نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مانه یوسف نوم کیخودو اوزه ئے غیګ کښ کینولمه او ځما په سر ئے لاس راخکلو .

دغازی اجر په کلی ګټل

[١٠٢٨] **الحديث الثالث** : عن ابی سعيد الخدری اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بَعَثَ اِلٰى بَنِى لِحْيَانَ لِيَخْرُجَ مِنْ كُلِّ رَجُلَيْنِ رَجُلٌ ثُمَّ قَالَ لِلْقَاعِدِ اَيُّكُمْ خَلَفَ الْخَارِجَ فِىْ اَهْلِهٖ فَلَهٗ مِثْلُ اَجْرِهٖ . اخرجه مسلم و ابو داود

ترجمه : حضرت ابو سعید خدری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ بنولحیان ته پیغام اولیګلو چه لار د شی دهرو دوو سړو نه یو سړے په لار دالله کښ بیا اوفرمائیل په باره د ناست کښ چه کوم یو ستاسو نه دالله په لار کښ دوتلی کس دکور دضروریاتو خیال اوساتی ده لره به الله د غازی داجر برابر اجر ورکړی.

د الله د رحمت مستحق

[١٠٢٩] **الحديث الرابع** : عن سهل بن حنيف اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ اَعَانَ مُجَاهِدًا فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَوْ غَارِمًا فِىْ عُسْرَتِهٖ اَوْ مُكَاتَبًا فِىْ رَقَبَتِهٖ اَظَلَّهُ اللّٰهُ فِىْ ظِلِّهٖ يَوْمَ لَا ظِلَّ اِلَّا ظِلُّهٗ . اخرجه احمد و الحاكم و البيهقى . وقال حمزة الزين اسناده حسن .

ترجمه : حضرت سهل بن حنیف نه روایت دے چه یقیناً رسول الله ﷺ فرمائیلے دی " څوك چه امداد اوکړی دمجاهد په لار دالله کښ یا د قرضداری په تنګدستی کښ یادمکاتب په ازادولو دځت کښ سورے به ورکړی الله ده لره په خپل سوری کښ په هغه ورځ چه نه به وی سورے سوا دسوری هغه نه چه الله ئے ورکړی.

دالله تعالیٰ د نوم د واسطے خیال ضروری دے

[١٠٣٠] **الحديث الخامس** : عن ابی سعيد المقبری مرسلا قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا ذُكِّرْتُمْ بِاللّٰهِ فَانْتَهُوْا . حسن (الجامع ج ١ ص ١٥٥)

ترجمه : د حضرت ابو سعید المقبری نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه تاسو ته (دیو کار نه منع کولو دپاره) دالله تعالی واسطه درکړے شی نو منع شی.

فائده : د حدیث شریف مطلب دا دے چه یو سړے تاته اوائی چه الله تعالی ته اوکوره دا کار مه کوه نو چه هغه کار شرعاً ضروری نه وی نو د الله تعالی د نوم خیال اوکړه هغه مه کوه.

الدرس السابع بعد المأتين ﴿۲۰۷﴾

د مجاهد سره امداد او دجومات جوړولو فضیلت

[۱۰۳۱] **الحدیث الاول** : عن عمر بن الخطاب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ " مَنْ أَظَلَّ رَأْسَ غَازٍ أَظَلَّهُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَمَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ فَلَهُ مِثْلُ اَجْرِهٖ وَمَنْ بَنٰى مَسْجِداً لِلّٰهِ يُذْكَرُ فِيْهِ اسْمُ اللّٰهِ بَنَى اللّٰهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ. وصححه و البيهقي . الدرالمنثور جـ ۲ صـ ۳۹.

ترجمه : حضرت عمر بن الخطاب رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی ." چه چا سورے اوکړو په سر دغازی نو سورے به اوکړی دده په سر په ورځ دقیامت او څوك چه سامان ورکړی غازی له په لار د الله کښ نو ده دپاره اجر دے په شان دمجاهد او څوك چه جوړ کړی جومات چه یادیگی په هغے کښ نوم دالله نو جوړ به کړی د ده دپاره کور په جنت کښ.

په حج کښ دمال لګولو فضیلت

[۱۰۳۲] **الحدیث الثانی** : عن بريدة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ " اَلنَّفَقَةُ فِي الْحَجِّ كَالنَّفَقَةِ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ اَلدِّرْهَمُ بِسَبْعِمِائَةٍ ضِعْفٍ . اخرجه الطبراني في الاوسط واحمد والبيهقي في سننه. و مثله عن ابي بكر في مصنف ابن شيبة في باب ماقالوا في ثواب الحج جـ ۳ صـ ۱۲۲ ، واسناده حسن لغيره مسند احمد ارسالة جـ ۳۸ صـ ۱۰۶.

ترجمه : حضرت بریده وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی نفقه په حج کښ پشان د نفقے ده په جهاد کښ یو درهم په اووه سوه دراهمو باندے قبلیگی..

په لار دالله تعالی کښ د عباداتو مقام

[۱۰۳۳] **الحدیث الثالث** : عن معاذ بن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الصَّلٰوةَ وَالصِّيَامَ وَالذِّكْرَ تُضَاعِفُ عَلَى النَّفَقَةِ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ سَبْعَ مِائَةِ ضِعْفٍ. اخرجه ابوداؤد والحاكم وصححه.

ترجمه : حضرت معاذ بن انس رضی الله عنه وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی " بے شك مونځ روژه ذکر زیات دی په ثواب کښ په خرچ دجهاد باندے په اوه سوه چنده دے.

د جامے کول کجرے هغه د تکبر نه به امن وی جائز دی

[۱۰۳۴] **الحدیث الرابع** : عن ابی هريرة ، أن النبی ﷺ قال: نِعْمَ الرَّجُلُ ابو بكرٍ ، نِعْمَ الرَّجُلُ عُمَرُ، نِعْمَ الرَّجُلُ ابو عبيدة ، نِعْمَ الرَّجُلُ اُسَيْدُ بْنُ حُضَيْر ، نِعم الرَّجُلُ ثَابِتُ بْنُ قَيْس بن شمّاس ، نِعْمَ الرَّجُلُ مُعاذُ بْنُ عَمْرِو بْن الْجَمُوح ، نِعْمَ الرَّجُلُ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ . قَالَ وَبِئْسَ الرَّجُلُ فلانٌ ، و بئسَ الرَّجُلُ فُلانٌ حتّى عدّ سَبْعَةً .

صحيح (صحيح الادب المفرد جـ ۱ صـ ۱۳۶)

ترجمه : حضرت ابی هریرهؓ نه روایت دے چه نبی کریم ﷺ اوفرمائیل خه سړے ابو بکر دے خه سړے عمر دے خه سړے ابو عبیده دے خه سړے اسید بن حضیر دے خه سړے ثابت بن قیس بن شماس دے خه سړے معاذ بن عمرو بن جموح دے خه سړے معاذبن جبل دے . او وے فرمائیل ناکاره سړے فلانکے دے او ناکاره سړے فلانکے سړے دے تردے چه اووه کسه نے اوشمیرل .

فائده : د دے حدیث نه معلومه شوه چه که یو سړے په صفت کولو خرابیږی نو هغه مناسب صفت کول جائز دی ، او که د هغه د فساد خطره وی نو بیا ئے صفت کول منع دی

د بچو ښکلول سنت دی

[۱۰۳۵] **الحدیث الخامس** : عن یعلی بن مرّةَ ، انه قال : خرجنا مع النبی ﷺ ، و دُعینا إلی طعامٍ فإذا حسین یلعَبُ فِی الطریق ، فاسْرَع النبی ﷺ أمام القوم ، ثُمّ بسط یدیه ، فجعله یمرّها هنا مرّةً ها هنا ؛ یُضاحِکُهُ حتّی اَخَذهُ فجعل إحدَی یَدَیْه فی ذَقْنِهِ و الْاُخری فی رأسِهِ ، ثُمّ اعْتَنَقَهُ فقَبّلَهُ ، ثُمّ قال النبی ﷺ : حُسین مِنّی و أنا مِنهُ ، احبّ الله مَنْ احبّ الحسَنَ والحُسین . سبطَانِ من الأسْبَاطِ . حسن . (صحیح الادب المفرد ج ۱ ص ۱٤٦)

ترجمه : حضرت یعلی بن مره وائی چه مونږ اوتلو نبی ﷺ سره او اوبللے شو یو طعام ته نو اچانك حسین په لاره کښ لوبے کولے نو نبی ﷺ په جلدی سره د قوم نه مخکښ ورغلو او لاسونه ئے ورته اوګده کړلو او هغه په ترے یوخوا بل خوا تختیدو او خندل ئے تردے چه اوئے نیولو نو یو لاس ئے ورته زنے ته کیخودل او بل ئے ورته په سر کیخودلو ځان ته ئے غاړه کړو او خکول ئے کړو او اوئے فرمائیل حسین ځما نه دے او زه د حسین نه یم الله دے مینه اوکړی هغه چا سره چه ځوك مینه کوی حسن او حسین سره دا دوه ډلے دی د ډلو نه (یعنی د خیر په کارونو کښ دا په منزله د دوو ډلو دی).

الدرس الثامن بعدالمأتین ۲۰۸

کلمه دحق بهترینه عطیه ده

[۱۰۳٦] **الحدیث الاول**: عنْ عائشة ، انّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ : إنّ مِنْ یُمْنِ الْمَرْاَةِ تَیْسِیْرَ خِطْبَتِهَا ، وَ تَیْسِیْرَ صَدَاقِهَا ، وَ تَیْسِیْرَ رَحِمِهَا . (اسناده حسن . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ۲٤٤۷۸)

ترجمه : حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی بے شکه د مبارکئ د ښځے نه دا خبره ده چه د دے کویدن په اسانه اوشی او د دے مهر په اسانه ادا شی او اولاد ئے په اسانه سره پیدا شی .

فائده : د حدیث شریف حاصل دا دے چه د مبارکے ښځے ننبسے دا دی چه غوستلو او رشته کښ ئے اسانتیا وی دویم مهر کښ نے اسانتیا وی دریم سهولت سره ورته د الله د طرف نه اولاد ملاؤ شی ، چه داسے ښځه چاته ملاؤ شی هغه دے پرے شکر اوباسی دا د الله لوئے نعمت دے .

د شی گټه به د هغه چا وی چه په چا ئے تاوان راځی

[۱۰۳۷] **الحدیث الثانی :** عنْ عائشة اَنَّ رَجُلًا ابْتَاعَ غُلَامًا ، فَاسْتَغَلَّهُ ، ثُمَّ وَجَدَ . اَوْ رَاٰی بِهٖ عَیْبًا ، فَرَدَّهُ بِالْعَیْبِ ، فَقَالَ الْبَائِعُ : غَلَّهُ عَبْدِی ، فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ : اَلْغَلَّةُ بِالضَّمَانِ . (حدیث حسن . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ٢٤٥١٤) .

ترجمه : حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه یوسړی غلام واغښتلو او هغه نه ئے آمدن حاصل کړو بیا ئے په هغه کښ یو عیب اولیدل پس هغه نے د عیب د وجے نه واپس کړو نو خرڅونکے اووئیل چه د دے غلام آمدن هم ماته راکه نو نبی ﷺ ورته اووئیل چه آمدن د هغه چا دے چه غلام د چا په تاوان کښ ؤو (یعنی آمدن دے صورت کښ د خریدار حق دے).

فائده : دے حدیث مبارک کښ یوه قاعده بیان شوے ده چه کوم څیز د چا په تاوان کښ وی د هغے گټه به د هغه وی ، بل یو حدیث کښ د دے الفاظ داسے راغلے دی " اَلْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ " گټه په تاوان کیږی ، او د دے قاعدے په الاشباه والنظائر کښ ډیر مثالونه دی .

د ننکیۍ دم

[۱۰۳۸] **الحدیث الثالث :** عنْ عائشة اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ کَانَ یَقُوْلُ فِی الْمَرِیْضِ : بِسْمِ اللّٰهِ ، تُرْبَةُ اَرْضِنَا ، بِرِیْقَةِ بَعْضِنَا ، لِیُشْفٰی سَقِیْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا . ((اسناده صحیح . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ١٤٦١٧))

ترجمه : حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په مریض دم اچولو نه فرمائیل به نے " بِسْمِ اللّٰهِ ، تُرْبَةُ اَرْضِنَا ، بِرِیْقَةِ بَعْضِنَا ، لِیُشْفٰی سَقِیْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا " .

فائده : چه کوم مریض باندے ننکیۍ وی یا زحم وی نو پکار دی چه سړے دا کلمات مبارکه وائی او گوته په خپلو لاړو لوندوی او په پاکه خاوره ئے راکاږی او زحم پرے مسح کوی نو انشاء الله مریض به صحت یاب گرځی ، او دا عمل مجرب دے .

د الله په لار کښ د روژے ثواب

[۱۰۳۹] **الحدیث الرابع :** عن ابی سعید الخُدْرِی ؛ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : لَایَصُوْمُ عَبْدٌ یَوْمًا فِی سَبِیْلِ اللّٰهِ ؛ اِلَّا بَاعَدَ اللّٰهُ بِذَالِكَ الْیَوْمِ وَجْهَهٗ عَنِ النَّارِ سَبْعِیْنَ خَرِیْفًا . (اسناده حسن . المجالسة جـ ٥ صـ ٢٥٩) .

ترجمه : حضرت ابو سعید خدریؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی روژه نه نیسی یو بنده په لاره د الله کښ مگر لرے کوی الله پاك مخ د ده لره په دغه روژے سره د اُور د جهنم نه

د اوياؤ(۷۰) کالو په مسافت .

دسجدے طریقه

[۱۰٤۰] **الحدیث الخامس** : عن البراء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ .صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۱٦٤).

ترجمه : دحضرت براء نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه ته سجده کوے نو کیده ورغوی په زمکه او اوچتے کړه څنګلے.

فائده : دے حدیث شریف کښ د سجدے د طریقے بیان دے لهذ اول د سجدے طریقه ازده کول ضروری دی او بیا په هغے عمل کول لازم دی سجده کښ څه څیزونه سنت دی د هغے کول پکار دی لاندے تفصیل ملاحظه کړئی .

په سجده کښ سنت

(۱) تکبیر ویلو سره سجدی تـه تلل (۲) د امام په اوچت آواز سره تکبیر ویل (۳) اووه اندامونو (پوزه، تندی ، دواړه لاسونه ، دواړه ګوڼډی ، اود دواړو پښو ګوتو) باندے سجده کول واجب دی (۴) په سجده کښ دری څله "سُبْحانَ رَبِي الأعلى " ویل (۵) تسبیحات په ورو آواز سره لوستل (٦) په سجده کښ سر اوچتولو په وخت کښ تکبیر ویل (۷) د امام د سجدی نه سر اوچتولو په وخت کښ اوچت آواز سره تکبیر ویل .(۸) د دوو سجدو په منځ کښ جلسه کول ، یعنی کیناستل (۹) په جلسه کښ طمانینت یعنی اطمینان سره کیناستل (۱۰) تکبیر ویلو سره دویمی سجدی ته تلل (۱۱) د پښو د ګوتو سرونه په زمکه باندے اینبودل .

الدرس التاسع بعدالمأتين ۲۰۹

بهترین روزګار

[۱۰٤۱] **الحدیث الاول** : عن ابی بردة بن دینار قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ ﷺ عَنْ أَفْضَلِ الْكَسْبِ ؟ قَالَ بَيْعٌ مَبْرُوْرٌ وَعَمَلُ الرَّجُلِ بِيَدِهِ.صحیح. اخرجه احمد. (الدرالمنثور جـ ۲ صـ ٦۳)

ترجمه : حضرت ابوبردة بن دینار وائی چه تپوس اوشو دنبی ﷺ نه په باره دبهتر کسب کښ نو اوئیل هغوی چه بهترین کسب صحیح بیع (تجارت)ده او عمل د سړی دے په لاس خپل باندے.

ښځے ته اوبو ورکول هم ثواب دے

[۱۰٤۲] **الحدیث الثانی** :عن العرباض قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا سَقَى الرَّجُلُ إِمْرَأَتَهُ الْمَاءَ أُجِرَ.حسن.(الجامع جـ ۱ صـ ۱٦٥).

ترجمه : دحضرت عرباضؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله سړے خپلے

ښځے ته اوبه ورکړی نو ده ته به ثواب ورکولے شی.

طواف سعی رمی جمار نه مقصود د الله تعالی یاد دے

[١٠٤٣] **الحديث الثالث**: عن عائشة قالت : سمعتُ رسول الله ﷺ يقول : إِنَّمَا جُعِلَ الطَّوَافُ بِالْكَعْبَةِ ، وَ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ ، وَرَمْيُ الْجِمَارِ لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللّٰهِ عزّ وَجَلَّ. (اسناده حسن . مسند احمد ط الرسالة رقم : ٢٤٤٦٨).

ترجمه : حضرت عائشہؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی فرمائیل نے بے شکه گرځولے شوے دے طواف د خانه کعبے مبارکے او سعی د صفا مروه او ویشتل د شیطانانو د پاره د ذکر د الله (جل جلاله) دی.

فائده : خوږو لوستونکو حج یو عاشقانه عبادت دے او د دے هر عمل نه مقصد د الله یاد دے بلکه د تولو عباداتو مقصد د الله یاد دے ، لهذا تول عبادات داسی کول پکار دی چه د الله رضا پرے حاصله شی .

اولاد دوالدینو کسب دے

[١٠٤٤] **الحديث الرابع** :عن عائشة قالت قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اَطْيَبَ مَا اَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهٖ وَاِنَّ وَلَدَهٗ مِنْ كَسْبِهٖ.صحيح. اخرجه احمد وعبد بن حميد والنسائي وابن ماجه (الدرالمنثور جـ ٢صـ٦٤).

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بے شکه پاك هغه چه سړے ئے خوری کسب دده دے او بے شکه اولاد دده کسب دده دے.

فائده : یعنی داولاد گټه داسے ده لکه دده گټه . دضرورت په وخت کښ ده لره دهغه ځیز استعمالول داسے دی لکه خپل ځیز استعمالول.

[١٠٤٥] **الحديث الخامس** :عن محمد بن المنكدر قَالَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ لِرَجُلٍ اَنْتَ وَمَالُكَ لِاَبِيْكَ. صحيح اخرجه عبدابن حميد (الدرالمنثور جـ ٢صـ٦٤)

ترجمه : حضرت محمد بن المنکدر وائی چه رسول الله ﷺ یو سړی ته اوئیل چه ته او ستا مال دپلار دی.

فائده: دا احادیث مبارکو مطلب دادے. چه ضرورت دپاره سړے داولاد مال استعمالولے شی او دده دپاره دا کسب طیب دے . دے باره کښ آثار هم شته بعضے دهغے نه درج ذیل دی .

عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ اِنَّ اَطْيَبَ مَا اَكَلَ الرَّجُلُ مِنْ كَسْبِهٖ وَوَلَدُهٗ مِنْ كَسْبِهٖ وَلَيْسَ لِلْوَلِدِ اَنْ يَاْخُذَ مِنْ مَالِ وَالِدِهٖ اِلَّا بِاِذْنِهٖ وَالْوَالِدُ يَاْخُذُ مِنْ مَالِ وَلَدِهٖ مَا شَاءَ بِغَيْرِ اِذْنِهٖ. اخرجه عبدبن حميد. الدرالمنثور جـ٢صـ ٦٤

ترجمه : د حضرت عائشہؓ نه روایت دے چه غوره هغه چه سړے ئے خوری د ده کسب دے او ځوئے هم د ده کسب دے او جائز نه دی د ځوئے د پاره چه واخلی د مال د پلار نه مگر په اجازت

سره او پلار اغستلے شی د مال د ځوئے نه هغه چه اوغواړی بغیر د اجازت نه .

عن مجاهد یاخذ الرجل من ولده الاالفرج . اخرجه عبدبن حمید. الدرالمنثور جـ۲صـ ٦٤

ترجمه : امام مجاهدؒ وائی چه اخلی چه سړے د مال د ځوئے د ضرورت ځیز سواد وینځے نه د ځوئے وینځه پلار نه شی استعمالولے .

عَنْ شَعْبِی قَالَ : اَلرَّجُلُ فِی حِلٍّ مِنْ مَالِ وَلَدِهٖ اخرجه عبد بن حمید . الدرالمنثور جـ۲صـ ٦٤

ترجمه : امام شعبیؒ وائی حلال دے سړی د پاره مال د ځوئے.

عن الحسن قَالَ :یَاْخُذُ الْوَالِدُ مِنْ مَالِ وَلَدِهٖ مَا شَاءَ وَالْوَالِدَةُ کَذٰلِكَ وَلَیْسَ لِلْوَلَدِ اَنْ یَاْخُذَ مِنْ مَالِ وَالِدِهٖ اِلَّا مَا طَابَتْ بِهٖ نَفْسُهٗ . اخرجه عبد بن حمید. الدرالمنثور جـ۲صـ ٦٤

ترجمه : حسن بصری وائی شه اغستے شی سړے د مال د ځوے نه هغه چه د ده خوښه وی او همدارنګه مور او نه شی اغستے ځوئے د مال د پلار نه مګر هغه چه د پلار پرے رضا وی .

عَنْ اِبْرَاهِیْمَ قَالَ لَایَاْخُذُ الرَّجُلُ مِنْ مَالِ وَلَدِهٖ شَیْئًا اِلَّا اَنْ یُحْتَاجَ فَلْیُنْفِقْ بِالْمَعْرُوْفِ یَعُوْلَهٗ اِبْنُهٗ لِمَا کَانَ الْاَبُ یَعُوْلُهٗ فَاَمَّا اِذَا کَانَ مُوْسِرًا فَلَیْسَ لَهٗ اَنْ یَّاْخُذَ مِنْ مَالِ اِبْنِهٖ فَیُبْقِیْ بِهٖ مَالَهٗ اَوْ یَضَعَهٗ فِیْمَا لَا یَحِلُّ . اخرجه عبدالرزاق و عبد بن حمید. الدرالمنثور جـ۲صـ ٦٤

ترجمه : د حضرت ابراهیم تابعی نه منقول دی چه نه به اخلی پلار د مال د ځوئے نه څه ځیز مګر چه دے ورته محتاج وی نو ځوئے به په پلار خرچه کوی موافق د عرف او او عادت لکه څه رنګ چه پلار په ځوئے خرچه کوله او که پلار مالدار وی نو بیا ورله د ځوئے د مال نه اغستل نیشته چه خپل جمع کوی یا ضائع کوی او د ځوئے مال خرچ کوی .

الدرس العاشر بعدالمأتین ﴿۲۱۰﴾

دحرام مال نه صدقه

[۱۰٤٦] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اَدَّیْتَ الزَّکٰوةَ فَقَدْ قَضَیْتَ مَا عَلَیْكَ وَمَنْ جَمَعَ مَالًا مِنْ حَرَامٍ ثُمَّ تَصَدَّقَ بِهٖ لَمْ یَکُنْ فِیْهِ اَجْرٌ وَّکَانَ اِصْرُهٗ عَلَیْهِ. اخرجه ابن خزیمه وابن حبان والحاکم وصححه. الدرالمنثور جـ۲صـ ٦٣

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه تا زکوة ادا کړو نو یقیناً تا پوره کړو چه په تا وو او څوك چه جمع کړی مال حرام او بیا ئے صدقه کړی نو ده له په هغے کښ اجر نیشته او بوج به ئے په ده باندے وے

فائده : دحرام مال په خرچ کښ ثواب نیشته البته چه دے حرام مال صدقه کړی او د خپل ملك

نه ئے لرے کړی او دشریعت په حکم عمل اوکړی نو ده لره به ددے حکم په منلو ثواب ملاویگی . دارنګ خبره زادالمعاد کښی ابن القیمؒ کړے ده.

ډیر خندل ښه نه دی

[۱۰٤۷] **الحدیث الثانی** : عَنْ اَبِیْ هُرَیْرَةَؓ قَالَ : خَرَجَ النَّبِیُّ ﷺ عَلٰی رَهْطٍ مِنْ اَصْحَابِهٖ یَضْحَکُوْنَ وَ یَتَحَدَّثُوْنَ ، فَقَالَ : وَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ ! لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا اَعْلَمُ ، لَضَحِکْتُمْ قَلِیْلًا وَ لَبَکَیْتُمْ کَثِیْراً . ثُمَّ انْصَرَفَ وَ اَبْکَی الْقَوْمَ ، وَاَوْحَی اللّٰهُ عَزَّ وَ جَلَّ اِلَیْهِ : یَا مُحَمَّدُ اَتَقْنَطُ عِبَادِیْ ؟ فَرَجَعَ النَّبِیُّ ﷺ فَقَالَ : اَبْشِرُوْا وَ سَدِّدُوْا وَ قَارِبُوْا . صحیح . (الجامع الادب المفرد جـ ۱ صـ ۱۱۲).

ترجمه : حضرت ابی هریرهؓ نه روایت دے چه راووتلو نبی ﷺ په یو قوم د صحابه کرامو چه هغوی خندل او خبرے ئے کولے نو اووئیل نبی ﷺ قسم مے دے په هغه ذات چه ځما روح د هغه لاس کښی دے کاښے تاسو پوهیدئ په هغه څه چه زه پرے پوهیږمه نو خندلے به ډو تاسو لږ او ژړلے به ډو تاسو ډیر بیا پیغمبر ﷺ لاړو او قوم ئے په ژړا پریخودل او وحی اوکړه الله هغه ته اے محمد ! آیا ته ناامیده کوی بندګان ځما ؟ نو واپس شو نبی کریم ﷺ صحابو ته ئے تسلی ورکړله) .

د هر استاد د پاره یو دوه قیمتی اصول

[۱۰٤۸] **الحدیث الثالث** :عن ابن عباس قال : قال رسول الله ﷺ علموا و یسروا علموا و یسروا (ثلاث مرات) ولا تعسروا و إذا غضب أحدکم فلیسکت (مرتین) . صحیح لغیره . صحیح الادب المفرد جـ ۱ صـ ۱۱۰).

ترجمه : حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی خودنه اوکړئ او نرمی اوکړئ خودنه اوکړئ او نرمی اوکړئ (درے ځله ئے دا ارشاد اوفرمائیلو) او سختی مه کوئ او کله چه غصه شی یو ستاسو نه نو چپ دے شی (دوه ځله ئے دا ارشاد اوفرمائیلو) .

فائده : دے حدیث شریف اوستاذ ته یو دوه قیمتی اصول د تعلیم اوخودل چه (د سنجیدګئ سره) نرمی کول او د(بے جا) سختئ نه ځان ساتل او بل د غصے وخت کښی خاموش پاتے کیدل .

دمظلوم خبرے قبلیږی

[۱۰٤۹] **الحدیث الرابع**: عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُوْمِ فَاِنَّهَا تَصْعَدُ اِلَی السَّمَاءِ کَاَنَّهَا شَرَارَةٌ . صحیح. اخرجه الحاکم وصححه(الدرالمنثور جـ ۲ صـ ۷٦)

ترجمه :دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه ځان اوساته دخیرو دمظلوم نه ځکه دا آسمان ته خیجی ګویا که دا یو بسرے دے داور.

دمظلوم فاجر خیرے هم لکی

[۱۰۵۰] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ دَعْوَةُ الْمَظْلُوْمِ مُسْتَجَابَةٌ وَاِنْ كَانَ فَاجِراً فَفُجُوْرُهُ عَلٰى نَفْسِهٖ . حسن. اخرجه احمد(الدرالمنثور جـ ۲ صـ۷۶)

ترجمه : حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی خیره دمظلوم قبوله ده او کچرے دے فاسق وی نو فسق ئے په خپل ځان دے.

الدرس الحادی عشر بعد المائتین ﴿۲۱۱﴾

د سورة الانعام فضیلت

[۱۰۵۱] **الحدیث الاول** :عن جابرؓ قال لما نزلت سورة الانعام سبح رسول الله ﷺ ، ثم قال لقد شیع هذه السورة من الملائکة ما سدّ الافق . اخرجه الحاکم و قال صحیح علی شرط مسلم (تفسیر ابن کثیر جـ ۳ صـ ۲۳۸) .

ترجمه :د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه هر کله سورة الانعام نازل شو نو رسول الله ﷺ تسبح (سبحان الله) اووئیل اووے فرمائیل چه یقیناً دے سورة سره دومره فرشتے نازلے شوے چه اُفق (اطراف) ئے ټول بند کړے دی .

فائده : د دے حدیث شریف نه د سورة الانعام فضیلت ثابت شو. چه دا دومره عظیم الشان سورت دے چه دے سره کافی تعداد کښ فرشتے نازلے شوے یو بل روایت کښ د اویا زره فرشتو د نزول ذکر دے او د دے سورت د ږومبو درے ایتونو فضیلت په یو روایت کښ ذکر دے دد حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چا چه مونځ اوکړو د صبا په جمعے سره او کیناستو په ځائے د مونځ باندے او درے ږومبی ایتونه د سورت انعام ئے اولوستل نو مقرب کړی الله تعالیٰ د ده د پاره اویا فرشتے چه تسبیح به وائی او بخنه به غواړی ده د پاره د روځے د قیامته پورے.

دگناه منخته پوره کول جائز نه دی

[۱۰۵۲] **الحدیث الثانی** :عن عائشة رضی الله عنها اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ مَنْ نَذَرَ اَنْ يُّطِيْعَ اللّٰهَ فَلْيُطِعْهُ وَمَنْ نَذَرَ اَنْ يَّعْصِيَهٗ فَلَا يَعْصِهٖ . صحیح. اخرجه ابوداؤد والترمذی والنسائی وابن ماجه .

ترجمه : عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه منخته اوکړی چه دے به دالله تابعداری کوی نو دے د تابعداری دالله اوکړی او څوك چه منخته اوکړی چه دے به نافرمانی کوی دالله نو نافرمانی دے نه کوی.

دگناه د نذر کفاره

[١٠٥٣] **الحديث الثالث** : عن عائشة رضى الله عنها انّ النّبيّ ﷺ قَالَ لَانَذْرَفِى مَعْصِيَةٍ وَكَفَارَتُهُ كَفَارَةُ يَمِيْنٍ .صحيح. اخرجه ابوداؤد والترمذى والنسائى وابن ماجه (الدر جد ٢ صـ ٧٢)

ترجمه : حضرت عائشه رضى الله عنها وائى رسول الله ﷺ وئيلے دى نيشته نذر په گناه كښ او كفاره ددے كفاره د قسم ده.

فائده : مطلب دادے كچرے يو سړے دگناه نذر اومنى مثلاً كه زما فلانے كار اوشو نو زه به شل ډزے كوم نو چه هغه كار اوشى نو ډزے ډ نه كوى گناه ده خو دهغے په ځائى ډ كفاره دقسم وركړى . او كفاره دقسم لسو مسكينانو ته درميانه طعام وركول دى يا كپړے وركول دى يا يو غلام آزادول دى او دچا چه دغه طاقت نه وى نو بيا درے روژے نيول دى.

دپيدل حج منخته

[١٠٥٤] **الحديث الرابع** : عن ابن عباس قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ : يَارَسُولَ اللّٰهِ انَّ أُخْتِيْ نَذَرَتْ أَنْ تَحُجَّ مَاشِيَةً فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَصْنَعُ بِشَقَاءِ اُخْتِكَ شَيْئًا فَلْتَحُجَّ رَاكِبَةً وَتُكَفِّرَ يَمِيْنَهَا .اخرجه ابوداؤد والحاكم وصححه.

ترجمه : حضرت ابن عباس فرمائى چه يو سړے رسول الله ﷺ ته راغے وئيل ئى يارسول الله ځما خور منخته كړے ده چه دابه پياده حج كوى (نواوس څه اوكړى؟)نبى ﷺ ورته اوئيل بيشك الله ستا دخور په مشقت هيڅ نه كوى حج ډ اوكړى په سورلى او كفاره ډ وركړى دخپل قسم.

فائده : دا مضمون بل يو حديث كښ هم راغلے دے د حضرت عقبه بن عامر نه نقل دى چه ده تپوس اوكړو د نبى كريم ﷺ نه چه ځما يوه خور ده هغے حج منلے دے خپے ابله سر تور سر نو حضرت او فرمائيل چه امر ورته اوكړى. چه لوپټه ډ په سر كړى او سوره دے شى او روژے ډ اونيسى درے.(ابو داؤد شريف)

د بنځو نه كناره كشى اسلام كښ نشته

[١٠٥٥] **الحديث الخامس** : عن عُرْوَةَ ، قَالَ دَخَلَتْ امْرَأَةُ عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ احْسِبُ اسْمَهَا خَوْلَةَ بِنْتُ حكيم عَلَى عَائِشَةَ وَ هِيَ بَاذَّةُ الْهَيْئَةِ فَسَأَلَتْهَا مَا شَأْنُكِ ؟ فَقَالَتْ : زَوْجِي يَقُومُ اللَّيْلَ ، وَ يَصُومُ النَّهَارَ ، فَدَخَلَ النَّبِيّ ﷺ فَذَكَرَتْ عَائِشَة ذلك لهُ فَلَقِيَ رَسُوْلُ الله ﷺ عُثْمانَ فَقَالَ : يَا عُثْمانُ إِنَّ الرَّهْبَانِيَّةَ لَمْ تُكْتَبْ عَلَيْنا ، أَفَما لَكَ فِى أُسْوَةٌ . فَوَاللّٰهِ إِنِّيْ اَخْشَاكُمْ لِلّٰه ، وَ اَحْفَظُكُمْ لِحُدُوْدِهِ . اسناده صحيح . مسند احمد رقم ٢٥٨٩٣ . تفصيل رقم ٢٦٣٠٨.

ترجمه : د عروةؒ نه نقل دى چه د حضرت عثمان بن قطعون بنځه خوله بنت حكيم د حضرت

عائشه کره راغله په زړو جامو کښې نو حضرت عائشې ؓ ترې تپوس اوکړو (چه دا ولې خړه پړه کړځی؟) نو هغے ورته جواب کښې اوئیل چه ځما خاوند د شپے تهجد کوی او د ورځے روژه وی نو چه نبی ﷺ کورته راغے نو حضرت عائشه ؓ ورته واقعه ذکر کړه بیا کله چه ملاو شو رسول الله ﷺ د عثمان سره نو ورته نے اوفرمائیل اے عثمان د ښځو نه کنارکشی په مونږه باندے نه ده مقرر (یعنی بیوی سره مینه محبت او از دواجی تعلق ساتل د اسلام حکم دے د دے پریښودل د اسلام حکم نه دے) آیا نشته ستا په ماپسے اقتدا ؟ قسم دے ځه ستاسونه زیات د الله تعالی نه یریږم او زیات ستاسو نه د هغه د حدود خیال ساتم .

الدرس الثانی عشر بعد المائتین ۲۱۲

دسوالګری مذمت

[۱۰۵۶] **الحدیث الاول** : عن ابن عمر ؓ انّ النّبیّ ﷺ قَالَ " لَا تَزَالُ الْمَسْئَلَةُ بِاَحَدِكُمْ حَتّٰى يَلْقَى اللّٰهَ وَلَيْسَ فِيْ وَجْهِهٖ مُزْعَةُ لَحْمٍ. اخرجه ابن ابی شیبه والبخاری ومسلم والنسائی . الدر جـ ۲ صـ ۹۱

ترجمه : حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی همیشه به وی سوال په یو ستاسو پورے تردے چه دے به الله سره یو ځائے شی او نه به وی دده په مخ باندے ټکړه دغوښے.

مخلوق نه سوالونه په قیامت کښې دمخ زخمونه

[۱۰۵۷] **الحدیث الثانی** : عن سمرة بن جندب انّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اِنَّ الْمَسَائِلَ كُلُوْحٌ يَكْدَحُ بِهَا الرَّجُلُ وَجْهَهٗ فَمَنْ شَاءَ اَبْقٰى عَلٰى وَجْهِهٖ وَمَنْ شَاءَ تَرَكَ اِلَّا اَنْ يَسْاَلَ ذَا سُلْطَانٍ اَوْفِيْ اَمْرٍ لَابَجِدُ مِنْهُ بُدًّا .

اخرجه ابن شیبه وابوداؤد والترمذی وصححه والنسائی وابن حبان. الدر جـ۲ صـ ۹۱

ترجمه : سمره بن جندب ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه بیشکه د خلقو نه سوالونه کول زخمونه دی زخمی کوی په دے سره سړے مخ خپل . پس دچا چے خوخه وی نو پرے دے ګدی په مخ خپل باندے او دچا چه خوښه وی نو سوال کول دے پریګدی مګر چه اوغواړی دبادشاه نه یا په یو داسے کار کښې چه دے په هغے کښې مضطر (محتاج او مجبوره)وی نو جائز دے.

دخلقو نه غوښتل داور سروټکے دی

[۱۰۵۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَالَ النَّاسَ تَكَثُّرًا فَاِنَّمَا يَسْئَلُ جَمْرًا فَلْيَسْتَقِلَّ اَوْ لِيَسْتَكْثِرْ . اخرجه ابن ابی شیبه ومسلم وابن ماجه . الدر جـ ۲ صـ ۹۳

ترجمه : حضرت ابو هریره وائی رسول الله ﷺ وئیلے دی چه څوك دخلقو نه سوال کوی دپاره د

ډیرولو د مال نو بیشکه دے سوال کوی د سکروتکو د اور نو کم د اوغواړی یا ډیر.

فائده : یعنی سوال اوچړ دمخلوق نه ناروا دے دا سبب د اور دتلو دے او دا د زجر په طور باندے وائی چه دده خوښه ده چه لږے سروتکے ځان له حاصلوی که ډیرے الله تعالیٰ دے دواړونه مونږ اوساتی. آمین ثم آمین

صدقه او خیرات دصحت په حالت کښ زیات بهتر دے

[۱۰۵۹] **الحدیث الرابع** :عن ابی الدرداءؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ : مَثَلُ الَّذِی يُعْتِقُ عِنْدَالْمَوْتِ كَمَثَلِ الَّذِی يُهْدِیْ إِذَا شَبِعَ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه احمد والنسائی والدارمی واخرجه احمد والنسائی والدارمی (تحفة الاحوذی جـ ٦ صـ ٢٦٤)

ترجمه : دحضرت ابودرداء نه روایت دے وائی ما درسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه فرمانیل نے مثال دهغے کس چه غلام ازادوی په وقت د مرګ کښ په شان دهغه کس دے چه هدیه (خیرات) کوی کله چه مور شی.

فائده : دحدیث شریف نه معلومه شوه چه ثواب دهغے صدقے زیات وی چه سړے په خپله ضرورت لری او ایثار اوکړی بل لره نے ورکړی. بل یو روایت کښ راغلیدی چه سړے صدقه اوکړی په ژوند په یوه روپے دا بهتره ده ددے نه چه دے صدقه اوکړی په وخت د مرګ کښ دسلو روپو (ابوداود)

بانګ سره متصل مسجد ته تلل

[۱۰۶۰] **الحدیث الخامس** : عن کعب بن عجرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا سَمِعْتُ النِّدَاءَ فَاجِبْ دَاعِیَ اللّٰهِ . صحیح (الجامع جـ ١ صـ ١٦٦)

ترجمه : دحضرت کعب بن عجرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه بانګ واورے نو متصل دالله تعالیٰ د داعی (بانګی) دعوت قبول کړه (یعنی فوری جومات ته لاړ شه)

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه اذان اوریدو سره پیوست جمع له تلل ضروری دے ځکه تجربه دا ده چه سړے لیټ شی نو یا ترے تکبیر اولی لاړشی بلکه اکثر ترے جمع فوت شی.

الدرس الثالث عشر بعدالمائتین ﴿۲۱۳﴾

انسان پابند دتدبیر دے

[۱۰۶۱] **الحدیث الاول** :عن علیؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِعْمَلُوا فَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ .رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه الشیخان (تحفه جـ ٦ صـ ٢٨٤)

ترجمه : دحضرت علیؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ وئیلی دی : عمل کوی. بس هر سړی ته

آسانولے شی هغه شے چه څه دپاره هغه پیدا دے.

فائده : دحدیث شریف حاصل دادے چه تاسو عمل کوی تاسو پابند دعمل نے او تقدیر الله تعالیٰ ته پریږدی هغه دهغه کار دے هغه فیصلے دهغه په لاس کښ دی .فارسی بان وانی کارخود کن کار بیگانه نه کن .پښتانه هم وانی پردے کار کښ کار مه لره.

قرضدارے نه تنګول

[۱۰۶۲] **الحدیث الثانی**: عن ابی قتاده سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ سَرَّهُ اَنْ يُنَجِّيَهُ اللّٰهُ مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيٰمَةِ فَلْيُنَفِّسْ عَنْ مُعْسِرٍ اَوْ يَضَعْ عَنْهُ. اخرجه مسلم.

ترجمه : حضرت ابوقتاده وانی چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی فرمائیل نے چه چا لره خوشحالوی داخبره چه ده لره الله دقیامت د ورځ د مصیبت نه نجاة ورکړی نو دے د تنګ دست له نیټه ورکړی یا د ورته قرضه معاف کړی.

قرض داری ته مهلت ورکول

[۱۰۶۳] **الحدیث الثالث** : عن بریدة قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَنْظَرَ مُعْسِراً كَانَ بِكُلِّ يَوْمٍ مِثْلَهُ صَدَقَةٌ قَالَ ثُمَّ سَمِعْتُهُ يَقُوْلُ : مَنْ اَنْظَرَ مُعْسِرًا فَلَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ مِثْلَيْهِ صَدَقَةٌ فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ اِنِّی سَمِعْتُكَ تَقُوْلُ فَلَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ صَدَقَةٌ . وَقُلْتَ الْاٰنَ فَلَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ مِثْلَيْهِ صَدَقَةٌ فَقَالَ اِنَّهُ مَالَمْ يَحِلَّ الدَّيْنُ فَلَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ مِثْلُهُ صَدَقَةٌ وَاِذَا حَلَّ الدَّيْنُ فَاَنْظَرَهُ فَلَهُ بِكُلِّ يَوْمٍ مِثْلَيْهِ صَدَقَةٌ . اخرجه احمد وابن ماجه والحاكم وصححه والبيهقی فی شعب الايمان . الدر جـ ۲ صـ ۱۱٤

ترجمه : حضرت بریده رضی الله عنه وانی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك تنګ دست ته مهلت ورکړی نو وی به ده دپاره هره ورځ دهغے برابر صدقه بیا ما واوریدل د پیغمبر ﷺ نه وئیل نے چه څوك تنګدست ته مهلت ورکړی نو ده دپاره روزانه دهغے دوه چنده برابر ثواب دے نو ما ورته اوئیل یا رسول الله ﷺ ما تاسو نه اوریدلے وو چه دے سړی دپاره یو چند ثواب دے او اوس تاسو اوئیل چه دوچند دے ددے څه وجه ده ؟ پیغمبر ﷺ اوفرمائیل چه ده دپاره چه کله د قرض نیټه نه وی پوره یو چند ثواب دے هره ورځ او چه کله نیټه پوره شی او بیا ورته مهلت ورکوی نو ده دپاره بیا هره ورځ دوه چنده ثواب دے.

فائده : قرض چاته ورکول د ثواب کار دے د شریعت ډیر خکلے اصول دی قرضداری ته وانی پیسے مه لیټ کوه دا ظلم دے او قرض خواه ته وائی قرضداری ته مهلت ورکړه لوئے ثواب دے قرضداری او قرض خواه لره د دے اصولو پابندی پکار ده .

انسان هغه ځانے مړی چرته چه ئے مرګ مقرر وی

[١٠٦٤] **الحديث الرابع** : عن ابی العزة قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : إِذَا قَضَى اللّٰهُ لِعَبْدٍ اَنْ يَّمُوتَ بِاَرْضٍ جَعَلَ لَهُ إِلَيْهَا حَاجَةً اَوْ قَالَ بِهَا حَاجَةً ، رواه الترمذی وقال هذا حديث صحيح واخرجه احمد والطبرانی وابونعيم فی الحلية (تحفه جـ ٦ صـ ٣٣٠)

ترجمه : دحضرت ابو العزةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلی دی کله چه فیصله اوکړی الله تعالی دیوبنده دمرګ په یو زمکه باندے نو اوګرځوی ده لره هغے ته یو حاجت او یائے داسے اوفرمائیل چه دے باندے یو حاجت .

فائده : حدیث شریف نه معلومه شوه چه دمرګ ځائے مقرر دے او داخبره غلطه ده چه خلق وائی که فلانکی ځائے ته تلے نه وے مړ به نه وی او دے حدیث کښ انسان ته زبردسته تسلی ده.

په قبر کښ دمړی اینبودو په وقت کښ ذکر

[١٠٦٥] **الحديث الخامس** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا وَضَعْتُمْ مَوْتَاكُمْ فِیْ قُبُوْرِهِمْ فَقُوْلُوْا بِسْمِ اللّٰهِ وَعَلٰى سُنَّةِ رَسُوْلِ اللّٰهِ . صحيح (الجامع جـ ١ صـ ٢٠٥)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلی دی کله چه مړے په قبرونو کښ کښدی نو وائی " بسم الله وعلی سنة رسول الله ".

الدرس الرابع عشر بعدالماتين ﴿٢١٤﴾

د قرض نه همیشه پناه غوستل پکار دی

[١٠٦٦] **الحديث الاول** : عن عائشة ان رسول الله ﷺ، كَانَ يَتَعَوَّذُ فِی صَلَاتِهِ مِنَ الْمَغْرَمِ ، وَالْمَاْثَمِ فَقَالَ قَائِلٌ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، مَا أَكْثَرَ مَا تَتَعَوَّذُ مِنَ الْمَغْرَمِ ؟ فَقَالَ : إِنَّ الرَّجُلَ إِذا غَرِمَ ، حَدَّثَ فَكَذَبَ ، وَوَعَدَ فَاَخْلَفَ

(حديث صحيح . مسند احمد رقم : ٢٦٠٧٥)

ترجمه : حضرت عائشةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په مانځ کښ همیشه د قرض او د ګناه نه پناه غوستله نو یو ویونکے اووئیل څه دیره پناه غواړے ته د قرض نه ؟ نو اوونیل پیغمبر ﷺ بے شکه سړے چه کله قرض دارے شی نو چه خبرے کوی پکښ دروغ وائی ، او چه وعده کوی نو خلاف ئے کوی .

شیطان خلقو له شرک کښ اخته کولو د پاره مختلفے حربے استعمالوی

[١٠٦٧] **الحديث الثانی** : عَنْ زَيْنَبَ امْرَاَةِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ اَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ رَاٰى فِی عُنُقِیْ خَيْطاً فَقَالَ مَا هٰذَا فَقُلْتُ خَيْطٌ رُقِیَ لِی فِيْهِ قَالَتْ فَاَخَذَهُ فَقَطَعَهُ ثُمَّ قَالَ اَنْتُمْ اٰلُ عَبْدِ اللّٰهِ لَاَغْنِيَاءُ عَنِ الشِّرْكِ سَمِعْتُ رَسُوْلَ

اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اَنَّ الرُّقٰى وَالتَّمَائِمَ وَالتِّوَلَةَ شِرْكٌ فَقُلْتُ لِمَ تَقُوْلُ هٰكِذَا لَقَدْ كَانَتْ عَيْنِيْ تَقْذِفُ وَكُنْتُ اخْتَلِفُ اِلٰى فُلَانٍ الْيَهُوْدِيِّ فَاِذَا رَقَاهَا سَكَنَتْ فَقَالَ عَبْدُ اللّٰهِ اِنَّمَا ذٰلِكَ عَمَلُ الشَّيْطَانِ كَانَ يَنْخَسُهَا بِيَدِهٖ فَاِذَا رُقِيَ كَفَّ عَنْهَا اِنَّمَا كَانَ يَكْفِيْكَ اَنْ تَقُوْلِيْ كَمَا كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَا شِفَاءَ اِلَّا شِفَاءُ لَكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَماً (رواه ابو داؤد) اسناده حسن. مسند احمد ت شاكر ج ٣ ص ٥١٣).

ترجمه : د حضرت عبد الله بن مسعودؓ بی بی حضرت زینبؓ وائی چه عبد الله ځما په غاړه کښ یو مزے اولیدو نو وے وئیل دا څه دی ؟ ما وے دا مزے دے ماله دے کښ دم اچولے شوے دے نو زینبؓ وائی چه هغه مزے هغه اوینولو نو کټ نے کړلو او بیائے اوفرمائیل چه تاسو ال د عبد الله د شرك نه بے پروائے ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیل نے یقینا بے شك دمونه (چه په هغے کښ د غیر الله نه مدد وی) او تعویذونه (چه په هغے کښ غیر شرعی کلمات وی او مؤثر گنړے شی) او تونتکے چه د بښځے او د خاوند د محبت د پاره په مزو یا کاعذونو کولے شی شرك دے حضرت زینبؓ وائی ما حضرت عبد اللهؓ ته اووئیل تاسو داسے څنگه وائی ؟ حالانکه ځما په سترگو کښ به درد راتلو او څه به فلانکی یهودی له تلم او چه کله به هغه دم کړه نو ځماد سترگے درد به په ګلار شو نو عبد اللهؓ اووئیل چه بے شك دا عمل د شیطان وو ستا سترگه به نے په لاس باندے چیړله چه کله به دا (په شرکی دم) دم کړے شوه نو هغه به ترے لاس اخوا کړو (نو سترگه به جوړه شوه) ستا د پاره کافی وه چه تا وئیلے هغه چه مونږه ته رسول الله ﷺ خودلے وه رسول الله ﷺ به فرمائیل (په داسے موقعه چه دا کلمات وائی) "اَذْهِبِ الْبَاسَ رَبَّ النَّاسِ وَاشْفِ اَنْتَ الشَّافِيْ لَا شِفَاءَ اِلَّا شِفَاءُ لَكَ شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَماً"

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه شیطن په خلقو باندے په شرك د اُخته کولو د پاره مختلفے طریقے استعمالوی د حضرت زینب ستر گه به نے چیړله اوپه شرکی دم سره به نے پریښوده چه په شرکی دم باندے د خلقو عقیده جوړه شی تفسیر بحر محیط وائی چه سامری کله سخے جوړ کړو نو شیطان په کښ ننوتلو او آواز نے په کښ اوکړو نو بنی اسرائیلو هغه ته عبادت شروع کړو د هغے آواز د وجے نه داسے قسم نور واقعات هم کثرت سره نقل دی لهذا که څوك داسے حالات اووینی نو دا د شیطان حرکات وی د خلقو د ګمراه کولو د پاره که خلق وائی فلانکی څائے کښ قبر تریکتر اونیولو فلانکی څائے د قبر نه شغلے ختے په ما فلانکے په خوب کښ حضور شو چه ځما منحته اوکړه کنے ضرر به درته اورسی نو دا خبرے دلیل نه دے چه دا د خیر شر مالکان دی یا د عبادت مستحق دی بلکه د اقوی امکان دے چه دا تول د شیطان د شرارتونه وی د خلقو د عقیدو د فساد د پاره .

د الله د محبوب کړځیدو یو سبب

[۱۰۶۸] **الحدیث الثالث** : عن عائشة قالت : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ : قَالَ اللّٰهُ عزّ وجلّ : مَنْ اَذَلَّ لِی وَلِیًّا ، فَقَدْ اسْتَحِلَّ مُحَارَبَتِی ، وَمَا تَقَرَّبَ اِلَیَّ عَبْدِی بِمِثْلِ اَدَاءِ الْفَرَائِضِ ، وَمَا یَزَالُ الْعَبْدُ یَتَقَرَّبُ اِلَیَّ بِالنَّوَافِلِ حَتّٰی اُحِبَّهُ ، اِنْ سَاَلَنِی اَعْطَیْتُهُ ، وَاِنْ دَعَانِی اَجَبْتُهُ ، مَا تَرَدَّدْتُ عَنْ شَیْءٍ اَنَا فَاعِلُهُ تَرَدُّدِی عَنْ وَفَاتِهِ ، لِاَنَّهُ یَکْرَهُ الْمَوْتَ ، وَ اَکْرَهُ مَسَاءَتَهُ . (حدیث صحیح لغیره . مسند احمد رقم : ۲۶۱۹۳)

ترجمه : د حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه الله وائی څوک چه بے عزته کوی ځما یو دوست نو د طلب اوکړو ځما د مقابلے او نه نزدے کیږی ماته ځما بنده په بل شی باندے ځومره چه دے ماته نزدے کیږی په کولو د فرائضو باندے او همیشه بنده نوافل کوی تر دے چه ځه ورسره مینه کومه کو مانه اوغواړی ورکومه او که دعا اوکړی نو ورله قبلومه او زه تردد نه کومه په هغه کارونو کښ چه کومه ئے پشان د تردد په وژلو د ده کښ ځکه دے بد ګنړی مرګ او زه نه خوښومه د ده خفه کول .

دعبادت دپاره دفراغت فائدے

[۱۰۶۹] **الحدیث الرابع** : عن معقل بن یسار قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ رَبُّکُمْ : یَابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِی اَمْلَاْ قَلْبَکَ غِنًی وَاَمْلَاْ یَدَیْکَ رِزْقًا یَابْنَ آدَمَ لَا تُبَاعِدْ مِنِّی فَاَمْلَاْ قَلْبَکَ فَقْرًا وَاَمْلَاْ یَدَیْکَ شُغْلًا . اخرجه الحاکم وصححه.

ترجمه : حضرت معقل بن یسار وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه الله جل شانه ستاسو رب وائی . اے دآدم ځویه ځان فارغ کړه زما عبادت ته دِ ك به کړم زړه ستا دمالداری نه او دِ ك به کړم لاسونه ستا درزق نه . اے دآدم ځویه ! مانه مه لرے کیکه . ګنی دِ ك به کړم سینه ستا دفقر نه او لاسونه ستا به دِ ك کړم دکار نه.

قضاء مونځ په جمع سره کول ثابت دی

[۱۰۷۰] **الحدیث الخامس** :عَنْ جابر بن عَبْد اللّٰه ان عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابؓ جَآءَ یَوْمَ الْخَنْدَقِ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَجَعَلَ یَسُبُّ کُفَّارَ قُرَیش قَالَ یَا رَسُوْلَ اللّٰه مَا کِدْتُ اُصَلِّی الْعَصْرَ حَتی کَادتِ الشَّمْسُ تَغْرُبُ قَالَ النَّبِیّ ﷺ واللّٰهِ مَا صَلَّیْتُهَا فَقُمْنَا اِلٰی بُطْحَان فَتَوَضَّا لِلصَّلٰوةِ وَ تَوَضَّانَا لَهَا فَصَلی الْعَصْرَ بَعْدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلّٰی بَعْدَهَا الْمَغْرِبَ . (رواه البخاری)

ترجمه : د حضرت جابر بن عبد اللهؓ نه روایت دے چه عمر بن الخطابؓ راغے په ورځ د جنګ خندق پس د نمر پرے وتو نه نو شروع شو چه ردے بدے وئیلے کافرانو د قریشو ته وے وئیل یا رسول الله ﷺ ما د مازیګر مونځ نه دے کړے تر دے چه نمر پرے وتلو رسول الله ﷺ ورته او

ونیلو ما هم نه دے کړے نو پاسیدو مونږ بطحان خوږ د مدینے منورے ته نو اودس اوکړو پیغمبر ﷺ د مونځ د پاره او مونږ هم اودس اوکړو د هغے د پاره نو مونځ اوکړو هغه د مازیګر پس د نمر پرے وتلو نه او بیا ئے مونځ اوکړو د ماښام (بخاری ج ۱ ص ۸۴)

فائده ۱: دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه پیغمبر ﷺ یو مونځ قضاء په جمع کړے دے دا یوے ورځے واقعه ده ترمذی شریف کښ د جنګ خندق د بلے ورځے واقعه ذکر ده چه پیغمبر ﷺ به ځلور مونځونه قضاء شوے ؤو او هغه ئے په جمع قضا راګرځولے ؤو (ج ۱ ص ۲۵)

فائده ۲: د قضا مونځونو په جمع سره راګرځول جائز دی او د هغے د پاره اذان او اقامت کول هم جائز دی په روایت د ابو قتادهؓ سره ثابت دی روایت بخاری شریف کښ ذکر دے (ج ۱ ص ۱۳) او دا مسلك د احنافو دے (نصر الباری ج ۳ ص ۲۰۳).

الدرس الخامس عشر بعد المأتين ﴿۲۱۵﴾

دګوتمے باره کښ احادیث

[۱۰۷۱] **الحديث الاول:** عن انسؓ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَتَخَتَّمُ بِالْفِضَّةِ. صحيح (صحيح الجامع ج ۲ ص ۸۸۱)

ترجمه: انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به دسپینو زرو ګوتمه په لاس کوله.

[۱۰۷۲] **الحديث الثاني:** عن ابن عمرؓ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَتَخَتَّمُ فِي يَسَارِهِ. صحيح (صحيح الجامع ج ۲ ص ۸۸۱)

ترجمه: ابن عمرؓ فرمائی چه رسول الله ﷺ به په کس لاس کښ ګوتمه اچوله.

[۱۰۷۳] **الحديث الثالث:** عن انسؓ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَتَخَتَّمُ فِي يَمِينِهِ. صحيح (صحيح الجامع ج ۲ ص ۸۸۱)

ترجمه: انسؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ به په ښی لاس کښ ګوتمه اچوله.

فائده: د دواړو احدیثونو نه معلومه شوه چه په دواړو لاسونو کښ ګتمه اچول جائز دی.

[۱۰۷۴] **الحديث الرابع:** عن انسؓ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَجْعَلُ فَصَّهُ مِمَّا يَلِي كَفَّهُ. صحيح. (صحيح الجامع ج ۲ ص ۸۸۳)

ترجمه: د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به ګرځوو غمے د ګوتمے تلی طرف ته.

[۱۰۷۵] **الحديث الخامس:** عن عليؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نَهٰى عَنْ خَاتَمِ الذَّهَبِ وَعَنْ لُبْسِ الْقَسِّيِّ وَالْمِيثَرَةِ الْحَمْرَاءِ. اسناده جيد كذا في السلسلة الاحاديث الصحيحة ج ۵ ص ۵۱۹

ترجمه: د حضرت علیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړیده د سرو زرو د ګوتمے نه (دسړو دپاره) اود قسی کپړو نه (چه دے کښ ریښم وو) او د ګدی سرے نه (ځکه چه دے کښ سور والے وو او سور رنګ شیطان خوښوی)

فائده : حدیث شریف نه معلومه شوه چه سړی د پاره د سروزرو ګتمه استعمالول ګناه ده بعضے علاقو کښ رواج دے چه رشته اوشی نو خواخی تحفه کښ زوم ته د سرو ګتمه ورکوی او زوم ئے استعمالوی دے حدیث نه معلوم شو چه دا رواج غلط دے.

الدرس السادس عشر بعد المأتين ﴿٢١٦﴾

درسول الله ﷺ خوښے خبرے

[١٠٧٦] **الحديث الاول** : عن عائشة رضى الله عنها : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحِبُّ التَّيَامُنَ مَاسْتَطَاعَ فِي طُهُوْرِهِ وَتَنَعُّلِهِ وَتَرَجُّلِهِ وَفِي شَأْنِهِ كُلِّهِ. (صحيح الجامع جـ٢ صـ ٨٨٤)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها نه نقل دی چه رسول الله ﷺ به هر کار کښ ښی طرف نه شروع کول خوښول ځومره چه به ئے طاقت وو. په پاکوالی دده کښ اودس کښ او په پنړو اچولو کښ او په سر ګومنزولو کښ او په هرکار کښ.

[١٠٧٧] **الحديث الثانى**: عن عائشة رضى الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحِبُّ الْحَلْوَاءَ وَالْعَسَلَ.. صحيح (صحيح الجامع جـ ٢ صـ ٨٨٤)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ به حلواء (خولاځیز) او شهد خوښول.

[١٠٧٨] **الحديث الثالث** : عن انس كَانَ النَّبِيّ ﷺ يُحِبُّ الدُّبَّاءَ صحيح . (صحيح الجامع جـ ٢ صـ ٨٨٤)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه نبی ﷺ به کدو خوښوو.

[١٠٧٩] **الحديث الرابع**: عن ابى سعيد ص قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحِبُّ الْعَرَاجِيْنَ وَلَا يَزَالُ فِيْ يَدِهِ مِنْهَا. صحيح.

ترجمه : رسول الله ﷺ به دکجهورو اوچے لختے خوښولے او همیشه به دهغوی په لاس کښ دهغے نه یو لخته وه.

[١٠٨٠] **الحديث الخامس** : عن كعب بن مالك قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُحِبُّ اَنْ يَخْرُجَ إِذَا غَزَا يَوْمَ الْخَمِيْسِ . صحيح (صحيح الجامع جـ٢ صـ ٨٨٤) وفى رواية عنه كَانَ يَسْتَحِبُّ ان يُسَافِرَ يَوْمَ الْخَمِيْسِ. (الصحيح الجامع جـ٢ صـ٨٨٧)

ترجمه : کعب بن مالك نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به دزیارت په ورځ وتل خوښول کله چه به جهاد له تلو او یو روایت کښ دده نه نقل دی چه نبی ﷺ به خوښول چه سفر اوکړی په ورځ دزیارت .

فائده : دے حدیث نه معلومه شوه چه سفر کول په ورځ دزیارت بهتر دی.

الدرس السابع عشر بعدالمأتين ﴿۲۱۷﴾

دالله تعالیٰ دمدد یو سبب

[۱۰۸۱] **الحدیث الاول** : عن ابن عباسؓ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يَدُاللّٰهِ مَعَ الْجَمَاعَةِ رواه الترمذی وقال هذا حدیث غریب ورواته کلهم ثقاة (تحفة الاحوذی جـ ٦ صـ ٣٢٣)

ترجمه : دحضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی امداد دالله تعالیٰ دجماعت سره وی.

فائده : نهایه کښ ابن الاثیرؒ لیکلے دی چه کومه ډله خپل مینځ کښ اتفاق لری هغه به په حفاظت دالله تعالیٰ کښ وی او دوی به د تکلیف او خوف نه لرے وی نو په اتفاق اوسیدل پکار دی .(تحفه)

خبرے په قلار پکار دی

[۱۰۸۲] **الحدیث الثانی** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحَدِّثُ حَدِيثاً لَو عَدَّهُ عَادٌ لَأَحْصَاهُ. (صحیح صحیح الجامع جـ ۲ صـ ۸۸۵)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی رسول الله ﷺ به خبرے کولے "داسے په آرام آرام سره" کچرته یو شمیرونکی شمیرلے نو خامخا ئے شمیرلے شوے.

فائده : حدیث شریف کښ د خبرو کولو یو ادب بیان شو چه خبرے داسے کوئی چه هغه مخاطب ته فائده رسوی په قلار او په ارام په واضح الفاظو سره چه اوریدونکی ترے پوره فائده واخلی .

عیدگاه ته پیاده تلل سنت دی

[۱۰۸۳] **الحدیث الثالث**: عن ابن عمرؓ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَخْرُجُ إِلَى الْعِيْدِ مَاشِياً وَ يَرْجِعُ مَاشِياً . (صحیح صحیح الجامع جـ۲ صـ ۸۸۵)

ترجمه : دابن عمرؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ به داختر "مونځ" له عیدگاه ته پیدل تلو او واپس به هم پیدل راتلو.

فائده : حدیث شریف نه د عید گاه د تلو یو ادب معلوم شو چه عیدگاه ته پیاده تلل راتلل بهتر دی او که ضرورت وی ځائے لرے وی یا سړے بیمار وی نو بیا په سورلے تلل هم جائز دی .

دعیدگاه په لاره تکبیرونه وئیل سنت دی

[۱۰۸٤] **الحدیث الرابع** : عن ابن عمرؓ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَخْرُجُ فِي الْعِيْدَيْنِ رَافِعاً صَوْتَهُ بِالتَّهْلِيْلِ وَالتَّكْبِيْرِ. (صحیح صحیح الجامع جـ۲ صـ۸۸۱)

ترجمه : دابن عمرؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ به اخترونو کښ وتلو داسے حال کښ چه

وچتونکے به وو آواز خپل په "لااِله الاالله" او په "الله اکبر" باندے.

زمزم راوړل سنت دی

[۱۰۸۵] **الحدیث الخامس:** عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَحْمِلُ مَاءَ زَمْزَمَ. (صحیح صحیح الجامع جـ۲ صـ۸۸۵)

ترجمه: د عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د زمزم اوبه د مکے معظمے نه ځان سره راوړے.

فائده: ددے حدیث مبارك نه معلومه شوه چه دزمزم اوبهٔ راوړل دمکے معظمے نه سنت دی.

الدرس الثامن عشر بعدالمأتين ﴿۲۱۸﴾

سورة قاف خطبه کښ وئیل

[۱۰۸۶] **الحدیث الاول:** عن بنت الحارث بن النعمان قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَخْطُبُ بـ "قَافِ" كُلَّ جُمُعَةٍ؛ صحیح (صحیح الجامع جـ۲ صـ۸۸۵)

ترجمه: بنت الحارث بن نعمان نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به هره جمعه په سورة "قاف" خطبه وئیله .یعنی سورة "قاف" به ئ خطبه کښ لوستلو.

په خپل لاس قربانی کول

[۱۰۸۷] **الحدیث الثانی:** عن انسٌ قال كان النبی ﷺ يَذْبَحُ أُضْحِيَتَهُ بِيَدِهِ . صحیح الجامع جـ۲ صـ ۸۸۶)

ترجمه: انسؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ به قربانی (ذبح) په خپل لاس کوله.

فائده: ددے حدیث مبارك نه معلومه شوه چه خپله قربانی په خپل لاس ذبح کول سنت دی . خو کچرے په خپله سرے په ذبح کولو قادر نه وی یا په څه وجه نه ذبح کوی نو دبل په لاس ذبح هم جائز ده.خودغه صورت کښ خپلے قربانی ته دذبح وقت کښ په خپله حاضری مستحب ده.

په سورلی دوه کسه سوریدل

[۱۰۸۸] **الحدیث الثالث:** عن انسٌ قال كان النبی ﷺ يُرْدِفُ خَلْفَهُ.(صحیح .الجامع)

ترجمه: انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به ځان نه روستو په سورلی سرے سورولو.

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه په یوه سورلی دوه کسان سوریدل جائز دی که سورلی مضبوطه وی.او دځه منکر او ناروا ذریعه نه ګرځی.

دتواضع نبیے

[۱۰۸۹] **الحدیث الرابع:** عن ابی ایوب قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَرْكَبُ الْحِمَارَ وَ يَخْصِفُ النَّعْلَ وَ يُرَقِّعُ

الْقَمِيْصَ وَيَلْبَسُ الصُّوْفَ وَيَقُوْلُ مَن رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي . حسن . (صحيح الجامع جـ٢ صـ ٨٨٧)

ترجمه : ابوایوبؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په خر سورلی کوله او پنړے به یې ګنډلے او قمیص ته به ښے ټکړے اچولے او دوړی (جامے) به یې اغوستلے او وئیل به یې چه څوک ځما د سنتو نه مخ اړوی نو دے زما نه نه دے.یعنی ځما په طریقه نه دے.

فائده : تواضع خو په حقیقت کښ د زړه سره تعلق لری چه سړے د زړه نه هر مسلمان د ځان نه بهتر ګڼړی او د هغه عزت په زړه کښ لری او ظاهری ننبسے ښے دغه دی کم چه حدیث شریف کښ ذکر دی .)

د اذان جواب سنت دے

[١٠٩٠] **الحديث الخامس** : عن ابی سعید قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ فَقُوْلُوْا مِثْلَ مَا يَقُوْلُ الْمُؤَذِّنُ . صحيح (الجامع جـ ١ صـ ١٦٧)

ترجمه : د حضرت ابوسعیدؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی کله چه تاسو بانګ واوری، نو اووائی په شان د هغے کلماتو چه بانګی ئے وائی یعنی بانګی له جواب ورکړی.

فائده : بانګی له جواب په ژبه ورکول سنت دی بانګی چه ځنګه الفاظ وائی هغه شان الفاظ ورسره وئیل پکار دی بعض روایات کښ راغلیدی چه حیّ علی الصلوة او حی علی الفلاح په جواب کښ لاحول ولا قوة وئیل پکار دی شاه انور شاه صاحبؒ نه نقل دی هغوئی وئیل چه پښځلس کالهٖ به ما دواړه جمع کول خو بیا ماله خیال راغی که جمع بهتر وی نو پیغمبر علیه السلام به دواړه جمع کړے وی نو اوس زه کله په یوه طریقه جواب ورکوم کله په بله لهذا بهتره دا ده چه کله په یوه طریقه عمل اوشی د اذان کلمات په جواب کښ اوئیلے شی او کله په بله طریقه عمل اوشی چه د "حیّ علی الصلوة او حیّ علی الفلاح" په جواب کښ "لا حول و لا قوة الا باللّٰه" اووئیلے شی.

الدرس التاسع عشر بعدالمأتين ﴿٢١٩﴾

د صف اول اهمیت

[١٠٩١] **الحديث الاول**: عن عِرْبَاضٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَسْتَغْفِرُ لِلصَّفِّ الْمُقَدَّمِ ثَلَاثًا وَلِلثَّانِي مَرَّةً. صحيح (صحيح الجامع جـ٢ صـ٨٨٨)

ترجمه : دعرباضؓ فرمانی رسول الله ﷺ به داول صف دپاره درے ځله استغفار(بخنه) غوښتله او دویم صف والا دپاره به یے یو ځل.

فائده : د صف اول د پاره درے ځله دعا غوستل د صف په لوئے فضیلت دلالت کوی د دے

وجے نه هر مسلمان د پاره د صف اول د رسیدلو کوشش پکار دے .

دبدبوئی نه پرهیز

[۱۰۹۲] **الحدیث الثانی**: عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَشْعَدُّ عَلَيْهِ اَنْ يُوْجَدَ عَنْهُ الرِّيْحُ

صحیح. (صحیح الجامع ج۲ص۸۸۸)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه نبی علیه السلام باندے به ډیره سختیدله (گرانه به وه) دا چه ددوی نه بدبوئی خوره شی.

فائده : په دے حدیث مبارك عمل هر مسلمان لره پکار دے د هر بدبو دار څیز نه ځان ساتل پکار دی مثلا نسوار تمباکو سگریټ او د هغه خوراکی موادونه چه بدبو دار دی ځان ترے ساتل اهم دے .

دنماز چاشت رکعتونه

[۱۰۹۳] **الحدیث الثالث** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُصَلِّى الضُّحٰى اَرْبَعاً وَيَزِيْدُ مَاشَاءَ اللّٰهُ. صحیح . (صحیح الجامع ج۲ص۸۸۸)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی نبی علیه السلام به دساخت مونځ څلور رکعتونه کول او زیاتوو به ئے څومره به چه الله ته خوښه شوه.

فائده : د څاښت مونځ دوه رکعاتو نه تر دولسو رکعاتو پورے ثابت دے چه څوك څومره کولے شی.

دسالن پسندیده حصه

[۱۰۹٤] **الحدیث الرابع**: عن انسٍ رضی الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُعْجِبُهُ الدُّفَّلُ. رواه الترمذی فی الشمائل صحیح الجامع ج۲ص۸۹۱) .

ترجمه : دحضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به پسند کولو رشتلے دسالن.(پخکړی)

خائسته خوب حضور ﷺ ته خوښ وو

[۱۰۹۵] **الحدیث الخامس**: عن انسٍ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُعْجِبُهُ الرُّؤيا الْحَسَنَةُ. (صحیح الجامع ج۲ص۸۹۱)

ترجمه :حضرت انسؓ فرمائی نبی ﷺ له به ښائسته خوب تعجب کښې اچولو.(یعنی خوښولو به ئے)

الدرس العشرون بعد المأتين ﴿۲۲۰﴾

پیغمبر پاك ﷺ ته خوشبو پسندوه

[۱۰۹٦] **الحدیث الاول** : عن عائشة رضی الله عنها كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُعْجِبُهُ الرِّيْحُ الطَّيِّبَةُ. (صحیح الجامع

جـ۲صـ۸۹۱)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی وو رسول الله ﷺ خوشحالولو به دوی لره خوشبو.

په کښتو تسبیحات وئیل سنت دی

[۱۰۹۷] **الحدیث الثانی** : عن ابن عمر رضی الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَعْقِدُ التَّسْبِيحَ بِيَمِينِهِ. (رواه ابوداؤد . صحیح الجامع جـ۲صـ۸۹۱)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به تسبیح د بنی لاس په ګښتو وئیل." یعنی شمارل به ئ".

فائده : په ګښتو باندے تسبیحات شمیرل بهتر دی ځکه دوی به په ورځ دقیامت ګواهی کوی او په تسبو باندے شمیرل هم جائز دی.

کافر دمسلمان وارث نه شی کیدے

[۱۰۹۸] **الحدیث الثالث** : عن اسامة بن زيد : أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا يَرِثُ الْمُسْلِمُ الْكَافِرَ وَلَا الْكَافِرُ الْمُسْلِمَ . رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح وهو حدیث متفق علیه اخرجه اصحاب السنن (تحفه جـ ٦صـ ٢٣٩)

ترجمه : دحضرت اسامهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه وراثت به نه اوری مسلمان دکافر نه او کافر دمسلمان نه.

فائده : موانع دوراثت نه څلور دی .(۱) اختلاف ددین (۲) اختلاف دملك (۳) قتل (۴) غلامی.دے څلورو کښی چه یو سبب هم موجود وی نو یو دبل وارث نشی کیدے.

هدیه او دهغے عوض سنت دی

[۱۰۹۹] **الحدیث الرابع** : عن عائشة قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقْبَلُ الْهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا. (رواه الترمذی . صحیح الجامع جـ۲صـ۸۹۳)

ترجمه : عائشة رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ به هدیه قبلوله او دهغے بدله به ئے هم ورکوله.

د رسول الله ﷺ دعوامی تعلق یو نمونه

[۱۱۰۰] **الحدیث الخامس** : عَنْ أَنَسٍ ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اسْمُهُ زَاهِرًا ، وَكَانَ يُهْدِي إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ ﷺ الْهَدِيَّةَ مِنَ الْبَادِيَةِ ، فَيُجَهِّزُهُ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : إِنَّ زَاهِرًا بَادِيَتُنَا ، وَنَحْنُ حَاضِرُوهُ . وَكَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُحِبُّهُ ، وَكَانَ رَجُلًا دَمِيمًا ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ ﷺ يَوْمًا وَهُوَ يَبِيعُ مَتَاعَهُ ، فَاحْتَضَنَهُ مِنْ خَلْفِهِ وَلَا يُبْصِرُهُ الرَّجُلُ ، فَقَالَ : أَرْسِلْنِي مَنْ هَذَا فَالْتَفَتَ فَعَرَفَ النَّبِيَّ ﷺ ، فَجَعَلَ لَا يَأْلُو مَا أَلْصَقَ ظَهْرَهُ

بِصَدْرِ النَّبِيِّ ﷺ ، حِيْنَ عَرَفَهُ ، وَجَعَلَ النَّبِيُّ ﷺ يَقُوْلُ : مَنْ يَشْتَرِى الْعَبْدَ ؟ فَقَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، إِذًا وَاللّٰهِ تَجِدَنِيْ كَاسِدًا ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ : لٰكِنْ عِنْدَ اللّٰهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ اَوْ قَالَ : لٰكِنْ عِنْدَ اللّٰهِ اَنْتَ غَالٍ . ((إسناده صحيح . مسند أحمد الرسالة . رقم : ١٢٦٤٨))

ترجمه : حضرت أنس ؓ نه روایت دے چه یو سړے وو د باندے نوم ئے زاهر وو هغه به رسول الله ﷺ ته د باندے هدیه راوړله نو پیغمبر علیه السلام به ورته د تلو په وخت کښ د مدینے منورے د څیزونو هدیه ورکړه نو پیغمبر علیه السلام به وئیل چه زاهر زموږ د پاره باندے ده او مونږه د ده د پاره بناریو او نبی کریم ﷺ به ده سره مینه کوله او دے یو بدشکله سړے وو نو راغلو ده ته نبی ﷺ یوه ورځ او ده سامان خرڅولو (بازار کښ) نو د شانه اونیوو ده لره نبی ﷺ او دے سړی نه وو لیدلے پیغمبر علیه السلام نو دے اووئیل ما پریده ته څوك ئے ؟ بیا ده اوپیژندل چه دا پیغمبر علیه السلام نو شروع شو چه شا ئے د نبی ﷺ سینے سره جوخته کله ئے چه اوپیژندل چه دا رسول الله ﷺ دے او شروع شو نبی کریم ﷺ چه فرمائیل ئے څوك به واخلی ځما نه دا غلام نو اووئیل هغه یا رسول الله ﷺ په دغه وخت کښ قسم دے ته به بیا اوموے مالره کوته نو اووئیل ورته نبی کریم ﷺ نه ئے ته د الله په نیز کوته ، یا ئے ورته داسے اووئیل چه لیکن ته د الله په نیز قیمتی ئے .

الدرس الحادی والعشرون بعدالمأتین ﴿ ۲۲۱ ﴾

به ه رو سلام اچول

[۱۱۰۱] **الحدیث الاول** : عن انسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَمُرُّ بِالصِّبْيَانِ فَيُسَلِّمُ عَلَيْهِمْ . (صحيح الجامع جـ۲ صـ۸۹۵)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په ماشومانو تیریدو نو سلام به ئے پرے اچولو.

په دم کښ شف کول

[۱۱۰۲] **الحدیث الثانی** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَنْفُثُ فِي الرُّقْيَةِ. (صحيح الجامع جـ ۲ صـ ۸۹۵)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ به په دَم کښ پوکے وهو.(شُف کول مراد دی).

د ماشومانو سره خوش طبعی کرل

[۱۱۰۳] **الحدیث الثالث** : عن انس رضی الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُلَاعِبُ زَيْنَبَ بِنْتَ أُمِّ سَلَمَةَ وَيَقُوْلُ

يَازَيْنَبُ يَا زَوَيْنَبُ مِرَاراً. صحيح الجامع جـ٢ صـ٨٩٦)

ترجمه : انس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله به زینب بنت ام سلمة (دا دنبی ﷺ پرکښی وه)لوبے کولے او ورته به وے " اے زینب اے زوینب" باربار به وئیل.

الله تعالیٰ پرته نور څه حالیږی

[١١٠٤] **الحديث الرابع** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِلّٰهِ اَفْرَحُ بِتَوْبَةِ اَحَدِكُمْ مِنْ اَحَدِكُمْ بِضَالَّتِهِ اِذَا وَجَدَهَا. (صحيح الجامع جـ٢ صـ٨٩٨)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه الله ډیر خوشحالیږی په توبه د یو تن ستاسو د خوشحالیدو د یو ستاسو نه په روک شوی سورلی کله چه ئی بیا اوموی.

د قبرونو زیارت کول

[١١٠٥] **الحديث الخامس** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاَنْ اَطَأَ عَلٰى جَمْرَةٍ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اَطَأَ عَلٰى قَبْرٍ. (صحيح الجامع جـ ٢ صـ ٨٩٨)

ترجمه : ابو هریره رضی لله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ وفرمائیل چه ماته دا خوښه ده چه په سکروټه لاړ شم ددے نه چه په قبر لاړ شم.

فائده : افسوس دے ځمونږه زمانه کښ خلق د قبرونو بے حرمتی کوی ځوك په کښ ځاروی ځره وی ځوك په کښ اودس ماته وی ځوك په کښ کرکټ لګوی ألغرض په مختلفو طریقو سره د قبرونو بے احترامی کیږی د دے نه زان ساتل لازم دی .

الدرس الثانی والعشرون بعدالمأتين ﴿٢٢٢﴾

پیغمبر پاك ﷺ څو ښې کلمات

[١١٠٦] **الحديث الاول** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاَنْ اَقُوْلَ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَرُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِمَّا طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ. (صحيح الجامع ج٢ ص٨٩٩)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی خامخا وئیل ددی کلماتو " سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَكْبَر " ماته ډیر خوښ دی د هر هغه څه نه چه نمر په هغے راختلے دے (یعنی چه د نمر رنړا پری لګیدلے ده)

د زنانه ډوډۍ پخ پخپله کول

[١١٠٧] **الحديث الثانی** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاَنْ تُصَلِّيَ الْمَرْاَةُ فِيْ بَيْتِهَا

خَيْرٌ مِّنْ اَنْ تُصَلِّى فِى حُجْرَتِهَا وَ لَاَنْ تُصَلِّى فِى حُجْرَتِهَا خَيْرٌ لَّهَا مِنْ اَنْ تُصَلِّى فِى الدَّارِ وَلَاَنْ تُصَلِّى فِى الدَّارِ خَيْرٌ لَّهَا مِنْ اَنْ تُصَلِّى فِى الْمَسْجِدِ. (صحيح الجامع ج۲ ص۸۹۹)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل خامخا مونځ کول د یو زنانه په کوټه خپله کښی بهتر دے د مونځ کولو نه په بالاخانه کښی. او خامخا مونځ کول د یو زنانه په بالاخانه کښی بهتر دے د مونځ کولو نه په کور کښی (یعنی په صحن کښی). او خامخا مونځ کول د یو زنانه په کور کښی (صحن کښ د کور) بهتر دے ددی د پاره د مونځ کولو نه په جومات کښی.

فائده : د حدیث شریف خلاصه دا ده چه د ښځو د پاره پرده کول ډیر ضروری دی د دے وجے نه ددے مونځ چه ځومره پټ ځائے کښ وی هغے کښ بهتر دے داسے وائی چه پرده او عفت تاج او تخت د زنانه دے .

د صبا او مازیګر مونځ پسے د ذکر فضیلت

[۱۱۰۸] **الحديث الثالث** : عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاَنْ اَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَّذْكُرُوْنَ اللّٰهَ تَعَالٰى مِنْ صَلٰوةِ الْغَدَاةِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اُعْتِقَ اَرْبَعَةً مِنْ وُلْدِ اِسْمَاعِيْلَ وَ لَاَنْ اَقْعُدَ مَعَ قَوْمٍ يَّذْكُرُوْنَ اللّٰهَ مِنْ صَلٰوةِ الْعَصْرِ اِلٰى اَنْ تَغْرُبَ الشَّمْسُ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اُعْتِقَ اَرْبَعَةً. حسن. (الجامع ج۲ ص۸۹۹)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی چه خامخا کیناستل زما د یو قوم سره چه الله یادوی د سحر د مونځ نه تر نمر راختلو پوری (دا) ماته ډیر خوښ دی ددے نه چه آزاد کړم ځلور (غلامان) د اولاد د اسماعیل علیه السلام نه او خامخا کیناستل زما د یو قوم سره چه الله یادوی د مازیګر مونځ نه تر نمر پریوتو پوری (دا) ماته ډیر خوښ دی ددے نه چه ځلور غلامان آزاد کړم.

یو زنا چه د لسو زنا ګانو برابر ده

[۱۱۰۹] **الحديث الرابع** : عن المقداد ابن اسود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاَنْ يَّزْنِيَ الرَّجُلُ بِعَشْرِ نِسْوَةٍ خَيْرٌ لَّهُ مِنْ اَنْ يَّزْنِيَ بِامْرَاَةِ جَارِهِ وَلَاَنْ يَّسْرِقَ الرَّجُلُ مِنْ عَشْرَةِ اَبْيَاتٍ اَيْسَرُ لَهُ مِنْ اَنْ يَّسْرِقَ مِنْ بَيْتِ جَارِهِ. (صحيح الجامع ج۲ ص۹۰۰)

ترجمه : د مقداد ابن اسود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه خامخا زنا کول د یو سړی د لسو زنانو سره بهتر دی دده د پاره د زنا کولو نه د ګاونډی د ښځے سره (یعنی زنا کول خو هسی هم حرام دی او ګناه ده خو بیا د خپل ګاونډی د ښځے سره زنا کول ډیره لویه ګناه ده او دلسوزناګانو برابر ده) او خامخا غلا کول د لسو کورونو نه دا ډیر آسان دی ده د پاره د غلا کولو نه د ګاونډی د کورنه (یعنی غلا کول خو ګناه ده خو د ګاونډی د کور نه غلا

کول لس چنده زیاته ګناه ده)

پردی ښځه مسح کول نوښے جرم

[۱۱۱۰] **الحدیث الخامس**: عن معقل بن یسار قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَأَنْ یُطْعَنَ فِیْ رَأْسِ اَحَدِکُمْ بِمِخْیَطٍ مِنْ حَدِیْدٍ خَیْرٌ لَّهٗ مِنْ اَنْ یَّمَسَّ اِمْرَاَةً لَا تَحِلُّ لَهٗ: (صحیح الجامع ج۲ص ۹۰۰)

ترجمه: معقل بن یسار رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه خامخا اووهلے شی داوسپنے یو ستن په سر دیو تن ستاسو کښ دا ډیره ښه ده ددے نه چه دے لاس وروړی داسے یوے ښځے له چه ده له حلاله نه وی.

الدرس الثالث والعشرون بعدالمأتین ﴿۲۲۳﴾

د مازیګر مونځ د نمر پرے وتو وخت کښ هم کیږی

[۱۱۱۱] **الحدیث الاول**: عن ابی بصرة الغفاریؓ قَالَ صَلّٰی بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِالْمُخَمَّصِ صَلٰوةَ الْعَصْرِ فَقَالَ اِنَّ هٰذِهِ صَلٰوةٌ عُرِضَتْ عَلٰی مَنْ کَانَ قَبْلَکُمْ فَضَیَّعُوْهَا فَمَنْ حَافَظَ عَلَیْهَا کَانَ لَهٗ اَجْرُهٗ مَرَّتَیْنِ وَلَا صَلٰوةَ بَعْدَهَا حَتّٰی تَطْلُعَ الشَّاهِدُ وَالشَّاهِدُ النَّجْمُ. رواه مسلم (مشکوة ج۱ ص۹۷)

ترجمه: دحضرت أبی بصره غفاریؓ نه روایت دے چه مونځ اوکړو مونلاړه ته رسول الله ﷺ دمازیګر په مخمص مقام کښ نو وئے فرمائیل دا مونځ پیش کړے شوے ؤو په هغه چا چه مخکښ ستاسونه وو (یعنی یهود اونصاری)نو هغوئی ضائع کړو نو چه څوك حفاظت اوکړی په دے باندے نو ده دپاره اجر دے دوه چنده او نیشته مونځ پس د ده نه تر دے چه راوچت شی شاهد او شاهد نه مراد ستوری دی.

فائده: د دے حدیث نه معلومه شوه چه د مازیګر مونځ د نمر پرے وتلو وخت کښ هم صحیح کیږی البته بلا ضرورت نمر زیږیته روستو کول د مونځ مکروه دے او د دے مونځ اجر دو چند دے ځکه یو اجر د محافظت دے او بل اجر د عمل دے یا یو اجر دے د محافظت په عبادت باندے او بل اجر دے په ترك د خرید او فروحت ځکه وخت د مازیګر وخت د سود زیان دے اووخت د شغل او د تهکاوت دے او حافظ ابن حجرؒ وائی چه یو ځل اجر د دے د فضیلت د وجے نه دے ځکه دا "صلواة وسطی" دے او دویم ځل اجر د محافظت د وجے نه دے او یادلرئی تنصیص په شئی نفی د ماعدا نه کوی یعنی د دے مونځ په پاندئی باندے دوه ځله اجر ورکوی دا نفی نه کوی چه په بل مونځ باندے دوه ځله اجر نشته بلکه د نورو مونځونو په پاندئ هم د ډبل اجر امکان شته دے .د دے حدیث شریف کښ د مازیګر د مونځ اهمیت او فضیلت هم بیان شوے دے. د حدیث شریف نه دا هم معلومه شوه چه د مازیګر نه روستو تر شپے راختلو پورے نفل نه دی جائز.

په جامه کښ ښځه د سړي سره مشابهت کول دي

[۱۱۱۲] **الحديث الثاني** : عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَعَنَ اللّٰهُ الرَّجُلَ يَلْبَسُ لُبْسَةَ الْمَرْاَةِ وَالْمَرْاَةُ تَلْبَسُ لُبْسَةَ الرَّجُلِ. (صحيح الجامع جـ۲ صـ ۹۰۷)

ترجمه : ابو هريره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی چه دالله لعنت دے په هغه سړی چه هغه کپړے واغوندی په شان دکپړو دزنانو او لعنت دالله دی وی په هغه زنانه چه کپړے اغوندی په شان دکپړو دسړی.

[۱۱۱۳] **الحديث الثالث**: عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَعَنَ اللّٰهُ الْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ وَالْمُتَشَبِّهِيْنَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ. (صحيح الجامع جـ ۲ صـ ۹۰۸)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی لعنت دالله دے په هغه زنانو چه ځان مشابه کوی سړو سره او لعنت دالله دے په هغه سړو چه ځان مشابه کوی دښځو سره.

[illegible] دلعنت

[۱۱۱۴] **الحديث الرابع** : عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ سَبَّ اَصْحَابِیْ. (صحيح الجامع جـ۲صـ ۹۰۹)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی چه لعنت دالله دے په هغه چا چه بد رد وائی زما صحابو ته.

دلعنت نو څو اسباب

[۱۱۱۵] **الحديث الخامس**: عن علی رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ لَعِنَ وَالِدَيْهِ وَلَعَنَ اللّٰهُ مَنْ ذَبَحَ لِغَيْرِ اللّٰهِ وَ لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ آوٰی مُحْدِثًا وَ لَعَنَ اللّٰهُ مَنْ غَيَّرَ مَنَارَ الْاَرْضِ. (صحيح الجامع جـ۲ صـ ۹۰۹)

ترجمه : علی رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی چه لعنت دالله دے په هغه چا چه څوك لعنت وائی په خپل مور او پلار باندے او لعنت دالله دے په هغه چا چه ذبح کوی په نوم د غیرالله او لعنت دالله دے په هغه چا چه څوك ځائے ورکړے بدعتی ته او لعنت دالله تعالیٰ دے په هغه چا چه بدل کړی نشانونه دزمکے. (یعنی پوله اوهی او دبل زمکه گیره کړی)

الدرس الرابع والعشرون وبعد المأتين ﴿۲۲۴﴾

دخه کدن په وخت کښ د کلمے تلقين

[۱۱۱۶] **الحديث الاول** : عن ابن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَقِّنُوْا مَوْتَاكُمْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ فَاِنَّ

نَفْسَ الْمُؤْمِنِ تَخْرُجُ رَشْحًا وَ نَفْسُ الْكَافِرِ تَخْرُجُ مِن شِدْقِهِ كَمَا تَخْرُجَ نَفْسُ الْحِمَارِ. ((رواه الطبرانی فی الکبیر و اسناده حسن . مجمع الزوائد جـ ۳ صـ ٦٥))

ترجمه :دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی خپلو مریضانو ته چه حالت دمرګ ته نزدی شی کلمه د " لااله الاالله " وائی ځکه روح دمومن د خولو په مسامات یعنی هغه نری نری سوری چه څرمن کښ وی.(په آسانئ) اوځی او روح دکافر دده په وخکی (په سخته) اوځی لکه دخر.

دروژه دار دوه خوشحالی

[۱۱۱۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِلصَّائِمِ فَرْحَتَانِ فَرْحَةٌ حِيْنَ يُفْطِرُ وَفَرْحَةٌ حِيْنَ يَلْقَى رَبَّهُ .(صحیح الجامع جـ ۲ صـ ۹۲۰)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه دپاره دروژه دارو دوه خوشحالئ دی یو خوشحالی په وخت دروژه ماتی کښ ده او بله خوشحالی چه کله به خپل رب سره ملاویږی.

سجده غیرالله ته جائز نه ده

[۱۱۱۸] **الحدیث الثالث** : عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ اٰمَرْتُ اَحَداً اَنْ يَّسْجُدَ لِاَحَدٍ لَاَمَرْتُ الْمَرْاَةَ اَنْ تَسْجُدَ لِزَوجِهَا. (صحیح الجامع جـ۲ صـ ۹۲۹)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کچرته ما یو تن ته حکم کولے چه سجده اوکړی بل تن ته نو خامخا ما به حکم کړے وے زنانه ته دسجدے کولو خپل خاوند ته.

خاوند حق اهمیت

[۱۱۱۹] **الحدیث الرابع** : عن معاذ رضی الله عنها قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ تَعْلَمُ الْمَرْاَةَ حَقَّ الزَّوْجِ لَمْ تَقْعُدْ مَا حَضَرَ غَدَاءُهُ وَ عَشَاءُهُ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ.(صحیح الجامع جـ۲ صـ ۹۳۲)

ترجمه : دحضرت معاذ رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی کچرے ښځه پوهیدے چه دخاوند ځه حق دے نو دا به د خاوند د صبانارئ او دبیګانارئ نه فراغت پورے نه کیناستے.

فائده : مطلب دا دے کچرے ښځے ته د خاوند حق پته وی نو دا به د خاوند په خدمت کښ همیشه حاضره تابعداره ولاړه وی .

صف اول دپاره کوشش

[۱۱۲۰] **الحدیث الخامس**: عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ تَعْلَمُوْنَ مَا فِی الصَّفِّ

اَلْاَوَّلِ مَا كَانَتِ اِلَّا قُرْعَةً. (صحيح الجامع جـ٢صـ٩٣٣)

ترجمه : ابو هريرة رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کچرته تاسو ته پته وه دهغے ثواب، چه په صف اول کښ دے نو نه به وه مگر خسنړے کول. " یعنی تاسو به پیا په صف اول خسنړے اچولے".

الدرس الخامس والعشرون بعدالمأتين ﴿٢٢٥﴾

دالله په نزد دنیا بے قدری

[١١٢١] **الحديث الاول** : عن سهل بن سعد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَاللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ مَا سَقٰى كَافِراً شُرْبَةَ مَاءٍ. (صحيح الجامع جـ٢صـ ٩٣٧).

ترجمه : سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی که چرته دا دنیا دالله تعالیٰ په نزد باندے دماشی دوزر هم برابر وے نو یو کافر ته به ئے یو گوټ اوبه هم نه وے ورکړے.

دشپے بیدائے گرځیدل منع دی

[١١٢٢] **الحديث الثانى** : عن ابن عمر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ يَعْلَمُ النَّاسُ مِنَ الْوَحْدَةِ مَا اَعْلَمُ مَا سَارَ رَاكِبٌ بِلَيْلٍ وَحْدَهُ. (صحيح الجامع جـ٢صـ٩٤٢)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی که چرته خلقو ته دشپے دیوائے گرځیدو دنقصان پته وے هغه چه ماته پته ده نو نه به گرځیدلے یو سور په سورلی دشپے بیوائے.

دسوال مذمت

[١١٢٣] **الحديث الثالث** : عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَوْ يَعْلَمُ صَاحِبُ الْمَسْئَلَةِ مَالَهُ فِيْهَا لَمْ يَسْأَلْ. (صحيح الجامع جـ٢صـ ٩٤٣)

ترجمه : دحضرت ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دے چه رسول الله ﷺ فرمائی کچرے سوالگر ته پته وے چه په سوال کښ څه سزا ده نو ده به سوال نه وے کړے.

دامامت حقدار

[١١٢٤] **الحديث الرابع** : عن عمرو بن سلمة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِيَؤُمُّكُمْ اَكْثَرُكُمْ قِرَاءَةً لِلْقُرْآنِ. (صحيح الجامع جـ٢ صـ٩٤٤)

ترجمه : عمرو بن سلمة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی چه خامخا

امامتی دے اوکړی ستاسو هغه چه زیات لوستونکی وی دقرآن.

فائده :علماء وائی چه ابتداء کښ ئے زیات حقدار د امامت زیات لوستونکے د قرآن مقرر کړے وو ترغیباً للقران چه کله دغه مقصد پوره شو او خلق د قرآن سره مانوس شو نو بیا ئے اعلم زیات پوهه زیات حقدار د امامت اوګرځوو.

مالداری څه شے دے

[۱۱۲۵] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ الْغِنٰى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ وَلٰكِنَّ الْغِنٰى غِنَى النَّفْسِ. (صحیح الجامع جـ۲صـ ۹٤۸)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه نه ده مالداری ډیروالے د سامان بلکه مالداری مالداری دنفس (زړه) ده.

فائده : مطلب د حدیث شریف دا دے چه مالدار هغه دے چه د هغه سترګے او زړه نے موړوی مالدار هغه نه دے چه سامان ورسره ډیروی مال ورسره بیسیار وی خو طبع ئے د سپو وی.

الدرس السادس والعشرون بعد المأتين ۲۲٦

دګاونډی خیال ساتل

[۱۱۲٦] **الحدیث الاول** : عن ابن عباس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ الْمُؤْمِنُ الَّذِی يَشْبَعُ وَجَارُهٗ جَائِعٌ اِلٰى جَنْبِهٖ؛ (صحیح الجامع جـ۲صـ۹٤۹)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه نه دے مومن (کامل) هغه چه دے موړ وی او د ده ګاونډی خواته د ده اوګے وی.

دعاء الله تعالیٰ ته ډیره خوښه ده

[۱۱۲۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَيْسَ شَيْءٌ اَكْرَمَ عَلَى اللّٰهِ تَعَالٰى مِنَ الدُّعَاءِ. حسن. (الجامع جـ۲صـ۹۵۱)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نیشته یو شے زیات ګران الله تعالیٰ ته ددعاء نه.

دین په سامان د دنیا بدلول څه نه دی

[۱۱۲۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ بَادِرُوْا بِالْاَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِی كَافِرًا وَيُمْسِی مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا يَبِيْعُ اَحَدُهُمْ دِيْنَهٗ بِعَرَضٍ مِّنَ الدُّنْيَا. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه احمد ومسلم (تحفه جـ ٦ صـ ٣٦٤)

ترجمه : د حضرت ابو هریرهؓ به روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه جلدی اوکړی د نیکو اعمالو په کولو سره مخکښ د راتلو د فتنو نه چه په شان د تورے شپے به وی صبا کوی به سړے مومن اومابنام کوی به کافر اومابنام کوی به مومن او صبا کوی به کافر خرڅه وی دین خپل په سامان د دنیا.

فائده : د حدیث شریف یو مطلب دا دے چه د یو بل مال او وینه به حلال ګڼړی حالانکه د احرام دی په دے به کافر شی دویم مطلب ئے دا دے چه نا جائز معاملات به کوی هغے ته به جائز وائی نو کفر ته به اوځی.

د زمزم اوبه د هر مقصد دپاره ځکل مفید دی

(۱۱۲۹) **الحدیث الرابع** : عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَاءُ زَمْزَمَ لِمَا شُرِبَ لَهُ فَإِنْ شَرِبْتَهُ تَسْتَشْفِي بِهِ شَفَاكَ وَإِنْ شَرِبَهُ مُسْتَعِيْذًا اَعَاذَكَ اللّٰهُ وَإِنْ شَرِبْتَهُ لِتَقْطَعَ ظَمَأَكَ قَطَعَهُ اللّٰهُ وَإِنْ شَرِبْتَهُ لِتَشْبَعَ اَشْبَعَكَ اللّٰهُ وَهِيَ هَزْمَةُ جِبْرِيْلَ وَسُقْيَا إِسْمَاعِيْلَ . رواه الدارقطني وفي تخريجه انه حسن.

ترجمه : د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی اوبه د زمزم دهر مقصد دپاره کارکوی که دمرض نه به شفا طلب کوی هم به ملاوشی اوکه د دے په ځکلود الله نه پناه غواړے هم به ملاوشی او که تنده پرے ماتوے هم ما ته به شی او که د لوګے دفع کولو دپاره ځکے نو مور به شی دا نتیجه د ګوزار د خپے د جبریل علیه السلام ده او دا خړو به وُنکے د اسماعیل علیه السلام ده.

فائده : مطلب د حدیث شریف دادے چه د زمزم اوبه چه په څه نیت اوځکی الله تعالیٰ پرے هغه مقصد پوره کوی. مثلاً د شفا نیت باندے اوسکے نو شفا، دتندے په نیت اوسکے نو سیرابی، دلوګے په نیت اوسکے نو مور والے، د قوتِ حافظے په نیت اوسکے نو حافظه مضبوطول، ورسره حاصلیګی هم دغه شان قرآن شریف چه په څه نیت لولے هغه مقصد ربّ کائنات پوره کوی او شهد او کلونجی هم دا خاصیت لری چه په کوم مقصد ئے استعمال کړی تر سره کیګی.

د زمزم اوبه مختلفو علماء په مختلفو نیتونو باندے ځکلے دی او هغه مقاصد ئے تر لاسه شوے دی څه قدرے تفصیل ئے اوګورئی.

(۱) نیت د عمرؓ په وخت د ځکلو د زمزم کښ

د حضرت عمرؓ نه روایت دے چه هغه کله د زمزم اوبو کله په یو موقع اوځکلی نو دا دعا ئے اوکړه .اے الله! زه دا اوبو ځکم د پاره د دفع د تندے د ورځے د قیامت .(الجوهر المنظم ص ۴۲)

(۲) نیت د ابن عباسؓ په وخت د ځکلو د زمزم کښ

د ابن عباسؓ نه روایت دے چه کله به هغوئی د زمزم اوبو څکلے نو دا دعا به ئے کوله . اے الله ! غواړمه ستانه علم نافع او رزق فراخه او شفا د هرے بیماریٔ نه .(المستدرك للحاكم ص ۴۷۳ ج ۱)

(۳) نیت د امام ابو حنیفهؒ په وخت د څکلو د زمزم کښ

د امام ابو حنیفهؒ نه منقول دی چه هغوئی د زمزم ابو په دے نیت څکلے وے چه ماته په دین کښ لویه پوهه حاصله شی نو دا مقصد ئے پوره شو او هغه د خپلے زمانے لوئے فقیه اوګرزیدو .(فضل ماء زمزم ص ۱۵۳)

(٤) نیت د عبد الله بن مبارکؒ په څکلو د زمزم کښ

د عبد الله بن مبارك نه روایت دے چه ده د زمزم اوبه اوڅکلے بیا ئے حانه کعبے ته کړو او ونے فرمائیل اے الله ! ستا خوږ نبی ﷺ وئیلے دی چه اوبه د زمزم د څه مقصد د پاره اوڅکلے شی نو هغه پوره کیږی نو زه دا اوبو څکم د پاره د دفعے د تندے د ورځے د قیامت بیا ئے ورپسے اوبه اوڅکلے .(الترغیب والترهیب ص ۲۱۰ ج ۲)

(۵) نیت د امام شافعیؒ په څکلو د زمزم کښ

د امام شافعیؒ نه منقول دی هغه وائی چه ما ابو د زمزم د درے مقاصدو د پاره څکلے دی .۱. د ویشتو د پاره (چه نخه رانه نه خطا کیږی) نو زه لس په لس اولمه او کله نهه په لس .۲. د علم د حصول د پاره نو دا دے تاسو وینے (چه الله ماته علم راکړے دے) .۳. او د دخول د جنت د پاره نو زه اومید کومه د حاصلیدو د دغے . (الجوهر المنظم ص ۴۴)

(٦) نیت د امام ابن حزیمه په څکلو د زمزم کښ

د امام ابن حزیمه نه چا تپوس اوکړو چه تاته دا دومره علم دکوم زئی نه درکړے شو نو ده اووئیل چه ما کله د زمزم اوبو څکلے نو ما د الله د علم نافع سوال کړے وو. (سیر اعلام النبلاء ج ۱۴ ص ۳۷۰)

(۷) نیت د والد د امام حکیم ترمذیؒ په څکلو د زمزم کښ

د امام حکیم ترمذیؒ د والد صاحب نه نقل دی چه پو شپه مے په توره تیاره کښ طواف کولو نو تشے متیازے سختے راغلے چه تکلیف ئے راکولو او د حج موسم وو او زه یریدمه که د مسجد نه اوزمه نو په خلقو به خپے کیدمه نو ما دا حدیث یاد کړو چه اوبو د زمزم د هر مقصد د پاره څکلے شی نو زه زمزم ته ورغلمه او خه مے پرے څان مور کړو نو تر صبا پورے ځما نه د متیازو دباؤ ختم شو . (تفسیر قرطبی ص ۳۷۰ ج ۹)

(۸) نیت د امام حاکمؒ په څکلو د زمزم کښ

د امام حاکم نه نقل دی چه دوئی ابو د زمزم په دے نیت څکلے وے چه ماته د خائسته تصانیفو د لیکلو توفیق ملاؤ شی ، نو دے په خپله زمانه کښ خائسته تصنیف کونکے

اوگرزیدو (تذکرة الحفاظ لذهبی ج ۳ صـ ۱۰۴۴)

(۹) نیت د والد د امام جزریؒ په څکلو د زمزم کښ

د امام جزریؒ والد صاحب فرمائی چه ما ابو د زمزم په دے نیت څکلے وے چه ماله الله پاک یو بچے راکړی تارینه چه هغه د اهل قرآن نه وی، نو ماته ئے امام جزریؒ راکړو. (فصل ماء زمزم صـ ۱۴۰)

(۱۰) نیت د حافظ ابن حجرؒ په څکلو د زمزم کښ

حافظ ابن حجرؒ وائی چه ما د زمزم ابو رومبی زل د طلب حدیث په ابتداء کښ په دے نیت اوڅکلے چه ماله الله د حافظ ذهبیؒ مهارت په حدیث کښ راکړی، بیا ما حج اوکړو شل (۲۰) کاله بعد او ما محسوس کول زیادت په مرتبه د ذهبیؒ باندے نو ما بیا سوال اوکړو په د څکلو د زمزم کښ د دغے مرتبے نه د اوچتے مرتبے زه اومید کومه د الله نه چه ماله به دغه مرتبه نصیب کړی. (جزء فی حدیث ماء زمزم للحافظ ابن حجرؒ صـ ۲۷۱)

د حافظ ابن حجرؒ شاګرد علامه سخاویؒ وائی چه یقینا الله د ده دغه امید پوره کړے دے د دے ګواهی ګنړو کسانو ورکړے ده. (الجواهر والدرر فی ترجمة ابن حجرؒ صـ ۱۶۶ ج ۱)

حلال مال سائل ګناه نه ده

(۱۱۳۰) **الحدیث الخامس** : عن ابی درداء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اٰتَاكَ اللّٰهُ مِنْ هٰذَا الْمَالِ مِنْ غَيْرِ مَسْئَلَةٍ وَلَا إِشْرَافٍ فَكُلْهُ وَتَمَوَّلْهُ. (صحیح الجامع ج۲ صـ۹۶۶)

ترجمه : ابو درداء رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه هغه چه تاته الله درکړی ددے مال نه بغیر د سوال او طمع نه نوخوره ئے او جمع کوه ئے خپل ملکیت کښ.

الدرس السابع والعشرون بعد المأتين ۲۲۷

د ذکر الهی بدله مغفرت

(۱۱۳۱) **الحدیث الاول** : عن سهلِ بن الحنظلة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ عَلٰى ذِكْرٍ فَتَفَرَّقُوْا عَنْهُ اِلَّا قِيْلَ لَهُمْ قُوْمُوْا مَغْفُوْرًا لَكُمْ. (صحیح الجامع ج ۲ صـ ۹۶۷)

ترجمه : سهل بن حنظله رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی. نه دے جمع شوے یو قوم په ذکر کولو باندے او بیا جدا شی دوی مګر وئیلے شی دوی ته پاسی په داسے حال کښ چه بخنه کړے شوے ده تاسو ته.

مجلس بے ذکر وبال دے

(۱۱۳۲) **الحدیث الثانی** : عن جابرٍ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ ثُمَّ تَفَرَّقُوْا عَنْ غَيْرِ ذِكْرِ اللّٰهِ وَ

صَلٰوةٍ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ اِلَّا قَامُوا عَنْ اَنْتَنَ مِنْ جِيْفَةِ. (صحيح الجامع جـ ٢ صـ ٩٦٧) وفي رواية عن ابي هريرة رضي الله عنه عن جيفة حمار. (الجامع جـ ٢ صـ ٩٦٧)

ترجمه :جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه جمع کیگی (یو قوم) بیا جدا شی بغیر دذکر دالله او درود (ونیلونه) په نبی ﷺ مگر پاسی دوی د مردار ے نه د زیات بدبودار څیز نه او په یو روایت کښ دابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه دمردار ے جوړے دخر نه هم بدبودار.

د درس قران فوائد

(١١٣٣) **الحديث الثالث**: عن ابي هريرة رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِيْ بَيْتٍ مِنْ بُيُوْتِ اللّٰهِ يَتْلُوْنَ كِتَابَ اللّٰهِ وَيَتَدَارَسُوْنَهُ بَيْنَهُمْ اِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِيْنَةُ وَ غَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ وحفتهم الْمَلَائِكَةُ وَذَكَرَهُمُ اللّٰهُ فِيْمَنْ عِنْدَهُ. (صحيح الجامع جـ٢ صـ ٩٦٧)

ترجمه : ابو هريرة رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه جمع کیگی یو قوم په یوکور کښ دکورونو دالله نه (جوماتونه مراد دی) چه لولی دوی کتاب دالله او اړوی دے له خپل مینځ کښ.مگر نازلیگی په دوی باندے سکینه آرام د طرفه دالله نه، او پټوی دوی له رحمت (دالله)او گیره اوکړی په دوی ملائك او یاد کړی دوی له الله د هغه چا په مینځ کښ چه دالله سره (په بلنده اوچته درجه کښ یعنی ملائك دالله تعالیٰ) وی.

فائده : د ذکر د تعلیم او تربیت د پاره راجمع کیدے یا اتفاقی طور باندے جمع جوړیدل بهتره خبره ده چه سړے د ذکر طریقه ازده کړی او د ذکر عادت جوړ کړے دغه جمع ور باندے باعث شی خو بهتره حلقه د ذکر د درس قرآن حلقه ده چه هغے کښ سړے مکمل دین ازده کړی او په اتفاق د صوفیاء سره قران شریف بهترین ذکر دے او د قران د درس حلقه د ذکر بهترینه حلقه ده.

دسود انجام تباهی

(١١٣٤) **الحديث الرابع**: عن ابن مسعود رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اَحَدٌ اَكْثَرَ مِنَ الرِّبَا اِلَّا كَانَ عَاقِبَتُهُ اَمْرِهِ اِلٰى قِلَّةٍ. (رواه المنذري في الترغيب والترهيب صحيح الجامع جـ٢صـ ٩٦٨)

ترجمه : ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه نیشته یو تن چه زیات کړی د سود نه مگر آخری انجام د کار دده لږوالے دے.

فائده : مطلب د حدیث شریف دادے چه د سود د مال آخری انجام بے برکتی او نحوست سپیره والے دے په دیر به لږ کار کیگی او انجام به ئے لږ والے بلکه تباهی وی.

دمال مصارف

(١١٣٥) **الحديث الخامس**: عن المقدام بن معدى كرب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا اَطْعَمْتَ زَوْجَتَكَ فَهُوَ

لَكَ صَدَقَةٌ وَمَااَطْعَمْتَ وَلَدَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ وَمَااَطْعَمْتَ خَادِمَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ وَمَا اَطْعَمْتَ نَفْسَكَ فَهُوَ لَكَ صَدَقَةٌ. (صحيح الجامع جـ ٢ صـ ٩٧١)

ترجمه : دمقدام بن معدی کرب رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی هغه چه ته اوخورے په بښځه ستا باندے نو داستا دپاره صدقه ده او هغه چه ته اوخورے په بچی خپل باندے نو دا ستا دپاره صدقه ده او هغه چه ته اوخورے په خادم ستا باندے نو داستا دپاره صدقه ده او هغه چه ته اوخوړې په خپله نودا ستا دپاره صدقه ده.

الدرس الثامن والعشرون بعدالمأتين ﴿٢٢٨﴾

د ترکارۍ بے

(١١٣٦) **الحديث الاول**: عن عائشة رضى الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ مَا اَقْفَرَ مِنْ اُدْمٍ بَيْتٌ فِيْهِ خَلٌّ. (حسن الجامع جـ ٢ صـ ٩٧٢)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی بے ترکاری نه دے هغه کور چه هغے کښ سرکه وی.

د فتنے په وخت کښ څه پکار دی

(١١٣٧) **الحديث الثانى** :عن ابى موسى عن النبى ﷺ اَنَّهُ قَالَ فِى الْفِتْنَةِ كَسِّرُوا قِسِيَّكُمْ وَقَطِّعُوْا فِيْهَا اَوْتَارَكُمْ وَالْزِمُوْا فِيْهَا اَجْوَافَ بُيُوتِكُمْ وَكُوْنُوا كَابْنِ آدَمَ .رواه الترمذى وقال حديث حسن غريب واخرجه احمد وابو داؤد وابن ماجه (تحفه جـ ١ صـ ٣٧١)

ترجمه : د حضرت ابو موسیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیل چه په فتنه کښ (چه کله د حق او باطل پهچان نه کیږی) خپلے لندے ماتے کړئی او د لندو تسمے کټ کړئی (یعنی یو طرف ته هم جنګ کښ حصه مه اخلئی) او د کورنو خیټے لازم اونیسی (یعنی کورونو نه مه راوځی) او شی پشان د ځوئے د آدم (یعنی هابل چه ځنګه مظلوم خه ئے خو ظالمان مه جوړیږے په مسلمان باندے)

فائده : خلاصه دا ده چه د فتنے په وخت کښ خاموشی سره یو طرف ته شه حصه یو طرف ته هم مه أخله . البته که یو طرف ته حق واضح وی نو هغه طرف ته حصه اغستل ضروری دی (تحفه)

ډیرے خبرے کول زړه سختوی

(١١٣٨) **الحديث الثالث**: عن ابن عمر رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تُكْثِرُوا الْكَلَامَ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللّٰهِ فَاِنَّ كَثْرَةَ الْكَلَامِ بِغَيْرِ ذِكْرِ اللّٰهِ قَسْوَةٌ لِلْقَلْبِ وَاِنَّ اَبْعَدَ النَّاسِ مِنَ اللّٰهِ الْقَلْبُ الْقَاسِيُ. (رواه الترمذى وقال حديث

حسن غريب ورواه البيهقي" درمنثور جـ ٧ صـ ٢٢٠ وقال احمد شاكر صحيح. عمدةالتفسير جـ ١ صـ ١٦٨).

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی تاسو ډیرے خبرے بغیر دیاد دالله نه مه کوی. ځکه یقیناً ډیرے خبرے بغیر دیاد دالله نه کلکوالے د زړه دے(یعنی زړه ورسره کلکیگی) او یقیناً ډیر لرے دخلقو نه دالله نه هغه سخت زړه دے.

د خورِ نبی ﷺ د خپلے بیوی سره خوش طبعی

[١١٣٩] **الحديث الرابع**: عن عائشة قالت : خَرَجْتُ مَعَ النبی ﷺ فی بعْضِ اَسْفَارِهِ وَاَنَا جَارِيَةٌ لَمْ اَحْمِلِ اللَّحْمَ وَلَمْ اَبْدُنْ ، فقَالَ لِلنَّاسِ : تَقَدَّمُوا فَتَقَدَّمُوا ثمّ قال لی : تَعالَیْ حتّی اُسابِقَكِ فَسابَقْتُهُ ، فَسَبَقْتُ عَنّی حَتّی اِذا حَمَلْتُ اللحمَ و بَدُنْتُ وَ نَسِيْتُ ، خَرَجْتُ مَعَهُ فِی بَعضِ اَسْفَارِهِ ، فَقال للنّاس : تقدّمُوا ثمّ قَالَ : تَعالَیْ حتی اُسابِقَكِ فسابقْتُهُ ، فَسَبَقَنِی فَجَعَلَ يَضْحَكُ وَهُوَ يَقُولُ : هَذِهِ بِتِلْكَ . (اسناده جيد . مسند احمد رقم : ٢٦٢٧٧)

ترجمه : حضرت عائشهؓ نه روایت دے فرمائی چه زه یو ځل رسول الله ﷺ سره په سفر لاړمه او زه د بدن نه سپکه ومه نو پیغمبر ﷺ خلقو ته اووئیل مخکښ لاړ شے نو خلق مخکښ لاړل بیا ئے ماته اووئیل راشه چه منډه اووهو نو زه ترے په منډه کښ مخکښ شومه نو پیغمبر ﷺ څه مده چپ ؤو بیا چه کله ځما بدن درون شو او مانه دغه خبره هیره شوه نو زه دوئی سره بعض سفرونو کښ لاړمه نو خلقو ته ئے اووئیل مخکښ لاړ شے نو خلق مخکښ لاړل نو بیا ئے ماته اووئیل راځه چه منډه اووهو نو مانه منډه کښ مخکښ شو نو شروع شو چه خندل ئے او وے ئے فرمائیل دا دے د هغے بدل شو .

د نعمت ، ما سبب

[١١٤٠] **الحديث الخامس** : عن ابی امامة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَاانْعَمَ اللّٰهُ عَلٰی عَبْدٍ نِعْمَةً فَحَمِدَاللّٰهَ عَلَيْهِ اِلّا كَانَ ذَالِكَ الْحَمْدُ اَفْضَلَ مِنْ تِلْكَ النِّعْمَةِ. (صحيح الجامع جـ ٢ صـ ٩٧٥)

ترجمه : ابوامامه رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائی الله یو انعام نه دے کړے په یو بنده خپل باندے چه دے پرے دالله ثنا وائی مگر داحمد او ثنا ډیر غوره دی ددغه انعام نه.

الدرس التاسع والعشرون بعدالماتين ٢٢٩

لږمال چه په ځای خرچ شی د ډیر نه بهتر دے

[١١٤١] **الحديث الاول** : عن ابی سعيد رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَاقَلَّ وَكَفٰی خَيْرٌ مِمَّا كَثُرَ وَاَلْهٰی . صحيح الجامع جـ٢ صـ ٩٨٧)

ترجمه : ابوسعید رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه هغه څیز چه

روی او کافی شی (گوزاره پرے اوشی) غوره دے دهغے نه چه ډیر شی او غفلت او فضولیاتو کښ اخته کونکے وی.

د نرمی فوائد

[۱۱٤۲] **الحدیث الثانی** عن انس رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَاكَانَ الرِّفْقُ فِیْ شَیْءٍ اِلَّا زَانَهٗ وَلَا نُزِعَ مِنْ شَیْءٍ اِلَّا شَانَهٗ (صحیح الجامع جـ۲ صـ ۹۸۷)

ترجمه : دانس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی . نه راځی نرمی په یو څیز کښ مګر ښائسته کوی ئے او نه راځی سختی په یو څیز کښ مګر عیب دار کوی ئے.

خلوت جلوت یو شان پکار دے

[۱۱٤۳] **الحدیث الثالث** عن اسامة بن شریك رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا كَرِهْتَ اَنْ تَرَاهُ النَّاسُ مِنْكَ فَلَا تَفْعَلْهُ بِنَفْسِكَ اِذَا خَلَوْتَ. (حسن الجامع جـ ۲ صـ ۹۸۸)

ترجمه : اسامه بن شریك رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه هغه چه ته ئے بد ګڼرے چه اووینی تانه خلق (یعنی هغه کار چه ته بدګڼرے چه خلق ما په دے اووینی) نو مه کوه هغه کله چه یواځے شے.

ماشوم چه ژاړی دبد نظری دم پرے واچوه

[۱۱٤٤] **الحدیث الرابع** عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا لِصَبِیِّكُمْ هٰذَا یَبْكِی ؟ هَلَّا اِسْتَرْقَیْتُمْ لَهٗ مِنَ الْعَیْنِ. (حسن الجامع جـ ۲ صـ ۹۸۸)

ترجمه : دعائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیل (یو ماشوم ئے اولیدو چه ژړل ئے) څه شوی دی ستاسو د ماشوم له چه ژاړی؟ ایا تاسو دم نه دے کړے ده لره د نظر نه. (یعنی دنظر دبچاؤ دپاره مو څه دم پرے نه دے کړے).

فائده : دماشوم یا لوئے نه دبد نظری داثر د لرے کولو دپاره یو مسنون دم دادے چه دمریض په سر ښے لاس کیږده او روستی درے سورتونه "اخلاص، فلق، ناس" پرے درے، درے ځله یو څو وخته اولوله. او چُف ئے کړه پرے ان شاء الله روغ به شی.

د الله تعالی د نوم برکت

[۱۱٤٥] **الحدیث الخامس** عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاتَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتّٰی لَایُقَالَ فِی الْاَرْضِ اَللّٰهُ اَللّٰهُ " هذا حدیث حسن واخرجه البخاری فی الفتن (تحفه جـ ۱ صـ ۳۷٤)

ترجمه : د حضرت انس ؓ نه روایت دے چه رسولا لله ﷺ وئیلی دی قائم به نه شی قیامت تر کمے چه په زمکه کښ وئیلے شی الله الله.

فائده : شیخ زکریاؒ په آپ بیتی کښ لیکی چه زه ددے حدیث نه دا استنباط کوم چه په کمه مدرسه کښ د ذکر د الله تعالی اهتمام کیږی هغه مدرسه به نه روانیږی ځکه چه دومره لویه دنیا د الله د نوم اغستو سره آباده ده نو مدرسه به په طریقه اولی سره آباده وی.

الدرس الثلاثون بعد المأتين ﴿۲۳۰﴾

په خپل کال کښ د حج اوعمرے ثواب

[۱۱٤٦] **الحديث الاول** :عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ مشٰی اِلٰی صَلٰوةٍ مَكْتُوْبَةٍ فِی الْجَمَاعَةِ فَهِیَ كَحَجَّةٍ وَمَنْ مَشٰی اِلٰی صَلٰوةِ تَطَوُّعٍ (ای صَلٰوةِ الضُّحٰی) فَهِیَ كَعُمْرَةٍ نَافِلَةٍ . حسن . (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۱٦)

ترجمه : ابو امامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوك چه لارشی فرض مونځ له جمع ته (نو ثواب ددے) پشان د حج دے او څوك چه څی نفلی مونځ (دساخت مونځ له) نو دا پشان د عمرے نفلی دے.

د زکوة نه ادا کولو سزا

[۱۱٤۷] **الحديث الثانی** :عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَامِنْ اَحَدٍ لَايُؤَدِّی زَكٰوةَ مَالِهٖ اِلَّا مُثِّلَ لَهٗ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا اَقْرَعَ حَتّٰی يُطَوَّقَ عُنُقَهٗ.صحيح (الجامع جـ۲صـ ۹۹۰)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی رسول الله ﷺ فرمائی نیشته یو تن چه زکوة نه ورکوی دخپل مال نه مګر جوړ به کړے شی ددے مال نه به ورځ د قیامت گنجے مار او ددے سپ ته به طوق (غاړکے) کړے شی.

د زکوة نه د نه ورکولو بیان

[۱۱٤۸] **الحديث الثالث** :عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَقِیُٔ الْاَرْضُ اَفْلَاذَ كَبِدِهَا اَمْثَالَ الْاُسْطُوَانِ مِنَ الذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ قَالَ فَيَجِیءُ السَّارِقُ فَيَقُوْلُ فِیْ هٰذَا قَطَعْتُ يَدِیْ وَيَجِیءُ الْقَاتِلُ فَيَقُوْلُ فِیْ هٰذَا قَتَلْتُ وَيَجِیءُ الْقَاطِعُ فَيَقُوْلُ فِیْ هٰذَا قَطَعْتُ رَحِمِیْ ثُمَّ يَدَعُوْنَهٗ فَلَا يَاْخُذُوْنَ مِنْهُ شَيْئًا رواه الترمذی وقال حديث حسن واخرجه مسلم.

ترجمه : د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی راوبه عمر خپلی زمکه ټکړے د جګر خپل (یعنی قیمتی څیزونه) پشان د ستنو د سرو سپینو نه نو رابشی غل وائی به په دے سرو سپینو څما لاس کټ شوی دی او را بشی قاتل وائی به په دے باندے ما قتل کړے دے او رابشی خپل ولی کټ کونکے وائی به په دے باندے ما خپل ولی کټ کړے ده نو دوئی به ټول دغه سره او سپین پریګدی نو هیڅ څیز به ترے وانه اخلی.

فائده :مطلب دادے چه دلته دنیا کښ غل 'قاتل' خپل ولی کټ کونکی د پاره سوچ پکار دے چه د دنیا د خاطره دا کارونه اونکړی کنے صبا به خپیمانه وی.

یوه بهترینه دعاء

[۱۱٤۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنْ دَعْوَةٍ يَدْعُوْ بِهَا الْعَبْدُ اَفْضَلُ مِنْ " اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَسْئَلُكَ الْمُعَافَاةَ فِی الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ. (صحیح .(الجامع جـ۲صـ ۹۹٤)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه نیشته یو دعا چه دعاء کوی په هغے باندے بنده،چه غوره وی بنده دپاره ددے دعاء نه چه اووائی " اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ الْمُعَافَاةَ فِی الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ."(اے الله غوارم ستا نه بچاو دبدی نه په دنیا او آخرة کښ)

یوٹے لګول صدقه ده

[۱۱۵۰] **الحدیث الخامس** : عن جابر رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَامِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا اِلَّا كَانَ مَا اُكِلَ مِنْهُ لَهٗ صَدَقَةٌ وَمَا سَرَقَ مِنْهُ صَدَقَةٌ وَمَا اَكَلَ السَّبُعُ فَهُوَ لَهٗ صَدَقَةٌ وَمَا اَكَلَتِ الطُّيُوْرُ فَهُوَ لَهٗ صَدَقَةٌ وَلَا يَرْزَؤُهٗ اَحَدٌ اِلَّا كَانَ لَهٗ صَدَقَةٌ.(صحیح ، الجامع جـ ۲ ص: ۱۰۰۵)

ترجمه : جابر رضی اللښ عنښ فرمائی رسول اللښ ﷺ فرمائیلے دی نیشته یو مسلمان چه وُنه نال کړی(اوکړی) مګر هغه چه اوخوړے شی ددے نه نو دا صدقه وی ده لره او هغه چه غلا شی ددے نه نو هغه به صدقه وی ده لره او هغه چه درندګان ترے اوخوری نو هغه به صدقه وی ده لره او هغه چه مارغان ترے اوخوری نو هغه به صدقه وی ده لره او نه کموی ددے له یوتن (مګر) دا به صدقه وی ده لره.

الدرس الحادی والثلثون بعد المأتین ﴿۲۳۱﴾

دجمعے دشپے دمرګ فضیلت

[۱۱۵۱] **الحدیث الاول** : عن ابن عمرو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَامِنْ مُسْلِمٍ يَمُوْتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ اَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ اِلَّا وَقَاهُ اللّٰهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ. حسن (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۰٦)

ترجمه : ابن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه نیشته یو مسلمان چه مړ شی په ورځ دجمعے یا په شپه دجمعے مګر الله ساتی ده لره دعذاب د قبر نه.

فائده : مرګ غیر اختیاری دے ځکه دا فضیلت اختیاری نه دے چاته چه الله تعالیٰ اوغواړی هغه ته نصیب کیګی البته حافظ ابن حجرؒ ددے یو اختیاری ګُر او چل خودلے دے هغه دادے چه کوم سړے دزړه په صدق سره دعاغواړی چے اے الله ! ما دجمعے په شپه یا ورځ کښ مړ

کړے نو کیدے شی ده ته دا فضیلت ملاؤ شی اګر چه په بله شپه مړشی.

صدقه مال نه کموی

[۱۱۵۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا نَقَصَتْ صَدَقَةٌ مِنْ مَالٍ وَمَا زَادَ اللّٰهُ عَبْدًا بِعَفْوٍ إِلَّا عِزًّا وَمَا تَوَاضَعَ اَحَدٌ لِلّٰهِ إِلَّا رَفَعَهُ اللّٰهُ. صحیح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۱۱)

ترجمه : أبو هریره رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه نه کموی صدقه دمال نه او نه زیاتوی الله یو بنده له په بخنه (کولو) سره مګر عزت او عاجزی نه کوی یو تن الله ته مګر الله اوچتوی ده لره.

دعالم بے عمله مثال لکه شمع

[۱۱۵۳] **الحدیث الثالث** :عن جندب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَثَلُ الْعَالِمِ الَّذِی یُعَلِّمُ النَّاسَ الْخَیْرَ وَیَنْسٰی نَفْسَهُ كَمَثَلِ السِّرَاجِ یُضِیءُ لِلنَّاسِ وَیَحْرِقُ نَفْسَهُ. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۱۵)

ترجمه : جندب رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی . مثال دعالم هغه چه خلقو ته دخیر او نیکی خبرے بنائی او خپل ځان نے هیر کړی دے پشان دهغه ډیوے دے چه خلقو ته رنړا کوی او خپله سوزی.

دخیر خودونکی له دفرشتو استغفار

[۱۱۵۴] **الحدیث الرابع** : عن عائشة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مُعَلِّمُ الْخَیْرِ یَسْتَغْفِرُ لَهُ كُلُّ شَیْءٍ حَتّٰی الْحِیْتَانُ فِی الْبَحْرِ. صحیح .(الجامع جـ۲ صـ ۱۰۲۳)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی خورونکے د خیر له بخنه غواړی هریوشے تردے چه کبان په دریاب کښ هم.(ورته بخنه غواړی).

فائده :خیر علم دین ته وئیلے شی او هر هغه څیزته خیر وئیلے شی چه انسان ورسره نجات مومے(مرقاة)

دپلار دوستان پالل نیکی ده

[۱۱۵۵] **الحدیث الخامس** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مِنَ الْبِرِّ اَنْ تَصِلَ صَدِیْقَ اَبِیْكَ ؛ صحیح (الجامع جـ ۲صـ ۱۰۳۶)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی دنیکی نه دا هم ده چه ته تعلق اوساتے د دوست د خپل پلار سره.

الدرس الثانی والثلثون بعد المأتین ۲۳۲

د [illegible] باب

(۱۱۵۶) **الحدیث الاول** : عن عائشة قالت قال رسول الله ﷺ مامن امرئ یکون له صلوة باللیل فغلب علیه النوم الا کتب الله له اجر صلوته وکان نومه علیه صدقة. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۹۹۳)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی نیشته یو بنده چه د هغه عادت وی دشپے دمونځ (تهجد) کولو او غالب شی په ده باندے (یو شپه) خوب مگر لیکی الله ده لره اجر دمونځ دده او دے خوب دده په ده باندے صدقه (دالله دطرفه) .

یو [illegible] باب

(۱۱۵۷) **الحدیث الثانی** : عن ام حبیبة قالت قال رسول الله ﷺ من صلی فی الیوم واللیلة اثنتی عشرة رکعة تطوعا بنی الله له بیتا فی الجنة . صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۸۸)

ترجمه : دام حبیبه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی څوک چه مونځ اوکړی دشپے او دورځے دولس رکعاته نو جوړه به کړی الله تعالی ده لره کور په جنت کښ.

فائده : څوک چه د فرض مونځونو سره سنت مؤکد کوی نو د دے فضیلت مستحق به اوګرځی ځکه هغه دولس رکعاته دی دوه د صباح د مانځه نه مخکښ څلور د ماسپخین نه مخکښ دوه د ماسپخین نه روستو ددو رکعاته د مانښام نه روستو او دوه د ماسخوتن نه روستو دا دولس رکعاته جوړیږی او دغه فضیلت یږی حاصلیږی .

[illegible] ضرر [illegible]

(۱۱۵۸) **الحدیث الثالث** : عن حذیفة بن اسید قال قال رسول الله ﷺ من اذی المسلمین فی طرقهم وجبت علیهم لعنتهم. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۲۹)

ترجمه : حذیفه بن اسید رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی څوک چه ضرر رسوی مسلمانانو ته په لارو ددوی کښ نو واجب دے په دوی لعنت .

د [illegible] لمان نښه

(۱۱۵۹) **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ من حسن اسلام المرء ترکه مالا یعنیه. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۲۷)

ترجمه : أبو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی . د خانسنه والی داسلام دیو سړی نه پریخودل دهغے کار دی چه بے فائده وی.

د حج صحیح ثواب

[۱۱۶۰] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَتَى هٰذَا الْبَيْتَ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ رَجَعَ كَمَا وَلَدَتْهُ اُمُّهُ. صحیح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۳۱)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی چه څوك راشی دے کور ته (یعنی بیت الله شریف ته) او دے جماع اونه کړی او غلط کارونه اونه کړی نو واپس به شی (دګناه نه داسے پاك)لکه چه مور ده لره زیګولے وو.

الدرس الثالث والثلثون بعدالمأتين ۲۳۳

څان د ذلت نه بچ کړه

[۱۱۶۱] **الحدیث الاول** : عن حذيفةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ اَنْ يُذِلَّ نَفْسَهُ قَالُوا كَيْفَ يُذِلُّ نَفْسَهُ ؟ قَالَ يَتَعَرَّضُ مِنَ الْبَلَاءِ لِمَا لَا يُطِيْقُ. رواه الترمذی و قال حدیث حسن و اخرجه احمد (تحفه جـ ٦ صـ ٤٣٨)

ترجمه : د حضرت حزیفهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی جائز نه دی مؤمن له چه ذلیل کړی څان خپل دوئی اوئیل څنګه څان ذلیل کړی؟ د الله رسول اووئیل چه ړوانده کوی څان خپل هغه کارته چه طاقت ئے نه لری

فائده : مطلب دا شو چه داسی کار په ذمه اغستل چه سړے ئے طاقت نه لری ذلت دے .

د خه اوبد تمیز

[۱۱۶۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجٰى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ وَ شَرُّكُمْ مَنْ لَّا يُرْجٰى خَيْرُهُ وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ . رواه الترمذی وقال هذا حدیث صحیح و اخرجه احمد والبیهقی فی شعب الایمان و ابن حبان

ترجمه : د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی غوره ستاسو نه هغه څوك دے چه امید کیدے شی هغه نه د خیر (دفائدے رسولو)او امن وی د هغه د شر نه او ناکاره هغه دے چه د هغه نه د خیر طمع نه کیږی او د هغه د شر نه امن نه وی.

فائده : حدیث شریف نه معلومه شوه چه خه سړے او غوره هغه دے چه مخلوق ته د هغه نه فائده رسی او د شر نه ئے بچ کوی او د خلق خدا د پاره د امن غوستونکے وی .

دلارے نه ضروری خیر لرے کړل ثواب دے

[۱۱۶۳] **الحدیث الثالث** :عن ابی الدرداء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَخْرَجَ مِنْ طَرِيْقِ الْمُسْلِمِيْنَ شَيْئًا يُؤْذِيْهِمْ كَتَبَ اللّٰهُ لَهٗ بِهٖ حَسَنَةً وَمَنْ كُتِبَ لَهٗ عِنْدَاللّٰهِ حَسَنَةٌ اُدْخِلَهُ بِهَا الْجَنَّةَ. حسن . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۳۷)

ترجمه : ابودرداء رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائی څوك چه لرے کړی داسے

څیز چه مسلمانانو ته ضرر رسوی دلارے ددوی نه نو الله به ده لره په دے یوه نیکی اولیکی او چا له چه الله نیکی اولیکی ځان سره نو هغه لره دننه کوی د وجے ددغے نه جنت ته.

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه د لارے نه د ضرر څیز اوګنده څیز لرے کول د ایمان حصه او ځانګه ده او جنت ته د تلو سبب دے کچرے مسلمانان په دے حدیث د عمل کولو اهتمام اوکړی نو غټو خارونو کښ به د صفائی سرکاری ادارے ته ضرورت پاتے نه شی همدارنګ کچرے دغه ادارے خپله ذمداری په صحیح طریقه سنبال کړی نو خلق خدائ به راحت اورسی او دغه ادارے به په دے حدیث کښ د ذکر شوے ثواب مستحق اوګرځی.

درے کسان د الله تعالی په ضمان کښ دی

[۱۱٦٤] **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ثَلاثَةٌ فِی ضَمَانِ اللّٰهِ عَزَّ وَ جَلَّ : رَجُلٌ خَرَجَ اِلَی مَسْجِدٍ مِنْ مَسَاجِدِ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ . وَرَجُلٌ خَرَجَ غَازِیاً فِی سَبِیْلِ اللّٰهِ تَعَالی ، وَرَجُلٌ خَرَجَ حَاجاً. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۵۸۵)

ترجمه : حضرت ابو هریرةؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه درے کسان دی هغوئی د الله تعالی په ضمان کښ دی یو هغه سړے چه د کورنه اوځی یو جومات ته د جوماتونو د الله نه دویم هغه کس چه اوځی غازی په لار د الله تعالی کښ دریم هغه کس چه حج د بیت الله شریف ته لاړ شی .

دالله په در کښ دخپل مقام معلومولو طریقه

[۱۱٦٥] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة و سمرة وانس قَالُوا قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَرَادَ اَنْ یَّعْلَمَ مَالَهٗ عِنْدَاللّٰهِ فَلْیَنْظُرْ مَا لِلّٰهِ عِنْدَهٗ. حسن. (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۳۹)

ترجمه : ابو هریرة.سمره او انس رضی الله عنهم نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه غواړی چه ده ته معلوم شی هغه څه چه دده دپاره دالله سره دی نو دے د اوګوری چه دالله دپاره ده سره څه دی.

فائده : دحدیث شریف حاصل دادے چه سړے دالله تعالیٰ په در کښ خپل مقام معلومول غواړی نو دے د خپل زړه اوګوری چه دده سره څومره اخلاص دالله دپاره دے دهغے نه به زیات مقام دده دالله تعالیٰ په دربار کښ وی ځکه هغه غیرتی دے سخی دے په لږ عمل باندے ډیر ډیر ورکړه کوی.او دهغه لږ هم کافی دے خو دهغه لږته لږ نه شی وئیلے.

الدرس الرابع والثلثون بعدالمأتین ۲۳٤

دځلورو کارونو بدله کښ ځلور کارونه اوکړی

[۱۱٦٦] **الحدیث الاول** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اِسْتَعَاذَكُمْ بِاللّٰهِ فَاَعِیْذُوْهُ وَمَنْ سَاَلَكُمْ

بِاللّٰهِ فَاعْطُوهُ وَمَنْ دَعَاكُمْ فَاجِيبُوهُ وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ فَادْعُوا اللّٰهَ حَتّٰى تَرَوْا أَنَّكُمْ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ. صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١٠٤١)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوک چه ستاسو نه پناه اوغواړی په نوم دالله نو پناه ورکړی. او څوک څه اوغواړی ستاسو نه په نوم دالله نو ورکړی. او څوک چه تاسو اوبلی نو قبولوالے اوکړی. او څوک چه تاسو سره نیکی اوکړی نو دهغه سره مکافات (یعنی دهغه دنیکی بدله) ورکړی. کچرته تاسو نه مومی. هغه شے چه تاسو پرے هغه له د نیکی بدله ورکړی. نو دعا ورله اوغواړی. تردے پورے چه تاسو اووینی. (یعنی یقین راشی) چه تاسو هغه سره برابر والے دنیکی اوکړو (یعنی دنیکی بدله مو پوره پوره ورکړه په شکل ددعا کښ)

دهر څه نه اهم د الله رضا ده

[١١٦٧] **الحديث الثاني** :عن عائشه قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ أَرْضَى النَّاسَ بِسَخَطِ اللّٰهِ وَكَلَهُ اللّٰهُ إِلَى النَّاسِ وَمَنْ أَسْخَطَ النَّاسَ بِرِضَا اللّٰهِ كَفَاهُ اللّٰهُ مَؤُنَةَ النَّاسِ. صحيح . (الجامع جـ ٢ صـ ١٠٤٠)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل څوک چه خوشحالوی خلق په غصه او خفګان دالله (یعنی په داسے یو کار چه هغه سبب دغصے دالله دے) نو الله به دے اوسپاری مخلوق ته او څوک چه غصه کړی خلق دپاره درضاء دالله نو الله به کافی شی ددې دپاره د مشقت دخلقو نه (چه ده ته رسوی).

دنیکو لوټ مومنانو له استغفار

[١١٦٨] **الحديث الثالث** : عن عبادة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اِسْتَغْفَرَ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَلِلْمُؤْمِنَاتِ كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ بِكُلِّ مُؤْمِنٍ وَمُؤْمِنَةٍ حَسَنَةً. حسن .(الجامع جـ ٢ صـ ١٠٤٣)

ترجمه : عباده رضی الله عنه نه روایت دے چسه رسول الله ﷺ فرمائی چا چه بخنه اوغوښتله دالله نه دپاره دمومنانو سړو او مومنانو زنانو نو الله تعالیٰ به اولیکی ده دپاره په مقابله د هر مومن سړی او زنانه کښ یوه نیکی.

د بښځو د مکر نه ځان بچ کړئی

[١١٦٩] **الحديث الرابع**:عن ابی سعید قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَلَا فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ .رواه الترمذی وقال حديث حسن وأخرجه احمد والحاكم والبيهقي (تحفه جـ٦ صـ ٤٥٩)

ترجمه : د أبو سعید ؓ نه روایت دے چه رسول الله وئیلی دی خبردار ځان اوساتی د دنیا نه (یعنی د هغے د فتنو او د فضول زیادت نه) او ځان اوساتی (د مکر) د بښځو نه.

فائده : د دنیا دفتنو نه ځان ساتلو علاج د مرګ یاد دے او دښځو د فتنو نه د ځان ساتلو د پاره د الله تعالی نه پنا غوستل دی او دا دعا بار بار وئیل دی " **اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النِّسَاءِ**"

د بهبد کړاو څخه ځان ساتل مقام

[۱۱۷۰] **الحدیث الخامس** : **عن ابی سعید قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اِسْتَيْقَظَ مِنَ اللَّيْلِ وَاَيْقَظَ اِمْرَاَتَهٗ فَصَلَّيَا رَكْعَتَيْنِ جَمِيْعًا كُتِبَا لِلْمُتَذَكِّرِيْنَ اللّٰهَ كَثِيْرًا وَالذَّاكِرَاتِ.** صحیح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۴۳)

ترجمه : ابوسعید رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوک راپاسی دشپے او خپله ښځه راپاسوی او دوی دوه رکعاته مونځ اوکړی نو اولیکلے شی دا دواړه دغه شپه کښی د یادونکو نه الله لره ډیر او یادونکو زنانو نه الله لره ډیر.

الدرس الخامس والثلثون بعد المأتين ۲۳۵

دخرڅ شوی څیز دواپس اخیستو ثواب

[۱۱۷۱] **الحدیث الاول** : **عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَقَالَ مُسْلِماً اَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَثْرَتَهٗ.**

صحیح (الجامع جـ۲صـ۱۰۴۸)

ترجمه : د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه څوک عقد فسخ کړی یو (بیپیمانه) مسلمان سره نو معاف به کړی الله تعالیٰ ده ته دده ګناهونه.

فضول سپے ساتل دنیکو نقصان دے

[۱۱۷۲] **الحدیث الثانی** : **عن سفیان بن ابی زهیر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اِقْتَنٰى كَلْباً لَا يُغْنِی عَنْهُ زَرْعاً وَلَا ضَرْعاً نَقَصَ مِنْ عَمَلِهٖ كُلَّ يَوْمٍ قِيْرَاطاً.** صحیح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۴۹)

ترجمه : سفیان بن ابی زبیر نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی چا چه فضول سپے اوساتلو چه نه دفع کوی دفصل دده نه او د څاروو دده نه نو کمیکی دعمل دده نه هره ورځ یو قیراط.

د طعام نه بعد دعا د مغفرت سبب دے

[۱۱۷۳] **الحدیث الثالث** : **عن معاذ بن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَكَلَ طَعَاماً ثُمَّ قَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی اَطْعَمَنِی هٰذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّی وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمَنْ لَبِسَ ثَوْبًا فَقَالَ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی كَسَانِی هٰذَا وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّی وَلَا قُوَّةٍ غُفِرَ لَهٗ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ وَمَا تَاَخَّرَ.** حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۵۰)

ترجمه : معاذ بن انس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا چه اوخوړه ډوډی او وے وئیل " **اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِی اَطْعَمَنِی هٰذَا الطَّعَامَ وَرَزَقَنِيْهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّی وَلَا قُوَّةٍ** "نو اوبه بخلے شی ده ته هغه ګناهونه چه مخکښ ئے کړی وی او چا چه واغوستے جامے او بیا ئے اوئیل "

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِی کَسَانِی هٰذَا وَرَزَقَنِیْهِ مِنْ غَیْرِ حَوْلٍ مِنِّی وَلَا قُوَّةٍ " نو اوبه بخلے شی ده ته هغه کنا هونه چه مخکښ نے کړی وی او روستنی هم.

شریك خوراك کښ زیاتے مه کوه

[۱۱۷٤] **الحدیث الرابع** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَکَلَ مَعَ قَوْمٍ تَمْراً فَلَا یَقْرِنْ اِلَّا اَنْ یَاْذَنُوْالَهٗ . صحیح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۵۰)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے : چه رسول الله ﷺ فرمانی څوك چه خوری دیو قوم سره کجهورے نو دے (دیو سره بله) نه ملګرے کوی مګر دا چه ده ته اجازت اوکړی دوی.

فائده : دکجهورو په حکم کښ ګنډیری ، بیرے وغیره خیزونه شامل دی.

د دباړ د وجے د حق ویلو مه پریګده

[۱۱۷۵] **الحدیث الخامس**:عن ابی سعیدؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ اَلَا لَا تَمْنَعَنَّ رَجُلًا هَیْبَةُ النَّاسِ اَنْ یَّقُوْلَ بِحَقٍّ اِذَا عَلِمَهٗ . رواه الترمذی و قال حدیث حسن واخرجه احمد والحاکم والبیهقی (تحفه جـ ٦ صـ٤٥٨)

ترجمه : د حضرت ابو سعیدؓ نه روایت دے چه رسول الله وئیلی دی خبردار منع نه کړی یو سړے لره هیبت د خلقو د حق ویلو نه کله چه پوهیږے چه دا حق دے .

الدرس السادس والثلثون بعد المأتین ۲۳٦

دبادشاه سره پك والے ګناه ده

[۱۱۷٦] **الحدیث الاول** : عن ابی بکرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَهَانَ سُلْطَانَ اللّٰهِ فِی الْاَرْضِ اَهَانَهُ اللّٰهُ . حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۵٤)

ترجمه : ابوبکرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه چا سپك والے اوکړو دبادشاه دالله په زمکه نو الله به ده له ذلیل کړی.

ماسخوتن او دصبا د جماعت ثواب

[۱۱۷۷] **الحدیث الثانی** :عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَلَّی الْعِشَاءَ فِی جَمَاعَةٍ فَکَاَنَّمَا قَامَ نِصْفَ لَیْلَةٍ وَمَنْ صَلَّی الصُّبْحَ فِیْ جَمَاعَةٍ فَکَاَنَّمَا صَلَّی اللَّیْلَ کُلَّهٗ. صحیح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۸٦)

ترجمه : دحضرت ابو هریره رضی الله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی څوك چه ماسخوتن مونځ په جمع اوکړی داسے شو لکه چه دے نیمه شپه عبادت اوکړی.او څوك چه د صبا مونځ په جمع اوکړی داسے شوه لکه چه دے توله شپه عبادت اوکړی.

رومبے سلام کولو والا بهتر دے

[۱۱۷۸] **الحدیث الثالث**: عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ بَدَأَ بِالسَّلَامِ فَهُوَ اَوْلٰی بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۵۵)

ترجمه: ابوامامه رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك رومبے شو په سلام کښ نو دے ډیر نزدے دے الله او رسول ته په نسبت دهغه بل باندے.

د قرض اصول

[۱۱۷۹] **الحدیث الرابع**: عن ابی سعیدؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَ خَیْرُهُم اَلْحُسْنُ الْقَضَاءِ اَلْحُسْنُ الطَّلَبِ وَشَرُّهُمْ سِیِّئُ الْقَضَاءِ سِیِّئُ الطَّلَبِ. رواه الترمذی وقال حسن و اخرجه احمد والحاکم والبیهقی (تحفه جـ ٦ صـ ٤٥٧)

ترجمه: دحضرت ابو سعیدؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دے بهترین د خلقو نه خه ادا کونکے د قرض دے او په خه طریقه طلب کونکے اوناکاره د دوئی نه ناکاره ادا کونکے دے اوناکاره غوستونکے دے.

فائده: د قرض اصول بیان شو چه ورکونکے د په خه طریقه او غواړی او اغستونکے د په خه طریقه سره اداکړی.

کافر سره مشابهت گناه ده

[۱۱۸۰] **الحدیث الخامس**: عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۵۹)

ترجمه: ابن عمر رضی الله نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائی چا چه یوشان والے اوکړو دیو قوم سره نو دے به ددغه قوم نه وی.

الدرس السابع والثلثون بعد المأتین ﴿۲۳۷﴾

بغیر ډپوهے علاج کول سبب د ضمان دے

[۱۱۸۱] **الحدیث الاول**: عن ابن عمرو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَطَبَّبَ وَلَمْ یُعْلَمْ مِنْهُ طِبٌّ فَهُوَ ضَامِنٌ. حسن. (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۵۹)

ترجمه: ابن عمروؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه طبیب جوړ شو او په طب نه پوهیگی نو دے به ضامن (ذمه وار) وی. یعنے که ده نه چاته نقصان اورسیدو.

اودس کور کښ کول بیا جومات ته تلل درجات اوچتوی

[۱۱۸۲] **الحدیث الثانی**: عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَطَهَّرَ فِی بَیْتِهٖ ثُمَّ مَشٰی اِلٰی بَیْتٍ مِنْ

بُيُوْتِ اللّٰهِ لِيَقْضِيَ فَرِيْضَةً مِّنْ فَرَائِضِ كَانَتْ خُطْوَاتُهُ اِحْدَاهُمَا تَحُطُّ خَطِيْئَةً وَالْاُخْرٰى تَرْفَعُ دَرَجَاتِهٖ : صحيح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۶۰)

ترجمه : ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی څوك چه څان پاك كړی كور كښ او بيا روان شی يو كورته د كورونو د الله نه (يعنی جومات ته) دے دپاره چه فريضه ادا كړی (يعنی فرض مونځ اوكړی) نو وی قدمونه دده چه يو ددے نه څتموی گناه دده او بل قدم اوچتوی درجه دده.

د حاجت د سرکولو یو ګر

(۱۱۸۳) **الحديث الثالث**: عن معاذ بن جبل قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِسْتَعِيْنُوا عَلٰى اِنْجَاحِ الْحَوَائِجِ بِالْكِتْمَانِ فَاِنَّ كُلَّ ذِيْ نِعْمَةٍ مَحْسُوْدٌ . صحيح (الجامع جـ ۱ صـ ۲۲۳)

ترجمه : د حضرت معاذ بن جبلؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلی دی امداد اوغواړئ په كاميابی د حاجاتو كښ په پټولوسره څكه هر خاوند د نعمت سره حسد كيدے شی .

فائده : خلاصه دا شوه چه كوم كار كول غواړی نو كوشش كوه چه بلا ضرورت ترے نه تر مكمل كيدو پورے څوك خبر نشی .

مشغله شعر کښ اعتدال ضروری دی

(۱۱۸۴) **الحديث الرابع**: عن سعد ابن أبی وقاص قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاَنْ يُمْتَلٰى جَوْفُ اَحَدِكُمْ قَيْحاً خَيْرٌ لَهٗ مِنْ اَنْ يُمْتَلِئَ شِعْراً . رواه الترمذی وقال حديث حسن صحيح واخرجه مسلم و ابن ماجه (تحفه جـ ۸ صـ ۱۱۷)

ترجمه : د حضرت سعد بن أبی وقاصؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلی دی چه ډكه شی خيتهه د يو ستاسو د وينو زوو نه دا خه ده دے نه چه ډكه شی د شعرونو نه.

فائده : خه شعر بقدر ضرورت وينا بده نه ده بلكه بعض اوقاتو كښ پكار ده (څكه بعضے شعر حكمت وی) البته دومره شعر كښ مصروف كيدل چه ضروریاتو د دين نه سړے غافل شی يا په كنده اشعار وينا كښ اخته شی داخبره گناه ده (تحفه)

دماسپخین دسنتو فضیلت

(۱۱۸۵) **الحديث الخامس**: عن امّ حبيبةؓ قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ حَافَظَ عَلٰى اَرْبَعِ رَكْعَاتٍ قَبْلَ الظُّهْرِ وَاَرْبَعٍ بَعْدَهَا حُرِّمَ عَلَى النَّارِ . صحيح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۶۵)

ترجمه : ام حبيبه رضی الله عنها نه روايت دے چه رسول الله فرمائی چا چه حفاظت اوكړو دځلور ركعاتو مخكښ دماسپخين (د مونځ نه) او د څلور ركعاتو روستو ددے نه نو (دے) حرام كړے شوے دے په اور باندے.

الدرس الثامن والثلثون بعد المأتين ﴿۲۳۸﴾

دفتنے ددجال نه دحفاظت عمل

[۱۱۸۶] **الحدیث الاول** : عن ابی الدرداء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ حَفِظَ عَشْرَ اٰیاتٍ مِنْ اَوَّلِ سُوْرَةِ الْكَهْفِ عُصِمَ مِنَ الدَّجَّالِ .رواه مسلم .(الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۶۶)

ترجمه : ابودرداء رضی الله عنه نه نقل دی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك یاد کړی لس آیاتونه د اول د سورة کهف نه نو دے بچ کړے شوے دے ددجال (دفتنے نه)

فائده : یاد لری دجال خو قیامت ته بلکل نزدے زمانه کښ رازی خو د دجال فتنے لکه ګانے بجانے .شرك .بدعات دا هر وخت کښ موجود وی لهذا د اياتونه هر وخت لوستل ضروری دی .

ښځه خاوند روانول لوئے جرم

[۱۱۸۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ خَبَّبَ زَوْجَةَ اِمْرِءٍ اَوْ مَمْلُوْكَهٗ فَلَيْسَ مِنَّا. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۶۹)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی نبی علیه السلام فرمائیلے دی چه چا روانه کړه ښځه دیوسړی دخپل خاوند سره یا ئے غلام روان کړو د مولا سره نو دے زمونږ نه نه دے.

فائده : په دے حکم کښ روانول د شاګرد دی د استاد سره د شریك د بل شریك سره د نوکر د نیك سره دا ټول ګناه ده او دسنت طریقے خلاف دی .

دمسلمان دعزت دفاع داور نه آزادی ده

[۱۱۸۸] **الحدیث الثالث**: عن اسماءؓ بنت یزید قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ ذَبَّ عَنْ عِرْضِ اَخِيْهِ بِالْغَيْبَةِ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ اَنْ يُعْتِقَهٗ مِنَ النَّارِ. صحیح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۷۱)

ترجمه : د حضرت أسماءؓ بنت یزید نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : چا چه دفاع اوکړه (حفاظت ئے اوکړو) دعزت د رور خپل په عدم موجودګی د هغه کښ ثابت ده په الله چه دے به داور نه آزاد کړی.

دنیکی خودونکے دنیکی کونکی سره برابر دے

[۱۱۸۹] **الحدیث الرابع**:عن ابن مسعود رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ دَلَّ عَلٰى خَيْرٍ فَلَهٗ اَجْرُ فَاعِلِهٖ .صحیح. (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۷۱)

ترجمه : ابن مسعود رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا چه دنیکی دکار خودننه اوکړه نو ده له به اجر دکونکی ددغه نیکئ وی.

بعض موقع کښې د کفارو خفه کول ثابت دی

[۱۱۹۰] **الحدیث الخامس** عن انس ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَلِّ عَنْهُ يَا عُمَرُ فَنَهى اَسْرَعُ فِيْهِمْ مِنْ نَضْحِ النَّبْلِ. رواه الترمزی وقال هذا حدیث حسن غریب صحیح و اخرجه النسائی (تحفه جـ ۸ صـ ۱۱۲)

ترجمه : د حضرت انس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ عمر ؓ ته اووئیل : چه اے عمر حسان پریگده چه شعر وائی قسم دے دا په دوئی باندے د غشو د گوزارونو نه زیات بد لگی.

فائده : د حرب او ضرب په موقعه د کافرانو خفه کول سنت نبوی دی پښتانه وائی چه گوجر خفه کوے نوکتی ورله اووښه نو په داسے موقعه کافر چه په سه خفه کیږی هغه کارپکار دے.

الدرس التاسع والثلثون بعدالمأتين ﴿۲۳۹﴾

دمصیبت زده لیدو وخت کښې دعا

[۱۱۹۱] **الحدیث الاول** عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ رَاٰى مُبْتَلًى فَقَالَ " اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِى عَافَانِى مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِى عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلًا" لَمْ يُصِبْهُ ذَالِكَ الْبَلَاءُ. حسن. (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۷۳)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه اووینی یو مصیبت زده نو دے دِ اووائی " اَلْحَمْدُلِلّٰهِ الَّذِىْ عَافَانِىْ مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهٖ وَفَضَّلَنِىْ عَلٰى كَثِيْرٍ مِّمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيْلًا" (حمدونه دی الله هغه ذات له چه بچ کړے یم څه دهغے نه چه ته پرے اخته کړے ئے او غوره والے ئے راکړے دے ماته په ډیرو خلقو غوره والے) نو ده ته به دا مصیبت اونه رسی.

فائده : دا دعا پته وئیل پکار دی هسے نه مصیبت زده ئے واوری او هغه ته ترے تکلیف اورسی او بل نه ضرر رسول بلا وجه حرام دی فارسی بان وائی ' بهشت آنجا که آزارے نباشد کسی رابا کسی کارے نباشد '

دنهی عن المنکر مراتب

[۱۱۹۲] **الحدیث الثانی** عن ابی سعید قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ رَاٰى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهٖ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهٖ فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهٖ وَ ذٰلِكَ اَضْعَفُ الْاِيْمَانِ. صحیح. (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۷۳)

ترجمه : أبو سعید رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك اووینی ستاسو نه یو دگناه کار پس بند دِ کړی دے له په لاس خپل باندے او که دلاس طاقت ئے نه وی (نو بند دِکړی) په ژبه باندے اوکه د (ژبے) طاقت ئے هم نه وی نو (بند دِ کړی) په زړه باندے (یعنی زړه کښې دے ورسره بغض اوساتی) او دا دایمان دتولو نه کمزورے درجه ده.

فائده : د منکراتو د دفع کولو درے طریقے دی یوه په لاس دفعه کول دی که طاقت وی دویمه طریقه په خله باندے وینا ده چه دا کار نبه نه دے دا مه کوه دریمه ټه زړه کښ بغض دے خو یاد لرئ که گناهگار دگناه نه توبه اوباسی نو بیا به هغه سره مینه محبت کوئ ځکه شریعت نفرت د گناه نه دے د گناهگار د ذات سره نفرت نشته که توبه اوباسی نو بیا هغه سره نفرت ساتل نبه کار نه دے .

دشهادت په سوال هم شهادت ملاویگی

[۱۱۹۳] **الحدیث الثالث** : عن سهل بن حنیف قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَالَ اللّٰهَ الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ بَلَّغَهُ اللّٰهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَاِنْ مَاتَ عَلٰی فِرَاشِهٖ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۷۶)

ترجمه : د سهل بن حنیف رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه غواړی دالله نه شهادت په صدقِ دل سره نو الله به اورسوی ده لره درجے دشهداؤ ته اگر چه دے مړ شی په بستره خپله باندے.

دجنت دآسانی لار

[۱۱۹٤] **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَلَكَ طَرِيْقًا يَلْتَمِسُ فِيْهِ عِلْمًا سَهَّلَ اللّٰهُ لَهٗ طَرِيْقًا اِلَى الْجَنَّةِ . صحیح (جـ۲ صـ ۱۰۸۵)

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه روان شی په یوه لار چه طلب کوی په هغے علم نو آسانه به کړی الله تعالیٰ ده لره لار دجنت.

بغیر عذر جماعت پریښودل گناه ده

[۱۱۹۵] **الحدیث الخامس** : عن ابن عباس عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يُجِبْهُ فَلَا صَلٰوةَ لَهٗ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ . صحیح. رواه الدار قطنی (مشکوة جـ ۱ صـ۹۹)

ترجمه : د حضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ وئیلی دی چه څوك بانگ واوری او د بانگ جوب اونه کړی نو د ده مونځ نیشته (یعنی چه مونځ په جمع اونکړی نو مونځ به نے قبول نشی مطلب دا دے چه انعامونه د مونځ به ورته ملاو نه شی)

فائده : د بانگ د جواب ورکولو دوه طریقے دی یوه دا ده چه په ژبه بانگی سره کلمات د بانگ اووئیلے شی دا هم مسنون عمل دے دویمه طریقه دا ده چه سړے بانگ واوری نو جومات ته راشی او جمع کښ شریك شی په دے طریقه جواب ورکول د بعضے علماء په نزد واجب دی او د اکثر علماء په نزد سنت مؤکد دی بغیر عذر ئے پریښودل خه کارنه دے.

الدرس الاربعون بعد المأتين ﴿۲۴۰﴾

مصحف کښې د تلاوت کولو ثواب

[۱۱۹۶] **الحدیث الاول** : عن ابن مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَرَّهُ اَنْ يُحِبَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهُ فَلْيَقْرَأْ فِي الْمُصْحَفِ. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۷۸)

ترجمه : ابن مسعود رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چاله چه خوشحالوی داخبره چه مینه اوکړی الله او رسول سره نو هغه دے تلاوت کوی په مصحف کښې (قران مجید کښې)

فائده : په حدیث شریف کښې په قرآن کښې د تلاوت کولو ثواب ذکر شو د قرآن شریف لوستل په یاد هم ډیر ثواب لری خو په قرآن شریف کښې د هغے نه هم زیات ثواب دے وائی چه حضرت عمر به روزانه مخکښې قرآن شریف کیښو لو او وئیل به ئے چه هذا عهد ربی وهذ منشور ربی " دا ځما د رب فرمان دے او دا زما د رب د أحکامو مجموعه ده او خالد بن الولید به قرآن شریف مخکښې کیښودلو او ورته به ئے کتل او ژړل به ئے او اوئیل به ئے یا عهد ربی شغلنی عنك الجهاد " اے ځما د رب فرمانه مشغول کړم تانه جهاد په لار د الله تعالی کښې یا دلری چه قرآن ته کتل هم عبادت دے او په دے خبره هم غور اوکړئی چه خالدؓ خو د قرآن شریف زیات خدمت نه جهاد مصروف کړے ؤو خو مونږه ترے څه ځیز مصروف کړے یو؟ چه مونږه د قرآن درس تدریس او تعلیم او تعلّم کښې حصه نه اخلو.

دایمان حلاوت

[۱۱۹۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَرَّهُ اَنْ يَجِدَ حَلَاوَةَ الْاِيْمَانِ فَلْيُحِبَّ الْمَرْءَ لَا يُحِبُّهُ اِلَّا لِلّٰهِ . حسن (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۷۸)

ترجمه : دابو هریرة رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك خوشحالوی داخبره چه بیا مومی خوږوالے دایمان لره نو مینه داوکړی دسړی سره چه نه وی دامینه مګر صرف دالله تعالیٰ درضا دپاره وی.

مسجد کښې دروك شوی ځیز اعلان کول

[۱۱۹۸] **الحدیث الثالث** :عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَمِعَ رَجُلًا يُنْشِدُ ضَالَّةً فِي الْمَسْجِدِ فَلْيَقُلْ لَا رَدَّهَااللّٰهُ اِلَيْكَ فَاِنَّ الْمَسَاجِدَ لَمْ تُبْنَ لِهٰذَا. صحيح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۸۰)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا چه واوریدل دیو

سړی نه چه اعلان کوی دروك شوی څیز جومات کښ نو اودۍ وائی ورته واپس دِ نه کړی دا الله تاته څکه جوماتونه نه دی جوړ کړے شوی ددے دپاره.

دسفارش عوض کښ هدیه اغستل

[۱۱۹۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ شَفَعَ لِاَخِیْهِ شَفَاعَةً فَاَهْدٰی لَهٗ هَدِیَّةً عَلَیْهَا فَقَبِلَهَا فَقَدْ اَتٰی بَابًا عظیماً مِنْ اَبْوَابِ الرِّبَا. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۸۲)

ترجمه : ابوامامه رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه سفارش اوکړی دیو رور خپل دپاره بیا هغه هدیه ورکړی ده ته هدیه په دے باندے او دے هغه قبوله کړی نو یقیناً ده راتلل اوکړل یو دروازے لوئے ته ددروازو دسود نه.

فائده: دددے حدیث نه معلومه شوه چه د سفارش په عوض کښ هدیه اغستل لویه ګناه او بد ترین رشوت دے.

دفن ته پاتے کیدل دجنازے ثواب دوچند کوی

[۱۲۰۰] **الحدیث الخامس** عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ شَهِدَ الْجَنَازَةَ حَتّٰی یُصَلّٰی عَلَیْهَا فَلَهٗ قِیْرَاطٌ وَمَنْ شَهِدَ هَا حَتّٰی تُدْفَنَ فَلَهٗ قِیْرَاطَانِ مِثْلُ الْجَبَلَیْنِ الْعَظِیْمَیْنِ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۸۲)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك جنازے ته حاضر شی تردے چه مونځ اوشی په دے باندے نو ده ته یو قیراط (دثواب) دے او څوك تر دفن پورے ایسار شو نو ده له دوه قیراطه (دثواب) دی پشان ددوو غرونو لویو.

الدرس الحادی والاربعون بعد المأتین ﴿۲۴۱﴾

د شعبان د میاشتے فضیلت

[۱۲۰۱] **الحدیث الاول** عن ابی ایوب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَامَ رَمَضَانَ وَاَتْبَعَهٗ سِتًّا مِّنْ شَوَّالٍ کَانَ کَصَوْمِ الدَّهْرِ. رواه مسلم. (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۸۴)

ترجمه : ابو ایوب رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا چه روژے درمضان اونیوے او وروسے دشوال د میاشتے شپږ روژے اونیولے نو دا په شان د روژو د ټول عمر دی. (یعنی دومره ثواب به ورته ملاویږی لکه چه یو سړے تر لږ زمانه روژے اونیسی.)

د الله تعالیٰ په لار کښ د یوې ورځ روژه نیولو ثواب

[۱۲۰۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی سعید قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَامَ یَوْمًا فِی سَبِیْلِ اللّٰهِ بَاعَدَ اللّٰهُ بِذٰلِكَ الْیَوْمِ حرَّ جَهَنَّمَ عَنْ وَجْهِهٖ سَبْعِیْنَ خَرِیْفًا. صحیح. (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۸۴)

ترجمه : ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك روژه اونیسی یوه ورځ په لاره د الله کښ لرے به کړی الله ده له په دغه یوه ورځ د اور د جهنم نه اویا کاله .(یعنی اویا کاله د مسافت او سفر هومره به الله دے د دوزخ نه لرے کړی)

فائده : دالله تعالیٰ لار جهاد، علم . دعوت او تبلیغ له سفر ،حج ، عمرے له سفر د فی سبیل الله لفظ دے ټولو ته شامل دے.

[۱۲۰۳] **الحدیث الثالث** : عن عقبة بن عامر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَامَ يَوْمًا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بَاعَدَاللّٰهُ بِهٖ جَهَنَّمَ مَسِيْرَةَ مِأْةِ عَامٍ . حسن . (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۸٤)

ترجمه : د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه یوه ورځ روژه نیسی په لاره دالله کښ نو الله به لرے کړی دده نه جهنم سل کاله . (یعنی د سلو کالو د سفر برابر)

دعرفے د ورځے د روژے نیولو ثواب

[۱۲۰٤] **الحدیث الرابع** : عن قتادةُ بن النعمان قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَامَ يَوْمَ عَرَفَةَ غَفَرَاللّٰهُ لَهٗ سَنَتَيْنِ، سَنَةً اَمَامَهٗ وَسَنَةً خَلْفَهٗ . صحیح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۸۵)

ترجمه : د قتاده بن النعمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه روژه اونیسی په ورځ د عرفے الله به معاف کړی ده ته (ګناهونه) دمخکښ او روستو کال.

دسورلی نه چه پریوځی مړ شی شهید دے

[۱۲۰۵] **الحدیث الخامس** : عن عقبة بن عامر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَرع عَنْ دَابَّةٍ فَهُوَ شَهِيْدٌ. صحیح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۸۵)

ترجمه : د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه پریوځی د څاروی نه (سورلی خپلے نه) او مړ ۵ ی نو دے شهید دے.

الدرس الثانی والاربعون بعدالمأتین ۲٤۲

دصدقے او تهجدو نعم البدل

[۱۲۰٦] **الحدیث الاول** : عن عبدالله بن خبیبؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ ضَنَّ بِالْمَالِ اَنْ يُّنْفِقَهٗ وَ بِاللَّيْلِ اَنْ يُّكَابِدَهٗ فَعَلَيْهِ " بسبحان الله وبحمده " . صحیح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۹۰)

ترجمه : دعبدالله بن خبیب رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه بخل کوی د مال چه خرچ کولو نه او د مشقت د شپے دتیرولو نه(په تهجدو او په عبادت

سره) نو په ده باندے لازم دی وئیل د " سبحان الله وبحمده"

خوشبو مه رد کوه

[۱۲۰۷] **الحدیث الثانی**: عن عائشة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ طِيْبٌ فَلَا يَرُدُّهُ فَإِنَّهُ خَفِيْفُ الْمَحْمَلِ طَيِّبُ الرَّائِحَةِ. صحيح. (الجامع جـ ۲ صـ ۱۰۹۱)

ترجمه: عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا باندے چه پیش کړے شی خوشبوئی نو نه دے واپس کوی دغه له ځکه دا سپك بوج والا ده او ښائسته بوئ والا ده.

په حدود کښ سفارش منع دے

[۱۲۰۸] **الحدیث الثالث**: عن عبدالله بن عمرو قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ حَالَتْ شَفَاعَتُهُ دُوْنَ حَدٍّ مِنْ حُدُوْدِاللّٰهِ فَقَدْ ضَادَّاللّٰهَ وَمَنْ خَاصَمَ فِي بَاطِلٍ وَهُوَ يَعْلَمُهُ لَمْ يَزَلْ فِي سَخَطِ اللّٰهِ تَعَالٰى حَتّٰى يَنْزِعَ وَمَنْ قَالَ فِي مُؤْمِنٍ مَا لَيْسَ فِيْهِ اَسْكَنَهُ اللّٰهُ رَدْغَةَ الْخَبَالِ حَتّٰى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ. صحيح. رواه ابوداؤد واحمد. (مشكوة جـ۲ صـ ۳۱۵)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمرو نه روایت دے وائی ما درسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه وئیل ئے چه دچا سفارش دالله تعالیٰ دحدود مینځ کښ حائل شو نو ده دالله دحکم سره مقابله اوکړه او ځوك چه جګړه کوی په باطل کښ او دے پوهه وی نو دے به همیشه دالله تعالیٰ په غصه کښ وی تردے چه توبه اوباسی او ځوك چه دمسلمان باره کښ داسے خبرے اوکړی چه په هغه کښ نه وی نو الله تعالیٰ به واچوی ده لره ددوزخ په وینو زوو کښ.

د عذاب قبر نه پاتیدئ سره فناه غوستل پکار دی

[۱۲۰۹] **الحدیث الرابع**: عن عائشة رضی الله عنها: أَنَّ يَهُوْدِيَّةً دَخَلَتْ عَلَيْهَا، فَذَكَرَتْ عَذَابَ الْقَبْرِ، فَقَالَتْ لَهَا: أَعَاذَكِ اللّٰهُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، فَسَأَلَتْ عَائِشَةُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ عَنْ عَذَابِ الْقَبْرِ. فَقَالَ: نَعَمْ، عَذَابُ الْقَبْرِ قَالَتْ عَائِشَة رضی الله عنها: فَمَا رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ بَعْدُ صَلّٰى صَلَاةً اِلَّا تَعَوَّذَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ زَادَ غُنْدَرٌ: عَذَابُ الْقَبْرِ حَقٌّ. (رواه البخاری جـ ۱ صـ ۱۸۳).

ترجمه: حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه یوه یهودنړه ماسره راغله نو عذاب قبر ذکر ئے اوکړو نو ماته ئے اووئیل الله دے تا د عذاب قبر نه اوساتی نو ما درسول الله ﷺ نه د عذاب قبر باره کښ تپوس اوکړو نو هغه اوفرمائیل چه آؤ عذاب د قبر (حق دے) عائشهؓ وائی چه ما د دے نه روستو رسول الله ﷺ نه دے لیدلے چه یو مونځ ئے کړی دے مګر د عذاب قبر نه ئے پناه غوستلے ده.

فائده: د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه هر مونځ نه روستو د عذاب قبر نه د پناه

غوستلو کوشش پکار دے .

محنت تر اخره پورے

[۱۲۱۰] **الحديث الخامس**: عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : اِنْ قَامَتْ عَلٰى اَحَدِكُمُ الْقِيَامَةُ ، وَفِى يَدِهٖ فَسِيْلَةٌ فَلْيَغْرِسْهَا . ((اسناده صحيح . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ۱۲۹۰۲))

ترجمه : حضرت أنس بن مالك ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کچرے قیامت قائم شی په یو ستاسو او پلاس د هغه کښ بوتے د کجهورے وی نو هغه دے اوکری .

فائده : دے حدیث شریف دا خبره په نخه کړه چه د زندګئ په هیڅ ډګر محنت پریخودل نه دی پکار څومره پورے چه کیدے شی د فائدے کار کښ لمحات د زندګئ صرف کول پکار دی .

الدرس الثالث والاربعون بعد المأتين ﴿۲۴۳﴾

د دفن وخت کښ د قبر خوا کښ وعظ ثابت دے

[۱۲۱۱] **الحديث الاول**: عنْ علیؓ قَالَ : كُنَّا فِى جَنَازَةٍ فِى بَقِيْعِ الْغَرْقَدِ ، فَاَتَانَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَعَدَ و قَعَدْنَا حَوْلَهٗ ، وَمَعَهٗ مِخْصَرَةٌ فَنَكَسَ فَجَعَلَ يَنْكُتُ بِمِخْصَرِتِهٖ ، ثُمَّ قَالَ : مَا مِنْكُمْ مِنْ اَحَدٍ مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوْسَةٍ الا وَقَدْ كَتَبَ اللّٰهُ مَكَانَهَا مِنَ الْجَنَّةِ و النَّارِ ، وَ الا وَقَدْ كُتِبَتْ شَقِيَّةً اَوْ سَعِيْدَةً . (رواه البخارى جـ ۱ صـ ۱۸۲) .

ترجمه : حضرت علیؓ نه روایت دے چه او مون...ه په یوه جنازه کښ په قبرستان جنت البقیع کښ نو راغلو مونږه ته رسول الله ﷺ نو کیناستو او مونږه ترے ګیر چاپیره کیناستو او ده سره امسا وه نو شروع شو چه په امسا باندے ئے زمکه ګروله بیا ئے اوفرمائیل چه نیشته ستاسوه نه یو کس مګر لیکلے دے الله ځائے د هغه د جنت نه او د دوزخ نه او مګر لیکلے شوے دے دے بدبخت یا نیک بخت .

فائده : امام بخاریؒ د دے حدیث نه ثابت کړے ده چه د دفن وخت کښ د قبر خوا کښ وعظ جائز دے .

دنبی علیه السلام د ګستاخ قتل توئے دے

[۱۲۱۲] **الحديث الثانى** : عن علیؓ قَالَ اِنَّ يَهُوْدِيَّةً تَشْتِمُ النَّبِىَّ ﷺ وَتَقَعُ فِيْهِ فَخَنَقَهَا رَجُلٌ حَتّٰى مَاتَتْ فَاَبْطَلَ النَّبِىُّ ﷺ دَمَهَا. صحيح. رواه ابوداؤد . (مشكوة جـ۲ صـ ۳۰۸)

ترجمه : دعلی رضی الله عنه نه روایت دے چه یو یهودنړے به نبیؐ ته کنځل کول او هغوی پسے به ئے خبرے کولے یو سړی ددے مرۍ خپی کړه تردے چه دا مړه شوه نو رسول الله ﷺ ددے وینه باطله کړه.

مونځ کښې آسمان ته کتل مکروه وی

[۱۲۱۳] **الحديث الثالث** :عن انس بن مالك قال قال رسول الله ﷺ: ما بال اقوام يَرفَعونَ اَبصارَهُم إلى السَّماءِ في صَلٰوتِهم فاشتَدَّ قولُه في ذٰلِك حتّٰى قال لينتَهُنَّ عن ذٰلك او لتُخطَفَنَّ اَبصارُهُم . (بخاری ج ۱ ص ۱۰۳)

ترجمه : حضرت انس بن مالك وائی چه نبی ﷺ اوفرمائیل چه څه حال دے د څه خلقو چه پورته کوی نظرونه خپل په طرف د آسمان په مونځونو خپلو کښې نو دے باره کښې د پیغمبر ﷺ سخته خبره اوکړه تر دے چه وے فرمائیل خامخا منع د شی د دے نه دغه خلق او یا به او تحتوے شی د دوئی نظرونه .

فائده :د جمهور علماء رای دا ده چه مونځ دوران کښې د سجدے ځائے ته کتل مستحب دی او په اتفاق د علماء آسمان ته کتل مکروه دی ،گناه ده لکه څنگه چه بره حدیث کښې بیان شو .

داودس اول کښې بسم الله سنت ده

[۱۲۱٤] **الحديث الرابع** :عن سعيد بن زيد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا وُضُوْءَ لِمَنْ لَّمْ يَذْكُرِ اسْمَ اللّٰهِ .صحيح. رواه الترمذی وابن ماجه . (مشكوة ج:۲ ص ٤٦)

ترجمه : سعید بن زید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نیشته اودس (کامل) دهغه چا چه یاد نه کړی نوم دالله.

فائده : دا اودس په ابتدا کښې بسم الله وئیل سنت دی او بعض ائمه ورته فرض وائی نو کوم سړے چه د اودس په ابتدا کښې بسم الله اونه وائی نو د ده اودس پوره او کامل اودس نه دے .

مومن نه پلیتیږی

[۱۲۱۵] **الحديث الخامس** :عن ابی هريرة رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَنْجُسُ. رواه البخاری. (مشكوة ج۱ ص ٤٩)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه مومن نه پلیتیږی.

فائده :دحدیث شریف مطلب دادے چه ذات دجنب نه پلیتیلای که څوك ورسره اولگی یا دهغه لاړے یا خوله چاسره یا څه څیز سره اولگی نو هغه نه پلیتیږی.

الدرس الرابع والاربعون بعد المأتين ٢٤٤

د قربانئ غوښه څو ورځو پورے استعمال جائز دے؟

[۱۲۱٦] **الحديث الاول** : عَنْ علی قال : قال رسول الله ﷺ كُلُّهَا مِنْ ذِی الْحَجَّةِ اِلٰی ذِی الْحَجَّةِ . (رواه احمد فی مسنده ، اسناده حسن . رقم .٢٦٤١٥)

ترجمه : حضرت علیؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی خوره غوښے د قربانئ لره د یو اختر(د میاشتے) نه د بل اختر (د میاشتے) پورے.

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه د قربانئ غوښه سړے څومره مدت ساتلے شی نو جائز ده گناه پکښ نشته .

دحائضه اوجنب دپاره تلاوت منع دے

[۱۲۱۷] **الحدیث الثانی** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَقْرَءُ الْحَائِضُ وَلَا الْجُنُبُ شَيْئًا مِّنَ الْقُرْآنِ. رواه الترمذی. (مشکوة جـ ۱ صـ ٤٩)، حكم عليه الالبانی بانه منكرٌ لكن الامام الترمذی أيده بتعامل الصحابة حيث قال و هو قول أكثر أهل العلم من اصحاب النبی ﷺ والتابعين ومن بعدهم.

ترجمه : ابن عمررضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه به لولی حائضه زنانه او نه جنب (هغه سړے چه غسل پرے واجب شوے وی) څه حصه د قرآن نه.

فائده : جنب سړے او حائضه ښځه چه ماهواری ئے جاری وی دا دواړه به نه قرآن شریف ته لاس لگوی او نه به قرآن شریف لولی دا لویه گناه ده البته د ایت نه کم تکی وئیلے شی.

غسل خانه کښ متیازے کول ښه نه دی

[۱۲۱۸] **الحدیث الثالث** : عن عبدالله بن سرجس قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ اَنْ يُّمْتَشِطَ اَحَدُنَا كُلَّ يَوْمٍ اَوْ يَبُوْلَ فِی مُغْتَسَلٍ. صحيح. رواه احمد وابن ماجه .(مشكوة جـ ۱ صـ ٥٠)

ترجمه : عبدالله بن سرجس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع فرمائیلے ده دگومنزگولو نه هره ورځ او د واړه بول کولو نه په غسل خانه کښ.

په مخ وهل منع دی

[۱۲۱۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی هريرةؓ عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ اِذَا ضَرَبَ اَحَدُكُمْ فَلْيَتَّقِ الْوَجْهَ. حسن. رواه ابوداؤد . (مشكوة جـ۲ صـ ۳۱٦)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه کله یو تن ستاسو نه وهل کوی نو دمخ نه دے ځان اوساتی.(یعنی په مخ ډ وهل نه کوی)

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه سړے په وخت د ضرورت ښځه وهی یا استاذ شاگرد یا حکمران رعیت نو په مخ به گوزار نه ورکوی دا لویه گناه ده .

په اذان اوریدلو کښ دکلمه شهادت جواب

[۱۲۲۰] **الحدیث الخامس** : عن سعد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ الْمُؤَذِّنُ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَنَا اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ رَضِيْتُ بِاللّٰهِ رَبًّا

وَبِمُحَمَّدٍ رَسُوْلًا وَّبِالْاِسْلَامِ دِيْنًا غُفِرَ اللّٰهُ لَهٗ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهٖ. صحيح. (الجامع ج ۲ ص ۱۰۹۶)

ترجمه : سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا چه اوونیل په هغه وخت کښ چه کله دے اذان کونکی نه واوری. اشهد ان لااله الاالله الخ چه زه هم " اشهد ان ..... الخ " (گواهی کوم ددے چه نیشته لائق دعبادت سوا دالله نه یك یو دے شریك برخه دار ورله نشته او گواهی کوم چه محمد ﷺ دالله حق پیغمبر او بنده دالله دے څه خوشحاله یم په الله دجهته دپرورش کونکی او په محمد ﷺ دجهته درسول کیدو. او په اسلام دجهته ددین نه. او به بخلے شی ده ته هغه گناهونه چه ده مخکښ کړے دی.

الدرس الخامس والاربعون بعد المأتين ﴿۲۴۵﴾

داذان نه روستو د دعا فضیلت

[۱۲۲۱] **الحديث الاول** : عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَالَ حِيْنَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ " اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَائِمَةِ اٰتِ مُحَمَّدَانِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَاماً مَّحْمُوْداً الَّذِىْ وَعَدْتَّهٗ " حَلَّتْ لَهٗ شَفَاعَتِىْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ. صحيح. (الجامع ج ۲ ص ۱۰۹۶)

ترجمه : جابر رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه اذان واوری او دا کلمات اووائی " اللهم رب هذه الدعوة ... الخ تر وعدته پورے "نو دده دپاره څما شفاعت په ورځ دقیامت ثابت شو. (یعنی څه به ورله په ورځ دقیامت شفاعت کوم)

فائده : علماء وائی دا دعا قبوله ده دے پسے متصل څان دپاره دعا کول پکار دی کیدے شی دقبولے شوے دعا سره یو ځائے والی د وجے نه قبوله شی. (مرقات)

د جنت اونے

[۱۲۲۲] **الحديث الثاني** : عن جابر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَالَ " سُبْحَانَ اللّٰهِ الْعَظِيْمِ وَبِحَمْدِهٖ " غُرِسَتْ لَهٗ بِهَا نَخْلَةٌ فِى الْجَنَّةِ. صحيح (الجامع ج ۲ ص ۱۰۹۸)

ترجمه : جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا چه اووئیل " سبحان الله العظیم وبحمده " نو ده له یوه ونه د کجهورے په جنت کښ نال کړے شی.

ولاړو اوبو کښ متیازے کول منع دی

[۱۲۲۳] **الحديث الثالث**: عن جابر قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ اَنْ يُّبَالَ فِى الْمَاءِ الرَّاكِدِ. (رواه مسلم)

ترجمه : جابرؓ نه نقل دی چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د بول (متیازو) کولو نه په اوبو ولاړو کښ.

فائده : دے حدیث شریف مه معلومه شوه چه اوبه ولاړے د متیازو په واقع کیدو سره

پلیتیږی او که روانه وی یا په حکم د روانو کښ لکه چه لوئے حوض وی چه یو طرف ئے د بل طرف په خوزولو سره نه خوزی نو بیا په وقوع د نجاست سره نه پلیتیږی مگر چه خوند رنگ بوئے په دے درے صفاتو کښ چه یو صفت د نجاست دوجے بدل شی نو بیا پلتیږی یاد لرئ چه په پاکو اوبو کښ متیارے کول د مسلمان شان سره نه ښائی .

دشرابی دپاره وعیدونه

[۱۲۲٤] **الحدیث الرابع** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كُلُّ مُسْكِرٍ حَرَامٌ وَمَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ فِی الدُّنْیَا فَمَاتَ وَهُوَ یُدْمِنُهَا وَلَمْ یَتُبْ لَمْ یَشْرَبْهَا فِی الْاٰخِرَةِ. رواه مسلم . مشکوة جـ۲ صـ ۳۱۷)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی هر یو نشه راوستونکے ځیز حرام دے او چاچه شراب اوځکل په دنیا کښ او بیا مړ شو داسے حال کښ دے همیش والے کونکے وی په دے (ځکلو دشرابو) او توبه اونه باسی نو نه به ځکی دے شرابو له په آخرت کښ.

فائده : لم یشربها : دا کنایه ده د نه داخلیدو نه جنت ته او یا مراد د دے نه محروم کیدل ددغے نعمت نه دی په جنت کښ.(لمعات)

[۱۲۲۵] **الحدیث الخامس** : عن عبدالله بن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ شَرِبَ الْخَمْرَ لَمْ یَقْبَلِ اللّٰهُ لَهٗ صَلٰوةَ اَرْبَعِیْنَ صَبَاحًا فَاِنْ تَابَ تَابَ اللّٰهُ . صحیح .رواه الترمذی. (مشکوة جـ۲ صـ ۳۱۷)

ترجمه : عبدالله بن عمررضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا چه شراب اوځکل نو الله نه قبلوی مونځ د ځلویښتو ورځو دده . کچرته دے توبه اوباسی نو الله به مهربانی اوکړی په ده باندے.

الدرس السادس والاربعون بعدالمأتین ۲٤٦

د جنتیانو عمر

[۱۲۲٦] **الحدیث الاول** :عن معاذ بن جبلؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَهْلُ الْجَنَّةِ جُرْدٌ مُرْدٌ ، كَاَنَّهُم مُكَحَّلُوْنَ ، اِبْنَاءُ ثلاثٍ و ثَلَاثِیْنَ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۳٤۱).

ترجمه : حضرت معاذؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلی دی داخل به شی جنتیان جنت ته بے ویښتو او بے ږیرے ته به وائے چه دوئی سترګے تورے کړے دی په عمر د درې دیرشتو کالو کښ .

فائده : حدیث شریف نه معلومه شوه چه د تیس نه بره چالیس پورے دا خه عمر دے ځکه الله تعالی جنتیانو له دے کښ انتخاب اوکړو. او درے دیرشت کاله ئے ورکړل .

پنځه کسان به جنت ته نۀ ځی

[۱۲۲۷] **الحدیث الثانی** : عن عبدالله بن عمر انّ النّبیّ ﷺ قَالَ لَا یَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَاقٌ وَلَا قَمَّارٌ وَلَا مَنَّانٌ وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ . رواه الدارمی وفی روایة له ولا ولد زنیة بدل قمار . مشکوة جـ۲ صـ ۳۱۸)، و رواه احمد وابن حبان و بقیة رجاله رجال الصحیح . (مجمع الزوائد)

ترجمه : عبدالله بن عمررضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل نه به داخلیګی جنت ته نافرمان دمور او پلار او نه جوارګر او نه زبادنه کونکے او نه همیش والے کونکے په (څکلو) دشرابو . او په یو روایت کښ دجوارګر په ځائے ولد الزنا(حرامی) راغلے دی.

فائده : ولد زنا : ددے مطلب دادے چه دے هم پشان دمور او پلار عمل یعنی زنا کوی . او د دخول نه دخول اَوّلی(یعنی اول وخت کښ جنت ته داخلیدل) مراد دی که مومن وی نو چه ددے بداعمالو سزا اوځکی نو بیا به جنت ته ځی.

دګناه دمعاف کیدو نسخه

[۱۲۲۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَالَ "سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ" فِیْ یَوْمٍ مِاةَ مَرَّةٍ حُطَّتْ خَطَایَاهُ وَاِنْ کَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ. صحیح .الجامع جـ۲ صـ ۱۰۹۸)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا چه اووے دا کلمات سبحان الله وبحمده په ورځ کښ ۱۰۰ (سل) ځله نو دده ګناهونه به معاف کړے شی اګر چه په شان دزګ ددریاب وی.(مراد واړه ګناهونه دی)

هر مونځ نه پس دایة الکرسی فضیلت

[۱۲۲۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَرَءَ اٰیَةَ الْکُرْسِیِّ دُبُرَ کُلِّ صَلٰوةٍ مَکْتُوْبَةٍ لَمْ یَمْنَعْهُ مِنْ دُخُوْلِ الْجَنَّةِ اِلَّا الْمَوْتُ. صحیح . الجامع جـ۲ صـ ۱۱۰۳)

ترجمه : ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوک چه اولولی ایة الکرسی روستو دهر فرض مونځ نه نو نه منع کوی ده له دجنت د داخلیدو نه مګر مړ کیدل دده.(یعنی چه مړ شی نو جنت ته به ځی)

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه د مانځه نه روستو پابندے سره ایة الکرسی وئیل پکار دے د ډیر لوئے ثواب وعده پرے شوے ده او الله تعالی د خپلے وعدے خلاف نه کوی .

دسورت بقرے اخری ایتونو فضیلت

[۱۲۳۰] **الحدیث الخامس** : عن ابن مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ قَرَءَ الْاٰیَتَیْنِ مِنْ آخِرِ سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ فِیْ لَیْلَةٍ کَفَتَاهُ. صحیح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۰۳)

ترجمه : ابن مسعودؓ رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه اولولی ۽ آخر د سورۀ بقرے دوۀ آیتونه نو دا دده دپاره کافی دی.

فائده: مطلب دادے چه داده دپاره د شپے دوۀ لاړے قائم مقام (برابر) دی "کفتاه" معنی دا دوارد لوستل ده دپاره کافی دی د شپے دوۀ لاړے نه. ف د الله تعالی ک

الدرس السابع والاربعون بعد المأتين ﴿۲۴۷﴾

د پیغلو سره د نکاح کولو فائدے

[۱۲۳۱] **الحديث الاول** : عن ابن مسعودؓ تَزَوَّجُوا الأَبْكَارَ ،فَإِنَّهُنَّ أَعْذَبُ أَفْوَاهاً ، وَأَنْتَقُ أَرْحَاماً،وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ. حسن (الجامع ج۱ ص ٥٦٦).

ترجمه : د حضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی نکاح اوکړی د پیغلو سره ځکه دوئی خوږو خولو والا وی تنګو رحمونو والا وی او په لګ څیز خوشحالیږی.

د ښځے خاوند بغض په محبت بدل شو

[۱۲۳۲] **الحديث الثاني** : عَنْ جَابِرٍ ، قَالَ : بينما نحن مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فِي السُّوْقِ إِذَا امْرَأَةٌ أَخَذَتْ بِعِنَانِ دَابَّتِهِ ، وَهُوَ عَلَى حِمَارٍ ، فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ، إِنَّ زَوْجِيْ لَا يَقْرَبُنِي فَفَرِّقْ بَيْنِي وَ بَيْنَهُ وَ مَرَّ زَوْجُهَا، فَدَعَاهُ النَّبِيُّ ﷺ فَقَالَ : مَالَكَ وَلَهَا جَاءَتْ تَشْكُو مِنْكَ حَقًا تَشْكُو مِنْكَ أَنَّكَ لَا تَقْرَبُهَا ، قَالَ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَالَّذِي أَكْرَمَكَ إِنِّي عَهِدْتُ بِهَا بِهِذِهِ اللَّيْلَةِ وَبَكْتِ الْمَرْأَةُ ، فَقَالَتْ : كَذِبَ فَرِّقْ بَيْنِي وَ بَيْنَهُ فَإِنَّهُ مِنْ أَبْغَضِ خَلْقِ اللّٰهِ إِلَيَّ فَتَبَسَّمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ، ثُمَّ أَخَذَ بِرَأْسِهِ وَ بِرَأْسِهَا فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا ، وَقَالَ : اللّٰهُمَّ أَلِّفْ كُلَّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا مِنْ صَاحِبِهِ ، قَالَ جَابِرٍ : فَلَبِثْنَا مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ نَلْبَثَ ، ثُمَّ مَرَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بِالسُّوْقِ فَإِذَا نَحْنُ بِامْرَأَةٍ تَحْمِلُ أَدَمًا فَلَمَّا رَأَتْهُ طَرَحَتِ الأَدَمَ وَأَقْبَلَتْ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَتْ : يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا خَلَقَ مِنْ بَشَرٍ أَحَبَّ إِلَيَّ مِنْهُ إِلَّا أَنْتَ .(رواه أبو يعلى ، ورجاله رجال الصحيح غير يوسف بن محمد بن المكندر ، و ثقه أبو زرعة و غيره ، وضعفه جماعة) .

ترجمه : د حضرت جابرؓ نه روایت دے فرمائی چه مونږه د رسول الله ﷺ سره په بازار کښ ؤو اچانك یوے ښځے د رسول الله د سورلے واګے اونیولے او هغه په خر باندے ؤو نو اووئیل دے ښځے یا رسول الله بے شك ځما خاوند ماته نه نزدے کیږی نو زما او د هغه میلمنځ کښ جداوالے راوله او د غه دوران کښ راروان ؤو خاوند د دے ښځے نو نبی کریم ﷺ ورته اواز اوکړو چه راغلو نو پیغمبر ﷺ ورته اووئیل چه څه دی تالره او دے لره دا راغلیده تانه د حق شکایت کوی چه ته دے ته نه نزدے کیږی هغه اووئیل یا رسول الله ﷺ قسم دے په هغه الله چه تاله

نسے عزت درکړے دے چه بیګا د شپے هم څه دے سره ملاؤ شوے یم دغه دوران کښ ښځے زړا شروع کړه اووے وئیل دے دروغ وائی ځما او د ده مینځ کښ جدا والے راوله بے شك دے زیات مبغوض دے ماته په مخلوق د الله تعالی کښ نو مسکے شو رسول الله او بیا نے او نیولو سر د ښځے لو د سړی او یو ځائے کړل دواړه او وے فرمائیل " اللّٰهُمَّ اُدن کل واحد منهما صاحبه " اے الله نزدے کړے هر یو د دوئی نه بل ته جابر" وائی چه څه زماته بعد څومره چه الله ته منظوره وه بیا رسول الله ﷺ په بازار کښ روان ؤو اچانك دے زنانه سره ملاؤشو د دے سره څرمنے وے چه رسول الله ﷺ ئے اولیدو هغه ئے اوغورځولے او نبی کریم ﷺ ته راغله نو وے وئیل اے د الله رسوله ! قسم دے په هغه الله چه ته ئے په حقه پیغمبر رالیږے نه دے پیدا یو بشر چه خوښ وی ماته د خاوند خپل نه سوا ستا نه .

فائده : د حدیث مطلب دا دے چه د پیغمبر ﷺ د دعا په برکت سره د ښځے او خاوند مینځ کښ مینه پیدا شوه د پیغمبر ﷺ د دعا په برکت باره کښ ډیر روایات دی مونږه له پکار دی چه هغه کارونه اوکړو چه کومو باندے پیغمبر ﷺ دعاګانے کړے دی .

دښځو باره کښ د پیغمبر پاك وصیت

[۱۲۳۳] **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ کانَ یُؤمِنُ بِاللّٰهِ وَالْیَوْمِ الْاٰخِرِ فَلا یُؤْذِ جَارَهٗ وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَیْراً. صحیح. (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۰۸)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك په الله او ورځ روستنی (قیامت) باندے ایمان لری نو دے د خپل ګاونډی ته ضرر نه رسوی . او قبول کړی ځمانه په باره دزنانو کښ وصیت دخیر.(یعنی دوی سره احسان کوی)

فائده : د جهالت په دور کښ په زنانو باندے ډیر ظلمونه شوے ؤو نو چه اسلام راغلو نو زنانو ته ئے ډیر لوئے مقام ورکړو او رسول الله ﷺ د هغوئی سره د څه سلوك وصیت او حکم اوکړو .

د فکر آخرت فضیلت

[۱۲۳٤] **الحدیث الرابع** : عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ کَانَتِ الْاٰخِرَةُ هَمَّه جَعَلَ اللّٰهُ غِنَاهُ فِی قَلْبِهٖ وَجَمَعَ لَهٗ شَمْلَه وَاَتَتْه الدُّنْیا وَهِیَ رَاغِمَةٌ وَمَن کَانَتِ الدُّنْیا هَمَّه جَعَلَ اللّٰهُ فَقْرَهٗ بَیْنَ عَیْنَیْهِ وَ فَرَّق عَلَیْه شَمْلَهٗ وَلَمْ یَاْتِهٖ مِنَ الدُّنْیا اِلّا مَا قُدِّرَ لَهٗ. صحیح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۰۹)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی د چا چه آخرت مقصد وی اوبه ګرځوی الله مالداری دده په زړه کښ . او الله به ګډ وډ کارونه ده له راجمع کړی او راځی به ده ته دنیا ذلیله. او څوك چه دهغه مقصد دنیا شی اوبه ګرځوی الله فقر دده د دواړو سترګو په مینځ کښ او دده راغونډ کارونه به الله په ده ګډوډ کړی او نه به راځی ده ته دنیا مګر

هغه چه دده دپاره مقرر کړے شوے ده.

فائده : دا مضمون په بل یو حدیث کښ هم راغلیدے د حضرت ابن عمرؓ نه روایت دے صـ ۳۸۵.

دفاقے پتولو فضیلت

[۱۲۳۵] **الحدیث الخامس** : عن ابن مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ نَزَلَ بِهٖ فَاقَةٌ فَاَنْزَلَهَا بِالنَّاسِ لَمْ تُسَدَّ فَاقَتُهٗ وَمَنْ نَزَلَتْ بِهٖ فَاقَةٌ فَاَنْزَلَهَا بِاللّٰهِ فَيُوْشِكُ لَهٗ بِرِزْقٍ عَاجِلٍ اَوْاٰجِلٍ. صحیح . (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۱۸)

ترجمه : ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چا باندے چه فقر او احتیاج راشی او دے دهغے ذکر خلقو ته کوی نو ختمه به نه شی غریبی او احتیاج ددده او هغه څوک چه راشی په ده باندے فقر او دے دهغے ذکر الله ته اوکړی نو قریبه ده چه ورکړے شی رزق ده ته زر یا څه وخت پس.

الدرس الثامن والاربعون بعد المأتين ۲۴۸

داړے او ستیشن دعا

[۱۲۳۶] **الحدیث الاول**: عن خولة بنت حکیم قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ نَزَلَ مَنْزِلًا فَقَالَ اَعُوْذُبِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامّٰاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ لَمْ يَضُرُّهٗ شَيْءٌ حَتّٰى يَرْتَحِلَ مِنْ مَنْزِلِهٖ. صحیح .(الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۱۸)

ترجمه : خوله بنت حکیم رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوک چه راشی یو ځائے (پراو، اډه، استیشن) ته او اووائی (داکلمات) اَعُوْذُبِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامّٰاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ... نو ضرر به اونه رسوی ده ته هیڅ شے تردے چه دے ددغه ځائے نه واپس شی او لاړ شی.

دخلقو شکرادا کول

[۱۲۳۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ لَّا يَشْكُرِ النَّاسَ لَا يَشْكُرِ اللّٰهَ. صحیح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۲۲)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوک دخلقو شکر نه اوباسی نو هغه دالله شکر هم نه اوباسی .

فائده : دشکر باره کښ بزرگان وائی " الشکر قید الموجود وصید المفقود" شکر یعنی دنعمت قدر کول محفوظ کول دموجود دی او شکار کول د مفقود دی.

د بانګ ویونکی فضیلت

[۱۲۳۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُؤَذِّنُ يُغْفَرُ لَهٗ مَدٰى صَوْتِهٖ وَاَجْرُهٗ مِثْلُ اَجْرِ مَنْ صَلّٰى مَعَهٗ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۲۸)

ترجمه : ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه موذن ته بخښنه کولے شی په اندازه داوچتوالی د آواز دده او اجر دده په اندازه دهغه چادے چه ده سره مونځ اوکړی.

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه د بانګ ویونکی په بانګ باندے چه څومره کسان مونځ اوکړی نو چه څومره ثواب هغوئی ته ملاویږی دومره ثواب به بانګ ویونکی ته هم ملاویږی.

[١٢٣٩] **الحديث الرابع** : عن معاوية قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُؤَذِّنُ اَطْوَلُ النَّاسِ اَعْنَاقًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. صحيح . (الجامع جـ ٢ صـ ١١٢٨)

ترجمه : معاویه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه آذان کونکے به په ورځ د قیامت اوګدو ستونو والا وی د ټولو خلقو نه.

[١٢٤٠] **الحديث الخامس** : عن ابی محذورة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُؤَذِّنُوْنَ اُمَنَاءُ الْمُسْلِمِيْنَ عَلٰى فِطْرِهِمْ وَسُحُوْرِهِمْ. صحيح .(الجامع جـ٢ صـ ١١٢٩)

ترجمه : ابو محذوره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه آذان کونکی امانتدار دمسلمانانو دی په روژه ماتی ددوی کښ او په پیشمنو ددوی کښ.

الدرس التاسع والاربعون بعدالمأتين ﴿٢٤٩﴾

مسجد کښ دکولو کارونه

[١٢٤١] **الحديث الاول** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ هٰذِهِ الْمَسَاجِدَ لَا تَصْلُحُ لِشَيْءٍ مِنَ الْقَذَرِ وَالْبَوْلِ وَالْخَلَاءِ اِنَّمَا هِيَ لِقِرَاءَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللّٰهِ وَالصَّلٰوةِ. صحيح (الجامع جـ ١ صـ ٤٥١)

ترجمه : د حضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی یقیناً دا جوماتونه صلاحیت نه لری دپاره د یوشی د ګندګی او د بولو او داودس ماتی بے شکه جوماتونه د لوستلو د قران دپاره دی او دالله تعالیٰ د ذکر او مانځه دپاره دی.

مومن دمومن دپاره شیشه ده

[١٢٤٢] **الحديث الثانی** : عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُؤْمِنُ مِرْاٰةُ الْمُؤْمِنِ. صحيح الجامع . جـ٢ صـ ١١٣٠

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه مومن آئینه دمومن ده.

فائده : مطلب دادے چه مسلمان به مسلمان ته په خاموشی دهغه عیب خائی چرچه به ئے نه کوی لکه څنګه چه شیشه کتونکی ته په خاموشی سره عیب دمخ خکاره کړی.

چه محبت پکښ نه وی بے خیره دے

[١٢٤٣] **الحديث الثالث** : عن سهل بن سعدؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُؤْمِنُ يَأْلَفُ وَيُؤْلَفُ وَلَا خَيْرَ فِيْمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ. صحيح. (الجامع جـ٢ صـ ١١٣٠)

ترجمه : سهل بن سعد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه مومن مینه کونکے وی او دده سره هم مینه کولے شی او خیر نشته په هغه چا کښ چه هغه نه مینه ښل سره کوی او نه دهغه سره مینه کیگی.

د نعمت د سلب کیدو یو حرکت

[١٢٤٤] **الحديث الرابع** : عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ ، قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : مَا مِنْ عَبْدٍ اَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ بِنِعْمَةٍ فَأَسْبَغَهَا عَلَيْهِ ، ثُمَّ جَعَلَ مِنْ حَوَائِجِ النَّاسِ إِلَيْهِ ، فَتَبَرَّمَ ، فَقَدْ عَرَّضَ تِلْكَ النِّعْمَةَ لِلزَّوَالِ . (رواه الطبرانی فی الأوسط ، واسناده جيد. مجمع الزوائد جـ٨ صـ ٢٥٠)

ترجمه : د ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه نشته یو بنده چه الله نعمت اوکړی په هغه باندے یو نعمت نو کامل ئے کړی په هغه باندے بیا اوګر ځوی هغه ته حاجتونه د خلقو نو هغه یرے بور شی یقیناً رواندے کړو هغه دغه نعمت زوال ته .

فائده : مطلب د حدیث شریف دا دے کچرے الله تعالی یو نعمت په بنده اوکړی او د خلقو ضرورت په هغے سره پوره کیږی نو هغه دے فراخ دلے سره هغه خدمت کوی بور کیږی د نه چه الله تعالی ورته دغه نعمت دائماً نصیب کړی ورنه بصورت دیګر نعمت به سلب شی .

خلع کونکو زنانو دپاره وعید

[١٢٤٥] **الحديث الخامس** : عن ثوبان قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُخْتَلِعَاتُ هُنَّ الْمُنَافِقَاتُ. صحيح. (الجامع جـ ٢ صـ ١١٣٣)

ترجمه : ثوبان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمانیلے دی چه خلع کونکی زنانه دخاوندانو سره (بے دځه وجے نه) دا منافقانے دی.

فائده : د حدیث شریف مطلب دا دے چه بے د ځه شرعی وجے نه کومه ښځه د خاوند سره خلع کوی نو دا کار د منافقت کوی او په دے باندے دا ښځه لویه ګناهګاره ده .

الدرس الخمسون بعد المأتين ٢٥٠

دقیامت ملګرے

[١٢٤٦] **الحديث الاول** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ اَحَبَّ. صحيح. (الجامع

جـ۲صـ ۱۱۳٤)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی انسان به په ورځ د قیامت دهغه چاسره وی چه ډیر چا سره ددده مینه وی.

مدینه حرم دے

[۱۲٤۷] **الحدیث الثانی** : عن سهل بن حنیف قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمَدِیْنَةُ حَرَمٌ اٰمِنٌ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۳٤)

ترجمه : سهل بن حنیف رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی مدینه حرم دے امن والا.

د درود شریف په وئیلو سره د فرشتو دعا ملاویکی

[۱۲٤۸] **الحدیث الثالث** : عن عامر بن ربیعة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنْ عَبْدٍ یُصَلِّی عَلَیَّ اِلَّا صَلَّتْ عَلَیْهِ الْمَلَائِکَةُ، مَادَامَ یُصَلِّی عَلَیَّ ،فَلْیُقِلَّ الْعَبْدُ مِن ذَالِكَ ، او لِیکثر. حسن (الجامع جـ۲ صـ ۱۰۰۱)

ترجمه : د حضرت عامر بن ربیعه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه نشته یو بنده چه درود اوائی په ما باندے مگر درود وائی په ده باندے فرشتے تر کومے چه دے درود شریف وائی په ما باندے بس لگ دے اوائی بنده د دینه یا ډیر یعنی د ده خوښه ده که د فرشتو دعا ډیره غواړی نو په ما باندے دے درود شریف ډیر اوائی اوکه د فریشتو دعائے لګه خوښه وی نو لګ درود دے اوائی.

ښځه به د آخری خاوندسره وی

[۱۲٤۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی الدرداء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمَرْءَةُ لِاٰخِرِ اَزْوَاجِهَا. حسن (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۳٤)

ترجمه : ابودرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه ښځه دپاره د آخری خاوند ده.(آخرت کښ)

دکنځلو کونکو دپاره وعید

[۱۲۵۰] **الحدیث الخامس**: عن عیاض بن حمار قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُسْتَابَّانِ شَیْطَانَانِ یَتَهَاتَرَانِ وَیَتَکَاذَبَانِ . صحیح (الجامع جـ۲صـ۱۱۳۵)

ترجمه : دعیاض بن حمار رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه یو بل ته کنځل کونکی شیطانان دی په یو بل ته تیر پاتے وائی او یو بل له دروغژن کوی.

الدرس الحادی والخمسون بعدالمأتین ۲۵۱

چانه چه مشوره طلب شی خیانت به نه کوی

[۱۲۵۱] **الحدیث الاول**: عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمُسْتَشَارُ مُؤْتَمَنٌ. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۳۶)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه هغه څوك چه مشوره ترے نه طلب کړے شی نو دے امین اوګنړلے شو.

فائده : د حدیث شریف مطلب دا دے چه کوم سړی نه مشوره طلب کړے شی نو په هغه اعتماد اوشو پکار دی چه هغه داسے مشوره ورکړی لکه څه رنګ چه ځان د پاره غوره کوی اوکه داسے او نه کړی نو دا به خیانت اوکړی.

جومات دهر مسلمان دے

[۱۲۵۲] **الحدیث الثانی** : عن سلمانؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْمَسْجِدُ بَيْتُ كُلِّ مُؤْمِنٍ. حسن. (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۲۶)

ترجمه : سلمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه جومات کور دهر مومن دے.

فائده : دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه مسجد کښ ناسته د متقیانو کار دے.

بیان کښ شعر وئیل ثابت دی

[۱۲۵۳] **الحدیث الثالث** :عن عائشةؓ قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَتَمَثَّلُ بِشِعْرِ ابْنِ رَوَاحَةَ وَيَقُوْلُ وَ يَاْتِيْكَ بِالْاَخْبَارِ مَنْ لَمْ تُزَوِّدْ .رواه الترمزی وقال هذا حدیث حسن صحیح وأخرجه احمد والنسائی (تحفه جـ۸ صـ ۱۱٤)

ترجمه : د حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به مثال کښ پیش کوو شعر د عبد الله بن روحه (اویه یو روایت کښ دی چه شعر د طرفه بن معبد) او فرمائیل به ئے "او راو به ړی تاته زمانه اخبار او حالات هغه چه تاته به ئے علم نه وی"

مضمون بالا

[۱۲۵٤] **الحدیث الرابع** :عن ابی هریرةؓ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ : اَشْعَرُ كَلِمَةٍ قَالَ بِهِ الْعَرَبُ قَوْلُ لَبِيْدٍ : اَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللّٰهَ بَاطِلٌ .رواه الترمزی وقال هذا حدیث حسن صحیح وأخرجه الشیخان (تحفه جـ۸ صـ۱۱٤)

ترجمه : د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه زیاته د علم کلمه چه عربو ئیلے دده هغه د لبید شاعر قول دے (خبردار هر څیز سوا د الله تعالی نه باطل دے)

فائده : د دے دواړو حدیثونو نه معلومه شوه چه کله کله په بیان کښ شعر وئیل جائز دی کله

چه په هغے کښ د فائدے او د حکمت خبره وی .

پردے هلك ته شفقة ځوئے وئیل جائز دی

[۱۲۵۵] **الحدیث الخامس**: عن انس ؓ انّ النّبیّ ﷺ قَالَ لَهٗ یَا بُنَیَّ رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح غریب اخرجه مسلم (تحفه جـ۸ص۹۸)

ترجمه : دحضرت أنس ؓ به روایت دے چه رسول الله ﷺ ماته اووئیل اے بچیه.

فائده : د دے حدیث نه معلومه شوه چه پردی ماشوم نه د شفقت په بنیاد بچے وئیل جائز دی .

الدرس الثانی والخمسون بعدالمأتین ۲۵۲

بهترین پیشمنے

[۱۲۵۶] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نِعْمَ السُّحُوْرُ التَّمْر. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۱۱٤٦)

ترجمه : دابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه ښه پیشمنے په کجوره دے.

فائده : د دے حدیث نه پیشمنی کښ د قجور د خوړلو فضیلت ثابت شو نو پکار دی چه سړے په دے حدیث د عمل په نیت یو څو قجورے پیشمنی کښ خوری .

دسنتو دصبا قرأت

[۱۲۵۷] **الحدیث الثانی** :عن عائشة قالت قال رسول الله ﷺ نِعْمَ السُّوْرَتَانِ هُمَا یُقْرَءَ ان فِی الرَّکْعَتَیْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ قُلْ یاایُّهَاالْکَافِرُوْنَ وَقُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ. صحیح . (الجامع جـ۲صـ ۱۱٤٦)

ترجمه : ښه دی دوه سورتونه چه دا لوستلے شی په دوه رکعته کښ مخکښ د سحر دمونځ نه یو قل یاایهاالکافرون او بل قل هوالله احد.

ښپیمانتیا توبه ده

[۱۲۵۸] **الحدیث الثالث**: عن ابی سعید الانصاری قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ النّدمُ تَوْبَةٌ وَالتَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ کَمَنْ لَّا ذَنْبَ لَهٗ. حسن (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۵۰)

ترجمه : دابوسعید الانصاری رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی ښپیمانتیا دا توبه ده او توبه ویستونکے دگناه نه پشان دهغه چا دے چه گناه ئے نه وی کړے.

دځکلو په وخت کښ په لوخی کښ پوکے منع دے

[۱۲۵۹] **الحدیث الرابع**: عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ نَهٰی اَنْ یُّتَنَفَّسَ فِی الْاِنَاءِ اَوْ یُنْفَخَ

فيه. صحيح. (الجامع جـ ٢ صـ ١١٥٣)

ترجمه: ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده ددے نه چه ساه واغستے شی په لوښی کښ او یا پوکے اوهلے شی په لوښی کښ.

نیم نمر او نیم سوری کښ ناسته ښه نه ده

[١٢٦٠] **الحديث الخامس**: عن رجل قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ اَنْ يُّجْلِسَ بَيْنَ الضُّحٰى وَالظِّلِّ وَقَالَ مَجْلِسُ الشَّيْطَانِ. صحيح جـ٢ صـ ١١٥٣)

ترجمه: دیو صحابی نه نقل دی چه رسول الله ﷺ منع کړے ده ددے نه چه سړے دنمر او سوری په مینځ کښ کینی او وے فرمائیل دا مجلس دشیطان دے.

الدرس الثالث والخمسون بعدالمأتين ﴿٢٥٣﴾

مصحف ددشمن زمکے ته مه اوړی

[١٢٦١] **الحديث الاول**: عن ابن عمر قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّسَافَرَ بِالْقُرْآنِ اِلٰى اَرْضِ الْعَدُوِّ. صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١١٥٣)

ترجمه: ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده داوړلو دقرآن نه زمکے ددشمن ته (یعنی کافرو زمکے ته ځکه هغوی به ئے بے عزتی اوکړی)

فائده: ددے حدیث شریف نه معلومه شوه چه هر هغه ځائے ته قران شریف اوړل ګناه ده چه کوم ځائے کښ دقران شریف د بے ادبی خطره وی. بعضے خلق په قبرونو قران لیکی دا سبب د بے ادبی دے دے نه پرهیز ضروری دے.

په ولاړه ځکل منع دی

[١٢٦٢] **الحديث الثانى**: عن انس قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّشْرَبَ الرَّجُلُ قَائِمًا. صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١١٥٤)

ترجمه: انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده داوبو ځکلو نه په ولاړه.

فائده: د ددے حدیث نه معلومه شوه چه په ولاړه اوبه ځکل نه دی پکار بعض روایاتو کښ د دے بدنی نقصانات ذکر دی د هغے نه دا معلومیږی چه دا نهی ارشادی ده بعض علماء په ولاړه اوبه ځکلو ته مکروه تنزیهی وئیلی دی یاد لری که ضرورت د پاره په ولاړه اوبه او ځکلے شی نو جائز دی.

دتقاضے ددباؤ وقت کښ مونځ منع دے

[١٢٦٣] **الحديث الثالث**: عن ابى امامة قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّصَلِّيَ الرَّجُلُ وَهُوَ حَاقِنٌ. صحيح. (

الجامع جـ٢ صـ ١١٥٤)

ترجمه : ابو امامه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د مونځ کولو دیو سړی په داسے حال کښ چه دے تینګونکے د وړو بولو (دمتیازو) وی.

دقبرونو مینځ کښ دجنازے مونځ منع دے

[١٢٦٤] **الحديث الرابع** :عن انس ؓ قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُصَلّٰى عَلَى الْجَنَائِزِ بَيْنَ الْقُبُوْرِ. صحيح (الجامع جـ٢ صـ ١١٥٤)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دمونځ کولو نه په جنازو باندے په مینځ دقبرونو کښ.

دسفر نه دشپے راتلل کورته ښه نه دی

[١٢٦٥] **الحديث الخامس** : عن جابر قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُطْرُقَ الرَّجُلُ اَهْلَهٗ لَيْلًا. صحيح (الجامع جـ٢ صـ ١١٥٤)

ترجمه : دحضرت جابررضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده ددے نه چه سړے کورته دشپے (دسفر نه بغیر اطلاع) راشی.

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه سړے د سفر نه رازی چه ګلی ته د ورځے راشی او کورته هم د ورځے داخل شی اوکه د شپے راتلل وی نو چه مخکښ کورته اطلاع اوکړی چه څه فلانکی وخت د شپے کورته راتلونکے یم دے کښ به خیر او برکت وی او دے به د پریشانے نه محفوظ وی .

الدرس الرابع والخمسون بعدالمأتين ﴿٢٥٤﴾

دجمعے ورځ په روژه مه خاص کوی

[١٢٦٦] **الحديث الاول** : عن ابى هريرة قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ اَنْ يُفْرَدَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِصَوْمٍ. صحيح (الجامع جـ٢ صـ ١١٥٥)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دخاص کولو دورځے دجمعے نه په روژے سره.

فائده : یاد لری د جمعے د ورځے روژه نیول جائز دی البته د جمعے ورځ د روژے د پاره خاص کول جائز نه دی لکه څه رنګ چه د دے حدیث نه معلومه شوه او د خاص کولو دا مطلب دے چه دے ورځ کښ نیول ضروری ګڼړی او بله ورځ کښ نه نیسی.

دمجلس نه بل پاسول او خپله کیناستل منع دی

[۱۲٦۷] **الحدیث الثانی** : عن ابن عمر قَالَ نَهٰی رَسُول اللّٰهِ ﷺ اَنْ یُقَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَقْعَدِهٖ وَیَجْلِسُ فِیْهِ آخَرُ. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۵۵)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده ددے نه چه پاسولے شی یوتن دخپل ناستے دځائے نه او هلته بل کینی.

په قبر ممنوعه کارونه

[۱۲٦۸] **الحدیث الثالث** : عن جابر قَالَ نَهٰی رَسُول اللّٰهِ ﷺ اَنْ یُقْعَدَ عَلَی الْقَبْرِ وَاَنْ یُجَصَّصَ اَوْ یُبْنٰی عَلَیْهِ. صحیح (الجامع ج:۲ صـ ۱۱۵۵)

ترجمه : دجابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده ددے نه چه پوخ کړے شی قبر او یا پرے آبادی جوړه کړے شی.

فائده : په قبر ناسته یو داده چه دپاسه پرے کینی دا هم منع ده او شاه ولی الله رحمة الله علیه د ناستے دویم مطلب دا بیان کړے دے چه سړے د قبر منجور شی او دقبر خواه کښ ناسته کوی لکه زمونږ زمانه کښ چه بعضے میاڼگان دا کار کوی د خپلو نیکیانو قبرونو په خوا کښ کینی او دخلقو نه شکرانے حرامے نذرانے اخلی او خوری دا مخکښ نه هم سخته ګناه ده او قبر پخول او آبادے پرے جوړول هم لویه ګناه ده افسوس دادے زمونږه زمانه کښ خلق د نیکانو خلقو په قبرونو آبادی کوی او ثواب ورته وائی نو ثواب ورته وئیل خو نور هم لوئے جرم دے بلکه د کفر خطره ده پکښ.

[۱۲٦۹] **الحدیث الرابع** : عن جابر قال نهی رسول الله ﷺ ان یکتب علی القبر شیء. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۵۵)

ترجمه : جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دلیکلو دڅه شی نه په قبر باندے .

فائده : په قبر لیکل منع دی بعضے خلق پرے قرآنی ایتونه لیکی دا نور هم لوئے جرم دے ځکه د هغے بے ادبی کیږی او د دے مشاهده روزانه کیږی .

اولاد دبوخو خبرونو سبب دے

[۱۲۷۰] **الحدیث الخامس** : عن خولة بن حکیم قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الْوَلَدَ مَبْخَلَةٌ مَجْبَنَةٌ مَجْهَلَةٌ مَحْزَنَةٌ. صحیح (الجامع جـ۱ صـ ٤۰۰)

ترجمه : دحضرت خوله نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی یقینا اولاد سبب د بخل ،

بزدلی، جهل او سبب دغم دے۔

فائده : انسان سخا اوجود کوی خو چه کله ئے بچی پیدا شی نو پیسه نه خرچ کوی وائی وارد بچی مِ دی او ډیر کرتـه واجب خرچ هم نـه کـوی د بخل شکار شی او همدارنگ د بهادری مظاهرے کوی خو چه بال بچه دار شی نو لږ بزدل شی وائی بچی به مے یتیمان شی او د بچو په خدمت کښ مصروف شی نو علم نه محروم د جهل په تیارو کښ پاتے شی ځکه امام بخاری د حضرت عمر قول نقل کړے دے چه علم سرداری او مشری نه مخکښ زده کړی همدارنگ اولاد سبب دمختلفو غمونو دے کله ورله د خرچے غم کله ورله د کپړے غم کله ورله د روزگار غم او کله ئے د نافرمانی غم الغرض د ډیرو غمونو ذریعه او سبب دے بل طرف ډیر لوئے نعمت هم دے چه د ډیرو فوائد حامل دے په دے شرط چه نیك عمله وی۔

الدرس الخامس والخمسون بعد المأتين ۲۵۵

بے بنیرے چهت باندے اوده کیدل منع دی

[۱۲۷۱] **الحديث الاول**: عن جابر قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّنَامَ الرَّجُلُ عَلٰى سَطْحٍ لَيْسَ بِمَحْجُوْرٍ عَلَيْهِ. صحيح. (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۵۶)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دده نه چه یو سړے اوده شی په چهت چه بنیره پرے نه وی۔

فائده : دا منع د انسان د فائدے دپاره ده هسے نه دخوبه راپاسی او خیال ئے نه وی او لاندے ګوزار شی خصوصاً بعضے خلق خوب کښ راپاسی ګرځی هغوی دپاره خو په داسے ځائے ملاسته ډیره خطرناکه ده۔

په ولاړه چنړیا اچول منع دی

[۱۲۷۲] **الحديث الثانی**: عن انس قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يُّنْتَعِلَ الرَّجُلُ وَهُوَ قَائِمٌ. صحيح. (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۵۶)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے د پنړو اچولونه په حالت دولاړه کښ۔

فائده : دا منع هم دانسان د فائدے دپاره ده هسے نه چه په ولاړه چنړیا اچولو کښ ده ته څه نقصان اورسی۔

د پاره دخطاکار زرده توبه پکار

[۱۲۷۳] **الحديث الثالث**: عن ابی امامة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ صَاحِبَ الشِّمَالِ لَيَرْفَعُ الْقَلَمَ سِتَّ سَاعَاتٍ

عَنِ الْعَبْدِ الْمُسْلِمِ الْمُخْطِئِ فَإِنْ نَدِمَ وَاسْتَغْفَرَ اللّٰهُ مِنْهَا اَلْقَاهَا وَإِلَّا كُتِبَتْ وَاحِدَةً. حسن. (الجامع ج ۱ ص ۴۲۲)

ترجمه : دحضرت ابوامامهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه یقیناً دګس لاس فرشته اوچتوی قلم دمسلمان خطاکار دګناه د لیکلو نه شپږ ګهنټے که دے بنپیمانه شی او بخنه اوغواړی دالله نه ددغے ګناه نو دغه فرشته نے ګوزار کړی (اوئے نه لیکی)او که توبه زراونه باسی نو بیا ئے یوه ګناه اولیکی .

فائده: دحدیث حاصل دادے چه غلطی په سے سمدستی د توبے ایستلو کوشش ضروری دے.

سر ګومنزول کله کله

(۱۲۷۴) **الحدیث الرابع**: عن عبدالله بن مغفل نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ التَّرَجُّلِ إِلَّا غِبًّا. صحیح. (الجامع ج ۲ ص ۱۱۵۸)

ترجمه : دحضرت عبدالله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده په سر کښی دګومنز کولو نه مګر کله کله.

فائده : بعضے کسان په وینښتو ګومنز کولو کښی ډیر تکلف کوی او دے ته ئے کار وئیلے وی نو دے حدیث شریف دا خبره په نښه کړه چه وینښتو ګومنز کولو او سنړه سترګو ته کار نه دی وئیل پکار اوکله کله کولو کښی حرج نشته .

میلمه دپاره تکلف منع دے

(۱۲۷۵) **الحدیث الخامس** :عن سلمان قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ التَّكَلُّفِ لِلضَّيْفِ. صحیح. (ج ۲ ص ۱۱۵۹)

ترجمه : دسلمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دتکلف نه دپاره دمیلمه.

فائده : میلمستیا سنت طریقه ده د خپل معمول نه لګ بهتر تیارے د طعام کول هم بهتر دی البته د وسع نه زیات تکلیف کول منع دے .

الدرس السادس والخمسون بعدالمأتين ﴿۲۵۶﴾

دشپے لو منع دے

(۱۲۷۶) **الحدیث الاول** : عن الحسین قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْجِدَادِ بِاللَّيْلِ وَالْحِصَادِ بِاللَّيْلِ. صحیح. (الجامع ج۲ ص ۱۱۵۹)

ترجمه : دحسین رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دکجهورو کټ کولو (شوکولو) نه دشپے اود لَو کولو نه دشپے.

فائده : دا نهی ارشادی ده ممکن ده د شپے لَوکولو یا کهجورو ،میوے شوکولو کښی ده ته څه تکلیف اورسی نو دے به پریشان شی نو خوږ نبی ﷺ د شفقت په بنیاد د شپے د لَو او د قجور د

شوکولونه منع اوکړه.

دماتے پیالے دکنډاونه څکل منع دی

[۱۲۷۷] **الحدیث الثانی** :عن ابی سعید قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ عَنِ الشُّرْبِ مِنْ ثَلْمَةِ الْقَدَحِ وَاَنْ يُنْفَخَ فِی الشَّرَابِ. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۶۰)

ترجمه :ابوسعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده څکلو نه دمات ځائے دلوښی او دپوکی وهلو نه څکلو په څیز کښ.

هوا خارج کیدلو پورے مه خاندی

[۱۲۷۸] **الحدیث الثالث** :عن جابرؓ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الضِّحْكِ مِنَ الضُّرَاطِ. صحیح. (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۶۱)

ترجمه :جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دخندا نه په تیز پورے.

بیع باندے تیزول مه کوی

[۱۲۷۹] **الحدیث الرابع**:عن ابن عمر قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ النَّجْشِ. صحیح. (الجامع جـ۲ صـ ۱۱۶۳)

ترجمه :ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دنجش (د تیزولو نه چه اغشتو باندے) نه.

فائده :یاد ساتی هوا خارج کیدو باندے چه بے اختیاره اوشی خندا صحیح نه ده خو د خلقو مخکښ قصداً هوا خارج کول هم ښه کار نه دے وائی چه دا عادت د قوم لوط علیه السلام د هغه بدو عاداتو نه ؤو لهذا دا بعضے خلق چه دا کار بے خوف او خطر کوی دوئی دِ غور اوکړی.

نذرکول پسندیده نه دی

[۱۲۸۰] **الحدیث الخامس**:عن ابن عمر قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ النَّذْرِ. صحیح. (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۶۳)

ترجمه :ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د منختے نه.

فائده :نذر مطلب دادے چه یو سړے اووائی که څما داکار الله تعالیٰ اوکړو نو څه به فلانکے څیز دالله تعالیٰ په نوم ورکوم. نو داعبادت دے خو بهتره طریقه نه ده بهتره داده چه مخکښ صدقه ورکړی صدقه په کار باندے موقوفه نه کړی او دا نهی تنزیهی ده.

الدرس السابع والخمسون بعد المأتين ﴿۲۵۷﴾

دمړی داعلان حکم

[۱۲۸۱] **الحدیث الاول** :عن الحسن قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ النَّعْیِ. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۶۳)

ترجمه : حسن رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دمړی اطلاع کولو نه.(په طریقه دجاهلیت)

فائده : دمړی خبر رسول په طریقه دجاهلیت منع دی چه په اعلان کښ دمړی ستاینے او صفتونه کیگی او خلق خبرول چه مونځ دجنازے کښ شریك شی دا خیر دے.دیکښ گناه نیشته.

په مړی دستاینے حکم

[۱۲۸۲] **الحدیث الثانی** :عن ام عطیه قَالَتْ نَهٰی رَسُوْل اللّٰهِ ﷺ عَنِ النِّیَاحَةِ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱٦٤)

ترجمه : ام عطیه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده په مړی دژړا کولو نه.

فائده : په مړی ستاینئے او ورسره په اوچت آواز ژړا منع ده که دسترگو نه اوبنکے لاړے شی او آواز ورسره نه وی نو دغه ژړا جائز ده .

یواځے کوتہ کښ دشپے حکم

[۱۲۸۳] **الحدیث الثالث** :عن ابن عباس قَالَ نَهٰی رَسُوْل اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْوَحْدَةِ اَنْ یَّبِیْتَ الرَّجُلُ وَحْدَهٗ. صحیح (الجامع جـ ۲صـ ۱۱٦٤)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دیواځے والی نه چه سړے شپه تیروی یواځے.

فائده : دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه په کمره کښ یواځے شپه کول صحیح نه دی د شپے څه قسم تکلیف جوړے دے شی نو ملگرے ضروری دے خو یاد لرئی چه دا حکم ارشادی یعنی د انسانانو د فائدے د پاره دے نو که یو سړے یواځے اوده شی نو گناهگار نه دے

پوځ خال منع دے

[۱۲۸٤] **الحدیث الرابع** :عن ابی هریرة قَالَ نَهٰی رَسُوْل اللّٰهِ ﷺ عَنِ الْوَشْمِ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱٦٤)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د وشم نه .(چه څرمن په ستن سوری کړے او بیا په کښ رنگ اچوی په دے طریقه نوم لیکی یا خال لگوی دے ته وشم وائی دا گناه ده)

[۱۲۸۵] **الحدیث الخامس** :عن سمرة قال نهی رسول الله ﷺ عن بیع الحیوان بالحیوان نسیئة. (صحیح .الجامع جـ۲صـ ۱۱٦٥)

ترجمه : سمره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دخرڅولو د څاروی نه په بل څاروی په قرضو.

فائده : بعضے روایاتو کښې د دے ثبوت راغلیدے خو محدثین حضرات وائی چه هغه اسناد کښې جائز ژوبیا منع شوے دی اوس عمل په دے حدیث باندے دے او تبادله دحیوان په حیوان قرض منع ده .

الدرس الثامن والخمسون بعدالمأتين ﴿۲۵۸﴾

د پخیدو نه مخکښې میوه نه خرڅول

[۱۲۸۶] **الحدیث الاول** :عن جابر قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الثَّمَرِ حَتّٰى يَطِيْبَ. صحيح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۶۵)

ترجمه : جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دخرڅولو دمیوے نه تردے چه داستعمال شی. (نو بیا خرڅولے شی)

سره زر په سپینو زرو قرض نه خرڅول

[۱۲۸۷] **الحدیث الثانی** : عن البراء قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الذَّهَبِ بِالْوَرَقِ دَيْنًا. صحيح . (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۶۵)

ترجمه : براء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دا قرض خرڅولو د سرو زرو نه په سکو د چاندی باندے.

ځاروے په غوښه نه خرڅول

[۱۲۸۸] **الحدیث الثالث** : عن سمرة قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ بَيْعِ الشَّاةِ بِاللَّحْمِ. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۶۶)

ترجمه : سمره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دخرڅولو د بیزے نه په غوښه باندے .

فائده : دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه غوښه په حیوان ورکول جائز نه دی خو یادلرئی چه د کوم حیوان غوښه وی نو په هغه حیوان ئے بدلول جائز نه دی او دے باره کښې کلیه او چیلی په یو حکم کښې دی او غوا او میخه په یو حکم کښې دی او اوښ د اوښ مقابله کښې دے نو چه کوم حیوان په یو حکم کښې دی نو د هغوئی د غوښو سره متبادله صحیح نه ده مثلاً د غوا د غوښے تبادله د غوا یا د میخے سره روا نه ده دا رنګ د چیلے د غوښے مقابله د چیلے او د ګلے سره روا نه ده ځکه کیدے شی د غوښے مقابل حیوان کښې غوښه د غوښے برابر وی یا ترے په حیوان کښې غوښه زیاته وی نو سود به راشی نو د سود د شبے د وجے نه دا عقد جائز نه دے ځکه خو د نبی ﷺ د سود او شبے د سود دواړو نه منع کړے ده او د دے د جواز دوه صورته

کیدے شی یو صورت دا دے چه غوښه دومره ډیره ورکړے شی چه هغه یقیناً د حیوان د غوښے نه زیاته وی دویم دا چه د غوښے جدا قیمت اولگی او د حیوان جدا قیمت او د غوښے په قیمت بیا حیوان ورکړی نو دے صورت کښ به حیوان په پیسو خرڅ شی.

دسپی جوتې لوښے به څو ځله وینځے؟

[۱۲۸۹] **الحدیث الرابع** :عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا وَلَغَ الْکَلْبُ فِیْ اِنَاءِ اَحَدِکُمْ فَلْیَغْسِلْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۱۶۹)

ترجمه :د حضرت أبو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله سپے څکل اوکړی په لوښی د یو کس ستاسو کښ نو اود ویښځی هغے لره اوه(۷) ځله.

فائده : بعضے روایاتو کښ د درے ځله وینځلو ذکر دے احناف وائی چه اوه ځله وینځل مستحب دی او درے ځله وینځل لازم دی.

دسپی دخرڅولو نه منع

[۱۲۹۰] **الحدیث الخامس** : عن جابر قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ ثَمَنِ الْکَلْبِ اِلَّا الْکَلْبَ الْمُعَلَّمَ . حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۶۷)

ترجمه : جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دخرڅولو د سپی نه مگر هغه سپے چه تعلیم ورکړے شوے وی.

فائده : د دے حدیث نه معلومه شوه چه سپے خرڅول منع دی البته هغه سپے چه هغه ته د ښکار تعلیم ورکړے شوے دی د هغه خرڅول جائز دی دا رنگ هر هغه سپے چه هغه نه څه نه څه فائده اغشتلے شی نو د هغه خرڅول جائز دی دا مسئله کتابونو ذکر کړے ده .

الدرس التاسع والخمسون بعد المأتین ۲۵۹

حد په جومات کښ نه لگول

[۱۲۹۱] **الحدیث الاول**: عن ابن عمر نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ جلدِ الْحَدِّ فِی الْمَسَاجِدِ . صحیح . (الجامع جـ ۲صـ ۱۱۶۸)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دحد لگولو نه په جوماتونو کښ.

پردی زنانه ته کتل منع دی

[۱۲۹۲] **الحدیث الثانی** :عن بریدةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ "یَا عَلِیُّ" لَا تُتْبِعِ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ فَاِنَّ لَکَ الْاُوْلٰی

وَلَيْسَتْ لَكَ الْآخِرَةُ .رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن وأخرجه احمد وابو داؤد والدارمی (تحفه جـ۸ صـ ۵۰)

ترجمه : دحضرت بریدهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ حضرت علیؓ ته وئیلے وو یا علی نظر پسے نظر مه لگوه (یعنی اچانك كتلو نه روستو بیا مه گوره) ځکه ستا د پاره اول نظر جائز دے بیا كتل گناه ده.

فائده : یاد لرئی چه بد نظری یو تباه كن عمل دے یو حدیث شریف كښ دی چه نظر د شیطان د غشو نه یو غشے دے كتابونه وائی چه بد نظری د بد اخلاقئ تخم دے بد نظری دے ته وائی چه سړے بے ږیرے هلك ته گورئی یا پردے زنانه ته گوری دے سره د انسان ژوند متأثر كیږی او تباهی سره مخامخ كیږی الله تعالی د مونږه د بد نظرے نه اوساتی ((آمین))

د جرنده گړی د اوړو نه حق نه اغستل

[۱۲۹۳] **الحدیث الثالث** : **عن ابی سعید قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ عَنْ عَسْبِ الْفَحلِ وَقَفِيْزِ الطَّحَانِ.** صحیح. (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۶۹)

ترجمه : ابوسعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع كړے ده د كرایه وركولو د سانډ دپاره دمال كولو دمادے او د حق د جرنده گړی نه چه دخپل عمل نه اخلی.(یعنی مشین گر به مزدوری دخپل اوړه گړی اوړو نه نه اخلی)

فائده : ځمونږه زمانه كښ اكثر ژرنده گړی او مشین والا په دے حدیث عمل نه كوی او د گناه مرتكب گرځی اوړه كوی او مزدوری داوړو نه اخلی دا گناه ده او جرم دے د دے جائز صورت دا دے چه د من په حساب سره د اوړه كولو أجرت اخلی یا د اوړو كولو نه مخكښ دے أجرت كښ غنم متعین كړی چه د من دانو اوړولو به دومره غنم أخلم دغه حكم د تهریشر او د لوهم دے .

بلا ضرورت د چندخے وژل منع دی

[۱۲۹۴] **الحدیث الرابع** :**عن عبدالرحمٰن بن عثمان التیمی قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ قَتْلِ الضِّفْدَعِ لِلدَّوَاءِ.** صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۶۹)

ترجمه : د عبدالرحمٰن بن عثمان تیمی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع كړے ده د مړ كولو د چندخے نه دپاره د دوائی.

روح والا څیز نه قتلول

[۱۲۹۵] **الحدیث الخامس**:**عن ابن عباسؓ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ قَتْلِ كُلِّ ذِیْ رُوْحٍ.** صحیح. (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۷۰)

ترجمه: ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع كړے ده د قتلولو د هر یو روح والا شی نه.

فائده: هر روح والا څیز بغیر د څه شرعی وجے نه وژل ښه كار نه دے گناه ده.

ئے موندے وے نو ایمان به ئے راوړے وے نو رسول الله ﷺ اووئیل چه هغه د دنیا د صفت او شهرت د پاره هر څه کړیدی چرته ئے یوه ورځ نه دی وئیلے چه " اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی یَوْمَ الدِّیْنِ " اے الله : بخنه اوکړی ماته په ورځ د قیامت .

فائده : مطلب د حدیث شریف دا دے چه هشام د نیکے کارونه ډیر کړے دی خو ایمان په کښ نه ؤو صرف د دنیا د نیك نامے د پاره ئے کړے دی لهذا هغه په در د الله تعالی کښ قبول نه دی خوړو لوستونکو په ایمان محنت پکار دے چه ایمان صحیح وی کنیے تمامه خواری به عبث شی ډیر کلمه گو مسلمانون په نظر راځی چه شرك نه پیژنی په شرك اخته وی او څان ته مسلمان وائی توحید نه پیژنی او نه د توحید عقیده ساتی او په توحید مدار د نجات دے افسوس دا دے ایمان نه پیژنی د ایمان په معنی نه پوهیږی او څان ته مؤمن وائی یاد لرئی د دے کمی پوره کول ضروری دے دا کمے به د قرآن درسونو کښ شرکت سره پوره کیږی دا رنګ د ګلدستے درس او لوستل او د الانوار المکیة رسالے کتو او یادولو سره به هم ډیره فائده کیږی .

په ګس لاس خوراك نه منع دے

[۱۳۰۳] **الحدیث الثالث** : عن جابر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَاْکُلُوْ بِالشِّمَالِ فَاِنَّ الشَّیْطَانَ یَاْکُلُ بِالشِّمَالِ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۰۷)

ترجمه : جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه مه خورئ په ګس لاس باندے ځکه شیطانان په ګس لاس خوراك کوی.

غیر موجود شے خرڅولو نه منع

[۱۳۰۴] **الحدیث الرابع** : عن حکیم بن حزام قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَبِعْ مَا لَیْسَ عِنْدَكَ . صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۰۹)

ترجمه : حکیم بن حزام رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی مه خرڅوه هغه چه تاسره نه وی.

فائده : ځمونږه زمانه کښ دا رواج ډیر عام دے چه یو څیز سړی سره نه وی بلکه اغشتلے هم نه وی او مخکښے ئے خرڅه وی د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه دا طریقه صحیح ده .

اودس ذریعه د معافی ده

[۱۳۰۵] **الحدیث الخامس**: عَنْ اَبِی اُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا تَوَضَّا الرَّجُلُ الْمُسْلِمُ خَرَجَتْ خَطَایَاهُ مِنْ سَمْعِهٖ وَبَصَرِهٖ وَیَدَیْهِ وَرِجْلَیْهِ فَاِنْ قَعَدَ قَعَدَ مَغْفُوْرًا لَّهٗ. حسن(الجامع جـ ۱ ص ۱٤۰)

ترجمه : د حضرت ابوامامهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله اودس اوکړی یو سړے نو اوځی ګناهونه ددده د غوږونو ددده نه د سترګو ددده نه او دلاسونو ددده نه او دخپو ددده نه

نو که کینی نو کیبنی بخلے شوے.

الدرس الثانی و الستون بعدالمأتین ﴿۲۶۲﴾

د مرګ آرزو مه کوه

[۱۳۰۶] **الحدیث الاول**:عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَدْعُوْا بِالْمَوْتِ وَلَا تَتَمَنَّوْهُ. صحیح (الجامع جـ ۲صـ ۱۲۱۶)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی مه غواړی مرګ له او مه ئے آرزو کوی.

فائده : د مرګ آرزو ګناه ده آرزو د نیك عمل او د اوګد عمر پکار ده که اوګد عمر او نیك عمل ملاو نشی نو د نیکے د آرزو بدله خوبه ملاوشی .

د ښځے د سفر حکم

[۱۳۰۷] **الحدیث الثانی** : عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تُسَافِرِ الْمَرْءَةُ اِلَّا مَعَ ذِیْ مَحْرَمٍ وَلَا یَدْخُلُ عَلَیْهَا رَجُل اِلَّا مَعَهَا مَحْرَمٌ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۲۱)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه سفر دے نه کوی یو زنانه مګر ددے سره دے محرم وی او نه دے داخلیګی په دے باندے (یعنی نه دے راځی ددے کور ته) یوسړے مګر ددے سره دے محرم وی.

فائده : دے حدیث نه واضحه شوه چه ښځه به بغیر د محرم نه سفر نه کوی داګناه ده او په مسلمان معاشره کښ د دے اجازت نشته په دے حدیث دے هغے حضرات غور اوکړی چه هغوئی خپلے جینکے د سفر په مسافت یونیورستو کالجونو او لرے لرے مدارسو ته بوځی او هغه ځائے کښ ځان له دیره وی بلکه بعضے اوقاتو کښ بیرونی ملك ته هم لیګی د دے په دینی نقصاناتو غور پکار دے .

ستونی ستغ ملاسته جائز ده

[۱۳۰۸] **الحدیث الثالث** : عن عبد الله بن زید "اَنَّهُ رَاَی النَّبِیَّ ﷺ مُسْتَلْقِیاً فِی الْمَسْجِدِ وَاضِعاً اِحْدٰی رِجْلَیْهِ عَلَی الْاُخْرٰی ".رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح واخرجه الشیخان وابو داؤد والنسائی(تحفه جـ۸ صـ ٤١)

ترجمه : د حضرت عبد الله بن زید" نه روایت دے چه رسول الله ﷺ لیدلے ؤو چه ستونے ستغ ملاست ؤو په جمات کښ اینبودلے وه یو خپه په بله باندے.

فائده: په دے طریقه ملاسته جائز ده په دے شرط چه دعورت د خکاره کیدو خطره پکښ نه وی . بعضے روایاتو کښ داسے ملاستے نه منع راغلیده دغه منع په هغه صورت حمل ده چه

کله په داسے ملاسته کښ د بے پردگی خطره وی.

چرگ ته بد رد نه وئیل

[۱۳۰۹] **الحدیث الرابع** : عن زید بن خالد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَسُبُّوا الدِّيْكَ فَإِنَّهُ يُوْقِظُ لِلصَّلٰوةِ .

صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۱۲۲)

ترجمه : زید بن خالد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی تاسو بد رد مه وائی. چرگ ته بیشکه دے راپاسول کوی دپاره دمانځه.

فائده : د دے حدیث نه معلومه شوه چه د مانځه د پاره راپاسول او د مانځه دعوت چلول دا یو دیر لوئے عمل دے د الله تعالی د رسول ﷺ په نظر کښ د دے لوئے مقام دے تر دے پورے چه چرگ چه یو څناور دے هغه هم د دعوت د مونځ په وجه قابل د شرف شو چه ردے بد ے ورته وئیل صحیح نه دی .

د کنځلو د زمانے نه منع

[۱۳۱۰] **الحدیث الخامس** :عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَسُبُّوا الدَّهْرَ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَالدَّهْرُ.

صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۲۲)

ترجمه : د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کنځلے مه کوی زمانے ته ځکه الله تصرف کونکے دے زمانه کښ.

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه داسے وئیل چه زمانه خرابه شوه داوئیل ښه نه دی دا رنګ یو حدیث کښ دی چه داسے وئیل هم ښه نه دی چه سړے اوائی خلق خراب شو .

الدرس الثالث و الستون بعدالمأتين ۲۶۳

دسیلئ وخت کښ دعا

[۱۳۱۱] **الحدیث الاول** :عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَسُبُّوا الرِّيْحَ فَإِذَا رَأَيْتُم مَا تَكْرَهُوْنَ فَقُوْلُوْا اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِهٰذِهِ الرِّيْحِ وَخَيْرِ مَا فِيْهَا وَخَيْرِ مَاأُمِرَتْ بِهٖ وَنَعُوْذُبِكَ مِن شَرِّ هٰذِهِ الرِّيْحِ وَشَرِّمَا فِيْهَا وَشَرِّ مَاأُمِرَتْ بِهٖ. صحیح (جـ۲ صـ ۱۲۲۳)

ترجمه : د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه تاسو بد رد مه وائی سیلی ته بلکه چه تاسو ووینی هغه چه بد ګنړی تاسو نو اووائی (داکلمات)" اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْئَلُكَ مِنْ خَيْرِهٰذِهِ الرِّيْحِ وَخَيْرِ مَا فِيْهَا وَخَيْرِ مَاأُمِرَتْ بِهٖ وَنَعُوْذُبِكَ مِن شَرِّ هٰذِهِ الرِّيْحِ وَشَرِّمَا فِيْهَا وَشَرِّ مَاأُمِرَتْ بِهٖ. (اے الله غواړو ..تا نه خیر ددے سیلئ او خیر هغه چه په دے کښ دے او خیر

هغه چه دے ته پرے حکم شوے دے.او پناه غواړو د شر ددے سیلئ نه او د شر هغے نه چه په دے سیلی کښ دی او شر دهغے نه چه دے ته پرے حکم شوے دے.

نکاح سره نیم دین کامل کیږی

[۱۳۱۲] **الحدیث الثانی** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا تَزَوَّجَ الْعَبْدُ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الدِّيْنِ فَلْيَتَّقِ اللّٰهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِي. حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۱٤۷)

ترجمه : دحضرت انسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله نکاح اوکړی بنده نو یقینا دده نیم دین کامل شو نو الله تعالیٰ نه دے په نیم باقی کښ یره اوکړی.

فائده : خوږو لوستونکو یاد لرئی د انسان دین ته نقصان د دوو طرفو نه رسی د خیتے نه او د شرمگاه نه چه کله سړے نکاح اوکړی نو د ده د شرمگاه خطره ختمه شوه نیم دین ئے محفوظ شو اوس د الله تعالی نه یره اوکړی حرام د نه خوری چه باقی نیم هم محفوظ شی .

څاروی ته د جرس اچولو حکم

[۱۳۱۳] **الحدیث الثالث**: عن ام حبیبة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رِفْقَةً فِيْهَا جَرَسٌ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۲٦)

ترجمه : ام حبیبه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه ملگرے کیگی ملائك دهغه ډلے سره چه په هغے کښ اواز د جرس وی.

فائده : د دے حدیث نه معلومه شوه چه څاروونه جرس گنگروگان اچول ښه نه دی یو روایت کښ رازی چه دے لره شیطان پسند کوی .

د پرانگ د څرمنے د استعمال حکم

[۱۳۱٤] **الحدیث الرابع**: عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَصْحَبُ الْمَلَائِكَةُ رِفْقَةً فِيْهَا جِلْدُ نَمِرٍ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۲٦)

ترجمه : ابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه نه ملگرے کیگی ملائك دهغه ډلے سره چه په هغے کښ څرمن د پرانگ وی.

فائده : وئیلے شی چه د پرانگ څرمن استعمالول د متکبرینو خلقو عادت ؤو نو شریعت ترے نه منع اوکړله چه دے سره د رحمت فرشتے بندیږی .

چه زیاتی شی نو چوماتی شی داسے مه کوه

[۱۳۱۵] **الحدیث الخامس**: عن عائشة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تُطْعِمُوا الْمَسَاكِيْنَ مِمَّا لَا تَأْكُلُوْنَ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۲۹)

ترجمه : عائشه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه مه خوری په مسکینانو باندے هغه چه تاسو په خپله نه خوری.

فائده : ځمونږه په علاقه کښ یو مشروو اوس مړ دے هغه ته چه به چا اووئیل چه "چائے څکے ؟ نو هغه به ورته وئیل که د بنده د نوم وی خو اوبه څکم او که د الله تعالی د نوم وی نو بیا نه څکم تپوس ترے اوشو چه د دے څه مطلب دے نو هغه اووئیل چه د بنده په نوم تیاره شی هغے سره خواری شوے وی او چه د الله تعالی په نوم ورکوی نو هغه اکثر سړه پاتے شوے د وړو زګو د پاره تیارے شوے چائے نه ورکوی دے خبرے ته ځوچ اوکړئی خبره ئے ډیره وزنی ده .

الدرس الرابع و الستون بعدالمأتين ﴿٢٦٤﴾

مړو ته کنځل نه کول

[١٣١٦] **الحديث الاول** : عن زيد بن ارقم قَالَ نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنْ سَبِّ الْاَمْوَاتِ . صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١٢٦٨)

ترجمه : دحضرت زید بن ارقم رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده دکنځلو کولو نه مړو ته.

فائده : کنځل نه مړوته ښه دی نه ژوندو ته د مړو ذکر شاید دلته ځکه خاص شو چه مړه خپل اعمالو سره مخامخ شوے دی او د خپل اعمالو نتیجه ورته ملاو شوے ده نو تاسو ورته اوس ردے بدے مه وائی بل دا چه د هغوئی په کنځلو به ژوندو ته ایذا رسی او ایذا په شریعت کښ حرامه ده . دریمه دا چه کیدے شی چه د هغوئی ورثه ستا مړو ته ردے بدے اوائی نو خپل مشران به مړو نی بے عزته کړے لهذا چپه خله دے بهتری ده .

په ترک د میلمستیا زورنه

[١٣١٧] **الحديث الثانی** : عن عقبة بن عامر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا خَيْرَ فِيْمَنْ لَا يُضِيْفُ. صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١٢٤٧)

ترجمه : د عقبه بن عامر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی خیر نشته په هغه چا کښ چه میلمستیا نه ورکوی.

دامانت ضمانت نیشته

[١٣١٨] **الحديث الثالث**: عن ابن عمرو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا ضَمَانَ عَلٰى مُؤْتَمَنٍ. حسن (الجامع جـ ٢ صـ ١٢٥٠)

ترجمه : ابن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی ضمان نشته په هغه چا چه امانت دار جوړ کړے شی.

فائده : مطلب دا دے چه تا یو سړی سره امانت کیخودلو او هغه د هغے باره کښ څه کوتاهی نه وه کړے نه ئے په هغے باندے څه زیاتے کړے وی او هلاك شو نوبه هغه ضمان نیشته .

د فیصلے یو ادب

[۱۳۱۹] **الحدیث الرابع** : عن علیٌّ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا تَقَاضٰی اِلَیْكَ رَجُلَانِ فَلَا تَقْضِ لِلْاَوَّلِ حَتّٰی تَسْمَعَ كَلَامَ الْاٰخَرِ فَسَوْفَ تَدْرِی كَیْفَ تَقْضِی . حسن (الجامع جـ۱ صـ ۱۳۷)

ترجمه :د حضرت علیؓ نه روایت دے چه وئیلے دی رسول الله ﷺ کله چه فیصله راوړی تاته دوه کسان نو ته فیصله مه کوه اول دپاره تردے چه ته واورے خبره دبل نو زړ ده پوهه به شی ته په کیفیت د فیصلے .

فائده : دے حدیث شریف کښ قاضی او حاکم ته ئے د فیصلے کولو یو زبردست ادب په نښه کړو چه فیصله هله پکار ده چه سړے د دواړو خبره واوری بیا اُوړ پړ اوکړی .

وارث له وصیت نه کول

[۱۳۲۰] **الحدیث الخامس**: عن جابر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا وَصِیَّةَ لِوَارِثٍ . صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۵٦)

ترجمه : جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه وصیة نشته دوارث د پاره.

الدرس الخامس و الستون بعد المأتین ۲٦٥

مسلمان دپاره خه انتخاب دایمان د کمال نښه ده

[۱۳۲۱] **الحدیث الاول** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا یُؤْمِنُ اَحَدُكُمْ حَتّٰی یُحِبَّ لِاَخِیْهِ مَا یُحِبُّ لِنَفْسِهٖ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۵۸)

ترجمه : د انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی (کامل) مومن نه شی کیدے یو تن ستاسو نه تردے چه خوښ کړی دخپل رور(مسلمان) دپاره هغه چه خوښوی ځان له.

دساخت دمونځ فضیلت

[۱۳۲۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا یُحَافِظُ عَلٰی صَلٰوةِ الضُّحٰی اِلَّا اَوَّابٌ وَهِیَ صَلٰوةُ الْاَوَّابِیْنَ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲٦۳)

ترجمه : دابو هریرة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی حفاظت نه کوی په مونځ دساخت مګر راګرځیدونکی الله ته او دا مونځ د ساخت مونځ د اوابینو دے(یعنی دالله ته دراګرځیدونکو)

فائده : دے حدیث شریف کښ د چاشت د مونځ پیر لوئے فضیلت بیان شو د دے مونځ کونکو ته د اوابین اووئیل او د اوابینو باره کښ الله تعالی فرمائی " إِنَّه كَانَ لِلْأَوَّابِينَ غَفُوراً " یقینا الله تعالی اوابینو د پاره بخونکے دے خلاصه دا چه د چاشت مونځ د بخنے یوه لویه ذریعه ده .

دمور پلار نافرمانی مه کوه

[١٣٢٣] **الحديث الثالث** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يُحِبُّ اللّٰهُ الْعُقُوْق . صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١٢٦٣)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه خوښوی الله نافرمانی د مورپلار.

دریم دخلله وی

[١٣٢٤] **الحديث الرابع** :عن ابن عمرو قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ اَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ اِلَّا بِاِذْنِهِمَا، صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١١٦٨)

ترجمه : ابن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه دی جائز دپاره دیو سړی چه جدائی راولی په مابین د دوه کسانو کښ مګر په اجازت ددے دواړو سره(یعنی دوه کسان ولاړ دی خپل مینځ کښ خبرے کوی نو بے اجازته مه ورځه)

دمسلمان دمال د استعمال شرط

[١٣٢٥] **الحديث الخامس** : عن حنيفة الرقاشی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَحِلُّ مَالُ اِمْرِءٍ ی مُسْلِمٍ اِلَّا بِطِيْبِ نَفْسٍ مِّنْهُ. صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ١٢٦٨)

ترجمه : د حنیف رقاشی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه دے جائز مال دیو مسلمان سړی مګر په خوشحالی دهغه سره.(بغیر د هغه درضا نه دهغه مال استعمالول حلال نه دی)

الدرس السادس و الستون بعدالمأتين ﴿٢٦٦﴾

دد هوکه باز حکمران انجام

[١٣٢٦] **الحديث الاول** :عن معقل بن يسار قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَامِنْ وَالٍ يَلِيْ رَعِيَّةً مِّنَ

الْمُسْلِمِيْنَ فَيَمُوْتُ وَهُوَ غَاشٌ لَّهُمْ اِلَّا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ. متفق عليه (مشكوة جـ٢ صـ ٣٢١)

ترجمه : معقل بن يسار رضى الله عنه نه روايت دے چه ما درسول الله ﷺ اوريدلے دى چه فرمائيل ئے نيشته دے يو حاكم چه حكومت كوى په رعايا مسلمانانو او دے مړشى او حال دادے چه دے دهوكه كونكے (خيانت كونكے) وى دوى سره مگر الله حرام كړے دے جنت په دغه حاكم باندے.

ناكاره حكمران

[١٣٢٧] **الحديث الثانى** : عن عائذ بن عمرو قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الْحُطَمَةُ . رواه مسلم (مشكوة جـ ٢ صـ ٣٢١)

ترجمه : عائذ بن عمرو وائى ما اوريدلے دى درسول الله ﷺ نه چه بے شكه بدتر دشپونكو(حكمرانانو) نه هغه ظالم دے.

مخلوق سره د نرمى بدله

[١٣٢٨] **الحديث الثالث** : عن عائشة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَللّٰهُمَّ مَنْ وُّلِّىَ مِنْ اَمْرِ اُمَّتِى شَيْئًا فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ وَمَنْ وُّلِّىَ مِنْ اَمْرِ اُمَّتِى شَيْئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفَقْ بِهٖ. رواه مسلم (مشكوة جـ ٢ ص ٣٢١)

ترجمه : عائشه رضى الله عنها نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دى چه اے الله هغه څوك چه اوسپارلے شى هغه ته يو كار دامت زما (دحكمرانى) نه او هغه په دے مسلمانانو باندے سختى كوى نو ياالله هغه سره سختى اوكړے . او چاته چه اوسپارلے شو يو كار (دحكمرانى) مشرى دامت زمانه نو هغه نرمى كوى زما په امت باندے نو ياالله ته پرے نرمى اوكړه.

دانصاف كونكو بدله

[١٣٢٩] **الحديث الرابع** : عن عبدالله بن عمرو بن العاص قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الْمُقْسِطِيْنَ عِنْدَاللّٰهِ عَلٰى مَنَابِرَ مِنْ نُوْرٍ عَنْ يَّمِيْنِ الرَّحْمٰنِ وَكِلْتَا يَدَيْهِ يَمِيْنٌ اَلَّذِيْنَ يَعْدِلُوْنَ فِىْ حُكْمِهِمْ وَاَهْلِيْهِمْ وَمَا وَلُوْا. (مشكوة جـ ٢ صـ ٣٢١ . صحيح رواه مسلم)

ترجمه : دعبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دى چه انصاف كونكے دالله دربار كښ په منبرونو دنور وى بنى طرف ته (څنگه چه دهغه د شان سره مناسب دے) دمهربان بادشاه او دواړه طرفونه دهغه يمين (بنى) دى (دا مقسطين) داسے خلق دى چه انصاف كوى په فيصلو خپلو كښ او اهل و عيال په حقوق كښ او هغه څه كښ چه دوى پرے واليان شوے دى.

پنځه كارونه

[١٣٣٠] **الحديث الخامس** :عن الحارث الاشعرى قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اٰمُرُكُمْ بِخَمْسٍ بِالْجَمَاعَةِ

وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَالْهِجْرَةِ وَالْجِهَادِ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ . صحيح. رواه احمد والترمذي. (مشكوة جـ ٢ صـ ٣٢١)

ترجمه : حارث اشعري رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائي چه حكم كوم تاسو ته په پنځو څيزونو : په جماعت ،(اجماع د مسلمانانو تابعداري) او اوريدلو (دحق) او تابعداري (ددينې مشرانو او حكمرانانو په هغه كارونو كښې چه جائز دي) او په هجرة كولو (د دارالكفر نه دارلاسلام ته) او په جهاد في سبيل الله .

الدرس السابع و الستون بعدالمأتين ﴿٢٦٧﴾

چه څه كړے هغه به ريبے

[١٣٣١] **الحديث الاول** :عن ابي هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنْ اَمِيْرِ عَشَرَةٍ اِلَّا يُؤْتٰى بِهٖ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ مَغْلُولاً حَتّٰى يَفُكَّ عَنْهُ الْعَدْلُ اَوْ يُوْبِقُهُ الْجَوْرُ. صحيح. رواه الدارمي (مشكوة صـ ٣٢١)

ترجمه : ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دي نيشته يو امير د لسو كسانو مګر را به وستے شي په ورځ دقيامت داسے حال كښې چه لاسونه به ئے ستې ته ترلے شوي وي.تردے چه كولاؤ به كړي ده لره عدل او يا به هلاك كړي ده لره ظلم دده .

په ورځ دقيامت ارمان د ظالمانو حكمرانانو

[١٣٣٢] **الحديث الثاني** : عن ابي هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ وَيْلٌ لِّلْاُمَرَاءِ وَيْلٌ لِّلْعُرَفَاءِ وَيْلٌ لِّلْاُمَنَاءِ يَتَمَنَّيْنَّ اَقْوَامٌ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اَنَّ نَوَاصِيَهُمْ مُعَلَّقَةٌ بِالثُّرَيَّا يَتَجَلْجَلُوْنَ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ وَاَنَّهُمْ لَمْ يَلُوا عَمَلاً . رواه في شرح السنة ورواه احمد .و رجاله ثقات مجمع الزوائد جـ ٥ صـ ٢٠٠، ورواه الحاكم و قال صحيح الاسناد اتحاف الخيرة المهرة جـ ٥ صـ ٤٣ (مشكوة جـ ٢ صـ ٣٢١)

ترجمه : ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دي هلاكت دے دپاره دحكمرانانو او هلاكت دے دپاره دممبرانو او هلاكت دے دپاره د قوي امانتدارانو (چه خپلے ذمه داري نه پوره كوي) او آرزو به اوكړي په ورځ دقيامت څه قومونه چه تندي ځمونلاً زورندوے ثريا ستوري سره اولتے شتے مو وهلے په مينځ د زمكے او آسمان كښې خو چه هيڅ عمل مو نه وے قبول كړے.

مونځ كښې د قرأت تفصيل

[١٣٣٣] **الحديث الثالث** :عَنْ اَبِيْ قَتَادَةَؓ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي الْاُوْلَيَيْنِ بِاُمِّ الْكِتَابِ وَ سُوْرَتَيْنِ وَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْاُخْرَيَيْنِ بِاُمِّ الْكِتَابِ وَ يُسْمِعُنَا الْاٰيَةَ اَحْيَانًا وَ يُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰى مَالَا يُطِيْلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ وَ هٰكَذَا فِي الْعَصْرِ وَ هٰكَذَا فِي الصُّبْحِ . متفق عليه

ترجمه : حضرت ابو قتادهؓ وائی چه رسول الله ﷺ به د ماسپخین په وړمبو دوه رکعاتونو کښی سورت فاتحه او دوه سورتونه لوستل او په دوه روستو رکعاتونو کښی به ئے صرف سورت فاتحه لوستله او کله کله به ئے مونږه ته اوګد قرأت به ئے کولو په اول رکعت کښی چه دویم رکعت کښی به ئے د هغے برابر نه کولو دارنګ مازیګر کښی او دا رنګ سحر کښی .

فائده : یاد لرئی چه قرأت په مونځ کښی رکن دے فرض دے که قرأت پاتے شی نو مونځ نه کیږی د درے مونځونو ذکر په بره حدیث شریف کښی اوشو د مسلم شریف په روایت کښی د حضرت جابر بن سمرةؓ نه نقل دی چه رسول الله ﷺ به د ماسپخین په مونځ کښی به " واللیل إذا یَغشٰی" لوستلو او په یو روایت کښی رازی چه " سبح اسم ربك الاعلی " به یے لوستلو او په مازیګر کښی به ئے د دے برابر لوستلو او په صبا کښی به ئے د دے نه ډیر اوګد قرأت کولو او د جبیر بن مطعمؓ روایت بخاری او مسلم نقل کړے دے چه رسول الله ﷺ د مانښام په مونځ کښی سورت طور لوستلو. دے روایاتو کښی د پنځو وارو مونځونو د قرأت ذکر اوشو د قرأت فرض مقدار یو غټ ایت یا درے واړه ایتونه دی او د قرأت مستحب ترتیب د سلیمان بن یسارؒ نه په مشکوٰة کښی په حواله د نسائی په دے طریقه نقل دے چه صبا کښی "طوال مُفَصَّل" (د سورت حجرات نه تر بروج پورے) لوستل دی او په عشاء کښی "اوساط مفصل " (د سورت بروج نه تر لم یکن پورے) لوستل دی او ماسپخین د ماسخوتن په حکم کښی دے او په مانښام کښی "قصار مفصل " (د لم یکن نه اخر پورے) لوستل دی او مازیګر د مانښام په حکم کښی دے .

منع دمشری نه

[۱۳۳٤] **الحدیث الرابع** : عن ابی ذر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَا اَبَاذَرٍ اِنِّی اَرَاكَ ضَعِیْفًا وَاِنِّی اُحِبُّ لَكَ مَا اُحِبُّ لِنَفْسِی لَا تَاَمَّرَنَّ عَلٰی اثْنَیْنِ وَ لَا تَوَلَّیَنَّ مَالَ یَتِیْمٍ. رواه مسلم

ترجمه : ابو ذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی اے ابوذره! څه وینم تاله کمزورے او بیشکه څه خوښوم تاله هغه چه خوښوم دپاره دخپل ځان ته مه مشر کیګه په دوه کسانو او مه ذمه دار کیګه دمال د یتیم.

خپل عمل دلارے مل

[۱۳۳۵] **الحدیث الخامس** : عن ابن عباس عَنِ النَّبِیِّ ﷺ مَنْ سَكَنَ الْبَادِیَةَ جَفَا وَمَنِ اتَّبَعَ الصَّیْدَ غَفَلَ وَمَنْ اَتَی السُّلْطَانَ اُفْتُتِنَ. صحیح . رواه احمد والترمذی والنسائی. مشکوة جـ ۲ صـ ۳۲۲)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه څوك باندو کښی اوسیګی نودے به جاهل شی او چه څوك ښکار پسے شی نو دے به غافل شی او چه څوك بادشاه له راځی نو دے به فتنو کښی اخته شی.

الدرس الثامن و الستون بعد المأتين ﴿۲۶۸﴾

حکمران له یو ادب

[۱۳۳۶] **الحدیث الاول** :عن ابی امامة رضی الله عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ إِنَّ الْاَمِیْرَ إِذَا ابْتَغَی الرِّیْبَةَ فِی النَّاسِ أَفْسَدَهُمْ.صحیح. رواه ابوداؤد (مشکوة جـ ۲ صـ ۳۲۲)

ترجمه : ابوامامة رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی بیشکه امیر کله چه شروع کړی لټول دشبهاتو په خلقو کښ نو خراب نے کړی (یعنی جوړ په مینځ د حکمران او رعیت کښ ختم شی)

چه اچانك مړ شی څه صدقه ورپسے پکار ده

[۱۳۳۷] **الحدیث الثانی** : عن عائشةؓ ان رجلا قال للنبی ﷺ إِنَّ اُمِّی اُفْتُلِتَتْ نَفْسُهَا وَ اَظُنُّهَا لَو تَکَلَّمَتْ تَصَدَّقَتْ فَهَلْ لَهَا اَجْرٌ إِنْ تَصَدَّقْتُ عَنْهَا قَالَ نَعَمْ . (رواه البخاری جـ ۱ صـ ۱۸۶)

ترجمه : حضرت عائشةؓ نه روایت دے چه یو سړی نبی ﷺ ته اوونیل چه بے شکه مور مے اچانك مړه شوے ده اوزه گمان کومه که هغے خبرے کړے وے نو صدقه بے ئے کوله نو شته دے د هغے د پاره اجر کچرے زه د هغے نه صدقه اوکړمه نو خوږ نبی ﷺ اوونیل آو (هغے له پکښ اجر شته) .

ددهوکه باز سزا

[۱۳۳۸] **الحدیث الثالث** : عن انس عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ لِکُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ یُعْرَفُ بِهٖ. متفق علیه . (مشکوة جـ ۲ صـ ۳۲۳)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے چه هر دهوکه کونکی دپاره به یو جنډا وی په ورځ د قیامت چه دے به پیژندلے شی په هغی سره.

د دعوت یو ځلور اداب

[۱۳۳۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی موسی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بَشِّرُوْا وَلَا تُنَفِّرُوا وَیَسِّرُوْا وَلَا تُعَسِّرُوا. متفق علیه . (مشکوة صـ ۳۲۳)

ترجمه : ابوموسیٰ رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی زیرے ورکړی (په ثوابونو باندے) او مه کتاروی خلق په سختو سره) او نرمی کوی سختی مه کوی.

فائده : اسانتیا اوکړی په اغستلو د زکوة وغیره کښ او تنګسیا او سختی مه کوی په اغستلو د زیادت د هغے نه چه واجب دی په دوی باندے.

دالله د نوم لحاظ ډیر ضروری دے

[۱۳٤۰] **الحدیث الخامس**: عن ابن عمرؓ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ عَادَ بِاللّٰهِ فَاَعِيْذُوْهُ. صحيح رواه رزين (مشكوة جـ۲ صـ ۳۲۵)

ترجمه: ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه دے وائی ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه چه فرمائیل ئے څوك چه پناه اوغواړی په نوم دالله نو پناه ورکړی.

فائده: د الله تعالی د نوم لحاظ کول فرض دی مثلاً ته بی بی وهے او هغه اوائی چه الله تعالی ته اوګوره مامه وهه نو پس بیائے او نه وهے دارنګ تمام کارونو کښ د الله تعالی د نوم لحاظ اوکړه البته تحفة الألمعی شرح د ترمذی شریف لیکی چه د بعضے سوالګرو دا الفاظ تکیه کلام وی نو که هغه ته څه ورنه کړی شی نو دے کښ حرج نیشته.

الدرس التاسع و الستون بعد المأتين ﴿۲٦۹﴾

امام به سنت کوم ځائے کوی

[۱۳٤۱] **الحدیث الاول**: عن المغيرة بن شعبة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يُصَلِّي الْإِمَامُ فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي صَلّٰى فِيْهِ الْمَكْتُوبَةَ حَتّٰى يَتَحَوَّلَ. صحيح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۷۷)

ترجمه: مغیره بن شعبه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی مونځ به نه کوی امام هغه ځائے کښ چه فرض مونځ ئے پکښ کړے دے تردے چه ځائے بدل کړی.

فائده: ددے حدیث نه معلومه شوه چه امام په مصلی سنت اوکړی او بیا قوم ته مخ کړی او په جمع دعا کوی لکه څنګه چه په بعضے علاقو کښ رواج دے دا خلاف سنت دے دے هیئت ته ثواب وئیل او ثواب ئے ګنړل بدعت دے.

دعا هر حال کښ فائده رسوی

[۱۳٤۲] **الحدیث الثانی**: عن عائشة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يُغْنِيْ حَذِرٌ عَنْ قَدَرٍ، وَالدُّعَاءُ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ وَمِمَّا لَمْ يَنْزِلْ وَ إِنَّ الْبَلَاءَ لَيَنْزِلُ فَيَتَلَقَّاهُ الدُّعَاءُ فَيَعْتَلِجَانِ إِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۷۹)

ترجمه: د حضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی نه دفع کوی یره تقدیر او دعا فائده ورکوی دهغے مصیبت نه چه نازل وی او دهغے مصیبت نه چه نه وی نازل شوے او یقینا مصائب چه نازلیږی نو ملاؤ شی ورسره دعا نو په جهګړه شی تر قیامت.

د مومن شان

[۱۳٤۳] **الحدیث الثالث**: عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَقْتُلُ مُؤْمِنٌ. صحيح (

الجامع ص ۲ ص ۱۲۷۹)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی خیانت نه کوی یو مومن.(یعنی شان دمومن نه دے چه خیانت اوکړی)

بی بی سره د کوزارے کولو تعلیم

[۱۳٤٤] **الحدیث الرابع** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَفْرُكْ مُؤمِنٌ مُؤمِنَةً إِنْ كَرِهَ مِنْهَا خُلُقًا رَضِيَ مِنْهَا غَيْرَهُ. صحيح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۷۹)

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی بغض دے نه کوی یو مومن سړے دمومنے ښځے سره کچړے دے بد کنړی دهغے یو خوئی نو بل خوئی به ئے ورته پسند راشی.

پلار نه دقصاص حکم

[۱۳٤٥] **الحدیث الخامس** : عن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يُقَادُ الْوَالِدُ بِالْوَلَدِ. صحيح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۷۹)

ترجمه : عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی نه به شی قصاص کولے پلار په مقابله د بچی کښی.

فائده : قتل لویه گناه ده که چرے څوك قتل قصدا اوکړی نو هغه به قتل کولے شی البته کچړے پلار څوئے قتل کړی نو پلار گناه گار دے په دے قتل باندے خو قصاص به ترے نه شی اغشتلے .

الدرس السبعون بعد المأتين ۲۷۰

صدقات مستحقینو ته فوری ورکړه

[۱۳٤٦] **الحدیث الاول** : عن عقبة بن الحارث قَالَ صَلَّيْتُ وَرَاءَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ بِالْمَدِيْنَةِ الْعَصْرَ فَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ مُسْرِعاً فَتَخَطّٰى رِقَابَ النَّاسِ إِلٰى بَعْضِ حُجَرِ نِسَائِهِ فَفَزِعَ النَّاسُ مِنْ سُرْعَتِهِ فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ فَرَأٰى أَنَّهُم قَدْ اُعْجِبُوا مِنْ سُرْعَتِهِ قَالَ ذَكَرْتُ شَيْئًا مِنْ تِبْرٍ عِنْدَنَا فَكَرِهْتُ اَنْ يَحْبِسَنِي فَاَمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ .رواه البخاری وفی روایة له.قَالَ كنت خَلَفْتُ فِي الْبَيْتِ تِبْراً مِنَ الصَّدَقَةِ فَكَرِهْتُ اَنْ اُبَيِّتَهُ .صحيح. مشكوة جـ ۱ صـ ۱٦٦.)

ترجمه : عقبه بن الحارث وائی ما مونځ اوکړو روستو د رسول الله ﷺ نه په مدینه منوره کښی د مازیګر نو هغه سلام اوګرځولو بیا پاسیدو په تلوار چه قدمونه ئے اغشتل په ستونو د خلقو بعضے کمرو د بیبیانو ته نو خلق پریشان شو د جلد تلو د هغوئی نه کورته پس راوتلو پیغمبر علیه السلام د کورنه نووے کتل صحابه چه تعجب ئے کولو د زر تللو د پیغمبر علیه السلام

نه کورته نو وے فرمائیل هغوئی ته ماسره سره زر ډونو ما بد اوګنړل چه دا ما پریشان کړی نو حکم مے اوکړو په تقسیم کولو د هغے باندے او په یو روایت کښ د بخاری رازی چه پیغمبر علیه السلام اووئیل چه ما په کور کښ د صدقے سره زر پریښودے ډو نو ما بد اوګنړل چه دا ماسره شپه تیره کړی .

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه چاسره د صدقاتو مالونه دی هغوئی باندے لازم دی چه په اول فرصت کښ دغه مالونه مستحقینو ته ورکړی .

دامامت یو ادب

(۱۳٤۷) **الحدیث الثانی** : عن عثمان بن ابی العاص قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اَمَمْتَ قَوْماً فَاَخِفَّ بِهِمُ الصَّلٰوةَ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۱۳۱)

ترجمه : دحضرت عثمان بن ابی العاص نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه ته امامت کوے یو قوم ته سپك(مختصر) کوه دوی ته مونځ.

ځان له مونځ اوګد بهتر دے

(۱۳٤۸) **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اَمَّ اَحَدُكُمُ النَّاسَ فَلْيُخَفِّفْ فَاِنَّ فِيْهِمُ الصَّغِيْرَ وَالْكَبِيْرَ وَالضَّعِيْفَ وَالْمَرِيْضَ وَذَاالْحَاجَةِ وَاِذَا صَلّٰى لِنَفْسِهٖ فَلْيُطَوِّلْ مَاشَاءَ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۱۳۱)

ترجمه : دحضرت أبو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه امامت ورکوی یو ستاسو نه نو مونځ دمختصر کړی ځکه په دوی (مقتدیانو) کښ به ورکوتے ،بودا، کمزورے، ناجوړا، دحاجت خاوند وی (چه هغوی ته تکلیف اونه رسی) او کله چه ځان له مونځ کوی نو اوګد د کړی څومره چه دده خوښه وی.

فائده : د مونځ مختصر کول دا مطلب دے چه قرأت مسنون باندے په کم از کم اکتفاء اوکړے شی باقی اعمال احوال هم ډیر اوګده نه کړے شی البته دا ضرور ده چه پوره ادا کړے شی .

د ګاونډی خیال

(۱۳٤۹) **الحدیث الرابع** : عن ابی ذر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَا اَبَاذَرٍ اِذَا طَبَخْتَ فَاَكْثِرِ الْمَرَقَ وَتَعَاهَدْ جِيْرَانَكَ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۹۰).

ترجمه : ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه اے ابوذره کله چه پخلے کوی نو خوروا پکښ ډیره کړه او د ګاونډیانو خیال اوساته .

د اوده کیدو وخت کښ د بیدارولو پرروکرام چه مونځ قضا نه شی

(۱۳۵۰) **الحدیث الخامس** : عَنْ اَبِیْ قَتَادَةؓ قَالَ سِرْنَا مَعَ النَّبِیِّ ﷺ فَقَالَ بَعْضُ الْقَوْمِ لَوعَرَّسْتَ بِنَا يَا

رَسُوْلَ اللّٰه ﷺ اَخَافُ اَنْ تَنَامُوا عَنِ الصَّلٰوةِ قَالَ بِلَالٌ اَنَا اُوْقِظُكُمْ فَاضْطَجَعُوا وَاَسْنَدَ بَلَالٌ ظَهْرَهٗ اِلٰى رَاحِلَتِهٖ فَغَلَبَتْهُ عَيْنَاهُ فَنَامَ فَاسْتَيْقَظَ النَّبِيُّ ﷺ وَقَدْ طَلَعَ حَاجِبُ الشَّمْسِ فَقَالَ يَا بِلَالُ اَيْنَ مَا قُلْتَ قَالَ مَا اُلْقِيَتْ عَلَيَّ نَوْمَةٌ مِثْلُهَا قَطُّ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ قَبَضَ اَرْوَاحَكُمْ حِيْنَ شَاءَ وَرَدَّهَا عَلَيْكُمْ حِيْنَ شَاءَ يَا بِلَالُ قُمْ فَاَذِّنْ بِالنَّاسِ بِالصَّلٰوةِ فَتَوَضَّاَ فَلَمَّا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ وَابْيَاضَّتْ قَامَ فَصَلّٰى .(نصر الباری ج ۳ صـ ۲۰۲)

ترجمه : حضرت قتادهؓ وائی چه مونږه تلو یوه شپه د نبی ﷺ سره نو اووے بعضے کسانو کاش تاسو مونږه ته د شپے په اخر کښ د آرام موقع راکړئی رسول الله ﷺ ورته اووئیل چه څه یریږدم هسے نه تاسو نه دصبا مونځ قضا شی بلالؓ اووئیل چه څه به تاسو را پاسوم چنانچه ټول اوده شو او بلالؓ شاه کجاوے ته اولګوله کیناستلو (د صبا ختلو په انتظار) مګر په هغوئی هم خوب غالب شو او اوده شو بیا پیغمبر ﷺ داسے وخت کښ بیدار شو شه نمر ختلے ؤو رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے بلال ! ستا هغه خبره (چه څه به تاسو پاسوم) هغه څه شوه ؟ حضرت بلال اووئیل یا رسول الله ﷺ ماته داسے خوب چرته نه دے راغلے پیغمبر ﷺ اوفرمائیل بیشك ستاسو روحونه کله چه الله اوغوستل نو قبضه ئے کړل او کله چه ئے اوغوستل نو واپس ئے کړل اے بلال ! پاسه او خلقو خبرولو د پاره اذان اوکړه او بیا پیغمبر ﷺ اودس اوکړو او کله چه نمر اوچت شو او سپین شو(سرخی ئے ختمه شوه) نو پیغمبر ﷺ مونځ اوکړو .

فائده ۱: یاد لرئی دے حدیث شریف ته په اصطلاح د محدیثینو کښ حدیث دلیلة التعریس ونیلے شی پیغمبر ﷺ سفر کښ د شپے په آخر کښ د صحابه کرامو سره آرام کولو چه د صبا مونځ ترے قضاء شو . تعریس وائی آرام د اخری شپے ته او لیلة التعریس معنی هغه شپه چه د هغے اخر کښ آرام شوے ؤو جمهور وائی چه دا یو څل واقعه شوے ده د محققینو علماء کرامو رائی دا ده چه دوه څله دا واقعه شوے ده او بعض علماء وائی چه درے څله دا واقعه شوے ده (تقریر بخاری)

فائده ۲ : حضرت تهانویؒ لیکلی دی چه سړے د مونځ نه اوده پاتے شی ګناه ګار نه دے خو په دے شرط سره چه د پاسیدو اهتمام ئے کړے وی لکه دلته چه رسول الله ﷺ بلالؓ د پاسولو د پاره مقرر کړئے ؤو .

فائده ۳ : د دے حدیث په تشریح کښ مولانا زکریا صاحب لیکلی دی چه صوفیاء وائی چه کیدے شی دا واقعه د بلالؓ د " أنا اوقظکم " څه تاسو راپاسوم په وجه پیش راغلے وی . شیخ الحدیث صاحب بیا وائی چه خوږو د انانیت نه څان ډیر اوساتی او د زړونو نه انانیت بالکل لرے کړئ الله تعالی اصل مقصود دے که په ذلت کښ د هغه رضا وی نو هغه عزت دے .

فائده ٤ : دے حدیث نه معلومه شوه چه قضاء مونځونو د پاره اذان ثابت دے خو چه انقضاء وخت نه روستو ادا کیږی مونځونو باندے چه زیات وخت تیر شی د هغے قضا

کولو د پاره بیا اذان نشته (تقریر بخاری).

الدرس الحادی و السبعون بعد المأتین ۲۷۱

د مالدارے د زیان نه د بچ کیدو طریقه

[۱۳۵۱] **الحدیث الاول** : عن ابی ذر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَا اَبَاذَرٍ اَلَا تُکْثِرُوْنَ هُمِ الْاَقَلُّوْنَ اِلَّا مَنْ قَالَ هٰکَذَا هٰکَذَا. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۹۱)

ترجمه : ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل اے ابوذر مالداران دوی کمے درجے والا دی مگر هغه څوک چه مال تقسیم کړی داسے او داسے.

فائده : یعنی مالدار به هله اوچته درجه حاصله کړی چه دے مال ډیر خرچ کړی او په فقیرانو ئے اوشندی. او په دے سره به دے د مال د زیان نه هم بچ شی.

دسمندر د زګ هومره ګناهونه معاف کیدل

[۱۳۵۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی ذر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَا اَبَاذَرٍ اَلَا اُعَلِّمُكَ کَلِمَاتٍ تَقُوْلُهُنَّ تَلْحَقُ مَنْ سَبَقَكَ وَلَا یُدْرِکُكَ اِلَّا مَنْ اَخَذَ بِعَمَلِكَ؟ تُکَبِّرُ دُبُرَ کُلِّ صَلٰوةٍ ثَلَاثًا وَّثَلٰثِیْنَ وَ تُسَبِّحُ ثَلَاثًا وَّثَلٰثِیْنَ وَتُحَمِّدُ ثَلَاثًا وَّثَلٰثِیْنَ وَ تَخْتِمُ بِلَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْر. مَنْ قَالَ غُفِرَتْ لَه ذُنُوْبُهٗ وَلَو کَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۱۲۹۱)

ترجمه : ابوذر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیل اے ابوذره! آیا اونه بنائم تاته څه کلمات چه ته وائے هغے لره نو ته به لاندے کړے هغه چاله چه ستا نه مخکښ دے (په ذکر کولو) او ګیر به نه کړی تالره مګر هغه څوک چه ستا ددے عمل پشان عمل اوکړی. تکبیر وایه (الله اکبر) دهر (فرض) مونځ نه روستو درے دیرش (۳۳) ځله او تسبیح وایه (سبحان الله) درے دیرش (۳۳) ځله او حمد وایه (الحمدلله) درے دیرش ځله او ختم ئے کړه په "لَااِلٰهَ اِلَّااللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْر" پورے. څوک چه دا وائی نو معاف به کړے شی ده ته ګناهونه اګر چه هغه د سمندر د زګ برابر وی.

امام به د قوم نه په اوچت ځائے نه اودریږی

[۱۳۵۳] **الحدیث الثالث** : عن حزیفةؓ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ اِذَا اَمَّ الرَّجُلُ الْقَوْمَ فَلَا یَقُمْ فِی مَقَامٍ اَرْفَعَ مِنْ مَقَامِهِمْ. صحیح. رواه ابوداؤد (مشکوة جـ ۱ صـ ۱۰۲)

ترجمه : د حضرت حذیفهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وائی کله چه سړے جمع ورکوی قوم ته نو نه دے اودریږی په اوچت ځائے کښ د هغوی د ځائے نه.

فائده : علماء کرام وائی چه امام به د مقتدیانو نه نه ښکته اودریږی نه بره دا دواړه خبرے مکروه دی البته که څه مقتدیان ده سره اودریږی نو بیا د نورو مقتدیانو ښکته بره اودریدل جائز دی .

د امام څومره مقدار کښ اوچت والے مکروه دے دے باره کښ شیخ عبد الحق ؒ په لمعات کښ لیکلی دی چه د معتدل انسان د قداوقامت برابر اوچت والے مکروه دے دویم قول دا دے چه امام جدا او اوچت په مقتدیانو ښکاری نو داحد دے د کراهت دریم قول دا دے چه شرعی (ایک گز اٹھارہ انچ) اوچت والے مکروه دے دا قول آسان او واضح دے (توضیحات)

نکاح کښ د جینی نه تپوس ضروری دے

(۱۳۵٤) **الحدیث الرابع** : عن ابی موسیٰ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ : إِذَا اَرَادَ اَحَدُكُمْ اَنْ يُزَوِّجَ اِبْنَتَه فَلْيَسْتَامِرْهَا. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۱۱٦).

ترجمه : د حضرت ابو موسیٰ ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه اراده اوکړی یو ستاسو نه چه لور په نکاح ورکړی نو تپوس دے ترے نه اوکړی.

فائده : د جینی نه د نکاح باره کښ تپوس ضروری دے که د جینئ رضا نه وی نو په نکاح ورکول ئے صحیح نه دی مور پلار له دے باره کښ ډیر احتیاط ضروری دے.

جنت ته د داخلیدو کارونه

(۱۳۵۵) **الحدیث الخامس** : عن عبدالله بن سلام قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَاأَيُّهَا النَّاسُ اَفْشُوا السَّلَامَ وَاَطْعِمُوا الطَّعَامَ وَصِلُوا الْاَرْحَامَ وَ صَلُّوا بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامٌ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِسَلَامٍ . صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۲۹۸)

ترجمه : د عبدالله بن سلام نه روایت دے چه رسول الله فرمائیلے دی اے خلقو خور کړی سلام او اوخوروی خوراك (په خلقو) او وپالی خپلولی او مونځ اوکړی د شپے چه خلق اوده وی.نو داخل به شی جنت ته په سلامتیا سره.

الدرس الثانی السبعون بعدالمأتین ۲۷۲

د وترو د سلام نه روستو یو مسنون ذکر

(۱۳۵٦) **الحدیث الاول** :عن ابی بن کعب قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا سَلَّمَ فِی الْوِتْرِ قَالَ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ . صحیح(رواه ابو داؤد والنسائی **وزاد ثلاث مَرَّاتٍ و فی روایة للنّسائی عن عبد الرحمن بن ابزی عن ابیه كَانَ يَقُولُ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوْسِ ثَلَاثًا وَّيَرْفَعُ صَوْتَهُ بِالثَّالِثَةِ**).

ترجمه : د حضرت أبی بن کعب ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به کله سلام په وترو کښ اوکړ خولو نو وئیل به ئے سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوس دا حدیث ابوداؤد نقل کړے دے او د نسائی یو

روایت کښې رازی چه دا کلمات به ئے درے ځله ونیل او د نسائی په یو بل روایت کښې رازی چه په دریم ځل به ئے آواز پورته کولو .

د وترو په آخر کښې یوه مسنون دعا

[۱۳۵۷] **الحدیث الثانی** :عن علی ؓ انّ النّبیّ ﷺ کَانَ یَقُوْلُ فِی اٰخِرِ وِتْرِہٖ اَللّٰھُمَّ اِنِّی اَعُوْذُبِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَاَعُوذُبِكَ مِنْكَ لَا اُحْصِی ثَنَاءً عَلَیْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَیْتَ عَلٰی نَفْسِكَ صحیح

رواہ ابوداؤد والنسائی وابن ماجه .

ترجمه : دحضرت علی نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به د وترو په اخر کښې دا دعا ونیله اَللّٰھُمَّ اِنِّی اَعُوْذُبِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَاَعُوذُبِكَ مِنْكَ لَا اُحْصِی ثَنَاءً عَلَیْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَیْتَ عَلٰی نَفْسِكَ .

ناکاره دخلقو

[۱۳۵۸] **الحدیث الثالث**: عن عائشة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَاللّٰهِ مَنْزِلَةً یَوْمَ الْقِیٰمَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اِتِّقَاءَ شَرِّهٖ. صحیح (الجامع صـ ۱۳۱۳)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی بیشکه بدتر دخلقو نه په درجه کښې په ورځ دقیامت هغه څوك دے چه چا له خلقو پریخودے وی دپاره ددے چه ددہ دشر نه بچ شی .

علاج سنت طریقه ده

[۱۳۵۹] **الحدیث الرابع**: عن اسامة بن شریك قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَا عِبَادَاللّٰهِ تَدَاوَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ لَمْ یَضَعْ دَاءً اِلَّا وَضَعَ لَهٗ دَوَاءً غَیْرَ دَاءٍ وَّاحِد: اَلْهَرَمُ: صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۳۱۳)

ترجمه : اسامه بن شریك رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی اے دالله بندگانو دوائی کوی بیشکه الله نه دے پیدا کړے یو بیماری مگر دهغے دپاره ئے دوائی هم پیدا کړے ده علاوه دیوے بیماری نه چه هغه بوډاوالے دے.

روزګار دشبهاتو نه دپاکولو طریقه

[۱۳۶۰] **الحدیث الخامس** : عن قیس بن ابی غرزة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ هٰذَا الْبَیْعَ یَحْضُرُهُ اللَّغْوُ وَالْحَلْفُ فَشُوْبُوْهُ بِالصَّدَقَةِ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۳۲۰)

ترجمه : دقیس بن ابو غرزه رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه بیشکه دا بیع حاضریگی دے ته فضول خبرے او قسم نو ګډ وډ کړی. ددے سره صدقه. یعنی د آمدن نه صدقه ورکړی.

فائده : د حدیث شریف حاصل دا دے چه په خرید فروخت کښ د کمی زیاتی نه به د خپل وسع مطابق ځان ساتی او چه ګټه اوشی نو بیا ترے صدقه ورکړی که په غلطی سره څه چوك پوك کمی بیشی خلاف حقیقت وینا شوے وی نو دا به د هغے تلافی شی .

الدرس الثالث السبعون بعد المأتين ﴿ ۲۷۳ ﴾

دزنانو دپاره دوه ضروری اعمال

[۱۳۶۱] **الحديث الاول** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَصَدَّقْنَ وَاكْثِرْنَ الْاِسْتِغْفَارَ . صحيح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۳۲۲)

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه فرمائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی (اے زنانو) تاسو صدقے کوی او زیات کړی استغفار (بخنه غوستل دالله نه)

دوترو نه روستو دوه رکعاته کولو سره د تهجدو ثواب ملاویږی

[۱۳۶۲] **الحديث الثانی** : عن ثوبان عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ اِنَّ هٰذَا السَّهَرَ جُهْدٌ وَثِقْلٌ فَاِذَا اَوْتَرَ اَحَدُكُمْ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ فَاِنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ وَاِلَّا كَانَتَا لَه . صحيح . رواه الترمذی (مشكوة جـ ۱ صـ ۱۱۷ مكتبه رحمانيه)

ترجمه : د حضرت ثوبانؓ نه روائے دے چه نبی ﷺ وئیلی دی بیشك دا بے خوابی مشقت او بوج دے کله چه وتر اوکړی یو ستاسو نه نو دوه رکعاته دا وکړی که د شپے تهجدو له پاسیدو نو ډیره ښه ده او که پانه سیدو نو دغه دوه رکعاته به د ده تهجد شی .

د ډلے نه دیو کس سلام اچول کافی دی

[۱۳۶۳] **الحديث الثالث** : عن علی قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُجْزِئُ عَنِ الْجَمَاعَةِ اِذَا مَرُّوْا اَنْ يُّسَلِّمَ اَحَدُهُمْ وَيُجْزِئُ عَنِ الْجُلُوْسِ اَنْ يَّرُدَّ اَحَدُهُمْ ، صحيح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۳۳۵)

ترجمه : علی رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله اوفرمائیل چه کافی کیدی د ډلے نه چه کله دا تیریدی سلام کول دیو تن او کافی کیدی د ناستو نه جواب ورکول دیو کس .

مدد د الله تعالی اتفاق سره دے

[۱۳۶۴] **الحديث الرابع** : عن ابن عباس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَدُ اللّٰهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ . صحيح (الجامع جـ ۲ صـ ۱۳۴۰)

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله اوفرمائیل چه لاس د الله (یعنی امداد د الله) د ډلے سره دے .

فائده : یاد لرئی د الله تعالی د مدد د حاصلولو ډیر اسباب دی یو سبب په دے حدیث شریف

کښې بیان شو چه هغه اتفاق دے مدد الهی په اتفاق سره په آسانه حاصلیږی نو د اتفاق کوشش ازحد ضروری دے .

الله تعالی ته د خوښو اعمالو ترتیب

[١٣٦٥] **الحديث الخامس** : عن ابن مسعود قَالَ سَالْتُ النَّبِيَّ ﷺ اَيُّ الْعَمَلِ اَحَبُّ اِلَى اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ ؟ قَالَ الصَّلٰوةُ فِي وَقْتِهَا قُلْتُ ثُمَّ اَيٌّ ؟ قَالَ ثُمَّ بِرُّ الْوَالِدَيْنِ قُلْتُ ثُمَّ اَيٌّ قَالَ ثُمَّ الْجِهَادُ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ. رواه مسلم والبخاری فی الادب. صـ ١١ .

ترجمه : ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه ما درسول الله نه تپوس اوکړو چه کوم عمل الله تعالیٰ ته ډیر خوښ دے نو نبی ﷺ اوفرمائیل چه مونځ په خپل وخت باندے نو ما تپوس اوکړو بیا کوم عمل الله ته ډیر خوښ دے ؟ نو نبی علیه السلام اوفرمائیل بیا د مور او پلار سره نیکی کول. ما ووے بیا کوم عمل ؟ نو نبی ﷺ او فرمائیل جهاد کول په لاره د الله کښې.

الدرس الرابع والسبعون بعدالمأتين ﴿٢٧٤﴾

دوالدینو حقوق

[١٣٦٦] **الحديث الاول** : عن ابی هريرة قَالَ قِيْلَ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَبَرُّ؟ قَالَ اُمَّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ اُمَّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ اُمَّكَ قَالَ ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ اَبَاكَ. متفق عليه .

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله نه تپوس اوشو چه چاسره نیکی اوکړم نو رسول الله اوفرمائیل د مورخپلے سره بیا (تپوس کونکی) اووے بیا د چاسره؟ نبی علیه السلام اووے د مور خپلے سره. وے بیا د چاسره ؟ وے د خپلے مور سره . وے بیا د چاسره؟ وے د خپل پلار سره.

فائده : دابو هریرهؓ په یو روایت کښې د "اَبَاكَ" نه روستو دا الفاظ دی "ثُمَّ اَدْنَاكَ اَدْنَاكَ" یعنی پلار نه روستو بیا چه پلار ته څومره نزدے وی بیا دهغه حق دے.

چرته چه ډب وی هلته ادب وی

[١٣٦٧] **الحديث الثانی** : عن ابی الدرداء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْفِقْ مِنْ طَوْلِكَ عَلٰى اَهْلِكَ وَلَا تَرْفَعْ عَصَاكَ عَلٰى اَهْلِكَ وَاَخِفْهُمْ فِي اللّٰهِ عَزَّوَجَلَّ. صحيح. رواه ابن ماجه كتاب الفتن باب الصبر على البلاء صـ ٢٠٣٤ والبخاری فی الادب المفرد صـ ١٥ .

ترجمه : ابودرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل خرچ اوکړه په خپل اهل باندے مطابق د مالدارے خپلے او مه اوچتوه امسا ستا د اهل ستانه اویروه دوی په باره

دالله عزوجل کښې.

دشر د چابیانو بیان

[۱۳٦۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی الدرداء قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَشْرَبَنَّ الْخَمْرَ فَاِنَّهَا مِفْتَاحُ كُلِّ شَرٍّ.

رواه ابن ماجه والبخاری فی الادب صـ ۱۵)

ترجمه : ابودرداء رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل مه څکی شراب څکه دا چابی د هر یو شر ده.

لوښی کښې چاراندام کول جائز دی

[۱۳٦۹] **الحدیث الرابع** : عنْ زَيْنَب بِنْتِ جحش اَنّ رسول الله ﷺ كَانَ يَتَوَضَّأُ فِي مِخْضَبٍ مِنْ صُفْرٍ.

رواه احمد فی مسنده صحیح لغیره رقم : ۲٦۷۵۳).

ترجمه : د حضرت زینت بنت جحش نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به په لګن د پیتلو کښې چاراندام کولو.

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه د ضرورت وخت کښې دیو لوښی کښې چاراندام کول جائز دی.

دپلار دوست درنړا مینار

[۱۳۷۰] **الحدیث الخامس** : عن عبدالله بن دینار عن ابن عمر مَرَّ اَعْرَابِيٌّ فِي سَفَرٍ فَكَانَ اَبُوالْاَعْرَابِي صَدِيْقًا لِّعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ الْاَعْرَابِي : اَلَسْتَ ابْنَ فُلَانٍ؟ قَالَ بَلٰى فَاَمَرَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ بِحِمَارٍ كَانَ يَسْتَعْقِبُ وَنَزَعَ عَمَامَتَهُ عَنْ رَاْسِهِ فَاَعْطَاهُ فَقَالَ بَعْضُ مَنْ مَعَهُ اَمَا يَكْفِيْهِ دِرْهَمَانِ ؟ فَقَالَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ " اِحْفَظْ وُدَّ اَبِيْكَ لَا تَقْطَعْهُ فَيُطْفِئُ اللّٰهُ نُوْرَكَ . رواه مسلم فی کتاب البر والصلة والبخاری فی الادب صـ ۲۱.

ترجمه : عبدالله بن دینار د ابن عمر رضی الله نه نقل کوی چه یو باندیچے تیر شو په سفر کښې او وو پلار ددے باندیچی ملګرے د عمر رضی الله عنه نو دے اعرابی اووے ابن عمر ته آیا ته د فلانی څوے نه ئے؟ وے ونیل ولے نه. نو حکم اوکړو ابن عمر دده دپاره په خر. او کوز ئے کړو پتیکے خپل دسر نه او هغه ته ئے ورکړو. اوونیل ابن عمر ته بعضو هغه چا چه دده سره وو آیا کافی نه وو دده دپاره دوه درهمه؟ ابن عمر اووے نبی علیه السلام فرمائیلی چه حفاظت اوکړه د دوستی دپلار خپل او مه کټ کوه دے له ورنه بوبه څی الله نورستا.

فائده : د دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه دمور پلار د دوستانو سره خه سلوك پکار دے د دے خبرے تفصیل چه هغوئی سره څه کول پکار دی د حضرت ابو سید یو روایت کښې تفصیل راځی هغه فرمائی چه مونږه وو د رسول الله ﷺ سره نو یو سړی اووے اے دالله رسوله. آیا باقی پاتے شوے دے پس دوفات د مور پلار زما نه داسے نیکی چه څه د هغوی سره نیکی اوکړم،؟ نبی علیه السلام اوفرمائیل آو څلور خصلتونه دی. دعا غوښتل ددوی د

پاره او بخنه غوښتل دوی لره . او پوره کول د وعدو ددے دواړو (چه چاسره نے کړے وی) او عزت کول د دوستانو ددے دواړو او پالل دخپلولی هغه چه خپلولی نه وی ستا(دهغوی) سره سوا دمور پلار د طرفنه.

الدرس الخامس و السبعون بعدالمأتين ۲۷۵

د خپل ولے پاللو طریقه

[۱۳۷۱] **الحديث الاول** :عن عبدالله ن عمرو عن النبی ﷺ قَالَ لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِی وَلٰكِنْ الْوَاصِلَ اِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا.رواه البخاری فی صحیحه والادب المفرد ص۲۸ .

ترجمه : عبدالله بن عمرو رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوی چه وے فرمائیل نه دے خپلولی پالونکے مکافات والا(یعنی چه خپلوان ورسره خپلوی پالی نو دے هم پالی او که خپلوان نه پالی نو دے هم نه پالی) بلکه خپلولی پالونکے هغه دے چه کله ده سره خپلوی کټ کړے شی نو دے بیا هم خپلولی پالی.

دلونړو د تربیت ثواب

[۱۳۷۲] **الحديث الثانی** : عن ابی سعيدن الخدری اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ لَا يَكُوْنُ لِاَحَدٍ ثَلٰثُ بَنَاتٍ اَوْ ثَلَاثُ اَخَوَاتٍ فَيُحْسِنُ اِلَيْهِنَّ اِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ.حسن. رواه ابوداؤد والترمذی والبخاری فی ادب المفرد صـ ۳۰

ترجمه : ابوسعید خدری رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیل نیشته دپاره دیو تن درے لونړه یا درے خویندے چه دے احسان کوی دهغوی سره مګر داخل به شی جنت ته.

دماشومانو جینکو په ګوډیانو لوبے جائز دی

[۱۳۷۳] **الحديث الثالث** : عن عائشة ان النبی ﷺ كَانَ يُسَرِّبُ اِلَیَّ صَوَاحِبِی يَلْعَبْنَ بِاللُّعَبِ : البنات الصغار . متفق عليه . رواه البخاری فی الادب المفرد صـ ۳۳۲)

ترجمه : دحضرت عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه بیشکه رسول الله ﷺ به راجمع کولے ځما ملګرے (ماشومانے) ماته لوبے به ئے کولے ماسره په ګوډیانو باندے.

فائده : ابراهیم وائی .وو استاذان زمونږه اجازت به ئے راکوو مونږه ه ماشومانو ته په تولو لوبو کښ سوا دسپونه. ابو عقبه وائی ځه تیر شوم دابن عمر سره یوځل په لاره باندے نو تیر شو په یو ډله دهلکانو چه لوبے کولے نو راوویستلے ده دوه درهمه او ورئے کړے دوی ته. (ادب المفرد صـ ۳۳۲)

عبث کارونه کول شر دے

[۱۳۷٤] **الحديث الرابع** : عن البراء بن عازب قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَفْشُوا السَّلَامَ تُسْلِمُوا وَالْاَشَرَةُ شَرٌّ

قَالَ اَبُو مُعَاوِيَة اَلْاَشْرَةُ اَلْعَبَثُ .حسن. الادب المفرد صـ ٣٢٦

ترجمه : دحضرت براء بن عازب نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه خور کړنی سلام بیج به شی. د مصیبتونو نه او عبث کارونه کول شر دے.

پنځه کارونه د فطرت نه دی

[١٣٧٥] **الحديث الخامس** :عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ خَمْسٌ مِّنَ الْفِطْرَةِ قَصُّ الشَّارِبِ وَتَقْلِيْمُ الْاَظَافِرِ وَحَلْقُ الْعَانَةِ وَنَتْفُ الْاِبْطِ وَالسِّوَاكُ.صحيح. رواه البخاری فی کتاب اللباس من صحيحه الادب المفرد صـ ٢٢٤

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی رسول الله ﷺ فرمائیل پنځه خصلتونه د فطرت نه دی واړه کول د بریتونو او کت کول د نوکونو او دنامه نه لاندے ویښته خرول او د ترخونو نه ویښته ویستل او مسواك کول.

فائده : حدیث شریف کښ دا پنځه کارونه د روغ عقل تقاضه هم ده او دا کارونه سنت طریقه د پیغمبرانو هم ده .

الدرس السادس والسبعون بعدالمأتين ﴿٢٧٦﴾

د شپے د کور نه وتل بے ضرورته مه کوئ

[١٣٧٦] **الحديث الاول** : عن جابر اَنَّهُ سَمِعَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ اَقِلُّوا الْخُرُوْجَ بَعْدَ هَدْوءٍ فَاِنَّ لِلّٰهِ خَلْقًا يَبْثُهُم فَاِذَا سَمِعْتُمْ نِبَاحَ الْكِلَابِ اَوْ نُهَاقَ الْحَمِيْرِ فَاسْتَعِيْذُوا بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ.صحيح. الادب المفرد صـ ٣١٨

ترجمه : جابر رضی الله عنه فرمائی چه مادرسول الله ﷺ نه اوریدلے دی چه وئیل ئے کم کړی وتل دشپے پس دآرام کیدو دخلقو نه . بیشکه دالله یو مخلوق دے راخوروی دوی له (دشپے) پس کله چه تاسو واوری غپار دسپو او یا آواز د خرونو پناه غواړی په الله باندے د شیطان نه.

حج او عمره فی سبیل الله کښ داخل دی

[١٣٧٧] **الحديث الثانی** : عن ام معقلؓ قال : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ . مسند احمد جـ ٤٥ صـ ٢٦٠) والحديث صحيح لغيره .

ترجمه : د حضرت اُمّ معقل نه روایت دے چه نبی ﷺ فرمائیلے دی چه حج او عمره د فی سبیل الله نه دی .

فائده : ام معقل وائی چه ځما خاوند یو اوښ فی سبیل الله وقف کړے ژو نو ماورته اووئیل چه دا ماته راکړه چه حج پرے اوکړم هغه وئیل دا فی سبیل الله وقف دے ماورته اووئیل چه حج هم فی سبیل الله دے هغه انکار اوکړو ما رسول الله ﷺ ته اووئیل هغوئی ورته اووئیل ورکړه ورته دا رشتیا وائی حج او عمره فی سبیل الله کښ داخل دی .

د سبحان الله الحمد لله ثوب

[۱۳۷۸] **الحدیث الثالث** : عن انس بن مالك قَالَ قَالَ النَّبِيُّ ﷺ إِنَّ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ يَنْفُضْنَ الْخَطَايَا كَمَا تَنْفُضُ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا. حسن. رواه الترمذی فی سننه والبخاری فی الادب المفرد صـ ۱۶۵

ترجمه : انس بن مالك رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ اوفرمائیل بیشکه (داکلمات) سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ " کنا هونه داسے رژوی لکه څنګه چه یوه ونه پانړے رژوی (اوغورځوی)

دعا جامع غواړه

[۱۳۷۹] **الحدیث الرابع**: عن عائشة قَالَتْ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَلَيْكَ بِجَمَلِ الدُّعَاءِ وَجَوَامِعِهِ. صحیح الادب المفرد

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی رسول الله ﷺ اوفرمائیل لازم کړه مختصرے او جامع دعاء ګانے.

فائده : یو څو جامع دعاء ګانے:

(۱) اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی وَارْحَمْنِی وَاهْدِنِی وَارْزُقْنِی. . الادب المفرد صـ ۱۶۹

(۲) اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ وَارْحَمْنَا وَاٰتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ. حسن . الادب المفرد صـ ۱۶۵

(۳) اَعُوْذُبِرَبِّ الْفَلَقِ مِنْ شَرِّ مَاخَلَقَ (القرآن)

الله تعالیٰ په دعا نه غوښتلو غصه کیږے

[۱۳۸۰] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة عن النبی ﷺ مَنْ لَمْ يَسْأَلِ اللّٰهَ غَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ. حسن الادب المفرد صـ ۱۷۱

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه نقل کوی څوك چه دالله نه نه غواړی نو الله په ده غصه کیږی.

فائده : دے حدیث شریف دا خبره په نښه کړه چه قدم په قدم د الله تعالی نه غوستل د الله تعالی د خوشحالی او د رضا سبب دے ځکه خو په شریعت کښ د هرے موقعے دعاګانے نقل دی چه الله تعالی په دعا غوښتو ډیر خوشحالیږی حضرت تهانویؒ وائی چه ماته کور کښ وائی مالګه راوړه نو ځه زر زړه کښ الله تعالی نه او غواړم چه یا الله ماله د مالګے پروګرام اوکړی نو بیا دکان ته سړے اولیګم دارنګ کچرے مانه یو سړے د مسئلے تپوس اوکړی نو ځه زر الله تعالی ته اوایم یا الله ماله د صحیح جواب توفیق راکړه بیا سائل ته جواب ورکړم. خلاصه دا چه د الله تعالی نه د غوښتلو عادت جوړول پکار دے الله تعالی د بنده په سوال خوشحالیږی.

الدرس السابع و السبعون بعد المأتين ۲۷۷

د ښځے د پاره کور دے یا ګور دے

[۱۳۸۱] **الحدیث الاول** :عن اُمّ حمید امراة ابی حمید الساعدی ، انها جَاءَتِ النَّبِیَّ ﷺ فَقَالَتْ یا رسول

الله ﷺ إنّي أحبُّ الصّلاةَ مَعَكَ ، قَالَ : قَدْ عَلِمْتُ أنّكِ تُحِبّينَ الصّلاةَ مَعِي ، وَصَلاتُكِ فِي بَيْتِكِ خَيرٌ لَكِ مِنْ صَلاتِكِ فِي حُجْرَتِكِ ، وَ صلاتِكِ فِي حُجْرَتِكِ خَيرٌ مِنْ صَلاتِكِ فِي دارِكِ ، و صَلاتُكِ فِي دَارِكِ خَيرٌ لَكِ مِنْ صَلاتِكِ فِي مَسْجِدِ قَومِكِ ، و صَلاتُكِ فِي مسْجِدِ قَوْمِكِ خَيرٌ لَكِ مِنْ صَلاتِكِ فِي مَسْجِدِي ، قَالَ : فَأمَرَتْ فَبُنِيَ لَهَا مَسْجِدٌ فِي أقْصَى شَيءٍ مِنْ بَيْتِهَا وَ أظْلَمِهِ ، فَكَانَتْ تُصَلّي فِيهِ حَتّى لَقِيَتِ اللّه عزّ وجلّ . (رواه احمد فی مسنده حدیث حسن . رقم : ۲۷۰۹۰)

ترجمه : حضرت اُمّ حمیدؓ (بنځه د أبی حمیدؓ الساعدی) نه روایت دے دا وائی چه زه راغلمه نبی ﷺ ته نو ما اووئیل یا رسول الله ﷺ زه خوښوم مونځ تاسره نو اووئیل رسول الله ﷺ ماته پته ده چه ته ماسره مونځ خوښوه وے خو مونځ ستا په کوټه کښ غوره دے د مونځ ستا نه په صحن کښ او مونځ ستا په صحن کښ غواړه دے د مونځ ستا نه په لوئے کور کښ او مونځ ستا په کور کښ غوره دے د جومات د قوم ستا نه او مونځ ستا په جومات د قوم کښ دا غواړه دے د مونځ ستا نه په جومات ځما کښ نو دے امر اوکړو نو جوړ کړے شو جومات په تیاره ځائے کښ د کور د دے نه نو دے به هغے کښ مونځ کولو تر دے چه وفات شوه .

کانړی ډیر خو سیر پکښ یو نیم وی

[۱۳۸۲] **الحدیث الثانی** : عن جابر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّهِ ﷺ مَنْ سَيّدُكُمْ يَا بَنِي سَلْمَةَ ؟ قُلْنَا جَدُّ بْنُ قَيْسٍ عَلَى أنّا نُبَخّلُهُ قَالَ أيُّ دَاءٍ أدْوَأُ مِنَ الْبُخْلِ ؟ بَلْ سَيّدُكُمْ عَمْرُوبْنُ الْجَمُوحِ . وَكَانَ عَمْرُو عَلَى أصْنَامِهِمْ فِي الْجَاهِلِيّةِ وَكَانَ يُولم مِنْ رُسُوْلِ اللّهِ ﷺ إذَا تَزَوّجَ. (صحیح الادب المفرد صـ ۸۳)

ترجمه : دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ بنوسلمه قبیلے ته اووئیل ستاسو سردار څوک دے ؟ هغوی اووئیل جد بن قیس خو بخیل دے نو پیغمبر علیه السلام اوئیل کومه بیماری لویه ده د بخل نه؟ بلکه ستاسو سردار عمروبن الجموح دے . عمرو بن جموح نګران د بوتانو په جاهلیت کښ وو او ولیمه به ئے ورکوله په نکاح د رسول الله ﷺ کله چه به هغوی نکاح کوله.

دماشوم په سر لاس راښکل سنت

[۱۳۸۳] **الحدیث الثالث** : عن یوسف بن عبدالله بن سلام قَالَ سَمّانِي رَسُوْلُ اللّهِ ﷺ يُوْسُفَ وَأقْعَدَنِي عَلَى حُجْرِهِ وَمَسَحَ رَأسِي. صحیح الادب المفرد صـ ۱۰۰

ترجمه : یوسف بن عبدالله بن سلام وائی نوم کیخودے وو ماله رسول الله ﷺ یوسف او کینولے وو ماله په غیګه کښ او زما سر باندے لاس راخکلے وو.

د صف نه روستو ځان له اودریدل نه دی پکار

[۱۳۸٤] **الحديث الرابع** عن ابی بکرة انه إنتهی إلی النبی ﷺ وَ هُوَ رَاكِعٌ فَرَكَعَ قَبْلَ اَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ ثُمَّ مَشٰى إِلَى الصَّفِّ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ زَادَكَ اللّٰهُ حِرْصاً وَلَا تَعُدْ. رواه البخاری (مشکوة ج ۱ ص ۱۰۱)

ترجمه : د حضرت ابی بکرهٔ نه روایت دے چه څه اورسیدم نبی ﷺ ته او هغوئی په رکوع کښ وو نو ما هم رکوع اوکړه مخکښ درسیدلو نه صف ته بیا صف ته لاړم نو بیا مه دا خبره ذکر کړه رسول الله ﷺ ته نو ماته ئے او فرمائیل چه الله تعالی دے ستا حرص زیاتی کړی بیا داسے مه کوه.

فائده : علماء کرام وائی چه سړے راشی او امام په مونځ والاړوی نو که صف کښ د اودریدو ځائے نه وی نو دے دلګ انتظار اوکړی چه بل کس راشی نو هغه سره دے او دریلاړی او که د رکعت د فوت کیدو خطره وی نو یو پوهه کس دے د مخکښ صف نه راښکی او د ځان سره دے اودروی لیکن بعضے علماء وائی چه اوس جهل عام دے او اکثر خلق د مسئلو نه بے خبر دی نو اوس که څوك رانه شی نو صف پسے د ځان له اودریلاړی مونځ ئے جائز دے.

د رحمت الهی د نظر نه محرومه ښځه

[۱۳۸۵] **الحديث الخامس**: عن عبد الله بن عمره قال : قال رسول الله ﷺ لا ينظر الله إلى امرأة لا تشكر لزوجها وهی لا تستغنی عنه . (أخرجه النسائی فی عشرة النساء من السنن الكبرى ج ۱ ص ۸٤ . صحيح. السلسله ج ص ۲۸۸ .

ترجمه : حضرت عبد الله بن عمروؓ وائی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی نه ګوری الله تعالی (په نظر د رحمت) هغه زنانه ته چه شکر نه اوباسی د خپل خاوند او حال دا دے چه هغه د خاوند نه نشی بے پرواه کیدے .

الدرس الثامن والسبعون بعدالمأتين ۲۷۸

زمرے دچا جوتہ نه خوری

[۱۳۸٦] **الحديث الاول** : عن عياض قال كُنْتُ حَرْبًا لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَاَهْدَيْتُ إِلَيْهِ نَاقَةً قَبْلَ اَنْ اُسْلِمَ فَلَمْ يَقْبَلْهَا وَقَالَ إِنِّی اَكْرَهُ زَبَدَالْمُشْرِكِيْنَ. صحيح. رواه ابوداؤد فی كتاب الخراج والترمذی فی ابواب السير والبخاری فی الادب ص ۱۱۵

ترجمه: حضرت عیاض نه نقل دی چه زه درسول الله ﷺ خلاف اووم نو ما هغوی ته هدیه کښ یوه اوښه اولیګله مخکښ داسلام راوړو ځما نه نو قبوله ئے نه کړه او وے وئیل څه بد ګنړم خیرے دمشرکانو.

فائده : دے حدیث شریف نه معلومه شوه شه داسے هدیه قبلول صحیح نه دی چه هغے سره

دانسان عزت نفس مجروح کیږی یا پکښې دینی نقصان وی .

دنوے میوو دعا

[۱۳۸۷] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اُتِیَ بِالثَّمَرِ قَالَ " اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِی مَدِیْنَتِنَا وَمُدِّنَا ، وَ اَعْطِنَا بَرَكَةً مَعَ بَرَكَةٍ ثُمَّ نَاوَلَهُ اَصْغَرَ یْنَ یَلِیْهِ مِنَ الْوِلْدَانِ. صحیح رواه ابن ماجه فی سننه والبخاری فی الادب صـ ۱۰۰

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه وو رسول الله ﷺ چه کله به راغله دوني نه تازه میوه نو وئیل به ئے " اَللّٰهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِی مَدِیْنَتِنَا وَمُدِّنَا وَصَاعِنَا بَرَكَةً مَعَ بَرَكَةٍ "(اے الله برکت واچوے په ښار زمونلاً کښ او صاع زمونلاً کښ برکت سره دبرکت نه.) بیا به ئے وړکره دغه میوه نزدے ماشومانو ته.

فائده : دے حدیث شریف کښ ترغیب دے چه نوے میوه په نظر راشی نو دا دعا وئیل پکار دی او میوه په وړو خوړل پکار دی دے حدیث نه دا هم معلومه شوه چه هر نوے کار کښ په افتتاح کښ په وړو خوراك پکار دے مونږه د بعضے مشرانو دا عادت لیدلے دے چه کباب کړے به ئے د سحر کیښودو نو رومبے کباب به ئے په وړو تقسیم کړو دا ډیر مبارك عادت دے .

مصلحت دپاره د دروغو حکم

[۱۳۸۸] **الحدیث الثالث** : عن ام کلثوم ابنة عقبة بن ابی معیط قَالَتْ اَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ " لَیْسَ الْكَذَّابُ الَّذِی یُصْلِحُ بَیْنَ النَّاسِ یَقُوْلُ خَیْرًا اَوْ یُنْمِی خَیْرًا قَالَتْ وَلَمْ اَسْمَعْهُ یَرْخَصُ فِیْ شَیْءٍ مِمَّا یَقُوْلُ النَّاسُ مِنَ الْكِذْبِ اِلَّا فِی ثَلَاثٍ . " اَلْاِصْلَاحُ بَیْنَ النَّاسِ ،وَحَدِیْثُ الرَّجُلِ اِمْرَءَتَهٗ وَحَدِیْثُ الْمَرْءَةِ زَوْجَهَا. متفق علیه واورده البخاری فی الادب صـ ۱۰۵ .

ترجمه : ام کلثوم لور دعقبه ابن معیط نه نقل دی چه ماواوریدلی دی درسول الله ﷺ نه چه وئیل ئے نه دے دروغژن هغه کس چه جوړ جاړے کوی په مابین د خلقو کښ چه وائی ښه خبره یا زیاتوی خیرله هم دغه محترمه ام کلثومؓ وائی مانه دی اوریدلی د رسول الله ﷺ نه چه رخصت ئے ورکړے وی د دروغو وئیلو مگر په درے ځایونو کښ " یو دخلقو په مینځ کښ د جوړجاړی په وخت کښ او په خبره دسړی کښ ښځے ته او په خبره د ښځے کښ سړی نه.

فائده : علماء کرام وائی چه د دروغ د عادت نه پرهیز ضروری دے ځومره پورے چه کیدے شی نو دے درے ځایونو کښ هم توریه کول پکار دی .

مخلوق سره دخلط فوائد

[۱۳۸۹] **الحدیث الرابع** : عن ابن عمر رضی الله عنه عن النبی ﷺ قَالَ اَلْمُؤْمِنُ الَّذِی یُخَالِطُ النَّاسَ

وَيَصْبِرُ عَلٰى اَذَاهُمْ خَيْرٌ مِنَ الَّذِي لَا يُخَالِطُ النَّاسَ وَلَا يَصْبِرُ عَلٰى اَذَاهُمْ. رواه الترمذي وابن ماجه والبخاري في الادب صـ ١٠٥.

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل مومن هغه چه گډون کوی د خلقو سره او صبر کوی په ضررونو ددوی باندے بهتر دے د هغه مومن نه چه گډون نه کوی دخلقو سره او صبر نه کوی په ضررونو ددوی باندے.

هبه کښې درجوع مذمت

[١٣٩٠] **الحديث الخامس** : عن ابن عباس عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ لَيْسَ مِنَّا مَثَلُ السُّوءِ الْعَائِدِ فِي هِبَتِهِ كَالكلبِ يَعُوْدُ فِي قَيْئِهِ. متفق عليه واورده البخاري في الادب صـ ١١٣

ترجمه : د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه نه دے مونږه دپاره صفت ناکاره (یعنی مونږه له دا صفت صحیح نه دے یا داسے صفت والا زمونږ په طریقه نه دے) واپس کونکے د هبے په شان د سپی دے چه خپل قے دوباره خوزی.

فائده : پیغمبر علیه السلام په هبه کښې رجوع بده اوگنړله لهذا هر مسلمان له پکار دی چه په هبه او صدقه کښې د رجوع نه ځان اوساتی. زمونږه په علاقو کښې مروجه حیله اسقاط په مړی باندے پس دجنازے نه په مقبره کښې کیگی. مفتی اعظم مولانا محمد شفیع صاحب "الاقساط" کتاب کښې لیکی. چه داحیله د منکراتو او مفاسدو یوه مجموعه ده ځکه پریښودل ئے ضروری دی. یو خرابی په دغه حیله کښې دا هم ده چه په دے کښې باربار په هبه کښې رجوع کیگی چه هغه ددے حدیث خلاف ده لهذا د داسے حیلو نه ځان ساتل ضروری دی.

الدرس التاسع السبعون بعد المأتين ﴿٢٧٩﴾

په سپینو وختو کتم بوتے او نکریزے لګول جائز دی

[١٣٩١] **الحديث الاول** : عن عُثمان بنُ عبد الله بن موهب ، قال: دَخَلْتُ عَلٰى اُمِّ سَلَمَةَ ، زَوْجِ النَّبِي ﷺ فَاَرَتْنِي شَعْراً مِنْ شَعْرِ رَسولِ اللهِ ﷺ مَخضُوبًا بِالْحِنَّاءِ وَالْكَتَمِ . (رواه احمد في مسنده اسناده صحيح . رقم : ٢٦٧٣٧)

ترجمه : حضرت عثمان بن عبد الله بن موهب نه روایت دے فرمائی چه زه ورغلم کور د اُم سلمهؓ ته چه بیوی د نبی ﷺ ده نو اوئے خودل ماته یو ویښته د ویښتو د نبی ﷺ نه چه رنګ ؤو په نکریزو او په کتم بوتی باندے.

د پیغمبر ﷺ واتباع یو خائسته نمونه

[١٣٩٢] **الحديث الثاني** :عن عَنْبَسَةَ بنِ اَبِي سُفْيَانَ عَنْ اُخْتِهِ اُمِّ حَبِيبَةَ ، زَوْجِ النَّبِيِّ ﷺ اَنَّهَا سَمِعَتِ النَّبِيَّ ﷺ

يقول : مَا مِنْ عبدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّى لله عزّ وجلّ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَى عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعًا غَيْرَ فَرِيْضَةٍ الا بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِى الْجَنَّةِ ، اوْ بَنَى اللّٰه عزّ و جلّ لَهُ بِهِنَّ بَيْتًا فِى الْجَنَّةِ فَقَالَتْ اُمّ حَبِيبَةَ : فَمَا بَرِحْتُ اُصَلِّيهِنَّ بَعْدُ وَقَالَ عَمْرٌو : مَا بَرِحْتُ اُصَلِّيهِنَّ بَعْدُ وَ قَالَ النُّعْمَانُ مِثْلَ ذالك . (رواه احمد فى مسنده اسناده صحيح . رقم : ٢٦٧٧٥).

ترجمه : حضرت عنبسه بن ابى سفيان د خپلے خور اُم حبيبهؓ روايت كوى چه هغه ده نبى كريم ﷺ بيوى ده هغه فرمانى چه ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلے دى چه فرمائيل نے نشته يو بنده مسلمان چه مونځ اوكړى د الله د پاره هره ورځ دولس ركعانه نفل مگر جوړ به كړے شى هغه د پاره كور په جنت كښ اويا نے داسے اووئيل چه جوړ به كړى الله دے مونځ كونكے د پاره د دے دولسو ركعاتو په بدل كښ كور په جنت كښ نووانى اُم حبيبه د هغے روستو زه هميشه دا دولس ركعانه كومه .

عاقل له اشاره كافى ده

١٣٩٣ **الحديث الثالث** عن ابى سعيد الخدرى قَالَ كَانَ رسول الله ﷺ اَشَدَّ حَيَاءً مِنَ الْعَذْرَاءِ فِى خِدْرِهَا وَكَانَ اِذَا كَرِهَ شَيْئًا عَرَفْنَاهُ فِىْ وَجْهِهِ . (متفق عليه) الادب المفرد صـ ١٢٤

ترجمه : ابو سعيد خدرى رضى الله عنه فرمانى چه وو رسول الله ﷺ زيات حيا كونكے د هغه پيغلے حينى نه په پرده دهغے كښ. او وو چه كله به نے بد گنړويو څيز نو مونږه به دهغے اثر دهغه په مخ كښ پيژندو.

بخل مهلك دے

١٣٩٤ **الحديث الرابع** : عن ابى هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِيَّاكُمْ وَالشُّحَّ فَاِنَّ الشُّحَّ اَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ سَفَكُوا دِمَائَهُمْ وَقَطَعُوا اَرْحَامَهُمْ وَالظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ. رواه البخارى فى الادب المفرد صـ ١٢٤ ومسلم فى صحيحه عن جابر .

ترجمه : ابو هريره رضى الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائيل څان اوساتى د بخل نه دے بخل هلاك كړى دى هغه څوك چه ستاسو نه مخكښ دى توئے كړے وے وينے خپلے او كت كړے وے خپلولى او ظلم تيارے دى د ورځے دقيامت .

د اذان نه بعد د مسجد نه وتل خه نه دى

١٣٩٥ **الحديث الخامس** عن ابى هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ فَلَا يَخْرُجُ اَحَدٌ حَتّٰى يُصَلِّى صحيح (الجمع ج ١ صـ ١١٦).

ترجمه : د حضرت ابو هريرةؓ نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلے دى كله چه موذن اذان اوكړى نو يو كس به د مسجد نه نه اوخى تردے چه مونځ اوكړى.

الدرس الثمانون بعد المأتين ﴿۲۸۰﴾

د صبا او د مازیګر د مونځ نه روستو نفل جائز نه دی

[۱۳۹۶] **الحدیث الاول** عن ابی سعید الخدری ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا صَلٰوةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰی تَرْتَفِعَ الشَّمْسُ وَلَا صَلٰوةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰی تَغِیْبَ الشَّمْسُ (متفق علیه مشکوة)

ترجمه : د حضرت ابو سعید ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی نشته مونځ پس د مونځ د صبا نه تر دے چه نمر راوچت شی او نشته مونځ پس د مونځ د مازیګر نه تر دے چه نمر غائب شی.

فائده : د صبا او د مازیګر د مونځ نه روستو نفل مونځ نه دے جائز او د نورو دلائلو په بنیاد علماء د احنافو وائی چه قضا فرض کول جائز دی .

چیلئ ګډے ساتل سبب د برکت دے

[۱۳۹۷] **الحدیث الثانی** : عن اُمِّ هَانِیءٍ ، اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ لَهَا : اِتَّخِذِی غَنَمًا ، فَاِنَّ فِیْهَا بَرَکَةً . (اسناده صحیح . ابن ماجه الارنؤوط جـ ۳ صـ ۴۰۲) .

ترجمه : حضرت ام هانیء ؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ ماته اوفرمائیل ګډے چیلئ اوساته یقیناً په دوئی کښ برکت دے .

فائده : خوږو لوستونکو دے حدیث کښ خوږ نبی ﷺ دا خبره په نښه کړه چه ګډو چیلو ساتلو کښ برکت دے ، د مسند احمد په یو روایت کښ راغلے دی چه ګډو بزو سره سحر او مابنام خیر حاصلیږی ، د حضرت علی رضی الله عنه نقل دی چه بیشکه نبی علیه السلام فرمائیلے دی یوه بیزه په کور کښ یو برکت دے او دوه بیزے دوه برکته دی او درے بیزے درے برکته دی . (الادب المفرد صـ ۱۵۰).

د بانګ عظمت

[۱۳۹۸] **الحدیث الثالث** : عن ابی امامةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا نَادَی الْمُنَادِی فُتِحَتْ اَبْوَابُ السَّمَاءِ وَاسْتُجِیْبَ الدُّعَاءُ . صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۲۰۱).

ترجمه : د حضرت ابی امامة نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه بانګ وائی بانګ ویونکے نو دروازے د آسمان پرانستے شی او دعاګانے قبلیګی.

مکروه اوقاتو کښ د جنازے مونځ هم منع دے

[۱۳۹۹] **الحدیث الرابع** :عن عقبة بن عامر قَالَ ثَلَاثُ سَاعَاتٍ کَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَنْهَانَا اَنْ نُصَلِّیَ فِیْهِنَّ

اَوْ نَقْبُرَ فِيْهِنَّ مَوْتَانَا حِيْنَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتّٰى تَرْتَفِعَ وَ حِيْنَ يَقُوْمُ قَائِمُ الظَّهِيْرَةِ حَتّٰى تَمِيْلَ الشَّمْسُ وَحِيْنَ تَضِيْفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوْبِ حَتّٰى تَغْرُبَ .رواه مسلم (مشكوة صـ ١٧٠).

ترجمه : د حضرت عقبه نه روایت دے چه درے وختونه دی چه رسول الله مونلاړه په هغے کښ د مونځ کولونه او د جنازے کولونه منع کړے یو د نمر ختلو کښ د نمر راستوا په وخت کښ او د نمر د پرے وتو په وخت کښ.

فائده : په دے درے وختونو کښ هر قسم مونځ مکروه دے نفل ،فرض ، نماز جنازه ، دوه رکعتونه د طواف وغیره.

د روند امامت جائز دے

[١٤٠٠] **الحديث الخامس** : عن انس قَالَ اِسْتَخْلَفَ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِبْنَ اُمِّ مَكْتُوْمٍ يَؤُمُّ النَّاسَ وَ هُوَ اَعْمٰى صحيح. رواه ابو داؤد مشكوة).

ترجمه : د حضرت أنس نه روایت دے چه رسول الله ﷺ مونځ حواله کړے ؤ عبد الله بن ام مکتوم ته خلقو ته به ئے جمع ورکوله او دے روندؤو.

فائده : علماء وائی چه کوم روند خپلے جامے پاکے ساتلے شی په خپله یا څوك نگران ئے خیال ساتی نو د هغه امامت بلا کراهته جائز دے.

الدرس الحادی والثمانون بعدالمأتین ﴿ ٢٨١ ﴾

چه جمع اودریږی بیا سنت مه کوئی

[١٤٠١] **الحديث الاول** :عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا اُقِيْمَتِ الصَّلٰوةُ فَلَا صَلٰوةَ اِلَّا الْمَكْتُوْبَةُ .رواه مسلم (مشكوة صـ).

ترجمه : د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی کله چه اودریلای جماعت نو بیا نه دے جائز سوی د فرضو نه بل مونځ .

فائده : چه د فرض جماعت اودریږی نو بیا سنت کول جائز نه دی جمع کښ فوری شریکیدل ضروری دی البته د نورو دلائلو په بنیاد علماء وائی که د صبا جماعت او دریږی او یو سړی سنت نه وی کړے نو که دے یو رکعت پوره لاندے کولے شی نو سنت دے اوکړی که جومات غټ وی نو دامام نه لرے یو گوټ کښ دے اوکړی چه د امام قرأت نه نه متأثر کیږی او که جماعت ورکوتے وی نو بهر دے لاړشی سنت دے اوکړی بیا دے راشی جماعت کښ دے شریك شی علماء وائی که د جمع یو رکعت ترے لاړ شی هم خیر دے خو سنت د اوکړی .

د صحت یو سبب

[١٤٠٢] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرةؓ انّ النّبی ﷺ قال: سافِرُوا تَصِحُّوا وَاغْزُوا تَسْتَغْنُوا . (اخرجه امام احمد جـ ٢ صـ ٣٨٠ و اسناده حسن السلسلة رقم : ٣٣٥٢)

ترجمه : حضرت ابی هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی سفر کوئ صحت مند به ئے او غزا کوئ مالدار به ئے

شهاب نوم اینبودل ښه نه دی

[١٤٠٣] **الحدیث الثالث** : عَنْ عَائِشَةَ ذُكِرَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ شِهَابٌ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بَلْ اَنْتَ هِشَامٌ. حسن (تعليق ابی داود ٤ باب تغير الاسم القبيح صـ ٤٩٥٦ . الادب المفرد للامام بخاری صـ ١١٤)

ترجمه : عائشه رضی الله عنها فرمائی ذکر اوشو درسول الله ﷺ په خوا کښی د یو سړی نوم ئے شهاب وو نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل نه بلکه ته هشام ئے.

عاص نوم اینبودل ښه نه دی

[١٤٠٤] **الحدیث الرابع** : كان مطيعٌ اسمه العاص فَسَمَّاهُ النَّبِیّ ﷺ مُطِيْعًا. الادب المفرد صـ ٢١٤ رواه مسلم فی صحيحه من كتاب الجهاد.

ترجمه : مطیع رضی الله عنه نوم عاص وو نو رسول الله ﷺ ده ته نوم کیخود مطیع.

ډومبی جنت ته داخلیدو والا کسان

[١٤٠٥] **الحدیث الخامس** : عن ابی هريرة انّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ عُرِضَ عَلَیَّ اوّلُ ثَلٰثَةٍ يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ شَهِيْدٌ وَ عَفِيْفٌ وَ مُتَعَفِّفٌ وَعَبْدٌ اَحْسَنَ عِبَادَةَ اللّٰهِ وَنَصَحَ لِمَوَالِيْهِ. هذا حديث حسن ترمذی صـ ٢٦ ؛ جـ ١

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیل چه پیش کړے شو په ما اول درے کسان چه داخلیدگی به جنت ته شهید او پاکدامن چه خان ساتی د شبهاتو نه او غلام چه دالله عبادة په ښے طریقے سره اوکړی او دخپل مالك خیرخواهی اولښوی.

فائده : عفیف : خان ساتونکے دحرامو نه . متعفف : خان ساتونکے د شبهاتو نه.

الدرس الثانی والثمانون بعد المأتین ٢٨٢

دقرض ادائیگی فرض

[١٤٠٦] **الحدیث الاول** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْقَتْلُ فِی سَبِيْلِ اللّٰهِ يُكَفِّرُ كُلَّ خَطِيْئَةٍ فَقَالَ جِبْرِيْلُ اِلَّا الدَّيْنَ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِلَّا الدَّيْنَ. صحيح. رواه الترمذی. جـ١ صـ ٤٢٦

ترجمه : انس رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه شهید کیدل په لاره دالله کښی خنمنوی هرے یوے گناه لره نو جبرئیل علیه السلام اووے سوا د قرض نه نو رسول الله ﷺ اووے سوا دقرض نه.

سوال د شهادت سره ثواب دشهادت

[۱٤۰۷] **الحدیث الثانی** عن معاذ بن جبل عَنِ النَّبِیِّ ﷺ مَنْ سَالَ اللّٰهَ الْقَتْلَ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ صَادِقًا مِّنْ قَلْبِهٖ اَعْطَاهُ اللّٰهُ اَجْرَ الشَّهِیْدِ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح صـ ٤٢٨

ترجمه : معاذ بن جبل دنبی علیه السلام نه نقل کوی چه څوك د الله نه غواړی مرګ په لاره د الله کښی په رښتونی زړه سره نو ورپه کړی الله ده ته اجر دشهید.

فائده : څوك چه د شهادت تمنّی او ارزو کوی نو د حدیث نه معلومه شوه چه الله تعالی به ده ته د شهادت ثواب ورکړی دغه حکم دهرے نیکے دے چه یو سړے د هغے ارزو کوی او طاقت ئے پرے او نه شی نو الله تعالی به د هغے ثواب د نیك نیت په بنیاد ده ته ورکړی.

درے اسباب دمدد الهی

[۱٤۰۸] **الحدیث الثالث** عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ ثَلٰثَةٌ حَقٌّ عَلَی اللّٰهِ عَوْنُهُمُ الْمُجَاهِدُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ وَالْمُکَاتَبُ الَّذِیْ یُرِیْدُ الْاَدَاءَ وَالنَّاکِحُ الَّذِیْ یُرِیْدُ الْعِفَافَ. وقال هذا حدیث حسن ترمذی صـ ٤٢٨

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ فرمائیلے دی درے کسان دی ثابت دے په الله باندے امداد د دوی. مجاهد په لاره د الله کښی او مکاتب هغه چه اراده د ادائیګی د رقم کوی مولیٰ خپل ته او نکاح کونکے هغه چه اراده د پاکدامنی کوی.

عزلت دځان دحفاظت یو صورت

[۱٤۰۹] **الحدیث الرابع** : عن ابی سعید الخدری قَالَ سُئِلَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَیُّ النَّاسِ اَفْضَلُ قَالَ رَجُلٌ یُّجَاهِدُ فِیْ سَبِیْلِ اللّٰهِ قَالُوْا ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ مُؤْمِنٌ فِیْ شَعَبٍ مِّنَ الشِّعَابِ یَتَّقِی رَبَّهٗ وَیَدَعُ النَّاسَ مِنْ شَرِّهٖ. هذا حدیث حسن صحیح (ترمذی جـ ۱ صـ ٤٢٨)

ترجمه : ابو سعید خدری رضی الله عنه فرمائی رسول الله ﷺ نه تپوس اوشو کوم یو کس دخلقو نه غوره دے؟ نو رسول الله ﷺ اوفرمائیل هغه سړے چه جهاد کوی په لاره دالله کښی بیا دوی اووے بیا کوم کس؟ وے فرمائیل بیا مومن چه په یوه دره د درو کښی وی یریګی د رب خپل نه او پریګدی خلقو له دوئی د شر د وجے نه.

دوه قیمتی څاځکی

[۱٤۱۰] **الحدیث الخامس** عن ابی امامة عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ لَیْسَ شَیْءٌ اَحَبُّ اِلَی اللّٰهِ مِنْ قَطْرَتَیْنِ وَاَثَرَیْنِ

قَطْرَةُ دُمُوعٍ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ وَ قَطْرَةُ دَمٍ تُهْرَاقُ فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاَمَّا الْاَثَرَانِ فَاَثَرٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَاَثَرٌ فِي فَرِيْضَةٍ مِنْ فَرَائِضِ اللّٰهِ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن غریب. صـ ٤٢٩

ترجمه : ابوامامة رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه نقل کوی چه وے فرمائیل نیشته یو شے زیات خوښ الله ته د دوه څاڅکو او دوه نښو نه. یو څاڅکے داوښکے چه د یرے دالله نه وی . او بل څاڅکے د وینے چه تونے کولے شی په لاره دالله کښ. او هر چه دی دوه نښے نو یو نښه په لاره دالله کښ او بله نښه په یو فریضه د فرائض کښ.

فائده : نښه په لار دالله تعالیٰ کښ مثلاً په جهاد کښ یو سړے زخمی شی او دهغے نشان جوړ شی او نښه په یو فریضه کښ لکه اوګدے سجدے کوی او په تندی کښ نښه جوړه شی.

الدرس الثالث و الثمانون بعد المأتين ﴿٢٨٣﴾

د قرآن په تلاوت کښ یو بل سره د مقابلے صورت مه اختیاره وئ

[١٤١١] **الحديث الاول** :عن ابی هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ الْمُصَلِّيَ يُنَاجِي رَبَّهٗ فَلْيَنْظُرْ بِمَ يُنَاجِيْهِ وَلَا يَجْهَرْ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَعْضٍ فِي الْقُرْآنِ .صحيح. (الجامع جـ ١ صـ ٣٩٤)

ترجمه : د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی بیشك مونځ کونکے سرګوشی کوی الله تعالی سره نو او دے ګوری دے په څه سرګوشی کوی الله تعالی سره (یعنی مونځ ته دے توجه کوی) او جهر دے نه کوی بعض په بعضے باندے په قرآن (یعنی یو بل سره دے مقابله کښ په یو وخت کښ قرآن نه وائی چه د مقابلے شکل اختیار کړے شی)

فائده : دے حدیث شریف مونږه ته دوه خبرے په نښه کړے یوه چه مونځ الله تعالی سره راز باز دے نو دا په توجه سره کول ضروری دی دویم تلاوت په ګډه کښ د مقابلے په شکل نه دے صحیح چه دیو نه بل ته تکلیف وی دارنګ هر دینی کار د بل تکلیف او د مقابلے د پاره صحیح نه دے هر کار د الله تعالی د رضا د پاره پکار دے البته د نیکے کارونو کښ د ترقی کوشش قابل ستایش دے .

دقچرے پیداکولو حکم

[١٤١٢] **الحديث الثانی** : عن ابن عباس قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَبْداً مَامُوراً مَا اخْتَصَّنَا دُوْنَ النَّاسِ بِشَيْءٍ اِلَّا بِثَلَاثٍ اَمَرَنَا اَنْ نُسْبِغَ الْوُضُوْءَ وَاَنْ لَّا نَاْكُلَ الصَّدَقَةَ وَاَنْ لَّا نَنْزِيَ حِمَارًا عَلٰى فَرَسٍ. رواه الترمذی و قال هذا حدیث حسن صحیح جـ ١ صـ ٤٣٢

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ یو بنده وو دالله د طرف نه مأمور وو نه ووخاص کړے مونلاً لره د نورو خلقو نه په هیڅ څیز باندے مکړ

په درے ځیزونو ۔ حکم کړے وو مونږ ته د پوره کولو د اودس او د نه خوراك د صدقے او د نه سورولو د خر په اس باندے۔

فائده : وائی دقچرے پیدائش په دے طریقه کیږی چه خر د اسپے سره ملاؤ کړی .قچره ډیره مضبوطه وی او بچی نه راوړی ۔ خودپیدائش دا طریقه نے مکروه او ممنوع ده .البته کچرته پیدائشی نو استعمال نے بغیر دکراهت نه جائز دے .رسول الله ﷺ سورلی دپاره استعمال کړے ده.

دکشرانو دحوصله افزائی عجیب مثال

[١٤١٣] **الحديث الثالث** : عن ابن عمر قَالَ بَعَثَنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فِيْ سَرِيَّةٍ فَحَاصَ النَّاسِ حِيصَةَ فَقَدِمْنَا الْمَدِيْنَةَ فَاخْتَبَأْنَا بِهَا وَقُلْنَا هَلَكْنَا ثُمَّ اَتَيْنَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فَقُلْنَا يَارَسُوْلَ اللّٰهِ نَحْنُ الْفَرَّارُوْنَ قَالَ بَلْ اَنْتُمُ الْعَكَّارُوْنَ وَاَنَا فِئَتُكُمْ ۔ رواه الترمذی وقال هذا حديث حسن جـ١ صـ ٤٤٣

ترجمه : دحضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه لیګلے وو مونږ رسول الله ﷺ په یو سریه کښ نو اوتختیدل خلق په تختیدو سره نو راغلو مونږه مدینے ته نوپټ شو او مونږه اووئیل چه مونږه تباه شو (خواخر) بیا مونږ راغلو رسول الله ﷺ ته مونږ اووئیل یارسول الله مونږ تختیدونکی یو نو رسول الله ﷺ اووئیل نه تاسو دمه کونکی ئی(او بیا حمله کونکی ئی۔) اوزه ستاسو ملګرے یم.

فائده : حدیث شریف نه معلومه شوه چه کله کشر نه چرته کمزوری راشی نو مشر دے ورله داډ ورکړی چه ورته حوصله ملاؤ شی او داحساس د کمتری ښکار نه شی.

دمشورے اهمیت

[١٤١٤] **الحديث الرابع** : عن عائشةؓ قالت : قام رسول الله ﷺ فِيْ خَطِيبًا فَتَشَهَّدَ وَ حَمِدَ اللّٰهَ وَ اَثْنٰى عَلَيْهِ بِمَا هُوَ اَهْلُهُ ثُمَّ قَالَ : اَمَّا بَعْدُ : اَشِيْرُوا عَلَيَّ فِي اُنَاسٍ اَبَنُوْا اَهْلِي وَاللّٰهِ مَا عَلِمْتُ عَلَى اَهْلِي مِنْ سُوءٍ قَطُّ ۔ (صحيح . سنن ترمذی ت شاكر رقم : ٣١٨٠)

ترجمه : حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه (چه کله په ما تهمت اولګیدلو) نو اوریدو رسول الله ﷺ ځما باره کښ نو خطبا نے اووئیله کلمه شهادت ئے اووئیل حمد ئے اووئیل او د الله د شان مناسب ثنا ئے اووئیل بیا ئے اوفرئیل د دے نه روستو اے خلقو! مشوره راکړئ ماته په هغه خلقو کښ چه ځما کور والا ئے بدنام کړے دی ځما دے په الله قسم وی چه زه نه یم پوهه شوے په خپل کور والا باندے چرته په بداخلاقئ .

فائده : دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه پیغمبر علیه السلام خپلو کارونو کښ د صحابو نه مشوره اغشتله ، مشوره اغشتل د قرآن حکم دے او پیغمبر علیه السلام خپل ژوند کښ په دے عمل کړے دے د دے ډیر واقعات په کتابونو د حدیثو کښ موجود دی ، حضرت ابو هریره

رضی الله عنه نه روایت دے فرمائی ما نه دے لیدلے یو کس زیات مشوره کونکے دحیلو ملګرو سره سوا درسول الله ﷺ نه. (رواه الترمذی ج ۱ ص ۴۳۴)

دمسافر استقبال سنت دے

(۱٤۱٥) **الحدیث الخامس** : عن السائب بن یزید قَالَ لَمَّا قَدِمَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مِنْ تَبُوْكَ خَرَجَ النَّاسُ يَتَلَقَّوْنَهُ إِلَى ثَنِيَّةِ الْوَدَاعِ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح. ص ٤٣٤

ترجمه : سائب بن یزید وائی کله چه راغلے رسول الله ﷺ دتبوك نه نو راوتل خلق چه ملاو شی ده سره ثنیة الوداع ځائے ته .

فائده : دده حدیث شریف نه معلومه شوه چه دمسافر د راتلو وخت کښ د مسافر استقبال مسنون دے.

الدرس الرابع و الثمانون بعد المأتين ﴿٢٨٤﴾

دکال خرچه اینبودل جائز دی

(۱٤۱٦) **الحدیث الاول** :عن عمر قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَعْزِلُ نَفَقَةَ اَهْلِهٖ سَنَةً ثُمَّ يَجْعَلُ مَابَقِيَ فِي الْكُرَاعِ وَالسِّلَاحِ عُدَّةً فِي سَبِيْلِ اللّٰهِ. رواه الترمذی وقال هذاحدیث حسن صحیح. ص ٤٣٤.

ترجمه : دحضرت عمر رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به جدا کوله (دمال فیئ نه) خرچه دیو کال داهل خپل او باقی به ئے بیا په تیاری داسونو او اسلحه کښ په لار دالله کښ خرچ کوله .

سپین ویښته عزت دے

(۱٤۱۷) **الحدیث الثانی** : عن کعب بن مرة قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ شَابَ شَيْبَةً فِي الْإِسْلَامِ كَانَتْ لَهٗ نُوْرًا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ . رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن. ص ٤٢٥.

ترجمه : د کعب بن مره رضی الله عنه نه روایت دے چه دے وائی ما اوریدلے دی درسول الله ﷺ نه چه فرمائیل ئے دچا چه ویښته سپین شی په اسلام کښ نو وی به دا ویښته ده له نور په ورځ د قیامت.

فائده : بعضے خلق سپین ویښته چه بیکاره شی هغه اوباسی حالانکه دا ددے حدیث شریف د وینا مطابق د قیامت د ورځے نور دے ددے وجے فقهاء وائی چه سپین ویښته ویستل مکروه دی .

دپیغمبر ﷺ شپږ خصوصیات

(۱٤۱۸) **الحدیث الثالث** :عن ابی هریرة اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ فُضِّلْتُ عَلَى الْاَنْبِيَاءِ بِسِتٍّ اُعْطِيْتُ جَوَامِعَ الْكَلِمِ وَ نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ وَاُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ وَ جُعِلَتْ لِيَ الْاَرْضُ مَسْجِداً وَ طَهُوْراً وَاُرْسِلْتُ اِلَى الْخَلْقِ كَافَّةً

وَخُتِمَ بِي النَّبِيُّوْنَ. رواه الترمذی وقال هذا حدیث حسن صحیح جـ۱ صـ ٤١٦ .

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی ماته غوره والے راکړے شوے دے په پیغمبرانو باندے په شپږو خصلتونو . ماته راکړے شوی دی جوامع الکلم (جامع خبرے) او زما امداد کړے شوے دے په رعب سره او ماله حلال کړے شوی دی غنیمتونه او ګرزولے شوے ده مادپاره زمکه جومات او پاکونکے(په تیمم سره) او ځه لیګلے شوے یم تولو خلقو ته او په ماباندے انبیاء ختم کړے شوی دی.

د الله تعالی مخلوق کښ فکر اوکړی

[١٤١٩] **الحدیث الرابع** :عن ابن عباسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ تَفَكَّرُوْا فِی خَلْقِ اللّٰهِ وَلَا تَفَكَّرُوْا فِی اللّٰهِ . حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۷۵۲) .

ترجمه : د دحضرت ابن عباسؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه فکر اوکړئی (الله تعالی په مخلوق او فکر مه کوی د الله تعالی د ذات باره کښ (ځکه چه د انسان فکر د هغه د ذات پوره معلومات نشی حاصلولے نو شیطان به ئے د وسوسو شکار کوی لهذا د الله تعالی ذات بغیر د سوچ فکر نه منل ضروری دی .

فائده : په جامع الصغیر کتاب کښ یو بل روایت دے د حضرت ابن عمرؓ نه نقل دے چه سوچ کوی په نعمتونو د الله تعالی کښ او سوچ مه کوی په ذات د الله تعالی کښ د دے مطلب هم هغه دے چه مخکښے بیان شو.

درسول الله دوستان څوک ؟

[١٤٢٠] **الحدیث الخامس**: عن ابی هریرة اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اِنَّ اَوْلِيَاءِی یَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمُتَّقُوْنَ. حسن الادب المفرد صـ ۲۳۱.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه فرمائی چه بیشکه رسول الله ﷺ فرمائیل چه زما دوستان په ورځ دقیامت هغه پرهیزګاران دی.

الدرس الخامس و الثمانون بعد المأتین ۲۸۵

دالله تعالی دغصه کیدو اسباب

[١٤٢١] **الحدیث الاول** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَعَظَّمَ فِی نَفْسِهٖ اَوْ اِخْتَالَ فِی مَشْيَتِهٖ لَقِیَ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ. صحیح. الادب المفرد صـ ١٤٤.

ترجمه : ابن عمرؓ وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی څوک چه تکبر اوکړی په زړه کښ اویا تکبر

کوی په نازونخرو گرځی نو ملاؤ به شی دالله سره او الله به ده باندے غصه وی .

د بیع عینه مذمت

[١٤٢٢] **الحديث الثانی** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِيْنَةِ وَاَخَذْتُمْ اَذْنَابَ الْبَقَرِ وَرَضِيْتُمْ بِالزَّرْعِ وَتَرَكْتُمُ الْجِهَادَ سَلَّطَ اللّٰهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزَعُه حَتّٰى تَرْجِعُوا اِلٰى دِيْنِكُمْ. صحيح (جـ١ صـ ١٣٦)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه کله تاسو بیع عینه کوی او دغواګانو لکے اونیسی (یعنی څاروی ساتل شروع کړی) او په زمیدارے راضی شے (یعنی دے کارونو کښ ورننوځئی او دینی ذمه دارے پریګدی) او جهاد پریګدی نو الله تعالیٰ به مسلط کړی په تاسو ذلت چه نه به ئے لرے کوی تاسو نه تردے چه تاسو خپل دین ته واپس شی.

فائده : بیع عینه دیته وائی چه تانه یو سړے قرض اوغواړی نو ته ورله قرض ورنه کړے او یو څیز د بازاری نرخ نه ګران ورکړے چه دا ځان له خرڅ کړه نو هغه ئے په تاوان خرڅ کړی او خپل ضرورت پوره کړی فقهاء کرام دے بیع ته مکروه وائی.

د بنه او د بد د پیژندلو طریقه

[١٤٢٣] **الحديث الثالث** :عن أبی زهير الثقفیؓ قال: سمعتُ رسول الله ﷺ يَقُولُ : بِالنُّبَاتَةِ اَوِ النُّبَاوَةِ شَكَّ نَافِعُ بْنُ عُمَرَ مِنَ الطَّائِفِ وَ هُوَ يَقُولُ: يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّكُمْ تُوشِكُونَ اَن تَعْرِفُوا اَهْلَ الْجَنَّةِ مِنْ اَهْلِ النَّارِ اَوْ قَالَ : خِيَارُكُمْ مِنْ شِرَارِكُمْ قَالَ : فَقَالَ : رَجُلٌ مِنَ النَّاسِ : بِمَ يَا رَسُولَ اللّٰه ؟ قَالَ: بِالثَّنَاءِ السَّيِّءِ ، وَالثَّنَاءِ الْحَسَنِ ، وَ اَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللّٰهِ بَعْضُكُمْ عَلٰى بَعْضٍ .(رواه احمد فی مسنده اسناده صحيح رقم : ٢٧٦٤٥)

ترجمه : حضرت ابو زهیر الثقفیؓ نه روایت دے چه ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی فرمائیل ئے (په نباوه مقام کښ چه دا د طائف علاقه ده) اے خلقو! قریبه ده چه تاسو اوپیژنے جنتیان د دوزخیانو نه یا داسے ئے اووئیل چه غوره ستاسو د بدانو ستاسو نه نو یو سړی اووئیل د خلقو نه په څه به ئے پیژنو اے د الله رسوله ؟ نو اووئیل رسول الله ﷺ په ناکاره صفت او په بنه صفت (یعنی چه د کوم سړی خلق ناکاره صفتونه بیانوی نو دغه شریر او دوزخی دے او چه د کوم سړی بنه صفت بیانوی نو دغه غوره او جنتی دے) او تاسو ګواهان د الله ئے بعضے په بعضو باندے .

قبرستان کښ بے پښو ګرځیدل بهتر دے

[١٤٢٤] **الحديث الرابع** : عن بشير بن معبد الدوسی رائی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رَجُلاً يَمْشِی فِی الْقُبُوْرِ وَعَلَيْهِ نَعْلَانِ فَقَالَ يَا صَاحِبَ السَّبْتِيَتَيْنِ اَلْقِ سَبْتِيَتَكَ فَنَظَرَ الرَّجُلُ فَلَمَّا رَاٰی النَّبِیُّ ﷺ خَلَعَ نَعْلَيْهِ فَرَمٰی بِهِمَا. (اسناده جيد، رواه ابوداؤد والنسائی كلاهما فی كتاب الجنائز والبخاری فی ادب المفرد).

ترجمه : د بشر بن معبد الدوسی نه روایت دے چه اولیده رسول الله ﷺ یو سړے چه هغه گرزیدو قبرونو کښ او دده په خپو پنړے وے. نو رسول الله ﷺ ورته اووئیل د پنړو خاونده پنړے اوباسه نو چه دغه سړی کله اوکتل نو پیغمر پاك ئے اولیدو نو پنړے ئے اوبستلے او گزارے کړے.

فائده : بهتر داده که تکلیف نه وے چه قبرستان کښ سړے بے پنړو اوگرځی.

په سودا کښ ددهوکے نه د بچ کیدو یو طریقه

[۱٤۲٥] **الحدیث الخامس** :عن انس ؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا بَایَعْتَ فَقُلْ لَا خَلَابَةَ .صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۱۳٤)

ترجمه : د حضرت انس ؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه سودا کوے نو خرڅوونکی ته اوایه چه دهوکه به نه وی.

فائده : د دے حدیث شریف ظاهری الفاظو نه خو دا معلومیږی چه د سودا وخت کښ دا الفاظ وایه نو د سودا د نقصان نه به بچ کیږے او بعضے علماء وائی چه د سودا وخت کښ خرڅونکی ته دا وایه نو کچرے ځیز ئے گران درکړے وی نو بیا ئے ورته د پته لگیدو نه روستو واپس کولے شی.

الدرس السادس والثمانون بعدالمأتین ۲۸٦

د قرض د ادائیگی دعا

[۱٤۲٦] **الحدیث الاول** : عن انس بن مالك كَانَ النَّبِیُّ ﷺ یُكْثِرُ اَنْ یَّقُوْلَ " اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوْذُبِكَ مِنَ الْهَمِّ وَالْحُزْنِ وَالْعَجْزِ وَالْكَسَلِ وَالْجُبْنِ وَالْبُخْلِ وَضَلَعِ الدَّیْنِ وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ. رواه البخاری فی صحیحه وفی الادب المفرد صـ ۲۰۸

ترجمه : انس بن مالك رضی الله عنه نه روایت دے چه وو رسول الله ﷺ چه ډیره به ئے وئیله دادعا " اللهم انی اعوذبك من الهم ... نه تر غلبة الرجال " پورے.

فائده : په چا باندے چه پردے قرضه وی هغه دے دا دعا ډیره ډیره وائی انشاء الله قرض به ئے الله تعالی خلاص کړی.

د نا حق وینے تویولو نه د بچ کیدو فائده

[۱٤۲۷] **الحدیث الثانی** :و عن جریر ؓ عن النبی ﷺ قال مَنْ مَاتَ لَا یُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَیْئاً وَلَمْ یَتَنَدَّ بِدَمٍ حَرَامٍ اُدْخِلَ مِنْ اَیِّ اَبْوَابِ الْجَنَّةِ شَاءَ . رواه الطبرانی فی الکبیر ورجاله موثقون (مجمع الزوائد جـ ۱ صـ۳۳)

ترجمه : د حضرت جریر ؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ وئیلی دی څوك چه مړ شی او شرك ئے نه وی کړے الله تعالی سره او نه ئے ځان په حرامه وینه کښ ککړ کړے وی نو داخل به شی جنت

ته په کمه دروازه چه د ده خوښه وی د دروازو د جنت نه .

د اسویلی یو ادب

[١٤٢٨] **الحديث الثالث** : عن ابی سعید عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِذَا تَثَاوَبَ اَحَدُكُمْ وَضَعَ يَدَهُ بِفِيْهِ. فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ فِيْهِ . رواه مسلم فی صحیحه والبخاری فی الادب المفرد صـ ٢٤٥

ترجمه : دابوسعید رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه کله اسویلے کوی یو تن ستاسو نه نو کیدگدی لاس خپل په خله باندے ځکه شیطان داخلیگی په دے کښ.

دباران سره محبت داهم دے یو سنت

[١٤٢٩] **الحديث الرابع** :عن انس قَالَ اَصَابَنَا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ مَطَرٌ فَحَسَرَ النَّبِيُّ ﷺ ثَوْبَهُ عَنْهُ حَتّٰى اَصَابَهُ الْمَطَرُ قُلْنَا لِمَ فَعَلْتَ قَالَ لِاَنَّهُ حَدِيْثُ عَهْدٍ بِرَبِّهِ. رواه مسلم فی باب الاستسقاء و البخاری وی الادب المفرد صـ ١٤٩

ترجمه : حضرت انس رضی الله عنه وائی اورسیدو مونږ ته سره درسول الله ﷺ نه باران نو لږے کړه رسول الله ﷺ جامه دبدن مبارك نه تردے چه اورسیدو ورته باران مونږه اووئیل دا ولے کوی؟ نو وے فرمائیل دا ځکه چه دا باران تازه تازه د طرفه درب نه راغلے دے.

دعاکلك عزم سره غواړی

[١٤٣٠] **الحديث الخامس** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا دَعَا اَحَدُكُمْ فَلْيَعْزِمْ فِی الدُّعَاءِ وَلَا يَقُلْ اَللّٰهُمَّ إِنْ شِئْتَ فَاَعْطِنِیْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَامُسْتَكْرِهَ لَهُ. متفق علیه : واورده البخاری ایضا فی الادب المفرد صـ ١٥٩

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کله چه دعاء کوی یوتن ستاسو نه نو دے دے عزم اوکړی(کلکوالے دے اوکړی) په دعاء کښ او داسے دے نه وائی چه اے الله که ستا خوښه وی نو ماته راکړے ځکه الله باندے ځوك جبر کونکے ددہ دپاره نیشته.

الدرس السابع و الثمانون بعدالمأتين ٢٨٧

دقوم مشر دے دا دعا غواړی

[١٤٣١] **الحديث الاول** : عن عائشة اَنَّهَا رَاَتِ النَّبِيَّ ﷺ يَدْعُوْا رَافِعاً يَدَيْهِ يَقُوْلُ إِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ فَلَا تُعَاقِبْنِیْ اَيُّمَا رَجُلٍ مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اٰذَيْتُهُ اَوْ شَتَمْتُهُ فَلَا تُعَاقِبْنِیْ فِيْهِ. رواه مسلم فی کتاب البر والصلة و الاداب والبخاری فی الادب المفرد صـ ١٤٠)٥٦٢.

ترجمه : عائشه رضی الله عنها نه روایت دے چه دے اولیده رسول الله ﷺ له چه دعا ئے کوله داسے حال کښ چه اوچت کړے وو لاسونه وئیل ئے بیشکه ځه انسان یم نو ته سزا مه راکوے ماته . چه کوم مسلمان ته ما ضرر رسولے وی یا مے ورته بد رد وئیلے وی نو ته سزا مه راکوے ماته په هغے کښ.

حسن ظن په الله تعالی کیمیا ده

[١٤٣٢] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة عَنْ رَّسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ قَالَ قَالَ اللّٰهُ عَزَّوَجَلَّ اَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِیْ وَاَنَا مَعَهٗ اِذَا دَعَانِیْ . رواه البخاری فی کتاب التوحید والادب المفرد. فی کتاب الذکر والدعاء.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه درسول الله ﷺ نه نقل کوی چه الله رب العزت فرمائی څه د بنده د ګمان سره یم او څه ده سره یم کله چه دے ما رابلی.

دمجلس استغفار

[١٤٣٣] **الحدیث الثالث** : عن ابن عمرؓ اِنْ کُنَّا نَعُدُّ فِی الْمَجْلِسِ لِلنَّبِیِّ ﷺ رَبِّ اغْفِرْ لِی وَتُبْ عَلَیَّ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ " مِأَةَ مَرَّةٍ . صحیح. راوه ابوداؤد فی کتاب الوتر والبخاری فی الادب . صـ ١٦٢

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه وائی مونږ په مجلس کښ د نبی علیه السلام شمیرل دا کلمات " رَبِّ اغْفِرْ لِیْ وَتُبْ عَلَیَّ اِنَّكَ اَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِیْمُ " چه سل ځله به ئے وئیل.

الله تعالیٰ ته خوښ کلمات

[١٤٣٤] **الحدیث الرابع** :عن ابی ذر عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ اَحَبُّ الْکَلَامِ اِلَی اللّٰهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ لَاشَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْر لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ. صحیح. رواه البخاری فی الادب المفرد صـ ١٦٦

ترجمه : ابوذر رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی خوښ کلام الله ته دا کلمات دی " سُبْحَانَ اللّٰهِ لَاشَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْر لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ وَبِحَمْدِهٖ"

یو په شل

[١٤٣٥] **الحدیث الخامس** : عن انس بن مالك عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ مَنْ صَلّٰی عَلَیَّ وَاحِدَةً صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ عَشْرًا وَحُطَّ عَنْهُ عَشْرُ خَطِیْئَاتٍ. صحیح. رواه البخاری فی الادب المفرد

ترجمه: انس بن مالك رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی څوك چه په ما باندے یو ځل درود اووائی نو الله به په ده لس ځله رحمت لیږی او لس به ترے نه ګناهونه معاف کوی.

الدرس الثامن و الثمانون بعد المأتین ﴿٢٨٨﴾

دعا قبلیږی

[١٤٣٦] **الحدیث الاول** : عن ابی هریرة اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یُسْتَجَابُ لِاَحَدِکُمْ مَالَمْ یَعْجَلْ یَقُوْلُ دَعَوْتُ

فَلَمْ يُسْتَجَبْ لِي. متفق عليه

ترجمه : ابو هريره رضي الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائيلے دی قبلولے شی (دعا) ديو تن ستاسو تر څو چه دے تلوار اونه کړی (انسان دعا اوکړی بيا جلدی کوی نو) وائی ما دعا اوکړه نو څما دعا قبول نه شوه .

فائده : د دعا د ادابو نه يو ادب دا دے چه دعا بار بار غوستل پکار دی دا دعا د قبليدو صرف دا صورت نه دے چه انسان کوم شی غواړے نو هم هغه دے ورکړے شی بلکښی کله دعا، د آخرت د پاره ذخيره شی او کله دا هغی په څائے بل يو شی ورکړے شی .

د حفاظت قلعه

[١٤٣٧] **الحديث الثاني** : عن ابان بن عثمان قال سمعت عثمان قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ ﷺ يَقُوْلُ مَنْ قَالَ صَبَاحَ كُلِّ يَوْمٍ وَمَسَاءَ كُلِّ لَيْلَةٍ ثَلاثًا ثَلاثًا" بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَالسَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ " لَمْ يَضُرَّهُ شَيْءٌ. وَكَانَ اَصَابَهُ طَرَفٌ مِّنَ الْفَالِجِ فَجَعَلَ يَنْظُرُ اِلَيْهِ فَقَطِنَ لَهُ فَقَالَ اِنَّ الْحَدِيْثَ كَمَا حَدَّثْتُكَ وَلٰكِنِّي لَمْ اَقُلْهُ ذٰلِكَ الْيَوْمَ لِيَمْضِيَ قَدَرُاللّٰهِ .حسن. رواه ابوداؤد في كتاب الاداب والترمذي في الدعوات والبخاري في الادب المفرد صـ ١٧١

ترجمه : دابان بن عثمان نه نقل دی دے وائی ما اوريدلے دی دعثمان نه چه وئيل ئے ما اوريدلی دی درسول الله ﷺ نه چه وئيل ئے چا چه اووے سحر د هرے ورځ او مابنام دهرے شپے درے درے ځله " بِسْمِ اللّٰهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اِسْمِهٖ شَيْءٌ فِي الْاَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ وَهُوَالسَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ " ده ته به ضرر نه رسوی هيڅ څيز . او وو ابان چه رسيدلے ؤو يو طرف د ده ته فالج نو دا سړے شروع شو چه کتل ئے ابان ته نو ابان پوهه شو نو هغه سړے ته ئے او وئيل حديث هم دغه شان دے چه ما درته بيان کړو ليکن ما نه او ووئيلے دا کلمات په دغه ورځ نو (په ما) دالله تقدير جاری شو.

د کوم جنت سوال پکار دے ؟

[١٤٣٨] **الحديث الثالث** : عن معاذقال قال رسول الله ﷺ ذَرِ النَّاسَ يَعْمَلُوْنَ ،فَاِنَّ الْجَنَّةَ مِائَةُ دَرَجَةٍ ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ ، وَالْفِرْدَوْسِ اَعْلَاهَا دَرَجَةً وَاَوْسَطُهَا ، وَفَوْقَهَا عَرْشُ الرَّحْمٰنِ ، وَمِنْهَا تَفَجَّرُ اَنْهَارُ الْجَنَّةِ ، فَاِذَا سَاَلْتُمُ اللّٰهَ فَاسْاَلُوْهُ الْفِرْدَوْسَ.صحيح.(الجامع جـ ١ صـ ٦٤٤)

ترجمه : حضرت معاذ وائی چه رسول الله ﷺ وئيلی دی پريکده خلق چه عمل کوی بے شك جنت سل درجے دے په مينځ د هرے درجے کښی دومره فاصله ده لکه د زمکے او د آسمان مينځ کښی او جنت فردوس په کښی د تولونه بهتر او اعلی جنت دے او د پاسه د هغے عرش

الرحمن دے او د هغے نه د جنت نهرونه بهیږی نو کله چه سوال کوی نو د الله تعالی نه جنت الفردوس غواړئی.

دخوشحالی وخت کښ مبارکی ثابت ده

(۱۴۳۹) **الحدیث الرابع** : عن کعب بن مالك قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ حِيْنَ تَابَ اللّٰهُ عَلَيَّ فَاِذَا بِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ حَوْلَهُ النَّاسُ فَقَامَ اِلَيَّ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِاللّٰهِ يُهَرْوِلُ حَتّٰى صَافَحَنِيْ وَهَنَّانِيْ وَاللّٰهِ مَا قَامَ اِلَيَّ الرَّجُلُ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ غَيْرُهٗ لَا اُنْسَاهَا لِطَلْحَةَ. رواه البخاری فی کتاب المغازی ومسلم فی کتاب التوبه.

ترجمه : کعب بن مالك رضی الله عنه نه نقل دی چه داخل شوم جومات ته کله چه الله مهربانی اوکړه په ما (یعنی زما توبه ئے قبوله کړه) ناساپه د رسول الله ﷺ نه گیر چاپیر خلق ناست وو. پاسیده ماته طلحه بن عبیدالله او منډه ئے کړه تردے چه مصافحه ئے اوکړه زما سره او ماله ئے مبارکی راکړه او قسم په الله ماته یو کس دمهاجرینو نه نه وو پاسیدلے سوا دده نه څه به دا نه هیروم د طلحه دپاره.

فائده : حدیث نه معلومه شوه چه پاسیدل رور مسلمان ته د خوشحالی په وخت کښ او لاس ورکول مبارکی ورکول جائز دی.

فضیلت د ابی بکرؓ په تولو صحابه کرامو ثابت دے

(۱۴۴۰) **الحدیث الخامس** : عن اَبِی مُوسیٰ قَالَ مَرِضَ النَّبِیّ ﷺ فَاشْتَدَّ مَرَضُهٗ فَقَالَ مُرُوا اَبَا بکر فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ قَالَتْ عَائِشَةُ اِنَّه رَجُلٌ رقیقٌ اذا قام مَقَامَك لَمْ يَسْتَطِعْ اَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ قَالَ مُرِی اَبَابکرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ فَعَادَتْ فَقَالَ مُرِی اَبَابَکر فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ فَانَّكُنَّ صَوَاحِبُ يُوْسُفَ فاتاه الرَّسُوْلُ فَصَلّٰی بِالنَّاسِ فِی حَيٰوةِ النَّبِیّ ﷺ. (بخاری ج ۱ ص ۹۳)

ترجمه : د حضرت ابو موسیٰؓ نه روایت دے چه بیمار شو رسول الله ﷺ نو سخت شو مرض د هغه نو وے فرمائیل چه امر اوکړئی ابو بکر ته چه مونځ اوکړی خلقو ته عائشےؓ اووئیل یا رسول الله هغه خو یو سړے دے نرم زړه والا کله چه اودریږی په ځائے ستا طاقت به اونه لری چه مونځ اوکړی خلقو ته نو بیا پیغمبر ﷺ اووئیل چه امر اوکړئی ابو بکرؓ ته چه جمع ورکړی نو عائشےؓ بیا هغه جواب ورکړو نو خو د نبی ﷺ بیا اوفرمائیل حکم اوکړه ابو بکرؓ نه چه جمع ورکړی بیشك تاسو پشان د هغه ښځو ئے چه یوسف علیه السلام ئے پریشان کړے وو نو راغی ابو بکرؓ ته استاذے چه مونځ اوکړه خلقو ته نو مونځ اوکړو هغوئی په ژوند د رسول الله ﷺ خلقو ته.

فائده : دے حدیث شریف نه ډیرے مسئلے معلومے شوے یوه مسئله فضیلت د ابو بکرؓ په تولو صحابه کرامو باندے د دے وجے نه چه په تولو صحابه کرامو کښ د

امامت د پاره هغوئی منتخب کړی دویمه مسئله ترے دا معلومه شوه چه احق د امامت هغه کښ دے چه زیات پوهه وی اگر چه زیات قاری نه وی دریمه دا ده چه امام ته عذر وی نو یو کس دے امامت له متعین کړی .

الدرس التاسع و الثمانون بعدالمأتين ﴿۲۸۹﴾

په اودو د سلام انداز

[۱۴۴۱] **الحديث الاول** : عن المقداد بن الاسود قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَجِيْءُ مِنَ اللَّيْلِ فَيُسَلِّمُ تَسْلِيْمًا لَا يُوْقِظُ نَائِمًا وَيَسْمَعُ الْيَقْظَانُ. صحيح. الادب المفرد صـ ۲۶۶

ترجمه : د مقداد بن اسود نه روایت دے چه رسول الله ﷺ به دشپے راغے نو سلام به ئے اوکړو داسے سلام چه نه به ئے ویخوه اوده لره او اوریدو به ویخ سړی.

استاذ ے اذن دے

[۱۴۴۲] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرة رضی الله عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ رَسُوْلُ الرَّجُلَ اِلَى الرَّجُلِ اِذْنُهُ. صحيح. رواه ابوداؤد والبخاری فی الادب المفرد صـ ۲۷۷.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه د نبی علیه السلام نه نقل کوی چه پیغام وړونکے د یوسړی بل ته اجازت دده دے.

فائده : مطلب دادے که یو سړی چا پسے کس اولیګو او هغه دهغه په وینا راشی نو بیا اجازت غوستلو ته ضرورت نیشته.

دتشهد نه روستو دعا

[۱۴۴۳] **الحديث الثالث** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا فَرَغَ اَحَدُكُمْ مِنَ التَّشَهُّدِ الْاٰخِرِ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنْ اَرْبَعٍ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ شَرِّ الْمَسِيْحِ الدَّجَّالِ. صحيح. رواه مسلم. مشكوة ج۱ صـ ۸۷.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کله چه فارغ شی یوکس ستاسو نه د قاعدے آخری نه نو دے دالله نه پناه او غواړی د څلورو څیزونو نه . دعذاب جهنم نه دعذاب د قبر نه دمصیبت او شر د ژوند او مرګ نه او دشر د مسیح دجال نه.

فائده : مانځه کښ دننه دعا غوستل عربیٔ کښ ضروری دی پښتو کښ غوستلو سره به مونځ مات شی لهذا په دے حدیث شریف کښ چه د کومو څیزونو نه د پناه غوستلو ذکر راغلیدے هغه لاندے په څلورم نمبر حدیث کښ د دعا په شکل ذکر دی اوګورئ او یاد ئے کړئ .

د دعائے بالا اهمیت

(۱۴۴۴) **الحدیث الرابع** : عن ابن عباس رضی الله عنه ان النبی ﷺ كَانَ يُعَلِّمُهُمْ هٰذَا الدُّعَاءَ كَمَا يُعَلِّمُ السُّوْرَةَ امن الْقُرْآنَ يَقُوْلُ قُوْلُوا" اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُبِكَ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّمَ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيْحِ الدَّجَالِ وَاَعُوْذُبِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ . رواه مسلم . مشكوة ج۱ ص ۸۷.

ترجمه : ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت دے . چه رسول الله ﷺ به خو دله صحابو [illegible] اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ

دمانځه نه بعد قوم ته مخامخ ناسته پکار ده

[١٤٤٧] **الحديث الثانی** : **عن سمرة بن جندب قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا صَلّٰى صَلٰوةً أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ.** رواه البخاری . مشكوة صـ ٨٧

ترجمه : د سمره بن جندب رضی الله عنه نه نقل دی چه وو رسول الله ﷺ چه کله بې مونځ اوکړو نو متوجه به شو مونږ ته په مخ خپل سره. (یعنی مونږ ته بې مخ راواړولو)

دمانځه نه بعد یوه مسنون دعاء

[١٤٤٨] **الحديث الثالث**: **عن معاذ بن جبل قال اَخَذَ بِيَدِیْ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ إِنِّی لَأُحِبُّكَ يَا مُعَاذُ فَقُلْتُ وَأَنَا أُحِبُّكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ. قَالَ فَلَا تَدَعْ اَنْ تَقُوْلَ دُبُرَ كُلِّ صَلٰوةٍ "رَبِّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ** . صحيح. رواه احمد وابوداؤد والنسائی. مشكوة صـ ٨٨.

ترجمه :معاذ بن جبل نه نقل دی چه اونیوو رسول الله ﷺ لاس زما نو وے فرمائیل اے معاذ ځه د تا سره مینه کوم . ما اووے ځه هم د تاسره مینه کوم اے دالله رسوله نو وے فرمائیل مه پریکده د وئیلو نه روستو دهر مانځه نه دا کلمات " **رَبِّ اَعِنِّیْ عَلٰی ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ**" .

د هرے بیمارے یو دم او د جمعے د ورځے یوه وظیفه

[١٤٤٩] **الحديث الرابع** :**عن عائشةؓ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا مَرِضَ اَحَدٌ مِنْ اَهْلِ بَيْتِهٖ نَفَثَ عَلَيْهِ بِالْمُعَوِّذَاتِ.** رواه مسلم.

ترجمه : د حضرت عائشهؓ نه روایت دے چه کله به دکوریو کس بیمار شو نو رسول الله ﷺ به په هغه باندے درے روستی سورتونه چُپ کول.

فائده : علامه مغربیؒ د عائشهؓ یو روایت نقل کړے دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی ځوك چه د جمعے د مونځ نه روستو اووه (٧) ځله سورة اخلاص، سورة خلق او سورة ناس اولولی نو پناه به ورکړی الله تعالی ده ته تر بلے جمعے پورے د بلا جوړت نه. (رواه ابن السنی. الجامع الشمل ص١٦٨ ج١)د الجامع الشمل تخریج والا وئیلی دی چه ابن حجر وئیلی دی چه دا حدیث سنداً کمزور دے خو ددے یو شاهد مرسل د امام مکحول نه ستہ سعید بن منصور په خپل سنن کښی نقل کړے دے.

خپل مینځ کښ محبت لونے سعادت

[١٤٥٠] **الحديث الخامس** : **عن سمرة قال امرنا رسول الله ﷺ اَنْ نَّرُدَّ عَلَى الْاِمَامِ وَ نَتَحَابَّ وَاَنْ يُّسَلِّمَ بَعْضُنَا عَلٰى بَعْضٍ.** رواه ابوداؤد، و رواه الحاكم فی المستدرك و قال هذا حديث صحيح الاسناد جـ ١ صـ ٢٠٤ صحيح التعليق من تلخيص الذهبی صـ ٩٩٥، مشكوة جـ ١ صـ ٨٨.

ترجمه : دحضرت سمرهؓ نه نقل دی چه امر کړے وو رسول الله ﷺ زمونږ ته چه واپس کړو امام

ته سلام د هغه (یعنی چه دهغه طرف ته سلام کړځوو چه دهغه نیت پکښې اوکړو) او یو بل سره مینه اوکړو او سلام واچوی بعضے ځمونږ نه په بعضے باندے.

الدرس الحادی و التسعون بعدالمأتین ﴿۲۹۱﴾

دزکوة ادائیگی سره دمال شر ختمیگی

[۱٤٥١] **الحدیث الاول** :عن جابرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اَدّٰی زَکٰوةَ مَالِهٖ فَقَدْ ذَهَبَ عَنْهُ شَرُّهٗ. رواه الطبرانی واسناده حسن. بمع الزوائد ص ۱۵۰ ج ۳.

ترجمه : د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی څوك چه ادا کړی زکوة دمال خپل نه نو یقیناً لږ دده نه شر دمال دده یعنی دده مال به دشر نه محفوظ وی.

زکوة نه ادا کول سبب د قحط دے

[illegible] ابْتَلَاهُمُ اللّٰهُ بِالسِّنِیْنَ.

رسول الله ﷺ خپل تندے په زمکه نه وو ایخودے .

فائده : افسوس دے ځمونږه زمانه کښې په دے حدیث خلق عمل نه کوی اکثر امام والا وی او خلق سجدے ته اورسی او دا لویه گناه ده چه ځان سائل ترے ضروری دی .

[١٤٥٥] **الحديث الخامس** عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ أَمَا يَخْشَى الَّذِی يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ أَنْ يُحَوِّلَ اللّٰهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ. متفق عليه. مشكوة جـ ١ صـ ١٠٢

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائی آیا نه یریږی هغه کس چه سرپورته کوی مخکښې دامام نه ددے نه چه بدل به کړی الله سر دده لره په سر د خر. (یعنی چه الله دده سر د خر پشان کړی)

فائده : چه کوم سړے دامام نه مخکښې د مونځ افعال کوی خصوصاً سجده نو خطره ده چه دده شکل مسخ شی.

الدرس الثانی و التسعون بعد المأتين ﴿٢٩٢﴾

دجماعت دپابندی فوائد

[١٤٥٦] **الحديث الاول** : عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ صَلّٰى لِلّٰهِ أَرْبَعِيْنَ يَوْماً فِیْ جَمَاعَةٍ يُدْرِكُ التَّكْبِيْرَةَ الْأُوْلٰى كُتِبَ لَهُ بَرَاءَتَانِ بَرَاءَةٌ مِّنَ النَّارِ وَبَرَاءَةٌ مِّنَ النِّفَاقِ. وقال الألبانی حسن ، سنن الترمذی شاكر جـ ٢ صـ ٧ . مشكوة صـ ١٠٢ .

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائی چا چه مونځ اوکړو دالله د رضا دپاره څلویښت ورځے د جمعے سره په داسے حال کښې چه تکبیر اول ئے رالاندے کوو نو اوبه لیکلے شی ده له دوه براءت تونه (خلاصے) یو براءة د اور نه او بل براءة د منافقت (دو پریق توب نه).

ثبت صفا منزل اسان

[١٤٥٧] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ وُضُوْءَهُ ثُمَّ رَاحَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلُّوا أَعْطَاهُ اللّٰهُ مِثْلَ أَجْرِ مَنْ صَلَّاهَا وَ حَضَرَهَا لَا يَنْقُصُ ذٰلِكَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْئًا. صحيح. رواه ابوداؤد والنسائی. مشكوة جـ١ صـ ١٠٢

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائی چا چه اودس اوکو او بنه اودس ئے اوکړو بیا راغے (جومات) ته نو بیائے موندل خلق چه هغوی مونځ کړے دے نو ورته کړی الله ده ته په شان د اجر دهغه چا چه مونځ ئے اوکړو دجمع سره او حاضر شوے وو جمع ته او نه به کمیګی داجر د دغے جمعے والو نه څه شے هم.

دپنړو دیو قسم استعمال

[١٤٥٨] **الحدیث الثالث** : عن ابن عمر قَالَ رَاَیْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَلْبَسُ النِّعَالَ الَّتِی لَیْسَ فِیْهَا شَعْرٌ. رواه البخاری . مشکوة جـ۲ صـ ۳۷۹

ترجمه : ابن عمر رضی الله عنه فرمائی ما اولیده رسول الله ﷺ په خپو کولے به نے هغه پنړے چه ویښته به پکښ نه وو.

دپنړو استعمال ډیر پکار دے

[١٤٥٩] **الحدیث الرابع** : عن جابر قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ فِی غَزْوَةٍ غَزَاهَا یَقُوْلُ اِسْتَکْثِرُوا مِنَ النِّعَالِ فَاِنَّ الرَّجُلَ لَا یَزَالُ رَاکِبًا مَانْتَعَلَ. رواه مسلم . مشکوة جـ ۲ صـ ۳۷۹

ترجمه : جابر رضی الله عنه فرمائی ما اوریدلی وو درسول الله ﷺ نه په یو غزا کښ چه تلے وو وئیل نے تاسو ډیرے په خپو کوی پنړو له ځکه دے هغه سړے چه پنړے نے په خپو وی سور په سورلی باندے.

د پنړو دایستلو یو ادب

[١٤٦٠] **الحدیث الخامس** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا انْتَعَلَ اَحَدُکُمْ فَلْیَبْدَاْ بِالْیُمْنٰی وَاِذَا نَزَعَ فَلْیَبْدَاْ بِالشِّمَالِ لِتَکُنِ الْیُمْنٰی اَوَّلَهُمَا تُنْعَلُ وَآخِرُهُمَا تُنْزَعُ. متفق علیه. مشکوة جـ ۲ صـ ۳۸۰

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائی کله چه یو تن ستاسو نه پنړے په خپو کوی نو دے د شروع کوی په ښی ښپه او کله چه اوباسی نو شروع دے کوی په کسه ښپه د دے دپاره چه شی ښی خپه اول چه پنړے ته ورځی او آخر د دواړو چه پنړے نه اوځی.

الدرس الثالث و التسعون بعد المأتین ﴿۲۹۳﴾

میلمه دپاره تکلف نه دے پکار

[١٤٦١] **الحدیث الاول** :عن الحسین قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ التَّکَلُّفِ لِلضَّیْفِ. صحیح (الجامع ص ١١٥٩ ج ٢)

ترجمه : د حضرت حسینؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ منع کړے ده د (زیات) تکلف نه دپاره د میلمه.

فائده : د میلمه احترام پکار دے خو دخپل وسع طاقت نه زیات نه (الموانسه) کتاب لیکلی دی چه میلمه د پاره د غوښے خوروا د غنمو روټے او یخی اوبه بهترینه میلمستیا ده .

د خلقو مخکښی هوا خارج کول منع دی

[١٤٦٢] **الحدیث الثانی** :عن جابرؓ قَالَ نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَنِ الضُّرْطَةِ. صحیح (الجامع ص ١١٦١ ج ٢)

ترجمه : د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه منع کړے ده رسول الله ﷺ د هوا خارج کولو نه د خلقو مخکښی.

فائده : مفسرینو لیکلی دی چه دا عادت د قوم لوط د بدو عادتونو نه یو عادت دے چه سړی د خلقو مخکښے هوا خارج کوی.

د سړو د پاره رنګ والا خوشبو منع دی

[١٤٦٣] **الحديث الثالث**: عن انس نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَنْ يَّتَزَعْفَرَ الرَّجُلُ. متفق عليه. مشكوة جـ ٢ ص ٣٨١

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ منع فرمائیلی ده د زعفران لګولو نه د پاره دسړی.

فائده : د سړو د پاره رنګداره خوشبو لګول منع دی رنګداره خوشبو لګول شریعت کښ زنانه د پاره دی لهذا سړے به کریم پوډر نور د زنانو د میکپ اجزاء په ځان نه لګوی دے کښ زنانو سره مشابهت دے چه سړو له منع ده.

په سر تیل لګول

[١٤٦٤] **الحديث الرابع**: عن انس قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُكْثِرُ دَهْنَ رَاْسِهٖ وَ تَسَرُّحَ لِحْيَتِهٖ وَيُكْثِرُ الْقِنَاعَ كَاَنَّ ثَوْبَهٗ ثَوْبُ زَيَّاتٍ . رواه البغوی فی شرح السنة فی باب ترجيل الشعر و تدهينه جـ ١٢ صـ ٨٢، ورواه فی شعب الايمان جـ ٨ صـ ٤٢٨، وله شاهد من رواية سهل بن سعدٍ فی شعب الايمان جـ ٨ صـ ٤٢٩، والمعجم لابن الاعرابی جـ ١ صـ ٣٢٣. مشكوة جـ٢ صـ ٣٨١.

ترجمه : د انس رضی الله عنه نه روایت دے وو رسول الله ﷺ زیات به ئے استعمالول تیل په سر باندے او زیاته ګومنز کوله ګیره خپله او ډیره به ایخوده کپړه لاندے د پتکی نه. (د پاره ددے چه پتکے دتیلو نه شی) ګویا دا کپړا دده کپړه دتیلو د دوکاندار. (اشاره کثرت د تیلو ته)

فائده : خلاصه د حدیث شریف دا ده چه تیل ډیر استعمالول سنت طریقه ده او د توپی او پتکی بیخ کول ترے پکار دی.

د سیکټری امانت دار فضیلت

[redacted] عَلٰى مَا

الدرس الرابع و التسعون بعد المأتين ﴿۲۹٤﴾

دبدن د صفائی وخت

(۱٤٦٦) **الحدیث الاول** : عن انس قَالَ وَقَّتَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ لَنَا فِی قَصِّ الشَّوَارِبِ وَتَقْلِیمِ الْاَظْفَارِ وَنَتْفِ الْاِبْطِ وَحَلْقِ الْعَانَةِ اَنْ لَّا نَتْرُكَ اَرْبَعِیْنَ لَیْلَةً. رواه مسلم . مشکوة جـ ۲ صـ ۲۱۱

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه موده مقرر کړے وه مونږه له په کمولو دبریتانو کښ او په کټ کولو د نوکانو کښ او په اوښکلو دوښتو کښ دترخونو کښ او په خریلو د نامه نه لاندے ویښتو کښ چه دابه نه پریکدو مونږه څلویښت ورځے.

فائده : علماء وائی چه دا صفائی هفته کښ یو ځل پکار ده او د څلویښتو نه زیاتے ورځے پریښودل ئے گناه ده.

کله کله خپے ابله گرځیدل پکار دی

(۱٤٦۷) **الحدیث الثانی** : عن عبدالله بن بریدة قَالَ قَالَ رَجُلٌ لِفَضَالَةَ بْنِ عُبَیْدٍ مَالِی اَرَاكَ ضَعِفًا قَالَ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ كَانَ یَنْهَانَا عَنْ كَثِیْرٍ مِنَ الْاِرْفَاهِ قَالَ مَالِی لَا اَرٰی عَلَیْكَ جِذَاءً قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ یَاْمُرُنَا اَنْ نَّحْتَفِیَ اَحْیَانًا. صحیح. رواه ابوداؤد . مشکوة جـ ۲ صـ ۳۸۲

ترجمه : د عبدالله بن بریده نه نقل دی چه ووے یو سړی فضاله بن عبید ته څه دی ماله چه وینم تاله ببر سړے نو هغه اووے بیشکه رسول الله ﷺ منع کړی وو مونږ دزیات ډول سنگار نه وے وئیل څه وجه ده چه څه تا خپے ابله وینم وے وئیل وو رسول الله ﷺ چه مونږ ته به ئے حکم کوو چه کله کله خپے ابله گرځی.

زیات گډون د حکمران سره د عالم دپاره خه نه دے

(۱٤٦۸) **الحدیث الثالث** : عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا رَاَیْتَ الْعَالِمَ یُخَالِطُ السُّلْطَانَ مُخَالَطَةً كَثِیْرَةً فَاعْلَمْ اَنَّه لِصٌّ. رواه الدیلمی. (جامع الشمل صـ ۱۹٤ جـ ۱، قال الناوی فی فیض القدیر اسناده جید وفی تخریجه قال المناوی اسناده جید ورمز السیوطی لحسنه ولکن ضعفه الالبانی.

ترجمه : د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کله چه اووینے ته یو عالم چه بادشاه سره زیات اختلاط کوی نو پوه شه چه دا غل دے.

فائده : په دے حدیث کښ تنبیه وه چه عالم به د ضرورت نه زیات خلط د بادشاه سره نه کوی عموماً تجربه دا ده چه دے سړه د ده دینداری متأثره کیگی، ملا علی القاری وائی چښ د سفیان ثوریؒ ویناده کله چه ته اوینی عالم چه پناه اخلی د بادشاه سره نوپوه شه چه غل دے او کله

کس دے چه مخکښ شی دښل نه په سلام کښ.

په خپل اهل سلام اچول سبب د برکت دے

[١٤٧٥] **الحديث الخامس**: عن انس انَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ يٰبُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلٰى اَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُوْنُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلٰى اَهْلِ بَيْتِكَ. هذا حديث حسن صحيح غريب . رواه الترمذي. مشكوة جـ ٢ صـ ٣٩٨

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے بچوریه کله چه ته داخلیگے په اهل خپل باندے نو سلام کوه نو وی به برکت په تا او ستا په کوروالا کښ.

الدرس السادس و التسعون بعدالمأتين ﴿٢٩٦﴾

رسول الله ﷺ به تصویر والا کمرے ته نه داخلیدو

[١٤٧٦] **الحديث الاول** : عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ ، انَّ النَّبِيَّ ﷺ لَمَّا رَاَى الصُّوَرَ فِى الْبَيْتِ لَمْ يَدْخُلْ حَتّٰى اَمَرَ بِهَا فَمُحِيَتْ ، وَرَاَى اِبْرَاهِيْمَ ، وَاِسْمَاعِيْلَ بِاَيْدِيْهِمَا الْاَزْلَامُ ، فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ :قَاتَلَهُمُ اللّٰهُ ، وَاللّٰهِ مَا اسْتَقْسَمَا بِالْاَزْلَامِ قَطُّ . رواه البخاري : رقم : ٣١٢٧ .

ترجمه : حضرت بن عباس ؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ کله بیت الله کښ دننه تصویرونه اولیدل نو داخل نه شو تر هغه وخته پورے چه هغه ئے لرے کړو او اولیدل پیغمبر ﷺ تصویر د ابراهیم علیه السلام او تصویر د اسماعیل علیه السلام چه په لاسونو د هغوئی کښ غشے ؤو نو اووئیل نبی ﷺ دا کافران الله تباه کړه دے دواړو چرے په غشو تقسیم نه دے کړے .

فائده : د دے حدیث نه او دارنګ د نورو حدیثونو نه داخبره ثابته ده چه پیغمبر علیه السلام هغه کمرے ته نه داخلیدو چه په کومه کښ به تصویر ؤو ، اوس امت له هم پکار دی چه په دے سنت عمل اوکړی او د تصویر والا کمرے ته نه داخلیږی .

د درد دل یو نمونه

[١٤٧٧] **الحديث الثانى** : عَنْ اَنَسٍ ، انَّ غُلَامًا يَهُوْدِيًّا كَانَ يَضَعُ لِلنَّبِيِّ ﷺ وَضُوْءَهُ وَيُنَاوِلُهُ نَعْلَيْهِ ، فَمَرِضَ ، فَاَتَاهُ النَّبِيُّ ﷺ فَدَخَلَ عَلَيْهِ ، وَاَبُوْهُ قَاعِدٌ عِنْدَ رَاْسِهِ ، فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ ﷺ : يَا فُلَانُ ، قُلْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ، فَنَظَرَ اِلٰى اَبِيْهِ فَسَكَتَ اَبُوْهُ . فَاَعَادَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ ﷺ، فَنَظَرَ اِلٰى اَبِيْهِ ، فَقَالَ اَبُوْهُ : اَطِعْ اَبَا الْقَاسِمِ ، فَقَالَ الْغُلَامُ : اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ، وَ اَنَّكَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ، فَخَرَجَ النَّبِيُّ ﷺ وَهُوَ يَقُوْلُ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ اَخْرَجَهُ بِى مِنَ النَّارِ . ((حديث صحيح . مسند أحمد ط الرسالة .رقم : ١٢٧٩٣))

ترجمه : حضرت أنس ؓ نه روایت دے یو یهودی هلك به رسول الله ﷺ ته د اودس اوبه ایخودے

او پنړے به نے ورکولے نو هغه ناجوړه شو نو راغلو نبی کریم ﷺ د هغه تپوس ته نو داخل شو په هغه او هغه ته پلار سر ته ناست وو نو اووئیل ده ته نبی کریم ﷺ اے فلانکیه دا کلمه اوایا " لا اله الا الله " نو هغه فلار ته اوکتل نو پلار نے چپ شو نو بیا ورته نبی کریم ﷺ دوباره دعوت ورکړو نو هغه بیا پلار ته اوکتل نو پلار ورته اووئیل د ابو القاسم (محمد ﷺ) خبره اومنه نو هلك اووئیل " اشهد أن لا اله الا الله و انك رسول الله " نو اووتلو نبی ﷺ د هغوئی د کور نه اووئیل نے ثنا ده هغه الله لره چه بچ نے کړو ده لره د ځما په وجه د اور د دوزخ نه .

مضمون بالا

[١٤٧٨] **الحديث الثالث** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يُسَلِّمُ الصَّغِيْرُ عَلَى الْكَبِيْرِ وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيْلُ عَلَى الْكَثِيْرِ. رواه البخاری . مشكوة جـ ٢ صـ ٣٩٧.

ترجمه : ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلے دی سلام به کوی ماشوم په لوئے باندے او تيريدونکے په ناست او لږ په ډيرو باندے.

دصدقے عامل خوشحاله رخصت کړی

[١٤٧٩] **الحديث الرابع**: عن جرير بن عبدالله قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا اَتَاكُمُ الْمُصَدِّقُ فَلْيَصْدُرْ عَنْكُمْ وَهُوَ عَنْكُمْ رَاضٍ. رواه مسلم . مشكوة جـ ١ صـ ١٥٦.

ترجمه : جرير بن عبدالله وائی رسول الله ﷺ اوفرمائيل كله چه راشی تاسو ته زكوة يا صدقه اغستونكے نو واپس دے شی تاسو نه په داسے حال كښ چه هغه خوشحاله وی ستاسو نه.

صدقه ورکونکو ته دعا کول ثابت دی

[١٤٨٠] **الحديث الخامس** : عن عبدالله بن ابی اوفیٰ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا اَتَاهُ قَوْمٌ بِصَدَقَتِهِمْ قَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى اٰلِ فُلَانٍ فَاَتَاهُ اَبِی بِصَدَقَةٍ فَقَالَ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى اٰلِ اَبِی اَوْفٰی. متفق عليه . مشكوة جـ ١ صـ ١٥٦

ترجمه : د عبدالله بن ابی اوفیٰ نه نقل دی چه وو رسول الله ﷺ كله چه به راوړله ده ته يو قوم صدقه خپله نو وئيل به اے الله رحم اوكړے په آل د فلانی باندے نو راغے پلار زما په صدقے خپلے سره .(يعنی صدقه نے راوړه) نو وے وئيل اے الله رحم اوكړے په ال د ابی اوفیٰ باندے.

الدرس السابع و التسعون بعدالمأتين ﴿٢٩٧﴾

دتره مقام

[١٤٨١] **الحديث الاول** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَا عُمَرُ اَمَا شَعَرْتَ اِنَّ عَمَّ الرَّجُلِ صِنْوُ

٤٤٦ . والحديث رواه الحاكم في المستدرك و رواه البيهقي في الباب الحادي والعشرين و سكت عنه الحاكم كذا في الشاف لتخريج احاديث الكشاف لابن حجرؒ جـ ٣ صـ ٢٠٢ .

ترجمه : ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اولوستو دا ایت " فمن یرد الله ان یهدیه یشرح صدره للاسلام " نو وے فرمائیل بیشکه رنړا (نور) چه کله داخل شی سینے ته نو دا کولاؤ شی اوونیلے شو اے دالله رسوله ایا شته دے دپره څه نښه چه دا پرے اوپیژندلے شی . وے ونیل آؤ لرمے کیدل د کور ددهوکے نه (یعنی دنیا نه) او راګرزیدل کور د همیشوالی ته (یعنی آخرت ته) او تیارے کول مخکښ د راتلو د مرګ نه.

فائده : حدیث شریف دا خبره په نښه کړه چه د نور د ایمان درے نښے وی یوه چه سړے د مذمومے دنیا نه ځان بچ کړی مذمومه دنیا هغه ده چه د انسان د پاره د الله نه د بعد ذریعه ګرځی دویمه چه د انسان په زړه کښ د اخرت میلان پیدا شی دریمه چه سړے عملًا د اخرت په تیارے کښ اولګی دے د پاره عملی کوشش پکار دے چه مونږه کښ دا نښے راشی او دعا ورله هم پکار ده .

الدرس الثامن و التسعون بعدالمأتين ﴿٢٩٨﴾

د زهریله څیز د تك نه د بچ کیدو دعا

[١٤٨٦] **الحديث الاول** : عن ابی صالح عن رجل مِنْ اَسْلَمَ ، اَنَّهُ لُدِغَ ، فَذَكَرَ ذَالِكَ لِلنَّبِیِّ ﷺ فَقَالَ النَّبِیُّ ﷺ : لَوْ اَنَّكَ قُلْتَ حِيْنَ اَمْسَيْتَ : اَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ، لَمْ تَضُرُّكَ قَالَ سُهَيْلٌ : فَكَانَ اَبِی اِذَا لُدِغَ اَحَدٌ مِنَّا يَقُوْلُ : قَالَهَا فَاِنْ قَالُوا : نَعَمْ ، قَالَ : كَاَنَّهُ يَرَى اَنَّهَا لَا تَضُرُّهُ . (حديث صحيح . مسند احمد ط الرسالة رقم : ٢٣٦٥٠)

ترجمه : حضرت ابو صالح نقل کوی دیو سړی د بنو اسلم قبیلے نه چه هغه ته تك ورکړے شو نو هغه ذکر اوکړو خوږ نبی ﷺ ته نو خوږ نبی ﷺ ورته اوونیل کچرے ته مابنام کښ دا کلمات " أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ " ونیلے وے نو تاته به ضرری څیز تك نه وے درکړے نو ډو ځما پلار کله چه به زمونږه یو کس ته تك ورکړے شو نو ده به تپوس کولو چه دا کلمه ئے ونیلے وه نو که اوبه ونیلے شو چه آو نو ده به اوونیل چه دا به ضرر نه رسوی .

فائده : دے حدیث شریف په نښه کړه چه مندرجه بالا کلمات د ضرری څیز د تك د ضرر نه د بچ کیدو یوه زبردسته ذریعه ده .

څوك په ظاهر سپك مه ګڼه

[١٤٨٧] **الحديث الثانی** : عن ابی هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ رُبَّ اَشْعَثَ مَدْفُوْعٍ بِالْاَبْوَابِ لَوْ اَقْسَمَ

بِاللّٰهِ لَابَرَّهُ. رواه مسلم (مشكوة جـ ٢ صـ ٤٤٦

ترجمه : أبو هريره رضى الله عنه نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلے دى چه كرته يو بيرسرے چه بند كړے شوے وى په دروازو (يعنے كه يو محفل ته راځى نو په دروازه نے څوك نه پريگدى) كچرته دے قسم اوكړى په الله نو هغه الله پوره كوى.

فائده : د حديث شريف حاصل دا شو چه يو سړے په ظاهر غريب او كمزورے ښكارى د هغه خيال ساته كيدے شى هغه د الله تعالى په خوښو بندگانو كښ وى نو تاته به لوئے فائده د هغه په خدمت ملاو شى دا الله تعالى د طرف نه.

د ضعفاء بركت

[١٤٨٨] **الحديث الثالث** : عن مُصْعَبَ بْنِ سَعْدٍ قَالَ رَاٰى سَعْدٌ اَنَّ لَهٗ فَضْلًا عَلٰى من دُوْنِهٖ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ هَلْ تُنْصَرُوْنَ وَ تُرْزَقُوْنَ اِلَّا بِضُعَفَاءِ كُمْ. رواه البخارى. مشكوة جـ ٢ صـ ٤٤٦

ترجمه : د مصعب بن سعد نه روايت دے چه اوليدو سعد چه دده دپاره غوره والے دے (په سخا وغيره) په هغه چا چه ښكته دده نه دى. نو اووے رسول الله ﷺ ستاسو امداد نه شى كولے او تاسو ته رزق نه شى دركولے مگر په كمزورو ستاسو سره.

فائده : حاصل د حديث شريف دا شو چه په كمهڅ معاشره كښ كمزورے خلق وى او د هغوئى خيال ساتلے شى نو دغه معاشره كښ الله تعالى خير او بركت راليږى نو دے حديث كښ د بركت د حاصلولو يو تدبير ذكر شو.

دوزخ كښ د ښځو كثرت

[١٤٨٩] **الحديث الرابع** : عن اسامة بن زيد قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قُمْتُ عَلٰى بَابِ الْجَنَّةِ فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِيْنُ وَاَصْحَابُ الْجِدِّ مَحْبُوْسُوْنَ غَيْرَ ان اَصْحَابَ النَّارِ قَدْ اُمِرَبِهِمْ اِلَى النَّارِ وَقُمْتُ عَلٰى بَابِ النَّارِ فَاِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ. متفق عليه. مشكوة جـ ٢ صـ ٤٤٦

ترجمه : داسامه بن زيد نه نقل دى رسول الله ﷺ فرمائيلے دى څه اودريدم په دروازه د جنت باندے نو وو ټول هغه چه داخليدل مسكينان او مالداران بند كړے شوے وو علاوه داور والا نه يقينا په هغوى حكم كړے شوے وو اورته دتلو او څه اودريدم په دروازه داور نو ډير هغه چه داخلے شوے وے دوزخ ته هغه زنانه وے.

فائده : د حديث شريف نه معلومه شوه چه ښځے به دوزخ ته ډيرے څى بل حديث كښ د دے دوه وجے بيان كړے دى يو دا چه د دوئى د عقل كمزرى ده دويم دا چه د دوئى د دين كمزورى ده نو دوئى له په دے احاديثو كښ خبردارے دے چه څومره تاسو نه كيدے شى نو په اختيارى خوبو سره د غير اختيارى كمزورو تلافى او كړئى.

تعلیم د پاره د نیت نه بغیر د مونځ نقل جائز دے

(۱۴۹۰) **الحدیث الخامس**: عن ابی قلابة قال جاءنا مالك بن الحویرث فی مسجدنا هذا فقال انی لاصلی بکم وما ارید الصلوة اصلی کیف رایت النبی ﷺ یصلی فقلت لابی قلابة کیف کان یصلی قال مثل شیخنا هذا او کان الشیخ یجلس اذا رفع راسه من السجود قبل ان ینهض فی الرکعة الاولی. (رواه البخاری ج۱ ص۹۳)

ترجمه: حضرت ابی قلابه وائی چه راغے مسجد ځمونږ ته مالك بن الحویرث صحابی د رسول الله ﷺ دے مسجد ته نو وے وئیل چه ځه مونځ کوم تاسو او نیت مے د مونځ نه دے ځنګه چه به رسول الله ﷺ مونځ کولو نو راوی وائی چه ما ابو قلابه ته اووئیل چه مالك بن الحویرث ځنګه مونځ کولو نو هغه اووئیل چه په شان د شیخ ځمونږه چه دا دے او دغه شیخ (مراد ترینه عمر بن سلمه دے) چه کله به ئے سر پورته کړو د سجدے نه نو کیبه ناست مخکښے د سجدے نه ږومبی رکعت کښ.

فائده ۱: د صحابی فعل په دین کښ دلیل دے د دے روایت نه ثابته شوه که یو سړے د مونځ د تعلیم دپاره د مونځ نقل بغیر د نیت د مونځ نه کوی نو دا جائز دے دارنګے که ورو ته د مونځ تعلیم ورکوی په جمع یا ځان له د نقل په طریقه نو جائز دے خو یاد لرئی د توقو او د استهزا په طور د چا د مونځ پیښے او نقل کول ګناه ده بلکه د کفر خطره ده.

فائده ۲: یاد لرئی دے حدیث شریف کښ داسے بیان دے چه نبی کریم ﷺ د اوّل رکعت نه پاسیدلو نو لګ به کیناستلو دیته جلسه د استراحت وائی علماء وائی دا نبی کریم ﷺ په اخر عمر کښ کړے ده چه کله ئے بدن مبارك درون شو اوس هم که د یو سړی بدن درون وی راحت د پاره کینی نو جائز ده خو عامو حالاتو کښ تارك اودریدل بهتر دی ځکه په حدیث د ترمذی شریف کښ د زر پاسیدلو ذکر دے.

الدرس التاسع و التسعون بعد المأتین ۲۹۹

د راحت یو سبب

(۱۴۹۱) **الحدیث الاول**: عن ابی هریرة قال قال رسول الله ﷺ اذا نظر احدکم الی من فضل علیه فی المال والخلق فلینظر الی من هو اسفل منه. متفق علیه. وفی روایة لمسلم قال انظروا الی من هو اسفل منکم ولا تنظروا الی من هو فوقکم فهو اجدر ان لا تزدروا نعمة الله علیکم. (مشکوة ج۲ ص۴۴۷. صحیح متفق علیه)

ترجمه: ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کله چه اوګوری یو تن ستاسو نه هغه چاته چه غوره کړے شوے دے په ده باندے په مال سره او په شکل او

صورة سره نو پس اودے گوری هغه چاته چه هغه ښکته وی دده نه. او یو روایت کښ دی د مسلم شریف چه نبی ﷺ فرمائیلے دی اوگوری هغه چاته چه ښکته وی تاسو نه او مه گوری هغه چاته چه هغه بره وی دتاسو نه نو ډیره لائقه ده چه سپك اونه گنړی تاسو نعمت د الله تعالی په ځان باندے.

فائده : په دے حدیث کښ د زندگی د سکون یو تدبیر او طریقه اوخودله چه په دنیا کښ د ځان نه کمزوری ته گوره او په دین کښ ځان نه بهتر ته گوره په دے سره به تاته ډیره فائده کیگی ابن الجوزیؒ په صید الخاطر کتاب کښ وائی چه مالدار سړی سره تعلق مه جوړه وه هغے سره به ستا پریشانی ډیره شی ځکه د هغه سورلی به ستا سورلے نه ښه وی د هغه لونبی به ستا د لونبی نه ښه وی د هغه کور به ستا د کورنه ښه وی نو بیا به ته د هغه سره سیالی کوی نو پریشانه به شی.

دمسکینانو فضیلت

[١٤٩٢] **الحدیث الثانی** : عن انس انَّ النَّبِیَّ قَالَ اللّٰهُمَّ اَحْیِنِی مِسْکِیْنًا وَاَمِتْنِی مِسْکِیْنًا وَاحْشُرْنِی فِی زُمْرَةِ الْمَسَاکِیْنِ فَقَالَتْ عَائِشَةُ لِمَ یَارَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ اِنَّهُمْ یَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ قَبْلَ اَغْنِیَاءِ هِمْ بِاَرْبَعِیْنَ خَرِیْفًا یَا عَائِشَةُ لَا تَرُدِّی الْمِسْکِیْنَ وَلَو بِشِقِّ تَمْرَةٍ یَا عَائِشَةُ اُحِبِّی الْمَسَاکِیْنَ وَقَرِّبِیْهِمْ فَاِنَّ اللّٰهَ یُقَرِّبُكِ یَوْمَ الْقِیٰمَةِ.

(رواه ابن ماجه عن ابی سعید الی قوله فی زمرة المساکین. مشکوة جـ ٢ صـ ٤٤٧ ، وقال البانی صحیح سنن الترمذی ت شاکر جـ ٤ صـ ٥٧٧)

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے الله ماژوند ے اوساتی مسکین او وفات کړے مالړه مسکین او رابورته کړے ما به دله دمسکینانو کښ عائشهؓ اوه ے

له بدکار چه په نعمت کښ وی بیشکه ده د پاره د الله تعالی سره وژونکے دے چه هغه نه مری (اُور) هر کله چه کمیږی گرمایش د هغه مونږه به ئے ورته زیاتی کوو.

فائده : د دے حدیث یو روایت لاندے اُلفاظو سره نقل دے۔

عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا تَغْبِطَنَّ فَاجِرًا بِنِعْمَةٍ فَاِنَّكَ لَا تَدْرِی مَا هُوَ لَاقٍ بَعْدَمَوْتِهٖ اِنَّ لَهٗ عِنْدَاللّٰهِ قَاتِلًا لَا يَمُوْتُ يَعْنِی النَّارُ. رواه فی شرح السنة. مشكوة جـ ٢ صـ ٤٤٧

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی رشك مه کوه د یو فاجر په نعمت بیشکه تاته پته نیشته چه د څه سره ملاویدونکے دے دمرگ نه روسته بیشکه دده دپاره یو قاتل دے چه نه مری یعنی اور.

فائده : د حدیث شریف مطلب دا دے چه د بے دین او کافر په نعمتونو او په مزو مسلمان د پاره خفگان نه دے پکار دا فانی څیزونه دی او الله تعالی سره مسلمان د پاره نه ختمیدونکے نعمتونه دی الله تعالی وائی **"مَاعِنْدَكُمْ يَنْفَدُ وَ مَاعِنْدَ اللّٰهِ بَاقٍ"** هغه چه تاسو سره دی ختم به شی او هغه چه الله تعالی سره دی نه ختمیگی.

دنیا دمومن جیل

[١٤٩٤] **الحديث الرابع** : **عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرٍوؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَسِنَّةُ وَاِذَا فَارَقَ الدُّنْيَا فَارَقَ السِّجْنَ وَالسِّنَّةَ.** رواه فی شرح السنة. مشكوة جـ ٢ صـ ٤٤٧، ورواه مسلم صـ ٣٩٥٦

ترجمه : دعبدالله بن عمرو نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائی دنیا جیل دمومن دے او قحط. دده دے کله چه دے جدا شی د دنیا نه نو جدا شو دجیل نه او د قحط نه.

[١٤٩٥] **الحديث الخامس** : **عن قتادة بن النعمان اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اِذَا اَحَبَّ اللّٰهُ عَبْدًا حَمَاهُ الدُّنْيَا كَمَا يَظَلُّ اَحَدُكُمْ يَحْمِی سَقِيْمَهُ الْمَاءَ.** صحيح. رواه احمد والترمذی. مشكوة جـ ٢ صـ ٤٤٨

ترجمه : قتاده بن النعمان رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی کله چه الله یو بنده سره مینه کوی نو منع کړی ده له دنیا نه. لکه څنگه یو تن ستاسو منع کوی مریض خپل له داوبو نه.

فائده : په دے حدیث شریف کښ د مسلمان او دیندار غریب او فقیر د پاره زبردسته خوشخبری ده چه د ده دا غربت ده سره د الله تعالی د مینے علامت دے.

الدرس ثلاثة مأة ﴿٣٠٠﴾

مرگ دمومن تحفه ده

[١٤٩٦] **الحديث الاول** : **عن محمود بن لبيد اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ اِثْنَتَانِ يَكْرَهُهُمَا ابْنُ آدَمَ يَكْرَهُ الْمَوْتَ وَالْمَوْتُ**

مدرسے دپارہ څه اومنی نو پکار دی چه دجومات یا دمدرسے خادم ورشی چه ادائیگی ورته اوکړی او مایوس نے نه کړی . بل ترینه نه دا هم ثابته شوه چه چنده ورکونکے نه دعاکول شرعا ثابت دی ، علامه خطابی د ابو داؤد د شارح وائی دے حدیثونه ثابته شوه چه بادشاه ظالم سره به په لاس او په اسلحه مقابله نه کیږی (معالم السنن)

دصدقے دعامل فضیلت

(۱۵۰۵) **الحدیث الخامس** : عن رافع بن خدیج قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اَلْعَامِلُ عَلَى الصَّدَقَةِ بِالْحَقِّ كَالْغَازِي فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ حَتّٰى يَرْجِعَ إِلٰى بَيْتِهٖ. صحيح . رواه ابوداؤد والترمذی . مشكوة جـ۱ صـ ۱۵۷

ترجمه : رافع بن خدیج رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی هغه مقرر په صدقه په حقه (یعنی چه په ظلم نے نه وصول کوی او حق وصول کړی زیات نه وصول کوی) په شان د غازی دے په لاره دالله کښ تردے چه واپس شی کورته (یعنی ده له هم دومره ثواب دے څومره چه غازی له دے تر واپس کیدو پورے کورته)

فائده : د دے حدیث نه دا معلومه شوه که یو سړے د یو دینی ادارے یا مسجد د پاره په شرعی طریقه بغیر د څه لالچ نه چنده کوی نو دا سړے هم فی سبیل الله دے .

الدرس الثانی بعد ثلثة مأة ﴿۳۰۲﴾

په نصاب کال تیریدل د زکوٰة شرط دے

(۱۵۰۶) **الحدیث الاول** : عن ابن عمر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ اِسْتَفَادَ مَالًا فَلَا زَكٰوةَ فِيْهِ حَتّٰى يَحُوْلَ عَلَيْهِ الْحَوْلُ. رواه الترمذی وذكر جماعة انهم وقفوه على ابن عمر . مشكوة جـ ۱ صـ ۷۵۱، وقال احمد شاكر صحيح لغيره ترمذی جـ ۲ صـ ۱۶۹، وفی تلخيص الحبير : ضعيف وله شاهد من حديث على لا بأس باسناده والاثار تعضده فيصلح للاحتجاج جـ ۲ صـ ۱۵۰ .

ترجمه : دابن عمر رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی څوك چه حاصل کړی مال له نو دے کښ زکوٰة نشته تردے چه کال په هغے باندے تیر شی.

فائده : یو سړی سره چه نصاب د زکوٰة راشی نو دے به په هغے یو کال بعد زکوٰة ورکوی.

صدقه او زکوٰة دخپل وقت نه مخکښ هم جائز دی

(۱۵۰۷) **الحدیث الثانی** : عن علی اَنَّ الْعَبَّاسَ سَأَلَ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ فِيْ تَعْجِيْلِ صَدَقَتِهٖ قَبْلَ اَنْ تَحِلَّ فَرَخَّصَ لَهٗ فِيْ ذٰلِكَ . رواه ابوداؤد والترمذی وابن ماجه والدارمی . مشكوة جـ۱ صـ ۱۵۷ . حديث حسن و صححه ابن الجارود والحاكم والذهبی .

ترجمه : علی رضی الله عنه نه نقل دی چه عباس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه تپوس اوکړو په تلوار د صدقه کښ مخکښ ددے نه چه کال پرے تیر شی.(یعنی دکال دپوره کیدلو نه مخکښ زکوة ورکولو په باره کښ تپوس اوکړو) نو رسول الله ﷺ ورته اجازت ورکړو.

فائده : علماء وائی که یو سړی سره د یو مال نصاب موجود وی او کال پرے نه دے تیر شوے او دے ترینه زکوة مخکښ ورکول غواړی نو ورکولے شی زکوة به ئے ادا شی چه کال پوره شی بیا به ورکول نه غواړی.

د مانبام سنت کور کښ کول غوره دی

(۱۵۰۸) **الحديث الثالث** : عنْ مَحْمُود بن لبيدٍ أخِي بَنِي عَبْدَ الْأَشْهَل ، قَالَ : أتَانَا رسولُ الله ﷺ فَصَلَّى بِنَا الْمَغْرِبَ فِي مَسْجِدِنَا فَلَمَّا سَلَّمَ مِنْهَا قَالَ : ارْكَعُوا هَاتَيْنِ الرَّكْعَتَيْنِ فِي بُيُوتِكُم لِلسُّبْحَةِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ . (اسناده حسن . مسند احمد ط الرسالة . رقم : ٢٣٦٢٤).

ترجمه : حضرت محمود بن لبیدؓ (چه د بنو عبد الاشهل قبیلے دے) نه روایت دے چه راغلے رسول مونږ ئے اوکړو زمونږه په جومات کښ د مانبام چه سلام ئے اوګرځولو

سِتِّيْنَ سَنَةً. رواه البخاری. مشکوة جـ ۲ صـ ٤٥٠.

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل ختم کړے دے الله عذر د هغه بنده چه اورسوی ده له شپیتو کالو ته.

الدرس الثالث بعد ثلثة مأة ﴿۳۰۳﴾

ډیر گرم طعام نه دی خوړل پکار

[۱۵۱۱] **الحدیث الاول** : عَنْ اَسْمَاءَ بِنْتِ اَبِیْ بَکْرٍ ، اَنَّهَا کَانَتْ اِذَا قُرِّبَتْ ، غَطَّتْهُ شَیْئًا حَتّٰی یَذْهَبَ فَوْرُهُ ، ثُمَّ تَقُوْلُ : اِنِّی سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ یَقُوْلُ : اِنَّهُ اَعْظَمُ لِلْبَرَکَةِ . ((حدیث حسن ، مسند احمد ط الرسالة جـ ٤٤ صـ ٥٢١))

ترجمه : حضرت أسماء بنت أبو بکرؓ نه نقل دی چه کله به دے روتی خوروا کښی ماته کړه نو لګ ساعت به ئے پټه کړه تر دے چه هغه زیات ګرم والے به ئے ختم شو ، بیا به دے وئیل چه ما اوریدلے دی د رسول الله ﷺ نه فرمائیل ئے چه دا لونے سبب دے د برکت د پاره .

فائده: د دے مضمون یو روایت د حضرت ابن عمرؓ نه هم نقل دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی یخ کړئی طعام ځکه ګرم کښی برکت نه وی. (ترمذی)

ددے امت د عمرونو عمومی مقدار

[۱۵۱۲] **الحدیث الثانی** : عن ابی هریرة عَنِ النَّبِیِّ ﷺ قَالَ عُمُرُ اُمَّتِی مِنْ سِتِّیْنَ سَنَةً اِلٰی سَبْعِیْنَ. حسن رواه الترمذی وقال هذا حدیث غریب . مشکوة صـ ٤٥٠

ترجمه : ابو هریره رضی الله عنه نه نقل دی چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل چه عمر دامت څه دشپیتو نه واخله تر اویا کالو پورے دے(یعنی ددے په مینځ کښی اوسط عمر دے.او ددے نه زیاتیدے او کمیدے هم شی.)

ددے امت داصلاح سبب

[۱۵۱۳] **الحدیث الثالث** : عن عمرو بن شعیب عَنْ اَبِیْهِ عَنْ جَدِّهٖ اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ اَوَّلُ صَلَاحِ هٰذِهِ الْاُمَّةِ اَلْیَقِیْنُ وَالزُّهْدُ وَ فَسَادُهَا الْبُخْلُ وَالْاَمَلُ. صحیح. رواه البیهقی فی شعب الایمان. مشکوة جـ۲ صـ ٤٥٠

ترجمه : عمرو بن شعیب دخپل پلار نه او هغه د نیکه دده نه نقل کوی چه نبی ﷺ فرمائیلے دی اَوّل ښه والے ددے امت یقین دے(په قیامت) او بے رغبتی ده (ددنیا نه) او اول خرابے ددے امت بخل دے او امیدونه دی.

نیك عمل په توفیق الهی

[۱۵۱٤] **الحدیث الرابع**: عن انس اَنَّ النَّبِیَّ ﷺ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰی ﷻ اَرَادَ بِعَبْدٍ خَیْرًا اِسْتَعْمَلَهٗ فَقِیْلَ وَکَیْفَ

يَسْتَعْمِلُهُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ يُوَفِّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ. صحیح. رواه الترمذی مشکوة ج ۲ ص ۴۵۱

ترجمه : انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلے دی چه بیشکه الله تعالیٰ کله اراده دخیر اوکړی یو بنده له نو هغه له عمل کونکے اوګرزوی نو اووئیلے شو څه رنګه عمل کونکے اوګرځوی اے دالله رسوله ﷺ ؟ نو نبی علیه السلام اوفرمائیل ده له توفیق

یو ایت چه دتول ژوند دپاره کافی دے

الحديث الثاني : عَنْ أَبِي ذَرٍّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ إِنِّي لَأَعْلَمُ آيَةً لَوْ أَخَذَ النَّاسُ بِهَا لَكَفَتْهُمْ وَمَنْ يَتَّقِ

دنیا کښې خوشخبری

[۱۵۲۰] **الحدیث الخامس**: عن ابی ذر قَالَ قِيْلَ لِرَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ اَرَءَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنَ الْخَيْرِ وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ وَفِي رِوَايَةٍ يُحِبُّهُ النَّاسُ عَلَيْهِ قَالَ تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ. رواه مسلم. مشكوة جـ ۲ صـ ٤٥٤.

ترجمه: دابوذر رضی الله عنه نه نقل دی چه اووئیلے شو رسول الله ﷺ ته خبر راکړه په باره دهغه سړی کښې چه نیك عمل کوی او دهغه تعریف کوی خلق په دے باندے او په یو روایت کښې دی چه مینه کوی خلق دده سره په دے اووے نبی علیه السلام دا نقده خوشحالی د مومن دپاره (ده هر چه کوم بیا ملاویدونکے ده نو هغه باقی ده آخرت ته)

فائده: د دے حدیث شریف او د نورو روایاتو نه د معلومیږی چه کوم سړے عام خلق د نیکے د وجے صفت کوی نو دا ده سره د الله تعالی د محبت کولو سبب دے.

الدرس الخامس بعد ثلثة مأة ﴿۳۰۵﴾

ددنیا هرے ترقی له زوال دے

[۱۵۲۱] **الحدیث الاول**: عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لِكُلِّ شَيْءٍ شِرَّةٌ وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةٌ فَاِنْ صَاحِبُهَا سَدَّدَ وَقَارَبَ فَارْجُوْ وَاِنْ اشِيْرَ اِلَيْهِ بِالْاَصَابِعِ فَلَا تَعُدُّوْهُ. صحيح. رواه الترمذی. مشكوة جـ۲ صـ٤٥٥

ترجمه: د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے رسول الله ﷺ فرمائیلے دی دهر یو څیز دپاره تیزی ده او دهرے تیزے دپاره کمزورتیاده پس کچرته خاوند ددے په صحیح لاره روان شو او ځان ئے مقصد ته (چه رضا دالله ده)اوورسونو امید کوی. ددے باره کښې (چه کامیاب شو) او که ده ته اشارے کیگی په ګوتو (او دتکبر شکار شو) نو مه شمیره ده لره (کامیاب)

مشارٌ الیه کرځیدل خطرناك دی

[۱۵۲۲] **الحدیث الثانی**: وعن انس عن النبی ﷺ قَالَ بِحَسْبِ امْرِءٍ ی مِنَ الشَّرِّ اَنْ يُّشَارَ اِلَيْهِ بِالْاَصَابِعِ فِیْ دِيْنٍ اَوْ دُنْيَا اِلَّا مَنْ عَصَمَهُ اللّٰهُ. رواه البيهقی فی شعب الايمان. مشكوة جـ ۲ صـ ٤٥٥

ترجمه: انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ فرمائیلی دی کافی دی دیو سړی دپاره د بدی نه داچه اشاره اوشی ده ته په ګوتو په دین کښې او یا په دنیا کښې مګر هغه څوك چه الله ئے بچ اوساتی.

فائده: د حدیث شریف حاصل دا دے چه کوم سړے د دین په میدان کښې یا د دنیا په میدان کښې شهرت حاصل کړے او خلق ورته اشارے کوی چه دا سړے ډیر په بره لاړلو نو دا سړے په خطرناك ډګر اودریدلو یو طرف کیدے شی د بد نظرے شکار شی بل طرف ته د حاسدانو د پیدا

کیدو خطره هم شته چه ده د پاره به کنده گوری دریمه دا چه چه کښ د تکبیر د پیدا کیدو هم خطره ده چه هغه د ده د پاره د یباهی ذریعه ده بهر حال ده د پاره اوس د ډیر احتیاط ضرورت دے .

دنیکانو صفات

[۱۵۲۳] **الحدیث الثالث** : عن معاذ بن جبل قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ يَقُوْلُ إِنَّ يَسِيْرَ الرِّيَاءِ شِرْكٌ وَمَنْ عَادَى لِلّٰهِ وَلِيًّا فَقَدْ بَارَزَ اللّٰهَ بِالْمُحَارَبَةِ إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْأَبْرَارَ الْأَتْقِيَاءَ الْأَخْفِيَاءَ الَّذِيْنَ إِذَا غَابُوا لَمْ يُتَفَقَّدُوا وَإِنْ حَضَرُوا لَمْ يُدْعَوا وَلَمْ يُعْرَفُوْا قُلُوْبُهُمْ مَصَابِيْحُ الْهُدٰى يَخْرُجُوْنَ مِنْ كُلِّ غَبْرَاءَ مُظْلِمَةٍ . رواه ابن ماجه والبيهقي في شعب الايمان ٦٨١٢، ضعيف و رواه الطبراني جـ ٥ صـ ١٦٢ رقم ٤٩٥٠ و اسناده حسن، مشكوة جـ ٢ صـ ٤٥٥،

ترجمه : دحضرت معاذ بن جبل نه روایت دے وائی ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلے دی فرمائیل ئے بیشك لږه ریا (په عمل خرابولو کښ په منزله) دشرك ده او څوك چه دالله تعالیٰ د دوست سره دشمنی کوی نو یقیناً ده اعلان اوکړو الله تعالیٰ ته دمقابلے .بیشك الله تعالیٰ مینه کوی دنیکانو پرهیزګارانو پتو سره هغه کسان چه غائب شی نو څوك ئے تپوس نه کوی او که

محنت کښ عزت دے

[۱۵۳۵] **الحديث الخامس** :عن الزبير بن العوامؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَاَنْ يَّاْخُذَ اَحَدُكُمْ حَبْلَهٗ فَيَاْتِيَ بِحُزْمَةِ حَطَبٍ عَلٰى ظَهْرِهٖ فَيَبِيْعَهَا فَيَكُفَّ اللّٰهُ بِهَا وَجْهَهٗ خَيْرٌ لَّهٗ مِنْ اَنْ يَّسْاَلَ النَّاسَ اَعْطَوْهُ اَوْ مَنَعُوْهُ. (رواه البخاری،مشکوة جـ۱ صـ۱۶۲)

[redacted]

د غيبت انجام



داجر دعمل نو ما اوئيل ما كار كړے دے دالله درضا دپاره او ځما اجر په الله دے نو وے وئيل واخله هغه چې تا ته دركولے شى بيشكه څه چې وم ما كار كړے وو (راغوندولو دزكوٰة) په زمانه درسول الله ﷺ كښې نو ماته مزدورى دكار راكړه ،نو ما ورته اووے په شان دوينا ستا نو ماته ئې ا ووئيل رسول الله ﷺ كله چې دركړے شى تا ته يو شئى بغير ددې نه چې ته وغواړې نو وخوره هغه او صدقه كړه.

فائده: چه بے طمع او بے سواله څه شى ملاو شى نو اغستلو كښې حرج نشته ځكه دا نعمت دے او چه نعمت ملاو شو نو بيا پكښې مخوكه سنډول نه دے پكار.

بخيل ته فرښتې خبرې كوى

[١٥٤٠] **الحديث الخامس**:عن ابى هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ الْعِبَادُ فِيْهِ اِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُوْلُ اَحَدُهُمَا اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفاً وَيَقُوْلُ الْاٰخَرُ اَللّٰهُمَّ اَعْطِ مُمْسِكاً تَلَفاً.(متفق عليه،مشكوة ج١ص١٦٤)

ترجمه: دابو هريرةؓ نه روايت دے رسول الله ﷺ فرمائيلے دى نيشته يوه ورځ چې صبا كوى په هغې كښې بندگان مگر دوه فرښتې راكوزيږى نو وائى يو ددے دواړو نه اے الله وركړے خرچ كوونكى ته بدله دمال(چې كوم ې خرچ كړے دے) او بله وائى اے الله وركړے بندونكى دمال ته(بخل كوونكى ته) هلاكت دمال(وغيره).

الدرس التاسع بعد ثلثة مأة ٣٠٩

چے څۀ كړے هغه به ريبے

[١٥٤١] **الحديث الاول** :عن ابى هريرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى اَنْفِقْ يَا بْنَ آدَمَ اُنْفِقْ عَلَيْكَ.(متفق عليه،مشكوة ج١ص١٦٤)

[redacted] حې الله تعالىٰ

ترجمه : د حضرت ابو امامهؓ نه روایت دے چې رسول اللهﷺ فرمائیلے دی اے دآدمؑ ځویه که ته خرچ کړے (دضرورت نه)زیاتی مال د الله تعالی په لار کښ دا غوره دی تاله او بندول دهغې دا بد دی ستا دپاره او تهٔ نهٔ شې ملامته کولے په قوت لا یموت باندے او رومبے شروع اوکړه په خرچ کولو کښ په هغه چا چې ستا په عیال کښې وی (یعنی شرعاً دهغوی خرچه ستا په ذمه وی)

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه د ضرورت په ځائے مال لګول ګټه ده او نه لګول بخل کول تاوان دے.

صدقه په ژوند بهتره ده

[۱۵٤۳] **الحدیث الثالث** :عن ابی سعید ن الخدریؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَأَنْ یَتَصَدَّقَ الْمَرْءُ فِیْ حَیٰوتِهٖ بِدِرْهَمٍ خَیْرٌلَهٗ مِنْ اَنْ یَتَصَدَّقَ بِمِائَةٍ عِنْدَ مَوْتِهٖ. (رواه ابو داؤد جـ ٤ صـ ٤٨٩ ٢٨٦٦ ،و اسناده حسن صحیح ابن حبان ٣٣٣٤ مشکوة جـ١ صـ١٦٥).

ترجمه : د حضرت ابو سعید خدریؓ نه روایت دے چې رسول اللهﷺ فرمائیلے دی چې صدقه اوکړی یو سړے په ژوند خپل کښې په یو درهم سره دا بهتر دی دهٔ لره ددے نه چې صدقه اوکړی په وخت دمرګ کښ سل درهمه.

[۱۵٤٤] **الحدیث الرابع** :عن ابی الدرداءؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَثَلُ الَّذِی یَتَصَدَّقُ عِنْدَ مَوْتِهٖ اَوْ یُعْتِقُ کَالَّذِی یُهْدِی اِذَا شَبِعَ .(رواه احمد والنسائی والدارمی والترمذی و قال صحیح،مشکوة ج١ص١٦٥)

الدرس العاشر بعد ثلثة مأة ﴿۳۱۰﴾

دالله تعالیٰ دمحبت مستحق خلق

[۱۵٤٦] **الحدیث الاول** : عن عبادة بن صامت قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ يَقُوْلُ حَقَّتْ مَحَبَّتِيْ لِلْمُتَحَابِّيْنَ فِيَّ وَحَقَّتْ مَحَبَّتِيْ لِلْمُتَوَاصِلِيْنَ فِيَّ وَحَقَّتْ لِلْمُتَنَاصِحِيْنَ فِيَّ وَحَقَّتْ مَحَبَّتِيْ لِلْمُتَزَاوِرِيْنَ فِيَّ وَحَقَّتْ مَحَبَّتِيْ لِلْمُتَبَاذِلِيْنَ فِيَّ اَلْمتحابُّوْنَ فِيَّ على مَنَابِرَ مِنْ نُوْرٍ يَغْبِطُهُم بِمَكَانِهِمُ النَّبِيُّوْنَ وَالصِّدِّيْقُوْنَ وَالشُّهَدَاءِ .(صحیح)"الجامع ص۷۹٦ج۲"

ترجمه : دحضرت عباده بن صامتؓ نه روایت دے چی رسول الله ﷺ وئیلے دی بیشك الله تعالیٰ وائی ثابت دے محبت ځما دهغهٔ چا دپاره چی مینه کوی یو بل سره زما دوجے ، او ثابت دے محبت زما دهغهٔ چا دپاره چی جوړ ساتی یو بل سره زما دوجے،

او ثابت دے محبت زما دهغهٔ چا دپاره چی خیر خواهی لهری دیوبل زما دوجے ،او ثابت دے محبت زما دهغهٔ چا دپاره چی ملاقات کوی دیو بل سره زما دوجے او ثابت دے محبت زما دهغهٔ چا دپاره چی خرچ کوی په یوبل باندے زما دوجے.او هغه کسان چه مینه کوی یو بل سره ځما درضا د پاره نو دوئی به د قیامت په ورځ د رنړا په منبرانو ناست وی رشك به کوی په دوئی باندے پیغمبران صدیقین او شهداء .

قتل لوئے جرم دے

[۱۵٤۷] **الحدیث الثانی** : عن بريدةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَتْلُ الْمُؤْمِنِ اَعْظَمُ عِنْدَاللّٰهِ مِنْ زَوَالِ الدُّنْيَا (صحیح)"الجامع ۸۰٤ج۲"

ترجمه : دحضرت بریدهؓ نه روایت دے چی رسول الله ﷺ وئیلے دی وژل دمؤمن د الله په نزد لویه حادثه ده دختمیدو د دنیا نه.

دعلم لیکل پکار دی

[۱۵٤۸] **الحدیث الثالث** :عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ قَيِّدُوا الْعِلْمَ بِالْكِتَابِ. (صحیح)"الجامع صـ۸۱٦جـ۲"

ترجمه : دحضرت انسؓ نه روایت دے چی رسول الله ﷺ وئیلے دی بند(محفوظ) کړئ علم په لیکلو سره.

فائده : ځوك چه علم ازده کوی قرآن حدیث چا سره وائی هغه له پکار دی چه یوه کاپی اوساتی او په هغے کښ ضروری خبرے لیکی او محفوظ کوی دارنګ چه مطالعه کوی د هغے نه هم

خپلے کاپی کښی ضروری خبرے نوټ کوی ۔ ضرورت په وخت به بیا په آسانے سره ملاویگی.

دقرآن کریم دملگرتیا فوائد

(۱۵۴۹) **الحدیث الرابع** :عن ابن مسعودؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ اَلْقُرْآنُ شَافِعٌ مُشَفَّعٌ وَمَاحِلٌ مُصَدَّقٌ مَنْ جَعَلَهُ اَمَامَهُ قَادَهُ اِلَى الْجَنَّةِ وَمَنْ جَعَلَهُ خَلْفَهُ سَاقَهُ اِلَى النَّارِ.(صحیح)"الجامع ص ۸۱۸ ج۲"

ترجمه : دحضرت ابن مسعودؓ نه روایت دے رسول الله ﷺ وئیلے دی چی قرآن شریف شفارس کوونکے دے شفارس قبول کړے شوے دے او جګړه کوونکے دے (دخپل قاری دپاره) تصدیق کړے شوے دے (یعنی دده خبره منلے شی) څوك چی دے خپل راهنما اوګرځوی رابه کاګی هغه لره جنت ته او څوك چی اوګرځوی دے لره روستو نو رابه کاګی دۀ لره اور ته.

فائده : دے حدیث شریف کښی د قرآن شریف د ملګرتیا دا فائده ذکر شوه چه قرآن به د خپل ملګری یعنی د خپل لوستونکی د پاره به سفارس کوی او د ده سفارش به قبلیږی هغه الله تعالی نه رد کوی او دویمه فائده دا ده چه قرآن شریف به خپل قاری جنت ته راکاږی او جنت ته به ئے بوزی سبحان الله دا څومره غټه فائده ده.

ترکانړی دپیغمبرانو ثابت ده

(۱۵۵۰) **الحدیث الخامس**: عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ ﷺ کَانَ زَکَرِیَّا نَجَّارًا.(صحیح)"الجامع ص ۸۲۱ ج۲"

ترجمه : دحضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی چه زکریاعلیه السلام ترکانړ وو.

فائده : د حدیث شریف نه معلومه شوه چه د ترکانړی پیشه د پیغمبرانو نه ثابته او دے ته سپك کتل ښه نه دی

الدرس الحادی عشر بعد ثلثة مأة ﴿۳۱۱﴾

دسجدے دعاګانے

(۱۵۵۱) **الحدیث الاول** :عن ابی هریرةؓ قَالَ کَانَ النَّبِیُّ ﷺ یَقُوْلُ فِی سُجُوْدِهٖ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی ذَنْبِی کُلَّهٗ دِقَّه وَجُلَّهٗ وَاَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ وَعَلَانِیَتَهٗ وَسِرَّهٗ. رواه مسلم.

ترجمه : دحضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے وائی چی وو نبی ﷺ وئیل به ئے په سجده کښی اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی ذَنْبِی کُلَّهٗ دِقَّه وَجُلَّهٗ وَاَوَّلَهٗ وَاٰخِرَهٗ وَعَلَانِیَتَهٗ وَسِرَّه .اے الله او بخښے گناهونه څما تول واړه لوے او ړومبی روستو او ښکاره پټ.

(۱۵۵۲) **الحدیث الثانی** :عن عائشة رضی الله عنها قَالَتْ فَقَدْتُ رَسُوْلَ اللّٰہِ ﷺ فَالْتَمَسْتُهٗ فَوَقَعَتْ یَدِیْ عَلٰی بَطْنِ قَدَمَیْهِ وَهُوَ فِی الْمَسْجِدِ وَهُمَا مَنْصُوْبَتَانِ وَ هُوَ یَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَ

بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ وَأَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ لَا أُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَىٰ نَفْسِكَ. رواه مسلم

[redacted] عائشهؓ نه روایت دے چه بیا نه موندو ما یوه شپه رسول الله ﷺ په بستره

الدرس الثانی عشر بعد ثلثة مأة ﴿۳۱۲﴾

مړ اولاد له هم نوم اینبود پکار دی

[۱۵۵۶] **الحدیث الاول**: عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَمُّوْا أَسْقَاطَكُمْ فَإِنَّهُمْ مِنْ أَفْرَاطِكُمْ. رواه ابن مساکر (جامع الشمل ص ۱۲٤ ج ۱) وفی تخریجه رمز السیوطی لحسنه.

ترجمه: د حضرت ابو هریرةؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی نوم کیدئی مړو بچو د پاره دا به تاسو ته د قیامت په ورځ لار سمه ونکی وی.

[۱۵۵۷] **الحدیث الثانی**: عن انسؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ سَمُّوْا السِّقْطَ يُثْقِلُ اللّٰهُ بِهِ مِيْزَانَكُمْ فَإِنَّهُ يَأْتِيْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ يَقُوْلُ اَیْ رَبِّ اَضَاعُوْنِی فَلَمْ يُسَمُّوْنِیْ. رواه میسرة فی مشیخه (جامع الشمل ص ۱۲٤ ج ۱) وفی تخریجه رمز السیوطی لحسنه.

تَفَاءَبَ اَحَدُكُمْ فَلْيَكْظِمْ مَا اسْتَطَاعَ . رواه الترمذی وفی اخری له ولابن ماجه فَلْيَضَعْ يَدَهُ عَلَى فِيْهِ . مشکوة ص ۹۱ ج ۱. وقال الترمذی حسن صحیح ورواه ابن حبان فی صحیحه " مرقاة "

ترجمه : دحضرت ابو هریرهؓ نه روایت دے چې رسول الله ﷺ وئیلے دی چې اسویلے په مانځه کښې دشیطان دطرف نه دی کله چې یو ستاسو نه اسویلے کوی نو دفع دے کړی خومره چې ئے طاقت وی.دا حدیث روایت کړے دے ترمذی او بل روایت دترمذی او ابن ماجه کښې رازی چې په خله دے لاس کیدی.

فائده : دحدیث شریف او دوینا دعلماء نه ظاهر داده چې اسویلے دشیطان نه په حال دعبادت کښې وی صرف مانځه کښې نهٔ ذکردمونځ دے دپاره دے چې دے کښې اسویلے زیات قبیح دے.او شیطان ته نسبت ځکه کیږی چې داسویلو اسباب دخیتے ډك والے ،درون والے دزړهٔ سخت والے ،دخوب غلبه ددهٔ دطرف نه وی.(مرقاة)

مونځ کښې په کوم ځائے ته ګورے

[۱۵۶۰] **الحديث الخامس** :عن انس انَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ يَا اَنَسُ اجْعَلْ بَصَرَكَ حَيْثُ تَسْجُدُ . "رواه البيهقی فی سننه مشکوة ص ۹۱ ج ۱ قال ابن حجر وله طرق تقتضی حسنه(مرقاة)

ترجمه :دحضرت انسؓ نه روایت دے چې رسول الله ﷺ ماته اوفرمائیل اے انسهٔ اوګرځوه سترګے خپلے هغه ځائے ته چې ته پرے سجده کوے یعنی مانځه کښې دسجدے ځائے ته ګوره.

فائده : علامه طیبیؒ وائی مستحب دی چې مونځ کونکے په قیام کښې دسجدے ځائے ته ګوری او په رکوع کښې شاه د قدمونو ته او په سجده کښې پوزی ته او په قاعده کښې غیګے ته.(طیبی) او طواف کونکی له سنت دی چې دے خپلے مخے ته دتلو ځائے ته ګوری ځکه داداسے ادب دے چې دی سره اجتماع دزړهٔ حاصلیږی.(مرقاة)

دقیامت دمیدان سورے صدقه ده

[١٥٦٢] **الحديث الثاني** :عن عقبه بن عامر قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ كُلُّ امْرِإٍ فِي ظِلِّ صَدَقَتِهٖ حَتّٰى يُقْضٰى بَيْنَ النَّاسِ.صحيح "الجامع ج٢ص ٨٣٠"

دزمزم داوبو تحفه ورکول ثابت دی

[۱۵۸۰] **الحدیث الخامس** : عن ابن عباسؓ انَّ النَّبِیَّ ﷺ کَانَ اِذَا اَرَادَ اَنْ یُّتْحِفَ الرَّجُلَ بِتُحْفَةٍ سَقَاهُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ. اسناده صحیح (العقد الثمین ص ۹۲ ج ۱)

ترجمه :د حضرت ابن عباسؓ نه نقل دی چه نبی ﷺ به کله اراده اوکړه چه تحفه ورکړی یو سړی ته قیمتی تحفه نو دزمزم اوبه به ئے پرے اوځکلے.

الدرس السابع عشر بعد ثلثة مأة ﴿۳۱۷﴾

دحسن خلق فضیلت

[redacted]

علماء سورى دى

(١٥٨٤) **الحديث الرابع** عن انس بن مالك يَقُوْلُ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِنَّ مَثَلَ الْعُلَمَاءِ فِى الْاَرْضِ كَمَثَلِ نُجُوْمِ السَّمَاءِ يُهْتَدٰى بِهَا فِى ظُلُمَاتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ فَاِذَا انْطَمَسَتِ النُّجُوْمُ يُوْشِكُ اَنْ تَضِلَّ الْهُدَاةُ. رواه الاجرى فى اخلاق العلماء ص ٢٩ ورواه الخطيب فى الفقيه ص ٧٠ والمنذرى فى الترغيب

ترجمه [redacted] مكه

من الاحاديث النبوية

فائده : دے حدیث کښې بیان د تعزیر دے دا هغه سزا ده چې شریعت دهغې اندازه نه ده خودلے او حاکم ته ئې حواله کړے ده او په دے حدیث کښې ترغیب دے چې دلسو کورونه دزیات نه وی یوه خبره دا ذهن کښې اینبودل پکار دی ماشومانو لره جسمانی سزا کښې احتیاط پکار دے بعضے فقهاء دماشوم دتنبیه دپاره دري هلکي هلکي (سپکے سپکے) لختې دوهلو جواز وئیلے دے په نیت دتادیب باندے ځکه وائی چې ماشومانو کښې دمار (وهلو)په ځائے پیار(محبت) ښه کار او اثر کوی ما دخپلو بعضے استاذانو اوریدلی دی چې مفتی شفیع صاحب به وئیل چې ماشوم ته جسمانی سزا ورکول خطرناك دي وجه ئې هم دا ده چې دهغې [illegible] ځۀ طریقه بیا ئۀ کیږی لهذا قاریان صاحبان او دسکول استاذان صاحبانو له دي باره

ضروری دے تجربه کار بزرگان وائی چه حافظ قرآن د پاره د ورځے پنځه پارے تلاوت ضروری
د ے دومنه به یاد قرآن شریف نه هیریږی.

من الأحاديث النبوية



د روژه ماتی وخت

[١٦٢٤] **الحديث الرابع** :عن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا أَقْبَلَ اللَّيْلُ مِنْ هٰهُنَا وَأَدْبَرَ النَّهَارُ مِن هٰهُنَا وَغَرَبَتِ الشَّمْسُ فَقَدْ أَفْطَرَ الصَّائِمُ. صحيح (الجامع ج ١ ص ١٢٧)

ترجمه : د حضرت عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی کله چه شپه د نمر خاته نه راشی او ورځ قبلے طرف ته په شاشي نو د روژه ماتی وخت داخل شو.

فائده : مطلب دادے چه شپه یقیناً داخله شی نو بیا روژه ماتول پکار دی.

[illegible] کوں سبب د عذاب دے

فائده ۳: کتابونه لیکلو دا یو اسلامی ادب دے چه د دے نظیر په نورو اُمتونو کښ نشته پس
اب (پلان) یا

اودرگونونه به ئے وینے بهیږی (فریادبه کوی) چه اے زماپروردگاره ده څه قتل کړے یم تردے چه قاتل به عرش الهی ته نزدے ورولی.

د الله تعالی فیصلے مؤمن د پاره تولے د خیر دی

[١٦٤٧] **الحديث الثانی** : عنْ أنس بن مالك قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ عَجَبًا لِلْمُؤْمِنِ لَا يَقْضِى اللّٰهُ لَهُ شَيْئًا إِلَّا كَانَ خَيْرًا لَهُ . (رواه احمد فی مسنده جـ ٥ صـ ٢٤ ، صحيح السلسلة جـ ١ صـ ٢٧٧ .

ترجمه : حضرت أنس بن مالك وائی چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه نا آشنا شان د مؤمن دے فیصله نه کوی الله تعالی د یو شی د ده د پاره مگر هغه د ده د پاره د خیر وی .

دخودکشی سزا

[١٦٤٨] **الحديث الثالث** :عن ابی هريرةؓ رضی الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَن تَرَدّٰى مِنْ جَبَلٍ فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَهُوَ فِى نَارِ جَهَنَّمَ يترڈی فِيْهَا خَالِداً مُخَلَّداً فِيْهَا اَبَداً وَمَنْ تَحَسّٰى سما فَقَتَلَ نَفْسَهُ فَسَمه فِىْ يَدِهِ يَتَحَسَّاهُ فَحَدِيْدَتُهُ فِى يَدِهِ يَجَأُ بِهَا فِى بَطْنِهِ فِى نَارِ جَهَنَّمَ

فائده : دا روایات علماء په زجر او تغلیظ باندے حمل کوی او یا دا روایات **دهغه** چاباره کښ دی چه **هغه** دا کارونه جائزاو حلال گنړی ځکه په دے اجماع ده چه **همیشه همیشه** به د دوزخ په اور کښ صرف کافر وی او د گناهونو مرتکب به اخر کښ دعمل سزا ځکلونه پس بهر اوځی.

دوزخیان به په وینو ژاړی

اَلْزَمْهُمَا مِنْكَ بَابًا. رواه البخاری (مشکوة ص ۱۷۱ ج ۱)

ترجمه : د حضرت عائشهؓ نه روایت دے دے اووئیل چه یا رسول الله ﷺ بیشك ځما دوه گوانډیان دی نو کوم یو ته هدیه ورکړم هغوئی اوفرمائیل چه دکم یو دروازه تاته نزدے ده.

فائده : حدیث شریف نه معلومه شوه چه د نزدے گاونډی حق په احسان کولو کښ مخکښ دے بل په حدیث شریف کښ د نزدے گاونډی مفهوم هم بیان شو هغه دا چه د کوم گاونډی دروازه نزدے وی نو هغه گاونډی ته نزدے گاونډی وائی.

الدرس الثالث والثلثون بعد ثلثة مأة ﴿۳۳۳﴾

اسلامی مساوات

[۱۶۶۱] **الحدیث الاول** :عن عائشة قالت قال رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِنَّمَا اَهْلَكَ الَّذِيْنَ قَبْلَكُم اَنَّهُمْ كَانُوا اِذَا سَرَقَ

سُقُوطِ الشَّمْسِ بَادِرُوا بِهَاطُلُوعَ النَّجْمِ. صحيح الجامع جـ٢صـ٧٠٥



فائده : د صبا مونځ مستحب وخت حدیث کښ بیان شو چه سړے غشے اولی او دے نے اوښنی چه هغه کوم ځانے پرے وتو نو داسے وخت کښ د صبا مونځ کول بهتر دی.او عوامے خبر دے چه د صبا مونځ داسے وخت کښ یکار دے چه به دیر ا مے پے نظر راځی .



نقل کړے دے چه د ځلویښتے د ضعف د پاره قجورے بهترین څیز دے .

کورته د ننوتلو وقت کښې مسواك

[۱۷۰۷] **الحدیث الثانی** : عن عائشة قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِذَا دَخَلَ بَيْتَهٗ بَدَأَ بِالسِّوَاكِ. صحیح (الجامع جـ ۲ صـ ۸۵۹)

ترجمه : دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه وو رسول الله ﷺ کله چه به کورته داخل شو نو شروع به ئے کوله په مسواك سره .

د باران شروع کیدو وخت کښې دعا

[۱۷۰۸] **الحدیث الثالث** : عن عائشة قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَا رَأَى الْمَطَرَ قَالَ اَللّٰهُمَّ صَيِّباً نَافِعًا. صحیح (الجامع جـ۲ صـ ۸۶۱)

ترجمه : دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه وو نبی ﷺ کله چه به ئے اولیدو باران اوبه ئے وئیل " اللهم صیباً نافعاً." اے الله ! غواړو تانه باران نافع (فائده رسونکے)

خوښ اوناخوښ خیز لیدو وخت کښې دعا

الدرس الثالث و الاربعون بعد ثلثة مأة ﴿٣٤٣﴾

د غسل نه روستو اودس ته ضرورت نیشته

(۱۷۱۱) **الحدیث الاول**: عن عائشة كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْغُسْلِ. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۸۷۵)

ترجمه: حضرت عائشةؓ نه روایت دے چه وو رسول الله ﷺ اودس نے نه کوو پس د غسل نه.

فائده: د غسل نه مخکښ اودس کول سنت دی او د غسل نه روستو اودس ته ضرورت نیشته او ضروری ګنړل ئے بدعت دے. البته که څوك د لامبلو نه روستو څه عبادت اوکړی او بیا مزید عبادت د پاره تازه اودس کوی نو هغے کښ د ثواب چانس شته دے.

دخوب نه چه راپاسی مسواك وهل سنت دے

(۱۷۱۲) **الحدیث الثانی**: عن عائشة قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ لَا يَرْقُدُ مِنْ لَيْلٍ فَيَسْتَيْقِظُ إِلَّا تَسَوَّكَ. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۸۷۶)

الی مَنزِلِه صَلّٰی رَکعتَین. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۸۷۷)

ترجمه : دحضرت ابو سعید نه روایت دے چه وو نبی ﷺ مونځ په نسے نه کولو داختر د مونځ نه مخکښ (نه کور کښ او نه عیدگاه کښ) اوکله چه به واپس شو کور ته نو مونځ به نسے اوکړو دوه رکعاته.

فائده : دے حدیث شریف نه معلومه شوه چه داختر په ورځ داختر دمونځ نه مخکښ نفل کور او عیدگاه کښ منع دی . حضرت علی رضی الله عنه ترے یو سړے منع کړے وو او ورته نسے ویلی وو چه داسه عبث کار کوے . څکه نبی ﷺ دا نه دی کړے البته واپسی کښ نسے دوه رکعاته کور کښ کړے دی هغه کول پکار دی.

د زخمونو علاج

(۱۷۱۵) **الحدیث الخامس** : عن سلمة قالتْ کَانَ النَّبِیُّ ﷺ لَا یُصِیْبُه قَرْحَةٌ وَلَا شَوْکَةٌ اِلَّا وَضَعَ عَلَیْهَا الْحِنَّاءَ. حسن (الجامع جـ ۲ صـ ۸۷۷)

ترجمه : دحضرت سلمهؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ته نه رسیدو څه زخم او نه ازغے مګر کیخودے به پرے هغوی نکریزے.

فائده : په زخمی ځایونو اوپه ننکو باندے نکریزی اجول ډیر فائده کوی خو یادلرنی ځمونږه اکثر دوکانونو کښ نکریزے ملاویکی هغے سره کسکل کدوی نو هغه ډیر تر نه کوی د ضرورت په وخت خالصے نکریزی کنټل ضروری دی .

الدرس الرابع و الاربعون بعد ثلثة مأة ﴿۳۴۴﴾

وعظ مختصر پکار دے

(۱۷۱۶) **الحدیث الاول** : عن جابر بن سمرة قَالَ کَانَ النَّبِیُّ ﷺ لَا یُطِیْلُ الْمَوْعِظَةَ یَوْمَ الْجُمُعَةِ. صحیح (جـ ۲ صـ ۸۷۷)

ترجمه : دحضرت جابر بن سمره رضی الله عنه نه روایت دے چه وو نبی ﷺ نه به نسے اوګدوو وعظ په ورځ د جمعے.

فائده : د جمعے په ورځ د جمعے مبارکے مونځ د ډیخنه پکار دے چه داذان او مونځ صنځ کښ ډیر وخت نه وی چه خلق ستړی نه شی او ګډه نه هم بیخی خطبه مختصر او مونځ کے مسنون قرأت باندے اکتفاء کول پکار دی.

داوده کیدو نه مخکښ

(۱۷۱۷) **الحدیث الثانی** : عن جابر قال کان النبی ﷺ لا یدع حتی یقرأ " الم تنزیل السجدة و تبارک

الَّذِی بِیَدِهِ الْمُلْكُ" صحیح، (الجامع ج ۲ ص ۸۷۹)

ترجمه : دحضرت جابر نه روایت دے چه وو نبی ﷺ چه نه اوده کیدو تردے چه به نے اولوستلو "الم السجده" او "سورة الملك".

گرم ، یخ گډ استعمالول چه اعتدال پیدا کړی

(۱۷۱۸) **الحدیث الثالث**: عن عائشةؓ قَالَتْ كَانَ النَّبِیُّ ﷺ يَاْكُلُ الْبِطِّيخَ بِالرُّطَبِ . صحیح (الجامع ج ۲ ص ۸۷۹)

ترجمه : دحضرت عائشهؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ به خوړله هندوانه دکجهورو سره.

فائده :بطیخ خټکی ته وائی او اطلاق ئے په هندوانه باندے هم کیږی او دلته ترے نه هم دا معنی مراد ده ځکه چه په یو روایت کښ راځی چه دفع کوم په یخ والی د بطیخ گرم والے د کجهورو نو دا قرینه ده چه دلته د بطیخ نه مراد هندوانه ده ځکه چه هغه یخه ده او یا دبطیخ نه مراد کچه خټکے دے . چه کچُرے ورته وئیلے شی نو هغه هم یخ دے په مزاج کښ او یا د بطیخ نه مراد خټکے دے نو په دے اشکال راځی چه بیا خو خټکے هم گرم دے او کجهورے هم .دهغے نه جواب دادے چه خټکے کم گرم دے په نسبت د کجهورو نو دا صحیح ده چه په خټکی دکجهورو گرم والے دفع کوی.

مضمون بالا

(۱۷۱۹) **الحدیث الرابع** : عن عبدالله بن جعفر قَالَ كَانَ النَّبِیُّ ﷺ يَاْكُلُ الْقِثَّاءَ بِالرُّطَبِ صحیح (الجامع ج ۲ ص ۸۷۹)

ترجمه : د عبدالله بن جعفررضی الله عنه نه روایت دے چه وو نبی ﷺ خوړه به نے ترد دکجهورو سره.

فائده : وائی چه سړے د قجورو سره تره خوری نو دے سره کمزورے بدن تندرست کیږی روایت کښ راځی چه عائشهؓ وائی چه څه د بدن نه کمزورے ووم نو مدینه منوره کښ ما قجورو او تره خوراك شروع کړل نو څما بدن وده اوکړه .

دعوت قبول کول

(۱۷۲۰) **الحدیث الخامس** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ اِئْتُوا الدَّعْوَةَ اِذَا دُعِيْتُمْ. صحیح (الجامع ج ۱ ص ۸۷)

ترجمه : دحضرت ابن عمرؓ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی چه راشی دعوت ته . (یعنی دعوت قبول کړی)کله چه دعوت درکړے شی.

الدرس الخامس والاربعون بعد ثلثة مأة ٣٤٥

فَفَرِّقُوا بَيْنَ فُرُشِهِمْ وَإِذَا بَلَغُوا عَشْرَ سِنِيْنَ فَاضْرِبُوْهُمْ عَلَى الصَّلٰوةِ . صحيح (الجامع ج ١ ص ١٣٥)

ترجمه : حضرت سبرة بن معبد رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلی دی . کله چه اولاد ستاسو اوو کالو ته اورسی نو جدا کړی بسترے د هغوی او کله چه اورسی دوی لسو کالو ته نو اووهی دوی لره په مونځ باندے.

فائده : چه [illegible] دوه خبرے ذکر دی دے دواړو کښ زمونږ نه کوتاهی او

د کور نه دتلو او دراتلو وخت کښې یو مفید عمل

[۱۷۳۳] **الحدیث الثالث**: عن ابی هریرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِذَا خَرَجْتَ مِنْ مَنْزِلِكَ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ تَمْنَعَانِكَ مَخْرَجَ السُّوءِ وَإِذَا دَخَلْتَ إِلَى مَنْزِلِكَ فَصَلِّ رَكْعَتَيْنِ تَمْنَعَانِكَ مَدْخَلَ السُّوءِ. حسن (الجامع جـ ۱ صـ ۱٤۹)

ترجمه: حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی. کله چه اوځے ته دکور نه نو مونځ کوه دوه رکعاته بچ کوی به تاله د ناکاره وتلو نه او کله چه داخل شے کور ته نو مونځ اوکړه دوه رکعاته ساتی به تاله د ناکاره داخلیدو نه.

فائده: دے حدیث کښې د حفاظت یوه قلعه بیان شوه کور دپاره هم او د بهر د پاره هم او هغه دوه دوه رکعاته مونځ دے د کورنه دوتلو وخت کښې او کورته دراتلو وخت کښې یاد لری کورنه د وتلو وخت کښې او کورته د راتلو وخت کښې دوه دوه رکعاته مونځ پکار دے خو چه مکروه اوقات نه وی اوقات مکروهه پنځه دی د سحر د مانځه نه روستو دویم د مازیګر مانځه نه روستو او د نمر خاتو او زوال او نمر پرے وتو وخت کښې.

پتون عورت دے

[۱۷۳٤] **الحدیث الرابع**: عن جرهد قال قال رسول الله ﷺ إِنَّ الْفَخِذَ عَوْرَةٌ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۳٤۷)

ترجمه: دحضرت جرهد نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی بے شکه پتون عورت دے.

بدعتی د توبے نه محروم

[۱۷۳۵] **الحدیث الخامس**: عن انس قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ احْتَجَرَ التَّوْبَةَ عَلَى كُلِّ صَاحِبِ بِدْعَةٍ. صحیح (الجامع جـ ۱ صـ ۳٤۹)

ترجمه: دحضرت انس رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ وئیلے دی. چه بے شکه الله تعالیٰ بنده کے دے توبه به هر بدعتی باندے.

الله تعالیٰ چه کوم ځائے بیماری پیدا کړے ده نو هغه ځائے نے علاج هم پیدا کړے دے.(اے بندګانو دالله) پس علاج اوکړی.

فائده : علماء وائی چه علاج سنت دے شفاء او صحت بیمار ته د الله تعالی په اذن ملاویګی او

[redacted]

ترجمه :دحضرت عبدالله رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی.یقینا مدد دالله تعالی د قاضی سره وی کله چه دے قصداً ظلم اونکړی او کله چه ظلم اوکړی نو الله تعالی ئے خپل نفس ته اوسپاری.

فائده : حاصل دادے چه قاضی ظلم اوکړی نو الله تعالیٰ ترینه مدد خپل اوچت کړی او خپل نفس ته ئے سپکوی او نفس خپل [redacted] دے او عاجز هم دے یو شاعر وائی.

دے پریږدی او که چا نه وی شروع کړے نو شروع د کړی لکه حدیث کښ رازی چه رسول الله ﷺ اوونیل چه عبد الله بن عمرؓ ډیر ښه سړے دے خو کاش که تهجد نے کول نو کله چه

ترجمه : دحضرت ابن عمرو رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی. سپین ویښته نور دے اوْنه سپین کیکی ویښته دیو سړی اسلام کښ مګر وی به ده دپاره په هر سپین ویښته یوه نیکی ده او اوچتیګی به په دے سره ددہ یوه درجه.

د شرک نه د بچ کیدو وظیفه





فائده ۲: مستحق د لعنت کافر بدعتی او فاسق دے چه فسق نے مشهور وی . د دے کسانو د غیبت د جواز مطلب دا دے چه د دوئی کفر ،غیبت او فسق په بل ځائے کښ ذکر کول جائز دی خو فسق کښ دا شرط دے چه هغه فاسق په فسق کښ مشهور وی او د عامو خلقو مخکښ به غیر د څه شرم او حیا نه فسق کوی.

د جنت د واجب کیدو یو عمل

[۱۷۹۳] **الحديث الثالث** عن أبی سعید قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ يَا اَبَا سَعِيد ! مَنْ رَضِيَ بِاللّٰهِ رَبًّا ، وَبِالْاِسْلَامِ دِيْناً ، وَ بِمُحَمَّدٍ، نَبِياً ، وَجَبَتْ لَه الْجَنَّة ، وَأُخْرٰى يُرْفَعُ بِهَا الْعَبْدُ مِائَةَ دَرَجَةٍ فِی الْجَنَّةِ ، مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا

[redacted] اَسْمَاءُ اللّٰهِ صحيح الجامع ج ۲ ص ۱۲۹۲)

الدرس الستون بعد ثلثة مأة ﴿٣٦٠﴾

بہترین متاع

[١٧٩٦] **الحديث الاول** : عن ابن عمرؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ الدُّنْيَا كُلُّهَا مَتَاعٌ وَخَيْرُ مَتَاعِ الدُّنْيَا الْمَرْاَةُ الصَّالِحَةُ. صحيح (الجامع جـ ٢ صـ ٦٤١)

ترجمہ : دابن عمر رضی اللہ عنہ نہ روایت دے چہ رسول اللہ ﷺ وئیلے دی .دنیا توله متاع (دفائدے څخہ) د ہ [illegible]

ترجمه : دیوسړی د اصحاب نبی ﷺ نه روایت دے چه رسول الله ﷺ اوفرمائیل اے بلاله! مونځ اودروه مونږه ته آرام اورسوه په مانځه سره.

ددین خدمت الله تعالیٰ دیو بدکار نه هم اخلی

(٨٠٨) الحديث الثالث عن ابي هريرة قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ إِنَّ اللّٰهَ لَيُؤَيِّدُ هٰذَا الدِّيْنَ بِالرَّجُلِ

پرتوګ په زمکه رابښکل ګناه ده

(۱۸۱۷) **الحدیث الثانی** :عن ابی هریرةؓ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ لَا يَنْظُرُ اللّٰهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِلٰى مَنْ جَرَّ اِزَارَهٗ بَطَراً .صحیح (الجامع ج ۲ص ۱۲۸۷)

ترجمه :دحضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دے چه رسول الله ﷺ ونیلے دی . او به نه ګوري الله تعالیٰ په نظر درحمت سره په ورځ دقیامت هغه چاته چه راکاګی لنګ خپل په تکبر سره.

فائده ۱: په یو روایت کښ راغلیدی خوږ نبی ﷺ ونیلے دی چه لنګ نیمے پنډے پورے دے ګیټے پورے دے نه چه لاندے شی هغے کښ خیر نشته (جامع ص ۵۳۶ ج ۱).

فائده ۲: دے دواړو حدیثو کښ لنګ ذکر دے خو پرتوګ هم د لنګ په حکم کښ دے پرتوګ پیغمبر ﷺ په خپله نه دے استعمال کړے نبو نبه جامه نے ورته ونیلے ده او ابن القیمؒ په زاد المعاد کښ لیکلی دے چه د یو سړی سره نے د پرتوګ سودا هم کړے ده خو د هغے استعمال ترے ثابتْ نه دے .

هر شپه د دعا د قبولیت یو وخت وی

(۱۸۱۸) **الحدیث الثالث** :عن جابرؓ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِیَّ ﷺ يَقُوْلُ اِنَّ فِی اللَّيْلِ لَسَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا رَجُلٌ مُسْلِمٌ يَسْاَلُ اللّٰهَ فِيْهَا خَيْراً مِنْ اَمْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ اِلَّا اَعْطَاهُ اِيَّاهُ وَذَالِكَ كُلَّ لَيْلَةٍ .رواه مسلم و مشكوة)

ترجمه : د حضرت جابرؓ نه روایت دے چه نبی ﷺ ونیلی " بے شکه په شپه کښ یو ساعت دے چه مسلمان په هغے کښ د الله تعالی نه خیر د دنیا او اخرت غواړی نو ورکوی نے او دا ساعت هره شپه وی.

فائده : د دے حدیث نه معلومه شوه چه هره شپه ددعا قبلیدو یو وخت شته نو د شپے په مختلف اوقاتو کښ ددعا کوشش پکار دے کیدے شی هغه وخت ملاؤشی او بیړه پار شی .

قرآن مسح کولو دپاره پاکی ضروری ده

ترجمه : دحضرت ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دے چه رسول الله ﷺ وئيلے دی .نه به څی جنت ته هغه څوك چه په امن نه وی ګاونډی دهغه د تكليفونو دهغه نه.

الدرس الخامس والستون بعد ثلثة مأة ﴿٣٦٥﴾

د زړه داستقامت دپاره مسنون دعا

یو اثر کښی یو شرعی گز اتهاره انچ او بل روایت کښی هم دهغوی نه یو لیشت زیات و کم راغلے دے نو وائی چه د آداب د شملے نه داده چه شمله به وړه وی زیاته اوگده به نه وی.

فائده ۳ : د پتکی مقدار څومره دے؟ سیوطیؒ وائی دپتکی مقدار په حدیث سره ثابت نه دے . دغه خبره صاحب دتحفة الاحوذی هم کوی . مرقاة المفاتیح کښی ملا علی قاری وائی . امام جزری په تصحیح المصابیح کتاب کښی لیکلی دی چه یقیناً ما تلاش اوکړو په کتابونو کښی او کتابونه د سیرت او تاریخ م اوکتل چه څه خبر شم پهٔ مقدار د پتکی دنبی ﷺ .پس څه خبر نه شوم په هیڅ څیز تر دے چه خبر راکړو ماته بعضے هغه کسانو چه زه پرے اعتماد کوم چه نوویؒ لیکلی دی چه د نبی کریم ﷺ دوه پتکی وو . یو ورکوتے (لنډ) وو او بل اوگد . لنډ اوو: گزه وو او اوگد دولس گزه وو . او ظاهر کلام د مدخل نه معلومیگی چه پتکے د نبی ﷺ اووهگزه وو بغیر د تفصیل د اوگد او لنډ نه.(تحفة الاحوذی)

تمت بالخیر وصلی اللی تعالیٰ علی خیر خلقه محمد وآله واصحابه اجمعین.

دالله تعالیٰ په فضل او کرم سره کتاب " الدروس الیومیه " دترجمے نه فراغت په ورځ دحمعے او هم دسعودی حکومت دعرفے په ورځ دسحر دمانځه نه مخکښی په غرفة المطالعه کښی ذوالحجه ۱۴۳۵ھ مطابق اکتوبر ۲۰۱۴ء واقع شو.

فللّٰه المنة وله الحمد اللهم فتقبله قبولاً حسناً . آمین ثم آمین.

خوشخبری

تمام دینی مدارس کے طلباء کو خوش کن خبردی جاتی ہے کہ ہر سال ۲۵ رجب سے مدرسہ روضۃ الاسلام نستہ میں دورۂ تفسیر اور اس کے ساتھ نحو، صرف و معانی کی چیدہ چیدہ کتابیں پڑھائی جاتی ہیں اور قرآن شریف میں ان کا اجراء کرایا جاتا ہے .یہ دورہ ۲۵ رمضان تک جاری رہتا ہے . اس کے علاوہ تخصص فی الفقہ کا ایک سالانہ کورس بھی پڑھایا جاتا ہے . تدریس کے خدمات مؤلف کتاب ھذا مولانا مفتی محمد مسلم صاحب انجام دیتے ہیں . شائقین درجہ ذیل پتہ پر رابطہ کرسکتے ہیں

مدرسہ روضۃ الاسلام نستہ ، ضلع و تحصیل چارسدہ صوبہ سرحد

فون نمبر : 0921.511379

مؤلف کی دیگر تصنیفات

برکت رزق کے شرعی نسخے	اردو
سجدہ تلاوت کے مسائل	اردو
الکلام المنیف فی مُہمات التصریف	پشتو
القول المفصّل فیما قیل إنّہٗ اوّل	عربی
تفسیر ارشاد الحیران الی فہم القرآن (تفسیر پارہ عمّ)	عربی
ٹیلیفون کے شرعی احکام	اردو
تنویر الدارستہ شرح حماسہ	پشتو
الاثمار الجنیہ فی مبادی علوم الشرعیۃ	عربی
جمعہ کے مسنون اعمال	اردو
تذکرہ شہید اذان	اردو
فقراء کا تحفہ	اردو
سقایۃ العطشان باجراء النحو والصرف فی القرآن	عربی

نور اللہ کتوزئی پبلشرز
جی ٹی روڈ پشاور 0314-9074877